۲

لقد كان لكم في رسول الله أسوة حسنة (الآية)



سیرت الرسول صلی اللہ علیہ وسلم







تالیف

الشیخ العلامة ابو محمد امین اللہ پشاوری حفظہ اللہ

جمع وترتیب واضافات مفیدہ

الشیخ ابو زہیر سیف اللہ حفظہ اللہ

مکتبہ محمدیہ

بیرون کنج گیٹ منگل مارکیٹ پیښور

0301-8828402

لقد كان لكم في رسول الله أسوة حسنة (الآية)

سیرت الرسول ﷺ



تالیف: الشیخ العلامۃ ابو محمد امین اللہ پشاوری حفظہ اللہ

۲



مکتبہ محمدیہ

بیرون کنج گیٹ منگل مارکیٹ پشاور

د کتاب نوم ـــــــــــ سیرتِ رسول ﷺ (دویم جلد)
د مؤلف نوم ـــــــــــ الشیخ ابو محمد امین الله البشاوری حفظه الله ورعاه
جمع وترتیب واضافات مفیده ـــــ از ابوزهیر سیف الله "غفر له" شیخ آباد پشاور۔
سنۂ طباعت ـــــــــــ رمضان ۲۴/۱٤۳٤ هجری الموافق : ۲/۸/۲۰۱۳ء)
د نسخو تعداد ـــــــــــ ۱۱۰۰
فن ـــــــــــ سیرتِ رسول (ﷺ)
ناشر ـــــــــــ مکتبه محمدیه گنج پیښور

د ملاویدو پته

۱- **مکتبه محمدیه**

بیرون گنج گیټ پهندو روډ منګل مارکیټ پیښور پاکستان

ولی الله :03118828402/ 03018828402 ابو سلمان : 03025953513 ابوزهیر : 03075924001

۲- ایوب مکتبه واسلامی کیسټ مرکز، عقب قصه خوانی پیښور۔
۳- معراج کتب خانه قصه خوانی بازار محله جنګی پیښور۔
٤- نوروز کتب خانه صوابی اډه پاکستان۔
٥- دار الکتاب والسنة، نیو حاجی کیمپ سلطان آباد کراچی : 03002615402
٦- مسلم کتاب پلورنځی، جلال آباد اسحاق زئی مارکیټ۔
۷- مکتبه محمدیه، جلال آباد تالاشئ چوك گمرك مسجد ترڅنګ دکان نمبر ۲



اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مُحَمَّدٍ وَآلِهٖ وَصَحْبِهٖ أَجْمَعِيْنَ أَمَّا بَعْدُ :

دویم مدنی دور- د جهاد، دعوت او کامیابئ دور

د نبی ﷺ د ژوندګئ دویم دَور، مدنی دَور دے

ددے ځای نه روسته نبی ﷺ د مدینی د ژوندګئ آغاز او شروع وکړه، د مدینے ډیره سخته ژوندګی وه د جهادونو او تکلیفونو۔

د مدینے دا ژوندګی په درے حصو تقسیم ده ۱ – اول : د ابتداء نه تر شپږم کال پورے یعنی د صلح حدیبیه پورے چه دا د سختیو او جهادونو ژوندګی وه، د یهودو مقابله، د منافقانو مقابله، د مشرکانو سره جنګونه او یو اسلامی اجتماعیت جوړول وو۔

۲ – دویم دور : د صلح حدیبیه نه روسته دوه کاله د لوی دشمن یعنی مشرکانو سره صلح وشوه چه په هغے کی لږ شان امن پیدا شو مشرکین به مدینے ته راتلل دوی به هلته ورتلل، دعوت ته لاره هموار شوه او د زمکے بادشاهانو ته د خطونو لیږلو وخت راغلو، دا مرحله تر فتح د مکے پورے چلیدله۔ رمضان اتم کال د هجرت۔

دریم دور : اتم کال د هجرت باندے چه فتح د مکے وشوه ډیر امن راغے خلك به راتلل او د الله تعالیٰ په دین کی به داخلیدل، وفدونه راتلل شروع شو او د تعلیم او تعلم ژوندګی وه دوه کاله څه دپاسه دا ژوندګی د نبی علیه السلام چلیدله تردے چه نبی علیه السلام په ربیع الاول یولسم کال د هجرت باندے وفات شو، دا د مدینے د ژوندګئ خلاصه ده۔

نبی علیه السلام چه کله مدینے ته لاړو نو هغه ته دوه خبرے متوجه وے یو د بهرنیو کفارو مقابله او دویمه دا چه په مدینه کی دننه کوم یهودیان یا منافقان وسیږی د دوی

سره څه وکړي.

د مدینې د وسیدونکو خلکو حال

په مدینه طیبه کې درې څلور قسمه خلك وسیدل (۱) اول صحابه کرام مخلصین مومنان چه د نبي علیه السلام ملګري وو چه انصار ئې ورته ویل دوی دوه ډلې وو (۱) اَوس (۲) او خزرج دا د عربو دوه قبیلې وې او دوی په اصل کې د یمن نه راغلي وو او دې علاقې ته ئې د یَثْرِب نوم ایښې وو چه کله نبي علیه السلام هجرت وکړو نو مدینه نوم ئې ورته کیښودو ځکه چه په یثرب کې معنی د ملامتیا ده بیا نبي علیه السلام مدینې ته دوه سوه نومونه ایښودي دي (اَلطِّیبَه، اَلطَّابَه، مدینة الرسول، المدینة النبویة، مَهْبَطُ الْوَحْي، مُهَاجَرُ الرسول، دار الهِجْرَة وغیره)

اوس او خزرج د عربو نه وو او دوی ساده او امیان خلك وو امیین ئې ورته ویل، دوی د یهودو نه متأثره وو د هغوی څه خبرې به ئې منلې ځکه چه یهودیان علماء وو، د اَوس او خزرج اکثر خلك مؤمنان وو.

(۲) دویمه ډله: په همدې اوس او خزرج کې مشرکین وو چه تر اُوسه ئې ایمان نهٔ وو راوړې لیکن مقابله ئې هم نهٔ کوله څه شکونه ئې زړه کې وو لږه زمانه روسته دوی ایمان کې داخل شو لکه د عمرو بن جموح رضی الله عنه واقعه مشهوره ده چه دهٔ اسلام نهٔ قبلولو نو ځوی او وراره به دعوت ورکولو نو دوی به کله د شپې ورغلل او ددهٔ بت به ئې کله نسکور کړو سهار چه به راغې بت به ئې سم کړو او صفا به ئې کړو، بله ورځ ئې بیا دا بت النه سر چپه کړو او په ختو ئې ککړ کړو، عمرو بن جموح راغې بت ئې بیا برابر او صفا کړو او وې ویل چه دا کار چا زمونږ ددې بت سره کړیدې زهٔ به ورسره ګورم. په دریمه ورځ معاذ بن جبل رضی الله عنه چه وراره ئې وو او ددهٔ ځوی ورغلل دا بت ئې راویستو او د مړ سپي پسې ئې وتړلو او یو ډیران ته ئې ګوزار کړو،

عمرو بن جموح چه خپلې عبادت خانې ته راغې بت نهٔ وو منډه رامنډه ئې وکړه او وې وئیل چه زما معبود څه شو؟ چه وې کتل بهر په ډیران کې پروت دې او سپي سره تړل شویدې نو دا ئې ورته وویل ته هیڅ فائده نشې ورکولې سپي درسره تړل کیږي ډیران کې

غورزیږي او ددې نه ځان نشي بچ کولې نو ما ته به څه فائده راکړې نو راغې او اسلام ئې قبول کړو۔

پدې طریقې سره به صحابه کرامو دعوت کولو۔

(۳) منافقان: زیات مشرکان بیا روسته مؤمنان شو څه بعض بدبخته مشرکان پاتې شو هغوی اسلام رانۀ وړو نو د هغوی نه منافقان جوړ شو چه دا دریمه ډله وه،

د دوی مشر عبد الله بن ابی ابن سلول وو نور کسان هم ورسره ملګری وو اوله کې مشرکان وو نو د بدر غزا نه روسته دوی په ظاهر کې په اسلام کې داخل شو او پټ کافر وو، دا کار ئې د دنیا د فائدو دپاره کولو ځکه چه عام خلك مسلمانان وو او اسلام کې دوی د خپلې کرسۍ او د مشرۍ د خاطره نۀ داخلیدل چه زمونږ مشری ختمیږی او مونږ به د بل تابع شو ځکه چه د رسول الله ﷺ د راتللو نه مخکې انصارو (اوس او خزرج) دا فیصله کړې وه چه عبد الله بن ابی ابن سلول به مشر کوو او د هغه دپاره ئې تاج جوړ کړې وو چه دا به ورته په سر باندې ږدو،

کله چه نبی علیه السلام مدینې ته هجرت وکړو ټول خلك په نبی علیه السلام پسې روان شو د عبد اُلله بن ابی ابن سلول مشری ختمه شوه نو دۀ ته غصه ورغله او ضد کې راغې چه دا سړې د کوم ځای نه راغې او مشری ئې رانه واخسته او مشری خو نبی علیه السلام ته الله تعالیٰ ورکړې وه نو ابن سلول د مرګ د ورځې پورې منافقت او د حق سره دشمنی کوله چه کوم ځای به فساد او ورانې وو دۀ به ئې مشری کوله۔

(۴) دریمه ډله د یهودو وه چه دا بنو نضیر، بنو قریظه او بنو قینقاع وو۔

نبی علیه السلام داسې ترتیب شروع کړو چه دا ټول خلك په اسلام کې داخل شی او تربیت ئې هم وکړی او یو اسلامی ټولنه او ریاست جوړ شی، ددې دپاره ئې درې قسمه خواری شروع کړه ځکه چه دا ټولې ډلې په پوره طریقې سره د یو بل نه جدا جدا وو هر یو سره به خپله خپله معامله او مقابله کولې شی د یهودو مقابل کې یو قسم خواری، د بهر مشرکانو سره بل قسم او د منافقانو سره بل قسم۔

د مدینې حالات د مکې د حالاتو نه بیخی جدا وو، په مکه کې مسلمانان کمزوری وو او د مختلفو کورنیو سره ئې تعلق وو په لاس کې ئې هیڅ قسم اختیار نۀ وو بلکه ټول کنټرول او نظام د دوی دشمنانو مشرکانو په لاس کې وو نو مسلمانانو یو ریاست نشو

قائمولے بلکه انفرادی اصلاح ته ضرورت وو پدے وجه په مکی سورتونو کی به الله تعالیٰ د شخصی تربیت متعلق احکام رالیږل لکه صبر، احسان او د دنیا بی رغبتی او د آخرت سره مینه لرل دا خبرے به کیدلے او مدینه کی د اولے ورځے نه واك د مسلمانانو په لاس کی راغلو او په دوی باندے د هیچا تسلط او مشری نهٔ وه نو پدے وجه نبی علیه السلام د خلکو تربیت په بیل انداز وکړو د جهادونو او د صلح، او قضاوت او د سیاست او حکومت او د ملك د آبادئ او اقتصاد او نظام او حلال او حرامو متعلق به احکام راتلل او د خلکو تربیت به کیدلو،

مواخات بین المسلمین

یعنی د مسلمانانو ترمینځ ورورولی جوړول

د مسجد نبوی د جوړیدو نه روسته بل یو اهم کارچه نبی علیه السلام وکړو هغه مواخاة بین المسلمین وو یعنی د مسلمانانو ترمینځ ورورولی قائمه ول۔

حافظ ابن قیم رحمه الله لیکی چه بیا رسول الله ﷺ د انصارو او مهاجرینو ترمینځ د انس بن مالك رضی الله عنه په کور کی ورورولی قائمه کړه او دا ټول نوی (۹۰) کسان وو نیم د انصارو نه وو او نیم د مهاجرینو نه، دائے ورته وویل چه د یو بل سره به همدردی کوئ او د یو بل به مدد کوئ او د مرګ نه پس به د یو بل نه میراث هم وړئ مګر د بدر د غزا نه روسته د میراث وړلو حکم منسوخ شو په آیت :

﴿ وَأُولُوا الْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَى بِبَعْضٍ فِي كِتَابِ اللَّهِ﴾ (الانفال :۷۵)

سره چه میراث به صرف خپلوان وړی۔

حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری کی دا هم ثابته کړیده چه د مهاجرینو خپل مینځ کی هم نبی علیه السلام د هجرت نه مخکی مواخات قائم کړے وو په مواسات (همدردئ) او یو بل سره په مدد۔ لکه د زید بن حارثه او د حمزه بن عبد المطلب ترمینځ ئے دا مواخات قائم کړے وو او بیا روستو د هجرت نه دویم ځل مواخات د مهاجرینو او انصارو ترمینځ راغے۔

(فتح الباری٦/٢٣٦ باب من اقسم علی اخیه لیفطر فی التطوع الخ)

مګر علامه صفي الرحمن المبارکفوري رحمه الله وائي چه مهاجرين په اخوّت د اسلام او د نسب په نزدے والي او د ملك په يو والي باندے د مواخات نه مستغني وو.
(الرحيق المختوم)

مګر معلوميږي چه هغه مخکښے مواخات جزوي طريقے سره وو او دا په عمومي توګه وو.

ددے ورور ولئ مقصد دا وو چه د جاهليت تعصبونه ختم شي او د وطن او رنګ او نسب دپاره تعصب ختم شي.

امام بخاري رحمه الله روايت راوړيدے چه نبي عليه السلام د سيدنا عبد الرحمن بن عوف او د سعد بن الربيع انصاري رضي الله عنهما ترمينځ ورورولي قائمه کړه نو سعد بن الربيع انصاري وو او عبد الرحمن بن عوف مهاجر وو نو سعد بن الربيع عبد الرحمن بن عوف ته وويل چه زۀ په انصارو کې ډير مال والا يم نو زما دا مال دوه حصے کړه نيم به ستا شي او نيم به زما شي او زما دوه ښځې دي کومه يوه چه ستا خوښه وي ما ته ئے ونښيه زۀ به ئے طلاقه کړم چه عدت ئے ختم شي تۀ به ورسره نکاح وکړے نو عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه ورته وويل :

الله تعالیٰ دے ستا په مال او اهل کې برکت واچوي ستاسو بازار ما ته ونښيوے نو هغه بازار ته ووتلو او په واپسئ کې ئے څه پنير او غوړي راوړل او په همدے طريقه ئے تجارت کولو څه ډيره موده روسته ئے په جامه باندے زيړ رنګ وو نبي عليه السلام ورته وفرمايل : دا څه دي ؟ هغه وويل : ما نکاح کړيده او د ښځے نه راته دا زيړ رنګ لګيدلے دے نبي عليه السلام ورته وفرمايل : په مهر کې دے څه ورکړيدي ؟ هغه وويل : (نَوَاةٌ مِنْ ذَهَبٍ) د هډوکي د دانے په اندازه سرۀ زر.

نبي عليه السلام ورته وفرمايل: (اَوْلِمْ وَلَوْ بِشَاةٍ) وليمه وکړه اګرکه په يو ګډ سره وي.

تنبيه : حافظ ابن حجر عسقلاني رحمه الله دا يوه مفيده خبره ذکر کړيده چه نبي عليه السلام به د انصارو او مهاجرينو ترمينځ ورورولي وخت په وخت قائمه وله کوم کس چه به ايمان راوړلو د هغه دپاره به ئے ورور پيدا کولو نو دا اعتراض نۀ واردېږي چه سيدنا سلمان خو د غزوۀ احد نه روستو ايمان راوړيدے هغه څنګه د سيدنا ابو درداء سره مواخات کوي. (فتح الباري ٦/٢٣٦)

سیدنا ابو هریره رضی الله عنه فرمائي : انصارو وفرمایل : اے د الله رسوله ! زمونږ دا کجوری زمونږ او ددے مهاجرینو ترمینځ تقسیم کړه، نبی علیه السلام ورته وفرمایل : داسے نشي کیدے، دوی دے پکی خدمت کوی او تاسو سره به په میوو کی شریك وی، بیا مهاجرینو وویل چه تاسو انصار د خپلو باغونو په سنبالولو ښه پو هیږئ نو تاسو کار کوئ او په تیارو میوو کی به مونږ ته حصه راکړئ۔ نو انصارو وویل :

(سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا) مونږ دے خبرے ته هم تیار یو۔ نو هغوی مهاجرینو ته په تیارو میوو کی برخه ورکړه او انصارو به باغونه خپله سنبالول۔

د بعضو روایتونو نه معلومیږی چه مهاجرینو هم ورسره په کار کی حصه اخستله۔ او اکثر کار به انصارو کولو او بیا به ئے مهاجرینو ته برخه ورکوله۔

امام بخاری رحمه الله دا روایت راوړیدے، ددینه د انصارو مینه او اخلاص د مهاجرو سره معلومیږی چه دومره ایثار او قربانئ ته تیار وو او مهاجرو هم د دوی د قربانئ قدرد انی وکړه او د ضرورت په اندازه ئے د دوی په مالونو کی تجارت وکړو او په کجورو کی ئے د زمیدارئ په اصولو کار وکړو۔

یو ځل مهاجرو شکایت وکړو چه دا انصار لږ مال هم صدقه کوی او ډیر هم او پدے مالونو (میوو) کی زمونږ حصه کوی او زمونږ په ځای کار هم کوی، دا خو ټول اجر دوی وګټلو، نبی علیه السلام وفرمایل : ټول اجر دوی یواځے نهٔ دے ګټلے ترڅو چه تاسو د دوی صفتونه کوئ او دوی له دعاګانے کوئ۔

د نبی ﷺ د تربیت انداز

نبی علیه السلام په مدینه کی د خپلو ملګرو ډیر ښه تربیت وکړو هغوی ته ئے د نفس د تزکیه او د ښائسته اخلاقو تعلیم ورکړو دے دپاره چه یو اسلامی ریاست برقرار پاتی شی او د ملك اصلاح وشی،

یو سړی ترے تپوس وکړو : (أَيُّ الْإِسْلَامِ خَيْرٌ ؟) کوم اسلام غوره دے، یعنی په اسلام کی کوم عمل بهتر دے ؟ نبی علیه السلام ورته وفرمایل :

(تُطْعِمُ الطَّعَامَ وَتُقْرِئُ السَّلَامَ عَلَى مَنْ عَرَفْتَ وَمَنْ لَّمْ تَعْرِفْ)

ډوډئ ورکړه او سلام اچوه په هر چا چه پيژنے او که نهٔ ئے پيژنے (بخاری)

سيدنا عبد الله بن سلام رضی الله عنه فرمائی : کله چه نبی عليه السلام مدينے ته راغے زهٔ ورغلم چه ما وليدهٔ نو ما ته ښکاره شوه چه ددهٔ مخ دروغژن مخ نهٔ دے نو اوله خبره ئے چه وکړه هغه دا وه :

(يَا أَيُّهَا النَّاسُ أَفْشُوا السَّلَامَ وَأَطْعِمُوا الطَّعَامَ وَصِلُوا الْأَرْحَامَ وَصَلُّوا بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ بِسَلَامٍ)

(اے خلکو ! تاسو سلام اچوئ او په خلکو ډوډئ خوروئ او خپلولی يوځای کوئ او د شپے مونځونه کوئ په داسے حال کی چه خلك اُوده وی نو جنت ته به په سلامتيا سره داخل شئ) ـ (ترمذی :٢٤٨٥)

دارنګه نبی عليه السلام به فرمايل :

(لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ لَا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ)

(رواه الترمذی وابن ماجه وهو فی المشكاة١ /٤٢٢)ـ

هغه انسان به جنت ته نهٔ داخليږی چه ګاونډی د هغه د تکليفونو نه په امن کی نهٔ وی۔

او فرمايل به ئے : (اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِسَانِهٖ وَيَدِهٖ) (بخاری١ /١٩)۔

کامل مسلمان هغه دے چه نور مسلمانان ددهٔ د ژبے او د لاس د ضرر نه بچ وی۔

او فرمايل به ئے : (لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتّٰى يُحِبَّ لِأَخِيْهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهٖ)۔

په تاسو کی يو تن تر هغه وخته پورے مؤمن کيدے نشی چه خپل ورور له هغه څه خوښ نکړی چه کوم ځان له خوښوی۔

او فرمايل به ئے : (اَلْمُؤْمِنُوْنَ كَرَجُلٍ وَاحِدٍ اِنِ اشْتَكٰى عَيْنُهٗ اِشْتَكٰى كُلُّهٗ وَاِنِ اشْتَكٰى رَأْسُهٗ اِشْتَكٰى كُلُّهٗ، رواه مسلم، المشكاة٢ /٤٢٢)۔

ټول مومنان د يو سړی په شان دی که د هغه سترګه خوږيږی نو ټول بدن ئے خوږيږی او که سر ئے خوږيږی ټول بدن ئے خوږيږی۔

فرمايل به ئے : (اَلْمُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِ كَالْبُنْيَانِ يَشُدُّ بَعْضُهٗ بَعْضًا، متفق عليه)۔

مؤمن د بل مؤمن دپاره د آبادی په شان دے چه ځينی په ځينو مضبوط وی۔

او فرمايل به ئے : (لَا تَبَاغَضُوْا وَلَا تَحَاسَدُوْا وَلَا تَدَابَرُوْا وَكُوْنُوْا عِبَادَ اللّٰهِ اِخْوَانًا وَلَا يَحِلُّ

لِمُسْلِمٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ) (بخاری ۸۹۶/۱)۔

یو بل سره بغض او حسد مهٔ کوئ، یو بل سره مهٔ ورانوئ، او ټول د الله بندګان ورونه ورنه شئ او هیڅ مسلمان له دا جائز نهٔ دی چه خپل ورور سره د درے ورځو نه زیات خبرے پریدی۔

فرمایل به ئے :(اِرْحَمُوا مَنْ فِي الْأَرْضِ يَرْحَمُكُمْ مَنْ فِي السَّمَاءِ) (ابوداود ۲۳۵/۲) ترمذی (۱٤/۲)۔ په زمکے والو باندے رحم وکړئ آسمان والا به په تاسو رحم وکړی۔

او فرمایل به ئے : (اَلْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يُسْلِمُهُ، وَمَنْ كَانَ فِي حَاجَةِ أَخِيهِ كَانَ اللّٰهُ فِي حَاجَتِهِ وَمَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً فَرَّجَ اللّٰهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرُبَاتِ يَوْمِ الْقِيٰمَةِ وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ)۔

یو مسلمان د بل مسلمان ورور دے چه نهٔ به پرے ظلم کوی او نهٔ به ئے دشمن ته سپاری او څوک چه د یو ورور په حاجت کی وی الله تعالیٰ به د هغه په حاجت کی وی او چا چه د یو مسلمان نه تکلیف لرے کړو الله تعالیٰ به ددهٔ نه د قیامت د ورځے د تکلیفونو نه تکلیف لری کړی، او چا چه په یو مسلمان باندے پرده واچوله الله تعالیٰ به په دهٔ باندے په ورځ د قیامت پرده واچوی۔

او فرمائی : (لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِالَّذِيْ يَشْبَعُ وَجَارُهُ جَائِعٌ إِلٰى جَنْبِهٖ) (رواه البیهقی، مشکاة ٤٢٤/٢)۔ هغه انسان مؤمن نهٔ دے چه خپله مړیږی او ددهٔ اړخ ته ګاونډی وږے وی۔

او فرمائی: (سِبَابُ الْمُسْلِمِ فُسُوْقٌ وَقِتَالُهُ كُفْرٌ) (بخاری ۸۹۳/۲)۔

مسلمان ته کنځل کول فسق (ګناه) ده او د هغه وژل کفر دے۔

او فرمائی: (ظِلُّ الْمُؤْمِنِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ صَدَقَتُهُ)۔

د قیامت په ورځ به د مؤمن سورے د هغه صدقه وی۔

او فرمائی: (اَلصَّدَقَةُ تُطْفِئُ غَضَبَ الرَّبِّ)۔

صدقه د الله رب العالمین غصه ختموی۔

او فرمائی : (أَيُّمَا مُسْلِمٍ كَسَا مُسْلِمًا ثَوْبًا عَلٰى عُرْيٍ كَسَاهُ اللّٰهُ مِنْ خُضْرِ الْجَنَّةِ وَأَيُّمَا مُسْلِمٍ أَطْعَمَ مُسْلِمًا عَلٰى جُوْعٍ أَطْعَمَهُ اللّٰهُ مِنْ ثِمَارِ الْجَنَّةِ وَأَيُّمَا مُسْلِمٍ سَقٰى مُسْلِمًا عَلٰى ظَمَأٍ سَقَاهُ اللّٰهُ مِنَ الرَّحِيْقِ الْمَخْتُوْمِ) (رواه ابوداود والترمذی، مشکاة ۱٦۹/۱)۔

کوم مسلمان چه بل مسلمان ته د هغه په بربنډوالی کی جامه ورواغوندوی الله

تعالیٰ به دهٔ ته د جنت شنے جامے واغوندوی او کوم مسلمان چه بل مسلمان ته د هغه په لوږه خوراك وركړی الله تعالیٰ به هغه ته د جنت د میوو نه خوراك وركړی او کوم مسلمان چه بل مسلمان ته په تنده کی اُوبه وركړی الله تعالیٰ به هغه ته د مهرزده شرابونه څکاك وركړی۔

او فرمایل : (اِتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ فَإِنْ لَّمْ تَجِدْ فَبِكَلِمَةٍ طَيِّبَةٍ) (البخاری)۔

د اُور نه ځان وساتئ اگرکه په یو طرف د کجوره سره وی که دا نهٔ مومے نو په ښائسته خوږه خبره سره (ځان د اُور نه بچ کړه)۔

دارنگه نبی ﷺ به د سوال کولو نه منع کوله او د صبر ترغیب به ئے وركولو۔

او نبی علیه السلام ددے ارشاداتو په ذریعه د امن او د خوشحالئ، د مینیٰ او د محبت یوه جامعه معاشره جوړه کړے وه۔

(د نبی علیه السلام امت دوه قسمه دے، یو امة الدعوة چه دعوت ورته کیږی چه هغه یهود او نصاریٰ، مشرکین، مجوس او منافقان دی، دویم امة الاجابة چه د رسول الله ﷺ دعوت ئے منلے دے، امة الاجابة کی ډیرے ډلی دی، حق پرست خلق هم پکی دی (مَا اَنَا عَلَيْهِ وَأَصْحَابِيْ) او پدے کی مبتدعین هم داخل دی چه بدعات کوی) مقصد دا چه نبی علیه السلام ته د هجرت نه روسته دوه امتونه وړپه غاړه وو امة الدعوة او بل امة الاجابة۔ امة الاجابه صحابه کرام وو، اُوچت خلك وو،

او امة الدعوه دوه ډلے وے یو د مدینے نه بهر مشرکین وو او دویم هغه خلك دی چه دننه مدینه کی وسیږی یهود یا د مدینے نه بهر دی چه عام یهود او نصاریٰ دی)۔

په مدینه کی نبی علیه السلام د خپلو ملگرو تربیت وکړو چه الله هم ورله تربیت کولو او نبی علیه السلام هم ورله تربیت کولو صحابه کرامو کی د منلو صفت وو نو ځکه کامیاب هم وو که یوه خبره به د تکلیف وه هم هغوی به منله او بل د نبی علیه السلام په خبره کی اثر وو۔

الله تعالیٰ به دوه قسمه تربیت کولو (۱) یو امتحانی تربیت وو چه ابتلاء به راتله مدینے ته چه به څوك راغلل تبی به پرے راتللے۔

عائشه رضی الله عنها فرمائی چه اول کی مونږ مدینے ته راغلو نو په ابوبکر او بلال رضی الله عنهما باندے تبی راغلے۔

پدے کی زہ راغلم د بلال تپوس مے هم وکړو او د ابوبکر صدیق رضی الله عنه تپوس مے هم وکړو او پدے وخت کی لا د پردے حکم نهٔ وو نازل شوے۔

ابوبکر صدیق چه به لږ ناجوړه شو او مرض به ئے زیات شو نو دا شعر به ئے لوستلو :

كُـلُّ امْـرِئٍ مُـصَبَّـحٌ فِـيْ أَهْـلِـهٖ	❁	وَالْـمَـوْتُ أَدْنٰـى مِـنْ شِرَاكِ نَـعْـلِـهٖ

په هر سړی باندے به په سهر وخت کی حمله وشی ملك الموت به پرے حمله وکړی او مرګ سړی ته د خپلیٔ د وندنے نه هم زیات نزدے دے۔

د بلال رضی الله عنه تپوس مے وکړو د هغه ډیره سخته تبه وه او په مکه پسے خفه وو چه تبه به ترے لرے شوه نو دا شعرونه به ئے ویل، د مکے ارمان به ئے کولو :

أَلَا لَيْـتَ شِـعْـرِيْ هَـلْ أَبِيْتَنَّ لَيْلَةً	❁	بِـوَادٍ وَحَـوْلِـيْ اِذْخِـرٌ وَجَـلِيْـلُ
وَهَـلْ أَرِدَنْ يَـوْمًـا مِيَـاهَ مِـجَـنَّةٍ	❁	وَهَـلْ يَبْدُوَنْ لِـيْ شَـامَةٌ وَطَـفِيْـلُ

زهٔ نهٔ پوهیږم چه آیا زهٔ به یوه شپه د مکے په وادئ کی تیره کړم چه زما نه ګیر چاپیره سرګړی اونور بوټی وی (اذخر سرګړے او جلیل وړوکے کمزورے بوټے دے) او آیا زهٔ به یوه ورځ چرته د مجنه چینے اُوبو ته راشم او آیا ما ته به شامه او طفیل غرونه رانبکاره شی۔

مطلب ئے دا وو چه ارمان دے چه داسے وخت به په مونږ راشی چه زهٔ به مکے ته بیرته لاړ شم او هغه بوټی د سرګړی او جلیل به زهٔ وینم او شامه او طفیل غر به راته ښکاره شی او د مجنے اُوبه او چینه به راته ښکاره شی ددے خپلے علاقے نومونه ئے یادول۔

سیدنا بلال اصل کی د حبشو وو لیکن مکه کی ډیر وخت پاتی شوے وو او هلته ګرزیدلے وو نو د هغے سره ئے ډیره مینه وه خپل وطن ئے ګرزیدلے وو۔

سیدنا بلال رضی الله عنه به بنیرے هم کولے چه اے الله ! ته په عتبه او شیبه او ولید لعنت راولیږه، مونږه ئے د مکے نه راوایستلو او د مرضونو زمکے ته ئے راوستلو۔

سیده عائشه رضی الله عنها فرمائی : زهٔ لاړم او نبی علیه السلام ته مے د دوی دا خبرے وکړے کومے چه مے د دوی نه واوریدے او د دوی دا مرض مے ورته ذکر کړو نو نبی علیه السلام دعا وکړه :

(اَللّٰهُمَّ حَبِّبْ لَنَا الْمَدِيْنَةَ كَحُبِّنَا مَكَّةَ أَوْ أَشَدَّ، وَصَحِّحْهَا،وَبَارِكْ لَنَا فِيْ صَاعِهَا وَمُدِّهَا وَانْقُلْ حُمَّاهَا فَاجْعَلْهَا بِالْجُحْفَةِ)

اے اللہ ! مونږ ته مدینه محبوبه وګرزوه لکه څنګه چه مونږ ته مکه محبوبه ده یا د هغې نه هم زیاته او پدے مدینه کې زمونږ دپاره صحت واچوه او ددے په صاع او مد کې برکت واچوه او ددے تبه جُحفے ته نقل کړه)۔ جحفه کې یهود اُوسیدل۔

د نبی ﷺ دا دعا قبوله شوه او تبه ترے جحفے ته نقل شوه،

نبی ﷺ خوب کې ولیدل چه یوه توره ښځه چه پراګنده ویښتو والا ده د مدینے نه ووتله او جحفے ته لاړه نو ددے تعبیر داسے ویستے شو چه د مدینے نه وباء او تبے جحفے ته نقل شوے۔ نو پدے سره مهاجرین ددے تکلیف نه خلاص شو او الله تعالیٰ د مدینے هواء ډیره مزیداره او صفا وګرزوله چه زړه به پکې خوشحاله وو، اُوس هم په مدینه کې د انسان زړه خوشحالیږی۔

بل حدیث دے چه الله تعالیٰ دے مدینه کې دومره برکتونه واچوه لکه څومره چه دے په مکه کې اچولی وو بلکه د هغې دوچنده پکې واچوه، الله تعالیٰ دا دعاګانی قبولے کړے، د مدینے سره د نبی علیه السلام مینه پیدا شوه او د صحابه کرامو هم ورسره مینه پیدا شوه او مرضونه او تبی هم ترے ختمے شوے، پریشانی او ډیر مشکلات په دعاګانو حل کیږی۔


بل تربیت د صحابه کرامو به الله تعالیٰ په وحی سره کولو چه چا به څه غلط کار وکړو وحی به راغله چه دا مهٔ کوئ۔

بل تربیت ئے ورله دا وکړو چه مسجد ئے ورله جوړ کړو ځکه دا د مسلمانانو د تربیت مرکزونه دی، د اجتماع ځای دے، مساجد د ایمان د جوړیدلو کارخانی دی۔

مسجد کې چه شور ورانی، غلطی خبرے نهٔ کوے نو بازار کې ئے هم مهٔ کوه چه د مسجد او بازار زندګی یوه شی معاشره کې ډیره اصلاح راځی۔

نبی علیه السلام چه کله مسجد جوړ کړو او اذان مقرر شو نو اول کې مونځ دوه رکعاته وو بیا څلور رکعاته شو، دوه رکعاته مونځ زیات شو بیا سفر کې بیرته په خپل اصلی حالت باندے دوه رکعاته فرض پاتی شو او د جمع بین صلاتین اجازه هم وشوه۔

او ددے تربیت یوه طریقه دا هم وه چه نبی علیه السلام د صحابه کرامو ترمینځ عقد مواخات وکړو لکه تفصیل ئے مخکې تیر شو۔



التحالف الاسلامی (اسلامی عهد)

بل کار نبی علیه السلام دا وکړو چه اسلامی عهد او لوظ ئے قائم کړو د قریشو مسلمانانو او د مدینے مسلمانانو ترمینځ چه دیته تحالف اسلامی وائی، څه شرطونه ئے ولیکل چه د هغے خلاصه دا وه:

۱- فیصله به قرآن او حدیث ته وړی،

۲- دویم دا چه مسلمانان به ټول ورونه ورونه وی د ټولو خبره به یوه وی که یو مسلمان چا ته پناه ورکړه هغه ته به د نورو مسلمانانو د طرفنه هم امن وی.

۳- : دا چه یو مسلمان به د بل مسلمان په خلاف د کافر مدد نهٔ کوی.

٤- یو مؤمن به بل مؤمن د کافر په سر کی نهٔ وژنی.

٥- : کوم قریش چه کافر دی هغوی ته به امن نهٔ ورکوی،

٦- : که په یهودو کی څوك زمونږ ملګرے شونو هغه سره به مدد کولے شی، په هغه باندے به ظلم نشی کیدے او د هغه په خلاف به مدد نشی کولے.

۷- : که په یو ملګری دیت واوړیدهٔ هغه دیت به ورله خلاصوو.

۸- : مشرك به د قریشو مال او نفس ته پناه نهٔ ورکوی او د مؤمن په خلاف به د هغے پشت پناهی نهٔ کوی.

۹- : چا چه یو مؤمن قتل کړو چه ګواه پرے پیش شونو هغه به پرے قصاص کیدے شی مګرکه د مړی وارثان راضی شی نو بیا به نهٔ قتلیږی.

۱۰- : مومن له دا حلال نهٔ دی چه د فسادی سړی سره مدد وکړی یا ورته ځای او پناهی ورکړی او چا چه ورسره مدد وکړو یا ئے ورته ځای ورکړو نو په هغه باندے به د الله لعنت او غضب وی په ورځ د قیامت او د هغه نه به نفل او فرض نهٔ قبلیږی.

۱۱- : په هر شی کی چه ستاسو اختلاف راغلو نو د هغے واپسی به الله تعالیٰ ته او د هغه رسول (محمد) ﷺ ته وی. پدے سره هم د مسلمانانو اتحاد قائم شو.

(الرحیق المختوم)

000000

د مدینې د دریمې ډلې - منافقانو تفصیل

مخکې مونږ وویل چه په مدینه کې درې ډلې وې، مومنان، یهودیان او مشرکان. د غزوه بدر پورې منافقان نهٔ وو بیا د بدر د غزا نه روسته چه مسلمانان غالب شو نو بعض مشرکانو ظاهراً اسلام ښکاره کړو او په زړه کې ئې کفر وو چه د دوی سرغنه او مشر عبد الله بن ابی ابن سلول وو، د ضد او د عناد وجه نه ئې منافقت اختیار کړو،

دا منافقان به پنځه وخته جمعې ته هم حاضریدل، د اشراق مونځ به ئې هم کولو لیکن تهول د ریا او د لالچ دپاره وو چه مونږ ته خلك ښه ووائي. عبد الله بن ابی ابن سلول د منبر هغه رُمانه ونیوله او خلکو ته به ئې ویل چه دا حق نبی دے ددهٔ بعداری وکړئ. منافق دیته وائي چه په خُله کې ئې دین وی او دننه نهٔ وی،

منافق درې قسمه دے. (۱) منافق اعتقادی: چه په خُله د ایمان اقرارکوی او په زړهٔ کې ئې ایمان نهٔ وی، زړه ئې کافر وی، نهٔ الله منی، نهٔ رسول، نهٔ قیامت یا بعض منی او بعض نهٔ منی. دا منافق به د جهنم په لاندې طبقه کې پروت وی لکه قرآن کریم فرمائی: ﴿اِنَّ الْمُنَافِقِیْنَ فِی الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ﴾ (النساء:۱٤٥).

اسلام ته دا خلك ډیر ضرر ورکوی ځکه ئې په لاندې طبقه کې اچوی.

(۲) دویم قسم منافق شکی. منافق شکی هغه دے چه په زړه کې ئې دا خبره راځی چه دا اسلام به حق وی منل ئې پکار دی او کله شك کوی چه دا صحیح دین نهٔ دے، دا قسم منافق هم کافر دے ځکه د اسلام په هیڅ خبره کې به معمولی شك هم نهٔ کوی داسې به ئې منی لکه نمر او سپوږمۍ چه سرې ته ښکاری.

الله فرمائی: ﴿فَوَرَبِّ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ اِنَّهٗ لَحَقٌّ مِّثْلَ مَا اَنَّكُمْ تَنْطِقُوْنَ﴾ (الذاریات:۲۳).

(قسم دے په رب ستا چه یقیناً دا قرآن کریم حق دے لکه څنګه چه تاسو خبرې کوئ).

بنده خپله خبره رشتینې ګنړی نو دغه شان به قرآن او رسول او آخرت رشتینې ګنړی.

(۳) دریم قسم: منافق عملی دے چه زړه کې ئې دننه اسلام وی، الله او رسول او قرآن او قیامت منی، مشرك او کافر نهٔ دے او کفر ئې بدنی شی لیکن ایمان ئې کمزورے دے، د

ایمان کمزورئ د وجه نه ددهٔ عملونه د منافقانو دِ عملونو په شان وی، وجه دا ده چه په بنده کی نیك عمل پیدا کونکے شے ایمان دے، ایمان مُحرّك دے او د دوی ایمان کمزورے دے۔

لقمان حکیم رحمه الله فرمائی : [اِنَّمَا تَعْمَلُ بِقَدْرِ یَقِیْنِكَ]

تهٔ د خپل یقین په اندازه عمل کوے۔

د عملی منافق څلور لوی علامات دی : (١) کله چه خبرے کوی دروغ وائی (٢) او کله چه ورسره امانت کیخودے شی خیانت کوی (٣) او کله چه وعده وکړی نو خلاف پکی کوی (٤) او په یو روایت کی دی چه کله جنګ کوی نو کنځلے کوی۔

دا اول او دویم قسم منافقان هم په مدینه کی وو او ددے منافقانو نه نبی علیه السلام ته ډیر تکلیف وو ددے منافقانو سره نبی علیه السلام جنګ نهٔ کولو۔

نبی ﷺ به ددے منافقانو سره د ډیر صبرنه کار اخستو، سیدنا عمر رضی الله عنه به کلهٔ وویل چه اے د الله رسوله ! که تاسو ما ته اجازه کوئ زهٔ دبه ددے ابی ابن سلول سر په توره ووهم؟ نبی علیه السلام وفرمایل: عرب به وائی چه محمد (ﷺ) خپل ملګری وژنی۔

(بخاری ٣/١٢٩٦ کتاب المناقب بَابُ مَا یُنْهٰی مِنْ دَعْوَی الْجَاهِلِیَّةِ، مسلم (١٩٩٨/٤) کتاب الْبِرِّ وَالصِّلَةِ)

دے منافقانو به د کفارو دپاره جاسوسی هم کوله او د یهودو ملګرتوب به هم دوی کولو، د صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین پسے به ئے خبرے او بدے ردے هم وئیلے، غرض دا چه هیڅ مجال او موقعه به دوی نهٔ موندله چه په هغے کی په رسول الله ﷺ او په مسلمانانو باندے چل جوړ کړی مګر دوی به هغے ته راتګ کولو، ډیرکرت دوی به خوانان او ساده مسلمانان د خپل منافقت دپاره په کار باندے اچول او هغوی سره به ئے دوکه کوله او مینځ کی به دوی خپل فساد کولو۔

مدینے ته د یهودو راتلل

څلورمه ډله :

یهود مدینے ته د فلسطین نه راغلی وو هلته ورسره رومیانو او نورو بادشاهانو

جنگونه کول د هغوی د جنگونو نه حجاز ته راتبنتیدلی وو او بله دا چه د آخرني نبي انتظار ئے کولو او ددغه وجه نه ئے دا ځای نیولے وو۔

په مدینه کی د یهودو مشهورے درے ډلے وے

(۱) اوله ډله یهود بنوقَینُقَاع وو او دوی د خزرج ملګری وو او دوی دننه په مدینه کی وسیدل او خزرج د انصارو یوه قبیله اوډله وه۔

(۲) دویمه ډله د یهودو بنونضیر وو، دویم هم د خزرج ملګری وو او د دوی کورونه په اطرافو د مدینه کی وو۔

(۳) دریمه ډله بنو قریظه او دوی د اَوس قبیلے ملګری وو او اَوس د انصارو یوه ډله وه۔

بنو نضیر او بنو قریظه د مدینے نه بهر اُوسیدل او بنو قینقاع په مدینه کی دننه اُوسیدل چه اُوس دغه ځای په سوق التمر سره مشهور دے چه کجورے پکی خرخیږی، دا شپږ اُوه سوه کوره کلے وو۔

د یهودو تعارف او خباثتونه

نبي علیه السلام چه کله مدینے ته راغلونودے یهودو سمدست دشمني شروع کړه لیکن دا دشمني ئے پټه وه، بیا ئے څه وخت روسته دا دشمني راښکاره کړه او مقابلے ئے شروع کړے او لوظونه ماتول ئے شروع کړل۔

یهود چه مدینه کی اُوسیدل دوی عجم خلك وو عبرانیین وو لیکن دلته حجاز (عربو) ته چه راغلل نو د دوی په لغت او لباس باندے د عربو غلبه وشوه او د عربو په رنګ باندے رنګ شو دوی به د عربو په شان لباس اچولو او د هغوی په شان نومونه به ئے اېښودل او د قبیلو نومونه ئے هم عربي شول او تردے چه د دوی او د عربو ترمینځ د نکاح او د سخرګنئ رشتے او تعلقات هم قائم شو مګر دوی باندے خپل جنسي عصبیت او تعصب غالب وو او په عربو کی بیخی داخل نشول بلکه دوی به په خپل اسرائیلي (یهودي) جنسیت باندے فخر کولو او ځان به ئے په حق ګنړلو او عرب به ئے ډیر سپك ګنړل او دا به ئے وئیل چه مونږ ته پو هه راکړے شویده او دا عرب ساده او جاهلان خلك دي تردے چه دے یهودو به وئیل: د عربو مالونه مونږ له حلال دي په هره

طریقه ئے چه خورو لکه الله تعالیٰ د دوی نه داسے تعبیر کړیدے :

﴿ وَمِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ مَنْ إِنْ تَأْمَنْهُ بِقِنْطَارٍ يُؤَدِّهِ إِلَيْكَ وَمِنْهُمْ مَنْ إِنْ تَأْمَنْهُ بِدِينَارٍ لَا يُؤَدِّهِ إِلَيْكَ إِلَّا مَا دُمْتَ عَلَيْهِ قَائِمًا، ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا لَيْسَ عَلَيْنَا فِي الْأُمِّيِّينَ سَبِيلٌ ﴾

(آلعمران : ۷۵)۔

(او بعض د اهل کتابو نه هغه څوك دی که ته دوی په یوه خزانه باندے امانتگر جوړ کړے هغه به درته ادا کوی او ځینی د دوی نه هغه څوك دی که ته یوه روپئ د هغه سره امانت کیږدے نو نه ئے ادا کوی تا ته مگر که ته په هغه باندے همیشه ولاړ ئے، دا پدے وجه چه دوی به وئیل چه نشته په مونږ باندے په مالونو د امیانو کی هیڅ لاره (د ملامتیا)، مگر الله تعالیٰ فرمائی: چه دوی په الله باندے دروغ وائی او دوی پو هیږی چه مونږ دروغ وایو۔

دوی به وئیل چه په ټوله دنیاکی عزتمنده طائفه یهود دی او باقی انسانان په اصل کی خرۀ او غوایان دی۔

په ټوله دنیا کی سخت زړی او مضر کافر یهود دی، نصاریٰ لږ نرم کافر دی او یهود ډیر سخت دی،

په هغه زمانه کی به نصاریٰ او یهودو په خپل دین کی چاته د داخلیدو دعوت نۀ ورکولو، ډیر تنگ نظری خلك وو، او اُوس د نصاریٰ (انگریزانو) عادت دا دے چه دوی خپل دین ته دعوت ورکوی او یهودو کی تعصب او ضد ډیر دے نو هغوی خپل دین ته دعوت نۀ ورکوی پدے وجه دوی کم هم دی، دا وجه ده چه زمونږ امت کی چه کله علماء خراب شی هغوی کی د یهودو صفتِ راځی لکه حسد، تکبر، دروغ او بهتان او پردی مالونه په حیلو خوړل وغیره۔

د یهودو څه خاص عبادات نۀ وو صرف فالونه به ئے نیول، فالگر وو، دمونه به ئے اچول سحر او جادو به ئے کولو او پدے به ئے خپل ځانونه د علم او فضیلت او روحانی قیادتِ والا گڼړل په دوی کی صحیح علماء ډیر کم وو لکه د عبد الله بن سلام رضی الله عنه وغیره په شان۔

ددے یهودو په مدینه کی دننه یوه مدرسه وه بیت المِدراس به ئے ورته وئیلو په هغے کی به ئے تورات لوستلو لیکن عمل به ئے پرے نۀ کولو۔

حدیث کی راځی نبی علیه السلام وفرمایل: داسے زمانه به راشی چه علم به ختم شی یو صحابی (زیاد بن لبید ﷺ) وفرمایل: علم به څنګه ختم شی حال دا چه مونږ قرآن لولو او خپلو بچوته ئے زدهٔ کوو او زمونږ بچی به ئے خپلو بچو ته زدهٔ کوی تر قیامته پورے؟ نبی علیه السلام وفرمایل: اے زیاده! ما خو دا ګمان کولو چه تهٔ په مدینه کی د ډیر علم والو نه ئے، آیا یهود او نصاریٰ تورات او انجیل نهٔ لولی لیکن دا ورته فائده نهٔ ورکوی کله چه پدے باندے عمل نهٔ کوی؟۔

(الطبرانی فی الکبیر٥١٥٦) ومستدرك الحاکم ٦٥٠٠)

یعنی د علم ختمیدل دا دی چه قرآن به خلك لولی لیکن عمل به پرے نکوی او په عملی زندګئ کی به ئے نهٔ وی لکه څنګه چه یهودو او نصاراؤ تورات او انجیل لوستلو لیکن عمل ئے پرے نکولو۔

په یهودو کی ډیرو لږوکسانو ایمان راوړے وو یو د هغوی نه عبد الله بن سلام او بل مخیریق او څه نور کسان وو او عامو یهودو ایمان رانهٔ وړو ددے وجه دا وه چه الله سبحانه وتعالیٰ دوی ته د ایمان توفیق نهٔ ورکولو ځکه چه دوی مخکی په تورات عمل نهٔ کولو الله ورله توفیق د اسلام هم نهٔ ورکولو۔

* د دوی د زړو ګناهونو د وجه نه د اسلام توفیق ورنکړے شو۔

په یهودیانو کی بل کار دا وو چه هغوی ډیر زیات تجاران وو په لاسونو کی ئے قسم قسم کسبونه وو، د تجارت په کاروبار ډیر ښه پوهیدل، د جامو او د غنمو او د دانو تجارت به ئے کولو د بهر نه به ئے جامے، دانے او شراب راوړل او ددے ځای (مدینے) نه بهر ملکونو ته به ئے کجورے وړلے۔

دوی به نور کارونه دا کول چه دوی به د عامو عربو نه ډیر منافع او په ډیرو چندونو سره سود اخستو،

بل کار به ئے دا کولو چه دوی به د عربو شیوخو او سردارانو ته ډیر قرضونه ورکړل دے دپاره چه هغوی ئے شاعرانو ته ورکړی او هغه شاعران د دوی مدحے او صفتونه وکړی او په خلکو کی ښه مشهور شی نو دغه مشرانو به ترے دا قرضونه واخستل او بی ځایه به ئے خرچ کړل او هغوی ته به ئے د قرض په بدله کی په ګانړه کی خپل باغونه او زمکے کیخودے مګر بیا به د دوی سره د قرض د واپس کولو څه عوض نهٔ وو

نو دهغې په بدله کې به ئې دې یهودو ته خپلې زمکې او باغونه ورکړل او هغوی به پرې قابض شول، پدې طریقه ئې ډیرې زمکې نیولې وې۔

په یهودو کې بل حرامتوب دا وو چه چغلي، فساد او د قبیلو ترمینځ جګړې او بُغضونه پیدا کول د دوی اولنۍ کار وو۔ عرب به ئې جنګول او په یو بل باندې به ئې په ډیره پټه طریقه سره تیزول او بد ګمانه کول چه دغه قبیلې به پرې نۀ پوهیدلې، په عربو کې ډیر جنګونه د دوی دلاسه پیدا شوی وو او بیا به هر کال راتازه کیدل او دوی به د هغې د شروع کیدو او تیزیدو دپاره یو بل کې نوکونه جنګول کله چه به جنګ شروع شو نو دوی به ورته سیل کولو او دې کار به ورله خوند ورکولو او دا به ئې کمال ګنړلو، او کومه قبیله چه به په جنګ کې د نفقې او د خرچې د وجې نه کمزورې شوه نو دوی به ورله په ډیر سُود سره ډیر مالونه په قرض ورکړل،

نو پدې سره به د دوی دوه فائدې وشوې یو خو یهودي ثقافت باقي پاتې کیدل او هغې ته هیڅ نقصان نۀ رسیدل او بل طرفته په ډیرو چندونو باندې سُود د عربو نه خوړل او په دوی باندې مشری کول لکه دا د یهودو مشن دې چه خلك جنګوی او دوی پرې بادشاهي کوی او د مسلمانانو ترمینځ پروپیګنډې او بدګمانیانې او حیلې پیدا کوی او پدې طریقه پرې حکومتونه کوی خو ارمان که زمونږ مسلمانان دې ته فکر وکړي!!۔

او کله کله به دوی هم ورسره په جنګونو کې ملګری شول لکه د اَوس او د خزرج جنګونه به راتلل نو بنو قینقاع او بنو نضیر به د خزرج ملګری وو او بنو قریظه به د اَوس ملګری وو کله چه به د اَوس او خزرج ترمینځ جنګ راغلو نو دوی هر یو به د خپلو خپلو حلیفانو سره ملګری شو نو پدې کې به یهودو یو بل قتل هم کړل،

او کله چه به د دوی کسان ونیول شو قیدیان به شو نو د هغې دپاره به ئې خپل مینځ کې چنده واچوله او دې خپلو عربو ملګرو ته به ئې ورکړه او ددې خپلو حلیفانو (عربو) نه به ئې هغه یهودیان خلاصول او دې عربو ته به ئې وئیل چه مونږ ته الله تعالیٰ په تورات کې لیکلي دي چه هیڅ یهودي به جیل ته نۀ اچوئ او چرته چه مو یهودي لیدو چه قید شوې وو هغه به راخلاصوئ۔

لیکن دوی به په تورات باندې نیمګړې عمل کولو ځکه چه په تورات کې ئې ورسره دا هم لیکلي وو چه یهود به نۀ وژنئ لیکن دوی به وژل صرف قیدي کیدل ورته ګران

ښکاره کیدل نو الله فرمائی:

﴿أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتٰبِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ﴾ (البقرہ:۸۵)۔

(آیا تاسو ایمان لرئ په بعض کتاب او کفر کوئ په بعض باندے) نیم کتاب منل او نیم نهٔ منل الله تعالیٰ ته منظور نهٔ دی۔

پدے آیت کریمه کی قرآن کریم ددے دغه تصویر وړاندے کړیدے۔

په تورات کی ئے لیکلی وو چه قتل حرام دے، د کورنه د مسلمان ویستل حرام دی، په ګناه کی د چا تعاون کول حرام دی مګر دوی دا درے واړه حرام کارونه کول او یو کار چه تورات جائز کړیدے چه قیدی راخلاصول دی په هغے به ئے عمل کولو۔

دا قیصه ددے دپاره بیانوو چه روسته د نبی علیه السلام په طرززندګی پوهه شی۔

یهود پدے خبره پوهه وو چه دا نبی کله هم مدینے ته راشی نو د خلکو ترمینځ به یو والے او اتحاد راولی، اسلام د اتفاق او د اتحاد دین دے او سود او قتل او ناجائز کارونو نه به منع کوی نودوی به دا تعصب کولو او عقیده ئے جوړه کړے وه چه کله دا نبی مدینے ته راغے نو یو خو زمونږ تجارت خرابیږی هغه کومے پیسے چه مونږ خلکو ته په سود ورکړی هغه ختمیږی،

بل دا چه دا نبی عربی دے او مونږ عبرانیان یو، دا پیغمبر زمونږ د اصل نه نهٔ دے، نسب ئے بدل دے، بله دا چه دوی په عربو باندے یو قسم مشری کوله نو که دا نبی راشی نو اُوس به عرب (اَوس او خزرج) د دوی د پنجو نه آزاد شی ځکه چه اسلام خو د آزادئ دین دے، نو دوی ته دا خطرے متوجه شوے چه تجارت به مو خراب شی، د سود مالونه او کاروبار به ختم شی په کوم باندے چه د دوی مالداری جوړه وه او کومے زمکے او باغونه ئے چه د عربو نه د سُود په بدله کی نیولی وو دا به مو د لاس نه لاړ شی دا نبی به ددے په واپس کولو باندے حکم وکړی،

نو کله چه نبی علیه السلام مدینے ته د اولے ورځے نه راغے د دوی په زړونو کی دا خدشات پیدا شونو پدے وجه د دوی په زړونو کی د اسلام او ددے رسول او مسلمانانو سره د اولے ورځے نه انتهائی ضد او حسد پیدا شو اګرکه ددے دشمنئ په راښکاره کولو باندے ئے زړه ورتیا نشوه کولے مګر لږ روسته ئے راښکاره کړه۔ لکه مخکی د حیی بن اخطب او د هغه د ورور ابویاسر یهودی واقعه ذکر شوه۔ او د عبد الله بن سلام رضی الله

عنه واقعے نه هم اندازه کیږی۔
ددے نه معلومه شوه چه یهودو سره د پوهے او علم نه د حق مقابله کوله۔

د یهودو سره صلح او د هغے شرطونه

نبی علیه السلام چه کله مدینے ته راغے د اول نه ئے د یهودو سره جنګ شروع نکړو ځکه که دا کار ئے کړے وے نو خلکو به وئیلے چه د ملك او پیسو دپاره جنګ دے۔
بلـه وجـه دا وه چـه یهـودو د نبی علیه السلام په مقابل کی څه اقدام نهٔ وو کړے څه ضرر ئے د الله نبی ته ښکاره نهٔ وو ورکړے۔
نو نبی علیـه السـلام ورسره د صلحے طریقه اختیار کړه دے دپاره چه د دوی خیر خواهی وشی او دوی په دین او مالونو کی آزاد وی او د دوی سره ئے اول نه جنګ شروع نکړو بلکـه یهـودیان ئے راجمعـه کړل او هغوی تـه ئے وویل چـه یوه صحیفـه بـه ولیکو چه د مدینے به شریك حفاظت کوو،
او په هغے کی ئے دا لاندینی شرطونه ولیکل :
(۱) یو د هغه شرطونو نه دا وه چه یهود د بنی عوف به د مؤمنانو سره یو امت وی، د یهودو به خپل دین وی او د مسلمانانو به خپل دین وی او دغه شان غیر د بنی عوف نه نور یهودیان به دغه شان وی۔
(۲) یهود بـه خپلـه نفقه کوی او مسلمانان به خپله، هر یو تن به خپله خپله خرچه کوی۔
(۳) څـوك چـه ددے صحیفے والو مخالفت کوی نو یهود او مسلمانان به په شریکه د هغوی په خلاف د یو بل سره مدد کوی۔ یعنی مونږ به د یو بل مدد کوو که په تاسو چا حملـه کـولـه مـونږ بـه ستـاسو مدد کوو او که په مونږ باندے چا حمله کوله تاسو به زمونږ مدد کوئ۔
(٤) : د یـو بـل خیـر خـواهی بـه کوو، تاسو به زمونږ خیر لټوئ مونږ به ستاسو، په نیکئ کی به د یو بل مدد کوو نهٔ په ګناه کی۔
(٥) : د یـو پـه ګـنـاه بـه بـل نـهٔ رانیـول کیـږی کـه یهودو ګناه وکړه مومنان به پړے نهٔ

رانیول کیږي او که مومنانو وکړه یهود به پرې نهٔ رانیول کیږي د هر چا به خپله خپله ګناه وي، پدې کې حکمت دا وو چه مؤمنانو خو ګناه نهٔ کوله او یهودو کوله.

(٦) تاسو یهود به د خپل طرف حفاظت کوئ او مونږ به د خپل طرف حفاظت کوو.

(٧) د مظلوم سره به مدد کوو.

(٨) یهودیان به د مؤمنانو سره په شریکه خرچه کوي کله چه دواړه ډلے د نورو مخالفینو سره جنګ کوي.

(٩) د قریشو مشرکانو مدد به نکوي او نهٔ به پناهي ورکوي.

(١٠) ددې صحیفې والو دپاره به د مدینې مینځ ته د کافرو راوستل حرام وي.

(١١) که زمونږ او ستاسو ترمینځ څه اختلاف یا حادثه پیدا شوه چه د هغې نه د فساد یره کیدې شوه نو فیصله به پکې الله او محمد رسول الله ﷺ کوي (ځکه دلته سیطره او غلبه د مسلمانانو وه او یهود غالبه نهٔ وو).

(١٢) دا صحیفه به د ظالم او د ګناهګار مخې ته مانع نهٔ واقع کیږي.

پدې شرطونو کې نبي علیه السلام یهودیان وتړل او هغوی ته ئې پوره آزادي ورکړه چه تاسو خپل تجارت هرڅه چه کوئ په تاسو پابندي نشته او په خپل دین چه عمل کوئ هم په تاسو پابندي نشته دے. نو پدې طریقه سره مدینه یو اتفاقي دولت او حکومت جوړ شو. او دې دپاره چه د امن او د سلامتیا منطقه نوره هم فراخه شي رسول الله ﷺ په روستو زمانه کې د نورو قبیلو سره هم دغه شان معاهده کړې وه لکه چه د هغې بیان به ان شاء الله تعالیٰ په خپل خپل ځای کې راشي.

نبي علیه السلام به یهودو ته دعوت هم ورکولو کله به بیت الْمِدْرَاس ته ورغلو چه راشئ دا حق ومنئ مخالفت مهٔ کوئ.

فائده: همیشه دپاره د کفر سر وهل پکار دي، هغه غټ کافر دي څانګې او شاخونه ئې روسته وهل پکار دي، د ناپوهه خلکو طریقه دا ده چه هغوی د څانګو نه شروع کوي. عمر رضي الله عنه د هُرمزان نه تپوس وکړو چه په کسریٰ (فارس والا) باندې حمله کوو نو په چا اول شروع وکړو ترتیب راته وښایه، هرمزان د فارس وو، ایمان ئې راوړے وو، هرمزان ورته وویل: کسریٰ د کفر سر دے چه دا پریکړې شي بیا وزرې او خپې پخپله پریکړې کیږي ددې مثال د مارغه دے نبي علیه السلام هم دَ نزدې کفارو

سره صلحه وکړه، لاس ئې پرې راښکلو او د کفر سر چه قریش دی د هغوی سره ئې جنګ وکړو.

د مکې مشرکانو اقتصادی پابندی او مدینې والو ته دهمکی

قریش د اسلام او د مسلمانانو غټ دشمنان وو دوئ د اسلام او د مسلمانانو دولس دیارلس کاله خلاف وکړو، په مکه کې به ئې مسلمانانو ته قسم قسم تکلیفونه او عذابونه او دهمکیانې ورکولې لیکن کله چه الله تعالیٰ د دوی نه مسلمانان مدینې ته راخلاص کړل نو د دوی شر په قلار نهٔ شو بلکه نور په ضد کی راغلل حال دا چه مسلمانان د دوی نه د پنځه سوه (٥٠٠) کیلو میټره مسافت وړاندې هم تلی وو لیکن د دوی ضد او شر نهٔ په آرام کیدو او دا ئې نشوه برداشت کولې چه مسلمانانو ته څنګه د امن ځای ملاؤ شو او د دوی نه روغ خلاص شو او وخت په وخت زیاتیږی او په عربو کی د دوی عسکری او سیاسی طاقت هم وو ځکه چه د حرم وسیدونکی او د بیت الله منجاوران به ئې ځان ته وئیل نو پدې وجه خلکو به ئې خبره هم منله ځکه چه د پیرانو حیثیت ئې لرلو نو دوی یو څو کارونه وکړل:

(١) یو دا چه عامو عربو ته ئې اعلان وکړو چه په مدینې والو به څه نهٔ خرڅوئ نو دوی په مدینه باندې اقتصادی پابندی ولګوله.

(٢) دویم کار ئې دا وکړو چه د مدینې منافقانو او مشرکانو ته ئې خبر راولیږه چه د هغوی مشر عبد الله بن ابی ابن سلول وو چه تاسو به ددې نبی په خلاف توره راواخلئ او جنګ به ورسره وکړئ او یا به ئې د مدینې نه اُویاسئ او که داسې نهٔ وی نو مونږ درپسې درروان یو ستاسو جنګی خلك به ووژنو او ستاسو زنانه به د ځان دپاره حلالی وګرځوو درنه رابه ئې ولو،

هرکله چه دا دهمکی راورسیده، عبد الله بن ابی ابن سلول مشرکین راجمعه کړل او ورته وئیل چه دا سړی چه زمونږ دې کلی ته راغلی دې راځئ چه دا اُویاسو ځکه چه مونږ ته مکې والو دا دهمکی رالیږلې ده. د ابن سلول غرض خو دا وو چه دا سړی به قتل کړی او ما ته به خپله مشری ملاؤ شی، د مشرئ پسې ناجوړه وو.

پدې وخت کې دوی قتال ته تیار شو، نبي ﷺ د دوی نه خبر شو چه ابن سلول او مشرکان زما د قتال اراده لري نو نبي علیه السلام د تیزئ نه کار وانخستلو دلته ئې حکمت اختیار کړو،

عبد الرحمن بن کعب ﷺ فرمائي :

نبي علیه السلام خپله ورپسې ورغلو او ورته ئې وفرمایل : تاسو د قریشو د دهمکئ نه ویریدئ (دا تاسو څه لیوني يئ) آیا تاسو پدې خوشحاله يئ چه خپل ورونه او بچي قتل کړئ (پدې وجه چه دوی ایمان راوړیدې، نو په خپل کور کې دننه جنګ جوړوئ)، د هغوی د همکی به دومره ضرر درنکړي او خپل لاس به پخپله پرې کړئ،

څکه چه پدې وخت کې د مدینې والو حال داسې وو چه پلار ئې مشرك دې ځوی ئې ایمان راوړیدې، ځوی ئې مشرك دې او پلار ئې ایمان راوړیدې،

نو دغه مشرکان پدې خبره د جنګ نه روسته شو او ابن سلول په خپلو ملګرو کې بزدلي ولیده او پوهه شو چه دوی دا کار نشي کولې او په بعضو کسانو کې ئې رُشد او هوښیارتیا ولیده چه دوی زۀ نشم استعمالولې. عبد الله بن ابي ابن سلول د جنګ نه کیناستو لیکن د مسلمانانو خلاف به ئې همغه شان جاري ساتلو هیڅ فرصت به ئې نۀ موندلو مګر په هغې کې به ئې شر او فساد پیدا کولو او پدې کار کې به ئې د یهودو سره هم رابطې ساتلې چه هغوی ددۀ سره په څه چل مدد وکړي او دا نبي ختم کړي لیکن نبي علیه السلام به وخت په وخت د دوی دا شر په خپل حکمت سره ختمولو.

(الرحیق المختوم: ۱۳۸)

د مکې د مشرکانو اعلان چه د مدینې خلک به عمرې ته نۀ راځي

دریم کار : د مکې مشرکانو دا وکړو چه په مسلمانانو باندې ئې عمره بنده کړه نو د مسجد حرام نه به ئې خلك اړول.

حدیث کې راځي : سعد بن معاذ رضي الله عنه انصاري صحابي دې مکې ته لاړو د عمرې په نیت، څکه چه د دوی مکې ته تلل راتلل آزاد وو، د سعد بن معاذ د امیه بن خلف سره دوستي وه، امیه بن خلف ورته وویل چه زۀ به مدینې ته درځم د تجارت دپاره

او تـه بـه مـکـے تـه راځـے یـو بـل تـه بـه امن وی ددے حدیث نه امام بخاری ددے جواز هم ثابت کړیدے چه د کافر نه پناهي اخستل پدے غرض چه ددین یو کار وکړی۔

کـلـه چـه سعد بن معاذ لاړو د امیه بن خلف میلمه شو نو امیه ته ئے وویل چه داسے وزګار او خالي وخت راله وګوره چه زۀ پکی طواف وکړم، امیه ورته وویل: د غرمے په وخت کی خلك نۀ وی نو ته به طواف وکړے، سعد بن معاذ د غرمے په وخت کی طواف کولو نو ابوجهل ورته وویل: ابوصَفْوَان! دا سړے څوك دے؟،

امیه وویل: دا خو زما هغه ورور دے سعد، ابوجهل ورته وویل:

(أَلَا أَرَاكَ تَطُوفُ بِمَكَّةَ آمِنًا وَقَدْ آوَيْتُمُ الصُّبَاةَ)

آیا زۀ تا نۀ وینم چه ته په مکه کی (ددے بیت الله نه) په امن طوافونه کوے او حال دا چه تاسو صابیانو ته ځای ورکړے دے، او ستاسو دا ګمان دے چه تاسو به د هغوی مدد او تعاون کوئ۔

(**فائده**: دا د کفارو طریقه ده چه په اهل حقو نومونه اړدی پخوا به ئے اهل حقو ته مُجَسِّمَه وئیل کله به ئے ورته حشویه وئیل، حشویه زیاتی خبرو پسے ځی کله به ئے ورته اهل ظواهر ویل اُوس زمانه کی ورته وهابیان وائی او سیاسی خلك ورته قدامت پسند وائی)۔

ابوجهل سعد ته وویل که ته د امیه سره نۀ وے نو دا سړے دربانده وهلو، دا د ابوجهل غلیظه کلمه وه چه میلمه ته ئے وویله۔ سعد بن معاذ ورته وویل او آواز ئے پرے اُوچت کړو چه کچرته تا زه منع کړم زۀ به ستا د تجارت لاره چه کومه په مدینه بانده شام ته تلے ده منع کړم، امیه ورته وویل: په ابوالحکم باندے آواز مۀ اوچتوه ځکه دا ددے وادی (علاقے) سردار دے۔

نو سعد بن معاذ رضی الله عنه غصه شو او امیه ته ئے وویل: امیه ته غلے کینه ستا باره کی ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلی دی چه هغه به تا وژنی، امیه وویل: آیا ما به وژنی؟، سعد وویل: آؤ، نو په امیه بن خلف باندے سخت رعب راغے او وے ویل چه قسم په الله محمد (ﷺ) دروغ نۀ وائی۔

ابوجهل د دغه ځای نه لاړو نو د امیه په زړه کی دا خبره واقع شوه او غم ورسره پیدا شو ځکه مشرکینو ته معلومه وه چه د نبی علیه السلام خبره رشتیا وی۔

امیه چه کله کورته لاړو خپلے ښځے ته ئے وویل چه آیا ته پوهه ئے چه ما ته زما یثربی (مدینے والا) ورور (سعد) څه وویل؟ : بیا ئے هغے ته وویل چه هغه وائی چه محمد (رسول الله ﷺ) زما په باره کی دا خبره کړیده چه هغه به ما وژنی نو ښځے ورته وویل چه محمد مونږ نۀ پریدی، ته احتیاط کوه محمد رسول الله ﷺ چه کومه خبره وکړی هغه حقه وی او دروغ کیږی نۀ، ته جنګونو ته مۀ ځه۔

بیا امیه په غزوه بدر کی د نبی علیه السلام په لاس ووژل شو۔ لکه روسته به ئے ان شاء الله قصه راشی۔

سعد بن معاذ ﷺ واپس لاړو، پدے کی ابوجهل مدینے ته خبر ولیږه چه تاسو به د عمرے دپاره نۀ راځی او نۀ د حج دپاره۔

د قریشو جواب مدینے والو ته او د نبی ﷺ څوکیداری

د مکے مشرکانو مدینے ته جواب ورولیږه چه مونږ درځو په مدینه حمله کوو او ستاسو زنانه او بچی به هم وژنو او تاسو به هم وژنو، او ددے ئے کلکه اراده کړے وه څه وهم او خیال نۀ وو او دا فیصله ئے کړے وه چه نبی علیه السلام به وژنو نبی علیه السلام او صحابه کرامو سره به هره ورځ یره وه ځکه هر طرف ته دشمنان وو، نبی علیه السلام به ډیر کرته شپه شوګیره وله۔

په حدیث د صحیحینو کی راغلی دی عائشه رضی الله عنها فرمائی:

نبی علیه السلام چه مدینے ته راغے نو یوه شپه بی خوبه شو ځکه دا خطره او یره ورسره وه چه مشرکان حمله ونکړی (او دا د بشریت تقاضا ده طبعاً یره وی) نو نبی علیه السلام پدے شپه وفرمایل : (لَيْتَ رَجُلًا صَالِحًا مِنْ أَصْحَابِىْ يَحْرُسُنِى اللَّيْلَةَ)

ارمان دے چه زما د ملګرونه یو نیك سړے وے او نن شپه ئے زمونږ څوکیداری کړے وے نو پدے وخت کی مونږ دغه شان ناست وو چه ناګهانه مونږ د اسلحے آواز واوریدو۔ نبی ﷺ وفرمایل : څوك ئے؟ هغه وویل : سعد بن ابی وقاص یم، څه راوستے ؟ سعد وویل : الله تعالیٰ راته زړه کی واچول چه زۀ ستا څوکیداری وکړم په تا وبریدم، نو نبی ﷺ سعد ته دعا وکړه (سعد حفاظت ته ودریدۀ) او نبی ﷺ اُودۀ شو۔

(بخاری : ۲۸۸۵، طبع هندیه ومسلم: ۲٤۱۰ طبع دار الاحیاء بیروت تحقیق فؤاد عبد الباقی)

دا وجه ده چه په دغه وخت کی به نبی ﷺ د شپے د کوره هم نشو راوتلے که د شپے به د بولو ضرورت شو نو د لرګی په یوه کاسه کی به ئے کول (او بیا به ئے صبا له ګوزارل).
(ابو داود رقم : ۲٤)

عائشه رضی الله عنها فرمائی چه دا یره ډیر وخت وه هره شپه به د نبی علیه السلام څوکیداری کیدله، یوه شپه نبی علیه السلام د خیمے نه سر رابهر کړو او هغه څوکیدارو ملګرو ته ئے وفرمایل :

اے خلکو ! زما نه واپس شئ ځکه چه یقیناً الله تعالیٰ زما حفاظت وکړو. ځکه چه الله تعالیٰ ما ته وحی رالیږلے ده : ﴿وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ﴾ (المائدة:٦٧)

اے زما نبی ! الله تعالیٰ به تا د خلکو نه ساتی). یعنی تا څوك نشی وژلے نو ددے نه روستــه د نبی عـلیه السلام خطره او یره ختمه شوه او څوکیداری ئے هم پریښوده هغه څوکیداران ئے ختم کړل.

دا یره یواځے په نبی علیه السلام باندے نۀ وه بلکه صحابه کرام به هم یریدل، ځان سره به ئے اسلحه ګرځوله مسجد ته به ئے هم اسلحه وړله صحابه کرامو به دا ارمان کولو چه آیا زمونږ دا یره به هم ختمه شی؟.

د سیدنا اُبی بن کعب رضی الله عنه نه نقل دی فرمائی : هرکله چه رسول الله ﷺ او د هغه ملګری مدینے ته راغلل او انصارو هغوی له ځای ورکړو نو عربو دا ټول د یوے لیندے نه ویشتل او دوی به شپه نۀ تیروله مګر د وسلو سره او صبا به پرے نۀ راتلو مګر د وسلو سره، نو دوی به دا ارمان کولو چه آیا مونږ به داسے ژوند تیر کړو چه شپه په امن او اطمینان سره تیره کړو، صرف د الله نه یریږو؟ تردے چه دا آیت نازل شو :

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ﴾ تر ﴿الْفَاسِقُونَ﴾ پورے). (یعنی الله تعالیٰ د ایمان او نیك عمل والو سره دا وعده کړیده چه دوی ته به په زمکه کی خلافت ورکوی او دین به ورله مضبوطوی الخ......)

(مستدرك حاکم:۳۵۱۲) دلائل النبوة للبیهقی (٦/٣)

نو الله تعالیٰ ورسره دا وعده پوره کړه او د دوی یره ئے ختمه کړه او یو اسلامی خلافت ئے پرے راوستو.

د قتال اجازت

هرکله چه قریش مشرکان د خپلې سرکشۍ نه په هیڅ حال کې نهٔ اخوا کیدل او مسلمانانو باندې به ئې رعب داب اچولو نو الله تعالیٰ د مشرکینو ددې یرې او ذهمکیانو د ختمولو دپاره د قتال امر راولیږه چه په مدینه کې درې څلور میاشتې روسته دا آیت نازل شو :

﴿أُذِنَ لِلَّذِيْنَ يُقَاتَلُوْنَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوْا وَإِنَّ اللّٰهَ عَلٰى نَصْرِهِمْ لَقَدِيْرٌ﴾. (الحج:۳۹)

اجازه ورکړې شوه هغه کسانو ته چه جنګ ورسره کیدې شي (کافران ورسره جنګ کوي) په سبب ددې چه په دوی ظلم شویدې او الله تعالیٰ د دوی په مدد باندې خامخا قادر دې.

او ددې سره ئې سبب د قتال بیان کړو.

﴿اَلَّذِيْنَ أُخْرِجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ بِغَيْرِ حَقٍّ﴾.

هغه کسان چه ویستلې شویدي د کورونو خپلو نه په ناحقه.

او ددې سره الله تعالیٰ آیتونه نازل کړل چه په هغې کې ئې دا خبره بیان کړه چه دا اجازه د قتال د باطل د ختمولو او د الله تعالیٰ د شعائرو د قائم ساتلو دپاره ده.

الله تعالیٰ فرمائي: ﴿اَلَّذِيْنَ إِنْ مَكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوْا بِالْمَعْرُوْفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ وَلِلّٰهِ عَاقِبَةُ الْأُمُوْرِ﴾ (الحج:۴۱)

(هغه کسان چه مونږ ورته په زمکه کې ځاى (قدرت) ورکړې دوی مونځونه قائموي او زکاتونه ورکوي او د نیکۍ حکم کوي او د بدۍ نه منع کوي او خاص الله ته دې انجام د کارونو).

نبي علیه السلام په ژوند کې څو مرحلې تیرې کړې اوله مرحله د دعوت دا په مکه کې وه، دویمه مرحله اذن بالقتال (د قتال اجازه ملاؤ شوه خو لا فرض نهٔ وو) دریمه مرحله قتال فرض کفائي او څلورمه مرحله کې قتال فرض عین شو.

بیا د قتال څو مرحلې وې اول اجازه وشوه بیا څه وخت روسته د شعبان په میاشت کې جهاد فرض کفائي شو او بیا روسته فرض عین شو په ټول امت باندې، دې امت ته

امة القتال وائي او نبي عليه السلام ته نبي القتال او نبي الملاحم (د جنګونو نبي) وائي. د الله د دين دپاره وينه وركونكے، وينه تويه ونكے نبي لكه چه نبي عليه السلام نبي الرحمة دے نو نبي القتال هم دے كله چه د قتال اذن (اجازت) وشو صحابه كرام ډيرخوشحاله شو.

فائده : علامه صفي الرحمن المباركفوري رحمه الله د قتال څو مرحلے ذكر كړيدي د فائدے دپاره رانقل كولے شي :

(۱) اول كي د قتال اجازه صرف د قريشو پورے بنده وه ځكه چه دا محاربين وو، اول ظلم او زياتے دوي شروع كړے وو نو مسلمانانو له پكار ده چه د دوي سره جنګ وكړي او خپل مالونه د دوي نه راواپس كړي، نۀ د باقي مشركانو عربو سره.

(۲) د هر هغه چا سره قتال كول چه د قريشو سره ملګري شوي وي اګركه د قريشو نه علاوه نور عرب وي. (۳) په يهودو كي چه كومو خلكو د رسول الله ﷺ سره وعدے او لوظونه كړي وو او بيا هغوي د قريشو مشركانو سره ملګري شوي وو او د مسلمانانو سره ئے خيانت او بد لوظي كړے وه.

(٤) د هغه اهل كتاب يعني نصاراؤ سره قتال كول چه د مسلمانانو په دشمنئ باندے ئے شروع كړي وي تردے چه دوي جزيه وركولو ته تيار شي.

(٥) د هغه چا نه لاس بند ساتل چه په اسلام كي داخل شي، مشرك وي، كه يهودي او كه نصراني يا نور عرب وي نو د هغه مال او د هغه جان به محفوظ وي.

(الرحيق المختوم :۱٥۱)

د جهاد فوائد

الله تعالىٰ د قتال فائده دا بيان كړيده :

﴿ وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللَّهِ ﴾ (الحج: ٤٠).

كه نۀ وے دفع كول د الله تعالىٰ خلكو لره په بعضو لره په بعضو باندے نو ختم شوي به وے عبادت خانے د نصاراؤ او عبادت خانے د يهوديانو او ګيرجے د پيرانو او هغه مساجد چه د الله تعالىٰ نوم په كي يادولے شي.

د جهاد څه فائده ده؟ د الله د دين د مرکزونو حفاظت، که جهاد او قتال نۀ وي نو کافران د دين مرکزونه ختموي، نۀ به جمات وي نۀ به مدرسه وي او نۀ به د دين د دعوت مرکزونه وي، اذانونه به هم ختم وي۔

د جهاد بله فائده: ﴿ اَلَّذِيْنَ اِنْ مَّكَّنّٰهُمْ فِي الْاَرْضِ اَقَامُوا الصَّلٰوةَ ﴾

مخکې تېر شو چه د الله د دين شعائر به بچ پاتې شي، د مانځه پابندي، د زکاة قانون به جاري او امر بالمعروف او نهي عن المنکر به روان وي۔

په جهاد سره خلافت قائميږي، په خلکو کې بنائسته اخلاق راځي او د مظلومانو مدد کيږي او د هر قسم منکر، ناروا، بې حيايۍ، ظلم او زياتي مخ نيوے کيږي او د ديندار خلکو اعزاز او اکرام کيږي دا د جهاد فوائد او مقصد دے۔

د قريشو د مقابلے دپاره دوه طريقے اختيارول

کله چه د قتال اجازه وشوه نو نبي عليه السلام د قريشو مقابله شروع کړه ځکه دا د کفر مشران وو نو نبي عليه السلام دا طريقه اختيار کړه چه قريش تاجران خلك وو شام ته به ئے تجارتونه کول مکه کې زراعت نۀ کيدو، دوي په تجارت آباد وو، نبي عليه السلام د دوي د تجارتي لارے نيولو کوشش کولو ځکه چه دکفارو اقتصاد خراب شي نو بيا هغوي خپل فساد بندوي۔

نبي عليه السلام دوه طريقے اختيارے کړے (۱) د مکے نه د مدينے پورے پدے لاره چه کوم کافران وُسيدل د هغوي سره ئے عقدِ حلف وکړو يعني صلحه ئے وکړه ځکه چه د دغه کفارو نه ضرر نۀ وو او که د دوي سره ئے جنګ کولے خلکو به وئيلے چه دوي خو بې ضرره وو د دوي سره ظلم وشو نو جهاد بدناميدۀ۔

د لښکرو د ليږلو نه مخکې مخکې رسول الله ﷺ جُهَيْنَه قبيلے سره مُعَاهَده وکړه چه د دوي کورونه د مدينے نه درے مرحلے وړاندي وو، او بيا چه کله فوجونه به ئے ليږل نو په مينځ مينځ کې به ئے د عربو د قبائلو سره صلحے کولے او بيرته به مدينے ته راواپس کيدل لکه چه ددے تفصيل راروان دے ان شاء الله تعالیٰ۔

(۲) دويمه طريقه ئے دا اختيار کړه چه وخت په وخت به ئے ملګري تيارول او دغه لارو

ته به ئے لیږل چه دغه لارے وڅاري چه د قریشو کومه قافله پدے لاره روانه وی چه هغه ونیسی او د هغے سره جنګ وکړی او کوم مال چه ورسره وی هغه ترے واخلی، دوی تنګ او پریشانه کړی او صلحے ته تیار شی او د مؤمنانو د ضرر نه واوړی لیکن د صحابه کرامو د حملو سره به د مشرکینو بد اخلاقی نوره هم زیاتیدله۔


د غزوهٔ بدر نه مخکی اته غزوات او سرایا

پدے اتو غزواتو او سرایاؤ کی څه خاص جنګ نهٔ دے شوے غټ جنګ په بدر کی شویدے ددینه مخکی وړے وړے واقعے راغلے وے۔

د سریه او د غزوه ترمینځ فرق : سریه هغه ډلے ته وئیلے شی چه نبی علیه السلام پکی خپله حاضر نهٔ وی بلکه ملګری ئے لیږلی وی۔ او غزدوه دیته وائی چه نبی علیه السلام پکی په خپله بنفسِ نفیس حاضر شوے وی۔

ددینه دا فائده معلومیږی چه کله به امیر خپله جنګ ته ځی او کله به ملګری لیږی، نبیِ علیه السلام نبی القتال وو نو دے به اکثره خپله تللو او په جهاد کی به شریك کیدو، کله چه سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه خلیفه شو نو هغه خپله جهاد ته تللو نو سیدنا عمر فاروق رضی الله عنه منع کړو چه تهٔ د مسلمانانو امیر ئے ستا په شهادت سره مسلمانانو ته ډیر درد رسیږی۔

ددے سرایاؤ د لیږلو همدغه مخکنی دوه مقصده وو چه قریش تنګ شی او بله دا چه د عربو د قبائلو سره صلح وکړے شی او نورو عربو ته دا ښودل چه مسلمانان قوی شویدی او د مخکنی ضعف او کمزورتیا نه وتلی دی کوم حالت چه د دوی په مکه کی وو، او قریش د خپلے ګمراهئ نه بیدارول دے دپاره چه د الله تعالیٰ د لارے نه خلك وانهٔ ړوی او د مسلمانانو د ضررونو نه په آرام شی او په مکه کی چه کوم کمزوری مؤمنان پاتی شویدی هغوی ته د تکلیف ورکولو نه بند شی۔



اولنۍ سریه - د سِیف البحر

رمضان میاشت اول کال د هجرت د مارچ میاشت : سنه (۶۲۳ء)

نبی علیه السلام اوله سریه سِیفُ البحر علاقې ته ولیږله پدې وجه دې ته سریه د سِیف البحر وائی،

دا سریه په دیرشو کسانو مشتمله وه چه ټول مهاجرین وو او هغوی ته ئې وویل چه د قریشو قافله د شام نه راروانه ده، د هغې مقابله وکړئ په دغه قافله کې درې سوه کسان وو چه ابوجهل ئې مشر وو، نبی علیه السلام د دغه درې سوه کسانو د مقابلې دپاره دیرش کسان ورولیږل او د الله زمرې سیدنا حمزه رضی الله عنه ئې پرې مشر مقرر کړو، جنډه ئې ورله مقرر کړه، د بیرغ (جنډې) فائده دا وه چه دا ترڅو ولاړه وی نو ملګری به د یو بل نه نۀ ورك کیږی، اوچه کله جنډه وغورزیږی نو بیا مسلمانانوته خپل ملګری نۀ معلومیږی افرا تفری شروع شی، ددې وجه نه په غزواتو کې به جنډه خامخا ودرولې شوه که یو کس به شهید شو بل به راوچتوله ځکه چه ددې په غورزیدو کې ډیر ضرر وو او د شکست نښه وه۔

فائده : د تنظیمونو او پارټیانو جنډو ته علماؤ بدعت وئیلې جنډه په جهاد کې سنت ده۔

سیدنا ابو مَرْثَد غَنَوِی (کَنّاز بن حُصَین) صحابی رضی الله عنه ته ئې جنډه په لاس کې ورکړه، او دا اولنۍ جنډه وه چه رسول الله ﷺ په خپل لاس مبارك باندې اُوتړله او دا سپینه جنډه وه۔

دوی لاړل د "عِیصِ" په طرف باندې سِیف البحر علاقې ته ورسیدل چه عیص د یَنْبُع نه شمالی طرف باندې (۱۵۰) کیلو میټره وړاندې دې او عیص د مدینې او د دریاب ترمینځ یوه علاقه ده بلکه د ینبع یوه وادی ده۔ او عیص د دریاب نه د دوه ورځو په فاصله جدا دې۔ او پدې ینبع علاقه کې جُهینه قبیلې وسیږی۔ (المعالم الاثیرة ۱۷۹)

او هلته ئې د مشرکانو د مقابلې دپاره صف جوړ کړو لیکن دلته یو سړې راغې چه د هغه نوم مَجْدِی بن عَمْرو الْجُهَنِی وو د دواړو فریقینو ترمینځ ئې صلحه وکړه چه تاسو به جنګ نۀ کوئ دواړو دا خبره ومنله ځکه چه دا مجدی د دواړو فریقینو حلیف وو۔ نو

دوی په غیر د جنګ نه مدینې ته راواپس شو۔

په دې سراياؤ کې فائده دا وه چه خلکو ته د مسلمانانو د فوجونو معلومات وشو او په عربو باندې رعب پريوتو چه د مسلمانانو سريه په لاره روانه وه، دا هم يو قسم فتح ده چه د مؤمنانو رعب داب خلکو ته معلوم شي او پدې سره د مکې په مشرکانو هم رعب پريوتلو۔ دارنګه په يهودو او منافقانو هم رعب پريوتو۔

دا سريه په رمضان کې وتلې وه پدې وجه رمضان ته علماء کرام شهر الجهاد وائي، دوه قسمه جهادونه پکې کيږي په بدن باندې سخته د ورځې روژه او د شپې مونځونه او د ګناهونونه پکې ځان ساتل۔ دارنګه پدې مياشت کې به د کفارو سره جهاد کيږي زمونږ د مسلمانانو اول جهاد چه شروع شويدې دا په رمضان کې شويدې۔

۲- سريه د عبيده بن حارث ﷺ بطن رابغ ته
(شوال ۱ هجري موافق : اپريل: ٦۳۲م)

د رمضان مياشت چه تيره شوه د شوال مياشت پسې راغله نو نبي عليه السلام بله سريه وليږله چه ديته سريه د رابَغ وائي، دا سريه شپيته کسان مهاجرين وو، د دوی اميرئې د رسول الله ﷺ د ترهٔ ځوی سيدنا عبيده بن الحارث بن المطلب رضي الله عنه مقرر کړو او سپين بيرغ ئې سيدنا مِسْطَح بن اُثَاثَه بن المطلب بن عبد مناف ته ورکړو او دوی ته ئې ووېل چه لاړ شئ د مکې د مشرکانو قافله راروانه ده چه ابو سفيان ئې مشر دې د دغه قافلې مقابله وکړئ، د ابو سفيان سره دوه سوه کسان وو،

دوی رابَغ ته ورسيدل او عين د رابغ په مينځ کې ئې د ابو سفيان مقابلې ته صف وتړلو، د دواړو ډلو ترمينځ صرف په غشو ګوزارونه وشو ليکن څه خاص جنګ پکې ونشو، وجه دا وه چه د مشرکينو په ډله کې د مکې دوه مسلمانان راغلي وو پدې غرض چه ددې مشرکينو په ډله کې به په څه چل صحابه کرامو ته ځان ورسوو چه يو په هغوی کې مقداد بن عمرو البهراني وو چه دهٔ ته مقداد بن الاسود هم وائي او بل عُتْبَه بن غَزْوَان المازِني رضي الله عنهما وو دا دوه صحابه کرام د مشرکينو نه راجدا شو او د صحابه کرامو سره ملګری شو۔

پدے غزواتو کی مقصد په کافرو باندے رعب اچول وو او هغه وشو۔
رابغ د جُحفے په طرف دے، د جُحفے نه لس میله مسافت باندے پروت دے۔ او رابغ په شمالی طرف د جده باندے (۱۵۵) کیلو میټره وړاندے دے۔ (المعالم الجغرافية ۱/۴۰۸)

د عائشه رضی الله عنها واده

د شوال په میاشت کی نبی علیه السلام د عائشے رضی الله عنها سره وادهٔ وکړو چه عائشه رضی الله عنها د نهه کالو وه دا نکاح د دوه اخترونو په مینځ کی وشوه او د مشرکینو دا عقیده وه چه د دوه اخترو په مینځ کی نکاح کول ناروا دی نو ددے بدعت او غلطے نظریئے ردئے وکړو، مشرکانو وئیل چه د شوال په میاشت کی ځوك نکاح وکړی نو ښځه به خاوند سره جوړه نهٔ وی،
د شوال معنیٰ ده د لکئ اُوچتول، که پدے میاشت کی چا نکاح وکړه نو زنانه به ئے خبره نهٔ منی او سرکشه به وی، عائشه رضی الله عنها به فرمائیل چه ما پدے میاشت کی نکاح وکړه نو کومه بی بی زما نه رسول الله ﷺ ته ډیره گرانه وه؟۔
د جاهلیت دا رسم اُوس په پښتنو وغیره قومونو کی هم موجود دے د دوو اخترونو په مینځ کی نکاح ناروا او سپیره گنړی دا د کفارو مذهب دے۔
دلته دا **سوال** دے چه نبی علیه السلام ولے د عائشه رضی الله عنها سره نکاح کوله حال دا چه هغه خو وړه جینئ وه لکه اُوسنی کافر خلك دا اعتراض کوی چه د الله په نبی خلك بدگمانه کړی؟ جواب دا دے چه د عائشه رضی الله عنها په نکاح کولو کی پدے وخت کی شل فائدے دی او ډیر حکمتونه دی چه اجمالًا د هغے نه درے خلور واوره!
۱- اوله فائده دا ده چه نبی علیه السلام سره سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه ډیر زیات احسان کړے وو او د ابوبکر سره ئے ډیره مینه وه نو د هغه د احسان بدله ورکوی ځکه چه نبی علیه السلام چه د کومے زنانه سره نکاح وکړه نو دا داسے شوه لکه چه جنت ته ئے د ځان سره بوتله ځکه د الله د نبی ټولے بیبیانی جنت والا دی۔
۲- دویم دا چه د سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه سره محبت زیات شی ځکه

نیکان خلك دا غواړي چه زما لور د نیك سړي سره نکاح وکړي.

۳- دریمه وجه : د نبي علیه السلام کور مدرسه وه که دې ته مشره زنانه راغلې وې نو د دین مسئلې ئې دومره نشوې یادولې او کشره زنانه علم ښه یادولې شي. نو عائشه رضي الله عنها ئې په کم عمر کې واده کړه چه د الله په دین پوهه شي، او همدغه شان وشوه سیده عائشه رضي الله عنها اَفْقَهُ النِّسَاءِ عَلَى الْإِطْلَاق وه یعنې په ټولو زنانو کې په دین باندې ښه پوهیدونکې وه، صحابه کرامو ته به چه کومه مسئله مشکله شوه او پوهه به پرې نشو نو د عائشې رضي الله عنها نه به ئې تپوس وکړو هغې به جواب ورکړو. د دنیا د هیڅ رهنما بي بي هم د خپل خاوند د کار په تکمیل کې داسې زبردست مددګاري نۀ ده کړې څنګه چه عائشه رضي الله عنها د رسول الله ﷺ مددګاره ثابته شویده. نبي علیه السلام ورسره په کشر والي کې واده وکړو دې دپاره چه د هغه د مرګ نه روستو تر ډیرې مودې پورې د هغه مشن مخ په وړاندې بوځي نو همدغه شان وشوه چه عائشه رضي الله عنها د ډیرې مودې پورې د رسول الله ﷺ مشن ته ترقي ورکړه.

٤- څلورمه وجه : دا د الله تعالی په حکم سره شوې وه چه الله تعالی دا نکاح د خپل نبي دپاره په دغه عمر کې منتخب کړې وه او په هره نکاح کې شهوات مقصد نۀ وي بلکه نور اغراض هم وي دا وجه ده چه رسول الله ﷺ د پنځه ویشتو کالو د عمر نه تر پنځوس کالو پورې صرف په یوه داسې بي بي باندې قناعت کولو چه د هغه نه په عمر کې پنځلس کاله مشره وه که د نبي علیه السلام خواهشات مقصد وې نو په دغه عمر کې د رسول الله ﷺ نه هیچا خپله خور لور نۀ ایساره وله بلکه والدینو به پدې فخر کولې او دا به ئې خپل عزت ګڼړلې چه رسول الله ﷺ ته خپله خور لور ورکړي.

پدې کال باندې د عائشې رضي الله عنه واده علامه صفي الرحمن المبارکفوري رحمه الله ذکر کړیدې مګر حافظ ابن کثیر رحمه الله او امام ابن حبان رحمه الله دې ته ترجیح ورکړیده چه د عائشې رضي الله عنها سره واده د هجرت په اتلسمه میاشت شوې وو د جنګ بدر نه روستو یعنې د هجرت دویم کال وو.

(البدایه والنهایه ٤ ۷۷۴) والسیرة لابن حبان ۱/ ۱٤۰)

oooooo

۳- سریة الخَرّار

ذی القعده، سنه (۱ هـ) الموافق مئ سنه (۶۲۳ء)

د ذی القعدے په میاشت کی نبی علیه السلام دریمه سریه الخرّار علاقے ته ولیږله، د دوی مشر ئے سیدنا سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه مقررکړو، شل کسان صحابه کرام ورسره وو، دوی د قریشو د یوے قافلے د مقابلے دپاره راوتلی وو،

رسول الله ﷺ دوی ته دا وئیلی وو چه د الخرّار علاقے نه به اخوا نهٔ تیریږی. دوی پیاده اُووتل چه د ورځے به پټیدل او د شپے به ئے مزل کولو، د پنځمی ورځے په صبا باندے دوی الخرار ته ورسیدل دلته د قریشو قافله راروانه وه خلکو ورته وویل چه قافله پرون پدے لاره تیره شویده نو صحابه کرامو خپل مینځ کی وویل چه قافلے خو یوه شپه او ورځ مزل کړیدے، د دوی راګیرول ګران دی،

او بله دا چه نبی علیه السلام ورته وئیلی وو چه د خرّار علاقے نه به نهٔ تیریږئ، مخکی به نهٔ ځئ، د سیدنا سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه جنډه سپینه وه او د سیدنا مقداد بن عمرو رضی الله عنه سره وه.

الخرار د جُحفے خوا ته وادی ده او رابغ ښار ته پنځه ویشت کیلو میټره نزدے ده، د غدیرِ خُم په خوا کی دے.

٤- غزوة الابواء او ودان.

صفر سنه (۲ هـ) موافق اګست سنه (۶۲۳ء)

خلورمه غزا د اَبواء او د وَدّان ده چه ابواء او ودان علاقه د مدینے نه (۲۵۰) میله لرے پرته ده پدے غزا کی نبیٔ علیه السلام خپله وتلے دے،

دا غزا په صفر میاشت کی وه دویم کال د هجرت وو، نبی علیه السلام سره پدے غزا کی اویا (۷۰) کسان صحابه کرام ملګری وو او هغه ټول مهاجرین وو او جنډه ئے سیدنا حمزه بن عبد المطلب رضی الله عنه ته ورکړے وه او امیر د مجاهدینو نبی علیه

السلام وو۔ په مدینه باندې ئې سعد بن عباده رضی الله عنه امیر کړو۔

دلته هم نبی علیه السلام د قریشو په قافله باندې د حملې اراده وه دوی چه ودان ته ورسیدل، قافله د مشرکینو په بل طرف تلې وه او د دوی ملاقات ورسره ونشو، پدې غزا کې فائده دا وشوه چه دلته یو قوم وو بنو ضمره ئې ورته وئیل، مَخْشِي بن عمرو الضمری ددې علاقې (د بنو ضمره ؤ) مشر وو، د هغه سره ئې صلحه وکړه چه مونږ به په تاسو حمله نۀ کوو تاسو به په مونږ باندې حمله نۀ کوئ بلکه که تاسو سره څوك جنګ کوی مونږ به درسره مدد کوو او په مونږ چه چا حمله کوله تاسو به ز مونږ مدد کوئ لیکن که تاسو د الله د دین مقابله کوله نو بیا به مونږ ستاسو مدد نۀ کوو، که د الله د دین سره مو جګړه نۀ کوله نو ستاسو مدد به کوو۔

(فائده : کله چه د اسلام فائده پکې وی پداسې وخت کې د کافر نه مدد غوښتل جائز دی لکه د روس جنګ د امریکې او نورو کافرو دپاره فائده وه لیکن د ټولو مسلمانانو په نیز اتفاقی حق جهاد وو)

پدې غزا کې صحابه کرامو پنځلس ورځې تیرې کړې پدې کې هم فائده وشوه اګر که جنګ ونشو۔

دا اولنۍ غزا وه چه رسول الله ﷺ پکې خپله حصه اخستې ده۔

د ابواء او د ودان ترمینځ شپږ میله فاصله ده۔ او ابواء د رابغ نه (۴۳) کیلومیټره وړاندې دې او ابواء د جُحفې نه مدینې طرفته (۲۳) میله رادیخوا دې۔

(المعالم الاثیرة ۱/ ۲۵۷)و معجم البلدان (۱/ ۷۹)

۵- غزوة بواط - ربیع الاول سنه (۲ھ)

پنځمه غزا د بُوَاط وه د ربیع الاول په میاشت کې په دویم کال واقع شوه، پدې غزا کې رسول الله ﷺ ووتلو دوه سوه کسان ئې ملګری وو او د مشرکینو قافله باندې ئې حمله کوله چه د هغوی مشر اُمَیه بن خَلَف الجُمَحِي او د دوی سره د قریشو نه سل کسان وو او دوه نیم زره اُوښان وو ډیر مالونه ورسره وو کله چه دوی بواط علاقې ته ورسیدل د رَضْوی په طرف نو قافله تږې مخکې تیره شوې وه او ملاقات ئې ونشو،

نبی علیه السلام واپس راغے پدے غزا کی نبی علیه السلام په مسجد نبوی باندے سعد بن معاذ رضی الله عنه مقرر کړے وو چه تۀ به امامتی ورکوے او جنډه ئے سپینه وه او سیدنا سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه ته ئے ورکړے وه۔

بُواط: دا د جُهَینه قبیلے د غرونو نه یو غر دے چه د رَضْوی په طرف دے او رضوی په یُنْبُع علاقه کی یو غر دے او د بواط او د مدینے ترمینځ تقریباً (۵۵) کیلو میټره فاصله ده۔ درے یا څلور بریده وړاندے دے او یو برید دولس میله دے۔

(ایقاظ الافهام شرح عمدة الاحکام ۳/۴۳) والمعالم الجغرافیة (۱/۲۳۰)

(فائده: اسلام کی قانون دا دے چه خلیفه او بادشاه به امامت ورکوی روسته په بادشاهانو کی د دین او د علم کمے راغے، دنیا پرست خلك وو نو امامان ئے جدا مقرر کړل)۔

٦- غزوة سفوان -

ربیع الاول سنه (۲ ھ)۔ موافق ستمبر (۶۲۳ء)

د رسول الله ﷺ د هجرت د دیارلسمے میاشتے ابتداء وه، یو مشرك کرز بن جابر الفِهرِی راغے د مدینے خوا ته درے میله فاصله باندے چراګاه وه هغے ته ئے (اَلْجَمَّاء) وئیله په هغے کی خاروی څریدل نو دے راغے د ځان سره ئے لږ او قوی ملګری راواخستل او پدے مرعیٰ (چراګاه) باندے ئے حمله وکړه او څه خاروی ئے ځان سره وتښتول او فصلونو کی ئے ورانے وکړو او انسانانو ته ئے څه ضرر ونۀ رسولو۔

نبی علیه السلام ددۀ د رالاندے کولو دپاره ځان سره اویا کسان واخستل جنډه ئے سیدنا علی بن ابی طالب رضی الله عنه ته ورکړه او روان شو تردے چه د بدر په طرف یو وادی ته ورسیدل چه هغے ته سَفوان وائی، تقریباً اویا کیلو میټره مزل ئے پدے مشرك پسے وکړو لیکن راګیر ئے نکړو۔

پدے وجه دے غزوه ته غزوه د بدر اُولیٰ وائی ځکه چه د بدر په طرف دوی وتلی وو او په مدینه باندے ئے زید بن حارثه امیر مقرر کړے وو چه دے به د مسجد امامتی کوی۔

نبی علیه السلام هغه ځای پورے لاړو بیرته راواپس شو۔ او دے کرز بن جابر روستو

اسلام راوړو او ډیر بنه مسلمان ترے جوړ شو او بیا نبی علیه السلام د هغه کسانو مشر کړو چه هغوی ئے د عرنیینو پسے لیږلی وو لکه روستو واقعه راځی ان شاء الله تعالیٰ۔

۷- غزوة ذی العشیرة -

جمادی الاولیٰ وجمادی الآخرة سنه (۲ ھ) موافق نومبر ودسمبر (۶۲۳ء)

د مدینے نه چه مکے ته ځی نو د سړک په یو طرف ئے لیکلی دی : العشیره۔

احادیثو کی اختلاف راځی چه دا عُشَیره لفظ دے که ذی العُشَیره دے؟، عشیره علاقے ته نبی علیه السلام لاړو چه د اتیا میله یا نوی میله په مقدار ځای دے۔ د مشرکینو قافله وه ابوسفیان ئے مشر وو۔

ابوسفیان د جمادی الثانیه په میاشت کی د مکے نه راووتلو شام ته روان وو، نبی علیه السلام ته خبر ملاؤ شو چه ابوسفیان په قافله کی د مکے نه راوتلے دے او دے قافلے سره ډیر مال دے که ووهل شی پدے کی به ډیر خیر وی،

نبی علیه السلام ځان سره یونیم سل کسان، بعض وائی : دوه سوه کسان د مهاجرینو نه واخستل او په هیڅا باندے ئے په وتلو کی څه زور ونکړو او دوی ووتل چه دیرش اُوښان ورسره وو نمبر په نمبر به پرے سوریدل، عُشَیره علاقے ته ورسیدل،

نبی علیه السلام چه ورسیده قافله ئے ګیره نکړه څه ورځے مخکی تیره شوے وه۔ او دا هغه قافله وه چه ددے د شام نه په راواپس کیدو کی نبی علیه السلام د دوی پسے راووتلو نو دا سبب د جنګ بدر جوړ شو۔ نبی علیه السلام د جمادی اولیٰ په آخر کی راوتلے وو او د جمادی الثانیه په اول کی واپس شو او د همدے وجه نه ددے غزوے د میاشتے په تعیین کی اختلاف واقع شویدے۔ (ابن اسحاق، الرحیق)

او په لاره باندے ئے د بعضو قومونو سره صلحے وکړلے چه بنو مدلج او بنو ضمره وو، او په مدینه باندے ئے سیدنا ابوسلمه بن عبد الاسد المخزومی رضی الله عنه امیر مقرر کړو، او پدے غزا کی هم سپینه جنډه وه او د الله زمری سیدنا حمزه بن عبد المطلب رضی الله عنه ته ئے ورکړے وه۔

ذو العُشَیره علاقه ینبع (ینبع النخل) علاقې ته نژدې علاقه ده، د مکې او د مدینې ترمینځ واقع ده۔ د مدینې نه تقریباً (۱۳۰) کیلو میتر او د رابغ نه تقریباً (۱۷۵) کیلو میتر فاصله باندې واقع ده۔

۸- سریهٔ بطن نخله -
رجب سنه (۲ هـ) موافق جنوری (۶۲۴ء)

ددې سریه ذکر په قرآن کریم کې هم شویدې، نبی علیه السلام لښکر تیار کړو دولس صحابه کرام پکې وو د دوی مشرئې سیدنا عبد الله بن جحش رضی الله عنه مقرر کړو او ورته ئې وویل چه تاسو لاړ شئ لیکن نبی علیه السلام داسې حکمتِ عملی وکړو چه پټ ئې یو خط ولیکه او دهٔ ته ئې ورکړو چه دوه ورځې مزل به وکړې بیا به دا خط وګورې پدې کې راز او حکمت دا وو چه که خبره ښکاره شی نو منافقان خلك به دې مؤمنانو ته کمین ونیسی یا به کفارو ته خبر ورکړی، د خبرې او د راز د پټولو دپاره ئې دا کار وکړو۔

سیدنا عبد الله بن جحش رضی الله عنه چه کله دوه ورځې مزل وکړو نو ملګری ئې راجمعه کړل او خط ئې کولاؤ کړو په خط کې ورته نبی علیه السلام داسې لیکلی وو چه ((لاړ شئ تردې چه بطن نخله مقام ته ورسیږئ چه دا د مکې او د طائف ترمینځ علاقه ده، (او دا طائف ته نزدې ده او د مدینې نه درې سوه کیلو میتره وړاندې فاصله کې پرته ده)۔ هلته چه لاړ شئ د مشرکینو یوه قافله روانه ده د هغې اخبار معلوم کړئ او مونږ له ئې راوړئ)) چه د هغوی څه حال دې د قتال امرئې ورته ونکړو۔

کوم کس چه درسره ځی لاړ به شی که څوك نهٔ ځی نو زور پرې مهٔ کوه، هغه ملګرو ته خط ولوسته، او بیا ئې وویل: سَمْعًا وَطَاعَةً۔

زهٔ خو تابعداریم او ملګرو ته وویل: د چا چه شهادت خوښ وی هغه دې راپاځیږی او که څوك مرګ بد ګنړی نو واپس دې شی په هغه باندې زور نشته او هرچه زهٔ یم نو زهٔ خو روان یم نو ټولو ملګرو ورته وویل چه مونږ هم درسره ځو۔

نو روان شو په لاره کې د سیدنا سعد بن اوبی وقاص او عتبه بن غزوان رضی الله

عنهما نه یو اُوښ ورك شو چه دواړه به پرېے نمبر په نمبر سوریدل او کله به شریك سوریدل نو دوی د اُوښ په طلب کی گرځیدل تردېے چه ددېے قافلې نه پاتی شو او دوه ورځے د اُوښ پسے گرزیدل تردېے چه هغه ئے پیدا کړو او بیا د دوی نه څه ورځے روستو مدینے ته واپس شو۔

نو لس کسان لاړل بطن نخلې علاقې ته ورسیدل چه وېے کتل یوه قافله ده د طائف د طرف نه راروانه ده څرمنے او وچکے او تجارتی سامانونه ورسره دی او څلور کسان ورسره دی (۱) یو عمروبن الحَضرَمِی۔ (۲) بل عثمان بن عبد الله بن المغیره، (۳) نوفل بن عبد الله بن المغیره، دا دواړه ورونه وو (٤) حَکم بن کیسان۔

دا د رجب میاشت وه شعبان ته یوه ورځ پاتے وه نو دوی خپل مینځ کی مشوره وکړه چه پدېے خلکو حمله وکړو او که نهٔ ؟ که حمله کوو د رجب میاشت ده او پدېے کی جنگ ناروا دېے او که حمله نهٔ کوو نو دوی خو حَرم ته قریب کیږی یوه ورځ چه تیره شوه حرم ته داخلیږی او په حرم کی هم جنگ ناروا دېے نو دوی اجتهاد وکړو چه وژل ئے پکار دی صحیح ده چه په اشهر الحرم کی جنگ ناروا دېے لیکن ددېے کفارو په وژلو کی هم ډیر خیر دېے چه دوی ته یو ضرر رسیږی او بل د قتال اجازه هم شوېے وه،

دوی ځان مشرکینو ته داسے ښکاره کړو چه مونږ خو عُمرېے له راغلی یو ځکه سرونه ئے خریلی وو۔ (عُکاشه بن مِحْصَن رضی الله عنه پکی سر وخرئیلو)

سر خرئیل عربو کی عادت نهٔ وو صرف حج او عمره کی به ئے سر خرئیلو نو ددېے په لیدو سره مشرکان ډاډه شو چه دا خلك خو عمرېے والا دی نو کله چه مشرکین رانزدېے شو دوی پرېے حمله وکړه نو واقد بن عبد الله التمیمی رضی الله عنه په غشی سره په ابن الحضرمی باندېے گوزار وکړو چه د مشرکینو مشر وو نو هغه ئے قتل کړو

او نورو مسلمانانو هم په دوی حمله وکړه نو دوه کسان عثمان بن عبد الله او حکم بن کیسان ئے ونیول حکم بن کیسان پکی سیدنا مقداد بن الاسود رضی الله عنه ونیولو او نوفل تریے وتښتیدو او قافله ئے ټوله ونیوله اُوښان او نور مالونه ئے ټول د دواړو قیدیانو سره مدینے ته راوستل۔

او ددېے نه ئے خُمس (پنځمه حصه) بیت المال دپاره ویستله۔

دا په اسلام کی اول خمس وو او اول قتل وو او اولنی دوه قیدیان وو۔

نبي عليه السلام ورته وفرمایل چه تاسو ته خو ما د قتال امر نهٔ دے کړے چه د رجب میاشت کې قتال وکړئ، نبي عليه السلام مال تقسیم کړو او قیدیان ئے وساتل ځکه چه د الله حکم نهٔ وو راغلے۔

حکم بن کیسان ته رسول الله ﷺ د اسلام دعوت ورکړو هغه ایمان راوړو او بیا روسته په واقعه د بئر معونه کې شهید شو۔ رضي الله عنه وارضاه۔

پدے کې مشرکینو ته موقعه ملاؤ شوه، دا اعتراض ئے وکړو چه تاسو وایئ چه د اشهر الحُرم عزت پکار دے جنګ پکې ناروا دے او تاسو پکې جنګ وکړو او سړے مو قتل کړو او قیدیان مو ونیول او مال مو غنیمت کړو دا خبره ئے خوره کړه دے دپاره چه مسلمانان بدنام کړي،

پدے کار صحابه کرام مومنان هم خفه شو چه دا خو زمونږ نه غلطي شویده، او خبرے اترے پدے باره کې زیاتے شوے نو پدے کې د نبي عليه السلام نه تپوس وشو نو الله تعالىٰ دا آیتونه راولیږل :

﴿ یَسۡـَٔلُوۡنَکَ عَنِ الشَّہۡرِ الۡحَرَامِ قِتَالٍ فِیۡہِ قُلۡ قِتَالٌ فِیۡہِ کَبِیۡرٌ وَصَدٌّ عَنۡ سَبِیۡلِ اللّٰہِ ﴾

(البقره:٢١٧)۔

تپوس کوی دوی ستانه په باره د عزتمنو میاشتو کې ته ورته ووایه چه پدے کې جنګ ډیره ګناه ده او منع کول د لارے د الله نه او منع کول د مسجد حرام نه او په الله باندے کفر کول او د مسجد حرام نه ددے اهل ویستل دا ډیره لویه ګناه ده په نیز د الله او شرك لویه ګناه ده د قتل نه)

دا کفار دیته نهٔ ګوری چه دوی دا ښکلے پیغمبر او صحابه کرام په همدے میاشتو کې په تکلیف کې کړل او د کلی نه ئے وشړل او وے وژل او په دغه مسجد حرام کې دوی کفر او شرك کوی، قسم قسم فسادونه کوی، خپلو دومره لویو ګناهونو ته نهٔ ګوری او چه د مسلمانانو دلاسه یو اجتهادی خطائي وشوه په رجب میاشت کې ئے جنګ وکړو دا ګناه مخے مخے ته کوی خپله ګناه نهٔ وینی او د بل ګناه وینی،

الله دا رد وکړو نو بعضے کسانو ته وهم راغے چه جهاد پریښودل پکار دی ځکه په خطا کې به درنه بې ګناه څوك قتل شي نو الله وفرمایل :

﴿ وَلَا یَزَالُوۡنَ یُقَاتِلُوۡنَکُمۡ حَتّٰی یَرُدُّوۡکُمۡ ﴾ همیشه به دا کافران تاسو سره جنګ کوی

تردے چہ تاسو واړوی د خپل دین نہ (نو جهاد مۀ پریدئ)۔

پہ بطن نخلہ کی دا جنگ وشو نبی علیہ السلام مشرکانو تہ د مړی دیت ورکړو او دوہ قیدیان ئے پریښودل او هغہ مال ئے ورنکړو ځکہ جهاد وو لیکن د اشهر الحرمِ د عزت د وجہ نہ ئے دا احسان ورسرہ وکړو چہ قیدیان ئے ورتہ پریښودل۔

پدے غزا سرہ ډیرہ فائدہ حاصلہ شوہ مشرکان چہ د کومے خبرے نہ یریدل او پہ خطرہ کی وو چہ مسلمانان زمونږ مخنیوے ونکړی هغہ کار وشو، دوی پوهہ شو چہ مدینہ پہ ډیرہ بیدارئ او انتظار کی دہ، د دوی هر حرکت او تجارتی قافلہ څاری او مسلمانان پدے قادر دی چہ د درے سوو میلونو پورے راشی او زمونږ قیدیان او مالونہ ونیسی او بیرتہ ښہ روغ واپس شی، نو د دوی خطر نور هم زیات شو،

نو پہ ځای ددے چہ دوی د خپلے گمراهئ نہ بیدار شی او حق تسلیم کړی یا صلحہ وکړی لکہ څرنگ چہ بنو مدلج او بنو ضمرہؤ صلحہ وکړہ، د دوی سرکشی نورہ هم زیاتہ شوہ او د قریشو مشران پہ طیش او جذبہ کی راغلل چہ دا خلك څنگہ زمونږ مخنیوے کولے شی نو پدے جذبہ کی دوی د مسلمانانو د هلاکولو دپارہ راوتل چہ د هغے نہ جنگ بدر جوړ شو۔

کلہ چہ دا آیتونہ نازل شو نو ددے واقعے متعلق سیدنا عبد اللہ بن جحش رضی اللہ عنہ دا سے اشعار اُووئیل : ـــ

تَعُدُّوْنَ قَتْلًا فِي الْحَرَامِ عَظِيْمَةً	❁	وَاَعْظَمُ مِنْهُ لَوْ يَرَى الرُّشْدَ رَاشِدٌ
صُدُوْدُكُمْ عَمَّا يَقُوْلُ مُحَمَّدٌ	❁	وَكُفْرٌ بِهٖ وَاللّٰهُ رَاءٍ وَّشَاهِدٌ
وَاِخْرَاجُكُمْ مِنْ مَسْجِدِ اللّٰهِ اَهْلَهٗ	❁	لِئَلَّا يُرٰى لِلّٰهِ فِي الْبَيْتِ سَاجِدٌ
فَاِنَّا وَاِنْ عَيَّرْتُمُوْنَا بِقَتْلِهٖ	❁	وَاَرْجَفَ بِالْاِسْلَامِ بَاغٍ وَّحَاسِدٌ
سَقَيْنَا مِنِ ابْنِ الْحَضْرَمِيِّ رِمَاحَنَا	❁	بِنَخْلَةَ لَمَّا اَوْقَدَ الْحَرْبَ وَاقِدٌ
دَمًا وَابْنُ عَبْدِ اللّٰهِ عُثْمَانُ بَيْنَنَا	❁	يُنَازِعُهٗ غُلٌّ مِنَ الْقَدِّ عَانِدٌ

(تفسیر ابن کثیر ۱/۵۷۸)

○ تاسو پہ عزتمنہ میاشت کی قتل عظیم جرم گنړئ او حال دا چہ هوښیار سړی تہ ددے نہ غټ جرم دا ښکاری......

○ چہ تاسو د محمد (ﷺ) د خبرو نہ خلق منع کوئ او پہ هغہ کفر کوئ او اللہ تعالیٰ

ستاسو دا عمل وینی او هغه حاضرناظر دے۔

○ او تاسو د الله د مسجد نه حقدار د هغے ویستلی دی، دے دپاره چه د الله په کور کی الله ته څوك په سجده اُونهٔ لیدلے شی۔

○ نوکه تاسو مونږ ته د (ابن الحضرمی) په وژلو پیغور راکوئ او په اسلام پسے باغی او حسد کونکے ډنډوره (هم) اُوکړی۔ (نو هیڅ پرواه نشته بلکه) ......

○ مونږ د عمرو بن الحضرمی د وینو نه خپلے نیزے په نخله مقام کی خړوبه کړے کله چه واقد جنگ بل کړو او عثمان بن عبد الله زمونږ ترمینځ د ځرمنے په هتکړو کی په زوره سره راخکلے شو۔

د هجرت دویم کال

دویم کال د هجرت شروع شو په رجب او شعبان کی دوه کارونه وشو یو دا چه د رمضان روژه پدے کال کی فرض شوه چه د راتلونکی رمضان نه به شروع کوی او هر کال به دا روژے نیسی۔

دویم کار: تحویل القبله (د قبلے بدلیدل) وشو، تردے وخته پورے د مسلمانانو قبله بیت المقدس طرفته وه شپاړس یا اولس میاشتے نبی علیه السلام بیت المقدس ته مونځ کولو۔ او د قبلے پدے بدلیدو کی ډیر اشارات وو چه کوم منافقان او یهود خلك په دین کی ننوتلی دی دوی به بیرته ترے اُوځی دا صف به صفا شی، ډیر منافقان ددین نه ووتل او یهودیان چه کوم په دین کی ظاهراً داخل شوی وو هغوی هم بیرته یهودیت کی مضبوط پاتی شول او بیرته کافر شو دا صف الله تعالیٰ صفا کړو لکه په قرآن کریم ﴿ سَيَقُوْلُ السُّفَهَاءُ ﴾ دوه رکوع ګانو کی دا ذکر دی او د تحویل قبلے فائدے بیان شویدی۔

د قبلے په بدلیدو او د روژو په فرضیت کی دے ته اشاره وه چه احوال به بدلیږی او مؤمنانو ته اشاره وه چه کعبه ستاسو قبله ده او کافرانو پرے قبضه اچولے ده پکار ده چه دا خپله قبله د دوی د پنجے نه راخلاصه کړئ او جهاد ته ملا وتړئ۔



د جهاد فرضیت

دریم کار دا وشو چه جهاد فرض شو مخکي صرف اجازه وه او اُوس جهاد فرض شو چه خامخا به ئے کوئ او دا آیتونه د سورة بقرے نازل شو : (١٩٠ آیت).

﴿ وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ ﴾

او جنګ کوئ په لاره د الله کي د هغه کسانو سره چه تاسو سره جنګ کوی او زیاتے مۀ کوئ یقیناً الله تعالیٰ د زیاتی کونکو سره محبت نۀ کوی.

مقصد دا چه بوډاګان، زنانه او ماشومان بی ګناه خلك به نۀ وژنئ هغه کافر به نۀ وژنئ چه ستاسو مقابله کی نۀ ودریږی، غیر حربی کافر وی، عوامو ته به تکلیف نۀ ورکوئ انتشار به نۀ جوړوئ، دوکے او غلط عذرونه به نۀ کوئ.

﴿ وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُمْ مِنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ ﴾ (البقرة : ١٩١).

مرۀ کړئ دوی کوم ځای چه مونده کړئ تاسو او وباسئ دوی لره د هغه ځای نه چا تاسو ئے راویستلی یئ.

دارنګه د سورة محمد آیتونه نازل شو د قتال طریقه ئے پکی وخودله او آداب ئے بیان کړل.

﴿ فَإِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقَابِ حَتَّى إِذَا أَثْخَنْتُمُوهُمْ فَشُدُّوا الْوَثَاقَ فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً حَتَّى تَضَعَ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا ﴾ (محمد: ٤).

کله چه تاسو د کفارو سره مخامخ شوئ نو په ختونو ئے ووهئ تردے چه وینه ورلره توی کړئ بیا کلك کړئ تړل د دوی بیا به یا احسان ورسره وکړئ چه د الله دپاره ئے پریدئ دے دپاره چه کفارو ته معلومه شی چه د دوی مقصد مالونه نۀ دی. او یا به ترے فدیه واخلئ که فائده پکی وی، ترڅو چه د دوی جنګ ختم شوے نۀ وی تر هغے ورسره جنګ کوئ.

کافران الله تعالیٰ ختمولے شی : ﴿ وَلَٰكِن لِّيَبْلُوَ بَعْضَكُم بِبَعْضٍ ﴾

لیکن الله تعالیٰ په تاسو امتحان کوی،

بیا فرمائی: که یو سرے مړ شی نو د هغه به څه حال وی ؟ ﴿ وَالَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ

اللّٰهِ فَلَنْ يُّضِلَّ أَعْمَالَهُمْ سَيَهْدِيهِمْ وَيُصْلِحُ بَالَهُمْ وَيُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ عَرَّفَهَا لَهُمْ﴾۔

د دوی حال به دا وی چه الله به ئے عملونه نهٔ بربادوی او هدایت به ورته کوی او زړونه به ئے جوړوی او جنت ته به ئے داخلوی۔

بیا فرمائی: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تَنْصُرُوا اللّٰهَ يَنْصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ﴾

(محمد: ٧)۔

که تاسو د الله مدد کوئ نو الله تعالیٰ به ستاسو مدد کوی او قدمونه به درله مضبوط کړی۔

﴿وَلَيَنْصُرَنَّ اللّٰهُ مَنْ يَّنْصُرُهُ﴾ (الحج: ٤٠)۔

او خامخا الله تعالیٰ به مدد کوی د هغه چا سره چه هغه د الله تعالیٰ سره مدد کوی۔

کله چه دا آیتونه نازل شو مسلمانانو کی حرکت او جذبه پیدا شوه نو ددینه روسته لویه معرکه راغله چه هغې ته غزوه د بدر الکبریٰ وائی۔



غزوة بدر الکبریٰ - - د بدر لویه غزا

(رمضان ۲ هجری)

د بدر غزا د کفر او د اسلام ترمینځ فیصله کُن معرکه وه چه د حق او د باطل فرق ئے راوستلو، اسلام ددے په وجه راښکاره شو او اسلام پدے سره مشهور شو، ددے غزا په باره کی سورتِ انفال نازل شویدے، سیدنا عبد الله بن عباس رضی الله عنهما به سورة انفال ته سورة البدر وئیلو۔ د بدر غزا د هجرت په دویم کال د رمضان په میاشت کی په اُولسمه ورځ واقع شویده۔

کـه د جهاد په اصولو او قوانینو عمل وشی نو نتیجه به ښه را اوځی او که په قوانینو عمل ونشی نو نتیجه به خرابه راوځی د دغه قوانینو دپاره سورة انفال راغلے دے۔

بـدر د مـدینـے نـه اویا کیلو میټره لرے دے، بدر د یوے علاقے نوم دے کلی پکی جوړ شویدی، هغه زمانه کی هم پکی کورونه وو، د عربو عادت دا وو چه په بدر کی به راجمع کیدل او هر کال به ئے پکی میله لګوله بیع شراء (اخستل خرڅول) به ئے کول غزوه د بدر ورته ځکه وائی چه په دغه علاقه کی واقع شویده۔

د غزوه بدر سبب

ددے غزا سبب دا وو چه ابوسفیان د قریشو تاجر وو دهٔ ته قریشو پیسے راجمع کړے وے چه تهٔ لاړ شه او د شام نه مالونه راوړه، مخکی به شخصی خاص خاص کسان تجارت ته تلل او دا ځل ټولو قریشو پیسے راجمع کړے او ابوسفیان ته ئے ورکړے چه مونږ له مالونه راوړه، د ټولو قریشو مالونه پدے قافله کی دننه پراتهٔ وو، دا قافله په جمادی الثانی کی وتلے وه نبی علیه السلام ددے د رانیولو پسے د عُشَیرے علاقے پورے وتلے وو لیکن ګیره نشوه او د شام د طرفه چه راتلل هم نبی علیه السلام ورپسے ووتلو لیکن ګیره نشوه ددے قافلے سره زر اُوښان وو د پنځوس زره دینارو په اندازه مال ورسره وو د هغه زمانے دینار به د سرو زرو نه جوړیدو او د سپین زرو نه به دَرَاهِم جوړیدل۔

یو دینار څلور ګرامه جوړیږی، د درے دینارو نه یوه توله سرهٔ زر جوړیږی ددے قافلے ساتونکی څلویښت کسان وو ابوسفیان ئے مشر وو دا کسان شام ته تلی وو څه درے

درې نیمې میاشتې ئې تیرې کړې وې په رمضان کې راواپس کیدل او د رمضان نه مخکې په شعبان میاشت کې جهاد فرض شوې وو۔

دا قافله راواپس کیدله نو نبی علیه السلام ته په څه ذرائعو سره معلومه شوه چه دا قافله په رمضان کې راواپس کیږي نو ددې وهل پکار دي ځکه قریش حربي کافر دي او د کفر مشران دي دوی چه هر ځای کې مونده کړئ وژل ئې پکار دي او مال ئې غنیمت دے او دا ډیر حلال مال دے، او د جهاد سره د کافرو مالي حالت خرابیږي جهاد کې به صرف مال او غنیمت مقصد نهٔ وي بلکه کفارو ته ضرر رسول جاني او هم مالي چه د کفارو معاشي او اقتصادي حالت خراب شي نو بیا د مسلمانانو سره جنګ او په هغوی ظلم نشي کولے ځکه دوی په دولت او پیسو مست دي، د الله قانون دے چه کوم غټ او متکبر کافر وي سغه الله تعالیٰ د کمزورو مسلمانانو په لاس وهي او راغورزوي ئې۔

نبی علیه السلام پدې غرض ووتلو چه که دغه قافله ونیسي نو دا د کفارو دپاره ډیره غټه ضربه ده، نبی علیه السلام دوه ملګري سیدنا طلحه بن عبید الله او سیدنا سعید بن زید بن عمرو بن نفیل رضی الله عنه ولیږل چه تاسو شمال طرفته لاړ شئ او ددې قافلې معلومات وکړئ دوی هلته حَوُرَاء علاقې ته ورسیدل، چه دا د یَنْبُع په طرف باندې ده، د مصر نه چه کومې کشتئ راځي د مدینې اراده لري نو کشتئ دلته تړي او ودروي ئې۔ (المعالم)

هلته ئې یو څو ورځې تیرې کړې نو د دوی په خوا باندې د ابو سفیان قافله تیره شوه نو دوی ته پته ولګیده چه قافله د شام نه رارowانه شویده او دلته راورسیده نو په جلتئ سره ئې رسول الله ﷺ ته خبر راوړو۔

نبی علیه السلام صحابه کرامو ته وفرمایل چه تیار شئ کیدې شي چه دا قافله الله تعالیٰ تاسو ته په غنیمت کې درکړي، وعده ئې ونکړه لیکن امید ئې ښکاره کړو،

نبی علیه السلام جنګ ته په وتلو کې په چا باندې زور ونکړو ځکه چه د قافلې والا لږ کسان وو، څلویښت کسان وو، پدې وجه نبی علیه السلام خپله ووتلو او درې سوه دیارلس کسان ورسره ووتل۔

بعض روایتونو کې څوارلس کسان ذکر دي۔ د جنګ اراده ئې نهٔ وه پدې وجه عام مسلمانان ونهٔ وتل چه نبی علیه السلام شپږ اوه کرت ووتلو او د کفارو سره مخامخ

نشو، دا ځل به هم داسې وي، دا معلومه نۀ وه چه دومره لویه غزا به کیږي۔

د نبي علیه السلام سره د مهاجرینو نه د دوه اتیاؤ نه ترشپږ اتیا پورې کسان ووتل او باقي د انصارو نه وو، د اوس قبیلې نه (۶۱) یو شپیته کسان او د خزرجیانو نه (۱۷۰) کسان ووتل، دا ټول رشتیني ایمان والا خلق وو۔

سیدنا عثمان بن عفان رضی الله عنه اراده وکړه چه زۀ هم ځم نبي علیه السلام ورته وفرمایل: تۀ مۀ ځه ځکه چه د نبي علیه السلام لور ددۀ په نکاح کې وه، هغه ډیره ناجوړه وه، نبي علیه السلام ورته وفرمایل چه الله به تا ته د غزا اجر هم درکړي او که څه غنیمت مونږ ونیولو نو په هغې کې به هم تا ته حصه درکړو، د امیر په امر چه سړے پاتې شي هغه ته هم پوره اجر ملاویږي۔

خوارجو به دا اعتراض کولو چه عثمان رضی الله عنه په غزوه د بدر کې ندے شریك شوے۔ سیدنا عبد الله بن عمر رضی الله عنهما جواب ورکړو چه هغه ندے حاضر شوے لیکن نبي علیه السلام ورته د پاتې کیدو اجازه ورکړے وه او غنیمت کې ئې حصه هم ورکړے وه، ددے وجه نه عثمان رضی الله عنه په بدریانو صحابه کرامو کې حساب دے اګر که جنګ ته حاضر شوے نۀ دے، په نیت باندے هم الله تعالیٰ اجر ورکوي۔

د فوج ترتیب

رسول الله ﷺ د صحابه کرامو سره ووتلو یوه جنډه ئې سیدنا مصعب بن عمیر رضی الله عنه ته ورکړه چه دا د ټول لښکر بیرغ وو چه که چرته زمونږ جنګ راشي نو دیته به ټول مسلمانان راجمع کیږي۔

نبي علیه السلام دوه دستې بیلې کړې یو طرفته کَتِیْبَةُ المهاجرین وه او بل طرفته کتیبة الانصار وه د مهاجرینو جنډه سیدنا علي رضی الله عنه لاس کې ونیوله چه هغې ته ئې عُقاب وئیله او د انصارو جنډه ئې سیدنا سعد بن معاذ رضی الله عنه ته ورکړه او د فوج نه روستو ئې یو انصاري خزرجي ملګرے مقرر کړو چه هغه ته ئې قیس بن ابي صعصعه رضی الله عنه وئیلو۔ دا دواړه جنډے تورے وے۔

او د مَیْمَنے کتیبي (یعني ښي طرف والا دستے) مخے ته ئې سیدنا زبیر بن عوام او د میسرے کتیبي (ګس طرف والا دستے) مخے ته ئې سیدنا مقداد بن عمرو رضی الله عنه

روان کړو۔

په هغه زمانه کی دغه فوجی نظام وو چه پدے ترتیب به روانیدل او فوج ته پدے وجه په عربی ژبه کی خَمِیُس هم وائی، ځکه چه پنځه طرفه لری۔

۱: مُقَدِمَۃ الجیش (د فوج مخکی حصه)

۲: مُوخَرَۃ الجیش (د فوج روستو حصه)

۳: مَیمَنَۃُ الجیش (ښی طرف د لښکر) ٤: مَیُسَرَۃُ الجیش۔ (ګس طرف د لښکر)

۵: قَلُبُ الجیش(مینځ د لښکر) چه پدے کی مهم کسان روان وی۔

صحابه کرامو سره څه خاص وسله نۀ وه ځکه چه دوی خو د قافلے په اراده راوتلی وو، په مدینه کی وسله وه لیکن الله تعالیٰ خپل طاقت ښکاره کولو چه دا غزوه وشی او په معمولی وسله وشی چه خلکو ته معلومه شی چه الله حق دے او د هغه رسول حق دے که نۀ وی نو الله به خبر ورکړے وے چه ځان سره وسله ویسئ او جنګ به کیږی۔

(**فائده**: ددے نه دا فائده راووتله چه الله رب العزت غټ طاقت په کمزوری طاقت وهی او په غټ طاقت ئے نۀ وهی ځکه چه بیا به خلك وائی چه دا دواړه غټ طاقتونه وو یو بل ئے ووهل، الله تعالیٰ داسے کوی چه غټ کافر او غټ طاقتونه په وړو خلکو باندے وهی ددے دپاره چه خلکو ته الله ښکاره شی، د هغه قوت خلکو ته معلوم شی، دا د الله رب العالمین سنت او طریقه ده ﴿ کَم مِنُ فِئَۃٍ قَلِیُلَۃٍ غَلَبَتُ فِئَۃً کَثِیُرَۃً﴾

ډیر کرته یوه وړوکے ډله غالبه شویده په ډیره ډله۔

د بدر په غزا کی د مسلمانانو سره دوه اَسونه وو یو اَس د سیدنا زبیر بن عوام رضی الله عنه سره وو او بل د مقداد بن عمرو الکندی صحابی سره وو، په هغه زمانه کی اَس د تینك حیثیت لرلو او اویا اُوښان ورسره وو- یعنی دوه اسونه اویا اوښان وو، درے کسان به په یو اُوښ باندے نوبت په نوبت سوریدل، درے کسان به یو ځای په اُوښ نۀ کیناستل ځکه په اُوښ ظلم راتللو دوه کسان به په اُوښ ناست وو یو به پیاده روان وو بیا به یو کس راکوز شه دا بل به وروختلو، رسول الله ﷺ سره هم یوه اُوښه وه او درے کسان وو، یو علی رضی الله عنه او بل ابو لبابه رضی الله عنه او بل نبی علیه السلام وو۔

حدیث کی راځی : کله چه دوی تلل سیدنا علی رضی الله عنه او سیدنا ابو لبابه رضی الله عنه به په اُوښه

ناست وو او نبی علیه السلام به ورسره هسے پیاده روان وو، د اُوښے مهار به ئے نیولے وو او اُوښه به ئے چلوله۔ سیدنا علی رضی الله عنه ورته وفرمایل ستا په ځای به مونږ ځو یعنی ستا نمبر به مونږ تیره وو،

نبی علیه السلام به ورته وفرمایل: تاسو ما نه ډیر قوی نۀ یئ، زما بدن کی ستاسو نه ډیر طاقت دے۔[وَمَا أَنَا بِأَغْنَىٰ عَنِ الْأَجْرِ مِنْكُمَا]

او زۀ ستاسو دواړو نه د اجر نه مستغنی نۀ یم یعنی اجر ته خو زما هم ضرورت دے، داسے خو نۀ ده چه یواځے تاسو اجر گټئ او زۀ ئے نۀ گټم۔ (مسند احمد:۱ ۳۹۰)

(**فائده** : نبی ﷺ به په جنگونو کی ځان داسے گنړلو لکه د یو فرد په شان، د تواضع زندگی به ئے تیروله، او پوره کار به ئے کولو، یوځای کی ملگرو خاوره راوړه نبی ﷺ هم خاوره په لمن کی راوړه بل ځای ملگرو لرگی راوړل نبی ﷺ هم راوړل)

د صحابه کرامو ددے لښکر سره صرف اته توری وے، د هر ملگری سره توره هم نۀ وه بلکه معمولی غوندے نیزے ورسره وے، دوی روان شول،

پدغه ترتیب باندے د مدینی نه ووتل چه قافله باندے به حمله کوو، د رمضان اتمه ورځ وه او د سیرت په بعضو کتابونو کی ئے دولسمه ورځ ښودلے ده، د دوشنبی ورځ وه او دا غزا په اُولسم د رمضان باندے واقع شویده۔

د مدینے نه وتل

نبی علیه السلام د خپلو ملگرو سره د مدینے د نقب نه ووتلو، لاړو ذو الحلیفے علاقے ته او دا هغه لاره ده چه مکے ته اُوس تلے ده، د ذو الحلیفے نه روحاء علاقے ته ورسیدو، روحاء کی ئے دمه وکړه (روحاء د مدینے نه شپږ دیرش میله وړاندے علاقه ده)۔ نبی علیه السلام په مدینه باندے یو ړوند صحابی عبد الله بن ام مکتوم رضی الله عنه په مسجد نبوی کی امام پریښودو۔

(فائده : ددے نه دا فائده معلومه شوه چه د ړوند سړی امامتی صحیح ده، احناف وائی مکروه ده دا خبره غلطه ده او د حدیث خلاف ده، مکروه وئیل ورته ظلم دے۔

کله چه ذو الحُلَیفے ته ورسیدۀ نو ابو لبابه بن المنذر ئے ولیږو چه تۀ لاړشه او په

مسجد نبوی کی امام شه پدے کی به د نبی علیه السلام خپل حکمت وو،

نبی علیه السلام چه د روحاء نه روان شو نو د مکے لاره ئے گس طرفته پریښوده او ښی طرفته واوړیدو او په نازیه علاقه ورغلو نو د هغے په یوه وادی کی ورتیر شو چه هغے ته ئے رحقان وئیله، بیا په مضیق ورغلو بیا د هغه ځای نه خکته لاړو تردے چه الصفراء علاقے ته نزدے شو نو هلته ئے دوه صحابه کرام بَسْبَس بن عمرو جهنی او عدی بن ابی الزَغبَاء الجُهَنِی (چه دا دواړه د جُهَینه قبیلے وو او د انصارو حلیفان وو) بدر طرفته ولیږل چه تاسو لاړ شئ او د ابوسفیان د قافلے خبر راوړئ،

ځکه د ابوسفیان د قافلے لاره په بدر وه، هغوی لاړل بدر او د هغے نه اخوا ته د ابوسفیان د راتلو لاره وه هغے ته ورسیدل هلته اُوبه وے د هغے په غاړه کیناستل، غوږ ئے کیخودو نو دغه ځای کی دوه جینکئ وے یوے بلے ته ووئیل چه ستا په ما باندے قرض دے صبا یا بل صبا پدے لاره قافله راتلو والا ده په هغوی به زۀ څه خرڅ کړم نو ستا قرض به خلاص کړم۔

دا دوه کسان پو هه شو چه قافله خو نزدے ده ځکه دے قوم ته پته لگیدلے ده نو دواړه بیرته راواپس شول او نبی علیه السلام ته ئے خبر راوړو چه قافله راتلو والا ده۔

د ابوسفیان مکے ته خبر رسَول

ابوسفیان هم هوښیار سړے وو د جنگ په امورو کی ماهر وو، هغه هم استخبارات لیږل پدے پو هه وو چه صحابه کرام زمونږ پسے راوځی او دا ورته معلومه وه چه دا لاره زمونږ د ډیرو خطرو سره مخامخ ده نو په ډیر احتیاط او یره سره پدے لاره تیریدو۔

ابوسفیان چه دغه ځای ته رانزدے شۀ، د مَجْدِیِّ بن عمرو جُهنی په نوم یو سړے وو د هغه سره ملاو شو، د هغه نه ئے تپوس وکړو چه د محمد (رسول الله ﷺ) په باره کی خو درته څه معلومات نشته؟ هغه ووئیل چه ما خو هغوی ندی لیدلی صرف یو دوه کسان وو په اُوښانو باندے ناست وو، دلته ئے اُوبه وڅکلے او دمه ئے وکړه او اُوبه ئے په بتکونو کی واخستے او لاړل،

نو ابوسفیان په جلتئ سره هغه ځای ته لاړو کوم ځای چه دوی اُوښان څملولی وو،

هلته پچے پرتے وے، دۀ پچے راواخستے او ماتے ئے کړے په هغے کی د کجورو هډوکی وو نو وے وئیل: چه دا خو د مدینے کجوری دی او معلومیږی چه دا خلك د مدینے نه راغلی دی ځکه چه مدینی والو به خپلو اُوښانو ته د کجورو هډوکی ورکول نو ابوسفیان ویریدو چه دا خلك خو ما پسے راوتلی دی نو د مکے د جنوبی طرف نه په بله لاره مغرب طرفته روان شو او مشهوره لاره ئے بدله کړه او خپله قافله ئے پدے بل طرف راواړوله،

نبی علیه السلام مشرقی طرفته روان شو پدے طریقه باندے ابوسفیان دا خپله قافله د نبی علیه السلام او د صحابه کرامو نه خلاصه کړه لیکن ابوسفیان یریدلو نو ضَمْضَم بن عمرو الغِفَاری ئے په کرایه باندے مکے ته ولیږلو چه هغوی ته خبر ورکړی چه محمد (رسول الله ﷺ) او د هغه ملگری په مونږ پسے راوتلی دی او مونږ د خطرے سره مخامخ یو، قافله نیسی، د قافلے غم وکړئ۔ ضمضم بن عمرو په جلتئ سره په خپل اَس باندے سور شو او په درے ورځو کی ئے ځان مکے ته ورسولو۔

د ابوسفیان د خبر رسیدو نه مخکی په مکه کی ناشنا واقعه

ددے سرې د رسیدو نه مخکی په مکه کی دا واقعه راغله چه مکه کی یوه زنانه عاتکه بنت عبد المطلب چه د رسول الله ﷺ ترور وه دے خوب ولیدو چه په خوب کی ورته دا راځی چه یو سړے مکے ته راغے او ابطح خوړ کی ودریدو او چغه ئے وکړه:

(يَا آلَ غُدَرٍ! قُومُوا اِلٰى مَصَارِعِكُمْ بَعْدَ ثَلٰثٍ)۔

اے دهوکے والا خلقو! تاسو ددے ځای نه پاځیږئ او د خپلو هلاکتونو ځایونو ته روان شئ، درے ورځے روستو به تاسو په یو میدان کی تباه کیږئ)،

دغه آواز کونکے د هغه ځای نه دننه مکے ته راداخل شو او د کعبے په سر باندے ودریدو او دغه آواز ئے وکړو، بیا د هغه ځای نه لاړو په اُوښ سور شو جبل ابی قُبَیس ته وختلو چه دا کعبے ته نزدے غر دے په هغے کی ئے همدغه آواز وکړو او یو کمرئے راواخستو او ښکته ئے راوړغړولو، دا کمر ټوټے ټوټے شو او ددے ټوټے د هر چا کورته ننوتلے نو عاتکے دا خپل خوب عباس (رضی الله عنه) ته بیان کړو چه عباس د عاتکے

ورور وو چه ما دا خوب ولیدهٔ معلومیږی چه ستا پدے قوم څه عذاب او څه آفت راتلونکے دے نو عباسؓ ورته ووئیل چه دا خوب چا ته مهٔ بیانوه، زهٔ به ئے هم چا ته نهٔ بیانوم۔ څکه یو خو ډیرے خوبَ دے بل هرچا ته دا خبرے کولے هم نشو۔

پدے وخت کی عباس لاړو ددهٔ یو دوست وو (ولید) هغه ته ئے دا خوب ووئیلو چه زما خور داسے خوب لیدلے، ولید بن عتبه دا خوب خپل پلار ته ووئیل بیا دا خوب ابوجهل ته ورسیدو چه دا د مکے مشر وو نو ابوجهل ته پدے خوب سخته غصه ورغله نو ابوجهل د مسجد حرام په یو گوټ کی ناست وو، عباس مسجد حرام ته راغے، طواف ئے وکړو نو په طواف کی دهٔ ورته آواز وکړو چه اے ابوالفضل ! چه کله د طواف نه فارغه شے زما خوا ته راشه، کله چه هغه فارغه شو د ابوجهل خوا له ورغے ابوجهل ورته ووئیل چه تاسو کی تر اُوسه پورے سړی پیغمبران کیدل اُوس دریکی ښځے پیغمبرانی شوے، (دا مسخرے ئے وکړے)

نو عباس ورته ووئیل دا څنګه ؟ ابوجهل ورته ووئیل چه دغه خوب چه عاتکے لیدلے دے نو عباس ځان منکر کړو او خبره ئے پټه کړه چه زهٔ خو خبر نهٔ یم، ابوجهل عباس ته کنځلے هم وکړے، رډے بدے ئے ورته ووئیلے څکه چه دا ډیر فاحش سړے وو۔ ابوجهل عباس ته ووئیل چه که د درے ورځو نه روستو څه مصیبت رانغلو نو په تاسو به کتاب لیکو چه تاسو په عربو کی دروغژن یئ۔

نو عباس ؓ ته د خپلے کورنئ خلك راجمع شول او ورته ئے ووئیل چه څنګه ابوجهل تا ته کنځل کړیدی، تهٔ دومره غیرت نهٔ کوے، دا ابوجهل وژل غواړی،

سیدنا عباس ؓ فرمائی: زهٔ ډیر غصه وم او اراده مے دا وه چه دا ابوجهل وژنم څکه هغه کنځلے کړے وے۔

درے ورځے تیرے شوے زهٔ ددهٔ د قتل په اراده کی وم چه ضَمْضَم بن عمرو غِفَاری راورسیدو او په ابطح خوړکی ئے خپله پوزه سورئ کړه، وینی ترے راووتلے او د خپل اُوښ پالان ئے پدے بل طرف کړو او جامے ئے ویستلے، خپل عورت ئے ښکاره کړو په خوړکی ئے آواز وکړو۔ يَا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ اللَّطِيْمَةَ اللَّطِيْمَةَ)۔

اے قریشو ! څپیړه درله درکړے شوه محمد رسول الله او د هغه ملگری راوتلی دی، څپیړه درله درکوی، ستاسو مالونه د ابوسفیان سره دی او محمد (رسول الله ﷺ) پسے

ورغلو او هغه ترے اخلی، زما دا یقین نهٔ دے چه تاسو به وروړسیږئ،
(اَلْغَوْث، اَلْغَوْث) زر زر د هغه مدد وکړئ۔ د هغه ځای نه چه راغے دا آواز ئے وکړو بیا
لاړو مکے ته دننه داخل شو هلته ئے هم دغه آواز وکړو بیا جبل ابو قُبَیْس ته وختلو
هلته ئے هم دا چغه کړه، ټول قریش ئے خبر کړل۔

د قریشو د ابوسفیان حفاظت دپاره مشوره او هنګامی اجلاس

نو سمدست د قریشو مشران راجمع شول او مجلس ئے ولګولو او امر ئے وکړو چه په
جلتئ سره ټول اُوځئ، د خپلے قافلے د حفاظت دپاره او په ډیره غصه ئے ووئیل چه آیا
محمد ګمان کوی چه زمونږ دا قافله به داسے وی لکه د ابن الحضرمی قافله چه دوی
ابن حضرمی وژلے وو او قافله ئے مدینے ته بوتلے وه۔ نو د مکے خلکو هر سری ځان تیار
کړو او که یو سړے به معذوره وو نو د خپل ځان په ځای به ئے بل سړے مقرر ولو،
د قریشو عام خلك تیار شول صرف بنو عدی پاتی شول چه د هغوی نه څوك راونهٔ
وتل او ابولهب په مشرانو کی وو چه پاتے شو، نو ټول مشران راووتل چه ابو جهل،
عُتبه، شیبه، ولید بن عتبه، نضر بن الحارث، حکیم بن حزام، طعیمه بن عدی بن
نوفل، نوفل بن خویلد، عقبه بن ابی معیط دا پکی مشران وو۔
ابولهب ځکه پاتے شو چه پدے وخت کی هغه ناجوړه وو، په هغه عَدَسَه مرض وو د
هغے د وجے نه د بدر نه پاتے شو، هغه یو سړی ته ووئیل چه تا پورے زما قرض دے هغه
به درته معاف کړم، تهٔ زما په ځای لاړ شه نو هغه سړی د خپل قرض د معافی په
غرض د ابولهب په ځای لاړو۔
(ابولهب بیا پدے عَدَسَه مرض باندے مردار شو ځکه دا غلیظ کافر وو، دا بیماری به
چه چا ته ولګیده، خلك به ئے خوا ته نهٔ ورتلل نو ددهٔ بچی هم ددهٔ خوا ته نهٔ ورتلل چه
خښ ئے کړی درے ورځو پورے ئے جنازه خلکو نهٔ کوله بیا د شرم نه ویریدل نو د اعرابو
(باندچیانو) نه ئے څه کسان په مزدورئ ونیول چه زمونږ پلار دفن کړی نو هغوی لاس
نهٔ وروړلو په لرګو کی ئے وترلو او یو خوړ ته ئے یوړو او یوه کنده کی ئے ګذار کړو او
خاورے ئے پرے راواړولے، د حق د دشمن سره به دغسے کار کیږی)۔

یو بل مشر وو امیه بن خلف هغه ووئیل زهٔ نهٔ ځم وجه دا ده چه سعد بن معاذ رضی الله عنه ورته په مکه کی وئیلی وو چه نبی علیه السلام ستا په باره کی وئیلی وو چه زهٔ به دے قتل کوم، دے نهٔ تللو، نورو خلکو ته ئے ووئیل چه تاسو لاړ شئ نو قریشو دے په ضد کی راوستلو، ابوجهل ورته عقبه بن ابی معیط راولیږلو، یو خاص انګتهئ ئے ورکړه او په هغے باندے ئے بخور واچول،

(دا یو خاص لرګے وو چه په اُور به ئے واچولو خوشبوئی به ئے کوله او زنانو به استعمالوله)

عقبه راغے او امیه بن خلف حرم کی ناست دے، کعبے ته ئے تکیه لګولے ده، عقبه ورله دغه خوشبوئی راوړه او دا ئے ورته ووئیل دا خوشبوئی ولګوه ځکه تهٔ په زنانو کی داخل ئے چه تهٔ جنګ له نهٔ ځے ځکه دا کار خو د ښځو دے چه جنګ ته نهٔ ځی نو امیه ورته ووئیل الله دے تا هم هلاك کړی او دا څه چه دے راوړیدی دا دے هم هلاك کړی، څه چه پاځیږو ځو.

امیه ورسره پاځیدو مجبوره شو کورته لاړو ښځے ته ئے ووئیل توره او زغره یو شے بل شے راکړه نو هغے ورته ووئیل چه تا د خپل یثربی ورور (سعد) خبره هیره کړیده؟ چه د محمد د ملګرو د طرف نه به مرے نو امیه ورته ووئیل چه زما یاده ده لیکن زهٔ ورسره نهٔ ځم بلکه ددے مکے نه ئے اُویاسم بیرته راواپس کیږم.

کله چه روان شو یو ځای ته به ودریدو چه واپس کیږم ابوجهل به ورته ووئیل چه تهٔ خو مشر ئے که تهٔ واپس شے ټول لښکر به واپس شی. په همدے طریقه ئے بوتلو تردے چه بیا په جنګ بدر کی مردار شو او دا د رسول الله ﷺ اخبار بالغیب وو، د غیبو خبر ئے د پخوا نه ورکړے وو او هغه بیخی یقینی او رشتینی ثابت شو دا د نبی ﷺ معجزه او د هغه د حقانیت نښه وه لکه څنګه ئے چه پیشین ګوئی ورکړے وه همغسے وشوه.

د ابوجهل د لښکر نفری او وسلے

پدے کی ابوجهل او د هغه ملګری راووتل او دا دیارلس سوه کسان وو په ابتداء کښے. د دوی سره شپږ سوه زغرے وے (په زغره باندے توره او غشے اثر نهٔ کوی) او

سل ورسره اسونه وو او اوښان هم ورسره ډیر زیات وو چه شمار ئے بالضبط معلوم نهٔ دے ځکه چه هر سړی سره اوښ وو او څه ئے زیات راروان کړی وو چه حلالوو به ئے او خوروبه ئے او زنانه ئے هم ځان سره رارَوانے کړے وے چه هغے ته به ئے قینات وئیلے، دا وینځے وے. چه ګډیړی به او سرودونه به وهی او دوی به ورته شراب څکی او خلکو ته به خپل نوم او شهرت ښکاره کوی۔

پدے تکبر کی راووتل لکه چه قرآن کریم هم داسے تعبیر کړیدے

﴿بَطَرًا وَرِئَاءَ النَّاسِ﴾ په تکبر او ریاء او ځان ښودنے سره راووتل او وے وئیل چه مونږ د خپل مال تپوس کولے شو، درے سوه کیلو میټره لرے هم د خپل مال حفاظت کولے شو۔ (الله تعالیٰ ایمان والا د تکبر نه منع کړیدی، کله نا کله به رسول الله ﷺ د غټو وینښتو نه منع کوله چه تکبر پکی رانشی :

(نِعْمَ الرَّجُلُ خُرَيْمٌ لَوْلَا طُوْلُ جُمَّتِهِ وَإِسْبَالُ إِزَارِهِ) (ابوداود: ٤٠٩١)

خُریم ښه سړے دے خو که اوږده وینښته او لنګ ئے خکته نهٔ وے) هغه راولګیدو خپل وینښته ئے کم کړل، تکبر په میدان جنګ کی جائز دے لیکن خپل مینځ کی به عاجزی کوی)۔

د ابوجهل سره د بنو بکر د طرف نه خطره پیدا کیدل

دلته ابوجهل ته یوه وسوسه راغله چه دلته یوه قبیله ده بنوبکر هغوی زمونږ دشمنان دی نو داسے نهٔ چه د شا د طرفه دوی شی او مخے ته نبی علیه السلام او صحابه دی نو مونږ به د ژرندے د دوه پلونو په مینځ کی راګیر شو نو زړهٔ کی ئے یره راغله چه پاتے شو که څنګه وکړو؟ نو پدے کی ابلیس د سراقه بن مالك بن جعشم المدلجی په شکل راغلو، سراقه بن مالك د بنو کنانه قبیلے مشر وو او بنو بکر ددے بنو کنانه وړه قبیله وه ابلیس ورته ووئیل:

﴿وَإِنِّي جَارٌ لَّكُمْ﴾ (انفال:٤٨)۔

زهٔ تاسو ته پناهی درکوم، بنو بکر او بنو کنانه تاسو ته هیڅ ضرر نشی رسولے، محمدٌ رسول الله ستاسو هم دشمن دے او زمونږ هم، زهٔ ستاسو ملګرے یم، زما قوم هم

ستاسو ملګرے دے، دا سراقه نهٔ وو بلکه شیطان وو۔

(**فائده:** کله شیطان د انسان په شکل راځی، کله د مُلا په شکل راشی، مسئلے وکړی، کله د یو لیډر او پیر په شکل راځی پدے سره انسان ګمراه کوی لکه دا خبره مخکی د شیخ نجدی په واقعه کی ذکر شوه)۔

د بنو بکر او قریشو په څه دشمنی وه هغه پدے وه چه د بکر قبیلے نه یو سړے وو قریشو وژلے وو بیا څه وخت روستو د قریشو یو ښائسته هلك په لاره تیریدو نو یو کس ووئیل چه تاسو کی څوك نشته چه د هغه خپل مړی بدله واخلی نو یو کس ورپاځیده، هغه ځوان هلك ئے مړ کړو، بنو بکر جواب ورولیږو چه زمونږ او ستاسو مړے سر په سر شو لیکن قریش غصه وو، راولګیدل او د بنو بکر یو سړے ئے مړ کړو او هغه ئے راوړو او په کعبه کی ئے زوړند کړو، اسلام چه کله راغے خلکو د نبی علیه السلام سره دشمنی شروع کړه او هغه قیصے ترے پاتے شوے۔

د ابوسفیان قافله بچ کیدل او د قریشو اختلاف

ابوجهل او لښکرئے روان وو په عُسفان باندے ورغلل بیا د هغے نه قُدید ته ورسیدل بیا د هغے نه جُحفے ته ورسیدل، تقریباً دوه درے سوه کلو میټره مزل ئے کړیدے پدے کی د ابوسفیان قافله خلاصه شوه مکے ته نزدے شوه نو د هغه ځای نه ئے ابوجهل ته خط راولیږلو چه قافله خلاصه شوه، الله نجات راکړو، اُوس راواپس شئ او دا خبر دوی ته په جُحفه کی راورسیدو نو پدے خبر سره په لښکر کی اختلاف پیدا شو چه واپس کیږو او که نهٔ ؟ چه د هغه اختلاف حاصل دا دے :

بعضو کسانو ووئیل: واپس کیږو یو په هغے کی اَخْنَس بن شُرَیق الثقفی وو چه د بنو زُهره حلیف وو او د هغوی مشر وو دهٔ مشوره ورکړه چه واپس کیږو، زمونږ څه کار دے چه محمد (رسول الله) او د هغه ملګری وژنو د قافلے د حفاظت وشو نو دهٔ ځان سره ټول بنو زهره راواپس کړل۔

ابوجهل په تکبر کی راغے او وے وئیل چه مونږ خو د بدر علاقے ته ځان رسوو، د هغه ځای اُوبه به وینو، هلته به دوه درے ورځے تیروو او خلکو له به اُوښان حلالوو،

شراب به څکو او دا وینځې به ګډووَ، ددې دپاره چه عربو ته پته ولګي چه مونږ دومره پهلوانان یو، نو همیشه به بیا زمونږ نه یریږي، دې خلکو ته مونږ خپل نوم ورښکاره کوو. د بعضو نورو ملګرو رایه ئې دا وه چه واپس کیږو.

حکیم بن حزام چه روستو ئې ایمان راوړے دے د هغه رایه دا وه چه واپس کیږو، عتبه ته ئې دا خبره وکړه چه مونږ څه کوو چه د محمد رسول الله سره جنګ کوو، زمونږ مقصد حاصل شو راځئ چه بیرته مکې ته ستانۀ شو،

د عُتبه په ذهن کې هم دا خبره واقع شوه چه وګرځو نو عتبه پاڅیدو ټول ملګری ئې راجمع کړل او دا خبره ئې وکړه اے خلکو! قافله مقصودی وه هغه خلاصه شوه، راځئ چه واپس شو وجه دا ده چه که مونږ محمد رسول الله او د هغه ملګری ووژنو نو دوی هم په مونږ کې د چا د ترۀ ځامن دی او د چا د ماما ځامن دی نو خپل مینځ کې به مو اختلاف پیدا شي یو بل ته به ګورو چه زما د تره ځوی دۀ وژلے دے او زما د ماما ځوی دۀ وژلے دے، ورور ئې راله وژلے دے، او که مونږه مړۀ کړی نو دا خو بیا ډیر لوی تاوان دے نو داسے به وکړو چه محمد (ﷺ) او ملګری به ئې نورو عربو ته پریدو، که عرب پرے غالب شو نو زمونږ مقصد حاصل شو او که عرب پرے غالب نشو بلکه دا پرے غالب شو نو زمونږ خو به ورسره جنګ نۀ وی راغلے په اُوچتو سترګو به ورسره مخامخ کیږو،

نبی علیه السلام د عتبه د خبرو تائید وکړو په وحی سره ورته معلوم شوه چه په دوی کې دا عُتبه د خیر والا سړے دے، وې فرمایل: که قریشو د سور اُوښ والا سړی تابعداری وکړه هدایت ته به ورسیږی او که ددۀ خبره ونۀ منی هلاك به شي.

ابوجهل د عُتُبَه د خبرو نه خبر شو نو وې وئیل چه د عتبه پرپوس وپرسیدو کله ئې چه محمد (رسول الله ﷺ) او د هغه ملګری ولیدل، بزدلی پرے راغله او ویریدو او بل ددے وجه نه دا خبره کوی چه ددۀ ځوی (ابوحذیفه) مسلمان شوید ے.او هغه د محمد (رسول الله ﷺ) په ملګرو کې دے، دا ستاسو نه یریږی چه زما هغه ځوی مړ نکړی، د خپل ځوی دپاره دا خبرے کوی.

د عامر په نوم یو مشرك وو چه د ابن الحضرمي ورور وو هغه ته ئې ووئیل چه تۀ پاڅیږه او دا خلك راتیز کړه او ورته ووایه چه زما ورور دے مسلمانانو وژلے دے او تاسو د

هغهٔ هیڅ غم نهٔ کوئ، هغه لاړو ودریدو او جامے ئے ویستلے او دا ئے ووئیل چه اے زما وروره! تهٔ څنګه په ظلم وژلے شوے ئے او قریش ستا غم نهٔ کوی نو پدے کی ئے دا ټول قریش په غصه کی راوستل چه جنګ کول پکار دی۔

ابوجهل پدے طریقه خلك را وچت کړل کله چه عتبه ته دا خبره ورسیدله چه دا ما ته بزدل وائی نو وے وئیل چه زر ده چه دوی ته به صبا له پته ولګی :مَنِ الْمُصَفِّرُ اِسْتِهٖ۔ چه د چا کناټی به زیړیږی، ابوجهل بزدله دے او که زهٔ بزدله یم۔

آخر دا چه د قریشو اتفاق پدے راغے چه بدر ته به ځان رسوو۔

پدے کی اخنس بن شریق درے سوه کسان بنو زهره ځان سره واپس کړل۔ دا وجه وه چه روستو زمانه کی به د اخنس بن شریق قوم دهغه ډیر صفت کولو چه ددهٔ په وجه مونږ د مرګ نه بچ شو (فَلَمْ يَزَلْ فِيهِمْ مُطَاعًا مُعَظَّمًا)۔


ددهٔ به په خپل قوم کی خبره به ئے منلے شوه او تعظیم به ئے کیدو)

نو باقی قریش زر کسان پاتی شول، دوی بدر طرفته سفر شروع کړو،

او نبی علیه السلام هم راروان دے، ځای په ځای دمه کوی او د بدر اراده لری چه دغه ځای ته به ځان رسوو او ګمان ئے دا دے چه قافله به په بدر کی مخے ته راځی کیدے شی چه قافله شا او خوا چرته کی وی۔

(ابوجهل بد اخلاقه کم عقل وو، خپل قوم ئے تباه کړو، د کفارو چه مشران بدٔ اخلاقه وی دا مسلمانانو له ښه وی ځکه دوی د هلاکت طرفته ځی د مسلمانانو ملکونو ته راشی هغوی ورسره جهاد وکړی)

ابوجهل بدر ته نزدے شو او په العدوة القصوىٰ کی ئے واړول دا مکے ته نزدے او د مدینے نه لرے وه او نبی علیه السلام (روحاء) علاقے ته رارسیدلے وو په دغه ځای کی نبی علیه السلام ته خبر راغلو چه قافله خو تښتیدلے ده لیکن د مشرکینو یو غټ لښکر د ابوجهل په مشرئ کی راغلے دے۔





د نبی علیه السلام هنگامی اجلاس او مشوره

نبی علیـه السلام خپل ملگری راجمع کړل او د مشورے یو مجلس ئے منعقد کړو، نبی علیه السلام پدے پو هه وو چه قتال ډیر ضروری دے ځکه که جهاد ونکړو دا کفار بـه لاړ شـی او خـلـك بـه وائی چه دوی راغلی وو او پدے علاقه کی گرزیدل او نبی علیه السلام ورته څه نشو وئیلے۔

او بـلـه دا چـه کیـدے شـی دا کـافر مدینے ته راورسیږی او په خپلو کورونو کی راسره جنگ وکړی بیا به ئے څوك مخه ونیسی۔

بـلـه دا چـه دا کـافـران داسے گرځـی نو د خلکو د زړونو نه به د مسلمانانو عظمت او هیبت وځی نو نبی علیه السلام د قتال په اهمیت پو هیدو لکه چه پدے آیت کی ورته هم اشاره شویده:

﴿ یُجَادِلُوْنَكَ فِي الْحَقِّ بَعْدَ مَا تَبَيَّنَ ﴾ (انفال:٦)۔

دوی تـا سره جگړه (بحث) کوی په حق د جهاد کی روستو د هغے نه چه جهاد واضح شویدے)، کول ئے ضروری دی۔

کافران د خپل لرے ملکونو نه راغلی دی، د مسلمانانو علاقے ئے مصروفه کړیدی نو پدے وخت کـی جهاد ښـه واضـح شـی، پدے کی بیا دا سوالونه نهٔ دی پکار چه فرض کـفـائـی دے او کـه فـرض عـین، د مور او پلار اجازه ضروری ده او که نهٔ، چه حق ښکاره شو او کفر راغے نو بحثونه مهٔ کوه۔

نبی عـلیـه السـلام د ملگرو سره مشوره وکړه چه څه چل وکړو؟ نو پدے وخت کی لږو کشـرانـو مسلمانانو ووئیل چه مونږ خو د جنگ په نیت نهٔ یو راوتلی، مونږ خو د ځان سره وسله هم دومره نهٔ ده راوړے، او په مدینه کی ډیر مسلمانان پاتی شویدی که د جـنـگ نـوبـت وے، مـونـږ بـه هغه هم د ځان سره راوستلی وے نو په دوی طبعاً لږه شان یره راغله ځکه چه جنگ گران کار دے څه توقے نهٔ دی۔

﴿ وَاِنَّ فَرِيْقًا مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ لَكٰرِهُوْنَ ﴾ (انفال: ٥)

د مومنانو یوه ډله وه چه هغوی جنگ بد گنڼلو۔

بعض تفاسیرو لیکلي دي چه دا منافقان وو، لیکن دا خبره غلطه ده، بلکه دا ایمان والا وو جنګ ئې طبعاً ځکه بد ګڼړلو چه څه تیاری ئې نهٔ وه کړے، په واقع او حقیقت کې ئې جنګ بد نهٔ ګڼړلو ځکه د قافلې دپاره د معمولي جنګ په نیت خو راوتلي وو۔ لیکن دوی وئیل چه د مدینې نه به نور مؤمنان راولو او وسله به راوړو او جنګ به وکړو دا د کشرانو نظر وو۔ او مشرانو ډیره ښائسته مشوره ورکړه۔

سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه پاڅیدو او ډیرے ښائسته خبرے ئې وکړے۔ [فَقَامَ وَقَالَ وَأَحْسَنَ]۔

بیا سیدنا عمر بن خطاب رضی الله عنه پاڅیدو، هغه هم ډیرے ښکلې د بهادرئ خبرے وکړے، هغه هم کیناستو، بیا سیدنا مقداد بن الاسود رضی الله عنه پاڅیدو هغه ووئیل : لَا نَقُوْلُ کَمَا قَالَتْ بَنُوْ اِسْرَائِيْلَ۔ مونږ داسے خبرے نهٔ کوو لکه څنګه چه بني اسرائیلو موسیٰ علیه السلام ته ویلي وو چه :

﴿فَاذْهَبْ أَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا اِنَّا هٰهُنَا قَاعِدُوْنَ﴾ (المائدة:٢٤)۔

لاړ شه تهٔ او رب ستا نو تاسو جنګ وکړئ مونږ به دلته ناست یو۔

مونږ د عمالقه او جبارینو مقابله نشو کولے او ارض مقدسه ته نشو داخلیدلے۔ موسیٰ علیه السلام ورته بیا ښیرے وکړے الخ۔

مقداد بن الاسود ووئیل : مونږ د بني اسرائیلو پشان نهٔ یو بلکه مونږ تا ته وایو چه لاړ شه تهٔ او ستا رب او تاسو جنګ وکړئ او مونږ هم ستاسو ملګری یو۔ او مونږ به ستا ښي او ګس او مخے او شا طرفته جنګ کوو۔

(بخاری: ٤٦٠٨ ومسند احمد:٣٦٩٨)

بیا ئې ورته ووئیل چه اے د الله رسوله ! که تهٔ مونږ د برك الغماد پورے بوځے نو د هغے نه مخکې چه څومره قومونه دي د هغه ټولو سره به جنګ وکړو۔ برك الغماد په یمن کې یو ځای وو د هغے نه د یمن پورے څوارلس قبیلے وے چه دا ټول د نبي علیه السلام دشمنان دي) که تهٔ په مونږ دا ټول وهے نو مونږ تیار یو۔

سیدنا مقداد بن الاسود ډیرے د بهادرئ خبرے وکړے۔

سیدنا عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائي چه مقداد داسے خبرے وکړے ارمان دے چه دا خبرے ما کړے وے، نبي علیه السلام پدے خبرو ډیر خوشحاله شو ځکه داسے

بهادر ملګرے ډیر کار کوی او ددهٔ دپاره ئے دعا وکړه۔

دا درے واړه سرداران د مهاجرینو نه وو او مهاجرین پدے لښکر کی کم وو نو پدے وجه رسول الله ﷺ اراده وکړه چه د انصارو د قائدینو نه رایه واخلی ځکه چه ددے جنګ ثقل او بوج به د دوی په اوږو باندے پریوزی،

او بله دا چه انصارو سره نبی علیه السلام معاهده کړے وه چه که په مدینه کی په مونږ چا حمله کوله تاسو به زمونږ مدد کوئ او که د مدینے نه بهر چا زمونږ سره مقابله کوله نو په تاسو باندے مدد لازم نهٔ دے۔

نو ددے نه روستو نبی علیه السلام وفرمایل: (أَشِيرُوا عَلَيَّ أَيُّهَا النَّاسُ)۔

اے ملګرو! ما ته مشوره راکړئ۔ مقصد ئے انصار وو،

نو د انصارو قائد او د هغوی د جنډے اوچتونکے سیدنا سعد بن معاذ رضی الله عنه پوهه شو او وے فرمایل: زما په خیال ستاسو اشاره مونږ ته ده اے د الله رسوله! نبی علیه السلام وفرمایل: آؤ،

نو سیدنا سعد رضی الله عنه ورته ډیرے ښکلے خبرے وکړے هغه ووئیل:

مونږ په تا ایمان راوړے او ستا تصدیق مو کړے او مونږ دا ګواهی کوو چه تا کوم دین راوړے دا حق دے او مونږ تا ته پدے باندے لوظونه او عهدونه درکړیدی چه ستا تابعداری به کوو نو روان شه اے د الله رسوله کوم طرفته چه ستا اراده وی قسم په هغه ذات چه تهٔ ئے په حق سره رالیږلے ئے که تهٔ مونږ دے دریاب طرفته روان کړے او دننه مو ورداخلوے نو مونږ به تا سره دریاب ته هم داخلیږو، زمونږ نه به هیڅوك روستو نهٔ پاتے کیږی، او مونږ دا بد نهٔ ګنړو چه تهٔ مونږ صبا له د دشمن سره ملاؤ کړے، یقیناً مونږ په جنګونو کی خامخا صبرناك یو، او په دشمن باندے سخته او رشتینی حمله کونکی یو، او شاید چه الله تعالیٰ به تا ته زمونږ نه هغه شے وښائی چه ستا سترګے به پرے یخی شی نو مونږ د الله په برکت باندے روان کړه۔

او په یو روایت کی دی: سیدنا سعد بن معاذ رضی الله عنه رسول الله ﷺ ته وفرمایل: شاید چه تهٔ به یریږے چه انصار به ستا مدد صرف په مدینه کی کوی نهٔ بهر بلکه زهٔ د ټولو انصارو د طرفنه وایم چه تهٔ روان شه کوم ځای ته چه مونږ بوځے مونږ درسره ځو او چا سره چه صلح کوے وکړه او که د چا سره قطع رحمی کول

غـواړے قطع رحمي وکړه او زمونږ د مالونو نه چه کوم مال اخلے ستا خوښه ده او مونږ تـه چه کوم ذمه واري راکوے ستا خوښه ده او ته چه مونږ نه کوم مالونه اخلے هغه به مـونږ تـه زیات محبوب وی د هغے نه چه کوم پریدے او تا چه کوم امر وکړو نو زمونږ امـر بـه ستـا د امر تابع وی قسم په الله که ته مونږ روان کړے تردے چه برك الغماد ته مو رسوے نو مونږ به تا سره روان یو او که په دریاب مو وراچوے نو مونږ تیار یو۔

(الرحیق المختوم)

نبی علیه السلام پدے خبرو ډیر خوشحاله او تازه شو، پدے طریقه نبی علیه السلام د ملګرو ذهن سازی وکړه تهول قتال ته تیار شول۔ کله چه مشوره ختمه شوه نو صحابه کرامو ته ئے ووئیل:

سِيْرُوْا وَأَبْشِرُوْا۔ ځئ چه ځواو خوشحاله شئ، ځکه الله تعالیٰ ما سره وعده کړے وه د یو د دوو ډلو یا د ابوسفیان قافله یا د ابوجهل لښکر۔

دے وخت کی الله تعالیٰ ورته تعیین نهٔ وو کړے ځکه ئے په شك دا خبره کړے وه۔ دا وعده نبی علیه السلام سره خوب کی شوے وه۔

﴿وَإِذْ يَعِدُكُمُ اللّٰهُ إِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ أَنَّهَا لَكُمْ﴾ (انفال:٧)۔ اَیْ فِی الرُّؤْيَا۔

یعنی په خوب کی ورسره الله دا وعده کړے وه۔

او دائے هم ورته ووئیل : (وَاللّٰهِ لَكَأَنِّي الْآنَ أَنْظُرُ إِلٰى مَصَارِعِ الْقَوْمِ)

قسم په الله ګویا که زهٔ اُوس ګورم د کفارو د قتل ځای ته)

یعـنـی الله ما ته دا راښکاره کوی، دا وحی ده او پیشین ګوئی وه پدے کی دیته اشاره ده چه پدے جنګ کی به مؤمنان غالبه کیږی۔

اسلامی فوج روان دے

صحابه کرامؓ روان شو، محمد رسول الله ﷺ ئے امیر وو، وحی به نازلیدله، ډیر ښکلے جماعت دے چه په مخ د زمکه داسے خلك نهٔ وو۔

پـه لاره کی ورتـه یو بانډچی مخے تـه ورغلو د هغـه نـه ئے د قریشو پـه باره کی معلومات وکړو لیکن هغه ته څه معلوم نهٔ وو نو صحابه و ورته ووئیل دا رسول الله

ﷺ دے په دۀ باندے سلام واچوه۔ نو هغه اعرابی (بانډچی) ووئیل تاسو کی رسول الله ﷺ شته دے؟ نو صحابه و ووئیل چه دا رسول الله دے نو هغه دنیا پرستی وکړه او دا ئے ووئیل چه که دا د الله رسول وی نو ما ته دے دا خبر راکړی چه ددے اُوښے په خیټه کی نر بچے دے او که ښځه؟۔

پدے کی یو صحابی ورته ووئیل چه ذدے تپوس ولے کوے ؟ ددے په خیټه کی دا ده چه تا ددے اُوښے سره بدکاری کړیده او هغه به بچے راوړی۔ نو دے صحابی دغه بانډچی ته زورنه ورکړه۔ نبی علیه السلام ورته ووئیل: غلے شته أُفُحَشُتَ عَلَى الرَّجُلِ۔

تا دے سړی ته فاحش جواب ورکړو ځکه هغه خو ناپوهه دے، تا له سخت جواب ندے پکار۔

فائده : که یو سړے درته ورانه خبره وکړی نو تهٔ به ورته ډیره ورانه او فاحشه نهٔ کوے۔

نو صحابه کرام روان وو تردے چه یوے علاقے ته ورسیدل هلته د غِفَار قبیلے دوه قومونه وو او هلته دوه غرونه وو، نو نبی علیه السلام ترے تپوس وکړو چه ددے غر څه نوم دے؟ هغوی ورته ووئیل: مُسُلح نوم ئے دے، ددے بل غر څه نوم دے ؟ هغوی ووئیل: مُخرِئ۔ دا دوه قومونه چه اُوسیږی ددوی څه نومونه دی؟ هغوی ووئیل : دا یو بنو نار دی (یعنی د اُور بچی) او بل بنی حُراق دی (یعنیِ د سوزولو بچی)۔

(مُسلِح او مخرئ معنیٰ ده : د گندگئ ځای)۔

نبی علیه السلام دا نومونه بد وگنړل، دا لارے ئے پریښودے په بله لاره روان شو، او دیته ادنیٰ نوم پریښودل او اعلیٰ نوم اخستل وائی دا بد فالی نهٔ وه۔

(**فائده** : دغسے یو ځل رسول الله ﷺ په سفر کی روان وو د یو کلی د نوم تپوس ئے وکړو هغه ئے پریښودو د بل کلی نوم ئے معلوم کړو په هغے روان شو، عمر رضی الله عنه ورته ووئیل : اے د الله رسوله ! تا مونږ د بد فالئ نیولو نه منع کړی وو ؟ نبی علیه السلام ورته وفرمایل: دا بدفالی نهٔ ده۔ تَرَكُتُ الُإِسُمَ السَّيِّءَ وَأَخَذُتُ الُحَسَنَ)۔

ما بد نوم پریښودو او ښائسته نوم مے واخستو پدے کی د بدفالی څه معنیٰ نشته۔ نبی علیه السلام به فرمایل چه کله تاسو ما ته یو سړے رالیږئ نو داسے سړے راولیږئ چه ښائسته نوم ئے وی او ښائسته شکل ئے وی)۔

نبی علیه السلام دا دواړه لارے پریښودے او صفراء علاقه ئے هم په گس طرف

پریښـوده او نبـی طرفتـه په یوه کنده کی روان شو چه هغې ته ئې (ذفران) وئیله نو هغې کی ئې دمه وکړه۔
بیا نبی علیه السلام او صحابه کرام العدوة الدنیا (نزدې ډیرکئ) ته ورسیدل، چه دا بدر ته نزدې ځای دې د غره نه دې طرفته دې عدوة الدنیا یو غر دې چه هغې طرفته ئې کفار وو او دې طرفته خوړ وو پدې کی صحابه کرام وو، د پنجشنبی (زیارت) ورځ وه،
نبی علیه السلام او صحابه کرامو دلته واړول او نبی علیه السلام څه صحابه کرام د ځان سره واخستل چه ددې مشرکینو حال معلوم کړی چه کوم ځای کی دی او په کوم ترتیب راغلی دی۔

د نبی علیه السلام توریه

پدې کی د عربو د یو بوډا سره ملاؤ شو، د هغه نه ئې تپوس وکړو چه محمد رسول الله ﷺ او د هغه ملګری د مدینی نه راوتلی دی او مشرکان د مکے نه راوتلی دی دا به کوم ځای کی وی؟ نو بوډا ورتـه ووئیل چه زهٔ تاسو تـه تر هغه وختـه پورې څه معلومات نهٔ درکوم ترڅو چه تاسو ما ته خپل ځان ونهٔ ښایئ چه تاسو څوك یئ؟۔
نبی علیه السلام ورته ووئیل : که تا اول خبر راکړو مونږ به ئې روستو درکړو نو بوډا ورتـه ووئیـل : مـا تـه یـو سړی خبر راکړے دے چه محمد (رسول الله ﷺ) او د هغه ملګری په فلانکی ورځ د مدینی نه راوتلی دی که سړی رشتیا وئیلی وی نو هغوی به اُوس اَلْعُدْوَةُ الدُّنْيَا تـه رارسیدلـی وی او مـا لـه بل سړی خبر راکړے دے چه قریش په فلانکئ ورځ راوتـلی دی که هغه سړی رشتیا وئیلی وی نو هغوئی به اُوس په العدوة القُصْویٰ کی وی، ددې غر نه اخوا طرفته کوم ځای کی چه قریش ناست دی هغه ځای ئې وښودو او دې خلکو پدې باب کی ډیره تجربه او هوښیارتیا لرله۔
بوډا ورته ووئیل چه تاسو څوك یئ ؟ نبی علیه السلام ورته ووئیل: (نَحْنُ مِنْ مَاءٍ) ۔ مونږ د اُوبو نه یو۔ هغه سړے حیران شو ځکه څه اُوبه په عراق کی دی او څه په حجاز کی او څه په یمن کی دی، نو دوی ترې روان شو هغه سړی ووېل کومې اُوبه ؟ لیکن دوی ورته جواب ورنکړو او سیده ترې تیر شو۔

د نبی علیه السلام غرض دا وو چه مونږ د اُوبو نه پیدا یو۔

(فائده: دیته توریه وائی، هغه دا چه د یو لفظ دوه معنیٰ وی ته ترے لرے معنیٰ واخلے او مخاطب ترے نزدے معنیٰ۔ توریه کله کله جائز ده اما احمد رحمه الله یو مجلس کی ناست وو، چا ورته ووئیل میلمانهٔ راغلل، نو هغوی ووئیل مَرُوَزِی صاحب شته ؟ هغه د خپل لاس تلی ته اشاره وکړه چه نشته، دا توریه کله نا کله جائز ده)۔

د مدد دپاره یو پهلوان مشرک راتلل

د مدینے نه چه کله صحابه کرام روان شو او حَرَّةُ الْوَبْره علاقے ته ورسیدل، یو مشرك راغے چه ډیر شریف او شهسوار وو، په پهلوانئ کی راغے۔ وے وئیل: زما اراده ده چه ستا د جنډے لاندے ستا د دشمنانو سره جنګ وکړم؟

نبی علیه السلام ورته وفرمایل :(تُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ؟)

آیا تهٔ په الله او په رسول باندے ایمان لرے؟ یعنی د الله د توحید او د رسول الله ﷺ د رسالت اقرار کوے؟۔

هغه ووئیل چه ما ایمان نهٔ دے راوړے۔

نبی علیه اُلسلام ورته وفرمایل: اِذْهَبْ فَلَنْ أَسْتَعِيْنَ بِمُشْرِكٍ۔

واپس لاړ شه زهٔ د مشرك نه مدد نهٔ غواړم۔ (یو مشرك په بل مشرك نهٔ وژنم)

لږ وړاندے چه لاړو دا مشرك ورله بیا مخے ته راغے ورته ئے ووئیل : زهٔ تا سره جنګ ته ځم، نبی علیه السلام ورته ووئیل: ایمان دے راوړے؟ هغه ووئیل : ایمان مے نهٔ دے راوړے، نبی علیه السلام ورته وفرمایل : واپس لاړ شه، زهٔ د مشرك نه مدد نهٔ غواړم۔ دریم ځل چه کله بیداء مقام ته ورسیدل بیا راغے نبی علیه السلام ورته وفرمایل : تا ایمان راوړے؟ هغه ووئیل: آؤ، ما ایمان راوړے دے۔ نبی علیه السلام ورته وفرمایل: راځه، (صحیح مسلم : ٤٨٠٣ طبع کتاب الجیل بیروت)

نوځان سره ئے ملګرے کړو، صحابه کرام هم خوشحاله شو او دوه فائدے وشوے، یوه فائده دا ده چه په جهادونو کی د مشرك د ذات نه مدد اخستل جائز نهٔ دی۔ مګر په اتو شرطونو، د مشرك د ذات نه مدد دا دے چه مشرك د مسلمانانو سره د قتال فی

سبیل الله دپاره وځي دا ځکه ناروا ده چه کیدے شي د کفارو مدد وکړي یا مسلمانان د شا طرفنه ووهي۔ اته شرطونو نه بعض دا دي : (١) سخت ضرورت راشي، ډیره فائده پکي وي۔(٢) دغه مشرك د مسلمانانو خیرخواه وي۔(٣) او کمانډنګ د مسلمانانو په لاس کي وي وغیره نو بیا مدد جائز دے۔

دویم د مشرکینو د اسلحے او مال نه فائده اخستل دي نوپه هغے کي اسلام ډیره اجازه ورکړے ده ځکه چه په هغے کي اسلام ته ضرر نشته او دا ناروا نهٔ دي۔ لکه نبی ﷺ د عبد الله بن اُرَیقط اللَیثِي نه د لارے مدد اخستے دے۔

دارنګه نبی ﷺ د یهودونه اسلحه اخستے وه د اُحد په غزا کښے، کله کله ئے ترے قرضونه اخستي دي، کله ئے ترے دیتونه اخستي دي۔ لیکن دا مدد غیر مشروط اخستل جائز دي۔

(**فائده:** دے صحابي ایمان راوړو او سمدست جهاد ته روان شو نو پدے کي رد دے په هغه صوفیاؤ چه هغوی وائي اول به ایمان جوړوی بیا به روستو جهاد کوی، مکه چه کله فتح شوه سمدست څه ورځے روسته حُنین غزا ته نوی مسلمانان هم روان شول)

د وعدے وفاداري

دویمه واقعه پکي دا راغله چه دوه صحابه کرام حذیفه بن الیمان رضي الله عنه او د هغه پلار (یمان) دواړه د مکے نه وتلي وو او د رسول الله ﷺ د مدد اراده ئے وه پدے کي مشرکانو ولیدل نو وے نیول، دوی ته ئے ووئیل چرته روان یئ؟

دوی ووئیل مونږ مدینے ته ځو، مشرکانو ورته ووئیل : تاسو د محمد رسول الله ﷺ د مدد اراده لرئ نو دوی توریه وکړه او قسم ئے وکړو چه مونږ د مدینے اراده لرو نو مشرکانو د دوی نه وعده واخسته چه که محمد رسول الله ﷺ زمونږ سره جنګ شروع کړو نو تاسو به د هغه ملګرتوب نهٔ کوئ نو دوی ئے پریښودل نو دوی ځان صحابه کرامو ته ورسولو او نبي علیه السلام ته ئے دغه واقعه ذکر کړه او د مشرکانو وعده ئے ذکر کړه او تپوس ئے وکړو چه مونږ د وعدے لحاظ وکړو او که په جهاد کي ستاسو ملګرتوب وکړو؟ نبي علیه السلام ورته وفرمایل:

تاسو ورسره وعده کړې ده، ددې وعدې پابندي وکړئ او مونږ به د مشرکانو په مقابله کې د الله نه مدد غواړو۔ زمونږ رب شته هغه به زمونږ مدد کوي۔ نو حذیفه وائي: مونږ مدینې ته راغلو نو دا هغه سبب وو چه مونږه ئې د بدر د غزا نه منع کړو۔

(**فائده**: اسلام کې د وعدې د پابندئ څومره اهمیت دے که مشرکان همیشه دپاره دچا نه وعده اخلي چه جهاد به نهٔ کوے نو بیا په وعده پابندي نشته، د وعدې ډیر احکام دي او ډیر فضائل ئې دي، د وعدې ماتول د منافق صفت دے، او نبي علیه السلام د خپلو ملګرو تربیت په ډیرو اُوچتو اخلاقو سره وکړو اګرکه پدې کار کې د مسلمانانو کمزوري کیدل هم راځي)۔

د قریشو د فوج معلومات حاصلول

نبي علیه السلام بیرته راواپس شو چه کافران راغلي دي او دلته نزدے دي

بیا مابنام شو نبي علیه السلام څه کسان ولیږل چه تاسو لاړ شئ او د مشرکینو احوال راوړئ، درے کسان ئې ددې دپاره منتخب کړل، سیدنا علي بن ابي طالب، سیدنا زبیر بن العوام او سیدنا سعد بن ابي وقاص رضي الله عنهم او څه نور کسان صحابه کرام ئې ورسره کړل، هغوي لاړل او د بدر میدان ته ورداخل شول،

بدر میدان د غرونو مینځ کې دے او د غرونو مینځ کې خوړ راوتلے دے، دلته د بدر کوهیان وو په هغې کې اُوبه جمع کیدلے چه دوي ورغلل وے لیدل چه څه کسان دي او مشکونه ډکوي او اُوبه وړي نو دوي پوهه شول چه دا کسان خو د ابوسفیان قافلې ته اُوبه وړي نو حمله ئې پرے وکړه، دغه کسان ئې ونیول او نبي ﷺ ته ئې راوستل،

نبي علیه السلام په مانځه ولاړ وو، پدې کې ملګرو ددے دوه کسانو نه تحقیقات شروع کړل چه تاسو د چا غلامان یئ؟ هغوي ووئیل: مونږ د قریشو غلامان یو، هغوي رالیږلي یو چه اُوبه ورله یوسو، د هغوي هلته لښکر دے نو ځیني صحابه کرام پدې خبره خفه شو چه د کفارو فوج راغلے دے ځکه د صحابه کرامو دا اُمید وو چه په قافله به حمله وکړو ځکه دا آسانه وه نو دا غلامان ئې ووهل چه سم حال ووایئ؟

نو هغوی چه خورِ شو، دروغ ئې ورته ووئیل چه مونږ خو د ابوسفیان د قافلې یو،
ابوسفیان رالیږلی یو نو هغه ئې پرېښودل نبی علیه السلام چه د مانځه نه سلام واړولو ملګرو ته ئې ووئیل چه کله دې دوه کسانو رشتیا وئیل نو تاسو وهل او چه دروغ ئې ووئیل نو تاسو پرېښودل ؟
دوی رشتیا وئیلی دی، دوی د قریشو د فوج او د لښکر کسان دی، نبی علیه السلام ته دا د وحی نه هم معلومه شوه او د مخکې نه هم ورته معلومه وه۔
د دغه غلامانو نه نبی علیه السلام تپوس وکړو چه دا مشرکان څومره دی ؟ دوی ووئیل : مونږ ته علم نشته نو بیا ئې ترې تپوس وکړو چه څومره اُوښان ذبح کوی؟ هغوی وئیل چه نهه اُوښان ذبح کوی۔
نبی علیه السلام وفرمایل چه دا د نهه سوو نه د زرو پورې کسان دی۔
د مشرکانو د خوراك ذمه واری نهه کسانو اخستې وه معلومه شوه چه ډیره خرچه ئې کړې وه اُوس هم مشرکانِ د کفر دپاره ډیر مالونه لګوی، زمونږ مسلمانان پدې باب کې ډیر سُست دی، دوی خو دی تکړه شی په رواجونو او په ودونو دې لکهونو روپۍ لګوی؟!)
نبی علیه السلام ددې ځای نه ملګری واخستل او میدان د بدر ته ئې نقل کړل د جُمعې شپه د رمضان (۱۷) تاریخ وو۔

د مشرکانو جاسوسی

بل طرفته مشرکین هم په جنګی کارونو کې هوښیار خلك وو، دوی به هم معلومات کولو چه صحابه کرام څومره خلك دی؟۔
نو دوی عُمَیر بنِ وَهب الجُمحی ولیږو، هغه لاړو د مسلمانانو د معسکر نه ګیر چاپیره په آس باندې وګرزیدو ، اندازه ئې واخسته، ملګرو ته راواپس شو هغوی ته ئې ووئیل چه صحابه کرام درې سوه یا څه لږ دپاسه درې سوه کسان دی، لیکن زهٔ ګورم چه هسې نهٔ چه څه ملګری ئې شا ته نهٔ وی کینولی نو هغه لاړو او تولې کندې او دشتې ئې ولټولې چه څوك خو ندی ناست نو پدې ئې یقین راغې چه نور کسان نشته نو

خپلو ملګروته ئې خبر ورکړو چه ما هیڅوك ونۀ موندل او بیا ئې ورته دیرے خبره وکړه : (وَلٰكِنِّي قَدْ رَأَيْتُ يَا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ اَلْبَلَايَا تَحْمِلُ الْمَنَايَا، نَوَاضِحُ يَثْرِبَ تَحْمِلُ الْمَوْتَ النَّاقِعَ)

لیکن اے قریشو ! مصیبتونو مرګونه راپورته کړیدی زۀ د مدینے اُوښان وینم چه مرګ ئې په شا راوړے دے او په مونږ ئې راچوی، ددے خلکو سره ما خالص مرګ ولیدۀ۔ وجه دا ده چه ددے خلکوشاته د پناهي ځای نشته دے، صرف توری او نیزے ورسره دی او څوك چه شاته د پناهئ ځای نۀ لری هغه ځان هم وژنی او خپل مقابل هم وژنی او بیا ئې وویل : دا درے سوه کسان دی که درے سوه کسان زمونږ نه مړۀ کړی نو ددے نه روستو په ژوند کی څه خیر دے ؟ نو خپله رایه ورکړئ، دا خبرے اترے وشوے ددے باوجود بیا هم جنګ شروع شو۔

د اسلامی فوج اهم مراکز نیول

رسول الله ﷺ په بدر میدان کی هغه اُوبو خواته ملګری راوستل چه هغه مدینے ته نزدے وے نو پدے وخت کی یو صحابی (حُبَاب بن المنذر) راغے چه اے د الله رسوله ! دا د الله د طرفنه امر دے چه مونږ دلته واړه وو؟ که د الله امر وی، نو بیا ددے نه مخکی کیدل روستو کیدل ناروا دی او که دا ستا خپله رایه ده اُو د جنګ ترتیب دے؟، نبی علیه السلام ورته وفرمایل چه دا د جنګ ترتیب دے او د الله امر نۀ دے، الله داسے نۀ دی وئیلی چه دلته کی واړه وه۔ نو حُباب بن المنذر ورته ووئیل چه دا ځای ما ته مناسب نۀ ښکاری، زۀ تا ته بل ځای ښایم۔ نبی علیه السلام وفرمایل :

کوم ځای مناسب دے؟ حُباب رضی الله عنه وفرمایل : ددے ځای نه پاڅیږو او دا حوضونه پریدو، مخکی به لاړ شو کوم چه اولنے حوض دے هغے ته به ورشو، هغه حوض به ځان له جوړ او برابر کړو او د نورو حوضونو اُوبه به پکی واچوو او شاته چه کومے اُوبه دی هغه به خرابی کړو او د ورانولو طریقه ئې دا ده چه خاورے به پکی واچوو یا به لښتی اُوباسو نو دا اُوبه به ختمے شی، ددے حوضونو نه به روانے شی نو مونږ سره به اُوبه وی او د کفارو سره به اُوبه نۀ وی۔

نبی علیه السلام ورته وفرمایل : دا بالکل صحیح رایه ده، راځئ چه دا ځای پریدو،

نوددے ځای نه پاځیدل او لاړل بیخی د دشمن مخے ته نزدے ورغلل همدغه طریقه ئے وکړه چه دغه یو حوض ئے جوړ کړو او شا ته حوضونه ئے وران کړل چه کفار تږی پاتی شی یو دا کار وشو۔

بل دا چه په همدے شپه باندے رسول الله ﷺ ملګری ځای په ځای کړل۔

عریش جوړول

بل کار دا وشو چه رسول الله ﷺ ته سیدنا سعد بن معاذ رضی الله عنه مشوره ورکړه وے فرمایل: یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! اَلَا نَبْنِیْ لَكَ عَرِیْشًا؟)۔

اے د الله رسوله ! آیا مونږ ستا دپاره یو څپر نهٔ جوړه وو چه تهٔ پکی ناست ئے۔

(مقصد ئے د نبی علیه السلام حفاظت وو ځکه کفار د مسلمانانو په مشرانو پسے کوشش کوی)۔ سعد رضی الله عنه ووئیل: که الله تعالیٰ مونږ ته فتح راکړه نو ډیره ښه ده او که مونږ شکست وخوړو نو تهٔ به پدے اُوښانو کینے او مدینے ته به لاړ شے او هلته ستا داسے ملګری دی چه د هغوی زمونږ نه ستا سره ډیره مینه ده او که هغوی ددے نه خبر وے چه مونږ جنګ کوو نو هغوی به ستا نه روستو نهٔ وے پاتی شوی نو تهٔ به لاړ شے او د هغوی تربیت به وکړے او بیا به ددے کافرو سره جهاد وکړے،

نو نبی علیه السلام سعد رضی الله عنه ته د خیر دعا وکړه او صفت ئے ورله وکړو چه ښه خبره دے وکړه نو پدے کی صحابه کرامو په جلتئ سره یو ځای جوړ کړو چه شمال مشرقی طرفته وو، هلته ئے یو څپر (چوپال) جوړ کړو نو سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه د نبی علیه السلام سره وو او سیدنا سعد رضی الله عنه او نورو صحابه کرامو ئے څوکیداری کوله۔

پدے وخت کی صحابه کرامو ته دوه تکلیفونه وو، یو خو دغه ځای د شړو والا وو، شړلن وو، انسان به پکی ښویدو۔ او بله دا چه ځینی صحابه کرامو ته جنابت رسیدلے وو نو شیطان مؤمنانو ته وسوسے واچولے چه که جنابت حالت کی مړهٔ شئ نو بے ایمانه به مړهٔ شئ۔

بله دا چه اُوبه هم درسره نشته او د مشرکانو ځای ښه دے، مته خاوره ده، تاسو سره

به الله څه مدد وکړی نو مسلمانان خفه شول نوپدے کی الله تعالیٰ باران راولیږلو، د مشرکینو ځای کی ختے جوړے شوے ځای ئے ښه خراب شو او مسلمانانو ډ غسل دپاره اُوبه هم واخستے او د هغوی ځای هم ښه مزیدار شو، هغه شړے لمدے شوے نو الله تعالیٰ ئے پدے طریقه مدد وکړو۔

(فائده : د الله د حکم په مقابل کی به خپله رایه او قیاس پسے نهٔ ځے۔

فائده ۲ : په جهاد کی الله تعالیٰ د مؤمنانو مدد کوی کله باران رالیږی او کله وریځ لکه په بدر کی باران راغے۔

(۳): د نبی علیه السلام په دنیوی امورو کی د صحابه کرامو خبره منل د هغه عیب نهٔ وو بلکه دا د هغه کمال وو۔

(٤): د صحابه کرامو مشوره به نبی علیه السلام آوریدله۔

د لخکر تیاری او شپه تیرول

بیا رسول الله ﷺ خپل فوج تیار کړو او د معرکے میدان ته لاړو او په لاس سره ئے اشاره کوله او داسے ئے وئیل :

(هٰذَا مَصْرَعُ فُلَانٍ غَدًا اِنْ شَاءَ اللّٰهُ، وَهٰذَا مَصْرَعُ فُلَانٍ غَدًا اِنْ شَاءَ اللّٰه)

په دے ځای کی به صبا له ان شاء الله فلانے پریوزی او پدے ځای کی به فلانے پریوزی۔ او همدغه شان وشوه کوم ځای ته چه رسول الله ﷺ اشاره کړے وه هلته دغه مشرکان قتل شول۔

بیا صحابه کرام ډیر په اطمینان سره اُوده شول، د الله تعالیٰ په مدد ئے یقین او مضبوط اعتماد وو، نبی علیه السلام خپل عریش ته داخل شو او هلته د ونے یوه ستنه وه هغے ته ودریدو او مونځ ئے شروع کړو او دعائے کوله، او دا د جُمعے شپه وه د رمضان (۱۷) تاریخ دویم کال د هجرت وو۔ او نبی علیه السلام د مدینے نه په (۸) یا (۱۲) رمضان باندے راوتلے وو۔ (الرحیق)

کله چه سهار شو مشرکین مخکی راغلل او یو بل ته ښکاره شو، پدے دوران کی د مشرکینو نه څه کسان راغلل ددے حوض نه ئے اُوبه څکلے نو نبی علیه السلام

وفرمایل : پریدئ چه دا اُوبه وڅکي۔ پدے کي حکمت دا وو چه دا اُوبه چا هم څکلي دی هغه به مړ کیږي، الله رب العزت د مشرکینو دپاره پدے اُوبو کي داسے زهر واچول چه څوك به راتلل او دا اُوبه به ئے وڅکلے هغه ټول مړه شو سِویٰ د حکیم بن حزام رضي الله عنه نه چه هغه ژوندے پاتے شو چه دا د قریشو د مشرانو نه یو مشر وو۔

بدر ته د مشرکینو د مشرانو نه (۲٤) مشران راغلي وو۔

نبي علیه السلام صحابه کرامو ته وفرمایل چه مکے تاسو ته د خپل جګر ټوټي راګوزار کړي دی۔ یعني مشران ئے راغلي دی۔

د نبي ﷺ صفونه برابرول

نبي علیه السلام د خپلو ملګرو صفونه برابر کړل او ملګري ئے ځای په ځای کړل چه کله ئے دا صف جوړولو نو دلته عجیبه واقعه راغله هغه دا چه سیدنا سَوَاد بن غَزِیّه رضي الله عنه پدے صف کي ولاړ وو او سینه ئے مخکي راوستلے وه نو نبي علیه السلام سره په لاس کي غشے وو، په خیټه ئے ووهلو چه دے صف کي دننه شه او بهر مهٔ راوځه د کَأَنَّهُمْ بُنْیَانٌ مَّرْصُوْصٌ۔ پشان صف جوړ کړئ۔

کله ئے چه دا صحابي د غشي په موټي ووهلو نو دهٔ ووئیل : (اَوْ جَعْتَنِیْ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ! فَأَقِدْنِیْ)۔ اے د الله رسوله ! زهٔ دے درمند کړم ما له بدله او قصاص راکړه۔

نبي علیه السلام ورته وفرمایل : راشه قصاص واخله، ځان ئے ورته وروړاندے کړو، صحابي ووئیل: زما خیټه بربنډه وه او تا قمیص اچولے دے، تهٔ خیټه بربنډه کړه چه هغه شان قصاص واخلم په کوم حالت چه دے زهٔ وهلے یم نو نبي علیه السلام خپله خیټه مبارکه بربنډه کړه نو هغه صحابي ورغاړے وتو او د نبي علیه السلام خیټه مبارکه ئے ښکل کړه او وے وئیل زما د قصاص حق وو اوما دا قصاص واخستو،

نبي علیه السلام وفرمایل : مَا حَمَلَكَ عَلٰی هٰذَا یا سَوَادُ؟)۔

اے سواده ! دا کار دے ولے وکړو؟ هغه ووئیل: یارسول الله ! تا ته معلومه ده چه دا جنګ حاضر دے کیدے شي د شهادت مرګ راشي، زما دا خوښه ده چه زما آخري ملاقات تا سره وشي او زما څرمن ستا د څرمن سره ولګي، نو رسول الله ﷺ ورته د

خیر دعا وکړه۔

سبحان الله ! د صحابه کرامو د نبی علیه السلام سره څومره ډیر کامل او بې کچه محبت وو۔

(فائده : د صحابه کرامو شجاعت او بهادری ترے معلومه شوه۔

۲: رسول الله ﷺ امیر هم دے، خلیفه هم دے، استاذ هم دے او خپل ځان قصاص ته وړاندے کوی، دیته عدل او انصاف وائی، د نبی علیه السلام دا خوښه وه چه زۀ الله ته پیش شم او ما پورے د هیچا حق نۀ وی، ځان ته وګورئ مونږ پورے د مخلوق څومره حقوق دی، د چا غیبت، د چا مال خوړل، څوك وهل او چا ته کنځل کول الخ۔

سیدنا اُسید بن حُضَیر رضی الله عنه کې خوش طبعي وه نبی علیه السلام په شا کې په تشی ووهلو، د غشی په موټی سره، اُسید ووئیل زۀ دے ووهلم قصاص راکړه الخ هغه د نبی علیه السلام تشے ښکل کړو، دلته هم نبی علیه السلام خپل ځان قصاص ته وړاندے کړو، مرض الوفات کې ئے هم وفرمایل : که د چا په ما باندے څه حق وی، راشئ ما نه ئے واخلئ۔

۳- فائده : د دینداره سړی یا د استاذ یا د مور او پلار لاس یا تندے ښکلول جائز دی۔
نبی علیه السلام عریش کې ناست وو، دعاګانے ئے کولے الخ۔

بدر ته رسیدل - او د ابوجهل دعا

نبی علیه السلام او صحابه کرام بدر ته ورسیدل نبی علیه السلام هم دعاګانے کړیدی او ابوجهل هم دعا وکړه چه اے الله ! هغه کسان چه خپلولی قطع کوی او داسے مسئلے کوی چه مونږ ندی آوریدلی او اختلاف او افتراق ئے پیدا کړیدے نن ورځ ئے تباه کړه او پدے دوه ډلو کې چه کومه یوه تا ته ډیره خوښه وی د هغې مدد وکړه۔

قرآن کریم کې الله تعالیٰ د مشرکانو دا دعا ذکر کړیده :

﴿ اِنۡ تَسۡتَفۡتِحُوۡا فَقَدۡ جَآءَکُمُ الۡفَتۡحُ ۚ وَ اِنۡ تَنۡتَهُوۡا فَهُوَ خَیۡرٌ لَّکُمۡ ...... ﴾ (انفال:۱۹)۔

(که تاسو طلب د فتح کوئ نو تاسو ته فتح راغله او که منع شوئ نو دا به ستاسو دپاره ډیره غوره وی) (الرحیق)

د ابو جهل گمان دا وو چه زهٔ په حقه یم۔

د جنګ د شروع کیدو ترتیب

اول چه جنګ بدر شروع شو طریقه ئے دا وه چه یو مشرك د بنو مخزوم نه چه د ابوجهل قومی وو، اسود بن عبد الاسد المخزومی چه دا ډیر متکبر، بد اخلاقه کافر وو، دے په تکبر کی راووتلو او وے وئیل چه زهٔ د الله سره وعده کوم:
(لَأَشْرَبَنَّ مِنْ حَوْضِهِمْ أَوْ لَأَهْدِمَنَّهُ أَوْ لَأَمُوتَنَّ دُونَهُ)۔
چه خامخا به زهٔ ددے حوض نه اوبه څکم یا به ئے ورانوم او یا به زهٔ ددے نه مخکی مړ کیږم۔

پدے وخت کی نبی علیه السلام دعاګانی غوښتے :
اَللّٰهُمَّ اِنْ تُهْلِكْ هٰذِهِ الْعِصَابَةَ لَمْ تُعْبَدْ۔

اے الله ! که تهٔ دا ډله هلاکه کړے نو بیا به هیڅکله ستا عبادت نهٔ کیږی۔

نبی علیه السلام صحابه کرامو ته ووئیل تاسو به غشی نهٔ ولئ تردے چه هغوی شروع وکړی او چه کله تاسو ته رانزدے شی او ګنړ شی نو په غشو پرے شروع وکړئ او ځان سره څه نا څه غشی وساتئ چه بیا مو چرته ونهٔ نیسی او توره به نهٔ راوباسئ تردے چه تاسو ته ښه رانزدے شی۔

اسود بن عبد الاسد حوض طرفته راغے نو د الله زمرے سیدنا حمزه بن عبد المطلب رضی الله عنه ورپسے ور ووتلو، کله چه دواړه مخامخ شو نو د الله زمری پرے ګوزار وکړو نو په پونډئ کی ئے ورله خپه ووهله او وړاندے ئے ترے ګوزار کړه، اسود بن عبد الاسد په شا پریوتلو، دهٔ بیا هم کوشش کولو چه حوض ته ځان ورسوی څکه چه قسم ئے کړے وو، نو بیرته راتاؤ شو او حوض ته ئے ځان ننویستو او هغه ئے په خپله روغه خپه باندے وران کړو نو پدے وخت کی د الله زمری وروداننګل او دا مشرك ئے په حوض کی دننه پدے ختې ووهلو او مردار ئے کړو نو جنګ ددے ځای نه ګرم شو۔

دا اسود د ابوسلمه بن عبد الاسد رضی الله عنه ورور وو۔



د مقابلې اعلان کول

پدې پسې د مشرکینو درې کسان راووتل چه دوی د قریشو مشران او د هغوی غوره شاهسواران وو (عُتْبَه بن ربیعه، شَیْبَه بن ربیعه او وَلید بن عتبه) چه دا درې واړه د یو کور خلك وو، عتبه او شیبه ورونه وو او ولید د عتبه ځوی وو، ترهٔ، وراره او پلار وو، دوی اعلان وکړو چه څوك به زمونږ مقابله وکړي؟

نبی علیه السلام ته ئې ووئیل چه مونږ ته ستا ملګری راوباسه. نو د انصارو نه درې کسان د دوی د مقابلې دپاره راووتل، سیدنا عَوف بن حارث، سیدنا مُعَوِّذ بن الحارث چه د دواړو مور (عَفْرَاء) وه او سیدنا عبد الله بن رواحه رضی الله عنهم.

مشرکینو د دوی نه تپوس وکړو چه تاسو څوك یئ؟، هغوی ووئیل : مونږ انصار یو، مشرکینو ورته ووئیل چه تاسو خو ډیر عزتمند همزولی یئ، زمونږ تاسو ته ضرورت نشته دې، تاسو زمونږ خپل ترهٔ ځامن قریش راوباسئ، زمونږ د دوی سره کار دې، نبی علیه السلام سیدنا علی، د الله زمرې سیدنا حمزه او سیدنا عبیده بن الحارث (رضی الله عنهم) ته وفرمایل چه تاسو پاڅیږئ او د دوی مقابلې ته وځئ،

سیدنا عبیده بن الحارث ئې د ترهٔ د ځوی ځوی وو او سیدنا علی رضی الله عنه ئې د ترهٔ ځوی دې او د الله زمرې سیدنا حمزه ئې ترهٔ وو.

په دوی کی عبیده بن الحارث د عمر په لحاظ مشر وو.

(**فائده**: په جهادونو کی به د خپل ځان نه شروع کوی، ځکه دا د الله بندګی ده، اول پردی بچی وژل نهٔ دی پکار).

نبی علیه السلام چه دا درې کسان ورپاڅول، سیدنا علی رضی الله عنه د وَلید سره مقابله شروع کړه نو هغه ئې په اول ګوزار سره مردار کړو، د الله زمری سیدنا حمزه رضی الله عنه د شیبه سره جنګ شروع کړو نو هغه ئې هم د اول ګوزار سره مردار کړو او سیدنا عبیده بن الحارث او عتبه خپل مینځ کی جنګ شروع کړو نو دواړو یو بل په توره ووهل او دواړه زخمی شول، نو سیدنا حمزه او سیدنا علی رضی الله عنهما ورغلل عتبه ئې په شریکه ووهلو، مزدار ئې کړو او سیدنا عبیده بن الحارث ئې د میدان

نه راوچت کړو او د ملګرو خواته ئے راوړو لیکن خپه ئے زخمي وه، پریکړے شوے وه، ډیر زیات بے هوشه وو، د جنګ د ختمیدو نه پنځه ورځے روستو کله چه خلك مدینے ته راواپس کیدل نو دے په صفراء علاقه کی شهید شو۔ رضی الله عنه وارضاه۔

سیدنا علی رضی الله عنه به قسم سره فرمایل : چه دا آیت د سورة الحج : ﴿ هٰذَانِ خَصْمَانِ اخْتَصَمُوْا فِیْ رَبِّهِمْ﴾ (الحج:۱۹)۔ زمونږ په باره کی نازل دے۔ (یعنی دا دوه جګړه کونکی دی چه د الله په باره کی ئے جنګ دے)، ځکه چه کافران الله تعالیٰ او د هغه قانون نهٔ مني۔

عمومی جنګ شروع کیدل

دا دربے کسان چه کله مردار شو نو په مشرکینو باندے رعب او یره پریوتله او سخت غصه شوځکه چه مشران کسان ترے مړهٔ شول نو مشرکانو په مسلمانانو باندے په یو ځل عامه حمله شروع کړه، نبی علیه السلام صحابه کرامو ته دا هدایت ورکړے وو چه تاسو دفاعی شکل اختیار کړئ، نو دوی په خپلو ځایونو کی ولاړ وو، مشرکان به ورته رانږدے کیدل نو دوی به په غشو ویشتل، ډیرے زیاتی حملے ئے په شا باندے وتمبولے او مشرکانو ته ئے ډیر نقصانونه ورسول او دا آوازونه به ئے کول (اَحَد، اَحَد)۔

کله چه د مشرکانو حمله شروع کیدله دلته صحابه کرامو دعاګانے کولے او نبی علیه السلام هم دعاګانے کولے تردے چه د نبی علیه السلام په شا مبارکه باندے کوم څادر وو هغه ترے وغورزیدو، سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه راوچت کړو او ورته ئے ووئیل یا رسول الله ! تا ډیره دعا وکړه، د خپل رب نه په دعا کولو کی دے ډیره مبالغه وکړه، الله به ضرور ستا دعا قبلوی، ته مهٔ خفه کیږه، ستا دعا نهٔ رد کیږی۔

د ملائکو راتلل

پدے وخت کی په نبی علیه السلام باندے د خوب حالت راغے چه رابیدار شو وے فرمایل: خوشحاله شه اے ابوبکر ! ځکه جبریل علیه السلام راغے، د هغه په غاښونو

گرد او غبار دے او په یو روایت کې دي چه رسول الله ﷺ وفرمایل : اے ابوبکره! خوشحاله شه تا ته د الله تعالیٰ مدد راغلو، دا جبریل دے چه د خپل اس واږې ئے نیولی دی راکاږي ئے او ددۀ په مخکښو غاښونو باندے غبار دے (دلائل النبوة للبیهقی ٨١/٣)

او الله تعالیٰ ورته دا زیرے هم ورکړو چه زر ملائك مے در ولیږل یو بل پسے تلونکی۔ مردفین لفظ قرآن کې راغلے دے یعنی دستے دستے یو بل پسے۔

نو صحابه کرام ډیر خوشحاله شو، نبی علیه السلام د جنګ میدان ته راودانګل، زغره ئے اچولے وه او په هغے کې ئے تړپونه وهل او وے فرمایل :

﴿ سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ ﴾ (القمر:٤٥)۔

زر دے چه دا مشرکان به شکست خوري او شاګانے به راواړوي،

یعني مسلمانان به غالبه کیږي،

نو د صحابه کرامو حوصلے نورے هم پورته شوے او زړه ته ئے اطمینان حاصل شو۔

اوس د صحابه کرامو حمله

نو نبی علیه السلام صحابه کرامو ته وفرمایل : تاسو شروع وکړئ او حمله پرے وکړئ، د مشرکینو وهل، نیول او تړل او وژل شروع شو، اویا (٧٠) کسان ئے ترے ژوندی ونیول اویا (٧٠) ئے ترے مردار کړل او نور مشرکان وتښتیدل او د صحابه کرامو نه صرف څوارلس کسان شهیدان شول۔

دا ډیر عجیب حکمت وو چه رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته وښودلو څکه چه اول کې صحابه کرامو د مشرکانو سختے حملے بندے کړے نو د دوی طاقت لا په ځای باندے وو، او مشرکان ستړي شوي وو نو د صحابه کرامو د حملے نمبر چه راغے الله تعالیٰ کفارو ته شکست ورکړو۔

کله چه الله تعالیٰ ملائك راولیږل او دا حکم ئے ورته ورکړو چه ﴿ فَثَبِّتُوا الَّذِينَ آمَنُوا ﴾ (انفال:١٢)۔

مضبوط کړئ هغه کسان چه ایمان ئے راوړیدے، زر دے چه زۀ به واچوم په زړونو د هغه کسانو کې چه کفرئے کړے دے رعب، پس ووهئ دوی لره دپاسه د څټونو نه او

ووهئ دوی لره په هر بند باندے)۔

عبد الله بن عباس رضی الله عنهما فرمائی : یو سړی د مسلمانانو نه د یو مشرك پسے منډه کړه چه ناڅاپه ئے د بره نه د چابك گوزار واوریدو او په اس باندے د سور شخص آواز ئے واوریدو چه داسے ئے وئیل: أَقْدِمْ يَا حَيْزُوْمُ اے حیزومه ! مخکی شه چه ومے کتل نو مشرك لاندے په زمکه ستونی ستاق پروت وو او د هغه مخ او پوزه ځیری شوے وو لکه د چابك په شان گوزار پرے وو او ټول مخ ئے شین شوے وو۔

دے صحابی نبی ﷺ ته دا واقعه ذکر کړه نو نبی ﷺ وفرمایل :

(صَدَقْتَ ذٰلِكَ مِنْ مَدَدِ السَّمَاءِ الثَّالِثَةِ)

تا رشتیا ووېل، دا یو ملائك دے چه د دریم آسمان د ملائکو نه د مدد دپاره راغلے دے۔

یو انصاری صحابی (ابو الْيَسَر کعب بن عمرو الخزرجی) چه د بدن نه کمزورے وو او د شلو کالو په عمر وو په عباس (رضی الله عنه) ئے ورودانګل هغه ئے ونیولو، ومے تړلو او نبی علیه السلام ته ئے راوستو چه دا ستا تړۀ ما ونیولو۔ عباس رضی الله عنه ووئیل چه زۀ دۀ نۀ یم تړلے یو بل سړے وو چه په سرئے ویښته نۀ وو ډیر ښائسته سړے وو یو برگی اس باندے سور وو چه په خلکو کی هغه نۀ وو هغه وتړلم۔

انصاری ووئیل ما تړلے دے، نبی ﷺ ورته وفرمایل :

اُسْكُتْ فَقَدْ أَيَّدَكَ اللّٰهُ بِمَلَكٍ كَرِيْمٍ۔

چپ شه، په تحقیق سره الله تعالیٰ ستا مدد کړے په یو عزتمند ملائك سره۔

(اسد الغابة ۱/۹۳۷، والرحیق المختوم)

یو بل صحابی (ابوداود المازنی رضی الله عنه) فرمائی :

زۀ د یو مشرك پسے روان وم دے دپاره چه گوزار پرے وکړم نو زما د توری د وررسیدو نه مخکی ناڅاپه د هغه سر لاندے په زمکه پروت وو نو ما ته پته ولگیده چه دا ما نه علاوه بل چا (ملائك) قتل کړو۔ (الرحیق)

(**سوال** : الله تعالیٰ زر ملائك ولے رالیږل یو ملائك هم کافی وو؟، ټول به ئے هلاك کړی وے۔

جواب : دملائکو په رالیږلو کی امتحان وو وجه دا ده چه که داسے ملائك ئے

رالیږلې او زور ئې استعمالولې بیا خو په مسلمانانو امتحان نۀ وو، ملائکو به کافران وژلې او مسلمانانو به په آرام ناست وې۔

بلـه وجـه دا ده چـه مـلائك الله تـعالیٰ کله جنګونو ته رالیږی نو پدې سره الله تعالیٰ مسلمانان مضبوطوی۔ مشرکانو هم ملائك لیدلی وو پدې کې حکمت دا وو چه مشرکان پوهه شي چه دې خلکو سره غیبي مدد دې نو ایمان به راوړي او زر ملائك ئې راولیږل دپاره د تسلیٔ د مومنانو او ملائك چه کله جنګونو ته راځي نو بیا ئې د انسان هومره طاقت وی۔

ابلیس د سراقه بن مالک په شکل او د قتال د میدان نه د هغه تختیدل

د مکې مشرکانو سره شیطان هم د سراقه بن مالك مُدلَجی په شکل باندې ملګرې وو، کله چه نبی علیه السلام دعاګانې وغوښتلې ملائك راغلل لکه مخکې تیر شو نو ابلیس چه کله ملائك ولیدل چه په مشرکانو باندې ئې کوم کارونه وکړل نو په ځان باندې په مرګ ویریدو، د تښتیدو کوشش ئې شروع کړو او شا ئې راواړوله،

پدې وخت کې یو مشرك حارث بن هشام المخزومی (چه روستو مسلمان شویدې او په شام کې شهید شویدې) ورپورې ونښتو او ورته ئې ووئیل : اِلَى اَيْنَ يَا سُرَاقَةُ؟۔

اې سراقه چرته ځې؟ تا خو ووئیل زۀ ستاسو ملګرې یم نو هغه ئې نۀ پریښودو نو پدې وخت کې ابلیس ورته په سینه کې سوك ورکړو او حارث بن هشام ئې شاته ګوزار کړو او وتښتیدو او دا ئې ووئیل :

﴿اِنِّيْ اَرٰى مَا لَاتَرَوْنَ، اِنِّيْ اَخَافُ اللّٰهَ وَاللّٰهُ شَدِيْدُ الْعِقَابِ﴾ (انفال:٤٨)۔

زۀ وینم هغه څه چه تاسو ئې نۀ وینئ۔ زۀ د الله نه یریږم، او الله سخت عذاب ورکونکې دې۔

دا د مرګ نه طبعي یره وه۔ یا دا چه الله ما سره د قیامته پورې وعده کړې ده داسې نۀ چه مخکې مړ شم نو ابلیس وتښتیدو او ځان ئې دریاب کې وغورزولو، (الرحیق)

دلته ددۀ په تیښته په مشرکانو باندې رعب هم راغې۔

(**فائده:** ابلیس کله د انسان په شکل راځي خاصکر پیرانو او ګنده عقیدو والا خلکو ته راځي او کله ورته رڼړا وکړي وائي چه دا د الله رڼړا ده،

شیخ عبد القادر جیلانی ته شیطان راغے او کوته ئے ورته رڼړا کړه ورته ئے ووئیل چه زه الله یم ستا عبادتونه مے قبول کړل، عبد القادر جیلانی ورته ووئیل: اَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنۡكَ۔

زۀ په الله پورے ستا نه پناه غواړم۔ شیطان ورته ووئیل چه ستا په شان پیران علماء ما پدے تکی ګمراه کړیدی چه زۀ الله یم لیکن تا را نه په علم ځان خلاص کړو،

شیخ عبد القادر ورته ووئیل چه د الله په فضل درنه خلاص شوم)۔

د مشرکینو حملے شروع شوے په مسلمانانو باندے۔ بعض ایمان والا ئے شهیدان کړل،

نو رسول الله ﷺ شړے راواخستے او لاس کی ئے ونیولے او مشرکینو طرفته ئے ورګوزار کړے داسے ئے ووئیل: شَاهَتِ الۡوُجُوۡهُ۔

الله دے د مشرکانو دا مخونه بدرنګ کړی۔ مشرکین ډیر جدا وو، په لاس سره دا شړے نۀ رسیدلے لیکن الله تعالیٰ د هغوی مخونو ته ورسولے، او د هر مشرك په سترګو او سر او خُله کی واقع شوے دا د نبی علیه السلام معجزه وه۔

مشرکین پدے کار سره په تکلیف کی واقع شو، چا سترګے سولولے، چا د سرونو نه خاورے څنډلے،

الله تعالیٰ فرمائی: ﴿وَمَا رَمَيۡتَ اِذۡ رَمَيۡتَ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ رَمٰى﴾ (انفال:۱۷)۔

اے زما نبی! تا چه د خپل لاس نه شړے ګوزار کړے تا د مشرکانو سترګو ته نۀ دی رسولی لیکن الله تعالیٰ ورسولے د هغوی سترګو ته، ددے دپاره چه الله ئے مغلوبه کړی او دے دپاره چه ایمان والو سره احسان وکړی۔

نبی علیه السلام د جنګ دا ترتیب اختیار کړو چه اول ئے مشرکینو ته موقعه ورکړه چه دوی سترې شی نو بیا ئے روستو صحابه کرامو ته امر وکړو چه اُوس پرے ورځئ او ترغیب ئے هم ورکړو:

(وَالَّذِیۡ نَفۡسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهٖ، لَا يُقَاتِلُهُمُ الۡيَوۡمَ رَجُلٌ فَيُقۡتَلُ صَابِرًا مُحۡتَسِبًا مُقۡبِلًا غَيۡرَ مُدۡبِرٍ اِلَّا اَدۡخَلَهُ اللّٰهُ الۡجَنَّةَ)۔

قسم په هغه ذات چه نفس د محمد (ﷺ) د هغه په لاس کی دے ځوك چه د

مشرکانو سره جنګ وکړی او شهید شی په داسې حال کې چه صبر کونکے وی او د ثواب اراده لری او دشمن ته شا نهٔ ګرځوی نو الله تعالیٰ به ئے خامخا جنت ته داخلوی)، دا د الله تعالیٰ وعده ده۔

د سیدنا عمیر بن الحمام رضی الله عنه جنت ته پسخیدل

بله ئے دا خبره وکړه چه: (قُوْمُوْا اِلٰی جَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمٰوٰتُ وَالْأَرْضُ)۔

پاڅیږئ هغه جنت ته چه پلنوالے د هغې د آسمانونو او د زمکے نه زیات دے او پاڅیږئ هغه حورو او د جنت میوو او نهرونو ته۔

پدے کې سیدنا عمیر بن الحُمَام رضی الله عنه ووئیل: (بَخٍ بَخٍ)، واه واه !،

نبی علیه السلام ورته ووئیل: دا (بخ بخ) دے ولے ووئیل؟، هغه ووئیل: بله خبره نشته مګر د الله نه امید دے چه زهٔ د دغه جنت د وسیدونکو نه شم۔

نبی علیه السلام ورته وفرمایل: چه تهٔ د دغه جنت د وسیدونکو نه ئے، الله به تا جنت ته بوځی۔ نو عُمیر بن الحمام کجورے راویستلے خوړلے ئے بیا ئے وفرمایل که زهٔ ژوندے یم تردے چه دا کجورے خورم نو دا خو یقیناً اُوږد ژوند دے، زما خو جنت ته تلوار او جلتی ده۔ نو باقی کجورے ئے ګوزار کړے او ورمخکې شو جنګ ئے شروع کړو تردے چه شهید شو رضی الله عنه وارضاه۔ (الرحیق وغیره)

(**فائده**: د صحابه کرامو یقین ډیر زیات مضبوط وو علی رضی الله عنه به فرمایل:
لَوْ کُشِفَ لِیَ الْغِطَاءُ مَا ازْدَدْتُّ یَقِیْنًا)،

که ما ته پرده لرے کړے شی او الله وینم نو زما یقین کې به مے نوے زیادت پیدا نشی)

(روح المعانی ۱۱/۵۰)دار احیاء التراث العربی بیروت)

سیدنا عوف بن حارث رضی الله عنه تپوس وکړو چه اے د الله رسوله ! کوم عمل دے چه بنده ئے وکړی او الله تعالیٰ ورته وخاندی او الله پرے خوشحاله شی؟ نبی علیه السلام ورته وفرمایل: چه خپل لاس په دشمن کې ورننباسی یعنی اسلحه ورسره نهٔ وی او په خالی لاس ورسره جنګ وکړی یعنی دومره بهادر وی۔

نو دے صحابی توره لاس کې واخسته، په کافرو کې ورغلو جنګ ئے شروع کړو

تردے چه شهید شو۔ رضي الله عنه وارضاه۔

د ابوجهل چلبازی او بیا مرداریدل

د بدر غزا کی غته واقعه دا راغله چه ابوجهل مردار شو، ابوجهل د مشرکانو مشر وو.کله چه د مشرکانو نه ډیر کسان ووژل شول نو په هغوی رعب راغے،
نو ابوجهل خپل فوج راجمع کړو او شجاعت ئے ورکړو او ورته ئے ووئیل: تکړه شئ، دا مسلمانان د یو اُوښ په مقدار په غوښه مړیږی لږ کسان دی؛
او بله دا چه د عتبه، شیبه او ولید په مرگ تاسو ونۀ یریږئ ځکه چه هغوی جلتی وکړه او که سراقه بن مالك وتښتیدۀ نو هم مۀ یریږئ ځکه چه سراقه د محمد (علیه السلام) سره وعده د تښتیدو کړے وه۔
بل ئے دا حکم وکړو چه د دوی نه یو کس مۀ وژنئ بلکه ټول مؤمنان راونیسئ په رانیولو او په لات او عزیٰ مے دے قسم وی تر هغه وخت پورے به مکے ته نۀ واپس کیږو تردے چه په پړو کی دا صحابه وتړو او ځانِ سره ئے مکے ته بوځو۔
لیکن د ابوجهل دا تکبر ډیر زر ختم شو، پدے وخت کی دے د خپل فوج په مینځ کی وو او گیر چاپیره ترے یوه ډله ولاړه وه چه د.تورو او نیزو یو انبار ئے جوړ کړے وو لیکن د مسلمانانو د سختو حملو هواگانو مخے ته دوی ټینگ نشو نو پدے کی ابوجهل په خپل اس باندے راښکاره شو نو مسلمانانو ولیدو نو الله تعالیٰ د ابوجهل هلاکت د دوه هلکانو په لاس وکړو۔

د معاذ او معوذ په لاس د ابوجهل مرداریدل

حدیث کی راځی: سیدنا عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه فرمائی: نبی علیه السلام چه کله صفونه جوړول نو زما ښی طرفته معاذ بن عمرو بن جموح او بل طرفته معوذ بن عفراء ودرولو چه دا دواړه په مور کی شریك ورونه وو او پلاران ئے جدا جدا وو چه ما وکتل دا ملگری راته کمزوری ښکاره شو ځکه کشران هلکان وو نو زړۀ کی مے یره

راغلـه چـه ارمـان دے چه تکړه او پهلوانان ملګرے راسره وے نو ځوك به راباندے راتلے نشـوے، پـدے حـالـت کې زۀ ولاړ وم چه دا يو تن رامخکې شو او د خپل بل ملګری نه پټ ئے راته ووئيل چه اے تره ! تۀ ابوجهل پيژنے ما ته ئے وښايه ؟

ما ورتـه ووئيـل آؤ، تـۀ پـرے څـه کـوے؟، هغه ووئيل : ما آوريدلی دی چه هغه نبی عليه السلام ته کنځلی کوی، بيا ئے ووئيل : قسم په الله ! که ما وليدو زما بدن به د هغه د بدن نه جدا نشی تردے چه مړ به شي جلتی کونکے زمونږ نه۔

سيدنا عبد الرحمن وائی : ما ددۀ په خبره تعجب وکړو نو پدے وخت کې بل ملګری راباندے چونډاره ولګوله او هغه هم ددۀ په شان خبره وکړه۔

د ابـوجهـل نـه به ګير چاپيره فوج تاؤ وو او دومره تورے ترے ګير چاپيره ولاړے وی لکه ځنګل،

ابـوجهـل پـه داسے ژور ځای کی ولاړ وو لکه ګنړه ونه چه د حيوان خُله نۀ ورسيږی، د ابـوجهـل شـا او خـوا نـه کسـان کم شو نو دے رابښکاره شو چه په خلکو کی ګرزيدو نو پدے کـی مـا دے دواړو هلکانو ته ووئيل چه ستاسو هغه صاحب دغه دے د کوم په باره کې چه تاسو تپوس کولو،

سيـدنـا عبـد الـرحـمن فرمائی: نو دے دواړو هلکانو وربسے ورمنډه کړه، د مشرکينو مينځ ته ورننوتل ابوجهل په اس باندے سور وو نو پدے خپه باندے ئے ووهلو، معاذ بن عـمـرو بـن جـمـوح رضـی الله عنه فرمائی چه کله ما د ابوجهل خپه ووهله، نو خپه ئے داسے والوتله لکه د کجورے هډوکے چه په پيکو کی ووهلے شی،

(د عـربـو عـادت دا وو پـه پيـکـو کې به ئے هډوکی حيواناتو دپاره ميده کول هغه چه ووهی دانه وړاندے والوځی)۔

مـا چـه ووهـلـو خپه ئے والوتله نو ابوجهل راوغورزيدو، زخمی شو خوا کی ئے ځوی (عـکـرمـه بـن ابی جهـل چـه دا هم روستو مسلمان شويدے) ولاړ وو هغه په ما ګوزار وکـړو تـرڅـو چـه لاس ئے راله پرے کړو زما لاس غوځ شو لږ شان څرمنه ئے انښتے وه او بيا هـم مـا تـوله ورځ جنګ کـولو، يو لاس مے کټ وو، شا ته مے اچولے وو او په بل لاس مے جنګ کـولـو تـردے چـه دے لاس تـنـګ کړم نو لاس مے لاندے کيښودو او خپه مے پرے دپاسه کيښوده او د ځان نه مے غوځ کړو او ګوزار مے کړو،

(دا صحابی بیا هم ژوندی وو تردے چه د سیدنا عثمان رضی الله عنه په دور خلافت کی وفات شو، دا د ډیر کرامت خبره ده ځکه لاس چه غوځ شی په سړی بے هوشی راځی جنګ نشی کولے)۔

ابوجهل زخمی شو بل صحابی معوذ بن عفراء ورپسے ورمنډه کړه په پریوتو ئے ووهلو تردے چه ښه ئے برابر کړو او همداسے ئے پریښودو او هغه کی لا ساه موجوده وه، په جلتئ ترے ځکه راواپس شو چه ګیر چاپیره مشرکین وو، ابوجهل زخمی پروت وو پدے وخت کی لا ساه پکی وه چه دا جنګ په قلار شو،

نو معاذ او معوذ راغلل نبی علیه السلام ته ئے وفرمایل ابوجهل ما وژلے دے، هر یو دعوه وکړه چه ما وژلے دے۔

نبی علیه السلام ورته ووئیل: تاسو خپلے تورے د وینو نه صفا کړیدی ؟

هغوی ووئیل: نهٔ، چه وے کتل د دواړو تورے په وینه سرے وے، نو ورته ئے وفرمایل تاسو دواړو وژلے دے۔ بیا روستو وخت کی په همدے جنګ کی معوذ بن عفراء رضی الله عنه جنګ کولو تردے چه شهید شو۔

د ابوجهل ځای معلوم نهٔ وو، ورك وو، نبی علیه السلام وفرمایل:

لاړ شئ وګورئ چه ژوندے دے که مړ؟ او که مشرکینو ځان سره وړے دے ځکه پدے وخت کی مشرکینو شکست خوړلے وو۔

سیدنا عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی :

مونږ ورپسے ګرزیدو نو پدے وخت کی ما موندهٔ کړو او په ابوجهل کی ساه وه، لا مړ نهٔ وو نو په سینه ورته کیناستم او د ږیرے نه مے راونیولو (هغه وخت کی د مشرکانو هم ږیرے وے د ږیرے خرئیل د فارس والو رواج وو)

عبد الله بن مسعود رضی الله عنه وائی : ما د ږیرے نه راونیولو او ورته مے ووئیل : اے د الله دشمنه ! الله وشرمولے او که نهٔ ؟ ابوجهل ووئیل : دا څه شرم دے یو سړے خپل قوم ووژلو۔ او دا ئے ورته ووئیل: وَهَلُ فَوْقَ رَجُلٍ قَتَلْتُمُوهُ) آیا زما نه په غیر بل غټ سړے تاسو وژلے دے؟۔ ددهٔ ګمان دا وو چه زهٔ ډیر غټ سړے یم چه ووژلے شوم۔

یا دا چه زما په شان بل غټ سړے خوك دے چه تاسو وژلے دے بس صرف زهٔ مو قتل کړم۔او دا ئے ووئیل : نن غلبه د چا شوه؟۔ عبد الله بن مسعود رضی الله عنه ورته

ووئیل: غلبه د الله او د رسول شوه۔
بیا ئے عبد الله بن مسعود ﷺ ته وویل : (لَقَدِ ارْتَقَیْتَ مُرْتَقًی صَعْبًا یَا رُوَیْعِیَ الْغَنَمِ)
تـهٔ خـو داسـے سخت ځـای ته ختلے ئے چه داسے ځای ته څوك نشي ختلے، یعنی زما سینـے تـه خو څوك نشو ختلے۔ اے د ګډو بیزو څرونکیه! ځکه چه عبد الله بن مسعود به په مکه کی ګډے بزے څرولے۔ بیا ابوجهل ارمان وکړو : (فَلَوْ غَیْرَ أَکَّارٍ قَتَلَنِیْ)
ارمـان چه دے زمیـدارو نـهٔ وے وژلے ډیـر به ښه وو، چه محمد (رسول الله ﷺ) وژلے وے ښه کار به وے۔ غرض ئے دا وو چه د غټ سړی دلاسه وژلے شوے نو دومره خفګان به نهٔ وے ځکه چه د کمزوری سړی د لاس نه مړ کیدل ډیر خفګان وی۔
ددے خبرو اتـرو نـه روستو ترے سیدنا عبد الله بن مسعود ﷺ سر غوڅ کړو، ذبحه ئے کړو۔
(فـائـده: ددینه معلومه شوه چه غټ کافر ذبح کولے شی لکه الله فرمائی : ﴿فَاضْرِبُوْا فَوْقَ الْأَعْنَاقِ﴾ (انفال:۱۲)۔ په څټ ئے ووهئ۔
سیـدنـا عبـد الله بـن مسعـود رضـی الله عنه راغـے نبی علیه السلام ته ئے ووئیل چه ابوجهـل مـا قتـل کـړو نبی علیه السلام د ډیر تعجب نه هغه ته درے ځل قسم ورکړو چه رشتیا مړ دے ؟ مـا ورتـه وویـل : چـه قسـم په هغه الله چه د هغه نه سِویٰ حقدار د بنـدګـئ نشتــه چه خامخا مړ دے۔ بیا نبی علیه السلام وفرمایل : ما ته ئے وښایئ چه راغـے وے لیدهٔ نو وے فرمایل:
اَللّٰهُ اَکْبَرُ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ صَدَقَ وَعْدَهٗ وَنَصَرَعَبْدَهٗ وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهٗ۔ او وے فرمایل: هٰذَا فِرْعَوْنُ هٰذِهِ الْأُمَّةِ۔ دا ددے امت فرعون دے۔
د بیهقی په یو روایت کی دی چه رسول الله ﷺ د شکر سجده وکړه۔
(السیرة النبویة لابن کثیر ۲/ ٤٤٤)
نبی علیـه السـلام د سیـدنـا موسیٰ علیـه السلام سره مشابـه وو، امت ئے د بنی اسرائیلو سره او قریش د قبطیانو سره او ابوجهل د فرعون سره مشابه وو پدے وجه په قرآن کریم کی د موسیٰ علیه السلام واقعه ډیره ذکرده۔
مشـرکیـن د بـدر نه وتبنتیدل اویا کسان ترے مردار شول او اویا کسان ئے ترے ونیول او لـویـه فتـح مسلـمانـانـو تـه په برخهٔ شوه۔ په بدر غزا کی د مسلمانانو نه څوارلس

کسان شهیدان شول، شپږ کسان مهاجرین او اته کسان د انصارو نه او دا شهادت هم فتح وه ځکه دا غټه کامیابي وه (فُزْتُ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ)

د مشرکینو نه اویا (۷۰) کسان ووژل شو او څلیریشت کسان پکی د مکې غټ مشران وو، مخوریز، مالداره، سرداران وو، اویا کسان ئې ترې ژوندي ونیول او قیدیان ئې کړل۔

او بعضو تاریخونو کې دا دي چه نوي کسان ئې ترې نیولي وو،

مشهور تاریخ دا دې چه اویا کسان وو، مشرکین زر کسان وو د هغوی دپاره دا ډیر لوی شکست وو، ډیر اُوښان او سامانونه ترې ونیول شو، نبی علیه السلام دعا کړې وه چه اې الله ! دا زما ملګري بربنډ دي ته ورله جامې ورکړه یا الله ! دا زما ملګري خپې ایبله دي ځپلۍ ورکړه، سورلي نشته دوی ته سورلۍ ورکړه، کمزوري دي ته ئې مدد وکړه، دا دعاګانې مستجابي وې، الله تعالیٰ غلبه ورکړه او غنیمتونه ورته ډیر ملاو شو۔

د بدر په غزا کې د ایمان عجیبه قصې

د غزوۀ بدر روائع الایمان (یعنی د ایمان تعجبي قصې) چه څه په غزوه کې دننه او څه بهر راپیښې شوې۔

مخکې د عُمیر بن الحمام او د عوف بن الحارث بن عفراء رضی الله عنهما د ایمان عجیبه نمونې تیرې شوې اوس دلته نورې ذکر کیږي :

(۱) یو د هغې نه دا وه چه نبی علیه السلام د غزا د شروع نه مخکې ملګروته دا خبره وکړه چه د مکې نه څه کسان راوتي دي چه د جنګ اراده ئې نۀ ده او مشرکینو په زوره راویستلي دي نو په دوی کې یوڅو کسان دي هغه به نۀ وژنۍ یو د هغوی نه بنو هاشم دي چه د نبی علیه السلام خاندان دې دا نرم خلك وو، د نبی علیه السلام خپلوان هم وو نو د دوی دا اراده نۀ وه چه دوی جنګ ته لاړ شي لیکن ابوجهل په زوره راویستلي وو، بنو هاشمو به مشوره وکړه چه واپس کیږو نو ابوجهل به وئیل دا قبیله به زمونږ نه نۀ جدا کیږي۔

دویم : ابوالبختري بن هشام یو مشرك وو دا به نۀ وژنۍ، ددۀ وجه دا وه چه دا په مکه

کی نرم کافر وو، نبی علیه السلام ته به ئې ضرر نهٔ ورکولو، اخلاق هم ښه شې دې، یو د خیر کارئې هم کړې وو هغه دا چه د نبی علیه السلام په خلاف چه مشرکینو کومه صحیفه (کاغذ) لیکلې وه د بائیکاټ نو دهٔ د هغه صحیفې او عهد په ماتولو کی کوشش کړې وو لکه دا واقعه مخکښې ذکر شویده.

بزار او طبرانی د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت راوړیدې چه یو ځل رسول الله ﷺ په مسجد کی وو او ابوجهل او شیبه او عتبه او عقبه بن ابی معیط او امیه بن خلف او دوه سړی نور اوه کسان په حجر (حطیم) کی ناست وو،

رسول الله ﷺ په مانځه ودریدو نو ابوجهل وویل چه څوك به د فلانی سړی د اُوښ پړیوانونه او ګندونه راوړی چه په محمد ئې واچوی نو بد بخته عقبه بن ابی معیط لاړو او هغه ئې راوړل او په محمد ﷺ ئې په حالت د سجده کی واچول،

ابن مسعود رضی الله عنه فرمائی چه زما هیڅ وس نهٔ کیدو نو پدې کی فاطمه خبره شوه راغله او هغه ئې ترې لرې کړل بیا نبی علیه السلام دې قریشو ته ښیرې وکړې او د مسجد نه راووتو نو ابوالبختری بن هشام ورسره ملاؤ شو چه امسا ورسره وه او تکیه ئې پرې وهله، هرکله ئې چه نبی علیه السلام ولیدو نو د هغه مخ ورته ناشنا ښکاره شو تپوس ئې ترې وکړو څه وشو ؟

نبی علیه السلام ورته وویل: ما پریده، هغه وویل: قسم په الله زهٔ دې نهٔ پریدم تردې چه ما ته خبر راکړې چه څه شویدی؟ تا ته خو څه تکلیف رسیدلې دې، هرکله چه نبی علیه السلام پوهه شو چه نهٔ مې پریدیٔ نو هغه ته ئې خبر ورکړو چه ابوجهل حکم کړې وو چه په ما باندې خوشیان راواچوی، ابوالبختری وویل: مسجد ته راشه، نبی علیه السلام انکار وکړو نو ابوالبختری د لاس نه ونیولو او مسجد ته ئې ننویستو، بیا ابوجهل ته متوجه شو ورته ئې وویل: اې ابوالحکم! تهٔ هغه سړې ئې چه تا په محمد باندې حکم کړې چه په دهٔ باندې خوشیان واچولې شی؟، هغه وویل: آؤ، نو ابوالبختری امسا پورته کړه او د ابوجهل سرئې پرې ووهلو، نو دغلته ناست سړی خپل مینځ کی یو بل پسې راپورته شو، نو ابوجهل چغه کړه چه خوار شئ، د محمد راده ده چه زمونږ ترمینځ دشمنی واچوی او دې او دهٔ ملګری بچ پاتی شی.

نو دا احسان هم د رسول الله ﷺ یاد وو.

(**فائده** : اسلام د اخلاقو دین دے یو کافر نرمی او اخلاق کوی مونږ به هم اخلاق کوو).

بل ئے دا وئیلی وو چه عباس (رضی الله عنه) به نهٔ وژنې ځکه هغه په زوره راویستلے شویدے، عباس د مخکې نه په مکی دور کی د رسول الله ﷺ مددګار دے ځکه چه ترهٔ ئے وو او پټ ئے اسلام هم راوړے وو نو ددهٔ قتل جائز نهٔ وو. لیکن فدیه ئے ترے اخستے وه.

یو صحابی د عتبه ځوی سیدنا ابوحذیفه رضی الله عنه د هغه د خُلے نه لږه غلطه خبره ووتله او دا ئے ووئیل مونږ پلاران ځامن ورونه او خپلوان وژنو او عباس به پریدو قسم په الله که زهٔ ئے وینم، زهٔ به ئے په توره غوښے غوښے کړم او په خُله کی به ورته دا توره ورننباسم. نبی علیه السلام ته دا خبره ورسیدله نو هغه پدے خبره خفه شو او عمر رضی الله عنه ته ئے خطاب وکړو:

(يَا أَبَا حَفْصٍ! أَيُضْرَبُ وَجْهُ عَمِّ رَسُوْلِ اللّٰهِ (ﷺ) بِالسَّيْفِ؟).

اے عمره! آیا د نبی د ترهٔ مخ دے په توره وهل کیږی حال دا چه هغه په زوره راویستل شویدے؟. نو سیدنا عمر رضی الله عنه ووئیل:

دَعْنِيْ فَلَأَضْرِبُ عُنُقَهُ بِالسَّيْفِ، فَوَاللّٰهِ لَقَدْ نَافَقَ).

ما پریده چه دا څټ ورله ووهم، قسم په الله دے منافق شویدے.

لیکن سیدنا ابوحذیفه رضی الله عنه پدے خبره سخت پښیمانه شو.

هغه وائی : د دغه کلمے نه زهٔ همیشه ویریدم کومه چه ما په دغه ورځ کړے وه نو هر وخت به ئے الله ته توبه ویستله او وئیل به ئے زهٔ ددے خبرے نه ویریږم مګر دا چه شهید شم او شهادت زما نه دا ورژوی نو بیا د سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه په خلافت کی د مسیلمة الکذاب سره په مقابله کی د یمامه په جهاد کی شهید شو.

دا بدری صحابی دے، هسے هم معاف دے.

(۱ - فائده: د رسول الله ﷺ د خبرے په مقابل کی به په خپله رایه نهٔ کلک کیږی.

۲ فائده: ایمان والو صفت دا دے چه د دوی نه کله غلط کار وشی بیا پرے زر پښیمانه کیږی).

(۲) - **دویمه واقعه** د ابوالبختری مرګ راغے، یو صحابی د ابوالبختری سره جنګ کی ملاو شو، ددے صحابی نوم مُجَذَّر بن زیاد اَلْبَلَوِیّ رضی الله عنه. مجذر

ابو البختری ته ووئیل رسول الله ﷺ مونږ ستا د قتل نه منع کړی یو، زهٔ تا نهٔ وژنم،
د ابو البختری سره ملګرے وو، ابو البختری ووئیل زما ددے ملګری استثناء ئے هم کړے ده که صرف زما؟۔ صحابی ورته ووئیل : صرف ستا باره کی ئے وئیلی دی چه دے به نهٔ وژنئ او ستا ملګرے مونږ نشو پریښودے، نو ابو البختری ووئیل که زما دا ملګرے نهٔ وژنئ صحیح ده او که دا نهٔ پریدئ، زهٔ جنګ کوم، زهٔ به ددهٔ سره شریك مرم، مجذر راولګیده هغه ملګرے ئے ورله ووژلو نو دے به مخے مخے ته کیدو دهٔ هم جنګ کولو تردے چه مجذر رضی الله عنه ددهٔ وژلو ته هم محتاج شو۔
د ابو البختری بد بخت دپاره ملګرے غم او غضب وګرځیدو۔
(فائده: د صحابه کرامو د خپل نبی تابعداری وګوره چه په جنګ کی هم څومره تابعداری کوی۔
۲: فائده: په جنګونو کی د نرم او سخت کافر فرق کول او د زړو احساناتو یادول پکار دی۔

(۳) **دریمه واقعه** دا راغله :

صحیح بخاری کی راغلی دی چه د عبد الرحمن بن عوف او د امیه بن خلف په جاهلیت زمانه کی په مکه کی دوستانه وه چه امیه به په مکه کی د عبد الرحمن د نفس او د مال حفاظت کوی او عبد الرحمن به ئے په مدینه کی کوی۔
هرکله چه دا جنګ د کفارو په شکست تمام شو، مشرکانو منډے وهلے نو امیه بن خلف چه د مشرکینو یو مشر وو، دے او د هغه ځوی په یو ځای کی ولاړ وو، په بد حالت کی وو، رعب پرے وو۔
عبد الرحمن بن عوف وائی زهٔ پرے ورتیرشوم ما د مشرکانو نه زغرے راجمع کړے وے د غنیمت دپاره نو امیه راته آواز اوکړو یَا ابْنَ عَوْفٍ ! أَمَا لَكَ رَغْبَةٌ فِيَّ)۔
په ما کی څه حاجت نهٔ لرے چه ما ونیسے او قیدی مے کړے (دوی د رحمن نوم بد ګڼړلو ځکه ئے یا عبد الرحمن بن عوف ونهٔ وئیل) اُوښانو ته موحاجت نشته چه ما ونیسی او بیا ئے زهٔ په فدیه کی درکړم؟، قسم په الله د نن ورځ په شان ورځ ما نهٔ ده لیدلے چه دا خلك صرف وژل کوی او قیدیان نهٔ نیسی، اُوښان نهٔ غواړی
نو عبد الرحمن بن عوف وائی : ما زغرے وارتولے او دا دواړه مشرکان مے ونیول،

امیه بن خلف او د هغه ځوی علي.

عبد الرحمن وائي : زۀ ددے دواړو ترمینځ روان وم چه پدے وخت کی ما ته امیه بن خلف وویل: (مَنِ الرَّجُلُ مِنكُمُ الْمُعْلِمُ بِرِيشَةِ النَّعَامَةِ فِي صَدْرِهِ؟) ـ په تاسو کی هغه سړے څوك وو چه په خپله سینه کی ئے د شتر مرغ د بڼرے نښه ایخودے وه؟)

ما ورته وویل : هغه حمزه بن عبد المطلب وو. امیه وویل :

(ذَاكَ الَّذِي فَعَلَ بِنَا الْأَفَاعِيلَ) دا هغه سړے وو چه دۀ په مونږ باندے دغه کارونه وکړل یعنی پوره ئے غرق کړو او زمونږ نه ئے ډیر کسان ووژل.

عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه وائي: پدے وخت کی زۀ روان وم چه د بلال رضی الله عنه نظر په امیه بن خلف ولګیدۀ څکه امیه بن خلف بلال ته په مکه کی ډیر عذابونه ورکړی وو، کانړی به ئے پرے په خیته کینښودل وغیره وغیره.

سیدنا بلال آواز وکړو :(رَأْسُ الْكُفْرِ أُمَيَّةُ، لَانَجَوْتُ إِنْ نَجَا) د کفر سر امیه دے، الله دے ما له نجات رانکړی که دا چرته ژوندے پاتی کیږی، اے ملګرو راجمع شئ چه مړ ئے کړو. عبد الرحمن بن عوف وائي ما بلال ته ووئیل چه دا زما قیدی دے ما نیولے دے، پدے زۀ خپله فائده اخلم نو بلال بیا چغه کړه : لَانَجَوْتُ إِنْ نَجَا).

نو د انصارو یوه ډله راجمع شوه او زمونږ پسے شو، زما خبرے ته ئے غوږ نۀ اینښودلو نو مونږ دواړه داسے راګیر شو لکه څرمنه کی چه سړے راګیر شی، ما امیه ته ووئیل منډه کړه لیکن ددۀ بدن غټ وو، منډه ئے نشوه وهلے نو ما مسلمانانو ته د هغه ځوی پریښودو چه دا به مړ کړی مسلمانان به په دۀ مشغوله شی او امیه به زۀ بچ کړم نو مسلمانان پرے راجمع شو او هغه ځوی ئے ورله مردار کړو.

نو ما امیه ته ووئیل ځان خلاصوه نو هغه چغه کړه ما ورته ووئیل ځان خلاصوه د بچی غم مۀ کوه، زما ګمان نۀ دے چه تۀ خلاص شے نو پدے حال کی مسلمانان په مونږ پسے راورسیدل ما مسلمانانو ته ووئیل دا مۀ وژنئ، زما قیدی دے لیکن مسلمانان چرته ایساریدل نو ما امیه ته ووئیل څمله هغه څملاستو، نو زۀ د هغه دپاسه څملاستم نو صحابه کرامو زما نه لاندے په تورو باندے په خیته کی ووهلو تردے چه دومره ئے ډیر ووهلو چه زما خپه ئے هم ورسره ووهله او زما لاندے ئے مړ کړو. صحابه کرامو به دغه اثر د زخم د عبد الرحمن په خپه کی لیدلو.

عبد الرحمن بن عوف به وئیل الله دے په بلال رحم وکړی ددهٔ د لاسه زما زغری هم لاړے او قیدیان هم لاړل۔

سیدنا حباب بن المنذر او سیدنا خبیب بن یساف (یا اساف) رضی الله عنهما دواړو په شریکه امیه په تورو باندے د عبد الرحمن د لاندے ووهلو نو پدے وخت کی امیه بن خلف یو سخت گوزار خبیب بن یساف ته ورکړو چه لاس ئے ورله د اُوگے نه وخیژولو چه بیا روسته نبی علیه السلام خپل ځای ته واپس کړو او بیخی جوړ شو۔

امتاع الاسماع ۱۲/۱۵۹) وابو نعیم فی دلائل النبوة ۲/۲)

(فائده: د صحابه کرامو جذبه د الله د دین دپاره ډیره عجیبه وه۔

۲: خپل ملگرے بچ کول او کافر وژل۔

۳: اسلام کی قانون دا دے چه کافر ته مسلمان امان ورکړی هغه به په امن وی لیکن دلته عبد الرحمن امیه ته امن نهٔ وو ورکړے بلکه صرف د قیدی کولو دپاره ئے نیولے وو، امان دیته وائی چه مسلمانانو ته اعلان وکړی چه فلانی کافر ته ما امان ورکړے دے تاسو ورته څه مهٔ وایئ، دلته خو امیه جنگ له راغلے دے، امن ورکول دهٔ ته نهٔ صحیح کیدهٔ صرف قیدی کول ئے جائز وو۔

٤: امیه هغه سړے وو چه نبی علیه السلام ددهٔ په باره کی وئیلی وو چه تهٔ به زمونږ دلاسه مرے، دا دے مردار شو او د نبی علیه السلام خبره په دهٔ کی رشتینی ثابته شوه۔

(٤) **واقعه** : په بدر کی بله واقعه دا راغله چه د سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه یو ځوی (عبد الرحمن) کافر وو په یو ځای کی ولاړ وو نو ابوبکر صدیق ورته ووئیل اے خبیثه! هغه زما مال دے څه کړو؟ هغه ورته شعر ووئیلو: ۔

لَمْ يَبْقَ غَيْرُ شَكَّةٍ وَيَعْبُوبْ	وَصَارِمٍ يَقْتُلُ ضُلَّالَ الشِّيَبْ

ستا په مال کی هیڅ پاتی ندی مگر یو اَس او توره چه ستا په شان (والعیاذ بالله) گمراه بوډاگان پرے وژنو۔

سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه د هغه د قتل اراده کوله، روستو زمانه کی بیا عبد الرحمن ایمان راوړو، نو خپل پلار ابوبکر ته ئے ووئیل چه د بدر د غزا په ورځ تهٔ یو ځای کی ما ته په مخه راغلے، زهٔ پدے قادر وم چه دا خپل پلار په توره ووهم لیکن ما پریښودے، د پلار ولئ لحاظ مے وکړو، سیدنا صدیق اکبر رضی الله عنه ورته وفرمایل:

قسم په الله که تهٔ زما د تورے لاندے راغلے وے نو تهٔ به ما نه ژوندے نهٔ وے خلاص شوے ما په تا باندے د خوی والی د وجه نه رحم نهٔ کولو۔

دیته وئیلے شی الولاء والبراء۔ د الله دپاره دوستی او دشمنی۔ او دا د ایمان ډیره مضبوطه کړئ ده۔

(۵) **واقعه** : د بدر په غزا کی د عمر بن خطاب ﷺ مخے ته د هغه ماما عاص بن هشام بن المغیرة راغے؛ هغه ئے په توره ووهلو او مردار ئے کړو، د الله د دین دپاره ئے خپل ماما قتل کړو۔

٦- **واقعه** : نبی علیه السلام په خپل عریش کی ناست وو، سعد بن معاذ رضی الله عنه د هغه څوکیداری کوله څکه د مشر حفاظت پکار دے۔

صحابه کرامو قیدیان راوستل نو سعد رضی الله عنه خفه شو نبی علیه السلام ورته وفرمایل چه شاید چه تهٔ ددے خلکو پدے کار خفه ئے؟ نو سعد رضی الله عنه ورته ووئیل چه اے د الله رسوله ! دا اولنئ معرکه ده د کفارو سره نو پدے کی د کفارو وینه تویه کول غوره او بهتره ده د قیدی کولو نه. نو نبی علیه السلام سعد ته شاباسے ورکړو او دعاء ئے ورته وکړه څکه دا د ایمان جذبه ده۔

(۷) بله واقعه دا راغله چه عُکاشه بن مِحُصَن الاسدی صحابی (چه په هغه اویا زره کسانو کی داخل دے چه بے حسابه او بغیر د عذاب نه به جنت ته داخلیږی)۔

عکاشه نبی علیه السلام ته راغے او ورته ئے ووئیل اے د الله رسوله! زما توره ماته شوه، ډیر مشرکان مے پرے ووهل. نبی علیه السلام یو لرگے راواخستو او ورئے کړو چه دا واخله او پدے قتال کوه دا د نبی علیه السلام معجزه وه او ددے صحابی کرامت وو نو د دغه لرگی نه اُوږده تکه سپینه توره جوړه شوه او پدے باندے ئے ډیر کافران ووژل او مسلمانانو به دے توری ته اَلْعَوْن نوم ایښودو یعنی د مدد توره۔

پدے سره د مسلمانانو مدد وشو۔ او دغه توره د عکاشه سره تر ډیرے مودے پورے وه په هر جنگ کی به ئے استعمالوله تردے چه د ابوبکر صدیق په زمانه کی د مرتدینو په جنگونو کی شهید شو او دا توره د هغه سره وه۔

(الرحیق المختوم)

(**فائده** : کرامت د ولی په اختیار کی نهٔ وی او دعوه به نهٔ کوی بلکه کرامت به

پټوی، مقصد په کرامت کې دا وی چه د مؤمن ایمان مضبوط شی، او معجزه د عادت خلاف کار دے د نبی د نبوت د اظهار دپاره وی)

(۸) - د مصعب بن عمیر قصه

د بدر په غزا کې بله واقعه دا راغله چه کله معرکه خلاصه شوه نو مصعب بن عمیر په لاره روان وو یو انصاری صحابی د مصعب بن عمیر ورور (ابوعزیز بن عمیر) راخملولے وو او تړلو ئے، مصعب بن عمیر هغه انصاری صحابی ته ووئیل چه دا زما ورور د دواړه لاسونو نه کلك وتړه، ددهٔ مور سره ډیرے پیسے او سامان دے کیدے شی چه هغه ئے ستا نه په فدیه کې خلاص کړی۔ نو ابوعزیز بن عمیر خپل ورور مصعب ته کیله وکړه چه اے زما وروره! (أَهٰذِهِ وَصَاتُكَ بِيْ؟) تهٔ دے پردی سړی ته زما په باره کې دا وصیت کوے؟ مصعب بن عمیر ورته ووئیل: زما ورور دا انصاری دے، تهٔ زما ورور نهٔ یے، ځکه تهٔ مشرك یے او دا زما د اسلام ورور دے۔

(دیته د ایمان غیرت او الولاء والبراء وائی او دا کامل او مُنجی ایمان دے)

د ابوحذیفه ﷺ په خپل پلار باندے خفگان

(۹) بله واقعه دا راغله چه کله مشرکان د بدر کوهی ته گوزار کړے شول نو پدے کې د سیدنا ابوحذیفه صحابی پلار عتبه بن ربیعه راښکلے شو نو پدے وخت کې رسول الله ﷺ د هغه د ځوی مخ ته وکتل چه په مخ ئے د خفگان آثار ښکاره شو، نبی علیه السلام ورته وفرمایل: شاید چه د پلار په باره کې دے څه شك پیدا شو؟ (د هغه په مرگ خفه شوے؟) هغه ووئیل: یارسول الله زهٔ د خپل پلار د کفر او قتل په باره کې شك نهٔ کوم دا ښه کار وشو، (زهٔ د الله په نبی او صحابه کرامو باندے اعتراض نهٔ کوم چه دوی ولے قتل کړو، مشرك وو د مرگ لائق وو) لیکن زهٔ خفه پدے یم چه زما پلار ډیر قدرمند، عقلمند، په خبره پوهیدونکے او رائے والا وو، زما دا امید وو چه ددهٔ دا عقلمندی، صبر او بردباری به ئے اسلام ته راکاږی او مسلمان به شی ځکه حق ته

عقلمند خلك راځي. هركله چه دے په كفر باندے مړ شو نو زۀ پدے خفه شوم چه دۀ ته د ايمان توفيق ولے ورنكړے شو، نو نبي عليه السلام دۀ ته ووئيل دا خبره دے ښه وكړه او هغه ته ئے د خير دعا وكړه.

(**فائده:** د كافر او د مشرك په قتل به خوشحالي كوے او خفګان به نۀ كوے چه دا بى ايمانه مړ شو، د چا د پلار مور بى عزتي چه وشي د هغه سړي په مرګ سړے خوشحاليږي بلكه خپله ئے وژني نو چه د الله بى عزتي كوي، د رسول الله ﷺ بى عزتي كوي نو د هغه په مرګ په طريق اولىٰ خوشحاليدل پكار دي، الله تعالىٰ خپله د كافرو په وژلو خوشحاليږي، دا د صوفياؤ او عواموناپوهو تبليغيانو غلطه خبره ده چه وائي زمونږ نه به د كافر په باره كي تپوس كيږي چه ولے بى ايمانه د دنيا نه لاړو).

(۱۰)- بله دا چه د بدر غزا كي مشركين او مؤمنان يو بل ته كم ښكاره كيدل يو خو په خوب كي نبي عليه السلام ته مشركان كم ښودل شوي وو، دويم دا چه كله دوي يو بل سره مخامخ شو، مومنانو ته مشركان كم ښكاره كيدل، صحابه كرامو يو بل ته ووئيل چه دا مشركان خو اويا كسان دي، زر كسان ورته اويا ښكاره كيدل او مشركينو ته مؤمنان كم ښكاره كيدل او صحابه خو په حقيقت كي كم وو نو مشركان زړور شو نو مؤمنان هم راززړور شو دا كار د جنګ د شروع كيدو نه مخكي وو.

او كله چه حمله شروع شوه نو يو بل ته ډير ښكاره كيدل :

﴿قَدْ كَانَ لَكُمْ آيَةٌ فِي فِئَتَيْنِ الْتَقَتَا فِئَةٌ تُقَاتِلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَأُخْرَىٰ كَافِرَةٌ يَرَوْنَهُم مِّثْلَيْهِمْ رَأْيَ الْعَيْنِ﴾ (آل عمران: ۱۳).

يو بل ته ډير ښكاره شو دے دپاره چه د الله تعالىٰ طاقت ورته ښكاره شي.

په بدر كي درے ورځے ايساريدل - او هلته واقعات

د نبي عليه السلام طريقه مباركه دا وه چه يو ځاى كي به ئے فتح وكړه هلته به درے ورځے ايساريدو چه خلك ونۀ وائي چه وتښتيدۀ نو نبي عليه السلام په بدر كي د صحابه كرامو سره ايسار شو او درے ورځے ئے تيرے كړے چه دلته بيا څو واقعات راغلل.

(۱) اول دا چه نبی علیه السلام د هغه مشرکانو خوا ته ورغے چه مردار شوی وو او په میدان کی پراته وو ورته ئے وفرمایل: تاسو د خپل نبی دپاره ډیره بده قبیله او قوم وئ څکه تاسو زما تکذیب وکړو او نورو خلکو په ما ایمان راوړو،

(بهرنی خلك زما تصدیق کوی او تاسو زما خپل قوم تکذیب کوئ)

او تاسو زۀ د خپل کلی نه ویستلم او نورو خلکو راسره مدد وکړو او ځای ئے راکړو، (تاسو داسے ناکاره خلق یئ څکه الله تباه کړئ، دے خبرو کی نکته دا وه چه خلك دا ونۀ وائی چه دا څنګه پیغمبر دے خپلوان او قومیان ئے قتل کړل، دوی ته دعوت پکار وو، کیدے شی چه الله روستو ښه کړی وے او ایمان ئے راوړے وے)۔

لکه دا خبره امیه بن الصَلت مشرك کړے وه چه دا څنګه نبی دے چه دومره کسان ئے ووژل۔

امیه بن الصلت د پخوانو کتابونو عالِم وو او شاعر هم وو او د توحید عقیده ئے هم وه، شرك ئے هم نۀ کولو او په مشرکینو به ئے ردونه هم کول، نبی علیه السلام به کله کله د امیه بن الصلت شعرونه آوریدل هم څکه د توحید اشعار ئے وو، نبی علیه السلام ددۀ په باره کی فرمایلی وو: (آمَنَ شِعْرُهُ وَ كَفَرَ قَلْبُهُ)۔

امیه داسے انسان دے چه شعرونه ئے مسلمان دی او زړۀ ئے کافر دے۔

د امیه بن الصلت دا اراده وه چه آخری نبی کوم راځی هغه به زۀ یم، دا خیال ئے لرلو، ثقیف قبیلے والو ته ئے د آخری نبی خبر هم ورکړے وو او خپله ئے ددے طمع لرله. شام ته تلے وو چه راواپس شو د بدر غزا شوے وه نو دۀ ووئیل: دا پیغمبر نۀ دے څکه چه دا خپل قوم ئے ولے وژلو؟ نو د کفر خبره ئے وکړه او پدے حالت د کفر کی بیا مردار هم شو۔

نبی علیه السلام چه دا خطاب وکړو پدے کی اشاره وه چه زۀ حق نبی یم څکه مے د خپل قوم سره جهاد وکړو، که زۀ حق نبی نۀ وے نو بیا د دنیا د طریقے مطابق پکار خو دا وه چه ما قومیت کړے وے او د دوی سره مے احسان کړے وے۔

(۲) بل کار دا وشو چه درے ورځے روستو نبی علیه السلام امر وکړو چه د مشرکینو دا جُثی راکاږئ او یو کوهی ته ئے وغورځوئ څکه د مشرك جُثه هم پتول پکار دی، په غیر د امیه بن خلف نه چه هغه ئے راښکلو نو هغه سخا شوے وو او ډیر پیړ وو نو هغه باندے ئے پدے میدان کی خاورے راواړولے، مشرك ته به غسل نۀ ورکوی صرف خاورے

به پرے راوا روی۔

کله ئے چه کوهی ته گوزار کړل نبی علیه السلام ورغلو او خبرے ئے ورسره شروع کړے او یو یو ته ئے په نوم او د پلار په نوم آواز وکړو:

(یَا فُلَانُ بْنُ فُلَان، یَا فُلَانُ بْنُ فُلَان! أَیَسُرُّکُمْ أَنَّکُمْ أَطَعْتُمُ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ؟)

اے فلانی ځوی د فلانی! آیا تاسو پدے خوشحالیږئ چه تاسو د الله او د رسول تابعداری کړے وے؟ یعنی اُوس به پسے ارمانونه کوئ خو وخت درنه تیر شو۔

او دا ئے ورته ووئیل: هَلْ وَجَدْتُمْ مَا وَعَدَ رَبُّکُمْ حَقًّا)

تاسو سره چه الله کومه وعده کړے وه آیا هغه مو حق مونده کړه؟ یقیناً الله رب العزت چه مونږ سره کومه وعده د نصرت کړے وه هغه ئے پوره کړه۔

سیدنا عمر فاروق رضی الله عنه ورته وفرمایل:

(یا رسول اللّٰه! مَا تُکَلِّمُ مِنْ أَجْسَادٍ لَا أَرْوَاحَ لَهَا؟)

یا رسول الله! تهٔ څنګه دداسے خلکو سره خبرے کوے چه هغوی کی روح نشته دوی خو څه نهٔ آوری؟ نبی علیه السلام ورته وفرمایل:

(وَالَّذِیْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِیَدِهٖ مَا أَنْتُمْ بِأَسْمَعَ لِمَا أَقُوْلُ مِنْهُمْ)

قسم په هغه ذات چه نفس د محمد د هغه په لاس کی دے زهٔ چه دوی ته کومے خبرے کوم تاسو د دوی نه ډیر ښه آوریدونکی نهٔ یئ)

او په بل یو روایت کی دی:

(مَا أَنْتُمْ بِأَسْمَعَ مِنْهُمْ وَلٰکِنْ لَّا یُجِیْبُوْنَ)

تاسو د دوی نه زیات آوریدونکی نهٔ یئ لیکن دوی جواب نشی راکولے۔

علماء فرمائی: دا د نبی علیه السلام معجزه وه، قتاده رحمه الله وائی:

(اَحْیَاهُمُ اللّٰهُ حَتّٰی أَسْمَعَهُمْ قَوْلَهٗ تَوْبِیْخًا وَنَقْمَةً وَحَسْرَةً وَنَدَمًا وَتَصْغِیْرًا)۔

الله تعالیٰ پدے وخت کی خپل نبی ته دوی راژوندی کړل روح ئے پکی واچولو دے دپاره چه دوی ته زورنه او سزا ورکړی او افسوس او پښیمانتیا کی ئے واچوی او ذلیله ئے کړی)۔ نو الله تعالیٰ ورته د رسول الله ﷺ خبرے وروروسولے او ښه ئے پرے درمند کړل، هر مړے خبرے نهٔ آوری لیکن دا ئے د معجزے په شکل آورولی وو او دا صحیح حدیث دے، امام بخاری رحمه الله په خپل صحیح کی راوړیدے او مشکاة باب

المعجزات کی هم راغلی دی۔ (صحیح البخاری الطبعة الهندیة بترقیم فتح الباری : ۳۹۷٦)

او کوم څوارلس صحابه کرام چه شهیدان شوی وو د هغوی دپاره ئې قبرونه وکنستل او په سنت طریقه ئې په عزت سره دفن کړل چه هغه د شهداء المسلمین مقبره ده۔

(**فائده**: د مړو نقل کول د یو ځای نه بل ځای ته د اسلام خلاف دی او ظلم دی که نقل جائز وے دا صحابه کرام به ئې مدینې ته وړی وے او جنة البقیع کې به ئې دفن کړی وے، یو مسلمان چه په سفر کې مړ شی، د خپل کلی نه لرې مړ شی څو مره مسافه چه ددۀ د کلی پورې ده دومره زمکه الله په جنت کې ورکوی۔

د مشرکینو مکې ته واپسی - او اول خبر وړونکے

د مکې مشرکان الله تعالیٰ ذلیله کړل، وتښتیدل، په لاره ګډوډ روان وو، داسې په ترتیب نۀ وو څنګه چه راغلی وو، بلکه چا په یوه کنده کې منډې وهلے او چا په بله کې او دیرې حالت ئې وو، ذلت او رعب پرې طاری وو او خجالته هم وو چه مکې ته به څنګه داخلیږو ځکه دوی د مکې نه په ډیر تکبر وتلی وو چه وینځې به ګډه وو، شراب به څکو او د مدینې د خلکو نه به زنانه راولو۔

اولنې هغه کس چه مکې ته داخل شو د هغه نوم حَیْسُمَان بن عبد الله الخزاعی وو، دۀ مکې والو ته د قریشو د شکست خبر ورکړو، خلکو ترې تپوس وکړو :

(مَا وَرَاءَ کَ؟) ستا نه روستو څه خبر دے ؟ څه چل وشو ؟

نو دۀ ورته ووئیل : عتبه بن ربیعه، شیبه بن ربیعه، ابو جهل بن هشام، امیه بن خلف قتل شول، او دارنګه نور مشران ئې ذکر کړل، ابو البختری وغیره، کله ئې چه د قریشو ددې سردارانو نومونه اخستل خلك حیران شو چه دا سړے څه وائی د مکې سرداران او د هغوی وهل ډیره ناشنا خبره ده۔

پدې کې صفوان بن امیه د امیه بن خلف ځوی د کعبې خوا کې په حطیم کې ناست وو، دۀ ووئیل قسم په الله که دا سړے په خبره پوهیږی (دا لیونے دے) ځکه دا مشران تول مړۀ کیدل ډیره بعیده خبره ده دا څنګه کیدے شی!!۔ ددۀ نه زما په باره کې تپوس •

تپوس وکړئ (زما په حق کې به هم وائي چه دا هم په بدر کې مړ دے)۔

نو مشرکانو تپوس وکړو چه صفوان څه شو؟ نو هغه ووئیل: قسم په الله دا په دغه حجر (حطیم) کې ناست دے او قسم په الله ما ددهٔ پلار او ددهٔ ورور (علي) ولیدهٔ چه د صحابه کرامو په لاس وژل کیدل ما هغه حالت ولیدو،

خلکو باندے رعب راغے چه دا څه چل دے، ناشنا خبر راورسیدو۔ نو صفوان په ځان راکینبوډے او جامے ئے ځیرے کړے۔

ابورافع د رسول الله ﷺ مولیٰ قصه بیانوی چه مونږ پټ اسلام راوړے وو، عباس، ام الفضل، او ما۔ مونږ به د مشرکینو نه اسلام پټ ساتلو، زهٔ کمزورے سړے وم، (غلام وم) ما به غشي جوړول زهٔ د زمزم د اُوبو د حُجرے په خوا کې ناست وم یو کوټنۍ کې او دلته ام الفضل (د عباس بي بي) هم ناسته وه، مونږ پدے خبر رارسیدو باندے سخت خوشحاله شو، پدے وخت کې ابولهب راغے او ددے خیمے په خوا کې د یوے ستنے سره کیناستو او ما ته ئے شا وه او ابولهب د بدر نه پاتے شوے وو، پدے کې ابوسفیان بن الحارث بن عبد المطلب راغے (ابوسفیان د نبي علیه السلام د ترهٔ ځوی وو)

نو ابولهب ورته ووئیل وراره راشه تاسره به څه خبر وی؟ما ته د بدر خبر ووایه چه خلکو څه وکړل؟

پدے کې نور خلك هم راجمع شو ابولهب ناست وو او نور خلك ولاړ وو،

ابوسفیان خبر بیان کړو چه واقعه دا وه: (مَا هُوَ اِلَّا أَنْ لَقِيْنَا الْقَوْمَ فَمَنَحْنَاهُمْ أَكْتَافَنَا، يَقْتُلُوْنَنَا كَيْفَ شَاؤُوا، وَيَأْسِرُوْنَنَا كَيْفَ شَاءُوْا)

چه کله مونږ بدر ته ورسیدو نو مونږ دے صحابه و ته خپله شا ورواړوله نو څنګه ئے چه خوښه وه هغسے ئے مونږ قتل کولو او څنګه ئے چه خوښه وه مونږه ئے قیدیان کولو په مونږ څه چل وشو بالکل د مقابلے وس مونږ کیدو،

(وَأَيْمُ اللهِ مَعَ ذٰلِكَ مَا لُمْتُ النَّاسَ، لَقِيْنَا رِجَالٌ بِيْضٌ عَلَى خَيْلٍ بُلْقٍ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ، وَاللهِ مَا تُلِيْقُ شَيْئًا وَلَا يَقُوْمُ لَهَا شَيْءٌ)

لیکن قسم په الله زهٔ سره ددے نه په خلکو ملامتیا نهٔ اچوم، یعنی کوم خلك چه راتښتیدلی دی او کوم چه مړه شویدی په هغوی ملامتیا نهٔ اچوم قسم په الله مونږ د داسے سړو سره مخامخ شو چه سپین سړی وو د آسمان او د زمکے په مینځ کې الوتل

او په برګ بروګ اسونو سوارۀ وو او د جنګ په هیئت راغلي وو، يو شے به ئے هم نۀ پرېښودو، په کوم شی چه به ورغلل ختمول به ئے او هيڅ شے ورته نشو ټينګيدے، دا څکه مونږ شکست وخوړلو چه د دغه ناشنا مخلوق مقابله مونږ نشوه کولے.

ابورافع وائي : ما د خيمے دا طرف راوچت کړو او سر مے راښکاره کړو او ومے وئيل : (تِلْكَ وَاللّٰهِ الْمَلَائِكَةُ) قسم په الله چه دغه ملائك وو، الله رالیږلی وو.

ابورافع وائی نو ابولهب راپسے راننوتو او داسے تيزه څپيړه ئے پدے مخ راکړه چه پرمخ ئے ګوزار کړم زۀ راپاڅيدم په ابولهب مے ورمنډه کړه او پرے وروختلم نو زۀ ضعيف وم او هغه پهلوان وو نو زۀ ئے اُوچت کړم او په زمکه ئے راويشتم او په خيټه راته کيناسته او وهلم ئے نو ام الفضل د عباس رضی الله عنه بی بی راغله او د خيمے ستن ئے راواخسته او پدے سر باندے ئے ووهلو تردے چه ويني پرے رارواني کړے او دا ئے ورته ووئيل چه تا دا کمزوری وګڼړلو پدے وجه چه ددۀ مالك نشته نو پدے وخت کي ابولهب خجالته شو او ذليل روان شو.

عربو کی دا قانون وو چه د ښځو مقابله به ئے نۀ کوله.

ددے نه اوه ورځے روستو په ابولهب عدسه دانه راوختله (دا هغه دانه وه چه عربو به پدے باندے بد فالي نيوله) نو الله تعالىٰ د هغے نه مردار کړو، عدسه يوه دانه وه چه په چا به ولګيدۀ نورو خلکو به ترے ځان ساتلو غرض به ئے دا وو چه دا مرض بل چا ته نقل کيږی. بيا الله پدے طريقه مردار کړو چه واقعه ئے مخکښی تيره شويده.

(مسند البزار: ٣٨٦٦)(٩/٣١٨) والمستدرك:٣/٥٤٠ والطبرانی وغيره)

د مکے والو په ژړا پابندی

بل د تعجب کار دا وشو چه د مکے خلکو ته پوره خبر ورسيدو نو د مکے ښځو ژړا شروع کړه څکه د اکثرو کورونو نه يو يو کس مردار شوے وو او د څينو کورونو خلك نيول شوی وو نو مشرکينو ناغه او جرم ولګولو چه ژړا به بنده وی، ددے دپاره چه مسلمانان خوشحاله نشی. (په مړو ژړا د جاهليت رواج وو پدے به ئے فخر کولو په کرايه به ئے ژړا له زنانه راوستلی اسلام کی دا منع او حرام دی).

امام ابن کثیر رحمه الله لیکي : دا د الله سبحانه وتعالیٰ په دوی باندې بل عذاب وو ځکه سرې چه وژاړي، زړهٔ ئې سپك شي او چه ژړا بنده شي نو غم لا زیات شي.

بل مشرکینو دا پابندي ولګوله چه که نبي علیه السلام او ملګري ئې فدیه غواړي چه ورئې نکړئ ځکه نبي علیه السلام به زړه ور شي بیا به ډیرې پیسې غواړي نو د دغه بندیانو او قیدیانو پروا مهٔ کوئ.

د سیرت کتابونه یو واقعه لیکي چه د مکې یو بوډا سړې وو، اسود بن المطلب د هغه نوم وو، په سترګو ړوند شوې وو، د هغه درې ځامن بدر کي مردار شوي وو ابو حَکِیمَه، عُقیل او حارث. نو هلته په ژړا باندې پابندي لګیدلې وه او هلته غم ډیر زیات وو، د شپې ئې د یوې زنانه ژړا واوریدله، خپل غلام ئې د معلومات دپاره ولیږلو چه اوګوره چه آیا قریشو د ژړا اجازه ورکړې ده او هغوي په خپلو مړو پسې ژړا کوي ؟ که چرته ژړا جائز شوې وي چه زهٔ د خپلو بچو پسې وژاړم ځکه چه زما زیګر د غم نه وسوزیدو، غلام لاړو وې کتل چه یوه زنانه ده اُوښ ترې ورك شویدې په هغې پسې ژاړي، غلام راغلو خبر ئې ورکړو چه د هغې نه خو اوښ ورك دې هغې پسې ژاړي، نو اسود ووئیل چه د تعجب کار دې چه د اُوښانو پسې ژړا بنده نهٔ ده او په بدر کي چه کوم خلك مړهٔ دي هغوي پسې ژړا بنده ده بیا ئې دا اشعار ووئیل:

أَتَبْكِيْ أَنْ يَضِلَّ لَهَا بَعِيْرٌ	❁	وَيَمْنَعُهَا مِنَ النَّوْمِ السُّهُوْدُ
فَلَا تَبْكِيْ عَلٰى بَكْرٍ وَلٰكِنْ	❁	عَلٰى بَدْرٍ تَقَاصَرَتِ الْجُدُوْدُ
عَلٰى بَدْرٍ سَرَاةِ بَنِيْ هُصَيْصٍ	❁	وَمَخْزُوْمٍ وَرَهْطِ أَبِي الْوَلِيْدِ
وَبَكِّيْ إِنْ بَكَيْتِ عَلٰى عُقَيْلٍ	❁	وَبَكِّيْ حَارِثًا أَسَدَ الْأُسُوْدِ
وَبَكِّيْهِمْ وَلَا تَسِمِيْ جَمِيْعًا	❁	وَمَا لِأَبِيْ حَكِيْمَةَ مِنْ نَدِيْدِ
أَلَا قَدْ سَادَ بَعْدَهُمْ رِجَالٌ	❁	وَلَوْلَا يَوْمُ بَدْرٍ لَمْ يَسُوْدُوْا

O آیا دا ښځه ژاړي پدې وجه چه اُوښ ئې ورك شویدې او دې کار د خوب نه منع کړې ده.

O په اُوښ پسې مهٔ ژاړه بلکه په بدر پسې ژړا پکار ده چه هلته زمونږ نصیبونه او بختونه خراب شو.

O او د بني هصیص او د مخزوم په سردارانو او د ابوالولید په قوم پسې وژاړه،

Oاو كه تهٔ چرته ژړا كوے نو د عُقيل او ذ هغه حارث پسے وژاړه چه د زمرو زمرے وو۔

Oاو پدے تولو باندے هیڅ عیب مهٔ وایه او د ابوحکیمه پسے چه د هغه څوك مقابل نهٔ وو۔

Oخبردار ددے خلکو نه روستو نور خلك مشران شو او كه د بدر ورځ نهٔ وے نو نور خلك به نهٔ وے مشران شوی۔

ددے اشعارو مقصد ئے دا وو چه دا زنانه د اُوښ پسے ژاړی او حال دا چه په بدر پسے ژړا پکار ده چه په هغے کی زمونږ بختونه خراب شو۔ او زمونږ لوی لوی مشران هلاك شو، که ژاړے نو زما څوی حارث، ابوحکیمه او عقیل پسے وژاړه۔ دا شعرونه ئے غیر اختیاری ووئیل۔

الرحيق المختوم والروض الانف (٣/ ١٠٠)

(فائده: د ایمان والو نه چه څوك مړ شی دومره نهٔ خفه کیږی یو دا چه په تقدیرئے ایمان وی چه الله څه لیکلی وی بس هغه کار به کیږی بله دا چه ایمان والا په آخرت یقین لری۔ ﴿ بَلِ الَّذِيْنَ لَايُؤْمِنُوْنَ بِالآخِرَةِ فِي الْعَذَابِ وَالضَّلَالِ الْبَعِيْدُ﴾ (سبا: ٨)

(بلکه هغه کسان چه په آخرت ایمان نهٔ لری هغوی په عذاب او لرے گمراهئ کی دی) کافر په دنیا کی هم په عذاب کی دے او گمراه هم دے۔ مؤمن چه مړ شی نعمتونو ته لاړ شی۔

د صحابه کرامو مدینے ته واپسی

نبی علیه السلام چه کله د بدر نه مدینے ته روانیدو نو د صحابه کرامو ترمینځ اختلاف پیدا شو، درے ډلے جوړے شوے (۱) یوے ډلے ووئیل: غنیمتونه زمونږ حق دے ځکه مونږ دا غنیمتونه راجمع کړیدی (۲) بلے ډلے ووئیل غنیمتونه زمونږ دی ځکه چه دشمن خو مونږ زغلولے دے، مونږ ورپسے لرے تلی یو۔

(۳) دریمے ډلے ووئیل مونږ خو د محمد رسول الله ﷺ حفاظت کی ولاړ وو چه چرته کافر رانشی او هغه په غفلت کی قتل نکړی۔ پدے کی صحابه کرامو تپوس وکړو چه دا به څوك اخلی؟۔

نو د سورة الانفال ابتدائی آیتونه نازل شو :

﴿ يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْأَنْفَالِ قُلِ الْأَنْفَالُ لِلّٰهِ وَرَسُولِهِ ﴾۔

د غنیمتونو اختیار د الله او د رسول دے، او مؤمنانو ته ئے وفرمایل چه تاسو اُوچت همت وساتئ د الله نه یره وکړئ او خپل مینځ کی اتفاق، مینه او محبت پیدا کړئ او د الله او د رسول تابعداریٔ کوئ که څان ته ایمان والا وایئ۔

ایمان والا به په وړو خبرو کی فکر نهٔ کوی، د هغه همت به ډیر اُوچت وی تاسو څان کی اُوچت ایمانی صفات پیدا کړئ، غنیمت او مال خو زیاتی شے دے۔

بیا فرمائی: ﴿ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَّعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴾ (انفال:۲)۔

دا صفت د ایمان والو دے چه ایمان والا هغه خلك دی چه کله الله یادیږی نو د دوی زړونه یریږی او کله چه د هغه آیتونه په دوی باندے لوستلے شی نو د دوی ایمان زیاتوی او دوی په خپل رب باندے څان سپاری۔

نو ایمان والا چه دا صفتونه څان کی راولی نو ایمان به ئے مُنوّر شی او توکل هم اُوچت صفت دے چه د فقر او فاقے نه نهٔ ویریږی۔

﴿ اَلَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُونَ ﴾ یعنی مؤمن به د مونځونو پابندی کوی او د مال لګولو والا به وی نهٔ صرف جمع کونکے۔

﴿ أُولٰئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا ﴾ همدا صفتونو والا رشتینی مؤمنان دی۔

دا واقعه راغله او ددے نه روستوئے د تقسیم طریقه وښودله :

﴿ وَاعْلَمُوا أَنَّمَا غَنِمْتُمْ ﴾ (انفال: ٤١)

نبی علیه السلام اول کی د صحابه کرامو نه غنیمتونه راټول کړل او بیا ددے مشکل د حل دپاره الله تعالیٰ دغه آیتونه نازل کړل۔

مدینے ته خبر لیږل

نبی علیه السلام مدینے ته د روانیدو نه مخکی دوه کسان ولیږل چه تاسو مدینے والو ته زیرے ورکړئ عبد الله بن رواحه رضی الله عنه ته ئے وفرمایل: تهٔ د مدینے بر طرف

خلکو ته خبر ورکړه او زید بن حارثه رضی الله عنه ته ئې وفرمایل: ته د مدینې لاندې طرف خلکو ته خبر ورکړه نو دوی خلکو ته د فتح زیرې ورکولو۔

ددې خبر نه مخکې یهودیانو او منافقانو غلط خبرونه خوارهٔ کړی وو چه مسلمانانو ته ډیر تکلیف رسیدلې او محمد رسول الله هم ختم دې، وژلې شوید دې۔ نو دلته ئې مدینې والا ډیر پریشانه کړی وو۔

پدې کې یو منافق سیدنا زید بن حارثه رضی الله عنه لره د نبی علیه السلام په اُوښه (قَصواء) باندې سور راروان ولیدو نو خلکو ته ئې چغه کړه چه راشئ وګورئ خبره رشتیا ده چه محمد رسول الله قتل شوید دې او دغه ئې اُوښه ده چه زید بن حارثه پرې سور دې، معلومه شوه چه هغه مړ دې۔

کله چه هغه راورسیدو مسلمانان راجمع شو په زید بن حارثه باندې او د هغه نه ئې معلومات وکړو نو هغه ورته تفصیلاً زیرې ورکړو چه ابوجهل، عتبه، شیبه او ولید مردار شول چه ټول اویا کسان وو او مسلمانان روغ راواپس شو نو مدینه کې تکبیرونه شروع شو او خوشحالی کور په کور خوره شوه، او ټوله مدینه په تکبیرونو سره وخوزیدله۔

سیدنا اسامه بن زید رضی الله عنه وائی چه دا هغه وخت وو چه مونږ د رسول الله ﷺ د لور رقیه چه د عثمان رضی الله عنه بی بی وه د هغې د فن نه فارغه شوی وو او ددې د سنبالښت دپاره ئې ما او عثمان پریښې وو۔

(فائده: د نبی علیه السلام لور وفات کیږی او بیا هم د جهاد نه نهٔ پاتې کیږی ددې نه د جهاد اهمیت معلومیږی چه دومره لوی عبادت دې)۔

غنیمتونه تقسیمول

په غنیمتونو باندې ئې یو صحابی سیدنا عبد الله بن کعب بن عمرو الانصاری الخزرجی مقرر کړو، او ځان سره ئې اویا قیدیان هم روان کړل هرکله چه مضیق الصفراء نه ووتل نو هلته مخکې یوې علاقې ته ورسیدل چه د مضیق او د نازیه ترمینځ وو یوه ډیره کږه باندې کیناستل او هلته ئې غنیمتونه په مجاهدینو باندې یو شان تقسیم

کړل څلور برخې ئې مجاهدینو ته ورکړے او یوه برخه ئې بیت المال کې واچوله چه هغه هم بیرته په مسلمانانو او د نبي علیه السلام په حوائجو کې مصرف کیدل او په جهادونو کې هم بیرته خرچ کیدل۔

ټولے حصے ئې (۳۱۷) مقرر کړے او مجاهدین (۳۱۳) وو او دوه اسونه وو او د هر اس دپاره ئې دوه دوه حصے مقرر کړے نو کل (۳۱۷) شو۔

صحابه کرامؓ چه ددے طرفنه تلل نو ښپے ایبله او بربنډ وو او د هغه طرفه چه راتلل نو مالداره شوی وو، دوه دوه اوښان ئې ورسیدل او نور غنیمتونه ملاؤ شو۔

دا غنیمتونه اوښان، سامانونه، څرمنے (دسترخوانونه) او جامے وے،

(امتاع الاسماع ۱/۱۱۳)

نبي علیه السلام چه مخکې لاړو دوه کارونه ئې وکړل، کله چه صفراء علاقے ته ورسیدل نو یو کار ئې دا وکړو چه مشرکینو کې چه کوم مشرك لوی ضرری وو (یعنی نضر بن الحارث) د هغه په باره کې ئې حکم وکړو چه دا مردار کړئ، دا هغه سړے وو چه په بدر کې د مشرکانو د طرفنه جنډه دهٔ په لاس کې نیولے وه، او دهٔ به د قرآن کریم مقابلے کولے، کوم ځای کې چه به نبي علیه السلام قرآن بیانولو نو دهٔ به خلك راجمع کړل او د رستم او اسفندیار او د مهزان بادشاهانو قیصے به ئې ورته کولے او وئیل به ئې چه داسے قرآن زهٔ هم بیانولے شم۔

او رسول الله ﷺ ته به ئې ډیر ضررونه ورکول، ډیر لوی مجرم او مفسد وو، سیدنا علي رضي الله عنه توره راواخسته او د څټ د طرفه ئې ووهلو او سر ئې ترے جدا کړو۔

چه لږ مخکې لاړل عِرق الظُبیَه مقام ته ورسیدل (چه دا په صفراء کې یوه علاقه ده) نو هلته ئې یو بل مشرك عقبه بن ابی معیط قتل کړو ځکه دا ډیر لوی مجرم وو، په حرم کې ئې د نبي علیه السلام مرئ مبارکه خفه کړے وه نزدے وه چه وژلے ئې وے او په هغه باندے ئې ګندونه او د اُوښانو پریوانونه ورغورځولي وو، او د نبي علیه السلام په مخ مبارك ئې لاړے توکلے وے نو نبي علیه السلام ورته وئیلي وو چه که زهٔ تا د حرم نه بهر ونیسم نو خامخا به دے قتلوم؛ نو کله چه دے مقام ته راورسیدو نو نبي علیه السلام ته خپل نذر راياد شو نو حکم ئې وکړو چه دا قتل کړئ۔

نو علي رضي الله عنه او په بعض روایتونو کې دي چه عاصم بن ثابت الانصاری

رضی الله عنه ورته رامخکې شو چه په توره ئے ووهی نو عقبه ووئیل:
(مَنْ لِلصِّبْيَةِ يَا مُحَمَّدُ؟)۔

زما ماشومان بچی دی مکه کی د هغوی خدمت به څوك کوی؟

نبی علیه السلام ورته ووئیل چه ستا دپاره اُور دے، د بچو غم مهٔ کوه د ځان غم کوه۔

د عقبه غرض دا وو چه ما معاف کړی، دا د اسلام ډیر لوی دشمن وو، نبی علیه السلام ته ئے ضرر رسولو نو دائے هم قتل کړو۔

نبی علیه السلام قیدیان مخکی ولیږل او صحابه کرامو ته ئے حکم وکړو چه د قیدیانو سره احسان کوئ۔

د مصعب بن عمیر ورور ابوعزیز وائی: د نبی ﷺ د امر د وجه نه به صحابه کرامو خپله کجورے خوړلے او په مونږ به ئے ډوډئ خوړله، په مکه کی د غنمو ډوډئ کمه وه، زهٔ چه په کوم کور کی وم، د غنمو ډوډئ به ملاوه شوه، ما ته به ئے راکړه، ما به بیرته ورکړه، نو هغوی به بیرته مونږ ته راکړه چه نبی ﷺ امر کړیدے چه د بندیانو سره ډیر احسان کوئ، ددے احساناتو او اخلاقو په وجه ډیرو بندیانو ایمان راوړو۔

رسول الله ﷺ چه کله عِرْقُ الظُّبْيَه مقام ته راورسیدو نو پدے کی یو بل کار دا وشو چه ابو هند رضی الله عنه (مَوْلىٰ فَرْوَةَ بن عمرو البیاضی) ورله حلواء راوړه د ډیر محبت د وجه نه، نبی علیه السلام امر وکړو چه ابو هند ته جینئ په نکاح ورکړئ، او په یوه بله موقعه کی ابو هند رسول الله ﷺ لره حجامت کړے وو نو نبی علیه السلام ددهٔ په باره کی دا حکم کړے وو چه په ددهٔ باندے کوم خراج (ټیکس) دے هغه هم ترے لرے کړئ۔

دا حلواء د کجورو، ستوانو او غوړو نه جوړه وه۔

د مبارکئ وفدونه

نبی علیه السلام چه کله روحاء علاقے ته راورسیدو نو د مدینے نه مشران مسلمانان راورسیدل کوم چه د نبی علیه السلام د سترګی مشی او استقبال دپاره راوتی وو کله چه هغوی د مسلمانانو د فتح خبر آوریدلی وو۔ نبی علیه السلام ته ئے زیرے ورکولو او ډیرخوشحاله وو۔ پدے وخت کی یو صحابی سَلَمَه بن سَلَامه رضی الله عنه یو

خوش طبیعتی وکړه چه په څه زیرے راکوئ قسم په الله مونږ خو د داسے مشرکانو سره مخامخ شو لکه بوډئ ګانے ښځے چه وینسته ئے ختلی وو او د غټو غټو تړلے شوی اُوښانو په شان وو چه مونږ ذبح کړل۔

(زیرے خو دداسے خلکو په وژلو ورکول پکار دی چه قوی خلك وی)

نبی علیه السلام مُسکے شو او وے فرمایل اے ورارهٔ! تهٔ څه پوهیږے دا خو ډیر اشراف خلك وو او زورور او بهادر خلك وو۔ (لیکن الله زمونږ مدد وکړو)۔

اُسید بن حضیر هم پدے ملاقاتیانو کې راغلے وو او هغه ووئیل:

يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ أَظْفَرَكَ وَأَقَرَّ عَيْنَكَ)۔

اے د الله رسوله ! الله لره حمد دے چه تهٔ ئے په دشمن باندے کامیاب کړے او ستا سترګے ئے یخے کړے، قسم په الله که ما ته علم وے چه تهٔ د دشمن سره مخامخ کیږے نو زهٔ به د بدر نه نهٔ وے پاتے شوے، زمونږ خو دا ګمان وو چه تهٔ قافلے پسے اُوځے (او دغه وتل په دوی باندے واجب نهٔ وو)۔

(**فائده** : ددے نه مونږ ته دا فائده راوځی چه یو کار مستحب وی او د چا نه پاتی شی هغه ته به زورنه نهٔ ورکوی، صرف ترغیب به ورکوی، لکه دے غزوه د بدر ته حاضریدل مستحب وو ځکه دوی د قافلے په نیت وتلی وو، ډیر صحابه کرام په مدینه کی پاتی شوی وو)۔

نبی علیه السلام اُسید بن حضیر رضی الله عنه ته وفرمایل چه تا رشتیا ووئیل (که تهٔ نهٔ ئے تلے خو ستا نیت صحیح دے) (الرحیق المختوم)

بیا نبی علیه السلام مدینے ته کامیاب او مددکړے شوے داخل شو هر طرفته خوشحالی وه، په مدینه او ددے په ماحول کی چه کوم کافران وو هغه ډیر په یره کی وو، نو ددے وجه نه په مدینه کی ډیرو کسانو ایمان راوړو او عبد الله بن ابی ابن سلول او د هغه ملګری هم ظاهراً په اسلام کی داخل شول۔

د قیدیانو متعلق مشوره

کله چه دوی مدینے ته داخل شو یوه ورځ روسته قیدیان راورسیدل نو رسول الله

ﷺ د قیدیانو په باره کې د صحابه کرامو سره مشوره وکړه چه دے قیدیانو سره څه وکړو؟ نو ابوبکر صدیق رضی الله عنه وفرمایل: دا خلك زمونږ قومیان او خپلوان او ورونه دی د دوی نه به فدیه واخلو په هغې به جهادونه کوو او دوی ته به الله د اسلام د قبلولو توفیق ورکړی صبا له به زمونږ دپاره د قوت سبب وګرزی، نو فدیه اخستل بنه دی۔

په سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه کې د شفقت ماده زیاته وه۔

سیدنا عمر فاروق رضی الله عنه وفرمایل: زۀ دا رایه نۀ لرم کومه چه ابوبکر لری، بلکه هر چا ته خپل خپلوان ورکړه چه څټ ورله ووهی، حمزه ته د هغه خپل قیدی ورکړه چه قتل ئے کړی او علی ته د هغه ورور عقیل بن ابی طالب ورکړه چه قتل ئے کړی او ما ته خپلوان راکړه چه زۀ ئے څټ ووهم، د دوی وژل پکار دی ځکه چه دا صنادید او د کفر امامان او مشران دی.

حَتّٰی یَعْلَمَ اللّٰهُ اَنَّهٗ لَیْسَتْ فِیْ قُلُوْبِنَا هَوَادَةٌ لِلْمُشْرِکِیْن)

تر دے چه الله تعالیٰ خلکو ته راښکاره کړی چه زمونږ په زړونو کې د مشرکانو سره د صلحے محبت نشته دے۔

عمر رضی الله عنه د الله تعالیٰ په حکم کې ډیر سخت وو۔

(دلته حَتّٰی یَعْلَمَ اللّٰهُ په معنیٰ د یُظْهِرَ او یُمَیِّزَ سره دے یعنی الله ئے راښکاره کړی او جدا ئے کړی۔ او دلته دا تاویل بنه نۀ دے چه حَتّٰی یَعْلَمَ اَعْدَاءُ اللّٰهِ تر دے چه د الله دشمنانو ته معلومه شی الخ۔

سیدنا عبد الله بن رواحه رضی الله عنه ووئیل: دا قیدیان په اُور باندے سیزل پکار دی چه ختم شی، مګر نبی علیه السلام د اُور د سیزلو نه منع کړے وه، نو نبی علیه السلام هیڅ جواب ورنکړو، کور ته ننوتو بیرته راووتو، ابوبکر ته ئے ووئیل:

ستا مثال د ابراهیم او عیسیٰ علیهما السلام پشان دے، ابراهیم علیه السلام وئیلی وو: ﴿ وَمَنْ عَصَانِیْ فَاِنَّكَ غَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ﴾ (ابراهیم:۳۶)۔

اے الله څوك چه زما نافرمانی وکړی نو تۀ بخنه کونکے رحم کونکے ئے۔ دلته رقتِ قلبی ښکاره کول مقصد دے یعنی اے الله! تۀ پوهه شه او ستا بنده چه تۀ ورسره څه کوئے، زۀ څه اقتراحات نۀ کوم چه داسے عذاب ورکړه یا ئے معاف کړه۔ او دا مطلب نۀ دے چه اے الله! مشرك معاف کړه۔

او عیسیٰ علیه السلام به په آخرت کی فرمائی:

﴿اِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَاِنَّهُمْ عِبَادُكَ﴾ اے الله ! که تهٔ دوی ته عذاب ورکوے هم ستا بندګان دی او که تهٔ ورته بخښه کوے نو تهٔ زورور او حکیم ذات ئے)۔

او سیدنا عمر رضی الله عنه ته ئے وفرمایل: چه په تا کی د نوح او د موسیٰ علیهما السلام په شان خوئی دے۔ نوح علیه السلام د نهه نیم سوه کاله دعوت نه روستو وفرمایل :﴿رَبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْاَرْضِ مِنَ الْكَافِرِيْنَ دَيَّارًا﴾ (نوح:۲۶) -

اے ربه ! په زمکه باندے د کافرانو نه یو ګرځیدونکے مهٔ پریده۔

﴿وَلَا تَزِدِ الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا تَبَارًا﴾ (نوح-۲۹)۔ او مهٔ زیاتوه ظالمانو لره مګر هلاکت۔

او دا ښیرے حقے دی د الله په خودنه ئے کړے وے۔

او موسیٰ علیه السلام فرمائیلی وو: ﴿رَبَّنَا اطْمِسْ عَلٰى اَمْوَالِهِمْ وَاشْدُدْ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوْا حَتّٰى يَرَوُا الْعَذَابَ الْاَلِيْمَ﴾ (یونس: ۱۸۸)۔

اے ربه زمونږ ! کوته کړے مالونه د دوی او سخت کړے زړونه د دوی چه ایمان رانهٔ وړی تردے چه دردناك عذاب وینی۔

پدے مشوره کی نبی علیه السلام په هیچا باندے رد ونکړو بلکه د دواړو صفتونه ئے وکړل او د انبیاؤ سره ئے مشابه کړل۔

مګر په نبی علیه السلام کی رقت او نرمی زیاته وه پدے وجه هغه د سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه په مشوره عمل وکړو او امرئے وکړو چه فدیه به ترے واخلو، او فدیه دا وه چه د چا نه څلور زره د چا نه درے زره او د چا نه زر درهم ئے واخستل او څوك چه ډیر مسکینان وو، په هغوی ئے دا شرط ولګولو چه لسو کسانو ته به یو کس خط ورازده کوی، د مدینے لس هلکان به ئے راوستل او دے قیدی ته به ئے کینول، ځکه د مکے خلکو به لیکل کولے شو او مدینے والو کی د لیك رواج نهٔ وو۔ نو کله چه به دا هلکان خط کی ماهره شو نو دا به د دغه قیدیانو فدیه شوه۔ او څه قیدیان ئے همداسے معاف کړل لکه روستو راځی۔

(**فائده:** د یو کافر نه د دنیا علوم او تجربات زدهٔ کول جائز دی، کافر سره بیع شراء، معاملات، دنیاوی تعلیم زدهٔ کول جائز دی لیکن پدے کی اته شرطه دی۔

دویمه فائده : خپلو کشرانو باندے د دنیا تعلیم یادول جائز دی ځکه چه په اسلامی

حکومت کی دے علو مو ته ضرورت راځی)۔

کله چه نبی علیه السلام دا کار وکړو، د الله د طرفه د عِقاب او ملامتیا آیتونه نازل شول:

﴿مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَكُونَ لَهُ أَسْرَى حَتَّى يُثْخِنَ فِي الْأَرْضِ﴾ (انفال:۶۷)۔

د نبی د شان سره دا مناسب نهٔ دی چه ده سره قیدیان راشی تردے چه وینی توی کړی په زمکه کی)۔

یعنی اول وینه تویه ول پکار دی بیا روستو قیدیان نیول۔

﴿تُرِيدُونَ عَرَضَ الدُّنْيَا وَاللَّهُ يُرِيدُ الآخِرَةَ﴾۔

تاسو د دنیا اراده لرئ او الله غواړی چه تاسو آخرت والا جوړ کړی۔

بیا ئے وفرمایل:

﴿لَوْلَا كِتَابٌ مِنَ اللَّهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيمَا أَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾ (انفال:۶۸)۔

که د الله حکم نهٔ وے چه مخکی فیصله ئے کړے دے خامخا تاسو ته به (پدے کار سره) لوی عذاب رسیدلے وے)۔

الله تعالیٰ مخکی دوه فیصلے کړیدی یو دا چه چا ته د مسئلے معلومات نهٔ وی الله تعالیٰ ورته عذاب نهٔ ورکوی او پس د معلومات نه که غلط کار کوی نو بیا ورله عذاب دے۔ او دلته صحابه کرامو ته معلومات نهٔ وو۔

دویم دا چه الله تعالیٰ دا فیصله کړے وه چه دے اُمت ته به غنیمت حلالوی نو هرکله چه روستو ئے حلالوی نو تاسو پدے نهٔ راګیروی۔

یا دا چه الله تعالیٰ بدریانو ته د مغفرت او رحمت اعلان کړے وو۔

مقصد دا چه الله فرمائی چه زما رضا دا وه چه دوی قتل شوی وے لیکن چه اُوس مو دا کار وکړو نو عذاب نهٔ درکوم۔

(بعض علماء وائی: مخکنئ فیصلے نه مراد دا آیت دے: ﴿فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً﴾۔ یعنی که قیدیان ونیسئ نو ستاسو خوښه ده چه همداسے ئے پریدئ، احسان ورسره کوئ یا ترے فدیه اخلئ)۔

نو پدے کی اجازه وه په فدیه اخستو کی لیکن دلته ملامتیا پدے وجه راغله چه د ډیرے وینی تویه کولو نه مخکی قیدیان ونیول شو۔

بعض وائی چه دا اجازه روستو راغلے ده او د بدر قیدیان مخکی نیول شوی وو لهذا مخکنئ وجے ښکاره دی۔ (الرحیق المختوم)

نو دلته د سیدنا عمر فاروق او د عبد الله بن رواحه رضی الله عنهما رایه الله تعالیٰ ته ډیره خوښه وه۔

فائده : خلیریشت مقامات داسے دی چه د سیدنا عمر رضی الله عنه د رائے مطابق الله تعالیٰ آیت رالیږلے دے، دیته موافقاتِ عُمَریه وائی۔ یعنی د عمر رضی الله عنه د الله تعالیٰ سره موافقات چه ددهٔ د مزاج موافق الله تعالیٰ حکم رالیږلے دے۔ د عمر رضی الله عنه د مزاج موافق الله تعالیٰ ولے حکم رالیږلو؟ ددے راز دا دے چه په عمر رضی الله عنه کی د خواهشاتو تابعداری نهٔ وه، هره خبره ئے د الله تعالیٰ د رضا دپاره وه، په دماغو کی ئے بله خبره نهٔ وه په غیر د الله نه. بله دا چه د الله دپاره په کی سخت وو، د چا پروا ئے نهٔ کوله، الله تعالیٰ هم د چا پروا نهٔ کوی۔

حدیث کی دی چه صبا له دا آیتونه نازل شو، کله چه صبا شو عمر رضی الله عنه فرمائی: زهٔ راغلم گورم چه ابوبکر صدیق او نبی علیه السلام دواړه ژاړی، ما ووئیل:

اے د الله رسوله! ما ته خبر راکړئ تاسو ولے ژاړئ که ما ته ژړا راتلله زهٔ به هم درسره وژاړم او که نهٔ وی نو ځان خو به ستاسو په ژړا غمژن کړم، نبی علیه السلام وفرمایل:

زهٔ پدے وجه ژاړم چه الله رب العزت ددے ونے نه نیزدے ما ته ددے ملگرو عذاب راپیش کړو پدے وجه چه دوی فدیه اخستے ده۔ (لیکن د الله حکم نهٔ وو گنے ټول به هلاك شوی وے)

ددے نه روستو دا آیت نازل شو: ﴿ فَكُلُوا مِمَّا غَنِمْتُمْ حَلَالًا طَيِّبًا ﴾ (انفال:٦٩)۔

پس خورئ تاسو د هغه مالونو نه چه تاسو په غنیمت کی اخستی دی حلال پاك)۔

علماء فرمائی: سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه چه کومه فیصله کړے وه دا د الله روستنے حکم وو پدے کی فائدے ډیرے وے ځکه الله تعالیٰ همداسے باقی پریښودو، او د سیدنا عمر رضی الله عنه حکم په ابتداء کی ښه وو او د عاقبت په لحاظ پکی فائدے کمے وے۔ ځکه دا حکم خو روستو هم کیدے شو چه دا قیدیان قتل کړئ۔

د مشرکینو نه فدیه اخستل شروع شو مکے ته ئے جوابونه ولیږل۔



بعض قیدیان بغیر د فدیی نه پریخودل

پدې قیدیانو کې څه کسان ئې همداسې پرېښودل:

(۱) یو دهغې نه صَیفی بن ابی رفاعه، (۲) دویم ابوعِزَّةَ الجُمَحِی چه دا شاعر وو او د نبی علیه السلام بدی به ئې بیانوله بیا په اُحد کې قیدی شو او قتل شو. کله ئې چه دا پرېښودو نو مکې ته لاړو او هلته ئې تکبر کولو چه څنګه چل باندې راخلاص شوم، او د نبی علیه السلام په خلاف ئې بیا اشعار وئیل شروع کړل، بیا کله چه د اُحد غزا شوه بیا قیدی شو، دهٔ سوال زاری کوله چه ما معاف کړه، نبی علیه السلام ورته ووئیل:

لَايُلْدَغُ الْمُؤْمِنُ مِنْ جُحْرٍ وَاحِدٍ مَرَّتَيْنِ) ابن ماجه (۳۹۸۲)

(مؤمن د یو سوړې نه دوه ځل نهٔ چیچلې کیږی).

دا د امت دپاره یو مثال هم دې. بیا ئې مردار کړو.

(۳) دریم مُطلب بن حَنْطب په نوم یو کس ئې هم بغیر د فدیه اخستو نه معاف کړو.

(٤) څلورم: ابوالعاص بن الربیع د رسول الله ﷺ زوم د زینب رضی الله عنها خاوند ئې هم همداسې پرېښودو.

او دا شرط ئې پرې ولګولو چه زینب به مدینې ته راپریدی، زینب رضی الله عنها چه خبره شوه چه زما خاوند نیولې شویدې نو په فدیه کې ئې مال راولیږلو چه په هغې کې ددې هغه امیل هم وو چه خدیجې رضی الله عنها دې ته ددې د وادهٔ په موقعه کې ورکړې وو، رسول الله ﷺ چه کله هغه امیل ولیدو نو زړهٔ کې سخته نرمی پیدا شوه (او د خدیجې یادونه ورته مخې ته راغلل) او د خپلې لور په غربت باندې خفه شو. نو د خپلو ملګرو نه ئې اجازه واخسته چه ابوالعاص همداسې پریدی نو هغوی بیخی اجازه ورکړه او ابوالعاص ته ئې ووئیل چه زینب به راپریدې (ځکه چه د مشرك د مؤمنې ښځې سره نکاح ماتیږی) نو هغه مکې ته لاړو او زینب ئې راپرېښوده او هجرت ئې وکړو،

دلته نه رسول الله ﷺ وروسته سیدنا زید بن حارثه او یو بل انصاری صحابی ولیږل او ورته ئې ووئیل چه تاسو بطن یاجُج ته ځان ورسوئ هلته به تاسو باندې زینب راتیره شی او د هغې سره ملګری شئ.

نو دوی دواړه لاړل او هغه ئے مدینے ته په امن وامان کی راوستله چه د هغے قصه ډیره اُوږده او دلسوزه ده۔ (الرحیق المختوم)

هغه دا چه کله ابو العاص مکے ته ورسیدو نو زینب ته ئے ووئیل چه ته مدینے ته لاړه شه، زینب وائی : ما د سفر تیاری شروع کړه او نبی علیه السلام دوه کسان ما پسے رالیږلی وو چه بطن یاجُج کی په یوځوړ کی ما سره ملاؤ شی او ما مدینے ته ورسوی۔ دوی ډیرے شپے تیرے کړے، زینب وائی ما ځان جوړولو پدے کی هنده بنت عتبه زما کور ته راغله خبره شوه چه زهٔ هجرت کوم نو وے وئیل چه مونږ خبر شوی یو چه تهٔ مدینے ته تللو والا ئے، مونږ سره ستا سامان او پیسی دی چه څه غواړے زهٔ به ئے درکړم نو زهٔ ویریدم چه دا ښځه چرته جاسوسه نهٔ وی نو ما ورته ووئیل چه زما خو لا اراده نشته۔ هغے بیا ووئیل چه سړی غیرت کوی او زنانو کی غیرت نهٔ وی، نو ما ته رشتینی ښکاره شوه لیکن بیا هم ما ځان منکر کړو،

زینب فرمائی چه ما سره زما لیور کِنَانه بن الربیع راروان شو، کله چه ذی طُوَی علاقے ته راورسیدو (چه دا مکے ته نزدے بهر ځای دے) دلته مشرکین خبر شو نو هغوی مونږ پسے راووتل چه د محمد (رسول الله ﷺ) لور ده او د ورځے سفر کوی نو وړوکے جماعت ئے راپسے راویستلو چه مونږ راواپس کړی، پدے وخت کی د زینب په خیټه حمل هم وو نو جَبّار بن اُسَید نیزه راوچته کړه نو زینب رضی الله عنها د یرے د وجه نه د اُوښ نه راوغورزیده او وینه ترے روانه شوه پدے کی کنانه ورته ووئیل چه پدے غشو دے ولم که واپس نشوے نو خللك واپس شو۔

پدے کی ابو سفیان راغے وے وئیل چه دا د نبی علیه السلام لور ده د ورځے ئے مهٔ اُوباسه، دا زمونږ دپاره شرم دے (چه زمونږ په مخامخ زمونږ دشمنان سفر کوی) څه ورځے روسته ئے د شپے وباسه نو دوی د ابو سفیان خبره ومنله څه ورځے روسته ئے د شپے ویستله او بطن یاجُج علاقے ته ئے ورسوله تردے چه زید بن حارثه او یو انصاری سره ئے ملګرے کړه او مدینے ته ئے راورسوله۔

(فائده : زینب د پردو سرو او د لیور سره سفر کریدے ځکه چه پدے وخت کی حجاب (پرده) نهٔ وه فرض شوے، حجاب په پنځم کال د هجرت فرض شو۔ دویمه خبره دا ده چه دا ضرورت دے د جهاد مسئلے جدا وی)۔

ابو العاص وعده پوره کړه، زینب رضی الله عنها ئے راولیږله بیا روستو زمانه کې د مکے د فتح نه روستو ابو العاص بن الربیع هم ایمان راوړو۔ رضی الله عنه وارضاه۔

د ابو العاص بن الربیع (رضی الله عنه) د اسلام واقعه

ابو العاص بن الربیع امانتګر سړے وو، د مکے مشرکانو ورله مال راجمع کړو چه تجارت دپاره شام ته لاړ شه، کله چه راواپس کیدلو، د مسلمانانو مجاهدینو یوه دسته وریسے ووتله، ابو العاص بن الربیع ئے ونیولو او مالونه ئے ترے تول واخستل لیکن د مال د اخستلو نه مخکې ئے ورته دا خبره وکړه چه ایمان راوړه، دا د کفارو مالونه دی، دا تا له حلال دی او ته ئے واخله، ابو العاص ورته ووئیل :

بِئْسَمَا أَبْدَءُ بِهِ إِسْلَامِيْ أَنْ أَخُوْنَ أَمَانَتِيْ).

ډیر بد دے هغه شے چه زهٔ پرے د اسلام ابتداء کوم چه زهٔ په خپل امانت کې خیانت وکړم او بیا دے ایمان راوړم۔

(الروض الانف للسهیلی ۱۰۹/۳) المتوفی (۵۸۱هـ)۔

ابو العاص ئے ونیولو او مال ئے هم ترے راوړو، نبی علیه السلام خبر نهٔ وو، روستو خبر شو۔ ابو العاص د شپے پټ لاړو او زینب رَضی الله عنها ته ئے ځان ورسولو هغے ته ئے ووئیل چه ما له پناهی راکړه چرته نهٔ چه صحابه مے مړ کړی۔

نبی علیه السلام زینب رضی الله عنها ته ووئیل چه ابو العاص چرته تا ته نزدے نشی ځکه چه ابو العاص مشرک دے او ته مؤمنه ئے، د دوی ترمینځ پنځه شپږ کاله جدائی راغلے وه نو زینب رضی الله عنها ورته ځان ورنکړو چه شپه تیره شوه زینب رضی الله عنها سهار مانځه له راغله د مانځه نه روستو پاڅیدهٔ او اعلان ئے وکړو چه اے مسلمانانو ! ما ابو العاص ته پناهی ورکړے ده (حدیث کې دی چه په اسلام کې چه ادنیٰ مسلمان هم چا ته پناهی ورکړه هغه به په امن وی او مسلمانان به د دغه یو مسلمان د وعدے لحاظ کوی)۔

نبی علیه السلام صحابه کرامو ته ووئیل : تاسو دا خبره واوریدله، هغوی ووئیل: آؤ، نبی علیه السلام وفرمایل : ما هم اُوس واوریدله۔

نبی علیه السلام ابوالعاص پرینبودهٔ او کومو صحابه کرامو چه ترے مالونه اخستی وو، هغوی ته ئے ووئیل چه دے سړی سره چه کوم مالونه وو هغه پردی امانتونه وو که ستاسو خوښه وی دا مال بیرته ورکړئ، اګرکه دا اُوس ستاسو مال دے، صحابه کرامو ووئیل چه اے د الله رسوله ! ستا خوښه وی زمونږ هم خوښه ده، که چا هرڅه اخستی وو اګرکه وړوکے چاقو او پړے وو هغه ئے هم راوړل۔

ابوالعاص ټول مالونه مکے ته راوړل۔ د مسلمانانو دے اخلاقو په ابوالعاص باندے دومره اثر وکړو چه مشرکین ئے راجمع کړل او ټولو ته ئے خپل مالونه وسپارل، او دا ئے ورته ووئیل چه آیا تاسو ته ما مالونه درکړل؟ هغوی ووئیل: آؤ، نو ابوالعاص ووئیل: فَاِنِّیْ اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ)۔

زهٔ دا ګواهی ورکوم چه نشته حقدار د بندګئ سِوئ د الله نه (هیڅ شریك ئے نشته) او محمد ﷺ د الله بنده او رسول دے)،

ما په مدینه کی هم ایمان راوړے شو لیکن هلته مے ځکه نهٔ راوړو چه تاسو به وئیلے چه زمونږ د پیسو د غلا کولو دپاره ئے ایمان راوړو، پدے وجه ما تاسو ته خپل مالونه درواپس کړل او ښکاره د ورځے مدینے ته راروان شو۔ کله چه مدینے ته راغے نو نبی علیه السلام ورته زینب رضی الله عنها په همغه اولنئ نکاح سره واپس کړه،

(د مشرك سړی او د مؤمنے ښځے نکاح هله ختمیږی چه پدے دوران کی د بل سړی سره نکاح وکړی او که بیرته د اول خاوند ته واپس شوه نو نکاح تازه کول ضروری نهٔ دی)

(**فائده**: ددے نه دا معلومه شوه چه په جهاد کی به داسے کار نهٔ کوی چه مسلمانان پرے بدنام شی، ډیر خلك د مجاهدینو په نوم غلاګانے کوی، خلك تښتوی او مالونه ترے اخلی، دا خلك د مجاهدینو نوم بدناموی)۔

د سیدنا عباس (رضی الله عنه) قیدی کیدل

پدے قیدیانو کی عباس (رضی الله عنه) هم وو، صحابه کرامو عباس رضی الله عنه په جنګ کی ونیولو او ډیر سخت ئے وتړلو تردے چه د شپے ئے زبیرګی کول، نبی علیه

السلام د شپے نهٔ اُوده کیدو، صحابه کرامو تپوس وکړو چه اے د الله رسوله ! تاسو ولے نهٔ اُوده کیږئ؟ هغه وفرمایل:

ما د خپل ترهٔ زبیرګی آوریدلی دی نو صحابه کرام ورغلل او تړل ئے ورله آسان کړل نو نبی علیه السلام په هغه باندے شفقت وکړو هغه ئے آزاد کړو،

په صحیح بخاری کی دی چه انصارو ووئیل: عباس زمونږ خورئیے کیږی فدیه به ورته معاف کړو. نبی علیه السلام ورته وفرمایل: یوه روپۍ هم ورته نهٔ پریدو، پوره به ئے ترے اخلو، (صحیح البخاری: ٤٠١٨)

او عباس ته ئے ووئیل: تهٔ به د څلورو کسانو فدیه ورکوے. د عقیل بن ابی طالب او د نوفل بن الحارث او ستا بل حلیف دے (عتبه بن عمرو احد بنی الحارث بن فهر) دَ هغه فدیه هم په تا ده.

عباس ووئیل: زهٔ خو مسلمان یم، ما نه فدیه څنګه اخلئ. نبی علیه السلام ورته وفرمایل: الله ستا په اسلام ښه پوهه دے. (اَمَّا ظَاهِرُكَ فَكَانَ عَلَيْنَا).

په ظاهر کی تهٔ ذ کافرو په صف کی ولاړ وے، د هغوی سره راغلے ئے، ستا حکم به د کفارو وی لیکن وژنو دے نهٔ ځکه تهٔ نرم سړے ئے.

(**فائده۱**: ددینه معلومه شوه چه که یو سړے د کافرو په صف کی ولاړ وی که مسلمان هم وی او مړ شی مردار دے او مال ئے غنیمت دے.

۲: ذ مسلمانانو په خلاف د مشرکانو سره مدد کول په اتفاق د مسلمانانو سره کفر دے. او پدے باره کی د کتاب او سنت ډیر دلیلونه موجود دی).

عباس ﷺ ووئیل: ما شل اُوقیه راوړیدی په بدر کی صحابه ؤ رانه اخستی دی، دغه قبولے کړئ، (یو اُوقیه څلویښت درهمه وی) نو دهٔ د غربت شکایت وکړو، نبی علیه السلام ورته د معجزے په طور ووئیل: هغه مال څه شو چه کله تهٔ راوتلے تا سرهٔ زر راواخستل او په فلانی ځای کی دے خښ کړل او ام الفضل دے ځانله کینوله او هغے ته دے ووئیل: که زهٔ واپس راغلم نو سرهٔ زر زما دی، زهٔ به پکی تصرف کوم او که چرته زهٔ مړ شوم نو دا سرهٔ زر فضل، عبد الله، او قُثَم ته ورکړه. نبی علیه السلام په غیبو نهٔ پوهیدو بلکه دا معجزه وه.

عباس رضی الله عنه ووئیل: قسم په الله چه خامخا ما ته معلومه ده چه تهٔ د الله

رسول ئے دا یو داسے کار وو چه صرف الله او زما ښځه او زهٔ خبر یم، ددے نه معلومیږی چه ته دَ الله حق نبی ئے، پدے سره دَ عباس یقین نور هم زیات شو۔

(السیرة النبویة لابن کثیر ۲/۴٦۲)

(سیدنا عمر بن خطاب رضی الله عنه به وئیل چه زهٔ دَ خپل پلار په اسلام دومره نهٔ خوشحالیږم لکه څومره چه دَ عباس په اسلام خوشحالیږم ځکه دَ عباس اسلام دَ نبی علیه السلام خوښ وو او دَ خطاب اسلام زما خوښ وو، عباس ته سیدنا عمر رضی الله عنه دعوت هم ورکړے وو چه اسلام راوړه ځکه نبی علیه السلام ستا اسلام ډیر خوښوی۔

دَ عباس رضی الله عنه نه ئے فدیه واخسته، چه دا فدیه سل اوقیه سرهٔ زر وو او دَ څلورو کسانو دَ طرفنه وه۔ او ځینی وائی چه صرف په عباس باندے سل اوقیه وه او په عقیل باندے اتیا اوقیه وه۔

الله تعالیٰ دا آیتونه نازل کړل: ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ قُل لِّمَن فِىٓ أَيْدِيكُم مِّنَ ٱلْأَسْرَىٰٓ إِن يَعْلَمِ ٱللَّهُ فِى قُلُوبِكُمْ خَيْرًا يُؤْتِكُمْ خَيْرًا مِّمَّآ أُخِذَ مِنكُمْ﴾ (انفال: ۷۰)۔

اے نبی ! ووایه هغه کسانوته چه ستاسو په لاسونو کی دی دَ قیدیانو نه که الله ته ستاسو په زړونو کی خیر معلوم وی نو دربه کړی تاسو ته غوره دَ هغه مالونو نه چه تاسو نه واخستے شو او بخنه به هم درته وکړی)۔

عباس رضی الله عنه پدے آیت ډیر خوشحاله وو او دا به ئے وئیل چه الله تعالیٰ خو یو راکړو چه مالونه دی روستو بیا عباس رضی الله عنه ته دَ جهاد دَ وجه نه څلویښت غلامان او ډیر زیات مالونه او غنیمتونه ملاؤ شو۔ او عباس به وئیل: زما امید دے چه الله به دا بله وعده هم پوره کړی چه هغه دَ ګناهونو بخنه ده۔ او دا وعده هم الله تعالیٰ پوره کړیده، صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین ټول معاف دی۔

سیدنا عباس رضی الله عنه ته الله تعالیٰ څنګه مال ورکړو نو حدیث کی راغلی دی چه سیدنا علاء بن الحضرمی رضی الله عنه نبی علیه السلام په بحرین باندے ګورنر مقرر کړے وو هغه دَ سیدنا ابو عبیده بن الجراح رضی الله عنه په واسطه دا مال مدینے ته راولیږلو او هغه دَ بحرین والو نه جزیه راټوله کړے وه،

په روایت دَ ابن ابی شیبه کی دی چه دا یو لاکه درهم وو، دا جزیه نبی علیه السلام

په مسجد کې واچوله، نبي علیه السلام د سهر مانځه ته راووتلو،

د مانځه نه چه فارغه شو وې لیدل چه صحابه کرام ګنړ راغلي دي، مُسکې شو او وې فرمایل: چه تاسو ډیر پدې وجه راغلي یئ چه کیدې شي تاسو د ابوعبیده په باره کې آوریدلي دي چه د بحرین نه ئې پیسې راوړیدي؟ صحابه کرامو ووئیل: آؤ، اې د الله رسوله! (ځکه کوم صحابه کرام چه به لرې وو هغوی به خپلو مساجدو کې مونځونه کول) بیا راغې د هغه روپو ډیرې خواته کیناستو، ثوك چه به ئې لیدو هغه له به ئې د هغې نه ورکولې۔

پدې دوران کې سیدنا عباس رضي الله عنه هم راغې، هغه ووئیل: اې د الله رسوله! ما ته ئې هم راکړه ما خوخپله فدیه هم ورکړیده او د عقیل او د نوفل بن الحارث مې هم ورکړې ده نبي ﷺ ورته ووئیل: ددې نه ئې ځانله واخله، نو څادر ورسره وو، هغه ئې ورته خور کړو او دا پیسې ئې پکې اچولې تردې چه ډك ئې کړو نو پورته کولې ئې نشو نو وې فرمایل: یارسول الله! دا راوچت کړه، نبي علیه السلام ورته ووئیل: نۀ ئې اُوچتوم۔

عباس وفرمایل: دې صحابه ؤ ته حکم وکړه چه راوچت ئې کړي۔ نبي علیه السلام ورته وفرمایل: هغوی به ئې هم نۀ در وچتوي۔ نو عباس قوي سړې وو نو څه پیسې ئې ترې کمې کړې بیا ئې اُوچتولې بیا ئې نشوې اُوچتولې نو نبي علیه السلام ته ئې ووئیل راوچت ئې کړه، نبي علیه السلام ورته ووئیل: نۀ در اوچتوم۔

بل چا ته حکم وکړه، هغه وفرمایل: بل چا ته هم حکم نۀ کوم، نو نورې پیسې ئې ترې هم کمې کړې نو بیا ئې په ډیر مشقت سره پورته کړې د مسجد نه وتلو نبي علیه السلام همداسې ورته کتل تردې چه د سترګو نه ئې غائب شو، تعجب ئې کولو په حرص ددۀ باندې۔ دا د عباس رضي الله عنه بدي نۀ ده بلکه حلال مال اخستل جائز دي۔ دا مال نبي علیه السلام تقسیم کړو او خپل کور ته ئې ترې لږې هم ونۀ لیږلې۔

(صحیح البخاری: ۴۲۱ باب القسمة وتعلیق القنو في المسجد) وفتح الباري (۱/۵۱٦)

د اول قیدي فدیه او د نبي علیه السلام پیشنګوئي

د یو بل قیدي ابووداعه السهمي په باره کې نبي علیه السلام پیشنګوئي ورکړه چه

په مکه کې د ابووداعه یو ځوی (المطلب) دے، ډیر هوښیار او ډیر مالدار تاجردے او ډیر سخي دے، دا به تاسو ته راشي او ډیرے پیسے به راوړي د خپل پلار د خلاصولو دپاره، د مکے مشرکانو فیصله کړے وه چه فدیه به نۀ ورلیږو، دے دپاره چه دوی په مونږ باندے فدیه زیاته نۀ کړي، د ابووداعه ځوی په جلتئ سره پیسے ورولیږلے، د قریشو پابندئ له ئے هیڅ باك ورنکړو، خپله د شپے راووتلو او پیسے ئے راواخستلے او مدینے ته روان شو او څلور زره درهم ئے راوړل، چه مدینے ته راورسیدو نبي علیه السلام ته ئے هغه درهم ورکړل او خپل پلار ئے راخلاص کړو دا د نبي علیه السلام معجزه وه چه د مخکې نه ئے پیشن ګوئي ورکړه نو نبي علیه السلام ورته ابووداعه پریښنودو۔

او دا اولنے قیدي وو چه فدیه ئے ادا شوه، دا مطلب بن ابی وداعه روسته په فتح د مکه کې مسلمان شویدے۔

ددے نه روستو قریش شروع شو چه د خپلو خپلو قیدیانو فدیه ئے رالیږله۔

د سهیل بن عمرو فدیه

یو بل قیدي سهیل بن عمرو چه دا د مکے په مشرانو کې وو او ډیر فصیح خطیب وو، د نبي علیه السلام په مقابله کې به ئے بیانونه کول، د مکے نه مِکرَزُ بن حفص په دۀ پسے راغے هغه ووئیل ما د سُهیل په ځای وتړئ او سهیل ولیږئ مکے ته چه فدیه راوړي، نبي علیه السلام اراده وکړه چه مِکرز وتړي او سهیل پریږدي پدے ځای کې عمر رضی الله عنه ووئیل: یارسول الله داسے کول پکار دي چه ددے سهیل بن عمرو مخامخ دوه غاښونه اُوباسه څکه لاندے شونډه ئے شکیدلے ده نوژبه به ئے بار بار راوځي نو سمے خبرے به نۀ شي کولے بیا به ستا په خلاف په یو ځای کې د بیان دپاره نۀ پاځي، نبي علیه السلام وفرمایل: دا کار نۀ کوم، دا مُثله ده او مثله کول جائز نۀ دي اګرکه کافر دے۔ زۀ الله د مثلے کولو نه منع کړے یم۔

او دویمه وجه دا ده: خَوۡفًا مِنۡ بَطۡشِ اللّٰهِ یَوۡمَ الۡقِیَامَةِ)۔

د قیامت په ورځ د الله د حملے نه یریږم، داسے نه چه الله رب العزت ما نه قیامت کې غورږونه او لاسونه پریکړي اګرکه زۀ د الله نبي یم۔

(ددینه د رسول الله ﷺ د دین شفقت او کمال معلومیږی)۔

او دریمه وجه دا ده چه نبی علیه السلام پیشن گوئی ورکړه :

عَسٰی اَنْ یَّقُوْمَ مُقَامًا لَا تَذُمُّهٗ۔

کیدے شی چه دا به په داسے ځای کی ودریږی چه تهٔ به د هغے بدی نهٔ وائے۔ یعنی مسلمان به شی او د دین بیانونه به کوی۔

بیا روستو زمانه کی په فتح د مکه کی دے مسلمان شو او د نبی علیه السلام د وفات نه روستو بعض خلك مرتد شو نو سیدنا سهیل بن عمرو پاڅیدو او په ډیر شجاعت او بهادرئ سره ئے خبرے وکړے او دا ئے ووئیل چه اے خلکو ! تاسو روستو اسلام کی داخل شوئ نو اول تړے مهٔ وځئ۔ د خُلِے نه ئے داسے خبرے راوختلے لکه څنګه چه د سیدنا ابوبکر صدیق د خُلِے نه ختلے وے۔ نو خلك ئے په ایمان باندے مضبوط کړل، عمر رضی الله عنه ته خبر راغے نو وے فرمایل : چه رسول الله ﷺ رشتیا وئیلی وو چه دا به په داسے ځای او وخت کی ودریږی چه تاسو به ئے بد نهٔ گنړئ او صفت به ئے کوئ او د صفت ورځ ئے همدا نن ده۔

سهیل بن عمرو فدیه راوړه، خلاص شو او مکے ته واپس لاړو۔

او په روستو زمانه کی صحابی وګرځیدلو رضی الله عنه وارضاه۔

محمد بن اسحاق لیکی چه صحابه کرام پدے رضا شو چه مِکرز وتړی نو سهیل بن عمرو ئے پریښودو او د هغه په ځای ئے مِکرز بند کړو او ددے په باره کی مکرز شعرونه هم وویل چه زهٔ د شرم نه ویریدم څکه چه سهیل زمونږ غوره مشر دے او قیدی شویدے نو څکه ما د هغه په ځای قربانی ورکړله۔

تردے چه سهیل بن عمرو خپله فدیه راولیږله او آزاد شو۔

نور قیدیان لږه زمانه نبی علیه السلام سره وو، فدیئے ئے ورکړے او ایمان ئے راوړو۔

د سیدنا سعد بن نعمان (رضی الله عنه) واقعه

د ابوسفیان ځوی عمرو بن ابی سفیان هم د بدر په قیدیانو کی ونیول شو، نو چا ابوسفیان ته وویل چه د ځوی په بدله کی فدیه ولیږه ځوی به دے آزاد شی، هغه وویل

چه زمونږ وینه به هم بهیږي او مال به هم رانه اخلي دواړه راباندې جمع کوي، پریده چه د هغوي په لاس کي وي چه څه ورسره کوي د هغوي خوښه ده۔

نو عمرو بن ابي سفیان په دغه حالت کي په مدینه کي قیدي وو چه پدې کي یو صحابي سعد بن نعمان بن اکال رضی الله عنه د نبي علیه السلام د مشورې نه په غیر مکې ته د عمرې دپاره روان شو هلته کي ابوسفیان ونیولو، ابوسفیان جواب راولیږلو چه سړے مې درنه نیولے دے، زما ځوی راپریدئ زهٔ به تاسو ته سړے درپریدم،

سعد بن نعمان د خپل خیال مطابقِ صحیح وو ځکه چه د هغه خیال دا وو چه د قریشو دا قانون او عهد دے چه څوك حج یا عمرے له راشي نو هغه ته به هیڅ تکلیف نهٔ ورکوي خو دلته پرے ابوسفیان زیاتے وکړو او د خپلٔ ځوی په بدل کي ئے ونیولو، پدئ کي د سعد بن نعمان بن اکال رضی الله عنه قبیله بني عمرو بن عوف رسول الله ﷺ ته راغلل او ددے واقعے خبر ئے ورکړو او د هغه نه ئے دا مطالبه وکړه چه که ابوسفیان ته د هغه ځوی ورآزاد کړي نو د دوي قیدي به را آزاد شي نو نبي علیه السلام دوي ته عمرو بن ابي سفیان ورکړو او دوي دا ورولیږلو نو پدے طریقه تبادله وشوه او سعد بن نعمان رضی الله عنه را آزاد شو او دا مشر بودا سړے وو۔

(فائده: مشوره ډیر مهم حکم دے، دے صحابي رضی الله عنه د مشورے نه بغیر کار وکړو نو تکلیف ورته ملاو شو)۔

د بدر د غزا مزیدار قوانین او فوائد:

ددے واقعے مطابق قرآن کریم ډیرښکلے قوانین وضعه کړیدی۔ قرآن کریم امت ته دا وښودل چه تاسو کی دا دا نقصانات وو، دا لرے کړئ۔

بل ئے ورته د جهاد دپاره قوانین کیخودل چه پدے به چلیږئ،

یهودو ته ئے خطاب وکړو چه تاسو سم شئ که نهٔ سمیږئ نو دغسے حال به مو راوځي۔

د صلحے قوانین ئے ذکر کړیدی، صحابه کرام ئے په درے ډلو تقسیم کړل، مهاجرین، انصار او وَالَّذِيْنَ جَاءُوْا مِنْ بَعْدِهِمْ۔ (هغه کسان چه د دوي نه روستو راغلي دي) او دا

خبره ئے بیان کړه چه تاسو کی تقویٰ وه نو الله تعالیٰ ستاسو څنګه مدد وکړو.

دارنګه دا ئے وښودل چه چرته تکبر ونکړئ چه دا غلبه زمونږ کمال دے بلکه الله تعالیٰ ستاسو مدد کړے وو، تاسو باندے ئے د سکون دپاره خوب راوستو، اُوبه ئے رانازلے کړے او ملائك ئے راولیږل په کافرانو باندے ئے رعب راوستو او اے نبی! ستا د لاس نه خاورے ئے د مشرکانو سترګو ته ورسولے.

د بدر د غزا فوائد:

جبریل علیه السلام د نبی علیه السلام نه تپوس وکړو چه بدر والا تاسو خپلو کی څنګه شمارئ؟ نبی علیه السلام وفرمایل: مِنْ خِيَارِ الْمُسْلِمِيْنَ) . دا په مسلمانانو کی غوره خلك دی. جبریل علیه السلام ووئیل: كَذٰلِكَ مَنْ شَهِدَ هَا مِنَ الْمَلَائِكَةِ) . دغه شان کوم ملائك چه بدرته حاضر شوی دی هغه په ټولو ملائکو کی غوره دی.

د حاطب بن ابی بلتعه ؓ په باره کی سیدنا عمر فاروق ؓ وفرمایل: یا رسول الله ! ما پریدهٔ زهٔ ددے منافقت دا څټ وهم چه دهٔ کافرو ته جاسوسی کړے ده. نبی ؑ وفرمایل: دا د وژلو قابل نهٔ دے ځکه چه دا بدری صحابی دے او تا ته څه پته ده:

لَعَلَّ اللّٰهَ اِطَّلَعَ عَلٰى أَهْلِ بَدْرٍ فَقَالَ: اِعْمَلُوْا مَا شِئْتُمْ فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ).

الله تعالیٰ بدر والو ته اعلان کړیدے چه تاسو څه بد عمل وکړو ما تاسو ته بخنه کړیده. که په مسلمانانو ئے ظاهراً جاسوسی هم کړیده هم معاف کړے شویدے د بدر د غزا د وجه نه لکه عثمان رضی الله عنه د تبوك د غزا په وخت کی یوه نیکی کړے وه، ډیر مال ئے ورکړے وو، نبی علیه السلام ورته وفرمایل: چه د نن نه روستو چه ته هر عمل کوے الله تعالیٰ تا ته بښنه کړے ده.

د بدر د غزا نه تر د أحد غزا پورے د کارونو او غزواتو بیان

د بدر د غزا نه د اُحد د غزا پورے دیارلس (۱۳) میاشتے یعنی یو کال او یوه میاشت کی عجیب کارونه وشو.

کله چه د بدر غزوه وشوه مسلمانان خوشحاله شو، په عامو کفارو رعب پریوتو، د مکے مشرکین ډیر په غصه وو چه کله به مونږ بدله اخلو او ددے دپاره ئے تیاری کوله،

دلته مدینه کی یهودیان هم غصه شو چه دا سړے (رسول الله ﷺ) داسے غلبی کوی نو زمونږ ددهٔ سره اُوسیدل ډیر ګران دی۔ منافقان هم خفه شو، وئیل ئے چه زمونږ طمعه وه چه دا سړے به ختم شی او مشری به زمونږ شی دا خو وخت په وخت ددهٔ تاج اُوچتیږی، دلته ځینی عرب بانډو کی اُوسیدل.د هغوی کار قتل وغارت او د خلکو نه مالونه تښتول وو نو هغوی هم ویریدل چه که دا نبی غالب شی زمونږ دا غلاګانے به بندے شی نو دے ټولو ډلو د نبی علیه السلام سره دشمنی شروع کړه، نو ټول اُودهٔ کافران راویښ شو۔ مګر نبی علیه السلام ډیر ناشنا قیادت وکړو او دے ټولو اړخونو او خطراتو ته متوجه شو او ددے ئے په ډیر ناشنا انداز کی مقابله وکړه۔

دلته مختلف واقعات راغلل (۱) یوه غزوه د بنی سلیم په کُدر علاقه کی راغله۔ (۲) دویم د رسول الله ﷺ د قتل او اغتیال (په پټه وژلو) اراده وشوه۔ (۳) دریم غزوه د بنی قینقاع راغله او څه واړه واړه غزوات نور راغلل بیا د اُحد غزا وشوه چه ددے ټولو تفصیل داسے دے :

لیکن ددے نه مخکی جزوی کارونه دا وو چه په همدے کال د رمضان د میاشتے روژے الله تعالیٰ فرض کړے وے بیا ئے سرسایه هم فرض کړه او د زکاة مقادیر او اندازے ئے بیان کړے چه پدے سره د فقراء مهاجرینو ډیره ګوزاره وشوه او اولنے اختر په مسلمانانو باندے راغے ډیر په ښائسته موقعه کی هغه دا چه الله تعالیٰ دوی ته په رمضان کی د عزت او د فتح مبین تاج ورپه سر کړو او بیا دوی د اختر ورځ د الله تعالیٰ په تکبیرونو او توحید او تسبیحاتو او مونځونو کی تیره کړه چه زړونه ئے الله تعالیٰ سره ډیرمینه کونکی وو۔ او د الله تعالیٰ شکر کونکی وو او الله تعالیٰ ورته دا احسانات په خپل کتاب کی بیان کړی وو :

﴿ وَاذْكُرُوٓا إِذْ أَنتُمْ قَلِيلٌ مُّسْتَضْعَفُونَ فِي الْأَرْضِ تَخَافُونَ أَن يَتَخَطَّفَكُمُ النَّاسُ فَآوَاكُمْ وَأَيَّدَكُم بِنَصْرِهِ وَرَزَقَكُم مِّنَ الطَّيِّبَاتِ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴾ (انفال: ۲۶)۔

یاد کړئ هغه حالت چه کله تاسو کم وئ په زمکه کی خلکو ضعیف ګنړلئ، یریدئ چه خلك به مو وتښتوی نو تاسو ته ئے ځای درکړو او په خپل مدد سره ئے مضبوط کړئ او پاك خوراکونه ئے درکړل دے دپاره چه تاسو شکر وکړئ۔ ډیر په امن وامان کی عیدګاه ته ووتل او مونځ ئے وکړو۔

د بنو سُلیم غزا - سنه (٢ هـ) شوال یا محرم

ددے غزا لږ تفصیل دا دے چه غطفان یوه قبیله وه چه په نجد علاقه کی وسیدله، هغوی غصه شو چه مدینه کی د مسلمانانو یو حکومت جوړ شو او د هغوی طاقت رانبکاره شو، اسلامی خلافت کافر هیڅ کله نهٔ پریدی،

غطفان او بنو سُلیم قبیلو مشوره وکړه چه په مدینه حمله کوو چه دا سړے (کوم چه ځان ته پیغمبر وائی) ختم کړو او حکومت ئے هم ختم شی، نبی علیه السلام ته خبر راورسیدو چه د غطفان قبیلے خلك اسلحے راجمعه کوی او خلك ستاسو د مقابلے دپاره تیاروی،

نبی علیه السلام د هغوی د حملے نه مخکی مخکی تیاری وکړه، دوه سوه کسان ئے برابر کړل او خپله ورسره روان شو او په مدینه باندے ئے سیدنا عبد الله بن ام مکتوم (ړوند صحابی) والی او نائب او خلیفه مقرر کړو په مسجد نبوی کی به ئے جمعه ورکوله، نبی علیه السلام روان شو، دوه سوه اسونه ورسره وو، هغوی خبر نهٔ وو چه نبی علیه السلامؑ په جلتئ سره د هغوی علاقے (کُدر) ته ورسیدو چه هلته اُوبه وے، مشرکین خبر شو چه په مونږ باندے حمله کیدو والا ده،

نو په هغوی باندے رعب راغے، ځکه چه دا د نبی علیه السلام معجزه وه چه مشرکین به د میاشتے د مزل په اندازه کی وو چه په هغوی به یره راتله۔ مشرکینو باندے رعب راغے، خپل اُوښان ئے په ځای پریښودل، رسول الله ﷺ په هغه ځای کی (٥٠٠) پنځه سوه اُوښان ونیول او یو غلام چه یسار ئے نوم وو ونیولو او هغه ئے بیا آزاد کړو۔ او درے ورځے هلته دیره وو، نبی علیه السلام به خپل شجاعت او بهادری ښودله چه یوه علاقه به ئے ونیوله سمدست به ئے نهٔ پریښودله،

درے ورځے ئے چه تیری کړی دغه (٥٠٠) پنځه سوه اُوښان ئے ځان سره مدینے ته راوستل دوه سوه مجاهدین وو، هر یو مجاهد ته ئے دوه دوه اُوښان ورکړل اوسل اُوښان ئے بیت المال کی واچول چه دیته خُمس وائی، دا به په کونډو یتیمانو مسکینانو باندے خرچ کیږی۔

دا هم نبائسته رعب ووچه په مشرکینو باندے راغے او دا واقعه اوه ورځے روسته د بدر د غزا نه راغلے وه، د شوال میاشت وه۔ ځینی وائی پنځلسم محرم وو۔

د رسول الله ﷺ د قتل اراده - او د عمیر بن وهب د اسلام واقعه

بله واقعه د شوال په میاشت کی دا راغله، د قریشو دوه کسان (صفوان بن امیه)، ددهٔ پلار په بدر کی مردار شوے وو او ځوئ ئے په مکه کی وو، ددهٔ سره یو بل ملګرے وو عُمیر بن وهب الجُمَحِی چه په حِجر (حطیم د کعبه) کی ناست وو، (حِجر د کعبے خوا کی یو ځای دے چه حطیم ورته وائی او خلك په کی دوه رکعاته کوی)

دے دواړو خپل مینځ کی خبرے کولے چه مشران د قریشو تباه شو، کوهی ته وغورځول شو دا څه چل وشو،

نو صفوان ووئیل پدے ژوند کی د سره نهٔ خیر نشته، پدے ژوند څوك څه کوی چه د سرِی مشران مړهٔ شی او دے ژوندے وی، نو عمیر بن وهب ووئیل : رشتیا دے وویل :

قسم په الله که په ما قرض نهٔ وے او بچی مے نهٔ وے چه په هغوی باندے د ضائع کیدو نه یریږم نو زهٔ تللم او محمد (رسول الله) مے وژلو، بیا دے زهٔ مړ شوے وے ځکه چه زما هلته د ورتللو یوه وجه هم شته هغه دا چه زما ځوی (وهب) د هغوی سره قیدی دے، لیکن دا دوه کارونه مے منع کوی۔

صفوان دا خبره غنیمت وګنړله چه سړے خو پیدا شو او د قریشو بدله به ددهٔ په وجه واخلو چه محمد (رسول الله ﷺ) ووژلے شو نو داسے شوه لکه ټول مسلمانان چه قتل شی ځکه چه مونږ ته ذلت او هوان ددهٔ په وجه رارسیدلے دے، نو صفوان ورته ووئیل:

ستا قرض په ما شو هغه به زهٔ خلاص کړم او ستا د بچو خرچه هم په ما شوه زما د بچو چه څه حال وو هغه به ستا د بچو هم وی، دوی به زهٔ د ځان سره یو ځای کړم ترڅو پورے چه ژوندی وی، ددے نه خاطر جَمعه وسیږه۔

نو عمیر ورته ووئیل دا خبره پټه وساته، زهٔ ځم، محمد (رسول الله) قتلوم، خو تهٔ به دا دوه کاره کوے یو به قرض خلاصوے او بل به د بچو حفاظت کوے۔ نو عمیر بن وهب کور ته لاړو او امرئے وکړو چه زما توره تیره کړئ او زهر پرے واچوئ (د هغوی طریقه

دا وه چه په توره به ئے زهر واچول نو چه څوك به ئے پرے ووهل كينسر به شو او د هغے نه به مړ شو) نو توره ئے تيره كړه، زهر ئے پرے واچول او كاتئ كې ئے بنده كړه او په اوښه سور شو او مدينے طرفته روان شو. او صفوان ته ئے ووئيل چه زما ځوى (وهب) په مدينه كې دے، په ما څوك ګمان هم نشي كولے كه څوك ما نه تپوس وكړى زۀ به وايم چه زما ځوى قيدى دے، د هغه تپوس له ځم.

عمير مدينے ته راغے د مسجد نبوى دروازه كې ئے اوښه څملوله پدے كې سيدنا عمر بن خطاب رضي الله عنه د خپلو ملګرو سره مسجد نبوى كې ناست وو، د بدر د جنګ خبرے ئے كولے چه الله تعالىٰ مونږ ته په بدر كې څومره عزت راكړو، نو عُمير ئے وليدۀ (عمر رضى الله عنه مُلهم انسان وو) سمدست ئے ووئيل:

دا د الله دشمن عمير بن وهب دے، دا نۀ دے راغلے مګر د شر دپاره (عُمير په مكه كې د قريشو په شيطان مشهور وو، نبى ﷺ ته ئے هم ډير ضررونه وركول، كنځلے ئے هم ډيرے كولے، فاحش سړے وو).

عمر رضى الله عنه ووئيل: ددۀ د شكل نه معلوميږى چه دا ورانئ له راغلے دے. سيدنا عمر فاروق رضى الله عنه نبى عليه السلام پسے ورغلو چه عمير بن وهب راغلے او شر پرے ښكاره كيږى، دا خبيث شر پسے راغلے دے، نو عمر رضى الله عنه راووتلو او دا سړے ئے د مرئ نه ونيولو او توره ئے هم ورله كلكه ونيوله او انصارو ته ئے ووئيل ننوځئ، د نبى عليه السلام نه ګيره چاپيره كړئ داسے نۀ چه دا سړے حمله ونكړى نبى عليه السلام امر وكړو چه دا سړے دننه راولئ، عمر رضى الله عنه همغه شان تيولے وو، رسول الله ﷺ ورته ووئيل: دا پريده، توره دے ورسره وى، پدے كې ئے عُمير ورته ووئيل رانژدے شه، نبى عليه السلام كې ډيره بهادرى او شجاعت وو، عمير ورته د جاهليت سلام واچولو أَنعِمُ صَبَاحًا. نبى عليه السلام ورته د ايمان د دعوت نه مخكې د سلام مسئله وكړه ورته ئے وفرمايل:

(قَدْ أَكْرَمَنَا اللّٰهُ بِتَحِيَّةٍ خَيْرٍ مِنْ تَحِيَّتِكَ تَحِيَّةُ أَهْلِ الْجَنَّةِ).

الله تعالىٰ مونږ ته په داسے سلام باندے عزت راكړيدے چه هغه ستا د سلام نه ډير غوره دے چه هغه د جنتيانو سلام دے يعنى اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ.

(فائده: بعض خلك وائى د سنت مسئلے مۀ بيانوئ، خلكو لا توحيد نۀ دے پيژندلے،

دا خبره خطاء ده ځکه د رسول الله ﷺ طریقه دا وه چه هر منکر به ئے ولیدۀ د هغے رد به ئے کولو او د هرے مسئلے دعوت به ئے کولو۔ غلط لفظ د الله هم نۀ دے خوښ۔

عثمان رضی الله عنه مشرکینو ته دا دعوت ورکړے وو چه پینځے مۀ ښکته کوئ حال دا چه کافر که پینځے ښکته کړی او که بره څه پرے لیکن د الله تعالیٰ دا عمل خوښ نۀ دے۔ لوط علیه السلام به د بی حیائی نه منع کوله معلومه شوه چه د دین هره مسئله ضروری ده، البته د وخت مناسبت به الاهم فالاهم استعمالولے شی)۔

نبی علیه السلام وفرمایل: يَا عُمَيْرُ مَا جَاءَ بِكَ؟)۔ اے عمیره ! ولے راغلے ئے ؟

عمیر ووئیل : زۀ خو دے له راغلے یم چه زما ځوی دلته بندی دے چه تاسو د هغه سره احسان وکړئ، خپل ځوی له راغلے یم۔

نبی علیه السلام ورته وفرمایل: رشتیا ووایه، هغه بیا همدغه خبره وکړه نو نبی علیه السلام ورته وفرمایل: دا توره دے ولے غاړے ته اچولے ده، توره خو سړے هغه ځای ته وړی چه د جنګ خطر وی، نو عمیر تورے ته ښیرے وکړے چه دا توری دے الله تعالیٰ هلاکی کړی، دوی مونږ ته څه فائده راکړه، بدر کی ئے نقصان راورسولو۔

نبی علیه السلام ورته وفرمایل: تۀ دے پسے نۀ ئے راغلے چه ځوی خلاصوے بلکه تا او صفوان دواړه په حطیم کی کیناستئ او تاسو د بدر د مشرکینو تذکره وکړه کوم چه په بدر کی مردار شوی دی، تاسو په هغے فریاد وکړو، بیا دے ووئیل چه که په ما قرض نۀ وے، زما بچی نۀ وے، ما محمد (رسول الله) وژلو او صفوان ستا د قرض او بچو ذمه واری واخسته او تا توره راواخسته زما د مرګ پسے راغلے ئے۔ او الله تعالیٰ ستا او ددے کار په مابین کی پرده کیږی دا کار نۀ شے کولے، الله زما د حفاظت وعده کړے ده۔

﴿اِنَّ اللّٰهَ يُدَافِعُ عَنِ الَّذِيْنَ آمَنُوْا﴾۔

پدے وخت کی د عمیر په زړۀ کی ناڅاپي د ایمان رڼړا راغله او سمدست ئے حالت بدل شو او اعلان ئے وکړو: أَشْهَدُ أَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ)۔

زۀ ګواهی کوم چه د الله نه سوئ هیڅوك حقدار د بندګئ نشته او دا ګواهی کوم چه محمد ﷺ د الله حق رسول دے۔ اے د الله رسوله ! تا به مونږ ته د آسمان خبرے کولے او د وحی خبرے به دے کولے لیکن مونږ به وئیل چه تۀ دروغ وائے لیکن دا خو داسے خبره ده چه پدے باندے زما او د صفوان نه علاوه هیڅوك خبر نۀ دی، ښځے ته مے

هم نهٔ ده معلومه۔

هر کله چه تهٔ په مدینه کی ددے خبرے نهٔ خبر شوے، نو قسم په الله ما ته معلومه شوه چه تهٔ حق نبی ئے، او الله تا ته خبر درکړیدے، نو الله لره حمد دے چه ما ته ئے د اسلام هدایت وکړو او دے ځای ته ئے راوستم او بیائے د حق ګواهی ووئیله۔

نبی علیه السلام صحابه کرامو ته وفرمایل:

(فَقِّهُوْا أَخَاكُمْ فِيْ دِيْنِهٖ، وَأَقْرِأُوْهُ الْقُرْآنَ وَأَطْلِقُوْا لَهٗ أَسِيْرَهٗ)،

تاسو دے خپل ورور ته د دین پوهه ورزده کړئ او قرآن ورته زدهٔ کړئ او قیدی ورته آزاد کړئ ځکه اُوس زمونږ ورور دے۔

(فائده: چه اسلام دے قبول کړو نو بیا به د اسلام احکام زدهٔ کوے، ډیر مسلمانان د اسلام د حقیقت نه ناخبره دی، قبرونو ته سجدے لګوی او د غیر الله په نوم نذر او منښتی کوی او د کفارو ملګرتیا کوی)۔

بل طرفته صفوان به مکه کی خلکو ته وئیل چه زرده چه د یو اَهم خبر نه به خبر شئ چه تاسو نه به د بدر واقعه هیره کړی۔

صفوان به د قافلو والو نه د عُمَیر په باره کی تپوسونه کول تردے چه د عُمَیر بن وَهب د راتلو نه مخکی یوه قافله راغله، صفوان ته ئے ووئیل چه تا چه کوم سړے مدینے ته د محمد (علیه السلام) د قتل دپاره لیږلے دے هغه خو ایمان راوړے دے، صفوان قسم وکړو چه ترڅو زهٔ ژوندے یم عمیر بن وهب سره به خبرے نهٔ کوم او نهٔ به هغه ته هیڅ فائده ورکړم۔

سیدنا عُمیر بن وهب رضی الله عنه نبی علیه السلام ته عرض وکړو چه اے د الله رسوله! مخکی به ما تاسو او مسلمانانو ته ډیر تکلیف رسولو او د الله د رڼړا (دین) د ختمولو کوشش مے کولو، ما ته اجازه وکړه چه زهٔ مکے ته لاړ شم او خلك الله تعالیٰ او اسلام طرفته رادعوت کړم۔ شاید چه الله به هغوی ته هدایت وکړی او که نهٔ وی داسے ضرر به ورکوم لکه څنګه چه ما ستا ملګرو ته د هغوی په دین کی تکلیف ورکولو۔

نبی علیه السلام ورته اجازه وکړه سیدنا عمیر بن وهب رضی الله عنه مکے ته راغلو او خلك به ئے د الله دین او ایمان ته رابلل، او چا چه به ئے خلاف کولو نو سخت تکلیف به ئے ورکولو تردے چه ددهٔ په لاس باندے ډیرو خلکو اسلام قبول کړو۔ رضی الله عنهم

ورضوا عنه۔ (الروض الانف، والرحیق)

بنی قینقاع یهودیانو سره غزا- شوال سنه (۲ هـ)

پدې پسې نزدې د شوال په میاشت کې بله واقعه راغله چه هغې ته غزوه د بنی قینقاع وائي۔

بنو قینقاع د یهودو یوه ډله وه، مخکې تیر شوی وو چه د یهودو په مدینه کې درې ډلې وې، د نبی علیه السلام سره ئې صلحه کړې وه، نبی علیه السلام به د لوظ ډیره پابندی کوله، اخلاق به ئې ورسره کول او دا یهودیان دهوکه باز، ظالمان، فسادیان او قاتلان وو. بنو قنیقاع په مدینه کې وسیدل، د دوی جنګی کسان اُوه سوه وو،

او بله دا چه لوهاران (آهنګران) وو او زرګران هم وو، د دوی سره وسله تورې، نیزې، لیندې ډیرې وې او بهادری هم پکې ډیره وه، مسجد نبوی ته نزدې د دوی بازار هم وو، (سُوْقُ بَنِیْ قَیْنُقَاع) دوی به د مخکې نه هم فساد کولو لیکن کله چه د بدر غزا وشوه نو دوی خپل فساد نور هم زیات کړو ځکه دوی پو هه وو چه که دا نبی غالبه شی نو مونږ به ختم شو، نو دوی به شرونه پیدا کول، د مسلمانانو بی عزتی به ئې کوله، چغلی به ئې کوله،

د یهودو د فساد یوه نمونه

د یهودو د فساد یو مثال دا دې چه صحابه کرام یو ځای کې ناست وو، د اَوس او د خزرج قبیلې کسانو د یو بل سره په مینه او محبت خبرې اترې کولې او خندل ئې، یو یهودی شاس بن قیس په لاره روان وو او دا ډیر بو ډا وو، د مسلمانانو سره ئې ډیره کینه وه نو دهٔ چه مسلمانان یو ځای ناست په اتفاق او خوشحالئ ولیدل نو ډیرخفه شو چه دا خو هغه خلك وو چه مونږ به لوبول او د نبی علیه السلام په وجه د دوی اتفاق راغې نو سخت خفه شو او دا ئې ووئیل چه که ددې انصارو اتفاق راغې نو قسم دې که مونږ د دوی سره په مدینه کې اُو وسیږو۔

ددۀ سره یو یهودی ځوان کښ وو هغه ته ئے ووئیل چه ته ئے لاړ شه، د دوی ترمینځ جګړه راوا چوه نو دے لاړو د مسلمانانو مجلس کی کیناستو نو وے وئیل چه بُعاث جنګ کی فلانی شاعر داسے وئیلی دی او بل ورته دا شعر وئیلے وو، نو د دے دواړو ډلو ترمینځ اختلاف پیدا شو نو یو دوه مسلمانان راپاځیدل چه راځئ چه دا جنګ بیا تازه کړو او صبا حَره خوړ ته اُوځو (چه دا په مدینه کی یو خوړ دے) او هلته به مقابله وکړو، دا دواړه ډلے هغه ځای ته لاړے، وسله ئے هم یوړه، نبی علیه السلام خبر شو نوځان سره ئے څه مهاجرین ملګری واخستل او دوی ته ئے ووئیل :

(یَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِیْنَ، اَللّٰهَ اَللّٰهَ، أَبِدَعْوَی الْجَاهِلِیَّةِ وَأَنَا بَیْنَ أَظْهُرِکُمْ بَعْدَ أَنْ هَدَاکُمُ اللّٰهُ لِلْاِسْلَامِ وَأَکْرَمَکُمْ بِهٖ وَقَطَعَ بِهٖ عَنْکُمْ أَمْرَ الْجَاهِلِیَّةِ وَاسْتَنْقَذَکُمْ بِهٖ مِنَ الْکُفْرِ وَأَلَّفَ بَیْنَ قُلُوْبِکُمْ)

(اے د مسلمانانو ډلے ! د الله لحاظ وساتئ، د الله نه ویریږئ، آیا زۀ دے ستاسو ترمینځ ژوندے یم او تاسو دے د جاهلیت خبرے شروع کړئ پس د هغے نه چه الله تعالیٰ تاسو ته د اسلام هدایت وکړو او په اسلام باندے ئے تاسو له عزت درکړو او په اسلام سره ئے ستاسو نه د جاهلیت ګندونه صفا کړل او په دے سره ئے د کفر نه خلاص کړئ او ستاسو د زړونو ترمینځ ئے اُلفت او محبت پیدا کړو)

نبی علیه السلام چه کله دا خبرے وکړے نو انصار سمدست پوهه شو چه دا خو د شیطان وسوسه او فساد وو او د دشمنانو یو چل او فریب وو نو اَوس او خزرج قبیلے یو بل ته غاړے ورکړے او ژړل ئے بیا دوی د رسول الله ﷺ سره بیرته سامعین او مطیعین راواپس شول چه خبره آوریدونکی او منونکی وو۔ او الله تعالیٰ ترے د دشمن دا مکر او حیله ختمه کړه۔

(**فائده** : اُوس وخت کی هم داسے خلک دی چه غواړی چه د مسلمانانو ترمینځ فساد پیدا کړی او د جهاد نه ئے واړوی، پدے باب کی د نیکانو مشرانو تابعداری پکار ده، بدګمانی به نۀ کوی تحقیق به کوی، د مؤمنانو ښه صفتونه به بیانوی او بدی به ئے نۀ بیانوی)۔

الله تعالیٰ قرآن کریم کی دا آیتونه راولیږل :

﴿یَا أَیُّهَا الَّذِیْنَ آمَنُوْا اِنْ تُطِیْعُوْا فَرِیْقًا مِنَ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا یَرُدُّوْکُمْ بَعْدَ اِیْمَانِکُمْ کَافِرِیْنَ

وَكَيْفَ تَكْفُرُوْنَ وَأَنْتُمْ تُتْلٰى عَلَيْكُمْ آيَاتُ اللّٰهِ وَفِيْكُمْ رَسُوْلُهٗ ﴾ (آلعمران:١٠١)۔

اے ایمان والو ! که تاسو د یوے ډلے د کافرانو خبره منئ، (نو) هغوی به تاسو د ایمان نه روستو کافران کړی او تاسو څرنګ کفر کوئ حال دا چه په تاسو دِ الله تعالیٰ آیتونه لوستلے کیږی او په تاسو کی د هغه رسول موجود دے)۔

د یهودو د فساد بل مثال :

د یهودیانو مولیانو اتفاق وکړو چه داسے کوو چه دا عوام د دین نه اړه وو، نو طریقه ئے دا اختیار کړه چه څه کسان به سهار وختی مسجد نبوی ته ولیږو، ایمان به راوړی او چه مازیګر شو نو کفر به وکړی خلك به تپوس وکړی چه ولے کافر شوئ؟ نو تاسو به ورته ووایئ چه مونږ اهل کتاب یو مونږ په تورات کی وکتل، د پخوانو کتابونو مطالعه مو وکړه، مونږ ته اول دا رسول حق ښکاره کیدو لیکن چه مونږ تحقیق وکړو نو پدے پوهه شو چه دا آخرنے نبی نهٔ دے دا ساحر یا دروغژن دے،

داسے کار چه وکړو ډیر ساده مومنان به راواوړی او لږ کسان به ورسره پاتی شی۔ د یهودیانو دا مُلیان عبد الله بن صَیُف او عدی بن زید او حارث بن عوف وو۔

(السیرة النبویة لابن کثیر والروض الانف ٢/٤١٣) وتهذیب سیرة ابن هشام ١/١٧٠)

الله تعالیٰ د دوی دا دسیسه مؤمنانو ته ښکاره کړه فرمائی :

﴿ وَقَالَتْ طَّائِفَةٌ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ آمِنُوْا بِالَّذِيْ أُنْزِلَ عَلَى الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَجْهَ النَّهَارِ وَاكْفُرُوْا آخِرَهٗ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴾ (آلعمران:٧٢)۔

(او وویل یوے ډلے د اهل کتابو نه : ایمان راوړئ په هغه کتاب چه نازل شویدے په ایمان والو په سر د ورځ کی او کفر وکړئ په آخر د ورځ کی دے دپاره چه دوی راواپس شی)۔

لیکن دوی ددے مکر او فریب په ذریعه هیڅ یو کس د اسلام نه وانهٔړولو ځکه د صحابه کرامو ایمان تقلیدی نهٔ وو بلکه دَ بصیرت او دلیل په بناء وو،

بل کار به یهودو دا کولو چه چا ته به ئے قرض ورکړے وو، صبا او بیګاه به پسے وزتللو او تنګولو به ئے او بیا به ئے ورته وئیل چه تهٔ دا دین ولے نهٔ پریدے نو پدے طریقه

به ئې تنګولو اوکه د مسلمان به په یهودي قرض وو نو دا به ئې ورته ووئیل چه زۀ دا اُوس نۀ درکوم، دا قرض ستا په ما باندې په هغه زمانه کې وو چه کله تۀ د خپل پلار نیکه په دین وې اُوس خو تا بل مذهب اختیار کړیدې، تۀ صابي شوې ئې، نو ستا په مونږ هيڅ حق نشته، دا چل ول به ئې کولو چه مسلمانان په عذاب کړي.

دا ټول کارونه به دوي د بدر د غزا نه مخکې کول سرۀ ددې نه چه رسول الله ﷺ د دوي سره لوظونه کړي وو لیکن رسول الله ﷺ او صحابه کرامو به د دوي په دې تکلیفونو صبر کولو دې دپاره چه دوي ته کیدې شي هدایت وشي او په علاقه او منطقه کې امن وامان راشي.

بنو قینقاع لوظ ماتوي

بنو قینقاع زورور خلك وو، حیله ګر وو، او کسب ګر وو دې خبرو په دوکه کې اچولې وو،

کله چه الله تعالیٰ مسلمانانو ته په بدر کې فتح او غلبه ورکړه نو د بنو قینقاع یهودیانو شر او فساد او د اسلام په خلاف ئې حسد نور هم زیات کړو او قسم قسم مسخرې او بدنامې لګول او مسلمانان د تکلیفونو سره مخامخ کول د دوي کار جوړ شو نو نبي علیه السلام د خپلو ملګرو سره د دوي خوا ته ورغلو او د دوي په بازار (سوق بني قینقاع) کې ئې دوي راجمع کړل او دوي ته ئې نصیحت وکړو او اسلام او هدایت طرفته ئې دعوت ورکړو او دا ئې ورته ووئیل چه دا ورانې او فساد او ظلم مکوئ، زمونږ او ستاسو لوظ دې، د وعدې پابند شئ، مسلمانان مۀ تکلیف کوئ، او اسلام راوړئ مخکې ددینه چه د قریشو په شان عذاب درباندې راشي، په بدر کې ئې هغوی تباه کړل تاسو به هم تباه کړي، لیکن ددې هرڅه باوجود د قینقاعو شر او تکبر نور هم زیات شو او نبي علیه السلام ته ئې ووئیل چه خپل ځان دې تا دهوکه نۀ کړي چه یو څو کسان د قریشو دې وژلي دي کوم چه د جنګ په چل نۀ پوهیدل، جاهلان بې تجربې خلك وو، کچرته تا زمونږ سره جنګ وکړو، تا ته به معلومه شي چه مونږه ډير جنګیان خلك یو، زمونږ په شان کسانو سره تۀ نۀ ئې ملاؤ شوې،

نو د دویٔ د طرفنه دا یو قسم د جنګ اعلان وو، لیکن رسول الله ﷺ دا غصه وخوړله او مسلمانانو صبر وکړو او پدې انتظار کې وو چه آینده کې به دوی څه کوی؟
پدې وخت کې الله تعالیٰ د سورة آلعمران دا آیتونه نازل شو۔
﴿ قُلْ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا سَتُغْلَبُوْنَ وَتُحْشَرُوْنَ اِلٰى جَهَنَّمَ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ○ قَدْ كَانَ لَكُمْ آيَةٌ فِيْ فِئَتَيْنِ الْتَقَتَا فِئَةٌ تُقَاتِلُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَأُخْرٰى كَافِرَةٌ ﴾ (آلعمران ۱۲،۱۳)۔
وواېه کافروته چه تاسو به مغلوبه شی او جمعه به کړے شئ جهنم ته او دا ډیر بد ځای دے۔ ستاسو دپاره نښه شته په هغه دوه ډلو کې چه یو بل سره مخامخ شوے، یوه ډله د الله په لار کې جنګیدله او بله ډله کافره وه، لیدل کافرو مومنانو لره دوچنده د خپل ځان نه۔ یا لیدل دے مومنانو کافرو لره دوچنده الخ۔ (ابوداود وغیره)
ددے نه عبرت واخلئ هغه ئے ولے هلاك کړل؟ ځکه د الله دشمنان وو او محمد رسول الله ﷺ لره ئے ولے غلبه ورکړه؟ ځکه دویٔ د الله تعالیٰ دوستان وو او اُوس ئے هم هغه دوستانه ختمه شوے نۀ ده، دا پیغمبران او مؤمنان به په تاسو غالبه کوی۔

د بنو قَیُنُقاع د غزا سبب

مسلمانانو به یهودیانو ته څه نۀ وئیل نو د یهودیانو زړورتیا زیاته شوه نو په مدینه کې ئے فسادونه او پریشانی نوره هم زیاته وله او د خپل ځان هلاکت ته ئے دعوت ورکولو او د ژوند دروازے ئے په ځان باندے بندولے نو پدے وخت کې یوه واقعه راغله چه ابن هشام د ابوعون نه نقل کړیده:
هغه دا چه د عربو یوه زنانه وه ډیره حیاناکه وه، ښوك وائی مسلمانه وه، د بنو قینقاعو بازارته راغلے وه څه سامان ئے راوړے وو هغه ئے خرڅ کړو او بیا د یو زرګر خواله ورغله سرۀ ئے اخستل نو دے یهودو ورته ووئیل: مخ دے ولے پټ کړے؟، مخ دے ښکاره کړه، دے زنانه ورته ووئیل ستاسو زما د مخ سره څه کار دے؟ هغوی ووئیل:
ښکاره ئے کړه، پدے کې دا زرګر راولګیدو ددے ښځے د لنګ دا یو طرف ئے رواخسته او شا ته قمیص پورے ئے وتړلو او هغه غافله وه نو چه پاڅیدله شا ئے ښکاره شوه او دے ظالمانو وریورے وخاندل نو زنانه چغے کړے؛

پدے کی پہ بازار کی یو مسلمان وو هغه پدے کار غصه شو نو پدے یهودی زرگر باندے ئے ورودانګل او دغه یهودی ئے مردار کړو نو دغه ځای کی خو ټول یهود وو هغوی راپاڅیدل او دا مسلمان ئے شهید کړو دلته د مسلمان چه کوم خپلوان وو هغوی آواز وکړو چه یهودو زمونږ سره داسے ظلم وکړو نو مسلمانان هم راجمع شو او یهود هم د دوی ترمینځ شر پیدا شو۔

قینقاعو باندے حمله بیا تسلیمیدل بیا شړل

نو نبی علیه السلام ته خبره ورسیدله چه دا خلك نهٔ ایساریږی زمونږ د زنانو بی عزتی ئے وکړه نو نبی علیه السلام بیرغ (جنډه) وتړله (ځکه چه د جهاد په ذریعه کفر او شرك او فساد او ظلم او بے انصافی ختمیږی)

او دا جنډه ئے د الله زمری سیدنا حمزه رضی الله عنه ته ورکړه او په مسجد نبوی باندے ئے ابولبابه بن المنذر صحابی مقرر کړو او مجاهدینو ته ئے آواز وکړو چه ځان تیار کړئ په بنو قینقاع باندے ورځو۔

نو په بنو قینقاع باندے ورغلل، بنو قینقاع وتښتیدل یوه لویه قلعه وه هغے ته ننوتل، نبی علیه السلام پنځلس ورځے محاصره کړل د شوال په پنځلسم (۱۵) ئے محاصره کړل تر ذو القعدے اوله پورے، او دا د خالی ورځ وه۔

ددے کفارو سره غَلَه ډیره وه او سبزیانی ئے په قلعه کی دننه کړلے او د یو کاله پورے خوراکی مواد د دوی سره موجود وو او دوی اُوه سوه جنګیان وو، که نبی علیه السلام دوی یو کال محاصره کړی وے هم دوی دننه وخت تیرولے شو لیکن الله سبحانه وتعالیٰ خپل نبی ته رعب ورکړے وو، دا یهود پدے قلعه کی داسے رپیدل۔

آخر ئے فیصله وکړه چه ورځو او د محمد رسول الله ﷺ په لاس ورکوزیږو، نبی علیه السلام ته ئے ووئیل چه ستا په امر به درکوزیږو چه څه حکم کوے۔

نبی علیه السلام ورته ووئیل راکوز شئ، زنانه او ماشومان ئے جدا کړل او د سړو لاسونه ئے وتړل۔

سیدنا محمد بن مسلمه رضی الله عنه ته ئے ووئیل چه ته لاړ شه، د دوی دا

غنیمتونه راټول کړه، غنیمتونه راجمع شو، پدې کې یو سړے (رئیس المنافقین عبد الله بن ابی بن سلول) راغے چه دۀ ظاهراً ایمان راوړے وو، یوه میاشت ئے شوے وه،

ابن سلول ووئیل چه دا کسان ما ته راوبښه، رسول الله ﷺ ورته هیڅ التفات ونکړو څکه ډیر غصه وو چه لږ مخکې تیر شو، بیا ئے ووئیل دا ما ته راوبښه څکه دا زما حلفاء دی، دا د خزرج قبیلے ملګری دی او عبد الله بن ابی ابن سلول هم د خزرج قبیلے وو، دریم ځل دے منافق نبی علیه السلام ته لاس وروا چولو او نبی علیه السلام ئے د ګریوان نه ونیولو او سوال ئے ترے وکړو چه دا خو اُوه سوه کسان دی، درے سوه (۳۰۰) زغرو والا، څلور سوه (۴۰۰) بې زغرو دی، دا ټول تۀ په یوه ورځ وژنے، دوی خو ما سره په جاهلیت کې ډیر مددونه کړیدی او زۀ خو داسے سړے یم چه د حادثو نه یریږم، دوی به زما مدد کوی،

نبی علیه السلام ورته ووئیل ما پریده، نبی علیه السلام تندے مبارك دومره راتریو کړو چه د هغے سورے راښکاره شو لیکن هغه بیا هم نۀ پریښودو، ډیر بې حیاء سړے وو، لیکن بیا هم رسول الله ﷺ ددے منافق سره ښائسته معامله وکړه، نبی علیه السلام ورته ووئیل چه څه دا کسان مے درویښل خو شرط به دا وی چه دوی به مدینه کې نۀ اُوسیږی څکه دا شریان، مفسدان دی، علاقه کې شر او فساد خوری، پدے کې دا کسان ئے وشړل، څه شام ته لاړل اَذرُعات علاقے ته، او څه خیبر ته۔

بیا الله تعالیٰ په دوی باندے وباګانے او آفتونه او مرضونه راوستل په دوه یا درے کالو کې ټول مردار شول۔

(۱ – د الله نه خلاصے نشته، فَفِرُّوٓا اِلَى اللّٰهِ۔

که په توره مړ نشوے په بل څه به دے وژنی۔

(۲ – فائده : د نبی علیه السلام اُوچت اخلاق اُوګوره چه دا خلك د قتل لائق وو خو د ابن سلول د اصرار او سختئ د وجه نه ئے پریښودل۔

۳ – فائده : څوك چه د یهود او نصاراؤ دفاع کوی، حفاظت ئے کوی، دا منافق اعتقادی دے کافر بالله دے)۔

د یهودو نه یوه ډله په مدینه کې ختمه شوه او دوه ډلے پاتے شوے امن وامان کې وسیدل، دوی هم څه نا څه فساد کولو۔

بیا روستو رسول الله ﷺ د دوی مالونه تقسیم کړل او پنځمه حصه ئې ترې بیت المال ته ورکړه او درې (۳) لیندې او دوه (۲) زغرې او درې (۳) توري او درې (۳) نیزې ئې د دوی مالونونه ځانله واخستې چه یوه زغره ئې سعد بن معاذ او بله ئې محمد بن مسلمه رضي الله عنهما ته ورکړه.

(الرحیق المختوم ص (۲۰۱) ونور الیقین فی سیرة سید المرسلین ص ۹۰ امتاع الاسماع :۱٤۳/۷)

د هجرت د دویم کال د ذی القعدې میاشتې واقعات

۱- د رسول الله ﷺ لور رقیه وفات کیدل.

۲- د سیدنا عثمان بن مظعون رضي الله عنه وفات کیدل.

۳- د سیدنا علي رضي الله عنه د فاطمې رضي الله عنها سره نکاح.

ددې واقعې نه روستو د ذی القعدې میاشت راغله. پدې کې جنګ ونشو لیکن څه کارونه وشو،

د سیدنا عثمان بن عفان رضي الله عنه بي بي رقیه رضي الله عنها وفات شوه، نبي علیه السلام ورته دویمه لور ام کلثوم رضي الله عنها په نکاح ورکړه، هغه هم څه موده روستو وفات شوه. نبي علیه السلام وفرمایل: که زما دریمه لور وې هغه مې هم ورکوله ځکه ډیر حیاناك انسان وو.

علي رضي الله عنه پدې وخت کې سیده فاطمه رضي الله عنها په نکاح واخسته. او زینب رضي الله عنها د مکې نه مدینې ته راورسیدله.

پدې میاشت کې اولنی مهاجر صحابي (عثمان بن مظعون رضي الله عنه) وفات شو، نبي علیه السلام په بقیع مقبره کې خښ کړو او شناخته ئې پرې کیښوده او وې فرمایل: أَعْلِمُ بِهَا قَبْرَ أَخِيْ).

زۀ ددې ورور په قبر شناخته لګوم پدې سره زۀ ددې خپل ورور قبر په نښه کوم.

عثمان بن مظعون رضي الله عنه د رسول الله ﷺ رضاعي ورور وو.

(۱- ددې نه معلومه شوه چه په قبر باندې صرف د معلومات دپاره شناخته لګول دي او نور مقصدونو دپاره شکلونه او په لوحو (تختو) باندې لیکنه کول دا ټول حرام کارونه دي.

۲- په قبر باندې شناخته لګول سنت طریقه ده، ددې فائده دا وي چه پدې سره قبر معلوم شي دې دپاره چه څوك پرې دپاسه ونهٔ ګرځي، بیا پدې کي د سرې دپاره جدا او د ښځې دپاره جدا لګول څه مسنون طریقه نهٔ ده، که د دواړو یو شان شناخته وي څه پرواه نشته)۔

سیدنا عثمان بن مظعون رضی الله عنه وفات شو، نبی علیه السلام یو صحابی ته ووئیل چه ګټه راوړه، هغه صحابی نشوه راوړې، نبی علیه السلام پخپله ورغلو او راوچته ئې کړه او په قبر ئې کیښوده او اُوبه ئې هم په قبر واچولې۔

پدې وخت کي نبی علیه السلام پیشن ګوئی هم وکړه،

سیدنا علي المرتضیٰ رضی الله عنه ته ئې وفرمایل: چه دوه بد بخته انسانان پیژنې؟ هغه ووېل: نهٔ، وې فرمایل: یو مخکي تیر شویدې چه اُحَیمِر ثمود دې یعني ثمودیانو کي یو سور شان سړې وو (قُدَار بن سالف)، هغه ظالم د صالح علیه السلام اُوښه وژلې وه، چه ددهٔ د یوې زنانه سره تعلق پیدا شوې وو، د هغې په وینا ئې قتل کړه او دویم سړې: وَالَّذِیْ یَضْرِبُكَ عَلٰی هٰذِهٖ۔

هغه سړې چه تا به پدې سر وهي او تابه شهید کوي۔

مګر په روایت د الجامع الصغیر او احمد (٤/٢٦٣) کي دي چه دا پیشن ګوئی رسول الله ﷺ په هغه وخت کي کړې وه چه سیدنا عمار بن یاسر او سیدنا علي بن ابی طالب رضی الله عنهما دواړه په غزوه د ذي العشیره کي وو او د کجورو په یو بڼ کي په زمکه په خاورو کي ودهٔ وشو او بیا رسول الله ﷺ راغې دواړه ئې راپاڅول او سیدنا علي ته ئې ووېل: یَا اَبَا تُرَاب ! (اې د خاورو پلاره! څکه چه خاورې ورپورې انښتې وې) بیا ئې ورته دغه پیشنګوئی وکړه۔

و سنده صحیح۔ السلسلة الصحیحة ١٧٤٣)

دا پیشن ګوئی تقریباً دیرش کاله روستو رشتینې شوه، د سیدنا علي رضی الله عنه د خلافت د پنځم کال په آخر کي یو خارجي (عبد الرحمن بن مُلجم المرادي) راغې یوې ښځې سره ئې تعلق پیدا شو، سیدنا علي رضی الله عنه د سهار مانځه دپاره مسجد ته راتللو، دا ورته پټ شوې وو په هغه ځای ئې وهلو کوم ځای ته چه نبی علیه السلام اشاره کړې وه، د الله د نبی دا خبره په وحي سره شوې وه څکه حقیقت وو، علي رضي

الله عنه زخمي شو او دوه ورځو پورے ژوندے وو بیا شهید شو۔ رضي الله عنه وارضاه۔
پدے کال باندے د لوی اختر مونځ فرض شو۔ او قرباني هم لازمه شوه۔

غزوة السويق - ذی الحجه سنه (۲) هجری

د ذو الحجے په میاشت کی یوه بله واقعه راغله چه هغے ته غزوة السويق وائی۔
سَوِیق ستوانو ته وائی، یعنی د ستوانو غزا۔
ابو سفیان د مکے مشر وو، دهٔ سوچ کولو چه دے مسلمانانو خومونږ ډیر وران ووهلو او خلکو کی زمونږ غلط شهرت وشو چه سُپر طاقت ئے وهلے دے نو څه چل پکار دے چه دا خپل عزت بیرته راواپس کړو نو سوچ ئے کولو چه یو وړوکے شان جنګ به وکړو چه تاوان مو پرے کم وشي او څه نا څه شهرت مو وشي دویم ئے دا قسم وکړو چه زهٔ به خپل سر ته د جنابت نه اُوبه ورښکاره نهٔ کړم ترڅو چه مے د محمد (علیه السلام) سره غزا نهٔ وی کړی،
نو دهٔ د ځان سره دوه سوه کسان د اسونو والا روان کړل، مدینے ته نزدے نهه میله وړاندے یو لوی غر وو د هغے شا ته ډیره شو چه د هغے نوم (ثَیب) وو۔
پدے کی ابو سفیان بهادری نشوه کولے چه د ورځے ښکاره په مدینه حمله وکړی نو د شپے مدینے ته راغے یو یهودی وو حیی بن اخطب هغه ته ئے دروازه ووهله چه زهٔ ابو سفیان یم، هغه ورته ووئیل مهٔ راځه په محمد (صلی الله علیه وسلم) مے وژنے،
بیا لاړو سَلَّام بن مِشْکَم په نوم بل یهودی وو چه د بنی نضیرو یهودو خزانچی وو، هغه ته ئے ور ټک ټک کړو هغه ورته دروازه کولاوه کړه، میلمستیا ئے ورکړه او لاره ئے ورته وښوده او شراب ئے پرے وڅکل او د جنګ ترتیب ئے هم ورته وښودلو،
پدے کی ابو سفیان چه ترتیب زده کړو د شپے په آخر کی خپلو ملګرو خوا له ورغے او پنځه شپږ ملګری ئے راولیږل د مدینے یو طرف ته چه هغے ته عُرَیْض وائی هلته ئے په یو باغ باندے حمله وکړه هغه ئے وسیزهٔ او د هغے دیوال ئے وغورځولو او په باغ کی دوه کسان وو یو انصاری او یو د هغه حلیف دواړه ئے شهیدان کړل او په منډه ئے ځان ابو سفیان ته ورسولو او د هغه ځای نه ټول مکے ته وتښتیدل،

نبی علیه السلام چه خبر شو سمدستي ئې څان سره دوه سوه (۲۰۰) ملګري واخستل او د ابو سفیان او د هغه د ملګرو د شړلو دپاره په منډه منډه لاړل قَرقَرة الکُدر علاقې پورې ورسیدل خو ابو سفیان دومره تیز تلي وو چه د جهاز په شان الوتلې وو او دومره رعب پرې راغلي وو چه پدې منډه کې ئې د ستوانو بوجئ ګوزار کړې وې چه بارونه ئې سپك شي، نبي علیه السلام چه ولیدل ملګرو ته ئې حکم وکړو چه دا ستوان راواخلئ، پدې وجه دې غزا ته غزوة السويق ووئيلې شوه۔

دې غزا کې څه جنګ ونشو ليکن ابو سفیان صرف دوه کسان په غلا ووژل او او په د باغ بعض کجوروته ئې اُور واچولو او وتښتیدل۔او پدې باندې ئې خپل څه شهرت وکړو او دا خيال ئې وکړو چه پدې سره د هغه قسم پوره شو،

دا د دویم کال واقعات وو۔ د بدر د غزا دوه میاشتې او څه ورځې تیرې شوې وې، د ذی الحجې میاشت وه، پدې غزوه کې ئې په مدینه باندې سیدنا ابولبابه رفاعه بن عبد المنذر رضی الله عنه خلیفه مقرر کړې وو او نبي علیه السلام د مدینې نه پنځه ورځې غائب شوې وو۔


(الدرر فی اختصار المغازی والسیر لابن عبد البر النمری، والرحیق المختوم، والسیرة النبویة عرض ووقائع لعلی محمد محمد الصلابی ۳/۹۵)

عریض مدینې ته نزدې د کجورو والا يو علاقه ده۔

قرقرة الکدر: دیته کُدر هم وائی، دا د بنو سلیمو کوهې دې چه د معدن په اطرافو کې اَرُحَضِيَه علاقې ته نزدې ځای دې د مدینې او د قرقرة الکدر علاقې ترمینځ اته بریده فاصله ده يعنې تقريباً (۷۲) میله۔

د هجرت دریم کال

پدې پسې د هجرت دریم کال راغې۔ کله چه د هجرت دریم کال شروع نو پدې کې د اُحد د غزا پورې څه واقعات او غزا ګانې راغلې چه په هغې کې ئې څه صحابه کرام لیږلي دي۔



غزوهٔ ذی اَمر - (غزوهٔ غطفان) مُحرم سنه (۳ هـ)

د محرم میاشت چه کله راغله د نبی علیه السلام استخباراتو خبر ورکړو چه د نجد په علاقه کی بنو ثعلبه او بنو مُحارب دوی اراده وکړه چه په مدینه باندے حمله وکړی، د بنو محاربو سردار دعثور بن حارث ډیر کسان راجمع کړی وو،

دلته نبی علیه السلام څلورنیم سوه (٤٥٠) مقاتلین (جنګیان) تیار کړل چه څه سوارهٔ وو او څه پیاده. او په مدینه باندے ئے سیدنا عثمان بن عفان رضی الله عنه خلیفه مقرر کړو. او روان شو تردے چه د کفارو د راجمع کیدو ځای ته ورسیدل چه هغه ذِیْ اَمَر علاقه وه (دا د یوے چینے نوم دے)

او د رسیدو طریقه ئے دا وه چه دوی په لاره کی یو سړے (جُبار) د بنو ثعلبهٔ نه ونیولو او رسول الله ﷺ ته ئے راوستو نو رسول الله ﷺ هغه لره اسلام طرفته راوبللو نو هغه په اسلام مشرف شو، نو نبی علیه السلام د بلال سره یو ځای کړو چه هغه به د مسلمانانو لښکر ته لاره خودله نو پدے طریقه ئے دشمنانو طرفته ورسول.

مشرکینو باندے رعب راغے، وتښتیدل څوك یو غر ته لاړل او څوك بل غر ته، نبی علیه السلام دغه ځای کی یوه میاشت او څه ورځے زیاتے تیرے کړے، د صفرے میاشت ئے مکمله تیره کړه، دے کی حکمت دا وو چه عامو مشرکانو ته معلومه شی چه مونږ داسے کمزوری خلك نهٔ یو چه یو ځای ونیسو بیا ئے زر پریدو، او دے دپاره چه بانډو والا خلك د مسلمانانو په قوت پو هه شی او په هغوی باندے هم رعب او یره راشی.

بیا مدینے ته روغ رمټ راواپس شو.

نجد: ددے نه مراد د عربو هغه علاقه ده چه یمامے د حدودو نه واخله تر مدینے منورے پورے او بیا د صحراء په طرف د بصرے نه تر بحرین (خلیج فارس) پورے خوره شویده، نبی علیه السلام د هجرت نه مخکی ددے علاقے پنځلس قبیلو ته د حج په موقعه د یو بل نه پس دا دعوت ورکړو چه ما سره ځان سره بوځی چه د الله تعالیٰ پیغام امت ته ورسوم نو په هغوی کی د نجد نه بنو حنیفه د ټولو نه زیات بد اخلاقه او سخت ثابت شو، د دوی یو مشر ثُمامه بن اُثال هم وو چه روستو مسلمان شو، په دریم

کال د صفرے په میاشت کی د بئر معونه واقعه چه په هغے کی ډیر قاریان شهیدان شو هغه هم په نجد کی راپیښه شوے وه، په نجد کی د نبوت د دروغو دعوه کونکے مسیلمة الکذاب هم پیدا شو چه بیا ورسره د ابوبکر صدیق رضی الله عنه په خلافت کی سخت جنګ وشو چه هغه په جنګِ یمامه باندے مشهور دے،

په موجوده زمانه کی د نجد علاقه د (حائل، القصیم او الریاض، سدیر، افلاج، یمامه، وشم) په ضوبو باندے تقسیم ده چه ددے دار الحکومت حائل، برَیده او الریاض دی۔

په اتلسمه صدیٔ کی محمد بن عبد الوهاب رحمه الله په نجد کی د دین د اصلاح بی مثاله کار وکړو چه د هغے مثبت اثرات نن صبا هم په عرب معاشره باندے غالب دی۔ (المعالم الاثیرة، واطلس المملكة السعودية والعالم)۔

د اعرابی ناشنا واقعه

په بعض تاریخی قیصو کی راځی چه پدے کی یوه واقعه راغله او بعض علماء دا واقعه په بل جهاد (یعنی غزوه د ذات الرقاع) کې ذکر کوی۔

حافظ ابن حجر رحمه الله وائی چه واقدی رحمه الله د کلام نه معلومیږی چه دا دوه واقعے دی او په دوه واقعو کی دا کار شویدے۔ په یوه واقعه کی د سړی نوم دُعْثُور بن الحارث خودلے شویدے او دهٔ اسلام راوړیدے او په بله واقعه (غزوه د ذات الرقاع) کی غَوْرَث بن الحارث خودلے شویدے او دهٔ ایمان نهٔ دے راوړے۔

بنو محارب د غر سر کی ناست وو، نبی علیه السلام ئے ولیدهٔ چه دا د خپلو ملګرو نه یوائے شوے دے ځکه د هغوی طریقه دا وه چه د غرمے په وخت کی به ئے خوب کولو، نبی علیه السلام یو ځای کی دمه وکړه،

صحابه کرام تقسیم شو، څوك د یوے ونے لاندے اُودهٔ شو او څوك د بلے ونے لاندے، یوه ونه وه د هغے سورے ډیر وو، نبی علیه السلام د هغے نه لاندے یوائے اُودهٔ شو، ځکه ظاهراً څه خطره نهٔ وه، پدے کی مشرکانو مشوره وکړه چه دا نبی (علیه السلام) به قتل کړو نو نور صحابه به هم شکست وخوری ځکه دا مشر دے، نو دوی یو کس

تیار کړو چه د هغه دعثور نوم وو. او بعضو تاریخونو کې غورث نوم ذکر شوید ے لیکن پدے مقام کې اول نوم راجح دے۔

دا مشرك غلے غلے راغے، د غرمې وخت دے نبي علیه السلام اُودهٔ دے او د هغه توره زوړنده ده هغه ئے راواخسته پدے کې د نبي علیه السلام سترګے مبارکے راکولاوے شوے، دے مشرك نبي علیه السلام ته ووئیل: مَن يَّمنَعُكَ مِنِّيْ؟)۔

تا به زما نه څوك خلاص کړی؟ نبي علیه السلام په حوصله او اطمینان سره ووئیل : (اللّٰه) هغه ذات به ما بچ کوی چه هغه د ټولو مخلوقاتو معبود دے۔

د نبي علیه السلام د خُلے نه د الله لفظ وتلو کې دومره طاقت وو چه په مشرك باندے رعب راغے او وریږدهٔ او د رپیدلو سره ئے توره د لاس نه پریوتله نو نبي علیه السلام راواخسته او مشرك ته ئے ووئیل: مَنْ يَّمْنَعُكَ مِنِّيْ؟)۔

اوس تا به زما نه څوك خلاصوی؟ د مشرك خو څه عقیده نهٔ وی۔

نو مشرك زاری شروع کړه وے وئیل: كُنْ خَيْرَ آخِذٍ)۔

شه غوره نیونکے، ما سره احسان وکړه، ستا لاس کې راغلے یم۔

نبي ﷺ ورته ووبل: ایمان راوړه؟ هغه ووئیل : ایمان نهٔ راوړم لیکن دا وعده درسره کوم چه جنګ به درسره نهٔ کوم او د هغه قوم سره به نهٔ ملګرے کیږم کوم چه تا سره جنګیږی۔

نبي علیه السلام هغه معاف کړو اګرکه د وژلو لائق وو ځکه حمله آور وو، د قتل په اراده راغلے وو، روستو زمانه کې دهٔ ایمان راوړو او خپل قوم ته ئے دعوت ورکړو چه :

جِئْتُكُمْ مِنْ عِنْدِ خَيْرِ النَّاسِ۔

زهٔ تاسو ته د داسے سړی د خوا نه راغلم چه د ټولو خلکو نه ډیر غوره دے۔

د نبي علیه السلام د اخلاقو نه به خلك متاثره کیدل نو ایمان به ئے قبول کړو، نبي علیه السلام به اکثر د مشرکانو سره احسان کولو صرف ضرری کفارو سره به ئے جنګ کولو۔

پدے غزا کې جنګ ونشو نبي علیه السلام ددے ځای نه بیرته مدینے ته په امن سره واپس شو۔



د کعب بن الاشرف الطائی د قتل واقعه
(د صفر میاشت سنه ۳ هـ)

د بدر د غزا نه روستو د یهودو ضررونه او فسادونه زیات شو، یو یهودی کعب بن الاشرف چه مور ئے د یهودو د بنو نضیر قبیلے نه وه او پلار ئے د بنو طی د عربو نه وو، کعب بن اشرف د شکل نه ډیر ښائسته وو چه خلکو به ددهٔ مثال په ښائست کی ورکولو چه فلانے سړے دومره ښکلے دے لکه د کعب بن اشرف په شان۔

بل کمال الله تعالیٰ دا ورکړے وو چه شاعر وو او هغه وخت کی د شاعر داسے حیثیت وو لکه دے زمانه کی د میډیا۔ شاعر چه به د چا په لاس کی وو هغه به کامیاب وو، ډیر کار به ئے روان وو۔

دریم ظاهری کمال کعب بن اشرف ته دا حاصل وو چه مالداره هم وو، څلورم کمال پکی دا وو چه څه نا څه علم د کتاب ورسره وو، داسے سړے ډیر ضدی عنادی وی۔ نو کعب بن اشرف ډیر بد اخلاقه سړے وو، ددهٔ غټه قلعه وه، د مدینے جنوب مشرقی طرفته د بنو نضیرو د کورونو شا ته۔

دے چه کله خبر شو چه نبی علیه السلام په بدر کی مشرکین وژلی دی نو دهٔ ووئیل: چه که دا خبره رشتیا وی نو د مکے دا خلك خو د عربو سرداران او د خلکو بادشاهان دی نو بیا د زمکے د سر نه زمونږ دپاره د زمکے خیټه غوره ده یعنی مرګ زمونږ دپاره بهتر دے ددے نه چه محمد (رسول الله ﷺ) غالبه کیږی او مشران خلك دے وژنی۔

کله چه پوره خبر شو چه په بدر کی مشرکانو شکست خوړلے دے او صحابه کرام غالبه شویدی نو دهٔ اشعار شروع کړل او د نبی علیه السلام او د صحابه کرامو بدی ئے بیانوله۔ او پدے باندے ئے یواځے اکتفاء ونکړه بلکه د خپلو ملګرو سره مکے ته لاړو او د مکے مشرکانو ته ئے ووئیل چه په تاسو څه شویدی، ډیر عزتمند او ښکلے مشران ئے درله قتل کړل او بدر کی چه کوم مشرکان مردار شوی وو د هغوی په صفت کی ئے اشعار ووئیل او کوم چه کو هی ته پریوتل په هغوی باندے ئے د مکر ژړا شروع کړه، او

ځان سره ئے د قریشو شاعر المطلب بن ابی وداعه السهمی ملګرے کړو، هغه به هم ورسره د بدر وژلے شوی مشران په اشعارو کی یادول.

مقصد ئے د مکے مشرکان په جنګ راتیزول وو.

کله چه دا په مکه کی وو نو ابوسفیان ترے تپوس وکړو چه تهٔ هم اهل کتاب ئے او محمد (رسول الله ﷺ) هم کتاب والا دے، کیدے شی چه تاسو په شریکه باندے زمونږ خلاف څه چل جوړ کړے وی، مونږ دا نهٔ منو چه تهٔ زمونږ ملګرے ئے، مګر هغه وخت به ستا خبره ومنو چه تهٔ مونږ ته دا حال ووائے چه زمونږ دین حق دے که د محمد (رسول الله)؟ مونږ د کعبے خدمت کوو، د حاجیانو او میلمنو خدمت کوو او هغه قطع رحمی کړیده، تبنتیدلی دی او دغه قتل وقتال د هغوی کار دے، مونږ بنه یو که صحابه؟.

کعب بن اشرف ووئیل: ﴿هٰٓؤُلَاۤءِ اَهۡدٰی مِنَ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا سَبِیۡلًا﴾ تاسو په هدایت روان یئ او مؤمنان په غلطه لار روان دی. ابوسفیان ورته ووئیل پدے خبره مونږ اکتفاء نهٔ کوو مونږ به دا هغه وخت ومنو چه تهٔ زمونږ بتانو ته سجده وکړے، کعب بن اشرف لاړو او د دوی بتانو ته ئے سجده وکړه اګرکه د دوی په دین کی بتانو ته سجده ناروا وه لیکن د مشرکانو د وجه نه ئے ورته سجده وکړه.

(**فائده**: یهود او نصاریٰ اګرکه مسلمانانو ته نزدے دی لیکن د مسلمانانو خلاف د روسانو، هندوانو او کمیونستهو ملګری دی، دا ددے زمانے د بدعتیانو طریقه هم ده چه د اهل حقو په خلاف د شیعه ګانو، بریلیانو ملګرتیا هم کوی، بعض ظالمان پکی وائی چه مونږ به ګیرجه او امام بارګاه پریدو لیکن د اهل حدیثو مسجد به جوړولو ته نهٔ پریدو).

الله رب العزت په کعب بن الاشرف او د هغه په ملګرو په سورة النساء کی کامل رد کړیدے چه آیا تهٔ هغه کسانو ته نهٔ ګورے چه یوه برخه د کتاب ورکړے شویده:

﴿یُؤۡمِنُوۡنَ بِالۡجِبۡتِ وَ الطَّاغُوۡتِ﴾ چه ایمان لری په بتانو او طاغوت او د مؤمنانو په حق کی وائی چه دوی په هدایت نهٔ دی او کافران په سمه لار روان دی.

کعب بن اشرف مدینے ته بیرته راغے او د مسلمانانو خلاف ئے تبلیغات کول اګرکه د نبی علیه السلام سره ئے معاهده هم کړے وۀ چه یو بل ته به څه نهٔ وایو مګر دده شر نهٔ

په قلاریدو نو پدې کې رسول الله ﷺ ملګروته ووئیل :
(مَنْ لِكَعْبِ بْنِ الْأَشْرَفِ؟ فَإِنَّهُ قَدْ آذَى اللَّهَ وَرَسُولَهُ)

په تاسو کې به څوك تیار شي چه کعب بن اشرف مردار کړي؟ ځکه چه دا هغه سړے دے چه الله او رسول ته ئې ضرر ورکړیدے۔

(الله ته ضرر دا دے چه الله دپاره ئې اولاد ثابت کړي یا شرك ورسره کوي، لکه یو امام په مانځه کې مخامخ لاړے توکړے (د قبلې بې ادبي ترے وشوه) نو نبي علیه السلام مقتدیانو ته ووئیل چه دا امام بیا مانځه ته مخکې نۀ کړئ، مقتدیانو هغه منع کړو هغه نبي علیه السلام ته راغے چه تا زما مقتدیانو ته وئیلي دي چه دے به نۀ مخکې کوئ؟ نبي علیه السلام ورته وفرمایل، آؤ، ما منع کړیدی ځکه تا الله او رسول ته ضرر رسولے دے ځکه چه تا قبلې ته لاړې توکلي دي، دا صحابي وو لیکن پدے کار کې ئې ضرر وو بیا ئې توبه ویستله)۔

د نبي علیه السلام پدے خبره د بنو عبد الاشهل قبیلې یو شخص محمد بن مسلمه انصاري اوسي رضي الله عنه راپاڅیدو چه دا کار به زۀ وکړم ځکه چه دا د کعب بن اشرف د خپلوانو نه دے، د هغه د ترۀ ځوی دے نو محمد بن مسلمه ووئیل : ستا دا خوښه ده چه زۀ ئې مردار کړم؟ نبي علیه السلام ورته وفرمایل:آؤ، ځکه ددۀ مثال د مار لړم دے، ضرري دے۔

محمد بن مسلمه ووئیل : دا به زۀ مړ کړم لیکن ما ته اجازه راکړه چه زۀ د دین خلاف څه خبرے وکړم، نبي علیه السلام ورته اجازه ورکړه چه کولے شے، نبي علیه السلام ورسره نور کسان هم تیار کړل، ابو عَبْس بن جَبْر، عَبَّاد بنْ بِشْر، حَارث بن اَوْس او ابونائله چه ددۀ نوم سِلْکان بن سلامه وو، دا د کعب بن اشرف رضاعي ورور وو۔ د دوی مشر محمد بن مسلمه رضي الله عنه وو۔

پدے کې اول محمد بن مسلمه لاړو کعب بن اشرف ته ورغلو او دا خبرے ئې ورته وکړلے چه دا سړے یعنې نبي علیه السلام راغلې دے زمونږ نه زکاة او صدقے غواړي او مونږه ئې تنګ کړي یو، کعب بن اشرف ورته ووئیل چه قسم په الله دا به په تاسو نور هم بوج شي، ددۀ تابعداري تاسو څنګه کوئ، دا درته صبا نورے نورے خبرے کوي،

محمد بن مسلمه ورته ووئیل چه اُوس مونږه دۀ پسے روان شوي یو، مونږ دا نۀ

پریدو تردے چه مونږ پوهه شو چه کوم ځای ته ددهٔ حال رسیږی چه آیا دا به بادشاه کیږی چه د دنیا څه فائده ترے واخلو او که مری به، په مرګ به ترے جدا شو، مقصد ئے دا وو چه مونږ ددهٔ د زړهٔ نه ملګری نهٔ یو۔

(۱ – ددے نه معلومه شوه چه اَلۡحَرۡبُ خُدۡعَةٌ جنګ د چل نوم دے۔

۲: دارنګه معلومه شوه چه د دینی فائدے دپاره کله نا کله په ظاهره کی د دین خلاف کول جائز دی لکه چه دے صحابه کرامو داکار کړے وو۔ او دا کار به د سخت ضرورت په وخت کی کولے شی او د امیر په اجازه به کولے شی)

محمد بن مسلمه ورته ووئیل زهٔ ددے دپاره راغلے یم چه په قرض کی یو وسق یا دوه وسقه کجورے راکړه چه دے سړی ته ئے په صدقه کی ورکړو (یو وسق (۶۰) شپیته صاعه دے تقریباً (۱۳۵) کیلو جوړیږی) کعب بن اشرف ورته ووئیل چه کجورے به درکړم خو ګانړه راکړئ، محمد بن مسلمه ورته ووئیل په ګانړه کی څه شے درکړو؟

کعب بن اشرف ورته ووئیل چه ستاسو ښځے راسره ګانړه کړئ۔

(دا د یهودو بد اخلاقی او بی تهذیبی ده)۔

محمد بن مسلمه ته پدے خبره ډیره غصه ورغله لیکن په زړهٔ ئے تیره کړه او کعب بن اشرف ته ئے ووئیل څنګه ستا سره خپلے زنانه ګانړه کیدو حال دا چه تهٔ په عربو کی ښائسته سړے ئے، زمونږ زنانه چه تا سره ناستے وی، کیدے شی چه تا سره ئے محبت پیدا شی نو کعب بن اشرف ووئیل ستاسو ځامن راسره کینوئ۔

محمد بن مسلمه ورته ووئیل: ځامن درسره څنګه ګانړه کړو بیا خو به عرب زمونږ ځامنو ته پیغور کوی چه تاسوخو په یو من دوه منه کجورو باندے ګانړه شوی یئ لیکن مونږ تا سره وسله ګانړه کی ایږدو۔

کعب بن اشرف ووئیل: وسله راوړئ، نو دوی زغری راوړی او ورسره ئے کیښودے، بیا ابونائله ورغلو ورسره کیناستو، ګپ شپ ئے ورسره لږ ساعت دپاره ولګولو او اشعار ئے ورسره ووئیل: او د هغے نه روستو ئے ورته ووئیل اے ابن الاشرف! زهٔ تا ته د یو حاجت دپاره راغلے یم، زما اراده ده چه تا ته ئے ذکر کړم لیکن چا ته حال مهٔ وایه۔

کعب ووئیل: صحی ده۔ ابونائله ووئیل: دا سړے راغلے دے (نبی علیه السلام) او دا په مونږ یو لوی مصیبت دے، ټولو عربو مونږ سره دشمنی وکړه او د یو بے لینده نه ئے

په مونږ ګوزار وکړو (ټول راته متوجه دي) او زمونږ نه ټولې لارې پريکړې شوې ترديې چه اهل وعيال موضائع شو او نفسونه مو ډير وکړيدل، مونږ په مشقت کې پراته يو او زمونږ بچي هم په مشقت کې پراته دي۔ مونږ دې له راغلي يو چه ته په مونږ باندې لږه غله راخرخه کړه او زهٔ د نبي عليه السلام ملګرې نهٔ يم او زما سره نور کسان دي د هغوی هم داسې رايه ده، ته به هغوی ته غنم او کجورې ورکړې او هغه هم د زړهٔ نه ملګري نهٔ دي بلکه ظاهراً ئې ملګري دي۔

کعب بن اشرف ډير خوشحاله شو چه په صحابه وکی زمونږ ملګري پيدا شو (منافقانو ته به يهود ډير خوشحاليدل، لکه چه اُوس هم يهود نصارىٰ مسلمانانو کی منافقانو ته خوشحاليږی ځکه د دوی نه ډير ضرر اسلام ته رسيږی۔)

محمد بن مسلمه او ابونائله دواړه په دې خبرو اترو کی ډير حده پورې کامياب روان وو ځکه چه کعب بن اشرف ددې خبرو نه روستو د دوی سره به وسله ناشنا نهٔ ګنړی، ورسره اموخته شو۔

کله چه د ربيع الاول دريم (۳) کال څوارلسمه (۱٤) شپه شوه، چه سپوږمه پکی رڼا والا وه، دا ټولګې رسول الله ﷺ ته راجمع شو نو هغه د کعب بن اشرف د قتل دپاره په وعده شوی ورځ کی رخصت کړل او نبي عليه السلام ورسره تر بقيع پورې راووتلو، او ورته ئې ووئيل : د الله په نوم روان شئ، نبي عليه السلام بيرته راغلو او په مانځه ودريدو او دعاګانې ئې کولې: اَللّٰهُمَّ اَعِنْهُمْ۔ اے الله! دې کسانو سره مدد وکړه۔

دوی لاړل د کعب بن اشرف قلعه ته ورسيدل، او دروازه ئې ووهله او ابونائله ورته آواز وکړو۔

پدې وخت کی کعب بن اشرف نوې وادهٔ کړې وو ځکه ډير مالداره وو، ښځې ورته ووئيل پدې وخت کی تهٔ چرته اُوځې، دا خو نيمه شپه ده او دشمنداره سړې ئې، زهٔ داسې آواز آورم چه ددينه وينې څاڅي۔

نو کعب بن اشرف ووئيل : دا يو خو محمد بن مسلمه زما ورور دې او بل ابونائله دې دا زما رضاعي ورور دې (اِنَّ الْكَرِيْمَ لَوْ دُعِىَ اِلٰى طَعْنَةٍ أَجَابَ)

او شريف سړی ته چه د شپې آواز وشي او څوك ئې په نيزه وهي هم ورځي، زهٔ خو يو شريف سړې يم، زهٔ څنګه کوته کی پاتې شم، زهٔ بهر اُوځم۔ خپلې ښځې ته ئې بهادري

بیان کړه.

کعب بن اشرف بهر راووتلو چه د سر نه ئے خوشبوئی روانه وه. د دوی سره ئے لاس ملاؤ کړو او خبرے ئے ورسره وکړے چه مونږ اسلحه راوړیده، ابو نائله خپلو ملګرو ته ووئیل چه کله کعب راشي نو زۀ به د هغه سر راونیسم او بوئی کوم به ئے نو کله چه تاسو ما وینئ چه ما د هغه سر مضبوط ونیولو نو بیا پرے ګوزار وکړئ،

هرکله چه کعب دوی ته راکوز شو او څه وخت ئے خبرے اترے وکړے نو ابو نائله کعب بن اشرف ته ووئیل: راځئ چه لږ مخکې لاړ شو هلته یوه کنده ده شعب العجوز ورته وائی هلته به کینو او ګپ شپ به ولګوو یو بل ته به قیصے وکړو (لکه د عربو عادت دا وو چه یو بل ته به ئے د شپے قیصے کولے)

کعب بن اشرف ورته ووئیل که ستا خوښه وی لاړ به شو چه دا ئے کله روان کړو نو پدے لاره کی ابو نائله ووئیل: چه ما د نن شپے په شان ډیره مزیداره خوشبوئی نۀ ده لیدلے نو پدے باندے کعب بن اشرف په تکبر کی راغلو، خوشحاله شو. بیا ئے ووئیل: ما سره د عربو ډیره ښه عطر جوړونکے ښځه ده

(عربو کی به زنانو عطر جوړول) نو ابو نائله ورته ووئیل:

آیا ستا اجازه ده چه ستا سر بوئی کړو، نو هغه ئے راونیولو او خپله ئے هم بوئی کړو او ملګرو ته ئے هم ووئیل چه دا بوئی کړئ، څومره مزیدار بوئی لری، بیا ئے ورله سر پریښودو، مخکی روان وو بیا ئے ورته ووئیل چه دا ستا سرخو ډیره مزیداره خوشبوئی لری نو کعب بن اشرف ورته ووئیل چه راشئ بوئی ئے کړئ، صحابو بوئی کړو بیا ئے پریښودو پدے وخت کی چه ښه مخکی لاړل نو بیا ئے ووئیل چه څه ښکلے خوشبوئی دے لګولے ده، لږ ئے بوئی کوم؟ هغه ووئیل: وکړه،

نو ابو نائله رضی الله عنه خپل لاس ددۀ په ویښتو کی وردننه کړو، ټینګ ویښتان ئے وو او د سر نه ئے کلک ونیولو نو ملګرو ته ئے ووئیل:

(دُونَکُم عَدُوَّ اللّٰهِ) . د الله دشمن راونیسئ، نو هغوی شروع وکړه چا ئے خپے وهلے او چا لاسونه او چا بل ځای لیکن د هغوی توری خپل مینځ کی ګډے وډے شوے، سرے ئے مړ نکړو ځکه چه غېږ په غېږ شو،

یو صحابی حارث بن اوس رضی الله عنه هم لږ شان پکی زخمی شو، محمد بن

مسلمه وبریدو چه سرے رانه روغ خلاص نشی نو یو جبل ئے راواخستو او پدے خیته کی ئے ورله ننویستو او دپاسه پرے کیناستو او ښکته ئے وشلولو نو کعب بن اشرف په زمکه راپریوتو او یوه تیزه چغه ئے وکړه چه عام خلك ئے راخبر کړل خلك ویریدل او په خپلو قلعه گانو ئے اُوربل کړو چه په مونږ باندے دشمن چرته رانشی نو کعب بن اشرف ئے مردار کړو او صحابه کرام ترے روغ راواپس شو او خپلے اسلحےئے ترے بیرته راوړے کله چه حَرَّة العُرَیض علاقے ته راورسیدل نو وے کتل چه یو ملگرے (حارث بن اوس) ورسره نۀ وو، نو انتظار ئے وکړو چه څه لږ ساعت روستو هغه راورسیدو د خپلو ملگرو په گوزارونو زخمی شوے وو، هغه ئے راپه شا کړو دلته بقیع ته چه راورسیدل الله اکبر ئے وکړو،

نبیٔ علیه السلام پوهه شو چه کعب بن اشرف ئے مردار کړیدے نو هغه هم الله اکبر ووئیلو نبی علیه السلام ورته راووتلو او ورته ئے وفرمایل:

(أَفْلَحَتِ الْوُجُوْهُ) دا مخونه دے کامیاب شی. کومو مخونو چه دا کار کړیدے،

صحابه و ووئیل: (وَوَجْهُكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ) ستا مخ دے هم الله کامیاب کړی.

نو دوی د دغه طاغوت سر د نبی علیه السلام مخے ته گوزار کړو نو رسول الله ﷺ د کعب بن اشرف په مرداریدو باندے د الله حمد ووئیلو، او د حارث بن اوس په زخم باندے ئے لاړے توکلے نو هغه جوړ شو او بیا ئے هیڅ کله تکلیف نۀ دے محسوس کړے.

کله چه صبا شو معلومه شوه چه کعب بن اشرف مردار شویدے په عامو یهودیانو رعب او یره راغله او پوهه شو چه رسول الله ﷺ خو ډیر طاقت کی دے چه داسے سرکرده خلق وژنی کله چه په علاقه کی امن خرابوی نو دوی هیڅ حرکت ونکړو او ددے نه روستو ئے هیڅ ونۀ وئیل چه دا چا وژلے دے؟،

او ډیره موده پورے به ئے د خپلو لوظونو پابندی کوله، او عاجزی ئے ښکاره کړه، رعب ئے په زړونو کی وو او نبی علیه السلام او صحابه د دوی د ضرر نه ډیر وخت پورے بچ شو. او بهرنی دشمنانو ته متوجه شو او د خپل کورنی دشمن نه ډیر حده پورے مطمئن شول، دیته الاغتیالات السریة وائی. یعنی دشمن په پټه وژل. دا واقعه صحیح بخاری (۴۰۳۷) کی تفصیلاً ذکر ده.

(**حکمة او فائده** : شیخ البانی رحمه الله په یوه موقعه کی درس ورکولو، یو تن

پاخیدو او تپوس ئے ترے وکړو چه نبي علیه السلام کعب بن اشرف او ابن ابي الحقیق په دے طریقه وژلی دی نو دا سنت ولے ترك شویدی او تاسو اُوس ولے پدے عمل نهٔ کوئ؟ نو محدث العصر الفقیه شیخ الباني رحمه الله ورته جواب ورکړو : لَا تَقُلْ سُنَّةٌ ـ دیته سنت مهٔ وایه۔ دا سنت په هغه وخت کی دی چه کله داسے طاقت راشي لکه چه نبي علیه السلام مدینه کی دار الخلافه جوړه کړه، طاقت ورته الله ورکړو څوك پرے نشو راتلے، که مسلمانانو ته داسے طاقت حاصل شي او دعوت ئے ښکاره وي او پدے کی یو کس مفسد، ساحر او غل او ډاکو دے مسلمانانو ته ضرر رسوي نو پکار ده چه د مسلمانانو حکومت یوه وړوکی مجموعه ولیږي ددے دپاره چه دغه مفسد قتل کړي دا په هغه وخت کی سنت دی، او پداسے وخت کی سنت نهٔ دی چه مونږ سره طاقت نشته او دوه درے کسان تیار کړو او د چا د قتل دپاره ئے ولیږو ځکه که دا کار کمزوري مسلمانان وکړي نو هغوي به هم داسے کسان تیار کړي د مسلمانانو د قتل دپاره به ئے راولیږي او دیندراه خلك به وژني او اغواء کوي به ئے لکه نن صبا غله اغواء وکړي او بیا هغه په پاکو خلکو باندے راوړي، که اسلامي حکومت نهٔ وي او دا کار شروع کړو نو مسلمانانو ته نقصان رسیږي بیا به هرڅوك دا کار کوي، آه)۔

د سیدنا محمد بن مسلمه رضی الله عنه تعارف او فضیلت

محمد بن مسلمه انصاري په انصارو د اوس قبیلے نه د عبد الاشهل قبیلے حلیف وو کنیه ئے ابوعبد الرحمن یا ابوعبد الله وه، د تبوك نه سوا تمامو غزواتو کی حاضر شویدے، د غزوه تبوك په موقعه رسول الله ﷺ دا په مدینه باندے عامل مقرر کړے وو، سیدنا عمر فاروق رضی الله عنه دا د جُهینه قبیلے په صدقاتو وصول کولو باندے مقرر کړے وو کله چه به د یو عامل په باره کی شکایت راورسیدو نو عمر فاروق به محمد بن مسلمه رضی الله عنه د تحقیق دپاره لیږلو،

د سید عثمان بن عفان رضی الله عنهٗ د شهادت نه روستو دا د هر قسم فتنے او د خپل مینځي اختلافاتو نه جدا وسیدو، سیدنا حذیفه بن یمان رضی الله عنه ددهٔ په باره کی وئیلی وو چه دهٔ ته هیڅ فتنه نقصان نشي رسولے، راوي وائي : مونږ ربذه علاقے ته

لاړو نو هلته په شاړه کې په یوه جدا خیمه کې محمد بن مسلمه ﷺ موجود وو مونږ تپوس وکړو چه دا ولې ؟ هغه ووېل : ترڅو چه د فتنې او فساد دا حالت ختم نشي زۀ به دلته وسېږم، محمد بن مسلمه رضي الله عنه په (٤٦) یا (٤٧) هجری کې په مدینه کې وفات شو او لس ځامن او شپږ لونړه ئې پرېښودې۔

(اسد الغابة : ۵/۱۰۷، ۱۰۸)

غزوۀ بُحران- دریم کال ربیع الاول

بله واقعه چه هغې ته غزوه د بُحران وائي۔ بُحران په حجاز کې یوه علاقه وه د الفُرُع په خوا کې چه د مدینې نه ورته تقریباً (۹٦) میله مزل دے دلته د عربو یو کان وو (معدن) ئې ورته وئیلو۔

د سیرت په کتابونو کې ددے تفصیل دوه طریقو سره راغلے دے یو دا چه نبی علیه السلام ته چا خبر راوړو چه مشرکین (بنو سُلیم) په مدینه حمله کوي۔

بله واقعه داسے ذکر کوي چه د مشرکینو یوه قافله وه مدینې ته په لاره روانه وه۔ نبی علیه السلام اراده وکړه چه دغه قافله راونیسي نو نبی علیه السلام تر درے سوه (۳۰۰) کسانو پورے تیار کړل او خپله هم لاړو او بُحران علاقې ته ورسیدل او هلته ئې ډیر وخت تیر کړو لیکن څه جنګ ونشو، نۀ مشرکین وو او نۀ قافله وه، نبی علیه السلام پدے غزا کې دوه میاشتے تیرے کړے ربیع الثاني او جمادی الاولیٰ۔ په مشرکینو رعب واقع شو او نبی علیه السلام بیرته واپس مدینې ته راغلو۔

سریه د زید بن حارثة ﷺ قَرْدَه (نجد) طرفته

جمادی الثانیة (۳) کال

د اُحد د غزا نه مخکې دا ډیره کامیابه سریه وه چه مسلمانانو پکې ډیر رعب قائم کړو۔

د هجرت په دریم کال د جمادی الثانیه په میاشت کې بله واقعه دا راغله چه نبی

علیه السلام سیدنا زید بن حارثه رضی الله عنه ته (۱۰۰) سل کسان مجاهدین ورکړل چه تاسو به ځئ او د قریشو یوه قافله ده هغه به وهئ۔

د جمادی الثانی میاشت چه کله راغله مشرکان په مکه کی کیناستل مشوره ئے وکړه چه اوړے راروان دے، په اوړی کی مونږ د تجارت دپاره شام ته ځو او په ژمی کی یمن او حبشو ته ځو۔ دا د تجارت وخت راروان دے که پدے مشهوره لاره ځو نو د محمد (رسول الله) ملګری پدے ساحل کی ناست دی په مونږ باندے حملے کوی او د دغه ساحل والو سره ئے صلح کړیده او عام کسان د دوی سره په لوظ کی داخل دی او که په مکه کی پاتی شو نو خپل رأس المال به ختم کړو او هسے به شاړ تش توړ کینو۔

زمونږ زندګی په تجارت روانه ده نو ډیر زیات پریشانه شو۔

پدے وخت کی قریشو د شام د تجارت دپاره یو بل سړے (صفوان بن امیه) مشر کړے وو نو دوی مشوره کوله پدے کی یو مشرك چه اسود بن عبد المطلب ئے نوم وو هغه صفوان ته مشوره ورکړه چه داسے وکړئ چه شام ته لاړ شئ او بله لاره اختیار کړئ چه د مدینے نه لری وی، هغه دا چه د مکے نه اوځئ د عراق طرفته لاړ شئ چه دا د مدینے نه په مشرقی طرف ډیره لرے لاره ده او د عراق نه به شام طرف ته لاړ شئ او مدینه به په مینځ کی پاتی شی لیکن دا لاره دوی ته معلومه نۀ وه، او د مدینے والا لاره آسانه وه لیکن دوی فیصله وکړه چه د دوی د قافلے مشری به صفوان بن امیه کوی، د صفوان پلار او ورور په بدر کی مردار شوی وو، دا ئے مشر وو او څه کسان ئے هم ورله د حفاظت دپاره ورکړل، د لارے ښودلو دپاره ئے د بکر بن وائل قبیلے نه یو سړے ځان سره ملګرے کړو چه د هغه نوم فُرات بن حیان وو چه هغه ته دا لار معلومه وه او مزدوری ئے ورله مقرر کړه،

دا قافله روانه شوه، دوی سره حویطب بن عبد العزیٰ هم وو، دوی د خپل سفر دا خبره پټه ساتله چه مسلمانان خبر نشی او روسته راته لانجه جوړه نشی، لیکن سره ددے نه ددے قافلے خَبرونه مدینے ته والوتل، پدے کی یو صحابی وو چه د هغه سَلِیط بن نعمان نوم وو، پټ مسلمان وو او په یو مجلس کی ناست وو او بل ورسره یو مشرك ملګرے وو نُعَیم بن مسعود الاشجعی دواړو شراب وڅکل، دا مشرك نشه شو او په نشه کی ئے ټول حال دے مسلمان ملګری ته ووئیل چه د مکے خلکو مشوره کړیده

چه سړ. کال به په فلانکی لاره باندې قافله لیږی الخ۔

نـو سلیـط بن نعمان دا خبرې تہولې واوریدلې، کله چه د نشې نه بیدار شو (پدې وخت کې شراب حـرام نهٔ وو) نـو په جلتئ سره په اَس باندې سور شو او په لړ وخت کې ئې ځان مدینې ته ورسولو، نبی علیه السلام ته ئې حال ووئیلو چه د مشرکینو قافله په بله لاره شام ته روانه ده۔

نبی عـلیـه السـلام په جلتئ سره یو جماعت او ټولګې د صحابه کرامو په قیادت د زید بن حارثه رضی الله عنه کې برابر کړو چه سل کسان پکې وو، دوی ته ئې ووئیل چه په جلتئ سره وځئ او دغه لارې ته ځان اُوباسئ او کمین ونیسئ،

سیـدنـا زیـد بن حارثه کلبی رضی الله عنه د خپلو ملګرو سره د نبی علیه السلام په دعا روان شو تردې چه د نجد په زمکه کې قَرْدَه علاقې ته ورسیدل

(قرُده یوه چینه وه چه دې خلکو هلته پړاؤ اچولې وو،)

نـو سیـدنـا زیـد بـن حارثه رضی الله عنه په هغوی باندې ناڅاپی حمله وکړه، د قافلې څـوکیـداران او خپـلـه صـفـوان وتښتیـدو او هیـڅ مقاومت ئې ونکړې شو، قافلـه ئې همداسې پرېښوده، مسلمانانو د قافلې لارښودونکې فرات بن حیان ونیولو،

بـعـض وائی دهٔ سره ئې دوه کسان نور هم ونیول او دې قافله کې ددې مشرکانو ډیرې پیسې وې، لوښی او سپین زر ووچه مورخینو د هغې قیمت یو لاکهـ درهمه لیکلې دې چـه د هغې نه نن صبا کروړونه روپئ جوړیږی او نور سامانونه ئې هم ورسره وو۔ دا ټوله قـافـلـه ئې رسول الله ﷺ ته راوستله، رسول الله ﷺ ددې نه خُمس (پنځه حصه یعنی (۲۰) زره درهم) مـال واخستو چه دا به د بیت المال وی او باقی ئې په مسلمانانو باندې تقسیم کړه۔

مشـرکیـن چه مکې ته لاړل نو دا پرې بل لوی غم راغې چه دا لار ئې هم راته ونیوله او مـالونه ئې هم رانه لوټ کړل، نبی علیه السلام ته فُرات بن حیان راوستې شو، هغه ته د اسـلام دعـوت ورکـړې شـو نـو هغه سمدست ایمان راوړو، د رسول الله ﷺ مخ مبارك انتهائی ښائسته او تاثیرناك وو چه چا به لیدلو نو الله به ورته د اسلام توفیق ورکولو۔

مشرکین دې وخت کې ډیر خفه او غصه شو۔

د مـکـې مشـرکانو سره درې لارې وې اول دا چه ایمان راوړی که دا کار ئې اختیار کړې

وي نو دنيا او آخرت دواړه به ئې بنائسته شوي وي، ددې کې ذلت نۀ وو بلکه عزت وو
ليکن مشرکينو دا لار اختيار نکړه د لَوۡمَةَ لَائِم د وجه نه (د خلکو د ملامتيا نه يريدل)۔

دويمه لاره د صلحې وه چه د نبي عليه السلام سره ئې صلحه کړې وې چه مونږ به تاسره جنګ نۀ کوو، تۀ زمونږ سره جنګ مۀ کوه، که د مشرکانو د طرفه ورانے نۀ وې، د الله رسول ورسره صلحه هم کوله ليکن دا لار هم مشرکينو نۀ اختياروله بلکه د دوی کوشش دا وو چه اسلام ختم کړي۔

دريمه لاره دا وه چه د جنګ لاره اختيار کړي او په مدينه حمله وکړي او مسلمانان ختم کړي، دوی ته شيطان ددې لارې د اختيارولو تلقين وکړو۔ نو مشرکينو تيارې شروع کړو چه په مدينه به حمله وکړو د کال نه ئې دا تيارې شروع کړې وه خاصکر پدې ورځو کې چه دا دوه درې مياشتې دی، رجب، شعبان، رمضان۔ پدې کې مشرکينو قسم قسم اسلحه تياره کړه او خلک ئې هم تيار کړل چه په مدينه حمله وکړي چه د هغې نه د اُحد غزوه جوړه شوه۔ الرحيق المختوم وامتاع الاسماع ۱/۱۲۹)



غزوه د اُحد ...... شوال (۳ هجری)

د امخکی غزوات د اُحد د غزا سبب گرزیدلی وو چه پدے کی مشرکانو ته څه لږه شان غلبه هم ملاؤ شوے وه. غزوه اُحد ته د اُحد غزا ځکه وائی چه دا هغه غزا ده چه د اُحد غر په خوا کی واقع شوے ده ، اُحد په مدینه کی یو لوی غر دے چه نبی علیه السلام به په مثال کی ډیر پیش کولو.

نبی علیه السلام فرمائی: (هٰذَا جَبَلٌ يُحِبُّنَا وَنُحِبُّهُ) (بخاری و مسلم)

د اُحد غر زمونږ سره محبت لری او مونږ د هغه سره مینه لرو. دا به ئے هم وئیل که ما سره د اُحد غر په مقدار سرۀ زر وی په درے ورځو کی به ئے دننه دننه ختم کړم، هیڅ به هم ځان سره نۀ پریدم مگر هغه چه د قرض دپاره ئے وساتم.

د اُحد دپاره د مشرکانو تیاری

په اُحد غزا کی د مشرکانو مشران ابوسفیان بن حرب. دویم : عکرمه بن ابی جهل ووچه دا روسته مسلمانان شویدی. دریم صفوان بن امیه، دا هم روسته مسلمان شویدے. څلورم عبد الله بن ابی ربیعه. د دوی کلکه اراده وه چه دیدر د غزا بدله واخلو او خلکو ته ئے ترغیب ورکولو، دوی د مشرکانو دپاره چنده هم وکړه ځکه چه جنگ کی ډیره خرچه کیږی دا وجه ده چه قرآن کریم انفاق طرف ته ډیر ترغیب ورکړیدے دے دپاره چه خلك په جهاد کی مال ولگوی.

غرض دا چه مشرکانو چنده وکړه پدے طریقه چه د عوامو نه ئے مطالبه وکړه چه دا کومه قافله چه ابوسفیان خلاصه کړے وه چه په هغے کی زر اُوښان وو او پنځوس زره دیناره وو چه د هغے نه په کروړونو روپئ جوړیږی د شل دینارو نه اُوه نیمے تولے سره جوړیږی. یو ئے ترے دا مطالبه وکړه چه دا پیسے او اُوښان مونږ ته راکړئ چه د محمد (رسول الله ﷺ) نه مونږ بدله واخلو ځکه چه ستاسو هم دشمن دے او زمونږ هم او مشران ئے وژلی دی نو عوامو دا خبره ومنله چه پیسے به درکړو خو تۀ بدله واخله.

ددې په باره کې دا آیت نازل شو:

﴿ اِنَّ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا یُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ لِیَصُدُّوْا عَنْ سَبِیْلِ اللّٰهِ فَسَیُنْفِقُوْنَهَا ثُمَّ تَکُوْنُ عَلَیْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ یُغْلَبُوْنَ ﴾ (انفال:۳٦)

یقیناً هغه کسان چه کافران دي خرچ کوي مالونه خپل دې دپاره چه خلك د الله د لا ۍ نه واړوي نو زر دې چه دوي به دا مالونه خرچ کړي بیا به (د قیامت په ورځ) په دوي باندې افسوس وي، بیا به مغلوبه کړې شي)

(ددې آیت نه دا فائده معلومه شوه چه څوك مال ددې دپاره لګوي چه خلك د الله د دین نه واړوي دا سړې کافر دې)۔

بعض سیرتونوکې دا راغي چه دوي دا فیصله وکړه چه د دغه قافلې مال به خرڅ کړو او د هغې چه کومه ګټه وه هغه به پدې جنګ کې ورکړو مشرکین پدې رضا شو۔

دویم کار د مکې مشرکانو دا وکړو چه عامو مشرکانو او کفاروته چه د مکې نه بهر وو اعلان ئې وکړو چه محمد (رسول الله) سره مونږ دشمني کوو، که تاسو وزسره دشمني کوئ نو راشئ او مالي او جاني مدد مونږ سره وکړئ او ددې دپاره ابوسفیان مختلفو علاقو ته لاړو، احابیش، کنانه او اهل تهامه ئې ځان سره ملګري کړل عمرو بن العاص ئې ولیږه او خلکو ته ئې دعوت ورکړو چه راځئ زمونږ سره ملګري شئ نو ډیر خلك ئې د ځان سره ملګري کړل او مالي او جاني مدد ئې ورسره وکړو، (۳۰۰۰) درې زره مشرکین جمع شو او دوه سوه (۲۰۰) اسونه ئې برابر کړل۔

درې زره (۳۰۰۰) اوښان او پنځوس زره (۵۰۰۰۰) دیناره ورسره وو او اووه سوه (۷۰۰) کسانو زغرې اغوستې وې څکه چه په زغره باندې توره او نیزه ډیر اثر نهٔ کوي۔

دریم کار ئې دا وکړو چه میډیا د هغوی په لاس کې وه چه هغه وخت کې میډیا شاعران وو، شاعرانو ته ئې امر وکړو چه تاسو به شعرونه وایئ چه خلك په جنګ تیز شي نو هغوي به شعرونه وئیل چه دې مسلمانانو ستاسو پلاران وژلي دي۔

صفوان بن امیه یو شاعر ابوعِزَّةَ الجُمَحِی ددې دپاره تیار کړو چه ته د نبي علیه السلام بدي وایه او دا هغه سړی وو چه نبي علیه السلام په بدر کې نیولې وو بیا ئې پرې احسان وکړو او بغیر د فدیه نه ئې پریښودو۔ لیکن دا بدبخت په اُحد کې بیا ونیول

شو او مردارئے کړو لکه دده واقعه مخکې ذکر شویده۔

دهٔ ته صفوان دا لالچ ورکړے وو چه که دا د اُحد نه ژوندے راواپس شي نو مالداره به ئے کړي او که وفات شو نو ددهٔ د لونو کفالت به کوي، نو ابوعزه به په خپلو اشعارو سره د عربو قبائل راپاروّل او په جنګ به ئے تيزول۔

يو بل شاعر د مُسافع بن عبد مناف الجُمَحي په نوم ئے تيار کړو هغه به هم شعرونه وئيل چه راشئ او خپله بدله واخلئ۔ د مکے نه د مشرکانو فوج روان شو او ځان سره ئے پنځلس (۱۵) زنانه واخستے چه د غيرت خبرے ورته وکړي او ونهٔ تښتي ځکه زنانه چه سړي سره وي ځان وژني ليکن ښځه دشمن ته لاس کې نهٔ ورکوي او بل دا چه زنانو به شعرونه وئيل چه خلك په جنګ تيز کړي۔ دا ډير قوي فوج وو او شمارئے هم زيات وو۔

او ددے ټولو مشري ابوسفيان صخر بن حرب کوله او د شاهسوارانو قائد خالد بن الوليد وو چه عکرمه بن ابی جهل ئے ورسره معاون مقرر کړے وو، او جنډه ئے بنو عبد الدار ته ورکړے وه۔

نبي عليه السلام ډير هوښيار انسان وو، په مکه کې ئے استخبارات لرل۔

د نبي عليه السلام د استخباراتو والا سيدنا عباس رضي الله عنه وو هغه خط وليږلو چه د مشرکينو دومره فوج دے دومره ورسره اسلحه ده او دومره اسونه او اُوښان دي او پدے طريقه در روان شويدي۔

دا خط ئے د غفار قبيلے يو سړي ته ورکړو چه ددے قافلے نه مخکې په جلتئ سره مدينے ته ځان ورسوي فوجونه په قلاره مزل کوي۔ د مکے او مدينے ترمينځ تقريباً پنځه سوه کيلوميټره مزل دے۔ دا مزل ئے په درے ورځو کې ووهلو چه هغه زمانه کې په اُوښانو باندے دا مزل په اتو نهه ورځو کې سر ته رسيدلو۔

کله چه دهٔ خط ورسولو تپوس ئے وکړو چه نبي عليه السلام چرته دے؟ چا ورته ووئيل په مسجد قباء کې دے۔

(نبي عليه السلام به هره هفته مسجد قباء ته راتللو ځکه چه په مسجد قباء کې دوه رکعاته مونځ د عمرے په مقدار ثواب لري الحديث)۔

نبي عليه السلام ته په مسجد قباء کې دا استازے راورسيدو او نبي عليه السلام ته

ئے خط ورکړو، نبی علیه السلام په خط نۀ پو هیدو او دا د هغه کمال وو چه په امیتوب کی ډیر لوی عالِم وو په ټولو مخلوقاتو کی، دا د هغه معجزه وه۔

نبیؐ علیه السلام سیدنا اُبی بن کعب ته ووئیل دا خط ولوله، سیدنا اُبی بن کعب چه خط ولوستلونو په هغے کی دا خبره ذکر وه چه مشرکینٖ په مدینه حمله کوی او دا فوج در روان دے، رسول الله ﷺ اُبی بن کعب ته ووئیل :(اُکْتُم) (دا خبره پټه وساته)

نبی علیه السلام په جلتئ سره د مسجد قباء نه راواپس شو او خپل کور ته مدینے ته راغے او هلته ئے مهاجرین او انصار راجمع کړل او د مشورے دپاره ئے مجلس منعقد کړو چه دشمن راروان دے د هغے دپاره څه اختیارول پکار دی۔

ډیرو صحابه کرامو ورته ووئیل (لکه سعد بن معاذ رضی الله عنه) چه پدے کی زمونږ خیر دے، ملګرو ته ئے تسلی ورکړه۔

دلته په مدینه کی خبرخور شو نو مسلمانانو کی هر سړی توره او وسله راواخسته تردے چه د مانځه په حالت کی به ئے هم غاړے ته پرته وه دے دپاره چه دشمنان ناڅاپی حمله ونکړی۔

د مکے مشرکان مدینے ته رارسیدل

د مکے نه مشرکان ذو الحلیفے ته راورسیدل (چه ذو الحلیفه د مدینے نه شپږ میله ورلرے ده) په وادی العَقِیق باندے پورے وتل د هغه ځای نه ذات الیمین باندے روان شو او اُحد خو اته یوه علاقه عَیْنَیْن کی ئے پړاؤ واچولو چه دا علاقه بنوره ناکه ده او د کندے غاړه ده چه دا د مدینے شمالی طرف دے د اُحد غر لمن ده۔

او دا د جُمعے ورځ وه او د شوال شپږم او د هجرت دریم کال وو۔

په لاره کی په اَبْواء مقام کی د ابوسفیان ښځے هنده بنت عتبه دا مطالبه وکړه چه د رسول الله ﷺ د مور قبر راکولاؤ کړی او د هغے بےؑ عزتی وکړی لیکن لښکر دا خبره ونۀ منله ځکه که دا دروازه کولاوه شی نو دوی ته به ډیرے خطرناکے نتیجے او بد انجام ورسی۔ (الرحیق المختوم)

دلته نبی علیه السلام څه کسان مقرر کړل چه بهر لارو ته وځی چه ناڅاپی حمله

څوك ونكړي او څه كسان ئې د مدينې په كنډه وونو مقرر كړل او څه كسان د نبي ﷺ حفاظت ته ودريدل چه په هغوى كې سيدنا سعد بن معاذ، اُسيد بن حضير او سعد بن عباده رضى الله عنهم وو چه دوى به د وسلو سره د نبي ﷺ په دروازه شپه تيروله- لكه دا سنت طريقه ده، مشركان په خپله زړه مشهوره لاره باندې راروان وو-

د دفاع دپاره مجلس شوریٰ

دلته د شوریٰ مجلس منعقد شو، صحابه كرام ناست وو، عبد الله بن اُبي ابن سلول منافق د خزرج قبيلې مشرئې ځان ګڼړلو هغه هم پدې مجلس كې ناست وو، ظاهره كې ئې ځان په اسلام كې داخل كړې وو او په پټه كافر وو،

نبي ﷺ خپله رايه وركړه چه زما رايه دا ده چه په مدينه كې به دننه پاتې شو او په مشركينو پسې به نۀ وځو، ددې دوه فائدې دي يو دا چه كه مشركين هلته ناست وو او په مدينه ئې حمله ونكړه، نو لاښه ده ناست به وي آخر به تنګ شي او واپس به لاړ شي ځكه چه په صحراء كې دا سخت ژوند دې او كه په مدينه باندې حمله شروع كړي نو فائده به دا وشي چه مجاهدين به ورسره د كوڅو په سرونو كې جنګ شروع كړي او زنانه به د كوټو سرونو ته وخيژي او په كاڼړو به ئې ولي- دا قوي رايه وه او ظاهره كې پدې كې خير وو-

عبد الله بن ابي ابن سلول هم دا رايه وركړه چه زما هم دا رايه خوښه ده- د ابن سلول غرض دا وو چه د جنګ نه پټ شو ځكه كه دوى وتلې نو بيا خو به دې هم وتلې- ليكن الله تعالىٰ ددۀ دا غلط غرض او منافقت مسلمانانو ته پدې جنګ كې راښكاره كړو او د دوى د نفاق او كفر نه ئې پرده لرې كړه-

كله چه دا رايه وركړې شوه نو ځوانانو صحابه كرامو كومو نه چه بدر فوت شوې وو ووئيل چه مونږ به د الله نه دعا غوښتله او ددې ورځې آرزو به مو كوله چه داسې ورځ راشي او زمونږ ددې كافرانو سره مقابله وي او مونږ ته پكې شهادت ملاؤ شي، او په نبي عليه السلام ئې زور وكړو چه خامخا به وځو دې دپاره چه كافران دا ګمان ونكړي چه مونږ د هغوى نه بزدله يو-

د دوی غرض د نبی علیه السلام خبره رد کول نهٔ وو بلکه دا مشوره ده، هر سړے خپله رایه ورکولے شی۔ پدے ځوانانو کی یو د الله زمرے سیدنا حمزه رضی الله عنه وو، هغه ووئیل ضرور به بهر ور وځو او قسم په الله تر هغه وخته پورے به خوراك ونکړم ترڅو چه ما په خپله توره د مدینے نه بهر جنګ نهٔ وی کړے (په اصطلاح د بهوك هړتال اعلان ئے وکړو)

نبی علیه السلام ددے زور کونکو ځوانانو خبره ومنله او رایه پدے باندے جوړه شوه چه د مدینے نه وځو او په یو کولاؤ میدان کی ورسره جنګ کوو۔

فوج تیارول او میدان ته د وتلو تیاری

پدے کی نبی علیه السلام د جُمعے مونځ وکړو او ملګرو ته ئے د کوشش او د صبر او طاعت ترغیب ورکړو، نبی علیه السلام ډیره ښکلے خطبه ووئیله، په صبر او په جهاد او په کوشش ئے امر وکړو او دا وعده ئے ورسره وکړه چه د الله مدد به راځی که تاسو صبر وکړو۔ او هغوی ته ئے د دشمن دپاره د تیاریٔ حکم وکړو، نو صحابه کرام خوشحاله شو۔

کله ئے چه بیان وکړو، نبی علیه السلام خپل کور ته ننوتلو، سیدنا ابوبکر او عمر رضی الله عنهما هم ورسره ننوتل چه دا د نبی علیه السلام وزیران وو په زمکه کی او په آسمان کی ئے جبریل او میکائیل علیهما السلام وزیران وو۔

نبی علیه السلام رسول وو، خلیفه هم وو، عالِم هم وو، محدث هم وو او مجاهد هم وو۔

نبی علیه السلام چه کله دننه ننوتلو ابوبکر او عمر رضی الله عنهما ورته پټکے ووهلو او د جنګ چه کومے مناسبے جامے وے هغه ئے ورته ورواغوستلے، (د مخکنو عربو زمونږ د عجمو په شان جامے وے، په قمیص پرتوګ کی جنګ کیږی او په اُوږدو جامو کی کوم چه اُوس عرب کوی دا د سنت موافق نهٔ دے او زمونږ جامی د سنت موافق دی، د عربو اُوسنو جامو کی جهاد نهٔ کیږی ځکه منډی په کی نهٔ وهل کیږی)۔

نبی علیه السلام دوه زغرے یو د بل دپاسه واغوستلے او توره ئے هم غاړے ته واچوله۔

(ددینه دا فائده معلومه شوه چه اسباب استعمالول د توکل خلاف نهٔ دی، بعض

صوفیه وائی اسباب به نهٔ استعمالوی، د انبیاء علیهم السلام توکل جدا دے او د صوفیهٔ جدا دے، نبی علیه السلام اسلحه هم ځان سره واخسته او زغره ئے هم واچوله)۔

صحابه کرام د نبی علیه السلام د راوتلو په انتظار کی وو چه پدے وخت کی دوه صحابهٔ نورو ملګروته مشوره ورکړه، سیدنا اسید بن حضیر او سعد بن معاذ ملګروته ووئیل چه تاسو په نبی علیه السلام باندے زور وکړو د هغه رایه دا وه چه مدینه کی پاتی کیږو او تاسو ورته ووئیل اُوځو، دا کار تاسو ښه ونکړو ملګری ئے ملامته کړل، ورته ئے وویل چه نبی علیه السلام ته خبره وسپارئ۔

رسول الله ﷺ چه راووتلو نو صحابه کرامو ورته ووئیل اے د الله رسوله! مونږ ستا خوښه کوو که تهٔ وځے مونږ هم اُوځو او که تهٔ په مدینه کی پاتے کیږے نو مونږ ستا تابعداریو، په تا باندے مونږ زور نهٔ کوو چه تهٔ خامخا اوځه ستا چه څه رایه وی مونږ د هغے تابعداریو،

دے وخت کی نبی علیه السلام وفرمایل:

[مَاكَانَ يَنۡبَغِيۡ لِنَبِيٍّ اِذَا لَبِسَ لَأۡمَتَهٗ اَنۡ يَّضَعَهَا حَتّٰى يَحۡكُمَ اللّٰهُ بَيۡنَهٗ وَبَيۡنَ عَدُوِّهٖ]۔

د یو نبی د شان سره دا مناسب نهٔ دی چه هغه زغره (د جنګ سامان) واچوی او د جنګ دپاره ځان تیار کړی او بیا دے د جنګ سامان بیرته د ځان نه لرے کړی تردے چه الله تعالیٰ د هغه او د هغه د دشمن ترمینځ فیصله وکړی۔ (بلکه دا به ځی او د دشمن مقابله به کوی)۔

(ددے نه دا فائده معلومه شوه چه یو سړے جهاد شروع کړی نو پریدی به ئے نهٔ، شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله فرمائی چه ځینی اعمال داسے دی چه بنده ئے شروع کړی خامخا به ئے پوره کوی چه یو د هغے نه حج دے او بل جهاد دے، عام نفلی عبادت لکه نفلی روژه او نفلی مونځ که د شروع کولو نه روستو دے پوره کړل ښه ده که پوره ئے نکړل هم جائز ده، دا قاعده ده چه یو ځای کی به جهاد نهٔ شروع کوی ترڅو پورے چه دومره طاقت ورسره نهٔ وی چه دا جهاد د یوے مودے پورے وچلوی، د لږ عدد او کمزورو خلکو دپاره جهاد شروع کول نهٔ دی پکار کله ئے چه سرته نشی رسولے ځکه چه جهاد د اعلاء کلمة الله دپاره کیږی، هسے قتل وقتال مقصد نهٔ دے)۔

اُحد ته روانیدل

نبي علیه السلام د ماسپښین او مازیگر مونځونه وکړل او بیا روان شو، زر کسان ورسره وو، په راجح قول کې اسونه ورسره نهٔ وو. بعض خلکو وئیلي دي چه پنځوس اسونه ورسره وو لیکن دا صحیح نهٔ ده. اسونه ورسره نهٔ وو، صرف لږ اُوښان ورسره وو، او پیاده روان وو ځکه ځای نزدې وو، او سل کسان پکې د زغرو والا وو.

عبد الله بن ابي ابن سلول منافق هم پکې مجبوراً ووتلو.

د مازیگر مانځه نه روسته ئې سفر شروع کړو.

الله تعالیٰ قرآن کریم کې دا خبره ذکر کړیده :

﴿وَاِذْ غَدَوْتَ مِنْ أَهْلِكَ تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِيْنَ مَقَاعِدَ لِلْقِتَالِ﴾ (آلعمران:١٢١).

او کله چه تهٔ ووتلې د خپل اهل نه (د عائشې رضی الله عنها د کور نه) تا د مؤمنانو دپاره د جنگ ځایونه تیارول.

(فائده: ددې نه معلومه شوه چه عائشه رضی الله عنها د نبي علیه السلام اهل دې، شیعه گان ددې خبرې مخالف دي).

نبي علیه السلام روان شو کله چه ثنیة الوداع ته ورسیدو (دیته ثنیة الوداع وائي ځکه چه ددې ځای نه به خلکو مسافر رخصتول) ددې ځای نه ووتل نو یو دسته فوج ئې ولیدو چه زیگه دسته وه نیزې، تورې زغرې هر څه ورسره وو، نبي علیه السلام وفرمایل دا څوك دي ؟ چا ووئیل چه دا کسان راغې په جنگ کې ستاسو ملگرې کیږي نبي علیه السلام وفرمایل : دا څوك دي؟. هغوی ووئیل : یهودیان دي د خزرج قبیلې د حلفاو نه دي. دوی غوښتل چه د خزرج نه چه کومو انصارو صحابه کرامو ایمان راوړې چه د هغوی ملگرتیا وکړي.

نبي علیه السلام وفرمایل : آیا دوی ایمان راوړیدې که نهٔ ؟ هغوی ووئیل: اسلام کې نهٔ دي داخل شوي، نبي علیه السلام وفرمایل : (اِرْجِعُوْا اِنَّا لَانَسْتَعِيْنُ بِأَهْلِ الْكُفْرِ عَلٰى أَهْلِ الشِّرْكِ) واپس شئ، مونږ د کافر نه مدد نهٔ اخلو د مشرکانو په مقابله کې. دا مشرکین بت پرست دي او تاسو اهل کتاب یئ لیکن په الله کافر شوي یئ، په قیامت

او په کتابونو کافران یئ۔

(ددې نه دا معلومه شوه چه د کافرو نه مدد اخستل جائز نۀ دی، د هغوی د فوج نه مدد اخستل ناروا دی، البته اسلحې او مالی مدد اخستل جائز دی۔

نبی علیه السلام چه کله اُحُد ته تللو اول یهودو ته ورغلو چه یا خو به زمونږ په ملګرتیا کی جنګ کوئ د خپل طرف حفاظت به کوئ ځکه تاسو وعده کړې ده چه د مدینې حفاظت به کوو او که دا کار نۀ کوئ نو یا مونږ ته اسلحه استعارةً راکړئ۔ د کافرو نه ئې دلته وسله اخستې ده، دلته ئې دا ورته وئیلی وو چه د خپل طرف حفاظت به کوئ دا د هغوی د ذواتو نه مدد اخستل نۀ وو، دا خو هغوی معاهده کړې وه او بل دا چه د خپل طرف حفاظت ئې ورته وئیلې وو)۔

الغرض: نبی علیه السلام دا کسان واپس کړل مخکی یوه علاقه راغله (شیخان) ئې ورته وئیله دلته په رسول الله ﷺ باندې مابنام شو، د مابنام مونځ ئې وکړو، بیا روسته د ماسخوتن مونځ وکړو همدلته پاتی شو، شپه ئې همدلته وکړه پنځوس کسان ئې مقرر کړل ددې دپاره چه تاسو به د معسکر حفاظت کوئ، سیدنا محمد بن مسلمه رضی الله عنه ئې د هغوی امیر مقرر کړو چه تۀ به د دوی امیر ئې، صحابه کرامو څوکیداری شروع کړه، یو صحابی (ذکوان بن عبد قیس) خصوصاً د نبی علیه السلام څوکیداری کوله۔

کله چه شپه تیره شوه د صبا د راختلو نه مخکی مخکی نبی علیه السلام خپل ملګری راپاڅول او روان ئې کړل مخکی ئې چه بو تلل دشمن ته تقریباً نزدې شول نو د سهار د مانځه وخت شو، دلته ئې د سهار مونځ وکړو،

په دغه ځای کی نبی علیه السلام دوه کارونه وکړل:

(۱) یو ئې ورته خوب بیان کړو (۲) او بل ئې د ملګرو تفقد وکړو، خوب ئې ورته دا بیان کړو چه د الله مدد راځی ما خوب لیدلے دے او خوب کی مې درې خبرې لیدلی دی۔ یو دا چه یوه غوا مې ولیده چه ذبحه کولے شی دویم دا چه زما توره ده ما اُوچته کړه د هغې په سر کی ماتوالے (کندهم والے) پیدا شو۔

دریم دا چه یوه مضبوطه زغره ده په هغې کی مې لاس وردننه کړو۔

نبی علیه السلام ددې خوب تعبیر بیرته ورکړو چه د غوا مقصد دا دے چه زما

بعض ملګری به شهیدان کیږی۔ او د توری د ماتیدو مقصد دا دے چه زما د کورنۍ نه به یو سړے شهید کیږی۔ او د زغرے تعبیر د مدینے دے چه مدینه یو محفوظ او روغ ځای دے دیته به واپس روغ واپس کیږو۔

(مدینه به محفوظه پاتی کیږی او د مسلمانانو دار الخلافه به باقی پاتی وی)

د صحابه کرامو پدے یقین وو چه داسے به کیږی لیکن شهادت ئے خوښ وو۔ (خوب د نبوت شپږ څلویښتمه برخه ده څوك چه په قرآن او په حدیث ښه پو هیږی هغه د خوب په تعبیر ښه پو هیږی لکه دا خبره حافظ ابن القیم رحمه الله کړیده)۔

د ملګرو تفقد

دویم کار ئے دا وکړو چه رسول الله ﷺ د ملګرو تفقد (تالاش) وکړو چه څوك د جنګ لائق دے او څوك نۀ دے۔

یو څو کسان واړه او کم عمر والا هم ورسره رااروان شوی وو هغه ئے واپس کړل یو پکی عبد الله بن عمر بن الخطاب رضی الله عنه وو چه د څوارلسو کالو وو، جهاد ته راوتلے دے، ځان ئے پټ پټ کولو، نبی علیه السلام ورته ووئیل تۀ وړوکے ئے د فوج نه وځه، او زید بن ثابت، اسامه بن زید، زید بن ارقم، عمرو بن حزم، ابوسعید خدری، زید بن حارثة الانصاری، سعد بن حَبَّه، عَرَابَة بن اَوس او اُسید بن ظُهَیر)

دے کسانو ته ئے ووئیل چه تاسو د فوج نه واپس شئ، رافع بن خدیج رضی الله عنه ته ئے ووئیل چه تۀ هم وړوکے ئے اُوځه، هغه ووئیل یارسول الله ! زۀ په عمر باندے کم یم لیکن زۀ په ویشتلو کی ډیر تکړه یم، ما نه چرته هم دشمن نۀ خطا کیږی۔ نبی علیه السلام ورته ووئیل تۀ زما په مخامخ ښه وله، ښه ئے ورته کینښوده چه ګوزارئے پرے وکړو صحیح ئے ویشتله،

نبی علیه السلام ورته ووئیل : تۀ تکړه ئے، جهاد ته د بوتللو لائق ئے نو ځان سره ئے روان کړو۔

سمره بن جندب رضی الله عنه ته ئے ووئیل تۀ هم واپس شه، هغه ووئیل یارسول الله ! زۀ د رافع بن خدیج نه تکړه یم، هغه دے پریښودو او ما نۀ پریدے، ما له ئے په څملولو

راوله زۀ ئے راځملوم، نبی علیه السلام ورته ووئیل زما مخامخ یو بل ته په ځملولو ورشئ، نو سیدنا سمره بن جندب رافع بن خدیج ته ووئیل چه ځان راته راځملوه چه ما هم جهاد ته بوځی نو رافع بن خدیج ورته ځان راځملولو، نبی علیه السلام ورته ووئیل تۀ هم تکړه ئے، زمونږ سره جهاد ته روان شه دا دوه کشران هلکان ئے ځان سره واخستل ځکه یو په نښه او بل په ځملولو کی تکړه وو۔

(**فائده:** مصارعه (پهلوانی، غیږ په غیږ ورتلل سنت طریقه ده یو مشرک یزید بن رکانه ډیر پهلوان وو نبی علیه السلام ته ئے ووئیل که زۀ دے راځملولم په تا به ایمان راوړم، نبی علیه السلام راځملولو بیا دوباره ورغلو نو راځیملولو نو ایمان ئے راوړو او وے وئیل چه ستا نه غیر زۀ بل هیچا نۀ یم راځملولے۔

بل یو مشرک ابوالاَشَدِّین ئے ورته وئیلو (خپل نوم ئے کَلَدَه بن اُسَید بن خَلَف الجُمَحِی وو) هغه هم ډیر پهلوان وو، که په یو څرمن به ودریدو نو څرمن به ئے خلکو وشلوله خو چا به غورځولے نشو، نبی علیه السلام هغه ته په ځملولو ورغلو راوے غورځولو مشرك ووئیل بیا راشه بیا ئے راځملولو نو ضد کی راغے نو رئے هم کفر زیات کړو) لکه دا واقعے مخکی هم ذکر شویدی۔

نبی علیه السلام چه د مدینے نه روانیدو نو په مسجد نبوی باندے ئے عبد الله بن ام مکتوم ړوند صحابی د امام په حیث پرینښودو، د نبی علیه السلام نه مخکی دوه کسان لاړل سیدنا سعد بن معاذ او سیدنا سعد بن الربیع دا د انصارو مشران وو دوی زغره اچولے وه،

د فوج تقسیمول

نبی علیه السلام چه کله د مدینے نه وتلو نو خپل فوج ئے درے تقسیمه کړو:

(۱) یوه کَتِیبَةُ المهاجرین (د مهاجرو دسته) او د دوی جنډه ئے سیدنا مُصعب بن عُمَیر رضی الله عنه ته ورکړه۔

(۲) دویمه کَتِیبَه د انصارو د اَوس قبیلے وه د دوی جنډه ئے سیدنا اُسید بن حضیر رضی الله عنه ته ورکړه او بله دسته او ټولګے د خزرج قبیلے وه د دوی جنډه ئے سیدنا حُباب بن المنذر رضی الله عنه ته ورکړه۔

د مدینے نه ووتل د ملګرو تفقد ئے په شیخان علاقه کی وکړو او هلته ئے شپه تیره

کړه د سهار مانځه نه مخکې (شَوط) علاقې ته ورسیدل چه دا اُحد ته نزدې وه او دشمن ته هم قریب وو یو بل ئې لیدل او هلته په مانځه ودریدل د سهار مونځ ئې وکړو، د سهار د مانځه نه روسته نبی علیه السلام د جنګ دپاره ځای کتلو۔

د عبد الله بن أبی ابن سلول سرکشی

پدې وخت کې عبد الله بن ابی بن سلول منافق په خپلو ملګرو وګرزیدو او هغوی ته ئې ووئیل : عَلٰى مَا نَقْتُلُ أَنْفُسَنَا] ۔ په څه باندې مونږ ځانونه وژنو؟، نۀ مو د قریشو سره په پوله پټې ورانه ده، نۀ په کرسئ نۀ په بل څه نو په څه خبره ورسره جنګ کوو (ځکه د منافق د الله رضا مقصد نۀ وی) عبد الله بن ابی ابن سلول د ځان سره درې سوه کسان د جنګ د میدان نه ستانۀ کړل چه دا دریمه حصه لښکر وو، دا کار ئې ځکه وکړو چه یو خو ئې عذر پیش کولو چه نبی علیه السلام زما مشوره ونۀ منله، نو زۀ ورسره نۀ ځم۔ (دا د متکبرو خلکو طریقه ده چه مشوره ئې ونۀ منل شی بیا اعتراضونه کوی، داسې نۀ ده پکار بلکه ځان عاجزه ګڼړل پکار دی)

او بل غرض ددې منافق دا وو چه هغه اصلی مقصد وو چه د مسلمانانو په لښکر کې پریشانی پیدا کول او د دوی معنویات کمزوری کول او دوی کې د شکست ماده اچول وو او مخکنې عذرئې خو صحیح نۀ وو ځکه چه دا کسان ئې خو په مدینه کې هم پاتې کولې شو۔ د ابن سلول غرض دا وو چه زۀ به د جهاد نه وګرځم نو ما سره به ډیر کسان واپس شی نو نبی علیه السلام سره به یو څو د شمیر کسان پاتې شی او .مشرکان به پرې حمله وکړی او ختم به ئې کړی، نبی علیه السلام به هم قتل شی، نیکان ملګری به ئې هم ختم شی نو مدینه به یواځې ما ته پاتې شی او مشری به زما شی او بل مخامخ مشرکان وو هغوی ته ئې هم دا خودل چه تکړه شئ مونږ ترې جدا شو تاسو پرې حمله وکړه۔

پدې وخت کې یو صحابی عبد الله بن حَرام رضی الله عنه د جابر پلار پدې منافقانو پسې ورغلو او ورته ئې ووئیل چه د الله دَ نبی مدد په تاسو فرض دې، راشئ جنګ وکړئ د الله په لار کې یا دفاع وکړئ، (د مسلمانانو ډله ډیره کړئ)۔ لکه الله تعالیٰ دا

تعبیر رانقل کړیدے:

﴿وَقِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا قَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوِ ادْفَعُوا﴾ (آلعمران :۱۶۷)۔

نو منافقانو ووئیل: ﴿لَوْ نَعْلَمُ قِتَالًا لَاتَّبَعْنَاكُمْ﴾

که مونږ پو هیدلے چه جنګ کیږی نو مونږ به ستاسو ملګرتوب کړے وے، مونږ به نۀ واپس کیدلے، زمونږ خو ګمان دا وو چه دا صحابه او پیغمبر هسے چکر لګوی۔

الله تعالیٰ فرمائی:

﴿هُمْ لِلْكُفْرِ يَوْمَئِذٍ أَقْرَبُ مِنْهُمْ لِلْإِيمَانِ﴾۔

دوی په دغه ورځ کفر ته ډیر نزدے وو د ایمان نه۔ ځکه قانون دا دے چه په سړی باندے امتحان نۀ وی راغلے، مسلمان حسابیږی لیکن کله چه امتحان راشی په امتحان کی ناکام شی نو کفر ته ورسیږی۔

پدے وخت کی عبد الله بن حرام رضی الله عنه ورته جواب کی وفرمایل چه الله دے تاسو تباه او هلاك کړی اے د الله دشمنانو! الله رب العزت به خپل نبی ستاسو نه بی پروا او بی حاجته کړی (ملائك به د خپل نبی مدد ته راولیږی)۔

(دا عبد الله بن حرام رضی الله عنه صاحب کرامات وو، امام بخاریؒ حدیث راوړیدے: چه د اُحد د غزا په شپه ئے خپل ځوی جابر رضی الله عنه راطلب کړو او هغه ته ئے وصیتونه وکړل چه صبا ته غزا کیږی او پدے غزا کی به اول زۀ شهید کیږم نو زۀ چه کله شهید شوم نو تۀ د خپلو خویندو سره ډیره نیکی کوه، ددۀ نهه لونړه وے او بل په ما باندے د یهودو قرض دے، دا قرض ادا کړه۔ کله چه سهار شو او جنګ شروع شو نو اول پکی دے شهید شو، دا دۀ ته الهام شوے وو، یعنی الله ورته په زړه کی اچولی وو، دا عِلم غیب نۀ دے ځکه په راتلونکی احوالو صرف الله پو هیږی۔

بل حدیث دے: عبد الله بن حرام رضی الله عنه چه کله وفات شو نو الله تعالیٰ ددۀ سره مخامخ خبرے وکړی، دومره اُوچت عزت ئے ورکړو۔)

نو عبد الله رضی الله عنه دے منافقانو ته ووئیل چه راواپس شئ او د نبی علیه السلام ملګرتوب وکړئ۔

روستو په صحابه کرامو کی ددے منافقانو په باره کی اختلاف راغے، یوے ډلے ووئیل چه دا خو مسلمانانو دی، مونځونه کوی چه د جهاد نه وتښتیدل ګناهګار دی

کافر ورته ولے وایو۔ بلے ډلے ووئیل چه دا مرتد دی ځکه نبی علیه السلام ئے په میدان د جنګ کی پریښو دو۔ الله رب العزت دا آیتونه راولیږل:

﴿فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنَافِقِينَ فِئَتَيْنِ وَاللَّهُ أَرْكَسَهُمْ بِمَا كَسَبُوا، أَتُرِيدُونَ أَنْ تَهْدُوا مَنْ أَضَلَّ اللَّهُ﴾ (النساء: ۸۸)۔

څه وجه ده تاسو لره چه د منافقانو په باره کی تاسو دوه ډلے شوئ، او الله تعالیٰ دوی لره د دوی د کار په وجه ذلیله کړیدی، آیا تاسو اراده لرئ چه تاسو هدایت والا ووایئ هغه چا ته چه الله ګمراه کړیدی۔

پدے وخت کی دوه ډلے د مؤمنانو بنو سَلِمَه او بنو حارثه د دوی په زړهٔ کی هم یره راغله چه دا منافقان وتښتیدل نو چه مونږ هم لاړ شو لیکن الله تعالیٰ بیرته مضبوط کړل او د منافقانو شیطانی فریب ناکام شو۔

الله تعالیٰ د دوی متعلق فرمائی:

﴿اِذْ هَمَّتْ طَائِفَتَانِ مِنْكُمْ أَنْ تَفْشَلَا وَاللَّهُ وَلِيُّهُمَا وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ﴾

(آلعمران:۱۲۲)۔

کله چه قصد وکړو دوه ډلو چه بزدلی ښکاره کړی (لیکن) الله د دوی مددګار دے او خاص په الله دے ځان وسپاری مومنان)

دا دوه قبیلے د اَوس او د خزرج وے، بنو سلمه د جابر بن عبد الله قوم وو ددے وجه نه جابر رضی الله عنه فرمائی: مونږ دا نهٔ خوښوو چه دا آیتونه دے نهٔ وے نازل شوی، بلکه مونږ ددے په نزول خوشحاله یو اګرکه زمونږ څه لړه بدی هم بیانه شویده چه دوی بزدلی ښکاره کړیده۔

لیکن الله تعالیٰ مونږ سره د دوستیٔ اعلان کړیدے: (وَاللَّهُ وَلِيُّهُمَا)

(**فائده** : د مخکی نه چه سړیٔ کی دین نهٔ وی نو په وخت د فتنه کی د کفارو ملګرے شی لکه ابن سلول او د هغه ملګری منافقان۔ او کوم کسان چه د مخکی نه دینداره وی، د فتنے او د امتحان په وخت کی د کفر نه بچ شی لکه بنو سلمه او بنو حارثه۔ زاړهٔ دینداری سړی ته پنځوس شپیته کاله روسته فائده ورکوی نیك عملونه روسته پکار راځی لکه حدیث الغار کی دا خبره راغلے ده)۔

ابن سلول رئیس المنافقین د جهاد نه وګرزیده لیکن مؤمنان ثابت قدم پاتی شو۔

نبی علیه السلام امر وکړو چه د اُحد میدان ته ځان رسوو، لیکن پداسے لار ورتلل پکار دی چه د مشرکینو په خوا کی تیر شو او دپاسه پرے ونۀ خیژو او په لرے لاره هم لاړ نشو، نو یو صحابی سیدنا ابو خیثمه رضی الله عنه ووئیل داسے لار ما ته معلومه ده، زۀ به تاسو بوځم نو دا اُوه سوه صحابه کرام ئے د ځان سره روان کړل او په یوه لنډه لاره ئے بوتلل چه هغه د بنو حارثه ؤ په خوړ او د هغوی په فصلونو ورتیره شوے وه نو د اُحد میدان ته ئے ورسول، د مشرکینو لښکرئے په مغربی جانب کی پریښودو،

پدے لار کی د بنو حارثه په یو باغ ورتیر شو چه دا باغ د یو منافق (مِربَع بن قَیْظِی) وو چه دا په سترګو ړوند وو او په خپل باغ کی ناست وو کله چه خبر شو چه رسول الله ﷺ او صحابه کرام پدے باغ ورتیریږی نو خاورے ئے راواخستے او نبی علیه السلام او صحابه کرامو ته ئے وروشیندلے او دا ئے ورته ووئیل چه که تۀ د الله رسول ئے نو زُمَا په دے باغ مۀ راځه، ستاسو دپاره دا جائز نۀ دی چه پدے باغ راشئ، صحابه کرامو ورپسے تورے راوبستلے چه قتل ئے کړی دا ولے داسے د کفر خبرے کوی نو نبی علیه السلام وفرمایل : مۀ ئے وژنئ : [فَإِنَّهُ أَعْمَى الْقَلْبِ أَعْمَى الْبَصَرِ] - ددۀ زړه هم ړوند دے او سترګے ئے هم ړندے دی- زړۀ ئے ړوند دے هدایت او حق نۀ پیژنی-

دا ئے مړ نکړو ځکه ددۀ په مرګ کی څۀ خاصه فائده نۀ وه خلکو به وئیل چه ړوند سړے ئے مړ کړو-

رسول الله ﷺ لاړو او د اُحد میدان ته ئے ځان ورسولو، ډیر ښکلے ځای ئے ځان دپاره ونیولو او هغه پدے طریقه چه د اُحد غر ئے خپل شا ته وګر ځولو او مدینه ئے مخے ته وګرځوله چه مینځ کی ئے دشمن راغے- نو د دشمن فوج د مسلمانانو او د مدینے ترمینځ فاصله شوه-

د دفاع ترتیب

رسول الله ﷺ یو اُوچت ځای د ځان دپاره منتخب کړو د شا د طرفه خو دشمن راتلے نشی ځکه شا طرفته غر دے او دارنګه ښی طرفته د غرۀ ډیر کیږ دی او کس طرفته هم غر راغے چه هغے ته جَبَلُ الرُّمَاة وائی، د دغه غرنه د دشمن د حملے خطره وه نو پنځوس کسان صحابه کرام ئے پدے مقرر کړل چه په دغه غرۀ باندے کینی او د دوی امیر ئے سیدنا عبد الله بن جبیر بن النعمان الانصاری الاوسی البدری رضی الله عنه مقرر کړو او

دا ئے ورته ووئیل :

[اِنْضَحُوا عَنَّا الْخَيْلَ] ۔ د مشرکانو اسونه زمونږ نه دفعه کوئ که تاسو مونږ ولیدلو چه مونږ دا مشرکان وژنو او شکست ورکوو نو تاسو زمونږ سره پدے کی مۀ شریك کیږئ او که تاسو مونږ ولیدو چه مونږ وژلے کیږو نو زمونږ مدد ته به هم نۀ راځئ۔

د صحیح بخاری په یو روایت کی راځی چه که تاسو مونږ ولیدو چه مرغان مو تښتوی هم زمونږ مدد به نۀ کوئ۔ ډیر تاکید ئے ورته وکړو۔

او دا ئے ورته ووئیل چه د هغه وخته پورے به نۀ راکوزیږئ ترڅو چه زۀ تاسو پسے سړے در ولیږم، دا پنځوس صحابه کرام په دغه ځای کی کیناستل۔

د نبی علیه السلام ګس طرف پدے طریقه محفوظ شو،

رسول الله ﷺ فوج درے حصے کړو (۱) په ښی طرف باندے ئے سیدنا مُنذر بن عمرو مقرر کړو او په ګس طرف (چه دا خطری وو) ئے سیدنا زبیر بن العوام رضی الله عنه مقرر کړو او مقداد بن الاسود ته ئے وویل چه تۀ به ددۀ مدد کوے او ځوانان صحابه او تکړه مجاهدین ئے مخے ته ودرول کوم چه په بهادرئ او مهارت کی مشهور وو او د زړګونو خلکو د مقابلے دپاره ګڼړلے شو۔

پدے سره ډیر ښه ترتیب برابر شو چه د نبی علیه السلام مضبوط قیادت ترے معلومیږی۔

نبی علیه السلام دے میدان ته روسته هم تلے دے او ځای ئے هم ښه نیولے دے۔ داسے ترتیب ئے ورکړو چه که مسلمانان په تکلیف شی او شهیدان شی نو دوی به ئے د ځان سره وړلے نشی او که د مسلمانانو نه عقب نشینی (شاته تللو) ته ضرورت راشی هم شا ته غر وو د پناهی او د کمین ځای موجود وو او که مسلمانان غالبه وی د کفارو وهل او وژل آسان وو۔ چه دا تیاری د رسول الله ﷺ د خالی په ورځ سهار کی وه چه د شوال اوم (۷) تاریخ وو۔

د مشرکانو د فوج ترتیب

مشرکانو دا کار وکړو چه خپل فوج ته ئے ترتیب ورکړو په ښی طرف باندے (چه د نبی علیه السلام ګس طرف جوړیدو) ئے خالد بن ولید مقرر کړو چه دا ډیر ماهره شاهسوار وو او په ګس طرف ئے عکرمه بن ابی جهل مقرر کړو او په پیاده خلکو

بانـدې ئې صـفـوان بـن امیـه مـقـرر کړو او څوك چه د غشو ویشتونکي وو په هغوی بانـدې ئې عبـد الله بـن ابي ربیعه مقرر کړو او ابو سفیان ئې په قلب الجیش (د لښکر په مینځ) کې وو او په زنانو باندې ئې د ابو سفیان ښځه هنده بنت عتبه مقرر کړه۔

د ابـو سـفیـان پـه زړۀ کې یره وه چه د بدر په شان شکست بیا ونۀ خورو نو درې ځلور کاره ئې وکړل۔

(۱) اول کـار ئې دا وکـړو چـه جنډې والا ته متوجه شو، جنډه د بني عبد الدار په لاس کې وه ورته ئې وویل چه په بدر کې جنډه تاسو ټینګه نکړه درنه وغورزیدله نو دې ځل دا جـنـډه مـونږ تـه راکړئ او که نۀ ئې راکوئ نو سړې چه هلاکیږي نو د جنډې د پریوتو دلاسه هلاکیږي نو بیا به دا نۀ غورزوئ نو هغوی غصه شو چه مونږ هیڅ ا ته جنډه نۀ ورکـوو او دا حق زمونږ میراث دې نو عبد الدار قبیله ئې مضبوطه کړه۔ او همدغه شان هغوی بیا دغه جنډه مضبوطه هم ونیوله۔

(۲) دویـم کـار ابو سفیان دا وکړو چه انصارو ته ئې اعلان وکړو چه مونږ او زمونږ د ترۀ ځامن مهاجر پریدئ، زمونږ تاسو سره هیڅ کار نشته، جنګ درسره نۀ کوو،

د ابـو سـفیـان مـقـصد دا وو چه انصارو کې افتراق او جدا والې راولې کیدې شي چه دا پیغمبر مونږ ته یواځې پریدی۔ انصارو صحابه کرامو ډیر سخت جواب ورکړو او داسې خبرې ئې ورته وکړې چه د مکې مشرکانو او ابو سفیان بدې ګڼړلے دا ئې ورته وویل چه تۀ بـه زمـونږ تـورې وینـې چـه پـه تا کې ئې مونږ څنګه ننباسو، تۀ محمد رسول الله ﷺ زمـونږ نـه غـواړې، د هغه په مقابله کې مونږ خپل ځان ټوټې ټوټې کوو لیکن هغه چا ته نشو ورکولې۔

(۳) یـو بـل سیاسي تـرتـیـب ئې دا اختیار کړو چه په مدینه کې یو سړې وو چه د هغه ابـو عـامر نوم وو د نبي علیه السلام د راتللو نه مخکې دۀ نصرانیت اختیار کړې وو، دۀ بـه ډیر عبادتونه کول خلکو به ورته ابو عامر الراهب وئیلو۔ یعني پیر او بزرګ، د الله نه ډیـر یریدونکې دې۔ بلکه دا چه دا د اَوس قبیلې نۀ وو، د اَوس قبیلې مشر وو، خلکو به ددۀ ډیره تـابـعـداري کـوله، نبي عـلـیـه السـلام چـه کله مدینې ته راغلو خلك ټول د هغه مـلـګري شـو څـکـه هـغـه سره حق وو، ابو عامر پدې کار ډیر خفه شو چه خلك زما نه واوړیدل او توجه راته نۀ کوي او نبي علیه السلام سره ئې ډیر بحثونه کول، یوه ورځ ئې

ورته ښیرے وکړے پدے طریقه چه دۀ یوه ورځ نبی ﷺ ته وویل چه په مونږ کی هر یو په باطله وی: [أَمَاتَهُ اللّٰهُ طَرِيْدًا غَرِيْبًا وَحِيْدًا]۔

الله تعالیٰ دے هغه په داسے ځای کی هلاك کړی چه یواځی وی، هیڅوك ورسره نۀ وی، مسافر وی۔ نبی علیه السلام وفرمایل آؤ، څوك چه په مونږ کی دروغژن او په باطله وی الله دے پرے دغه کار وکړی۔

ابوعامر ته به روسته بیا نبی علیه السلام فاسق وئیلو، ابوعامر الفاسق۔ ځکه راهب خو هغه چا ته وائی چه د الله نه ویریږی او دا خو بی دینه وو۔ دا ابوعامر روسته وخت کی کله چه مکه فتح شوه طائف ته لاړو او بیا د طائف نه شام ته تلے وو د هرقل بادشاه سره ملګرے شوے وو، د هغه ځای نه ئے فوجونه راوستلی وو په مدینه باندے ئے حمله کوله په لاره کی د ملګرو نه قضاء حاجت دپاره جدا شو یو مار وچیچه او یواځی مردار شو، خپلے ښیرے پرے ولګیدلے (والحمد لله) ځکه چه دے پیر د حق مقابلے کولے۔

ابوعامر الراهب پدے موقعه کی په پته خپل قوم ته راغے چه هغه اَوس قبیله وه هغوی ته ئے ووئیل چه زما ملګری شئ او دا پیغمبر پریدئ،

هغوی ډیر سخت جواب ورکړو چه الله دے ستا سترګی هیچرته یخے نۀ کړی:

اُبْعُدْ عَنَّا يَا فَاسِقُ۔ زمونږ نه لرے شه اے فاسقه! هغه حیران شو چه دے خلکو به زما خبره منله نو څنګه اُوس نۀ منی او دا ئے ووئیل چه زما دے قوم ته زما نه روستو شر رسیدلے دے (یعنی دا شریان دی)

ابوسفیان پدے کار کی هم کامیاب نشو۔ نو یوه بله طریقه ئے اختیار کړه چه پنځلس ښځے ئے د فوج مخے ته راوستلے او ددے ښځو سره چمبی وی چه هغه به ئے دے خپل فوج ته وهلے لوبی او سندرے به ئے وئیلے۔ او هغوی ته به ئے تیزی ورکوله چه تکړه شئ چه درنه ونۀ تښتی، دا خپل مشرکین ئے په غیرت کی راوستل لکه اُوس هم دا کافر خپلو فوجونو ته موسیقی پرګرامونه کوی۔

دے ښځو به وئیل چه تاسو تکړه شئ، د شاګانو حفاظت وکړئ، دا مؤمنان په هغه توره ووهئ چه قطعه کونکی وی، او داسے اشعار به ئے وئیل:

اِنْ تُقْبِلُوْا نُعَانِقْ، وَنَفْرِشُ النَّمَارِقْ، اَوْ تُدْبِرُوْا نُفَارِقْ، فِرَاقَ غَيْرَ وَامِقْ۔

که تاسو چرته دشمن ته متوجه شوئ، مونږ به تاسو ته غاړے درکړو، او بسترې به

درتـه واچوو (چه تاسو څه غواړئ هغه به مونږ وکړو) او که چرته تاسو شا کړه نو مونږ به درنه جدا شو، داسې جدائي چه زمونږ به تاسو سره هیڅ مینه نهٔ وي.

پدې اشعارو سره به ئې کفارو ته تیزي ورکړه.

د جنګ شروع کیدل

پدې وخت کې یـو طرف ته د مسلمانانو فوج دې بل طرف ته د کفارو، او د معرکې شروع کیدو وخت دې اوله کې جنګ شروع شو.

د هغې طریقـه دا وه چـه د مشرکینو د جنډې چه کوم مشر وو طلحه بن ابی طلحه العبدري. دهٔ تـه بـه مسلمانانو کَبْشُ الْكَتِيْبَه (د فـوج ګـډ) وئیلو دا بهادر هم وو او ډیر طاقتـور وو. طلحـه اول میدان ته راودانګل او د مبارزې اعلان ئې وکړو چه څوك دې چه زما مخې ته راوځي؟

نبي علیه السلام ددې نه مخکې ملګرو ته د صبر او بهادرئ خبرې وکړئ او ترغیب ئې ورکړو یو د ترغیباتو نه دا وه چه نبي علیه السلام خپله توره راواخستـه او وې وئیل : (مَنْ يَّأْخُذُ هٰذَا بِحَقِّهٖ؟).

څوك دې چه دا تـوره واخلي په خپـل حق بـاندې؟ نـو سیدنا زبیر رضی الله عنه پاڅیـدو چـه زهٔ ئې اخلـم. نبي علیـه السلام چُپ پاتې شو، هغه ته ئې ورنکړه، بیا ئې ووئیـل چـه څوك دې چـه دا تـوره په خپـل حق سره واخلي؟، سیدنا علي بن ابی طالب ووئیـل زهٔ ئې اخلـم، نبي عـلیـه السـلام هـغـه تـه هم ورنکړه بیا سیدنا عمر بن خطاب پاڅیـدهٔ چـه زهٔ ئې اخلـم، نبي عـلیـه السـلام چُپ شو هغه ته ئې هم ورنکړه نو بیا ئې ووئیل : (مَنْ يَّأْخُذُ هٰذَا السَّيْفَ بِحَقِّهٖ؟).

څوك دې چـه دا تـوره پـه حق واخلي؟ پـدې کې د انصارو نه یو صحابي (ابودُجانه سِماك بن خَرشه رضی الله عنه) ووئیـل : مَا حَقُّهٗ؟).

ددې حق څـه دې ؟ دا تپوس نورو صحابهٔ نهٔ وو کړې، نبي علیه السلام ورتـه ووئیل ددې حق دا دې چه : اَنْ تَضْرِبَ بِهٖ وُجُوْهَ الْقَوْمِ حَتّٰى يَنْحَنِيَ).

د کـافرو مخونه به پرې وهې تردې چه دا توره کږه شي، دهٔ ووئیل یارسول الله ! دا کار زهٔ

کولے شم۔

نبی علیه السلام دۀ ته ورکړه، سیدنا زبیر بن العوام رضی الله عنه به فرمایل:

زۀ اول پاڅیدم او د رسول الله ﷺ د ترور ځوی هم وم او ما د نبی علیه السلام نه وغوښتله ما ته ئے رانکړه او دۀ ته ئے ورکړه، پدے کی به څه حکمت وی ؟ نو زۀ روسته پو هه شوم چه پدے توره به ابودجانه ډیر ناشنا کارنامی وکړی۔

د ابودجانه رضی الله عنه سره یوه سرۀ کپړه وه چه دا به ئے د سر نه تاؤ کړه او جنګ به ئے شروع کړو نو خلکو به وئیل چه دا به تر هغه وخته جنګیږی چه ځان ئے وژلے نۀ وی۔

پدے کی ابودجانه د خپل سر نه دغه کپړه تاؤ کړه او د صفونو ترمینځ په تکبر روان شو نو په دغه وخت کی رسول الله ﷺ وفرمایل:

(اِنَّهَا لَمِشْيَةٌ يُبْغِضُهَا اللّٰهُ اِلَّا فِىْ مِثْلِ هٰذَا الْمَوْطِنِ)۔

دا مزل د الله تعالیٰ ډیر بدی شی مګر په داسے ځای کی ئے ډیر خوښ دے۔

نبی علیه السلام ملګرو ته د صبر امر وکړو او ترغیب ئے ورکړو او د الله د دین د حفاظت خبرے ئے ورته وکړی۔

د جنګ اولنئ مقابله

نو د جنګ په اول کی طلحه بن ابی طلحه العبدری راودانګل او وے وئیل چه څوك به زما مقابله وکړی؟ نو مسلمانان ترے روسته شو ځکه چه دا د قریشو ډیر لوی پهلوان وو، نو پدے کی سیدنا زبیر بن العوام رضی الله عنه د زمری پشان ورودانګل، تیزه منډه ئے کړه او ورغلو او د هغه اُوښ ته وروختلو او د اُوښ نه ئے خکته راګوزار کړو او خپله توره ئے ترے واخستله او پرے ذبحه ئے کړو،

کله چه نبی علیه السلام دا ناشنا راپرزول ولیدل نو ډیر خوشحاله شو او الله اکبر ئے ووئیلو او مسلمانانو هم ورسره الله اکبر ووئیلو، او نبی علیه السلام د زبیر ډیر صفت وکړو او وے فرمایل: (اِنَّ لِكُلِّ نَبِيٍّ حَوَارِيًّا وَحَوَارِيَّ الزُّبَيْرُ)۔

د هر نبی دپاره یو خالص ملګرے وی او زما خالص ملګرے زبیر بن عوام دے۔

یو لوی کافر مړ شو او جنډه ترے وغورزیده۔

کله چه جنډه وغورزيده د بنو عبد الدار قبيلې يو بل مشرك چه د طلحه ورور وو ابوشيبه عثمان بن ابى طلحه هغه رامخكې شو او جنډه ئې واخسته او جنګ ته رامخكې شو او داسې شعرئې ووئيلو:

اِنَّ عَلٰى أَهْلِ اللِّوَاءِ حَقًّا	أَنْ تُخْضَبَ الصَّعْدَةُ أَوْ تَنْدَقَّا

(يقيناً په جنډې والو باندې دا لازمه ده چه نيزه به ئې په وينو رنګولې شي يا به ماتولې شي)

نو دې طرف نه د الله زمرى سيدنا حمزه رضى الله عنه پرې ورمنډه كړه او په اُوګه باندې ئې داسې ګوزار وركړو چه دا اُوګه ئې ورله تر خيټې پورې راخيرى كړه، ددې وجه نه زړۀ او پړپوس ئې ښكاره شو او په دغه ځاى كې مردار شو۔

پدې وخت كې د طلحه دريم ورور ابوسعد بن ابى طلحه هغه جنډه راوچته كړه نو سيدنا سعد بن ابى وقاص رضى الله عنه په مرئ كې په غشى ويشتلو چه ژبه ئې بهر راووتله او سمدست مردار شو۔

بعض وائى : ابوسعد چه راووتلو نو د جنګ دعوت ئې وركړو نو سيدنا على رضى الله عنه ورمخكې شو، دواړو په يو بل باندې دوه ګډوډ ګوزارونه وكړل آخر على رضى الله عنه هغه لره قتل كړو۔ (الرحيق)

بيا جنډه بل كس راوچته كړه چه هغه د طلحه بن ابى طلحه ځوى وو، مسافع بن طلحه نو يو صحابى سيدنا عاصم بن ثابت بن ابى الاقلح الانصارى الاوسى رضى الله عنه په غشى باندې ويشتو او مردار ئې كړو۔

ددۀ بل ورور كلاب بن طلحه جنډه راواخسته په دۀ پسې په تيزئ سره سيدنا زبير بن العوام رضى الله عنه ورمنډه كړه هغه ئې هم مردار كړو، ددۀ بل دريم ورور جُلاسِ بن طلحه جنډه راوچته كړه نو دلته سيدنا طلحه بن عبيد الله رضى الله عنه په نيزه باندې ووهلو چه مرګ ئې پرې راوستو۔

او بعضو روايتونو كې دى چه عاصم بن ثابت رضى الله عنه په غشى ويشتو او مردار شو۔

دا شپږ كسان د يو كور نه مردار شول يعنى د ابوطلحه عثمان بن عبد الله بن عبد الدار د كور نه چه هغه د ابوطلحه درې ځامن او درې نمسى دى۔

پدے وخت کې د بنی عبد الدار قبیلے نه بل کس راغے هغه ته ئے ارطاة بن شُرحبیل وئیلو، هغه جنډه راوچته کړه نو سیدنا علی رضی الله عنه ورپسے ورغلو او هغه ئے قتل کړو۔

بعض وائی: د الله زمری سیدنا حمزه بن عبد المطلب رضی الله عنه قتل کړو۔ بیا جنډه شُرَیح بن قارِظ راواخسته نو یو کس چه قُزمان ئے نوم وو په ظاهره کې مسلمان وو او په پټه منافق وو د مسلمانانو معسکر کې د غیرت دپاره جنګیدو نهٔ د اسلام دپاره، نو دے ورغلو او شُریح ئے قتل کړو، بیا ابوزید عمرو بن عبد مناف العبدری جنډه راوچته کړه نو قُزمان د هغه پسے هم ورمخکې شو هغه ئے هم قتل کړو۔

بیا د شُرحبیل بن هاشم العبدری خوی دا جنډه راپورته کړه نو قُزمان دهٔ پسے هم ورغلو او مردار ئے کړو۔

پدے کې صحابه کرامو ووئیل چه دے سړی خو نن ډیر عجیب کار وکړو، غټ غټ کافران ئے ووژل نبی علیه السلام وفرمایل: [أَمَا إِنَّهُ مِنْ أَهْلِ النَّارِ]۔

(خبردار! دا د اور والو نه دے یعنی جهنمی دے)

صحابه کرامو تعجب وکړو نزدے وه چه بعض کسان په شك کې پریوتلی وے چه دا اُوچت مجاهد او ښه مسلمان او د الله رسول دهٔ ته اُور والا وائی۔

پدے وخت کې دا قُزمان زخمی شو خوك راغے نبی علیه السلام ته ئے ووئیل چه تا چه د چا په باره کې وئیلی وو چه جهنمی دے هغه خو ولګیده، شهید شو نبی علیه السلام بیا ووئیل چه جهنمی دے، یو صحابی وائی زهٔ ورپسے شوم نو ومے کتلو چه زخمی دے لا مړ شوے نهٔ دے نو چه ماښام شو د زخمونو درد ئے زیات شو نو توره ئے راواخسته او د خیټې لاندے ئے کړه او ځان ئے مړ کړو هغه صحابی راغے نبی علیه السلام ته ئے ووئیل:

قَدْ صَدَقَ اللّٰهُ حَدِیْثَكَ۔ الله ستا خبره رشتینی کړه، هغه سړی ته چه تا جهنمی وئیلے وو ځان ئے مړ کړو، نبی علیه السلام وفرمایل:

أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰـهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَنِّیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ)۔

زهٔ ګواهی کوم چه نشته لائق د عبادت سوئ د الله تعالیٰ نه او زهٔ د الله رشتینی رسول یم۔ (دا خبره ما په وحی سره کړیده چه دا جهنمی دے)۔ نبی علیه السلام دا

خبره هم وکړه :

إِنَّ اللّٰهَ لَيُؤَيِّدُ هٰذَا الدِّيْنَ بِالرَّجُلِ الْفَاجِرِ)۔

(یقیناً الله تعالیٰ (کله نا کله) دا دین د یو ناکاره سړی په وجه مضبوطوی)۔

د یوې قبیلې (عبد الدار) نه دا لس کسان مردار شو، د مشرکانو جنډه په زمکه پرته وه، هیڅا نشوه اُوچتولو نو د عبد الدار یو غلام وو (صُؤاب) د هغه نوم وو، چه دا د حبشو نه وو، دهٔ جنډه راپورته کړه او داسې بهادری ئې ښکاره کړه چه د خپلو مالکانو نه ئې هم خبره ورپورته کړه۔

دهٔ جنګ شروع کړو، ډیر مسلمانان ددهٔ دلاسه شهیدان شول تردې چه قُزمان (یا علی، یا ابودجانه علی اختلاف الروایات) ددهٔ لاسونه پریکړل نو دهٔ جنډه په غیږ کی ونیوله، څټ ئې د سینې سره یوځای کړو او جنډه ئې پکی نیولې وه تردې چه دا هم قتل کړې شو دهٔ د مرګ په وخت کی بنو عبد الدار طرفته آواز وکړو: اَللّٰهُمَّ هَلْ أَعْزَرْتُ ؟۔

اې الله! ما ډیر کوشش وکړو چه جنډه ونهٔ غورزیږی لیکن وغورزیده، زهٔ معذوره یم۔

کله چه دا غلام هم ووژل شو نو جنډه په زمکه راپریوته او هیڅا کی دا طاقت نهٔ وو چه دا ئې راپورته کړې وې، همداسې غورزیدلې پرته وه۔

د جنګ میدان ګرم شو، پدې کی ابودجانه رضی الله عنه راښکاره شو چه دهٔ ته نبی علیه السلام خپله توره ورکړې وه سره کپړه ئې د سر نه تاو کړې وه۔ سیدنا زبیر رضی الله عنه فرمائی چه دهٔ د خپل سر نه سرهٔ توټه تاو کړه چه دا ددهٔ د جنګ نښه وه،

دهٔ جنګ شروع کړو تردې چه ډیر زیات مشرکان ئې قتل کړل، هر مشرك سره به چه ملاؤ شو هغه به ئې قتل کولو او شروع شو چه د کافرانو صفونو ته به ننوتو او هغه به ئې تس نس کول۔

زبیر رضی الله عنه فرمائی کله چه رسول الله ﷺ ما نه توره منع کړه او ابودجانه ته ئې ورکړه نو زهٔ په زړه کی خفه شوم بیا مې ووئیل چه زهٔ به ګورم چه ابودجانه څه کوی؟ نو زهٔ ورپسې شوم نو دهٔ سرهٔ کپړه راویستله او د سر نه ئې تاو کړه۔ نو انصارو ووئیل: ابودجانه د مرګ پټۍ راویستله نو هغه راووتلو او اشعار ئې ووئیل۔

نو په مشرکانو کی یو سړې وو چه دهٔ به د مسلمانانو زخمیان وژل نو دغه مشرك ابودجانه ته نزدې شو ما ووئیل چه الله دې دا دواړه یو ځای کړی، نو دواړه یو بل سره

ملاؤ شو نو دوه گوزارونه ئے یو بل سره گډوډ شو نو مشرك په ابودجانه باندے د تورے گوزار وکړو نو هغه ترے ځان په ډهال باندے بچ کړو، ددهٔ دا ډهال د څرمنے وو، د مشرك توره په دے ډهال کی ونښتله نو ابودجانه پرے گوزار وکړو او مردار ئے کړو۔

بیا ابودجانه د مشرکانو صفونه مات کړل تردے چه د قریشو د زنانو مشرے ته ورسیدو چه هغه د ابوسفیان ښځه هنده بنت عتبه وه۔

ابودجانه وائی: ما یو انسان ولیدو چه د مسلمانانو زخمیانو مخونه ئے خرابول څه وسپنه ورسره وه چه د مسلمانانو مخونه ئے پرے شکول او پوزه ئے هم ورله پریکوله نو زهٔ ورغلم او توره مے پرے ور اوچته کړه په سر مے ورته راخطا کوله نو هغے چغے کړے چه ومے کتل هغه ښځه وه۔

ابودجانه وائی : ما د رسول الله ﷺ د توری اکرام وکړو او دا مے بده وگنړله چه پدے سره یوه ښځه ووهم۔

زبیر رضی الله عنه فرمائی: ما ابودجانه ولیدو چه د هنده بنت عتبه په سرئے دا توره کیښوده بیا ئے ترے لرے کړه نو ما اووئیل چه الله او رسول ښه پو هیږی چه دا توره ئے دهٔ ته ورکړه او ما او عمر فاروق ته ئے رانکړه ځکه په دهٔ کی کمال دے چه کافر وژنی او د نبی علیه السلام د تورے عزت هم کوی او دا د شجاعو او بهادرو خلکو کار وی چه ښځے او ماشومان نهٔ وژنی۔ نو ابودجانه رضی الله عنه پدے طریقه توله ورځ دا جنگونه کول۔

د مسلمانانو یو بل بهادر ځوان پهلوان د الله زمرے سیدنا حمزه بن عبد المطلب د رسول الله ﷺ ترهٔ هم ډیر ناشنا جنگ کولو، دهٔ د جنډے والا کسان هم ووژل او نور ډیر مشرکان ئے هم قتل کړل، داسے جنگ ئے کولو لکه چه په تیاره کی انسان هر طرفته حمله کوی، هر مشرك ته به ئے توره رسوله ځکه چه رسول الله ﷺ دهٔ ته (اَسَدُ اللهِ وَاَسَدُ رَسُوْلِهٖ) وئیلے وو یعنی د الله او د هغه د رسول زمرے دے۔

دے د مشرکانو د لښکر مینځ (قلب الجیش) ته ورغلو او داسے حمله ئے وکړه چه هیڅ مثل ئے نهٔ وو۔ هر پهلوان به ترے روستو کیدو او داسے به تاویدو لکه په هوا کی چه پانړے خوزیږی۔

آخر دا چه د یو تن دلاسه دا په شهادت ورسیدو چه هغه وحشی بن حرب دے۔

د حمزه رضی الله عنه د شهادت واقعه د وحشي دلاسه

وحشي بن حرب خپله د سیدنا حمزه رضي الله عنه د قتل واقعه بیانوي
وائي چه زهٔ د حبشو نه وم او د جُبَیر بن مُطعم غلام وم (چه روستو زمانه کې دا وحشي او جبیر بن مطعم دواړه مسلمانان شویدي سبحان الله الله اکبر!)
کله چه د اُحد جنګ په تیاریدو شو نو ما ته جُبَیر بن مطعم ووئیل چه که تا د محمد ترهٔ (حمزه) زما د ترهٔ په بدله کې قتل کړو نو تهٔ به آزاد ئې، ځکه چه د جُبَیر بن مُطعم ترهٔ طُعَیمَه بن عدی د بدر په غزا کې سیدنا حمزه رضي الله عنه قتل کړے وو نو وحشي وائي چه ما دا خبره غنیمت وګڼړله چه آزاد به شم، جنګ مے مقصود نهٔ وو،
او زهٔ د حبشو نه وم ما ته د نیزے او د غشو د ویشتو ډیره ښه طریقه راتله ځکه چه زمونږ حبش پدے طریقه عادت وو نو ما یوه نیزه تیاره کړه او خلك د اُحد جنګ ته روان شو نو زهٔ ورسره راووتلم، کله چه جنګ شروع شو او خلك یو بل سره مخامخ شو زهٔ راووتلم چه حمزه وګورم تردے چه ما د خلکو په یو طرف کې ولیدو لکه د غنم رنګی اُوښ پشان چه خلك به ئے ذره ذره کول، هیڅوك ورته نشو تینګیدے۔
نو ما به د هغه د وژلو اراده وکړه ځان به مے ورته تیار کړو لیکن ځان به مے په ونه او په کاڼړو سره پټولو چه راباندے پو هه نشي (ځکه چه هغه ته څوك تینګیدے شو؟) دے دپاره چه زما خوا ته رانزدے شي نو پدے وخت کې زما نه سِباع بن عبد العزیٰ هغه ته ورمخکې شو، کله چه حمزه رضي الله عنه هغه لره ولیدو نو آواز ئے ورته وکړو:
هَلُمَّ اِلَيَّ يَا ابْنَ مُقَطِّعَةِ الْبُظُوْرِ۔
ما ته راوړاندے شه، اے د هغه ښځے ځویه چه د وړوکو جینکو سنت کوي،
(د ماشومانو جینکو سنت ګیری د عربو عادت وو او زمونږ دین کې هم شته، څلور واړه مذهبونه وائي چه دا سنت طریقه ده پدے کې ډیرے فائدے دي په زنانه کې حیاء ډیریږي)۔
حمزه رضي الله عنه ورودانګل او دغه سِباع ئے مردار کړو۔
وحشي وائي: پدے وخت کې ما خپله نیزه وخوزوله تردے چه زهٔ راضي شوم د هغه

ئـه پـه ویشتلو نو نیزه مے ورگوزار کړه او د هغه په مَثانه کی ولګیده او بل طرفته ترے ووتـلـه، پـدے حـالـت کـی هـغـه کوشش وکړو چه زما طرفته رامنده کړی لیکن سخت زخـمـی وو، ویـنـے تـرے روانـی وے نـو قـادر نشـو چه زما خوا ته راشی نو په شا باندے وغـورزیـدو نو زهٔ ورته کیناستم دے دپاره چه مړ شی داسے نهٔ چه ژوندے وی او مړ کړے مے نـهٔ وی نـو کـلـه چه زما یـقیـن راغلو چه وفات شو نو ورغلم او خپله نیزه مے ترے راویستـلـه او بیا خپل عسکر ته راغلم او غلے کیناستم او د هغه نه سِویٰ نور جنګ ته زما هیڅ ضرورت نهٔ وو، ځکه زما خپله آزادی مقصد وه، کله چه زهٔ مکے ته راغلم نو جُبَیر بن مُطعم آزاد کړم۔ (الرحیق المختوم)

نبی علیه السلام ته د سیدنا حمزه رضی الله عنه په شهادت باندے ډیرهٔ لویه صدمه او خفګـان ورسیدو او مسلمانان پرے ډیر خفه شو ځکه چه یو پهلوان انسان وو او نبی عـلـیـه السـلام ته خپل ترهٔ ډیر ګران وو او دائے رضاعی ورور هم وو او همزولے ئے هم وو، ددیـنـه مـعـلومه شوه چه نبی علیه السلام پدے دین باندے خپل ځان او خپل خپلوان هم قربان کړیدی، د خپل کور نه قربانی ورکړیده لکه بدر غزا کی د نبی علیه السلام د ترهٔ ځوی ابوعبیده بن الحارث شهید شو دلته ئے ترهٔ شهید شو۔

د وحشـی پـه واقـعـه کی راځی چه کله مکه فتحه شوه نو وحشی او ددهٔ ملګرو نبی عـلـیـه السـلام تـه جـواب راولیـږهٔ چـه مـونږ ایمان راوړو نو رسول الله ﷺ ورته وویل: ستـاسو ایمان قبول دے، ایمان راوړئ اګرکه څوك زمونږ د مشرانو قاتل هم وی خو چه حق ته راځی زمونږ ورور دے نو الله تعالیٰ دا آیتونه نازل کړل:

﴿ اِلَّا مَنۡ تَابَ وَاٰمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا فَاُولٰٓئِكَ يُبَدِّلُ اللّٰهُ سَيِّاٰتِهِمۡ حَسَنٰتٍ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوۡرًا رَّحِيۡمًا﴾ (الفرقان: ٦٠)

او ﴿ قُلۡ يٰعِبَادِىَ الَّذِيۡنَ اَسۡرَفُوۡا عَلٰٓى اَنۡفُسِهِمۡ لَا تَقۡنَطُوۡا مِنۡ رَّحۡمَةِ اللّٰهِ اِنَّ اللّٰهَ يَغۡفِرُ الذُّنُوۡبَ جَمِيۡعًا، اِنَّهٗ هُوَ الۡغَفُوۡرُ الرَّحِيۡمُ﴾ (الزمر:٥٣)۔

(تـرجمه : مګر هغه څوك چه توبه ئے ویستله او ایمان ئے راوړو او نیك عمل ئے وکړو نـو دا کسان بـدلوی الله تعالیٰ ګناهونه د دوی په نیکو سره او دے الله بخنه کونکے رحم کونکے)

(اُووایـه اے نبی ! اے زما بندګانو هغه کسانو چه په خپلو ځانونو مو زیاتی کړیدے،


د الله د رحمت نه مهٔ نا امیده کیږی یقیناً الله تعالیٰ ټول گناهونه معاف کوی یقیناً الله تعالیٰ ډیره بخنه کونکے ډیر رحم کونکے دے)

پدے آیت کی د الله د طرفنه په مومنانو باندے شفقت او رحمت ذکر دے او د کافرانو سپکاوے ذکر دے۔

وحشی ایمان راوړو، نبی علیه السلام ورته ووئیل: زما مخے ته مهٔ کینه زهٔ چه تا وینم خپل ترهٔ راته یادیږی، دا بیا د رسول الله ﷺ مخے ته نهٔ راتلو، کله چه رسول الله ﷺ وفات شو د سیدنا ابو بکر صدیق رضی الله عنه په زمانه کی د مرتدینو سره جهاد وو، مسیلمة الکذاب د مرتدینو مشر وو، وحشی رضی الله عنه په دغه جنګ کی حاضر شو او مسیلمه ئے مردار کړو او دا به ئے وئیل چه په کفر کی ما غټ سړے وژلے وو چه د پیغمبر ترهٔ وو، اُوس به زهٔ کوشش کوم چه په اسلام کی هم غټ کافر مړ کړم، دے دپاره چه دا خبره سر په سر شی، مسیلمة الکذاب غټ کافر وو، د نبوت دعوه ئے کړے وه، د وحشی په لاس الله تعالیٰ مردار کړو چه د واقعے تفصیل به ئے روستو په خپل ځای کی راشی ان شاء الله تعالیٰ۔

(یوه تاریخی واقعه ده چه د انصارو یو کوهے وو د هغے اُوبه تروے شوے وے او کمے شوے هم وے نو انصارو رسول الله ﷺ ته شکایت وکړو نبی علیه السلام لږے اُوبه دم کړے او په هغه کوهی کی ئے وروغورځولے او لاړے ئے پکی تو کړے، د هغه کوهی اُوبه د شاتو نه زیاتے خوږے شوے او اُوبه راوخوټ کیدلے دا د نبی علیه السلام د نبوت ښکاره معجزه وه، مسیلمة الکذاب ته خپل قوم ووئیل چه د رسول الله ﷺ په لاړو داسے کار شویدے زمونږ هم دلته کوهے دے تهٔ هم دا کار وکړه هغه په کوهی کی لاړے وروغورځولے د هغه کوهی اُوبه داسے شوے لکه د خرهٔ متیازے)۔

په دغه جنګ کی وحشی رضی الله عنه وائی چه زهٔ د مسیلمة الکذاب په کور ورواوړیدم په کومه نیزه چه مے حمزه رضی الله عنه شهید کړے وو په هغے باندے مے مسیلمه مردار کړو، بیا وحشی رضی الله عنه د رومیانو خلاف هم جهاد کړے وو۔



د سیدنا حنظله رضی الله عنه د شهادت عجیبه واقعه

ددې واقعې نه روستو بله واقعه راغله چه هغه په احادیثو کې ذکر ده هغه د حنظله بن ابی عامر رضی الله عنه واقعه ده۔ ددهٔ پلار ابوعامر الفاسق، د کافرانو په ډله کې وو او دا ځوی ئې صحابي دې۔

حنظله بن ابی عامر رضی الله عنه یو وادهٔ مخکې کړې وو چه د هغه نه یو ځوی هم پیدا شوې وو عبد الله ئې نوم وو، نو دلته ئې بل وادهٔ کړې دې، نوې وادهٔ دې، د خپلې ښځې سره په کټ کې پروت وو چه خبر شو چه د الله نبي اُحد ته غزا له تلې دې، دې لږ جدا وسیدو نو دهٔ ووئیل چه زهٔ به د ښځې سره پروت یم او د الله رسول به جنګیږي، د کټ نه ئې ودانګل، د ځان سره ئې خپله وسله، نیزه او توره راواخسته او د جنابت په حالت کې روان شو، غسل ته ئې هم صبر ونکړو، میدان جنګ ته ورسیدو، د مشرکینو د لښکر مینځ ته ئې ځان ورسولو، ابوسفیان ناست وو دهٔ ته ئې شاوه نو دهٔ پرې توره اُوچته کړه نزدې وه چه ابوسفیان ئې پدې سر وهلې وې لیکن د شا د طرفه شداد بن اوس (چه روستو مسلمان شوېدې) ولیدو نو هغه ددهٔ د ګوزار نه مخکې پرې د تورې ګوزار وکړو او شهید ئې کړو۔ د ابوسفیان اجل نهٔ وو راغلې د مکې د فتح نه روستو ابوسفیان رضی الله عنه هم مسلمان شو۔ سبحانك یا کریم۔

حنظله رضی الله عنه شهید شو او د جنابت په حالت کې وو، د خپلې بي بي د غیږې نه د توري میدان ته ورتلل او خپل شهوات د الله دپاره قرباني کول دا په اُوچت ایمان کیږي۔ حنظله رضی الله عنه ته ملائکو غسل ورکړو پدې وجه دهٔ ته غسیل الملائکه وئیلې شي۔ دا خبر جبریل علیه السلام نبي علیه السلام ته ورکړو۔

مشرکینو بار بار دا کوشش کولو چه په صحابه کرامو باندې د شا طرف نه حمله وکړي۔ خالد بن الولید د خپلو شهسوارانو ملګرو سره په اسونو باندې درې کرته په هغه صحابه کرامو باندې حمله وکړه کوم چه په جَبَل الرُّمَاة باندې رسول الله ﷺ مقرر کړي وو، چه د دوی سره ابوعامر الفاسق هم ملګرې وو لیکن دغه صحابه کرامو په غشو ویشتل او د هغوی دا حمله ئې ناکامه کړه۔

د مشرکانو شکست

پدې طریقه د سخت جنګ جرنده تاو شوه او مسلمانانو په ټول میدان باندې غلبه او تسلط وکړو، په دغه ورځ باندې ابوبکر، عمر بن الخطاب، علي بن ابی طالب، زبیر بن العوام، مصعب بن عمیر، طلحه بن عبید الله، عبد الله بن جحش، سعد بن معاذ، سعد بن عباده، سعد بن الربیع او انس بن النضر رضی الله عنهم او د دوی په شان نورو صحابه کرامو په انتهائی مړانه او بهادرئ سره داسې جنګ وکړو چه د مشرکانو ارادې ئې بدلې کړې او د هغوی مټ ئې ستړې کړو۔

ددې نه روستو الله تعالیٰ د مشرکانو په زړونو کی رعب وا چولو چه دا مسلمانان خو نۀ د مخې نه وهل کیږی او نۀ د شا نه، نو دې مشرکانو شکست وخوړو او دا خبره قرآن کریم کی هم ذکر ده۔

(روستو بعض صحابه کرامو ووئیل چه مونږ سره خو الله تعالیٰ وعده کړې وه زمونږ مدد څنګه ونشو نو الله وفرمایل:

﴿ وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللّٰهُ وَعْدَهٗۤ اِذْ تَحُسُّوْنَهُمْ بِاِذْنِهٖ ﴾ (آلعمران:١٥٢)۔

یقیناً الله تعالیٰ تاسو سره خپله وعده رشتینی کړیده کله چه تاسو هغوی لره د الله په مدد سره وژل لیکن کله چه تاسو کمزوری ښکاره کړه او د رسول الله ﷺ د امر په باره کی تاسو اختلاف وکړو او مخالفت مو وکړو پس د هغې نه چه الله تاسو ته هغه مالونه وخودل چه تاسو ورسره مینه کوله الخ۔

نو بیا روسته په تاسو باندې شکست راغلو۔

په صحیح بخاری کی د سیدنا براء بن عازب رضی الله عنه نه نقل شویدی چه د اُحد په ورځ ما د قریشو زنانه ولیدلې چه غر طرفته ئې منډې وهلې او د هغوی د خپو پانزیبونه ښکاره کیدل۔

سیدنا زبیر رضی الله عنه فرمائی: ما د ابوسفیان ښځه هنده ولیدله چه د خپلو ملګرو سره ئې منډې وهلې او د هغې پانزیبونه ښکاره کیدل۔ مشرکین په تیښته شو او مسلمانان ورپسې شو چه په هغوی کی به ئې توری کیښودلې او شا طرفته به ئې غنیمتونه راټولول، مشرکانو کی په هیچا کی دا جرأت نۀ وو چه خپله جنډه راپورته کړی پس د هغې نه چه د صُؤاب په قتل سره هغه غورزیدلې پرته وه۔

د دوی نه هغه خبرے هیرے شوے چه دوی وئیلی وو: مونږ به خپل ځان ته عزت راواپس کوو او د شرم نه به ځان بچ کوو او انتقام به اخلو۔

مشرکان ښی او ګس او مخے او شا طرفته منډے کړے ګویا که ډرے زره فوج د دیرش زره فوج سره لاندے وتے دے۔

د جبلُ الرماة ملګرو راکوزیدل

دا حالت چه کله هغه پنځوس صحابه کرامو ولیدو کوم چه د غر په کنډوو باندے مقرر وو نو په هغوی کی ځینو ملګرو ووئیل چه راځئ چه کوزیږو، د څه انتظار کی به ناست یو، جنګ خو ختم شو او مسلمانان غنیمتونه راټولوی، راځئ چه مونږ هم پکی برخه واخلو۔ سیدنا عبد الله بن جُبَیر رضی الله عنه چه د دوی امیر وو هغه ورته ووئیل: آیا د رسول الله ﷺ هغه خبره تاسو هیره کړه چه هغه ویلی وو چه تاسو به نهٔ راکوزیږئ ترڅو چه ما سړے نهٔ وی درلیږلے، هغوی ووئیل د نبی علیه السلام مقصد خو دا نهٔ وو چه هسے کینئ، د هغه مطلب دا وو چه د جنګ پورے کینئ او چه جنګ ختم شو، راکوز شئ، دوی تاویل وکړو۔

(تاویلونو همیشه دپاره دین ته نقصان ورکړیدے، کله د تاویل په وجه سړے ګنهګار شی او کله خطا کی واقع شی دلته دوی په خطائی کی پریوتل)۔

ددے ملګرو نه دوه نقصانه واقع شول یو دا چه د نبی علیه السلام په خبره کی ئے تاویل وکړو، او دویم دا چه امیر هم ورته حکم کولو چه دلته به کینئ لیکن دوی ووئیل چه جنګ ختم دے نو د دوی نه څلویښت کسان راکوز شو او د سیدنا عبد الله بن جُبیر رضی الله عنه سره لس کسان پاتی شول،

پدے کی خالد بن ولید ولیدل چه ځای خالی شویدے نو په اسونو باندے سوارهٔ کسان ورسره وو نو دغه لس کسانو باندے ئے حمله وکړه، دوی ورسره سخته مقابله وکړه لیکن په نتیجه کی دا لس کسان په شمول د عبد الله بن جبیر رضی الله عنهم ټول ئے شهیدان کړل، او د جنګ صورت بیخی اُلټه شو، دے کسانو په صحابه کرامو باندے د شا طرفنه ناڅاپی حمله وکړه چه هغوی ئے تس نس کړل،

د فتح صورت په شکست بدل شو، دې شهسوارانو خپلو ملګرو ته آوازنه وکړل چه په هغې سره شکست والا مشرکانو وپېژندل چه زمونږ ملګرو غلبه وکړه نو بيرته په مسلمانانو باندې راوګرځېدل۔

پدې کې د مشرکانو يوې زنانه عمرة بنت علقمه الحارثيه په جلتئ سره رامنده کړه او د مشرکانو جنده ئې راپورته کړه کومه چه په خاورو کې پرته وه نو مشرکان دغه جندې ته راجمع شو او مسلمانان داسې راګير شو لکه د ژرندې د دوو پلونو ترمينځ چه راګير شوی وی۔

ددې نه الله تعالیٰ داسې تعبير کړيدې:

﴿ حَتَّى إِذَا فَشِلْتُمْ وَتَنَازَعْتُمْ فِي الْأَمْرِ وَعَصَيْتُمْ مِنْ بَعْدِ مَا أَرَاكُمْ مَا تُحِبُّونَ﴾

(آلعمران: ۱۵۲)۔

تردې چه کله تاسو بزدلی وکړه او د الله د نبی په حکم کې مو جګړې وکړې او مخالفت مو وکړو پس د هغې نه چه الله تاسو ته هغه مالونه وخودل چه تاسو خوښول)

(**فائده:** ددې نه معلومه شوه چه د الله د نافرمانئ انتهائی نحوست او سپيرهٔ والے دے، هر مصيبت او آفت چه راځی، د نافرمانئ د وجه نه راځی۔

﴿ وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ﴾ (الشوری: ۳۰)۔

هر مصيبت چه تاسو ته رسيږی نو په سبب د هغه عملونو چه ستاسو لاسونو کړی وی او الله تعالیٰ معافی کوی د ډيرو نه)

سيدنا علی المرتضیٰ رضی الله عنه فرمائی: دا په قرآن کريم کی افضل آيت دے، د مصيبتونو د لرې کيدو علاج دا دے چه بندګان ګناهونه پريدی، توبه وباسی او طاعت اختيار کړی، په بدعاتو مصائب نهٔ لری کيږی لکه بعض بدعتيان وائی: سورة الشمس اويا کرته تلاوت کړئ مصيبتونه به ختم شی، بعض کسانو دا خوب ليدلے او په امت کی ئے مشهور کړيدے دا شيطانی خوب دے)۔

غرض دا چه په صحابه کرامو دا مصيبت د رسول الله ﷺ د امر د خلاف د وجې نه راغے۔

دارنګه د امير د مخالفت د وجه نه۔ او دويم دنيا ته د ميلان په وجه اګرکه دنيا خوښول بد کار نهٔ دے، د هر انسان فطری طور سره دنيا خوښه ده او دا عيب نهٔ دے

بلکه هغه دنیا پرستی عیب دے چه دین پرے پریدی۔

الغرض : مسلمانان راگیر شو، د دوی فتح په شکست بدله شوه، غنیمتونه هم بیرته لاړل، میدان د کافرو لاس ته ورغلو، ایمان والو باندے ډیر تکلیف راغلو، په ډیرو مسلمانانو باندے رعب هم راغے، بعض کسانو باندے داسے رعب راغے چه غرهٔ طرفته ئے منډه کړه، میدان ئے پریښودو۔

﴿ وَطَائِفَةٌ قَدْ أَهَمَّتْهُمْ أَنْفُسُهُمْ﴾ د خپل ځان غم ورسره وو، دا اګرکه مسلمانان وی لیکن کله د سخت تکلیف په وخت کی انسان سره د خپل ځان غم وی۔

مګر راجح دا ده چه دا آیت د منافقانو په باره کی وو چه هغوی سره صرف د خپل ځان فکر وو۔

دویمه ډله هغه کسان وو چه مدینے ته داخل شو او میدان ئے بالکل پریښودهٔ۔

بعض کسان داسے وو چه زړهٔ کی ئے دومره رعب راغے چه توریے ئے کیښودے چه نور جنګ نشو کولے یو طرف ته به شو خاصکر د شیطان دا آواز ئے هم آوریدلے وو چه رسول الله ﷺ قتل شوید ے۔

یو جماعت د صحابه کرامو داسے وو چه هغوی سره دا غم وو چه د الله رسول رانه څوك قتل نکړی په دوی کی ابوبکر صدیق، عمر بن خطاب، ابوعبیده بن الجراح، مصعب بن عمیر، ابودجانه، سعد بن ابی وقاص او ابو طلحه رضی الله‌عنهم وو د دوی سره دا فکر وو چه رسول الله ﷺ به چرته وی؟ څه کسان لګیا دی جنګ کوی او دشمنانو طرف ته ورغلی دی

نو پدے وخت کی ابلیس دا آواز وکړو چه [یَا عِبَادَ اللّٰهِ أُخْرَاكُمْ]۔

اے د الله بندګانو! د شا نه درباندے دشمن راغے، نو مسلمانان چه راواپس شو نو د خپلو ملګرو سره ئے جنګ شروع کړو، شا ته دشمن نهٔ وو بلکه صحابه کرام وو، د شیطان مقصد دا وو چه خپلو کی وجنګیږی۔

په حدیث د بخاری کی دی چه حذیفه رضی الله عنه فرمائی : چه ما وکتل زما پلار (یَمان) پکی دے نو ما چغے کړے : [یَا عِبَادَ اللّٰهِ أَبِیْ أَبِیْ] اے د الله بندګانو ! دا خو زما پلار تاسو وژنئ۔

لیکن هغوی زما آواز نهٔ آوریدو تردے چه زما پلار ئے په سهوه سره شهید کړو۔

ددۀ پلار د مسلمانانو دلاسه په غلط فهمئ ووژل شو،

بیا حذیفه رضی الله عنه د خپل پلار وینه صدقه کړه، دیت ئې ترې وانخستلو ځکه قتل خطاء وو۔ الله تعالیٰ د حذیفه رضی الله عنه خیر نور هم زیات کړو۔ دا تکلیف الله تعالیٰ قرآن کریم کې داسې ذکر کړیدې:

﴿ثُمَّ صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ لِيَبْتَلِيَكُمْ﴾

(بیا الله تعالیٰ د مشرکانو نه واړولئ دې دپاره چه په تاسو امتحان وکړي)

الله تعالیٰ ستاسو په زړۀ کې دا واچوله چه د میدان نه وتښتئ، په تښتیدو کې فائده ده۔

سیدنا انس بن نضر رضی الله عنه د جنت خوشبوئي مونده کوی

پدې وخت کې بعض صحابه کرامو جنګ کولو یو انس بن نضر رضی الله عنه دې چه د انس بن مالك ترۀ دې دا صحابی د بدر د غزا نه پاتې شوې وو او دا به ئې وئیل چه که بیا غزا راغله او زۀ پکې حاضر شوم نو زۀ به هغه کارونه وکړم چه الله به ئې وینی۔ سعد بن معاذ رضی الله عنه فرمائی:

دا زما مخې ته راغې ما ته ئې ووئیل چه ددې اُحد د غر نه ما ته د جنت خوشبوئي راځي۔

(د جنت خوشبوئي د پنځه سوه کالو مزل په اندازه معلومیږی او بعضو خلکو ته د ځلوېښتو کالو په اندازه معلومیږی لیکن دا په قیامت کې او بعضو اعلیٰ مومنانو ته په دنیا کې د جنت خوشبوئي محسوسیږی، دا د هغوی کرامت وی)

دې انس بن النضر رضی الله عنه دا دعا وکړه چه اې الله! زۀ تا ته ددې مؤمنانو د طرفه عذر پیش کوم چه دوی څه وکړل، (میدان ئې پرېښودو) اې الله ! تۀ دوی معذوره وګڼړه او دې مشرکینو چه څه وکړل زۀ د دوی نه بری یم۔

بیا ورمخکې شو او مشرکینو سره ئې جنګ کولو کولو تردې چه شهید شو چه دومره سخت لګیدلې وو چه شکل ئې هم بدل شوې وو، اتیا ګوزارونه د غشو او نیزو او تورو پرې لګیدلی وو، هیچا نۀ پیژندلو مګر خپلې خور د ګوتو په بندونو سره وپیژندلو۔

سیدنا انس بن النضر رضی الله عنه هغه صحابی دے چه په الله تعالیٰ باندے به ئے قسم وکړو نو الله تعالیٰ به دده قسم سر ته رسولو او بری کولو به ئے لکه حدیث کی دی: [إِنَّ مِنْ عِبَادِ اللّٰهِ مَنْ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللّٰهِ لَأَبَرَّهُ] ۔ د الله تعالیٰ بعض بندګان داسے دی که په الله باندے قسم وکړی چه الله به دا کار کوی نو الله هغه کار پوره کوی۔

که دا قسم وکړی چه قسم په الله نن به الله تعالیٰ باران کوی نو الله تعالیٰ باران کوی۔

الله فرمائی: ﴿فَمِنْهُمْ مَنْ قَضٰى نَحْبَهٗ﴾ (الاحزاب:۲۳)

بعض د صحابه کرامو نه هغه وو چه خپل نذر ئے پوره کړو۔ چه یو د هغوی نه انس بن النضر رضی الله عنه وو چه دهٔ خپله قربانی الله ته پیش کړه او خپل قیمتی نفس ئے الله ته ورکړو او شهید شو۔ رضی الله عنه وارضاه۔

د سیدنا ثابت بن الدحداح رضی الله عنه وصیت

یو بل صحابی ثابت بن دَحْدَاح انصاری د اُحد په میدان کی خپل قوم ته وئیل چه نبی علیه السلام وفات شویدے نو مونږ پدے ژوند څه کوو، په هغه څه به ځان مړکړو په کوم چه نبی علیه السلام وفات شو، او خلکو ته ئے وویل : اے انصارو! د خپل دین د طرف نه قتال وکړئ الله به تاسو کامیاب کړی او مدد به درسره وکړی نو دده سره د انصارو نه څه کسان ملګری شو او په شریکه ئے د خالد بن الولید په اسونو والو ملګرو باندے حمله وکړه جنګ کیدو کیدو تردے چه خالد بن الولید دهٔ لره په غشی ویشتو او دائے هم شهید کړو او ملګری ئے هم ورله شهیدان کړل۔

یو بل انصاری صحابی زخمی حالت کی په وینو کی پروت دے، یو مهاجر صحابی پرے ورتیر شو نو مهاجر ورته ووئیل : آیا تا ته پته شته چه رسول الله ﷺ خو وفات دے ؟ نو انصاری ورته ووئیل چه تاسو هم په هغه دین ځانونه مړه کړئ په کوم دین چه رسول الله ﷺ وفات شویدے۔ دا د معرکے تصویر وو۔



د رسول الله ﷺ خواته جنګ تودیدل

او رسول الله ﷺ ددې معرکې شا ته ولاړ وو لکه چه قرآن فرمائي: ﴿وَالرَّسُوْلُ يَدْعُوْكُمْ فِيْ أُخْرَاكُمْ﴾۔ رسول الله ﷺ مشرکینو ته هم کتل او صحابه کرامو ته ئې هم کتل چه کله دوی د تیښتې په حالت کې وو۔

رسول الله ﷺ پدې سخت حالت کې هم صحابه کرامو ته آوازونه کول او خپله نهٔ تښتیدو ثابت قدم پاتې وو،

بلکه څه صحابه کرام ئې ځان سره راجمع کړل او د مشرکینو په صف باندې ورننوتل او خپل ملګرې ئې راخلاص کړل او دغې طریقه ئې دا وه چه نبي علیه السلام آواز وکړو: اِلَيَّ عِبَادَ اللّٰهِ)۔ اې د الله بندګانو! زما خوا ته راشئ،

نبي علیه السلام پدې پوهه وو چه زما دا آواز مشرکان هم آوري او کیدې شي چه د مؤمنانو نه ئې مشرکان مخکې واوري او تیز آواز ئې وکړو، ځان ئې کفارو ته ښکاره کړو دا د نبي علیه السلام د شجاعت او بهادرئ انتهائي دلیل دې۔

دا آواز مسلمانانو کې بعض کسانو واوریدو او مشرکینو هم واوریدو په صحابه کرامو کې سیدنا ابوبکر صدیق، عمر بن خطاب، مصعب بن عمیر رضی الله عنهم، او ام عماره رضی الله عنها او ابوعبیده بن الجراح رضی الله عنه دوی د رسول الله ﷺ خوا ته روان شو لیکن د دوی د رسیدلو نه مخکې مشرکینو ځان نبي علیه السلام ته ورسولو او راګیر ئې کړو او دا مشرکین یو وړوکې جماعت وو، دوی پدې اراده راوتلي وو چه رسول الله ﷺ به وژنو۔ نو د دوی نه یو مشرك عتبه بن ابی وقاص چه د سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه ورور دې راوړاندې شو۔

نبي علیه السلام وفرمایل: څوك دې چه دا مشرکین زمونږ نه واپس کړي هغه ته به الله تعالیٰ جنت ورکړي،(یا ما سره به ئې الله تعالیٰ په جنت کې ملګرې کړي) او نبي علیه السلام سره پدې وخت کې صرف نهه کسان صحابه کرام دي۔

انصارو ووئیل: مونږه، نو یو انصاري ورمخکې شو، جنګ ئې شروع کړو هغه شهید شو، بل ورمخکې شو هغه هم شهید شو دریم ورمخکې شو جنګ ئې شروع

کړو هغه هم شهید شو، د رسول الله ﷺ په دفاع کی شپږ کسان انصار شهیدان شو او اوم کس چه عُمَاره بن یَزِید بن السَکن ئے نوم وو زخمی شو د نبی علیه السلام په خوا کی پروت وو بیا روسته د نبی علیه السلام په خپه ئے سر ایښودے وو او شهید شو، اوه (۷) انصار صحابه کرام شهیدان شو، نبی علیه السلام وفرمایل:
(مَا أَنْصَفْنَا أَصْحَابُنَا) دے ملګرو خو مونږ سره څه انصاف ونکړو، تول داسے په جلتئ لاړل، مونږه ئے ځان لـه پریښودو (دا خپل شهیدان ملګری ئے یادول او د دوی په زر شهید کیدوئے افسوس کولو)

په رسول الله ﷺ باندے ډیر سخت حالت راتلل

دوه کسان د رسول الله ﷺ سره پاتی شو چه دواړه قریشیان وو یو سیدنا طلحه بن عبید الله او بل سیدنا سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه چه دا دواړه جنتیان صحابه کرام دی (په عشره مبشره کی داخل دی، نبی علیه السلام ورته په یو مجلس کی د جنت زیری ورکړیدے)
او دا په رسول الله ﷺ باندے ډیر تنګ او سخت حالت وو او د مشرکانو دپاره د سرو زرو فرصت او موقعه وه او هغوی ددے موقعے نه فعلًا فائده هم واخسته.
سیدنا طلحه بن عبید الله رضی الله عنه د رسول الله ﷺ مخے ته د دیوال په شان ودریدو او ډیر زیات جنګ ئے وکړو، دریے دیرش یا پنځه دیرش زخمونه پرے جوړ شو، (کما رواه الحاکم فی الاکلیل) یو ځل په دهٔ باندے ګوزار وشو، دوه ګوتے ئے پریکړے شوے نو ددهٔ د خُلے نه د حَسّ لفظ وختلو (لکه مونږ پښتو کی ویش لفظ وایو) نبی علیه السلام ورته وفرمایل: دا لفظ به دے نهٔ وئیلے که تا بسم الله وئیلے وے نو تهٔ به ملائکو په هوا کی داسے پورته کړے وے چه خلکو به درته کتلے. لکه دا خبره په صحیح حدیث کی راغلی ده. (نسائی: ۳۱٤۹)
(**فائده**: په شرعی اذکارو کی ډیر طاقت دے، بسم الله وئیلو سره شیطان دومره وړوکی شی لکه مچ، نبی علیه السلام په میدان جنګ کی هم مسئله بیان کړه).
بخاری د قیس بن ابی حازم نه نقل کړی چه ما د طلحه لاس ولیدو چه شل شوے

وو، د اُحد په ورځ ئے پدے سره د نبی علیه السلام حفاظت کړے وو۔

ترمذی او ابن ماجه نقل کړیدی چه پدے موقعه کی رسول الله ﷺ دا هم وفرمایل:
(مَنْ أَحَبَّ أَنْ يَّنْظُرَ اِلٰى شَهِيْدٍ يَمْشِيْ عَلٰى وَجْهِ الْأَرْضِ فَلْيَنْظُرْ اِلٰى طَلْحَةِ بْنِ عُبَيْدِ اللّٰه)۔

که څوك غواړی چه یو شهید ته وګوری چه په زمکه ګرځی نو طلحه بن عبید الله ته دے وګوری۔

سیدنا طلحه رضی الله عنه ډیره قربانی ورکړه، ددے وجه نه نبی علیه السلام به فرمایل: أَوْجَبَ طَلْحَةُ۔ طلحه ځان له جنت واجب کړو، سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه چه به کله د اُحد غزا ذکر کوله نو وئیل به ئے:
(ذٰلِكَ الْيَوْمُ كُلُّهٗ لِطَلْحَةَ)۔

دغه ټوله ورځ د طلحه د قربانئ وه، ټوله قربانی په کی هغه ورکړے وه۔

بل طرفته سیدنا سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه حَسَنُ الرَّمْيِ وو، (ډیر ښه ویشتل به ئے کول)۔

نبی علیه السلام به هغه ته خپله غاړکئ د غشو (تیر کمان) کولاوه کړه او یو یو غشی به ئے سعد ته ورکولو یا به په لاره څوك تیریدو نو نبی علیه السلام به ورته وئیل دا غشے راوړه سعد ته ئے ورکړه، سعد به کافران ویشتل، نبی علیه السلام به ورته وئیل: اِرْمِ فِدَاكَ أَبِيْ وَأُمِّيْ)۔ وله زما مور او پلار دے ستا نه قربان شی۔

سیدنا علی رضی الله عنه فرمائی چه ما رسول الله ﷺ نۀ دے لیدلی چه خپل مورپلار ئے غیر د سعد رضی الله عنه نه د بل چا دپاره جمع کړی وی، صرف سعد ته به ئے وئیل: زما مور او پلار دے ستا نه قربان شی۔

پدے سخت او باریك وخت کی الله رب العزت دوه ملائك هم د نبی علیه السلام د مدد دپاره راولیږل چه یو جبریل او بل میکائیل علیهما السلام وو۔

سیدنا سعد رضی الله عنه فرمائی: د نبی علیه السلام ښی طرف او ګس طرفته دوه کسان ولاړ وو چه سپینی جامی ئے وے چه ما نۀ مخکی لیدلی وو او نۀ روسته او د نبی علیه السلام حفاظت ئے کولو او سخت جنګ ئے کولو۔

ooo

د اُحد په غزا کی باوجود ددے چه د صحابه کرامو نه څه لږ شان لغزش وشو او

صحابه کرامو ته تکلیف ورسیدو بیا هم نبی علیه السلام دغه صحابه کرامو ته غصه نشو، الله تعالیٰ د خپل نبی صفت کوی :

﴿ فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللّٰهِ لِنْتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيْظَ الْقَلْبِ لَانْفَضُّوْا مِنْ حَوْلِكَ، فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ﴾ (آلعمران:۱۵۹)۔

پس په سبب د رحمت د الله تعالیٰ تهٔ نرم شوے دوی ته او که تهٔ بد زبانه او سخت زړے وے نو دا ملګری به ستا د خوا نه خوارهٔ شوی وے۔

(**فائده** د قیادت او د مشرئ دپاره څلورخبری ضروری دی: یو صبر، دویم نیك اخلاق، دریم په خپلو ملګرو شفقت او څلورم عقلمندی او نبی علیه السلام کی دا ټول ښکلی صفات په اکمل او په اتمه طریقه موجود وو)۔

او نبی علیه السلام ته فرمائی چه دے صحابه کرامو ته معافی وکړه او دوی له ښښنه غواړه او مشورے هم ورسره کوه۔

منافقانو په صحابه کرامو پسے خبرے کولے چه دوی وتښتیدل او دوی ګناهګار دی نو الله تعالیٰ د صحابه کرامو شان بیان کړیدے : ﴿ وَلَقَدْ عَفَا اللّٰهُ عَنْهُمْ ﴾۔

قسم دے چه یقیناً الله تعالیٰ دوی معاف کړیدی) اګرکه د دوی نه نقصان هم شویدے۔

ددے نه معلومیږی چه هرکله الله تعالیٰ وبښل نو روسته به د صحابه کرامو عیبونه نهٔ بیانیږی۔ د خوارجو او شیعه ګانو طریقه دا ده چه د صحابهٔ عیبونه بیانوی۔

عبد الله بن عمر رضی الله عنهما ته یو سړے راغے او په عثمان رضی الله عنه باندے ئے درے اعتراضه وکړل۔ هغه ورته جوابونه ورکړل، اول اعتراض دا وو چه د اُحد نه تښتیدلے دے هغه جواب ورکړو چه که اُحد کی تښتیدلے دے فَأَشْهَدُ أَنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى قَدْ عَفٰى عَنْهُ)۔ زهٔ ګواهی کوم چه یقیناً الله تعالیٰ هغه ته معافی کړیده ځکه چه په قرآن کریم کی ئے د دغه معافئ اعلان کړیدے۔

د نبی علیه السلام زخمی کیدل

پدے معرکه کی نبی علیه السلام ته هم ډیر تکلیف ورسیدو۔

نبی ﷺ په معرکه کې موجود دے، د مشرکینو یو وړوکې جماعت ته معلومه شوه چه نبی ﷺ دغه ځای کې دے نو هغوی دد دے موقعے نه فائده واخسته،

د نبی علیه السلام په سر مبارك باندے خُود (یعنی د وسپنې توپئ) وه، مخ مبارك ئے پټ وو او په بدن باندے ئے زغری وے۔

په هغوی کې یو مشرك عُتبه بن ابی وقاص په نبی علیه السلام باندے د کانړی ګوزار وکړو نو نبی علیه السلام په یو طرف راپریوتو او کانړے د هغه په خوله باندے ولګیدو چه د هغے د وجه نه د نبی علیه السلام رُباعی څلور غاښونه مبارك شهیدان شو او لاندے شونډه مبارکه ئے زخمی شوه، وینی ترے روانے شوے۔

عتبه بن ابی وقاص په همدے جنګ کې د حاطب بن ابی بلتعه رضی الله عنه په لاس مردار شو، په توره ئے ورله سر ووهلو او لرے ئے ترے ګوزار کړو بیا ئے د هغه نه توره او اس واخستو۔

سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه وائی : زما ډیر کوشش وو چه زهٔ دا خپل ورور پیدا کړم او مړئے کړم ځکه چه د رسول الله ﷺ دشمن دے۔ دیته ولاء او براء وائی۔

بعض روایتونو کې راځی چه دے عتبه ایمان راوړیدے لیکن دا خبره کمزوری ده۔

پدے کې یو بل مشرك عبد الله بن شهاب الزهری (چه دا د امام زهری رحمه الله کوم چه لوئی محدث دے نیکه دے) هم په نبی علیه السلام باندے حمله وکړه او رسول الله ﷺ ئے په تندی مبارك باندے زخمی کړو۔

دریم مشرك عبد الله بن قمئه وو دا په اس باندے سور وو او کوشش ئے کولو چه رسول الله ﷺ صحی کړی او حمله پرے وکړی نو دے راغے او په نبی علیه السلام باندے ئے په توره سره په اوږه ګوزار وکړو نو نبی علیه السلام پدے سره خوږ شو لیکن ډیر زخمی نشو ځکه چه نبی علیه السلام دوه زغری اغوستی وے، هغه زغری ماتی نشوے لیکن ددے ګوزار د وجه نه یو میاشت مریض وو۔

عبد الله بن قمئه بیا موقعه کتله چه په رسول الله ﷺ باندے ګوزار وکړی نو بیا ئے د رسول الله ﷺ په مخ مبارك باندے د توری ګوزار وکړو لیکن نبی علیه السلام خُود (د وسپنی توپئ) اغوستے وه نو د دغه توپئ دوه کړئ (حلقے) د نبی علیه السلام په اننګی مبارك کې ننوتلی۔ دا درے څلور زخمونه نبی علیه السلام ته ورسیدل، سر چه

د انسان زخمی شی نو بیا ئے دماغ کار نکوی، دارنګه غاښ چه په زوره اوځی ډیر درد کوی او بیا په تندی مبارك کی دا کړئ داسے کلکے ننوتی وے چه نهٔ راوتلے،

ابوبکر صدیق رضی الله عنه رامخکی شو چه دا کړئ د نبی علیه السلام د سر نه راوباسی نو سیدنا ابوعبیده بن الجراح رضی الله عنه ورته قسم ورکړو چه دا ماته پریده، نو ابوعبیده ته ئے پرینبودے، هغه رامخکی شو او غابنونه ئے پکی خښ کړل تردے چه په زور سره د ابوعبیده غاښ راووتلو، بیا سیدنا ابوبکر رامخکی شو ابوعبیده بیا قسم ورکړو چه ما ته ئے پریده، ابوعبیده بل غاښ ور واچولو دا بل غاښ ئے هم راووتلو۔ نبی علیه السلام ورته دعا وکړه، دے ته محبت وائی۔

د نبی ﷺ راپریوتل

ابوعامر الفاسق د نبی علیه السلام په لاره کی کندی ویستلے وے او بیرته ئے پټی کړے وے دے دپاره چه پکی راوغورځیږی، کله چه نبی علیه السلام په واپسئ کی شو نو په دغه کنده کی پریوتلو او زنګون ئے وختلو نو سیدنا علی رضی الله عنه د لاس نه ونیولو او سیدنا طلحه بن عبید الله رضی الله عنه په غیږه کی ونیولو تردے چه نبی علیه السلام ودریدو،

دا مشکلات نبی علیه السلام ته ورسیدل۔

ابن قمئه چه کله په نبی علیه السلام باندے ګوزار کولو نو دا ئے ووئیل: خُذْهَا وَأَنَا ابْنُ قَمِئَةَ)۔

واخله دا ګوزار او زهٔ د قمئه ځوی یم۔ نبی علیه السلام د خپل مخ مبارك نه وینے پاکولے او دهٔ ته ئے دا ښیرے وکړے: أَقْمَأَكَ اللّٰهُ)۔ الله تعالیٰ دے تا ټوټی ټوټی کړی۔

تاریخ کی راځی چه عبد الله بن قمئه چه کله د اُحد نه لاړو نو غرهٔ ته د خپلو ګډو بزو پسے تلے وو، د غر په سر کی یو صحرائی پسهٔ چه ډیر لوئی ښکرئے وو او مضبوط هم وو هغه ورپسے راغلو او دا ئے په ځیته کی وهلو او بار بار ئے دغرے ورکولے تردے چه د غرهٔ نه ئے ښکته راګوزار کړو او ټوټی ټوټی شو چه اندامونه ئے خوارهٔ واورهٔ پراته وو، د نبی علیه السلام ښیرے پرے ولګیدلے۔

او عتبہ بن ابی وقاص هم مردار شو۔ صرف دغه یو کس عبد الله بن شهاب روسته ایمان راوړے وو۔

سعد او طلحه رضی الله عنهما به د کفارو سره په دومره بهادرئ جنګ کولو چه هیڅ نظیر او مثل ئے نۀ وو او کفارو به د نبی علیه السلام د قتل کوشش کولو۔ تردے چه دے دواړه ځوانانو د رسول الله ﷺ نه د مشرکانو حملے تولے واپس کړے او مشرکان ئے په خپل هدف کی کامیابئ ته پرے نښودل، دا دواړه په عربو کی انتهائی ماهر ویشتونکی وو تردے چه د مشرکانو دا جماعت ئے واپس کړو۔

عبد الله بن شهاب وویل: (دُلُّوْنِیْ عَلٰی مُحَمَّدٍ فَلَانَجَوْتُ اِنْ نَجَا)۔

ما ته محمد (علیه السلام) راوښایئ زۀ دے بچ نشم که محمد (علیه السلام) روغ پاتی شی۔ او دے د نبی علیه السلام په خوا کی وو،

د نبی علیه السلام په خوا ورتیر شو او نبی علیه السلام ئے ونۀ لیدۀ۔

صفوان ملامته کړو چه ستا په خوا کی وو لیکن قتل دے نکړو۔ عبد الله بن شهاب ورته ووئیل : وَاللّٰهِ مَا رَأَیْتُهٗ أُحْلِفُ بِاللّٰهِ اِنَّهٗ مِنَّا لَمَمْنُوْعٌ۔

قسم په الله چه الله تعالیٰ ئے زمونږ نه منع کوی۔ څلور کسان مشرکان د نبی علیه السلام د قتل په اراده ور وړاندے شو لیکن وے نۀ لیدۀ او نبی علیه السلام به الله تعالیٰ ترے پټ ساتلو۔

دارنګه دوه ملائك الله راولیږل چه د رسول الله ﷺ په دفاع کی ئے سخت جنګ کولو۔

د صحابه کرامو راجمع کیدل

رسول الله ﷺ ته ملګری راجمع شول، اول کس چه راغے هغه ابوبکر صدیق رضی الله عنه وو، دا د تهولو نه مخکی راغے، دویم نمبر کی ابوعبیده بن الجراح امین هذه الامة راغے۔

ابوبکر فرمائی: چه ابوعبیده داسے رامنډے وهلے لکه د مارغه په شان، بیا عمر بن الخطاب، مصعب بن عمیر، ابو طلحه او ابودجانه رضی الله عنهم راورسیدل۔

په صحیح ابن حبان کی د عائشے رضی الله عنها نه نقل دی چه ابوبکر صدیق

رضی الله عنه وفرمایل: هرکله چه د اُحد ورځ شوه او صحابه کرام د رسول الله ﷺ نه جدا شو نو زهٔ اولنیے هغه سړیے وم چه رسول الله ﷺ ته راواپس شوم نو ما د هغه مخے ته یو سړیے ولیدو چه جنګ ئے کولو او د هغه حفاظت ئے کولو نو ما وویل چه دا خو طلحه بن عبید الله دیے زما مور او پلار دیے ستا نه قربان وی

(ما نه داسے ښائسته موقعه فوت شوه لیکن ما وویل چه دا هم زما د قوم سړیے دیے ما ته ډیر محبوب دیے چه په داسے ښه موقعه کی حاضر دیے)

نو پدیے وخت کی سمدست ابوعبیده بنِ الجراح هم راورسیدو لکه د مارغه په شان رامنډیے ئے وهلے مونږ نبی علیه السلام ته ورسیدو نو د هغه مخکی طلحه پروت وو، نبی علیه السلام وفرمایل: دا ورور مو واخلئ دهٔ ځانله جنت واجب کړو.

اوام عماره رضی الله عنها راورسیده چه دیے په ډیرو جهادونو کی حصه اخستے وه او خپله توره ئے استعمال کړیے وه. مالك بن سنان د ابوسعید خدری رضی الله عنه پلار هم راحاضر شو او د نبی علیه السلام نه ګیر چاپیره ئے یو دیوال جوړ کړو چه څوك زمونږ مشر نبی علیه السلام ته تکلیف ونهٔ رسوی ځکه چه د مشر مرګ خو تباهی ده لیکن دا راجمع کیدل هغه وخت وو چه نبی علیه السلام ته تکلیف رسیدلے وو.

نبی علیه السلام پدیے وخت کی د خپل مخ مبارك نه وینه صفا کوله او فرمائیل ئے:

[كَيۡفَ يُفۡلِحُ قَوۡمٌ دَمَّوۡا وَجۡهَ نَبِيِّهِمۡ]۔

هغه قوم به څنګه کامیاب شی چه د خپل نبی مخ ئے وینی کړو.

(اِشۡتَدَّ غَضَبُ اللّٰهِ عَلٰى قَوۡمٍ دَمَّوۡا وَجۡهَ نَبِيِّهِمۡ وَهُوَ يَدۡعُوۡهُمۡ اِلَى اللّٰهِ)۔

د الله تعالیٰ غضب په هغه قوم ډیر سخت دیے چه د خپل نبی مخ ئے وینی کړو او حال دا چه هغه ئے الله ته رابلی. نو الله رب العزت دا آیتونه راولیږل:

﴿ لَيۡسَ لَكَ مِنَ الۡاَمۡرِ شَيۡءٌ اَوۡ يَتُوۡبَ عَلَيۡهِمۡ اَوۡ يُعَذِّبَهُمۡ فَاِنَّهُمۡ ظٰلِمُوۡنَ ﴾

ستا اختیار نشته یا به الله دوی ته د توبی توفیق ورکړی او یا به عذاب ورکړی ځکه چه دوی ظالمان دی.

نبی علیه السلام ددیے نه روسته بیا ورته د هدایت دعا وکړه ځکه رحمة للعالمین وو، یوه دعا ئے د وینی د صفا کولو په وخت دا وکړه: اَللّٰهُمَّ اغۡفِرۡ لِقَوۡمِيۡ فَاِنَّهُمۡ لَا يَعۡلَمُوۡنَ ـ اے الله! زما قوم معاف کړه ځکه دوی نهٔ پو هیږی. که دوی تهٔ پیژندلے او زما شان ئے

پیژندلے نو دا کار به ئے نۀ کولے ځکه دوی جاهلان دی۔ (صحیح مسلم)

بلِ روایت کی دی چه قاضی عیاضؒ په شفاء کی راوړیدے:

اَللّٰهُمَّ اهْدِ قَوْمِیْ فَاِنَّهُمْ لَایَعْلَمُوْنَ) ۔ اے الله زما دے قوم ته هدایت وکړه ځکه دوی ناپوهه دی۔ او د مغفرت همدا معنیٰ ده چه اے الله تۀ ورته هدایت وکړه چه ایمان راوړی نو مغفرت به ورته وشی۔ دشمنان ئے وو لیکن بیا هم ورته رسول الله ﷺ د هدایت دعا کوی،

ددینه معلومیږی چه رسول الله ﷺ رحمة للعالمین دے، د خپلو دشمنانو دپاره هم رحمت وو، دا دعا قبوله هم شوه ځکه ډیر کسان چه پدے غزا کی شریك وو او صحابه کرام او نبی علیه السلام ته ئے ضرر ورکړے وو لیکن الله تعالیٰ ورته هدایت وکړو لکه خالد بن الولید، ابوسفیان، صفوان بن امیه، عکرمه بن ابی جهل وغیره۔

نبی علیه السلام صرف د جنګونو دپاره نۀ وو راغلے هغه ددے دپاره راغلے وو چه په دنیا کی دین عام شی۔

oooo


کله چه صحابه کرام راجمع شو بیا هم جنګ شروع وو، نبی علیه السلام کوشش وکړو چه د مشرکینو دیوال مات کړی او دننه چه کوم مسلمانان ګیر دی هغه راخلاص کړی، دوی ډیر جنګ وکړو او د مشرکینو دیوال ئے مات کړو،

نبی علیه السلام چه نورو صحابه کرامو ته ښکاره شو

کعب رضی الله عنه فرمائی: اول ما وپیژندلو چه نبی علیه السلام دے ما ووئیل:

یَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِیْنَ اَبْشِرُوْا)۔

اے د مسلمانانو ډلے! خوشحاله شئ، نبی علیه السلام ژوندے دے۔ پدے آواز آوریدو سره په هغوی کی روح بیرته راتازه شو او ډیر خوشحاله شو، ډیر مسلمانان د نبی علیه السلام نه راچاپیره شو او دلته راغلل تقریباً دیرش کسان دغه ځای کی راجمع شو نبی علیه السلام خپل ملګری د دغه ځای نه په مُنظم ترتیب راویستل او د مشرکینو د محاصری نه ئے خلاص کړل۔



د ابن قمئه دعوه او د شیطان آواز

پدے وخت کی چه کله عبد الله بن قمئه مشرك په نبی علیه السلام گوزارونه وکړل نو مشرکینو ته ورغے او ورته ئے وویل چه ما خو محمد (رسول الله ﷺ) مړ کړو وجه دا وه چه مصعب بن عمیر رضی الله عنه شهید شوے وو نو دوی دا خبره خوره کړه چه رسول الله ﷺ وژل شویدے، مصعب بن عمیر سره د نبی علیه السلام جنډه وه بیا عبد الله بن قمئه راغے د مسلمانانو پدے گروپ باندے ئے حمله وکړه پدے کی مصعب بن عمیر رضی الله عنه ئے پدے ښی لاس ووهلو نو دا یو لاس ئے ترے پریکړو هغه جنډه په بل لاس کی ونیوله نو دا بل لاس ئے ترے غوڅ کړو نو جنډه ئے په سینه کی ونیوله نو بل گوزار ئے پرے وکړو نو شهید شو۔

خو مصعب دا جنډه پریوتو ته پرینښوده، بیا جنډه سیدنا علی بن ابی طالب ؓ واخستله

مصعب بن عمیر رضی الله عنه هغه صحابی وو چه د نبی علیه السلام سره ئے په رنگ کی ډیر مشابهت وو، نو د عبد الله بن قمئه دا شك پیدا شو چه ما نبی علیه السلام قتل کړو ابوسفیان ته ئے خبر ورکړو چه نبی علیه السلام ما وژلے دے نو مشرکان ډیر خوشحاله شو چه مشر ختم شی نو فوج شکست خوری او دا خبره د نبی علیه السلام د قتل مسلمانانو کی هم خوره شوه ځکه عبد الله بن قمئه دا چغه کړه او ابلیس هم دا آواز کړے وو:

اَلَا اِنَّ مُحَمَّدًا قَدْ قُتِلَ۔ (خبر شئ محمد قتل شو)

پدے آواز خوریدو کی دوه فائدے وے یو په مسلمانانو باندے امتحان وو او بل دا چه مشرکین هم په شا شو او کمزوری شو وجه دا وه چه دوی ووئیل چه کوم کار مونږ کولو هغه وشو چه د نبی علیه السلام قتل وو، نو جنگ ئے لږ په قلاره کړو او د مشرکینو دا غالب گمان وو چه پیغمبر علیه السلام وژلے شویدے۔ او نبی علیه السلام خپل ملگری ځان سره غرۀ طرفته بوتلل او حملے د هر طرف نه شروع وُے پدے کی د مشرکینو یوه ډله راغله په رسول الله ﷺ باندے ئے حمله وکړه۔

د نورو صحابه کرامو ناشنا کارنامې

مسلمانانو ناشنا پهلوانی او قربانی ښکاره کړه چه تاریخ کی د هغې هیڅ مثل نشته۔

سیدنا ابو طلحه رضی الله عنه د نبی ﷺ مخې ته د دیوال په شانَ ودریدو او خپله سینه به ئې اُوچته کړه دې دپاره چه د دشمن په غشی باندې رسول الله ﷺ ونۀ لګی۔

د سیدنا ابو طلحه سره یو ډهال وو هغه به ئې د رسول الله ﷺ نه راتاؤ کړې وو او دې خپله ډیر سخت ویشتونکے وو چه لیندہ به ئې ډیره راښکله او غشی به ئې ډیر لری رسیدل په دغه ورځ باندې ئې دوه یا درې لیندې ماتې کړې وې، که یو سړے به په لاره تیریدو نو نبی علیه السلام به ورته فرمایل:

دا غشی راوړه او ابو طلحه ته ئې خوارۀ کړه،

انس بن مالك رضی الله عنه فرمائی: نبی علیه السلام به سر راپورته کړو دشمنانو ته ئې کتل نو ابو طلحه به ورته فرمایل: زما مور او پلار دې ستا نه قربان شی آے د الله رسوله! سر مۀ اُوچتوه هسې نۀ چه د دشمنانو یو غشے تا ته ونۀ رسی، زما سینه دوی ته مخامخ ده،

د انس رضی الله عنه نه دا هم نقل دی چه ابو طلحه او نبی علیه السلام به په یو ډهال باندې ځان پټولو او ابو طلحه ډیر ښه ویشتونکے وو نو کله چه به ابو طلحه ګوزار وکړو نبی علیه السلام به سر پورته کړو کتل به ئې چه غشے کوم ځای کی ولګیدو۔

پدې وخت کی یو بل پهلوان سیدنا ابودجانه رضی الله عنه راغلو، نبی علیه السلام ته ئې مخه کړه او مشرکینو ته ئې شا کړه چه کوم غشی راځی چه په ما ولګیږی او نبی علیه السلام بچ شی په ابودجانه دومره غشی ولګیدل چه څرمن ئې داسې شوه لکه د شکونړ د څرمن په شان۔ (په شکونړ باندې ډیر غشی ولاړ وی) په ابودجانه دومره غشی ولګیدل او پرې ودریدل او هغه هیڅ حرکت نۀ کولو۔

یو بل پهلوان او قابل ویشتونکے سهل بن حُنَیف رضی الله عنه هم لویه کارنامے

وکړے دۀ د رسول الله ﷺ سره په مرګ باندے بیعت کړے وو او پدے جنګ کې ئے د مشرکانو په تمبولو او دفع کولو کې ډیر مزیدار رول ولوبولو۔

دا لا څه چه زمونږ سیدنا محمد رسول الله ﷺ (فداه ابی وامی) خپله هم پدے جنګ کې غشي ویشتل قتاده بن النعمان رضی الله عنه فرمائی:

رسول الله ﷺ د خپلے لیندے نه غشي ویشتل تردے چه د هغے یو طرف مات شو نو قتاده بن نعمان هغه راواخستو بیا به د هغه سره وو۔ (الرحیق)

قتاده بن نعمان رضی الله عنه یو صحابی وو، د نبی علیه السلام حفاظت ئے کولو یو غشے راغلو سترګه ئے پرے ولګیده نو سترګه ئے بهر راووتله، نبی علیه السلام ته صحابه کرامو ووئیل چه د قتاده بن نعمان رضی الله عنه سترګه لګیدلے ده،

نبی علیه السلام د هغه سترګه راواخسته او وردننه ئے کړه او لاس ئے پرے رابنکلو، الله تعالیٰ داسے جوړه کړه فَكَانَتْ أَحْسَنَ عَيْنَيْهِ وَأَحَدَّهُمَا) چه دا سترګه په دواړو سترګو کی انتهائی بنائسته وه او ډیره تیز نظر والا وه۔ دا د نبی علیه السلام معجزه وه څکه سترګه چه داسے طریقے سره ولګیږی هغه ختمیږی، آپریشن غواړی۔

او یو بل پهلوان وو سیدنا عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه دۀ هم د مشرکانو سره ډیر سخت جنګ وکړو تردے چه ددۀ خوله په غشي ولګیده او په بدن ئے شل یا زیات زخمونه ولګیدل چه بعض په خپو لګیدلی وو چه د هغے په وجه ګوډ شو۔

او د ابو سعید خدری رضی الله عنه پلار مالك بن سنان رضی الله عنه راغلو د رسول الله ﷺ د اننګی نه ئے وینه وڅکله تردے چه هغه ئے صفا کړو،

نبی علیه السلام ورته وفرمایل: (مُجَّه) دا توکه، نو هغه ووېل: قسم په الله نۀ ئے توکم، بیا روان شو او جنګ ئے شروع کړو نو نبی علیه السلام وفرمایل:

(مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَلْيَنْظُرْ إِلَى هٰذَا)

که څوك غواړی چه یو جنتی سړی ته وګوری نو دے سړی ته دے وګوری) تردے چه هغه شهید شو۔ رضی الله عنه۔

فائده: د رسول الله ﷺ وینه او خوله پاکه وه لکه دلته مالك بن سنان رضی الله عنه څکلے ده او یو ځل نبی علیه السلام ښکر لګولے وو وینه ئے عبد الله بن زبیر رضی الله عنهما ته ورکړه چه دا ګوزار کړه هغه چه بهر ووتلو وے څکله، سلمان ووېل

یارسول الله ! تا ته پته ده چه پدے وینه باندے ئے څه وکړل هغه ووېل : څه ئے پرے وکړل؟ ابن زبیر ته ئے ووېل وینه دے څه کړه؟ هغه ووېل ومے څکله نبی علیه السلام ورته ووېل : تا ته به اُور نهٔ رسیږی۔

د محمد رسول الله د بدن نه چه یو شے راوځی که دا د چا د بدن سره یو ځای شی هغه به اُور نهٔ مسح کوی۔

دریم صحابی سَفِینَه د رسول الله ﷺ غلام ام سلمے آزاد کړے وو هغه هم د رسول الله ﷺ وینه څکلے وه۔

او د رسول الله ﷺ د بول په باره کی اختلاف دے بعض وائی پاك دی لیکن پدے باندے څه دلیل نشته۔ یوے صحابیه زنانه (د ام سلمے خادمه چه نوم ئے بَرّه وو) خطاءً د رسول الله ﷺ بول څکلی وو نبی علیه السلام ورته ووېل تا د اُور نه ځان ته پرده واچوله الخ (معجم الکبیر للطبرانی) ۔ددینه د رسول الله ﷺ مقام ثابت شو۔

پدے کی یو مشرك (عثمان بن عبد الله بن المغیره) راغے په اس سور وو او یو وړوکی جماعت ورسره وو، په رسول الله ﷺ ئے حمله کوله، نبی علیه السلام هغه ته مخامخ شو، الله تعالیٰ د هغه اس وښویولو او په کنده کی وغورځیدهٔ نو دے ترے ښکته راوغورځیده نو حارث بن صمه رضی الله عنه زر ورغلو او په خپو باندے ئے ووهلو گوډ ئے کړو او بیا دپاسه پرے شروع شو هغه ئے مردار کړو او وسله ئے ترے رسول الله ﷺ ته راوړه۔

د مشرکینو یو بل شاهسوار (عبد الله بن جابر) رامنډے کړے نو سیدنا حارث بن صمه رضی الله عنه ئے په اوگه باندے ووهلو او زخمی ئے کړو تردے چه مسلمانانو هغه راپورته کړو نو پدے کی د مسلمانانو پهلوان ابودجانه رضی الله عنه ورغلو او په عبد الله بن جابر باندے ئے حمله وکړه، په توره ئے ووهلو تردے چه سرئے ترے والوزولو۔

OOOO

رسول الله ﷺ خپل ملگری په ډیر منظم شکل سره د غرینو کنډو طرفته بوتلل او جنگ ئے جاری وساتلو پدے کی د نبی علیه السلام مخے ته یو کمر راغے چه بره ختل گران وو ځکه نبی علیه السلام زخمی هم وو او بدن ئے هم غټ وو نو طلحه بن عبید الله رضی الله عنه زخمی وو هغه ورته ووئیل :

اے د الله رسوله ! زما په اُوګو خپي کیده او بره وخیژه نو طلحه رضی الله عنه په زخمي حالت کي کیناستلو او نبي علیه السلام ورته په اوګه خپه کیښوده او بره وختلو نو پدے وخت کي هم نبي علیه السلام وفرمایل: أَوْجَبَ طَلْحَةُ۔

(طلحه ځان له جنت واجب کړو)

نبي علیه السلام چه دا ملګري یو طرفته کول پدے وخت کي هم د مشرکانو حملے شروع وے مګر د اسلام زمرو هغه په شا باندے وتمبولے او د نورو مسلمانانو دپاره ئے لاره آزاده کړه۔

د اُبي بن خلف قتل

پدے وخت کي اُبي بن خَلَف مشرك چه د اسلام ډیر غټ دشمن وو، په مکه کي ئے یو اس ساتلے وو، نبي علیه السلام ته به ئے وئیل چه دا اَس زهٔ ددے دپاره ساتم چه تا پرے قتل کړم نو نبي علیه السلام ورته یوه ورځ ووئیل چه زهٔ به تا وژنم ان شاء الله۔ دا هغه وخت وو چه جهاد لا نهٔ وو فرض شوے۔

ابي بن خلف یو جماعت ځان سره راوستلو او دائے ووئیل (لَانَجَوْتُ اِنْ نَجَا مُحَمَّدٌ) چه زهٔ دے مړ شم که محمد رسول الله ﷺ ژوندی پاتي شو، راوړاندے شو صحابه کرامو ورته ووئیل چه دا کافرراروان دے په اس سور دے تهٔ مونږ ته اجازه وکړه چه واپس ئے کړو؟ نبي علیه السلام ورته وفرمایل: څه ورته مهٔ وایئ پریدئ چه راځي، دا همدآسے رانژدے کیدو تردے چه رسول الله ﷺ د یو ملګري نه نیزه واخسته،

نبي علیه السلام دا نیزه داسے وخوزوله چه دا ملګري ترے اخوا دیخوا شو چه په مونږ دا نیزه ونهٔ لګیږي نبي علیه السلام ددهٔ یو ځای صحیح کړهٔ، ابي بن خلف په زغرهٔ او په ټوپئ پټ وو، د ټوپئ او زغرې ترمینځ ئے لږ ځای ښکاره کیدو نو نبي علیه السلام پرے ګوزار کړو او دغه ځای ولګیده،

نیزه ترے ونهٔ وتله او نهٔ ترے وینه وبهیدله بلکه دا ځای ورله داسے زخمي کړه چه وینه پکي جمع شوه هغه د اس نه ښکته راوغورځیدهٔ او منډه ئے کړه خپلو ملګرو طرفته، ملګرو ورته ووئیل چه دا خو دومره زخم نهٔ دے، معمولي تکلیف دے، ددینه

ځوك نۀ مری،

نو ابی بن خلف ورته ووئیل چه که محمد (رسول الله ﷺ) په ما باندے لاړے راتوکړے هم زۀ به مړ کیږم ځکه هغه ما ته په مکه کی دا وئیلی وو چه زۀ به تا وژنم او تاسو ته علم دے چه محمد (رسول الله ﷺ) کو مه خبره وکړه هغه رشتینی وی۔

ابی بن خلف چه مشرکینو سره بیرته مکے ته تللو داسے رمباړے به ئے وهلے لکه د غوایانو پشان نو خلکو ملامته کړو چه دا خو نۀ وینه کوی او نۀ دومره غټ زخم دے او دومره چغے وهے؟ نو ابی بن خلف ووئیل: قسم په الله که دا زخم د ذو المجاز میلے په ټولو خلکو تقسیم شی نو ټول به هلاك شی، دا دومره درد کوی،

دا د نبی علیه السلام معجزه وه چه په دومره معمولی زخم ئے دا مشرك نا قلاره کړو تردے چه سَرِف علاقے ته ورسیدۀ چه دا مکے ته نژدے ځای دے نو هلته مردار شو، کله چه نبی علیه السلام ته د هغه د قتل خبر راورسیدۀ نو وے فرمایل:

أَشَدُّ النَّاسِ عَذَابًا مَنْ قَتَلَ نَبِيًّا أَوْ قَتَلَهُ نَبِيٌّ)۔

د قیامت په ورځ به الله تعالیٰ سخت عذاب هغه چا ته ورکوی چا چه نبی وژلے وی (لکه یهود او نصارا او انبیاء شهیدان کړیدی) یا یو نبی هغه لره ووژنی۔

ابی بن خلف دپاره به سخت عذاب وی ځکه محمد رسول الله ﷺ چه رحمة للعالمین دے د هغه په لاس مردار شو معلو مه شوه چه دا ډیر زهریلی خبیث کافر وو۔

په اُحد غزا کی د مسلمانانو طاقت مکمل ختم شوے نۀ دے بلکه د آخره پورے دا طاقت باقی پاتی شویدے۔

دا خبره د دوه واقعاتو نه معلو میږی یو دا چه کعب بن مالك رضی الله عنه فرمائی: زۀ د جنګ په آخر کی راووتلم او حال مے زدۀ کولو پدے کی یو مشرك دے، وسله ورسره ده، زغرۀ ئے اچولے ده او نورو مشرکینو ته وائی چه راځئ تکړه شئ یو ځای شئ۔ پدے کی ما یو مسلمان ولیده چه مخ ئے پټ کړیدے ددے مشرك سره مخامخ شو نو دے مسلمان پدے مشرك باندے حمله وکړه او په سر باندے ئے ووهلو او دومره تیز ګوزار ئے پرے وکړو چه د کناټو پورے ئے نیم کړو او مخ ئے رابنکاره کړو او ما ته ئے ووئیل:

(كَيْفَ رَأَيْتَ يَا كَعْبُ، أَنَا أَبُو دُجَانَة) ۔ څنګه دے ولیدۀ (خوښ دے شو) زۀ ابو دجانه یم چه رسول الله ﷺ راته خپله توره راکړیده۔

(په جهاد کې دا قسم د فخر خبرے جائز وی او د کافرو په مقابله کې تکبر جائز دے)
پدے سخت جنګ کې د الله تعالیٰ د طرفنه یو بل مدد دا هم راغلو چه الله تعالیٰ په صحابه کرامو باندے د اطمینان دپاره خوب راوستو لکه دا خبره قرآن کریم هم بیان کړیده، سیدنا ابو طلحه رضی الله عنه فرمائی : زهٔ په هغه خلکو کې وم چه په هغوی باندے خوب راغلو په ورځ د احد تردے چه زما د لاس نه بار بار توره پریوته او ما به راخسته۔

د زنانو قربانی

د مدینے نه زنانه څوارلس زنانه راغلے مخکې ئے ام عماره نُسَيْبَه بنت کعب المازنية الانصاريه رضی الله عنها راروانه وه چه هغے د نبی علیه السلام حفاظت کولو۔
نبی علیه السلام فرمائی: چه ما به ښی طرفته وکتل دا به ولاړه وه او که ګس طرفته به مے وکتل نو دا به ولاړه وه۔ ام عماره رضی الله عنها د عبد الله بن قمئه د تورے په ګوزار ولګیده او اوګه ئے زخمی شوه چه ترمرګه پورے دغه زخم پرے موجود وو۔ او دے په عبد الله بن قمئه باندے د توری ډیر ګوزارونه وکړل لیکن د زنانه ګوزارونه کمزوری وی، بله دا چه هغه زغری اغوستے وے نو څه خاص تکلیف ئے ورنکړو۔ ام عماره په دغه حالت کې هم جنګیده تردے چه دولس زخمونه ورته ورسیدل۔ او دے په خپله توره سره د مشرکانو نه یو شاهسوار قتل کړو۔
یوه بله زنانه راغله ام ایمن رضی الله عنها چه دا د نبی علیه السلام حاضنه (پرورش کونکے) وه چه نبی علیه السلام ته ئے تیء هم ورکړے وو، د زید بن حارثه رضی الله عنه بی بی وه۔
دغه شان عائشه رضی الله عنها او ام سَلِیط او ام الحارث او ام عطیه (رضی الله عنهن) راغلے چه دوی به د اُوبو مشکونه راوړل او د زخمیانو په خُلو کې به ئے وراړول او زخمیان به ئے د میدان نه وړل او غاړی ته کول به ئے چه مشرکان ئے قتل نکړی او بعضو روایتونو کې دی چه د مشرکانو زخمی به ئے ولیدو هغه به ئے وژلو۔
سیدنا انس بن مالك رضی الله عنه فرمائی : ما عائشه او ام سلیم رضی الله عنهما ولیدلے چه مشکونه به ئے په خپلو شاګانو باندے راوړل او د زخمیانو په خُلو کې به ئے

اُوبه اچولے بیا به واپس کیدے او هغه به ئے راټکول او د خلکو په خُلو کی به ئے اچول،
سیدنا عمر فاروق رضی الله عنه فرمائی :
ام سلیط د انصارو یوه زنانه وه هغې به د اُحد په ورځ مونږ دپاره تپکے راټکولے۔
ام ایمن د جنګ په آخر کی راغله چه زخمیانو ته ئے اُوبه ورکولے یو مشرك حِبّان بن عَرَقه د وراندې نه په غشی ویشتله نو زخمی شوه راپریوتله او بدن ئے ښکاره شو ځکه صحابیاتو به لنګ اچولو نو د الله دشمن مشرك ډیر تیز وخندل۔ نبی علیه السلام پدے سره ډیر خفه شو ځکه دا ئے رضاعی مور وه نو سیدنا سعد بن ابیٰ وقاص رضی الله عنه ته ئے غشے ورکړو چه دا مشرك پرے وولہ، سعد رضی الله عنه چه ګوزار وکړو هغه مشرك په سینه کی ولګیدۀ نو هغه ستنی ستاق راپریوتو تردے چه د هغه لنګ کولاؤ شو او عورت ئے ښکاره شو۔
نبی علیه السلام پدے وخت کی وخندل تردے چه د جامے غاښونه ئے ښکاره شو او دا ئے ووئیل : چه سعد بن ابی وقاص ددے زنانه دپاره بدله واخستله۔ اُجَابَ اللّٰهُ دَعْوَتَهٗ)۔ الله تعالیٰ دے د سعد دعاګانے قبولے کړی۔
سعد رضی الله عنه ته الله تعالیٰ دا کرامت ورکړے وو چه الله تعالیٰ به ددۀ دعا قبلوله یو خو ورته نبی علیه السلام دعا کړے وه۔ او بله دا چه دۀ د نبی علیه السلام نه سوال وکړو چه ما ته داسے طریقه وښایه چه زما دعا قبوله شی، نبی علیه السلام ورته ووئیل چه حلال خوراك کوه۔ روستو به خلك د سعد رضی الله عنه د ښیرو نه یریدل چه چرته ښیرے راته ونکړی ځکه چه دا ضرور قبلیږی۔
په اُحد کی رسول الله ﷺ خپله هم جنګ کولو تردے چه توره ئے هم کنډم شوه۔

د مشرکانو آخری حمله

نبی علیه السلام راروان وو تردے چه شِعب (کنډو) ته راورسیدو، دا یو کنډو دے چه یو خوا بل خوا غر دے دلته جنګ کول لږ مشکل وو۔ مشرکینو ووئیل چه مسلمانان خو بره غر ته وختل نو هلته ورپسے ورتلل پکار دی نو ابوسفیان او خالد بن ولید سره د څه مشرکانو نه پدے غرۀ باندے وروختل نو نبی علیه السلام دعا وکړه :

اَللّٰهُمَّ لَا یَنْبَغِیْ لَهُمْ اَنْ یَعْلُوْنَا)۔

اے الله ! دوی له مناسب نۀ دی چه زمونږ دپاسه شی او په مونږ غالبه شی۔

او عمر رضی الله عنه ته ئے وفرمایل چه ته یو څو کسان ځان سره واخله او ددے کسانو مقابله وکړه۔ هغه یو وړوکی جماعت واخستو او ورغلو۔ او سعد رضی الله عنه ته ئے وفرمایل چه ته یواځے ددے کسانو مقابله وکړه هغه ووئیل چه زۀ به څنګه د دوی مقابله وکړم او دوی به یواځے څنګه واپس کړم؟،

نبی علیه السلام ورته وفرمایل: یواځے ورشه، بیا هغه ووئیل یواځی به څنګه مقابله وکړم؟ بیا ورته نبی علیه السلام وفرمایل : ورشه یواځے ئے مقابله وکړه نو هغه یواځے روان شو او غشی ئے راواخستو یو مشرك باندے ئے ګوزار وکړو هغه مشرك پرے مړ شو بل مشرك باندے ئے ګوزار وکړو هغه هم مړ شو، بیا ئے همغه غشے راواخستو او بل مشرك ئے پرے ویشتلو هغه ئے هم مردار کړو مشرکینو ووئیل چه دا څنګه چل دے چه ولی مو او همداسے مو وژنی۔

د عمر ﷺ دسته هم ورپسے ورغله نو مشرکین ویریدل چه مرو نو واپس شو۔

مشرکینو اراده وکړه چه واپس کیږو ځکه چه د بدر بدله مو واخسته او بله دا یره ورسره وه چه دا مسلمانان بیرته راباندے غالبه نشی۔

د ابوسفیان خوشحالی او د عمر فاروق ﷺ سره خبرے

پدے وخت کی مشرکینو دا کار وکړو چه ابوسفیان یو اُوچت ځای ته وختلو چه هلته نه ئے آواز ئے وکړو چه آیا په تاسو کی محمد رسول الله ﷺ شته دے ؟ (دوی ته محمد رسول الله ﷺ نه ښکاره کیدو) دوی ګمان وکړو چه نبی علیه السلام وفات دے۔ نبی علیه السلام صحابه کرامو ته وفرمایل : جواب مۀ ورکوئ مقصد ئے دا وو چه دوی به خوشحاله شی بیا چه خبر شی چه نبی علیه السلام ژوندے دے نو ډیر زیات به خفه او نا امیده شی۔ بیا ابوسفیان آواز وکړو آیا په تاسو کی ابوبکر شته؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: جواب مۀ ورکوئ۔ ابوسفیان آواز وکړو چه تاسو کی عمر بن خطاب شته ؟ نبی علیه السلام وفرمایل : جواب مۀ ورکوئ نو وے وئیل: هرچه دا

درے کسان دی نو د دوی نه خو خلاص شو (ددے درے کسانو تپوس ئے ځکه کولو چه دا مشران وو ځکه که دا درے کسان نۀ وی نو د دوی اجتماعیت ختمیږی)۔
(**فائده**: د کافرانو کوشش همیشه دا وی چه د مسلمانانو مشران ختم کړی ځکه چه په دوی باندے خلك راټولیږی)
پدے وخت کی عمر رضی الله عنه د خپل ځان مالك نشو نو آواز ئے ورته وکړو چه اے د الله دشمنه ! هغه کسان چه تا ذکر کړل : اِنَّهُمْ لَاَحْيَاءٌ۔ دوی خو ژوندی دی، الله تعالیٰ تا ته هغه څوك باقی پریښودی دی چه تا به پرے خفه کړی۔
بیا ابوسفیان آوازو وکړو : (قَدْ كَانَ فِيْكُمْ مُثْلَةٌ لَمْ آمُرْ بِهَا وَلَمْ تَسُؤْنِيْ)
په تاسو کی به زمونږ ملګرو مُثله کړی وی ما پدے باندے حکم نۀ دے کړے لیکن خفه هم پرے نۀ یم۔ بیا ئے شرکی آواز وکړو: اُعْلُ هُبُل، اُعْلُ هُبُل۔
(اعل صیغه د امر ده یعنی اے هبله تۀ اوچت شه) مقصد ئے دا دے چه زمونږ هبل اُوچت شو ځکه مونږ غالب شو۔ (لکه د زنده باد پشان نعره ئے ووهله)
نبی علیه السلام ملګرو ته وفرمایل: اُوس جواب ورکړئ ځکه چه د شرك کلمه ئے ووئیله، صحابهِ کرامو ووئیل چه څه ورته ووایو؟
نبی علیه السلام وفرمایل: داسے ووایئ : اَللّٰهُ أَعْلٰى وَأَجَلُّ۔ الله اُوچت او لوی شان والا دے۔ ستاسو باباګان او بتان خو مخلوق دے د هغوی سره څه دی؟۔
ابوسفیان ووئیل: لَنَا الْعُزّٰى وَلَا عُزّٰى لَكُمْ۔ زمونږ عزی پیریٔ شته او ستاسو نشته۔
نبی علیه السلام ورته ووئیل جواب ورکړئ صحابه کرامو ووئیل څه ورته ووایو؟،
وے فرمایل: لَنَا الْمَوْلٰى وَلَا مَوْلٰى لَكُمْ۔
زمونږ سره مولیٰ شته (چه زمونږ مددګار دے) او ستاسو مولیٰ او مددګار نشته۔
بیا ابوسفیان ووئیل مونږ داسے جور جور کارونه کړیدی دا مونږ د بدر په بدله کی کړیدی او د جنګ مثال د بوکے دے، پروسکال ستاسو بوکه په بدر کی ډکه راوختله او سږ کال زمونږ بوکه ډکه راوختله۔
عمر رضی الله عنه جواب ورکړو: لَا سَوَاءَ، قَتْلَانَا فِي الْجَنَّةِ وَقَتْلَاكُمْ فِي النَّارِ۔
دا جنګ برابر نۀ دے زمونږ شهیدان په جنت کی دی او ستاسو مړی په جهنم کی دی۔
بیا ابوسفیان ووئیل : دلته راشه اے عمره ! نو رسول الله ﷺ عمر ته ووئیل : ورشه

اُوګوره چه ددۀ څه حالت دے؟، عمر راغے، ابوسفیان ورته ووئیل:
اے عمره! تا ته په الله قسم درکوم چه آیا مونږ محمد (ﷺ) وژلے دے؟
عمر رضی الله عنه وفرمایل: نۀ، او هغه دا دے اُوس ستا خبرے آوری. ابوسفیان ووئیل: تۀ زما په نیز د ابن قمئه نه زیات رشتینی او نیک ئے.

دوباره په بدر کی د جنګ وعده

ابوسفیان چه کله واپسئ کی شو نو آواز ئے وکړو چه راتلونکی کال کی به زمونږ او ستاسو مقابله د بدر په میدان کی کیږی. رسول الله ﷺ عمر فاروق رضی الله عنه ته وفرمایل: چه ورته ووایه، بیخی صحی ده. دا به زمونږ او ستاسو په مینځ کی د وعدے ځای وی.
(ددے نه معلومه شوه چه رسول الله ﷺ داسے شکست نۀ وو خوړلے چه مکمل طاقت ئے ختم شوے وی).

د مشرکانو پسے د علی رضی الله عنه ورتلل او د هغوی موقف او مقصد معلومول

کله چه ابوسفیان او د هغه فوج روان شو نو رسول الله ﷺ سیدنا علی بن ابی طالب رضی الله عنه ولیږلو (په یو روایت کی دی چه سعد رضی الله عنه ئے ولیږلو) چه دوی وګوره چه څه کوی او څه اراده لری؟ که دوی ځان سره آسونه روان کړی وی او په اُوښانو سوارۀ وی نو دوی به د مکے اراده لری او که په آسونو سوارۀ وی او اُوښان ئے هسے په اړخ کی روان کړی وی نو دوی به د مدینے د حملے اراده لری،
بیا ئے وفرمایل: قسم په هغه الله چه زما نفس د هغه په لاس کی دے چه که دوی د مدینے اراده وکړه نوزۀ به پسے مدینے ته ورځم او هلته به ورسره مقابله شروع کوم او خبره به ورسره فیصله کوم.
سیدنا علی رضی الله عنه فرمائی: زۀ د دوی د قدمونو پسے روان شوم، کتل مے چه

څه کوی نو دوی په اوښانو سوارهٔ شو او اَسونه ئے څان سره روان کړل او مکے ته ئے مخه کړه۔ علی رضی الله عنه راغلو او رسول الله ﷺ ته ئے خبر ورکړو۔

(په بعض روایتونو کی راځی چه دوی اراده کړے وه چه په مدینه باندے حمله کوو او هلته چه کومے زنانه او ماشومان او مالونه دی هغه ترے تښتوو لیکن صفوان بن امیه ورته مشوره ورکړه چه دا کار مهٔ کوئ ځکه چه پته نهٔ لګی چه ددے نه روستو څه راپیښیږی نو ابوسفیان واپس شو – امتاع الاسماع لاحمد بن علی المقریزی)

د رسول الله ﷺ او د صحابه کرامو په ناسته مونځ

رسول الله ﷺ د خالی په ورځ د ماسپښین مونځ په دغه ځای کی د خپلو ملګرو سره په ناسته وکړو ځکه چه رسول الله ﷺ زخمی شوے وو او ستړے شوے هم وو، او ټولو ملګرو هم ورسره په ناسته مونځ وکړو ځکه دا مسئله ده چه کله یو راتب (مقرر) امام ناجوړه شی په مانځه کی یا د مانځه نه مخکی او په ناسته مونځ کوی نو ټول مقتدیان به ورسره کینی پدے وخت کی د دوی نه قیام ساقط دے،

یو ځل نبی علیه السلام مریض وو ملګری ورله تپوس له راغلی وو چه په مانځه ودریده صحابه هم ورپسے ودریدل نبی علیه السلام ناست وو صحابهٔ ته ئے اشاره وکړه چه تاسو هم کینئ کله چه فارغ شو وے فرمایل چه نزدے وه چه تاسو د فارس او د روم والو د کافرانو په شان کار کړے وے چه مشران ئے ناست وی او دوی ورته ولاړ وی نبی علیه السلام ډیره عاجزی اختیاروله۔

صحابه کرامو په دغه ځای کی د نبی علیه السلام علاج هم وکړو د مِهْراس په نوم یو ځای نه ئے اُوبه راوړے او رسول الله ﷺ ترے وو چه وے کتلے بد بوئی پکی وه نو وے نهٔ څکلی صرف مخ او لاسونه ئے پرے وینځل۔

محمد بن مسلمه رضی الله عنه وړاندے لاړو هغه خوږے او مزیداری اُوبه راوړے، هغه ئے وڅکلی نو هغه ته ئے دعا وکړه چه الله دے خیر درکړی۔

سیدنا سهل بن سعد رضی الله عنه نه چا تپوس وکړو چه د نبی علیه السلام د زخم علاج په څه وشو ؟ سعد رضی الله عنه وویل چه زهٔ پدے ښه عالِم یم هغه دا چه په دغه

ځای کې علی رضی الله عنه په ډهال کې اُوبه راوړلې او فاطمې رضی الله عنها د نبي علیه السلام په زخم باندې اُوبه اچولې او په سر باندې ئې اچولې چه وینه ودریږي، دا زخم سهر لګیدلې وو او لا تر اُوسه پورې ترې وینه روانه وه، دې سره هم د نبي علیه السلام بدن کمزورې شوې وو۔

فاطمې رضی الله عنها چه وکتل چه اُوبو سره وینه نۀ ودریږي نو د بوزکي یوه حصه ئې وسیزله او زاړو مبئ ئې وکړله او دغه ایره ئې راواخسته او پدې زخم ئې واچوله نو وینه ودریده۔

د زخمیانو تلاش

ددې نه روستو رسول الله ﷺ د زخمیانو او شهیدانو تفقد او تلاش او لټون شروع کړو چه د زخمیانو علاج وکړي او شهیدان دفن کړي۔

نبي علیه السلام اول زید بن ثابت رضی الله عنه ولیږلو چه تۀ لاړ شه سعد بن الربیع رضی الله عنه وګوره او زما سلام پرې ووایه (ددۀ معلومات ئې مخکې ځکه وکړو چه دا د انصارو مشر وو د هغه حق مخکې وو)۔

زید بن ثابت رضی الله عنه وائي چه زۀ لاړم سعد بن الربیع په یو ځای کې پروت وو، زخمي شوې وو، تقریباً اَویا ګوزارونه پرې د تورو، نیزو او غشو لګیدلي وو خو لا شهید شوې نۀ وو چه زۀ ورغلم ما ورته ووېل: رسول الله ﷺ په تا سلام وائي، هغه ووېل په رسول الله ﷺ دې سلام وي۔

زید بن ثابت رضی الله عنه ورته ووېل چه نبي علیه السلام زۀ ستا د تپوس دپاره رالیږلې یم او وائي چه: كَيْفَ تَجِدُكَ؟۔ ستا تکلیف څنګه دې؟ هغه ورته ووېل چه رسول الله ﷺ ته ووایه چه د اُحد په خوا کې د جنت خوشبوئي په ما راروانه ده۔

(**فائده**: په قیامت کې به د جنت خوشبوئي چا ته د پنځه سوه کاله مزل په فاصله معلومیږي او چا ته د اویا کالو، چا ته د څلویښتو کالو لیکن بعضو مومنانو په دنیا کې دا خوشبوئي محسوس کړې وه دا د دوی کرامت وو لکه خبیب رضی الله عنه ته به د جنت انګور راتلل)

سیدنا سعد بن الربیع رضی الله عنه زید بن ثابت ته ووېل چه زما قوم انصارو ته ووایه چه د الله په نیز به ستاسو هیڅ عذر نۀ وي که رسول الله ﷺ ته څوك وررسیدۀ

او ضرر ئے ورکړو، که په تاسو کی د سترګی د رپ په اندازه ساه وی کلك ودرېږئ، د الله د نبی مدد وکړئ۔ دا یو څو خبری ئے وکړے بیا په دغه ځای کی شهید شو۔

د سیدنا اُصیرم ایمانی غیرت

دلته یو کس پروت وو چه د هغه اُصیرم - عمرو بن ثابت- نوم وو دا مشرك وو ددهٔ په چا باندے سود وو، دهٔ وویل که ایمان راوړم دا راباندے حرامیږی نو الله ددهٔ خاتمه ښه کوله نو دهٔ کلمه د توحید وویله او د احد د غزا په سهار غزا ته لاړو په معرکه کی ورننوتلو جنګ ئے کولو تردے چه سخت زخمی شو، لا ساه پکی وه، ددهٔ قوم بنی عبد الاشهل به په دهٔ باندے مخکی اسلام پیش کولو لیکن دهٔ به انکار کولو۔

دلته چه دا وموندے شو نو دهٔ نه تپوس وشو چه د خپل قوم د تعصب د وجه نه راغلے ئے او که د الله دپاره غصه ئے، د اسلام سره دے مینه پیدا شویده۔

هغه وویل: زما غضب د الله دپاره دے، ما ایمان راوړیدے په الله او د هغه په رسول باندے بیا مے جنګ کړیدے د الله دپاره تردے چه ما ته هغه تکلیف ورسیدو کوم چه تاسو وینئ، ددے خبرو نه روستو سمدست شهید شو۔

خلکو ددهٔ قصه رسول الله ﷺ ته ذکر کړه نو نبی علیه السلام ددهٔ په باره کی ګواهی ورکړه چه هُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ) دے د جنت والو نه دے۔ او په بل روایت کی دی: عَمِلَ قَلِيْلًا وَأُجِرَ كَثِيْرًا) عمل ئے کم وکړو او اجر ورته زیات ملاؤ شو (چه هغه جنت دے)

سیدنا ابو هریره رضی الله عنه وفرمایل: د الله دپاره ئے یو رکعت مونځ هم نهٔ ووکړے (یوه سجده ئے هم نهٔ وه لګولے) او جنت ته داخل شو۔ (ډیر بختور انسان وو)

د قُزمان قصه

دریم شخص قُزمان وو چه دا یو منافق سړے وو، د قومی غیرت په وجه د مسلمانانو په ډله کی راغلے وو، دومره سخت جنګ ئے وکړو چه دهٔ یواځے اوه یا اته کسان د مشرکانو قتل کړل او جنګ ئے ګرم کړو۔

چا د قزمان تذکره نبی علیه السلام ته وکړه هغه وویل چه دا جهنمی دے، دے زخمی شو، صحابه کرامو دے دار بنی ظفر ته راوړو او مسلمانانو دهٔ ته زیرے ورکړو نو

هغه وویل چه قسم په الله ما خو جنګ صرف د خپل قومی غیرت د خاطره کړے چه د قوم شرافت باقی پاتی شی۔ که دا نهٔ وے نو ما جنګ نهٔ کولو، کله چه دهٔ باندے زخمونه سخت شو نو توره ئے ودروله او خیټه ئے پرے ورواچوله او ځان ئے مړ کړو، صحابه کرام پوهه شو چه د رسول الله ﷺ خبره رشتینی شوه۔

(فائده: معلومه شوه چه د ملك او د قوم او د وطن دپاره جهاد کول جهاد نهٔ دے ترڅو چه ایمانی غیرت نهٔ وی، اګرکه د اسلام د جنډے لاندے جهاد کوی او د نبی ﷺ او د صحابه کرامو په فوج کی وی)۔

د مخیریق یهودی انابت

پدے زخمیانو کی یو یهودی عالِم وو چه نوم ئے مخیریق وو کله چه نبی علیه السلام د اُحد غزا ته تللو نو مُخیریق خپل قوم ته راغے او ورته ئے وویل چه تاسو ته معلومه ده چه د محمد رسول الله (ﷺ) مدد په تاسو باندے فرض دے، تاسو نه الله تعالیٰ په تورات کی وعده اخستے ده چه ددے پیغمبر مدد به کوئ نو راځئ چه لاړ شو ددے سړی مدد وکړو نو یهودو ورته وویل چه نن د خالی ورځ ده او د خالی په ورځ په مونږ باندے جنګ حرام دے۔ مخیریق ورته وویل چه خالی پریدئ ددے نبی تابعداری وکړئ، د خپل عقل تابعداری مهٔ کوئ، هغوی تیار نشو۔

مخیریق وصیت وکړو چه که زهٔ مړ شوم زما مال ټول محمد رسول الله ﷺ ته ورکړئ د هغه اختیار دے چه څنګه ئے مصرفوی، ځکه چه دا ډیر مالداره سړے وو د کجورو اُوه باغونه ئے وو، مخیریق توره راواخسته او جنګ ته لاړو هلته مړ شو،

رسول الله ﷺ ته چه معلومه شوه چه مخیریق مړ دے نو وے فرمایل چه مخیریق په یهودیانو کی غوره سړے دے۔

او د مسلمانانو نه ئے جدا دفن کړو او جنازه ئے پرے ونکړه

رسول الله ﷺ ددهٔ مالونه وقف وګرزول او دا په اسلام کی اولنے وقف وو چه رسول الله ﷺ مقرر کړو۔ (الروض الانف)۔

پدے کی اختلاف دے چه مخیریق مسلمان مړ دے او که کافر؟، نو علامه واقدی په

په خپل مغازی کی او علامه سهیلي په الروض الانف کی او علامه ذهبی په التجرید کی او حافظ ابن حجر په الاصابه کی دا ذکر کړیدی چه مخیریق مسلمان شوے وو او دا قصه د هغه په اسلام باندې دلیل دے چه یهود ډیر ضد والا وو او د مالونو سره ئې ډیره مینه وه او دهٔ په خپل ټول مال سره رسول الله ﷺ ته وصیت وکړو، او د هغه په مدد کی وفات شو۔ او بعض وائی چه دا مسلمان نهٔ دے مړ

خکه کلمه د شهادت ئې نهٔ وه وئیلے ځکه د نجات کلمه همدا ده۔ اګرکه په تورات ئې ایمان وو او د رسول الله ﷺ په ملګرتوب کی مړ شو لیکن کلمه ئې نهٔ وه وئیلے پدے وجه بی ایمانه مړ شو نو یهودو کی بنه سړے وو چه په خپل تورات ئې عمل کولو او په اسلام کی بنه سړے نهٔ وو، پدے وجه نبی علیه السلام جدا هم خخ کړو،

مګر اول قول غوره دے ځکه چه د رسول الله ﷺ سره پدے جنګ کی پاك صحابه کرام شریك شوی وو۔ او دهٔ په خپل کتاب (تورات) صحیح ایمان راوړو پدے وجه ورته د نبی علیه السلام ملګرتیا نصیب شوه۔ والله تعالیٰ اعلم، ددے مسئلے بنه تحقیق عبد الله الشقاوی کړیدے او دا ئې ثابته کړے چه دا مسلمان شهید شویدے۔

(تجرید اسماء الصحابة ۲/۷۰) الاصابة (۳/۳۹۳) المغازی للواقدی (۱/۲۶۳) الیهود فی السنة المطهرة للشقاوی (۱/۳۰۶) وشرح ابی داود لعبد المحسن العباد (۱/۴۸۰)۔

د سیدنا عمرو بن الجموح او د هغه ځامنو او بی بی قصه

سیدنا عمرو بن الجموح رضی الله عنه په انصارو کی د بنو سلمه و نه وو، په خپه باندے ګوډ صحابی وو کله چه د اُحد غزا راغله نو دهٔ خپلو ځامنو ته وویل چه زهٔ جهاد ته ځم ځامنو بند کړو چه تهٔ جنګ ته نشے تلے، ته الله تعالیٰ معذور ګرځولے ئې، هغه نبی علیه السلام ته د شکایت دپاره ورغلو او دا ئې ورته وویل چه اے د الله رسوله! زهٔ د الله نه امید لرم چه زهٔ پدے ګوډه خپه په جنت کی وګرځم او ځامن ما منع کوی؟ نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: هرچه تهٔ ئې نو الله تعالیٰ معذور ګنړلے ئې په تا باندے جهاد نشته او بیا ئې ځامنو ته وویل: په تاسو هیڅ ضرر نشته چه دا منع نکړئ کیدے شی چه الله تعالیٰ به دهٔ ته شهادت ورکړی نو د رسول الله ﷺ سره په ډیره ګوډه خپه

جهاد ته ووتلو،

نو دے په دے جنگ کی شهید شو او ددهٔ ځوی خلاد بن عمرو هم شهید شو او ددهٔ آوښے عبد الله بن حرام رضی الله عنه (د جابر پلار) هم شهید شو، کله چه دوی شهیدان شول نو د عمرو بن الجموح ښځه هنده بنت عمرو بن حرام راغله چا ورته وویل چه خاوند او ځوی او ورور درے واړه دے شهیدان شول هغے وویل: رسول الله ﷺ چه ژوندے وی نو هر مصیبت آسان دے.

دے ځان سره اوښ راوستو او دا شهیدان ئے ځان سره مدینے ته وړل، کله ئے چه دوی په اُوښ باندے بار کړل نو اوښ یو ځای پورے لاړو مگر هلته ځملاستو او نهٔ پاڅیدو، کله ئے چه پاڅولو او احد طرفته ئے مخه کړه نو په جلتئ روان شو او چه مدینے ته ئے مخ کړه نو نهٔ به تللو، عائشے رضی الله عنها ورته وفرمایل: دا چرته وړے؟ هغے وویل په مدینه کی ئے خښوم، مگر دا اُوښ نهٔ ځی نو عائشے رضی الله عنها نبی ﷺ ته ددے خبر ورکړو، هغه وفرمایل: دے اُوښ ته د الله د طرف نه حکم شویدے، بیا ئے تپوس وکړو آیا عمرو بن الجموح جنگ ته د راروانیدو په وخت څه وئیلی وو؟

بی بی ئے وویل چه هغه دا دعا کړے وه:

(اَللّٰهُمَّ لَا تَرُدَّنِیْ اِلٰی اَهْلِیْ خِزْیَانَ وَارْزُقْنِی الشَّهَادَةَ)

اے الله ما خپل کور ته شرمیدلے مهٔ راواپس کوه او ما ته شهادت رانصیب کړه.

بل روایت کی دی چه مدینے ته ئے مخ راواړولو او دا ئے وویل: اے الله ما بیرته مدینے ته مهٔ راواپس کوه.

نبی علیه السلام وفرمایل: همدا وجه ده چه دا اُوښ مخکی نهٔ ځی، بیا ئے وفرمایل: په تاسو کی اے انصارو بعض هغه خلك دی چه که په الله تعالیٰ باندے قسم وکړی خامخا الله تعالیٰ به ئے په قسم کی نیك وگرځوی چه د هغوی نه یو عمرو بن الجموح دے، بیا ئے هندے ته وویل: چه ملائك ستا په ورور باندے د هغه د شهادت نه تر اوسه پورے سورے کوی انتظار کوی چه په کوم ځای کی به خخیږی،

بیا رسول الله ﷺ دوی په احد کی دفن کړل او د دفن نه روستو نبی علیه السلام هندے ته وویل: دوی په جنت کی د یو بل سره ملاؤ شو یعنی عمرو بن الجموح او د هغه ځوی خلاد او ستا ورور عبد الله بن حرام رضی الله عنهم، دے وویل: اے د الله

رسوله ! د الله نه دعا وغواړه چه ما هم د هغوئ سره يو ځای کړی۔ (امتاع الاسماع)

د شهداوؤ راجمع کول او دفن کول

رسول الله ﷺ ددینه روستو امر وکړو چه شهداء راجمع کړئ، هغوی راجمع کړے شو چه وے کتل ځینی شهداء کرام مُثله شوی وو، پوزه، غوږونه ترے پریکړے شوی وو، صرف حنظله سره ئے دا کار نۀ وو کړے ځکه د حنظله پلار ابوعامر الفاسق چه خلکو ورته ابوعامر الراهب وئیلو هغه د مشرکانو په صف کی ولاړ وو د هغه د خاطره ئے مُثله نکړو۔

سیدنا حنظله یو ے غاړی ته پروت وو اُوبه ترے روانے وے نبی الطَیّب وفرمایل :

ما ملائك ولیدل چه حنظله ته ئے غسل ورکولو، د هغه د ښځے نه پوښتنه وکړئ چۀ څه وجه ده ؟ هغے ووېل دا د جنابت په حالت کی د کور نه ووتلو، د ډیرے جلتئ او شوق د وجه نه غسل ته ایسار نشو نو حنظله ته غسیل الملائکه وائی یعنیٔ ملائکو ورته غسل ورکړیدے۔

(ددے نه دا خبره معلومه شوه چه که یو سړے د جنابت په حالت کی شهید شو یا یوه زنانه د حیض په حالت کی شهیده شوه نو هغه ته به غسل نۀ ورکوی لکۀ دلته ورته معلومه هم شوه چه حنظله جنب وو او دا غسل چه ملائکو ورکړیدے نو دا د آخرت غسل دے د دنیا غسل ئے نۀ دے ورکړے)۔

نبی علیه السلام شهیدان راجمع کړل نو وے فرمایل چه دا شهیدان د خپلو جامو سره دفن کړئ وسله او غتے جامے ترے لرے کړئ او دا وینی هم ترے مۀ وینځئ ځکه چه دا به په قیامت کی ګواهی ورکوی۔

نبی علیه السلام وفرمایل :

((زۀ به د قیامت په ورځ پدے شهیدانو ګواهی ورکوم، نشته یو زخمی چه د الله دپاره زخمی کړے شی مګر هغه به الله تعالیٰ د قیامت په ورځ راپورته کړی چه د زخم نه به ئے وینه روانه وی، رنګ به ئے د وینی وی او بوئی به ئے د مشکو پشان وی))۔

بل امر ئے دا وکړو چه ددے کسانو قبرونه وکنئ نو قبرونه ئے وکنستل شهیدان ډیر

وو نبی علیه السلام ورته وفرمایل چه دوه یا درے یا څلور مړی یو ځای خښ کړئ او دا به ئے وئیل چه قبر فراخه جوړ کړئ او جوړ ئے جوړ کړئ او ښائسته ئے جوړ کړئ او دوه درے په یو قبر کی خښ کړئ۔ وَقَدِّمُوا أَكْثَرَهُمْ قُرْآنًا)۔

او چا ته چه قرآن کریم زیات یاد وی هغه په لحد کی مخکی کړئ، نبی علیه السلام د قرآن د قاریانو ډیر قدر کولو د مرګ نه روستو هم۔

سیدنا عبد الله بن حرام رضی الله عنه چه د جابر رضی الله عنه پلار دے دا ئے د عمرو بن الجموح سره یو ځای خښ کړو ځکه چه دائے خپلوان وو او د دواړو د یو بل سره ډیره مینه وه۔

د الله زمرے سیدنا حمزه او سیدنا عبد الله بن جحش رضی الله عنهما ئے شریك خښ کړل ځکه چه دا عبد الله ئے خوریی وو او رضاعی ورور ئے وو، روسته ددے صحابه کرامو ډیر ناشنا کرامتونه ښکاره شوی وو۔

جابر رضی الله عنه فرمائی: د معاویه رضی الله عنه په دور خلافت کی د هغه مزدورانو په احد کی کار کولو نو د هغے په وجه زما پلار د قبر نه راکولاؤ شو نو ما ته یو سړے راغلو او راته ئے وویل چه ستا پلار د معاویه رضی الله عنه مزدورانو راوښکاره کړیدے نو زۀ راغلم ومے کتل نو هغه همغه شان تازه پروت وو او وینه ترے روانه وه هیڅ نۀ وو بدل شو، څنګه چه خخ شوے وو همغه شان پروت وو۔

(السیرة النبویة لابن کثیر ۳/ ۸٦)

په شهیدانو مونځ وشو او که نۀ؟

په شهیدانو مونځ وشو او که نۀ؟ راجحه دا ده چه په شهیدانو مونځ مستحب دے، افضل او غوره دے او که چا پرینښودو نۀ ګنهګاریږی۔

په صحیح حدیثونو کی راغلی دی چه د اُحد په شهیدانو جنازه وشوه۔

په سیدنا حمزه رضی الله عنه باندے ئے ډیر کرته جنازه وکړه، حمزه رضی الله عنه به ئے د هر لسو کسانو سره ایښودو او جنازه به ئے پرے کوله۔ نبی علیه السلام چه کله حمزه ولیدلو ډیر خفه شو او ډیر ئے وژړل۔ ځکه چه دا ئے رضاعی ورور هم وو او ترۀ ئے

هم وو. او دا هغه صحابي دے چه ددۀ په وجه اسلام ته ډیره فائده رسیدلے ده۔

سیدنا عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائي :

مونږ رسول الله ﷺ دومره په خفګان او ژړا چرته نۀ وو لیدلے څومره چه په حمزه خفه شو ځکه د الله زمرے د دنیا نه لاړو، پدے فِراق خفه وو۔

د سیدنا حمزه ﷛ خور

سیدنا حمزه رضی الله عنه چه پروت وو ددۀ خور صَفیه بنتِ عبد المطلب د رسول الله ﷺ ترور راغله۔ په ښځو کي د صبر ماده لږه کمه وي نو نبي علَیه السلام د هغے ځوی زبیر رضی الله عنه ته ووئیل چه ته دے دا مور ایسار کړه، مۀ ئے راپریده،

هغه ورته مخے ته ودریدو چه مۀ راځه۔ هغے ورته ووئیل چه ما ولے منع کوے؟، زبیر ئے په سینه کي په سوك ووهلو، قوی ښځه وه، هغه ورته ووئیل :

رسول الله ﷺ منع کړیده۔ هغه ودریدله بیا هغے ووئیل چه حمزه زما ورور شهید دے او مُثله شویدے، غوږونه او پوزه ئے هم پرے کړے شویدي خو دا د الله دپاره شویدي نو مونږ له پکار دي چه مونږ پدے باندے ډیر خوشحاله شو۔ والله چه زۀ به صبر هم کوم او دا به د الله دپاره اجر ګنړم نو بیا ئے ورته راپرېښودہ، راغله حمزه رضی الله عنه ئے ولیدۀ د هغه دپاره ئے استغفار هم وکړو او انا لله وانا الیه راجعون ئے ووئیل۔

ددے سره دوه کپړے وے چه یوه حمزه ته ورسیدله او بله یو انصاري صحابي ته۔

روستو زمانه کي یو دوه صحابه کرام خباب او عبد الرحمن بن عوف خپله قصه بیانوي۔

خباب بن الارت رضی الله عنه روسته زمانه کي ناجوړه شو نو داغونه ئے ولګول نو ملګري ئے پوښتني ته ورغلل نو هغه ووئیل چه حمزه په احد کي شهید شو او حال دا چه د هغه کفن نۀ وو صرف یوه شړۍ وه چه په سر به مو ورله واچوله خپے به ئے ښکاره کیدلے او چه په خپو به مو ورله واچوله نو سر به ئے ښکاره کیدو۔

سیدنا عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه به فرمایل : مصعب بن عمیر شهید شو او هغه زما نه غوره وو، په یوه شړۍ کي ورته کفن ورکړے شو که سر به ئے پټ کړے

شو، خپے بہ ئے ښکارہ کیدے او کہ خپے بہ ئے پټے کړے شوے نو سر بہ ئے ښکارہ کیدو او دغہ شان خبرہ د مصعب پہ بارہ کی د خباب رضی اللہ عنہ نہ ہم نقل دہ۔

مونږ نبی علیہ السلام تہ شکایت وکړو نو ھغہ وفرمایل چہ سر ورلہ پټ کړئ او پہ خپو باندے ورلہ سرگړے واچوئ ځکہ چہ د مړی ټول بدن پټول فرض دی، صرف مخ ئے د کتلو دپارہ ښکارہ کول جائز دی۔

ددے وجہ نہ د مړی بدن تہ (سَوْءَہ) وائی دا د عورت حکم لری۔ لکہ عورت ښکارہ کول گناہ دہ نو د مړی بدن ښکارہ کول گناہ دہ۔

نو خباب رضی اللہ عنہ فرمائی : او مصعب بن عمیر پہ دغہ حال کی شہیدان شو او پہ مونږ باندے اُوس دنیا فراخہ شوہ مونږ پریږو چہ زمونږ د نیکو اعمالو بدلہ اللہ تعالیٰ دنیا کی راکړی او آخرت کی ئے رانکړی۔ پہ صحابہ کرامو کی دا قسم زھد او د دنیا بی رغبتی وہ۔ سلف وائی:

اِذَا سَلَكَ بِكَ سَبِيْلَ الرَّخَاءِ فَاعْلَمْ اَنَّهٗ سَلَكَ بِكَ سَبِيْلَ الْاَعْدَاءِ وَاِذَا سَلَكَ بِكَ سَبِيْلَ الضَّرَّاءِ وَالْبَاْسَاءِ فَاعْلَمْ اَنَّهٗ سَلَكَ بِكَ سَبِيْلَ الْاَنْبِيَاءِ)

کلہ چہ اللہ تعالیٰ تا د خوشحالئ او فراخئ پہ لارہ روانوی نو پدے پوھہ شہ چہ تہ ئے د دشمنانو پہ لار روان کړے او کہ تا د تکلیفونو او پریشانو پہ لارہ روان کړی نو پوھہ شہ چہ د انبیاؤ پہ لارہ ئے روان کړے۔

مقصد دا چہ صحابہ کرام پہ داسے غربت حالت کی دفن شو کلہ چہ د دوی د دفن نہ فارغ شو نو نبی علیہ السلام یو څو کارونہ وکړل۔

مدینی تہ واپسی

نبی علیہ السلام د اُحد د غزا نہ پہ اوم شوال د مازیگر او ماښام ترمینځ واپسی شروع کړہ، مدینی تہ د راروانیدو نہ مخکی ئے صحابہ کرا صفونہ جوړ کړل، د ځان نہ روستہ ئے ودرول او دعا ئے وکړہ، ظاھرہ دا دہ چہ نبی علیہ السلام دعا وکړہ او صحابہ کرامو پرے آمین وویل او د دعا الفاظ ئے دا وو:

(اَللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ كُلُّهٗ، اَللّٰهُمَّ لَا قَابِضَ لِمَا بَسَطْتَ، وَلَا بَاسِطَ لِمَا قَبَضْتَ وَلَا هَادِيَ

لِمَنْ أَضْلَلْتَ وَلَا مُضِلَّ لِمَنْ هَدَيْتَ وَلَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ وَلَا مُقَرِّبَ لِمَا بَاعَدْتَ وَلَا مُبَاعِدَ لِمَا قَرَّبْتَ، اَللّٰهُمَّ اَنْزِلْ عَلَيْنَا مِنْ بَرَكَاتِكَ وَرَحْمَتِكَ وَفَضْلِكَ اَللّٰهُمَّ اِنِّي أَسْئَلُكَ النَّعِيْمَ الْمُقِيْمَ الَّذِيْ لَايَحُوْلُ وَلَايَزُوْلُ اَللّٰهُمَّ اِنِّي أَسْئَلُكَ الْعَوْنَ يَوْمَ الْعَيْلَةِ وَالْأَمْنَ يَوْمَ الْخَوْفِ، اَللّٰهُمَّ اِنِّي عَائِذٌ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا أَعْطَيْتَنَا وَشَرِّ مَا مَنَعْتَنَا، اَللّٰهُمَّ حَبِّبْ اِلَيْنَا الْاِيْمَانَ وَزَيِّنْهُ فِيْ قُلُوْبِنَا وَكَرِّهْ اِلَيْنَا الْكُفْرَ وَالْفُسُوْقَ وَالْعِصْيَانَ وَاجْعَلْنَا مِنَ الرَّاشِدِيْنَ اَللّٰهُمَّ أَحْيِنَا مُسْلِمِيْنَ وَتَوَفَّنَا مُسْلِمِيْنَ وَأَلْحِقْنَا بِالصَّالِحِيْنَ غَيْرَ خَزَايَا وَلَامَفْتُوْنِيْنَ، اَللّٰهُمَّ عَذِّبِ الْكَفَرَةَ الَّذِيْنَ يُكَذِّبُوْنَ رُسُلَكَ وَيَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِكَ، اَللّٰهُمَّ قَاتِلِ الْكَفَرَةَ الَّذِيْنَ أُوْتُوا الْكِتَابَ اِلٰهَ الْحَقِّ!)

(مسند احمد: ۱۵۵۳۱)وصححه الالبانی فی الادب المفرد باحکام الالبانی ۱/۲۴۳، (۶۹۹)۔

اے الله ستا دپاره د کمال ټول صفتونه دي، الله نشته تنګونکے د هغه شي چه ته ئے فراخه کوے او نشته فراخونکے د هغه شي چه ته ئے تنګوے او نشته هدایت کونکے هغه چا ته چه ته ئے ګمراه کوے او نشته ګمراه کونکے د هغه چا چه ته ورته هدایت وکړے او نشته منع کونکے د هغه څه چه ته ئے ورکوے او نشته ورکونکے د هغه شي چه ته ئے منع کوے او نشته نزدے کونکے د هغه شي چه ته ئے وړاندے کوے او نشته وړاندے کونکے د هغه شي چه ته ئے نزدے کوے، اے الله مونږ باندے خپل برکات او رحمتونه او مهرباني نازل کړه، اے الله! زۀ ستا نه هغه همیشه نعمتونه غواړم چه هغه نۀ اوړي او نۀ زائله کیږي، اے الله وزۀ ستا نه د فقر په ورځ مدد غواړم او د یرے په ورځ امن غواړم، اے الله زۀ په تا پورے پناهي غواړم د ضرر د هغه څه چه ته ئے مونږ ته راکوے او د شر د هغه څه نه چه ته ئے منع کوے، اے الله مونږ ته ایمان خوښ کړه او زمونږ په زړونو کی ئے ښائسته وګرځوه او کفر، فسق او نافرماني مونږ ته بدي ښکاره کړه او مونږ د هدایت والو نه وګرځوهو اے الله مونږ د اسلام په حالت کی ژوندي وساته او د اسلام په حالت کی مو وفات کړه او د نیکانو سره مو په داسے حالت کی یو ځای کړه چه نۀ یو شرمیدلی او نۀ په فتنه غورزیدلی، اے الله هغه کافرانو ته عذاب ورکړه چه ستا د رسولانو تکذیب کوی او ستا د لارے نه خلك منع کوی او اے الله! هغه کافران قتل کړه (هلاك ئے کړه) چه اهل کتاب دی اے حق معبوده!)

(د نبی علیه السلا دعاګانی ډیرے جامع او د کمال نه ډکی وے او ډیرے اوږدے به نۀ

وے بلکه نبی علیه السلام به هر څه کی درمیانه روی کوله)

(**فائده**: کله نا کله په جمعه سره دعاء ثابته ده لکه په استسقاء کی او په وخت د جهاد وغیره کی لیکن د فرض مانځه پسے یا د جنازے د مانځه پسے یا د تعزیی دپاره راجمع کیدل او په شریکه دعا کول دا بدعت دے ځان ترے ساتل پکار دی)

ددے دعا نه روستو نبی علیه السلام د خپلو ملګرو سره د هغه ځای نه راروان شو۔

په لاره کی د زنانو او صحابه کرامو محبت او اخلاص راښکاره شو۔

د صحابه کرامو د سړو او د زنانو د محبت نا شنا واقعات

د اُحد د غزا نه مخکی عبد الله رضی الله عنه د جابر پلار خپل ځوی (جابر) ته وصیت وکړو چه زهٔ پدے غزا کی شهید کیږم، د خپلو خویندو لحاظ کوه۔ دا د عبد الله رضی الله عنه کرامت وو او دیته علم غیب نهٔ وائی)۔

کله چه د اُحد غزا شروع کیده سیدنا سعد بن ابی وقاص او سیدنا عبد الله بن جحش رضی الله عنهما په شریکه دعا وکړه۔

سیدنا سعد وویل یا الله ما ته داسے کافر مخے ته راوله چه ډیر قوی وی او ما پرے غالبه کړه چه زهٔ ئے مړ کړم او توره او آس ترے واخلم۔ سیدنا عبد الله بن جحش پرے آمین وویلو۔ عبد الله بن جحش رضی الله عنه

(چه نبی علیه السلام ئے د ماما ځوی وو، او دے د رسول الله ﷺ د ترور ځوی وو)

دا دعا وکړه چه یا الله کله چه دا جنګ شروع شی نو یو زورور کافر ما سره مخامخ کړه چه ما قتل کړی او مال هم رانه واخلی او پوزه او غوږونه او شونډی رانه پریکړی او خیته هم راله څیری کړی چه کله زهٔ د قیامت په ورځ د الله تعالیٰ سره مخامخ شم او زما نه تپوس وکړی چه دا ولے ؟ او زهٔ ورته ووایم چه اے الله ! دا ستا د دین د اُوچتوالی دپاره او ستا د نبی د مدد او د اعلاء کلمة الله دپاره شهید شوم۔ د دواړو دعا قبوله شوه نو د عبد الله بن جحش رضی الله عنه سره همدغسے کار وشو چه پوزه او غوږونه ترے غوڅ شو او شهید شو او سعد ژوندے پاتے شو۔

نبی علیه السلام د حمزه رضی الله عنه په باره کی ویلی وو چه که صفیه د حمزه

خور نۀ خفه کیدے نو ما دا حمزه پدے میدان کی پریښودو چه حیوانات ئے وخوری او د قیامت په ورځ د حیواناتو د خیټو نه راپاڅیږی۔

حمنه بنت جحش راروانه وه چا خبره کړه چه ورور دے شهید شو (عبد الله بن جحش) هغے انا لله ووئیله، چا ورته ووېل ماما (حمزه بن عبد المطلب) دے شهید شو نو هغے انا لله وویله بیا ئے ورته ووېل خاوند دے شهید شوید ے (مصعب بن عمیر) نو د خُلے نه ئے بے اختیاره آواز ووتلو نبی علیه السلام وفرمایل :

د زنانه خاوند هغے ته ډیرګران وی ځکه په خاوند ډیره خفه شوه۔ د الله نبی ئے چه کله ولیدو نو خوشحاله شوه۔

د رسول الله ﷺ سره د یوے زنانه بې حده محبت

دارنګه د بنو دینار قبیلے یوه زنانه راغله چا خبر ورکړو چه پلار او خاوند او ورور دے شهیدان شویدی هغے ووېل: مَاذَا فَعَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ؟)۔

د الله نبی څه کړیدی، ما ته راوښایئ؟ صحابه ؤ ورته ووېل هغه د الله په حمد روغ جوړ دے لکه څنګه ئے چه تهٔ غواړے، پدے مابین کي نبی علیه السلام راغلو نو دے زنانه د انتهائی محبت اظهار وکړو او وے فرمایل: (كُلُّ مُصِيْبَةٍ بَعْدَكَ جَلَلٌ)۔

اے د الله رسوله ! هر مصیبت ستا نه روسته وړوکی دے۔

(که پلار مے مړ دے که خاوند او که ورور)۔

دا د صبر او د ایمانی قوت نمونه او مثال دے۔

سعد بن معاذ رضی الله عنه د نبی علیه السلام د اُوښی مهار نیولے وو، مور ئے مخے ته راغله نبی علیه السلام ته ئے وفرمایل: چه اے د الله رسوله زما مور راروانه ده نو نبی علیه السلام هغے ته تعزیه وکړه ځکه د هغے ځوی عمرو بن معاذ په اُحد کی شهید شوے وو او ورته ئې ووېل : مَرْحَبًا بِكِ۔ تا ته دے مرحبا وی۔ نو د سعد مور ووېل :هرکله چه ما تهٔ روغ ولیدے نو مصیبت په ما باندے کم شو۔

بیا رسول الله ﷺ هغے ته وفرمایل چه تهٔ هم خوشحاله شه او مدینے والو ته هم زیرے ورکړه چه ستاسو شهیدان ټول جنت کی یو ځای راجمع شو او هغوی د خپل

اهل په باره کی شفاعت وکړو نو الله تعالیٰ د هغوی سفارش قبول کړو او مدینی والو ته ئے هم ښښنه وکړه کوم چه مؤمنان دی. ام سعد عرض وکړو اے د الله رسوله ! تا خو مونږ ډیر خوشحاله کړو ددے نه روسته ژړا ته څه ضرورت دے؟!!.

ام سعد رسول الله ﷺ ته عرض وکړو چه اے د الله رسوله ! ددے شهیدانو نه چه څوك روستو پاتی شویدی هغوی دپاره دعا وکړه.

نبی علیه السلام د مدینی انصارو او مهاجرو ته دعا وکړه چه اے الله ! د دوی د زړونو نه غم بوځه او په زړونو ورته پټیئ ولګوه یا الله هغه چا ته ښه عوض ورکړه چه روسته پاتی شویدی).

مدینے ته رسیدل

نبی علیه السلام چه کله مدینے ته راورسیدهٔ دا مابنام وخت وو د خالی ورځ وه اوم شوال وو (۳ هـ)

کله چه کور والو ته ورسیدو نو خپله توره ئے راواخسته فاطمے ته ئے ورکړه او ورته ئے وفرمایل چه ددینه دا وینه وینځه، دا ډیره رشتینی توره ده ما سره ډیره په رشتیا وچلیدله. په ډیرو کفارو مے حمله وکړه ماته نشوه.

سیدنا علی رضی الله عنه هم فاطمے ته وویل چه زما د توری نه هم وینه وینځه ما سره ئے ډیره رشتینی معامله وکړه ما پرے ډیر کفار قتل کړل نبی علیه السلام ورته وفرمایل: که تا رشتینی جنګ کړے وی نو تا سره ابودجانه او سهل بن حنیف رضی الله عنهما هم ښکلے جنګ کړیدے.

(فائده: کوم انسان چه د دین کار کړے وی د هغه مدح پکار ده).

د أحد د شهیدانو تعداد

اُحد کی ټول شهیدان اویا کسان وو او دا راجح قول دے بعض وائی: نوی (۹۰) کسان وو، تفصیل ئے دا دے چه انصار (٦٥ یا ٦٦) کسان شهیدان شو او مهاجرین (٤ یا ٥) کسان وو. په انصارو کی یو څلویښت (٤١) کسان د خزرج قبیلے وو او (۲۳ یا ۲٤)

د اَوس قبیلے وو، انصار ځکه ډیر شهیدان شوی وو چه دوی کی د نرمئ او خدمت صفت زیات وو او جهادونو کی اکثر نرم او خوش اخلاقه خلك شهیدان کیږی۔
او د کفارو نه (۲۲) مردار شوی وو او محققین علماء وائی چه (۳۷) کسان ترے مردار شوی وو۔ (الرحیق المختوم)

د احد د شهیدانو نومونه

دا نومونه ددے دپاره ذکر کولے شی چه ددے صحابه کرامو داسے ناشنا کارنامے او د اخلاص نتیجے وے چه د دوی په نوم آوریدو سره هم په انسان کی یو حرکت پیدا کیږی او زړونه نرمیږی، دا د اسلام زمری دی او د امتِ مسلمه انتهائی خیرخواهان دی۔ د ډیر محبت دپاره د دوی نومونه لیکلے شی چه الله تعالیٰ مونږ د دوی سره په قیامت کی راپورته کړی: پنځه کسان د قریشو نه وو۔
(۱) د رسول الله ﷺ تره سیدنا حمزه بن عبد المطلب رضی الله عنه د بنو هاشم نه دا وحشی بن حرب شهید کړے وو۔
(۲) او د بنی امیه بن عبد الشمس نه سیدنا عبد الله بن جحش بن رئاب رضی الله عنه شهید شو چه ابوالحکم بن الاخنس بن شُریق شهید کړے وو۔
(۳) او د بنو عبد الدار نه سیدنا مصعب بن عمیر رضی الله عنه چه ابن قمئه اللیثی شهید کړے وو۔
(٤) او د بنو مخزوم بن یَقِظَه نه سیدنا شماس بن عثمان بن الشرید رضی الله عنه شهید شو چه دا اُبی بن خلف شهید کړے وو۔
(۵) او د بنی سعد بن لیث قبیلے نه سیدنا عبد الله بن الهبیت او عبد الرحمن بن الهبیت شهیدان شو۔
او د بنو اسد نه د سعد په نوم یو صحابی وو چه د حاطب غلام وو۔
(الروض الانف ومغازی الواقدی)
د مُزینه قبیلے نه وهب بن قابوس او د هغه ورارهٔ الحارث بن عقبه بن قابوس رضی الله عنهما شهیدان شو۔

او په انصارو کې د بنو عبد الاشهل نه دولس کسان شهیدان شو:
۱-عمرو بن معاذ بن النعمان رضی الله عنه چه دا ضرار بن الخطاب وژلے وو.
۲- حارث بن انس بن رافع رضی الله عنه. ۳- او عماره بن زیاد بن السکن رضی الله عنه. ٤- او سلمه بن ثابت بن وقش رضی الله عنه چه دا ابوسفیان وژلے وو.
۵- عمرو بن ثابت بن وقش (یعنی اُصَیرِم) رضی الله عنه چه دا ضرار بن الخطاب وژلے وو،
٦- رفاعة بن وقش رضی الله عنه چه دا خالد بن الولید وژلے وو.
۷- او د حذیفه رضی الله عنه پلار یمان چه نوم ئے دے حُسیل بن جابر ابوحذیفه رضی الله عنه. دا د مسلمانانو دلاسه په خطائی شهید شو. بعض وائی دا عتبه بن مسعود رضی الله عنه په خطاء سره شهید کړے وو.
۸- صیفی بن قیظی رضی الله عنه دا هم ضرار بن الخطاب وژلے وو.
۹- حباب بن قیظی رضی الله عنه.
۱۰- عَبَاد بن سهل رضی الله عنه دا د صفوان بن امیه په لاس شهید شو.
۱۱- حارث بن اوس بن معاذ رضی الله عنه.
۱۲- السکن بن رافع رضی الله عنه دا دولس کسان شو.
او د اهل راتج نه درے کسان شهیدان شو:
۱- ایاس بن اَوس بن عتیك رضی الله عنه.
۲- او عبید بن التَّیِّهان رضی الله عنه چه دا عکرمه بن ابی جهل وژلے وو.
۳- او حبیب بن یزید بن تیم رضی الله عنه.
او د بنی ظَفَر نه یو تن شهید شو یزید بن حاطب بن امیه بن رافع رضی الله عنه.
او د بنی ضبیعه نه دوه کسان وو ۱- ابوسفیان بن الحارث بن قیس رضی الله عنه.
۲- او حنظله بن ابی عامر بن صیفی غسیل الملائکه رضی الله عنه چه دا شداد بن الاسود بن شعوب اللیثی وژلے وو.
او د بنی عبید نه یو تن شهید شو چه هغه اُنیس بن قتاده رضی الله عنه وو چه دا ابوالحکم بن الاخنس بن شریق وژلے وو.
او د بنی ثعلبه بن عمرو بن عوف نه دوه کسان وو:

۱- ابو حیه رضی الله عنه چه دا د سعد بن خیثمه د مور د طرف نه ورور وو چه ددهٔ نوم ابو حیه بن عمرو بن ثابت رضی الله عنه وو.

۲- بل عبد الله بن جُبیر بن نعمان رضی الله عنه چه دا د غشی ویشتونکو پنځوسو کسانو امیر وو. دا عکرمه بن ابی جهل وژلے وو.

او د بنو السلم نه یو تن شهید شو چه هغه خیثمه ابوسعد بن خیثمه رضی الله عنه وو. او د بنو عجلان نه یو تن شهید شو عبد الله بن سلمه رضی الله عنه. دا ابن الزبعریٰ وژلے وو.

او د بنو معاویه نه سُبیع بن حاطب بن الحارث بن قیس بن هیشة رضی الله عنه یو تن شهید شو.

او د بنو النجار نه ۱- سُوَیبق بن الحارث بن حاطب بن هیشة رضی الله عنه. دا ضرار بن الخطاب وژلے وو.

۲- او عمرو بن قیس رضی الله عنه چه دا نوفل بن معاویه الدیلی وژلے وو.

۳- او ددهٔ ځوی قیس بن عمرو رضی الله عنه.

٤- او عامر بن مخلد رضی الله عنه ٥- او سلیط بن عمرو رضی الله عنه.

او د بلحارث بن الخزرج نه ۱- خارجه بن زید بن ابی زهیر رضی الله عنه دا صفوان بن امیه وژلے وو.

۲- او سعد بن الربیع رضی الله عنه چه دا او خارجه بن زید دواړه په یو قبر کی خخ شول.

۳- اوس بن ارقم بن زید رضی الله عنه.

او د بنو الابجر نه درے کسان شهیدان شو ۱- مالك بن سنان بن الابجر رضی الله عنه چه دا د ابو سعید الخدری رضی الله عنه پلار وو دا غراب بن سفیان وژلے وو.

۲- او سعد بن سوید بن قیس بن عامر بن عمار بن الابجر رضی الله عنه.

۳- عتبه بن ربیع بن رافع بن معاویه بن عبید بن ثعلبه رضی الله عنه.

او د بنو ساعده نه درے کسان:

۱- ثعلبه بن سعد بن مالك بن خالد بن نمیله رضی الله عنه.

۲- حارثه بن عمرو رضی الله عنه. ۳- او ثقف بن فروة بن البدیٓ رضی الله عنه.

او د بنو طریف نه ۱- عبد الله بن ثعلبه رضی الله عنه. ۲- قیس بن ثعلبه رضی الله عنه ۳- او طریف رضی الله عنه. ٤- او ضمرة رضی الله عنه چه دا دواړه د جهینه قبیلے نه وو لیکن د بنو طریفو حلیفان وو.

او په بنو عوف بن الخزرج کی بیا په بنو سالم کی نوفل بن عبد الله رضی الله عنه شهید شو چه دا سفیان بن عُویف شهید کړے وو. ۲- او عباس بن عباده بن نضله رضی الله عنه دا سفیان بن عبد شمس السلمی شهید کړے وو.

۳- او نعمان بن مالك بن ثعلبه بن غنم رضی الله عنه دا صفوان بن امیه وژلے وو.

٤- او عبده بن الحِسحاس رضی الله عنه دا دواړه په یو قبر کی دفن شو.

٥- او مجذر بن زیاد رضی الله عنه چه دا حارث بن سوید په غفلت سره وژلے وو.

او د بنو مبذول نه ۱- ابو هبیره بن الحارث بن علقمه بن عمرو رضی الله عنه، چه دا خالد بن الولید وژلے وو.

۲- او عمرو بن مطرف بن علقمه بن عمرو رضی الله عنه.

او د بنو عمرو نه یو تن اَوس بن ثابت بن المنذر رضی الله عنه، دا د سیدنا حسان بن ثابت ورور دے.

او د بنی حُبلیٰ نه رفاعة بن عمرو رضی الله عنه.

او د بنو حرام نه عبد الله بن عمرو بن حرام رضی الله عنه چه د جابر رضی الله عنه پلار دے دا سفیان بن عبد شمس شهید کړے وو. ۲- او عمرو بن الجموح رضی الله عنه ۳- او خلاد بن عمرو بن الجموح رضی الله عنه چه دا اسود بن جعونة وژلے وو.

٤- او ابو ایمن رضی الله عنهٔ چه د عمرو بن الجموح آزاد شده غلام وو.

او د بنو حبیب نه المعلی بن لوذان رضی الله عنه وو چه دا عکرمه بن ابی جهل شهید کړے وو.

او د بنو سواد بن غنم نه سُلیم بن عمرو بن حدیدة رضی الله عنه.

۲- او دده غلام عنتره رضی الله عنه.

۳- او سهل بن قیس بن اَبی کعب بن القین رضی الله عنه.

او د بنو زُریق نه ذکوان بن عبد قیس رضی الله عنه چه دا ابو الحکم بن الاخنس بن شریق وژلے وو.

او د بنو عمرو بن مالك قبيلے نه اَوس بن حرام رضی الله عنه شهيد شويدے۔

او د بنو عدی بن النجار نه انس بن نضر بن ضمضم رضی الله عنه چه د انس بن مالك ترۀ دے۔ دا سفيان بن عويف وژلے وو۔

او د بنو مازن بن النجار نه قيس بن مخلد رضی الله عنه او كيسان رضی الله عنه چه د دوی مولیٰ وو، بعض وائی چه غلام وو لا آزاد شوے نۀ وو۔

او د بنو دينار نه ۱- سُليم بن الحارث رضی الله عنه ۲- او نعمان بن عمرو رضی الله عنه چه دا دواړه د اَلسُّمَيراء بنت قيس خامن وو۔ د بنو نجار نه په اُحد كی دولس كسان شهيدان شويدی۔ (الروض الانف ومغازی الواقدی)

د مشركانو د مقتولينو نومونه

د قريشو نه دوه ويشت كسان داسے وو:

د بنو اسد نه: ۱- عبد الله بن حُمَيد بن زهير بن الحارث دا ابودُجانه رضی الله عنه قتل كړيدے۔

د بنو عبد الدار نه ۲- طلحه بن ابی طلحه چه د مشركانو جنډه ورسره وه چه دا زبير بن العوام رضی الله عنه قتل كړے وو۔ ۳- عثمان بن طلحه دا حمزه رضی الله عنه قتل كړے وو۔ ٤- ابوسعيد بن ابی طلحه دا سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه قتل كړے وو۔ ۵- مسافع بن طلحه دا عاصم بن ثابت رضی الله عنه قتل كړے وو۔

٦- حارث بن طلحه دا هم عاصم بن ثابت رضی الله عنه قتل كړے وو۔ ۷- كلاب بن طلحه دا زبيرَ بن العوام رضی الله عنه قتل كړے وو۔ ۸- جلاس بن طلحه دا طلحه بن عبيد الله رضی الله عنه قتل كړے وو۔ ۹- ارطاة بن عبد شُرحبيل دا علی بن ابی طالب رضی الله عنه قتل كړے وو۔ يا حمزه رضی الله عنه۔

۱۰- قاسط بن شريح بن عثمان- ۱۱- صُوَّاب چه دا قزمان قتل كړے وو۔

۱۲- ابوعَزيز بن عمير دا هم قزمان قتل كړے وو۔

د بنو زهره و نه: ۱۳- ابو الحكم بن الاخنس بن شريق دا علی بن ابی طالب رضی الله عنه قتل كړے وو پس هغے نه چه دۀ ډير صحابه شهيدان كړل۔

۱۴- سباع بن عبد العزی دا د ام انمار ځوی وو، سیدنا حمزه بن عبد المطلب رضی الله عنه قتل کړے وو.

د بنو مخزوم نه: ۱۵- هشام بن ابی امیه بن المغیره دا قزمان قتل کړے وو.

۱۶- ولید بن العاص بن هشام دا هم قزمان قتل کړے وو.

۱۷- امیه بن ابی حذیفة بن المغیره. دا علی بن ابی طالب رضی الله عنه قتل کړے وو. ۱۸- خالد بن الاعلم العُقیلی دا هم قزمان قتل کړے وو.

۱۹- او عثمان بن عبد الله بن المغیره دا حارث بن الصمه رضی الله عنه قتل کړے وو. دا پنځه کسان د بنو مخزوم نه مردار شویدی.

او د بنو عامر بن لؤی نه:

۲۰- عُبید بن حاجز چه دا ابودجانه رضی الله عنه قتل کړے وو.

۲۱- شیبة بن مالك بن المُضَرِّب دا طلحه بن عبید الله رضی الله عنه قتل کړے وو.

او د بنو جُمَح نه: ۲۲- ابی بن خلف چه دا رسول الله ﷺ په خپل لاس سره قتل کړے وو. ۲۳- او عمرو بن عبد الله بن عُمَیر بن وَهب چه ابوعِزّه ئے اسم کنیه ده او شاعر وو دا په اُحد کې قیدی شو نو رسول الله ﷺ ترے سر ګوزار کړو.

او د بنو عبد مناة بن کنانه نه: ۲۴- خالد بن سفیان بن عویف.

۲۵- او ابو الشَّعْثَاء بن سفیان بن عُویف.

۲۶- او ابو الحَمْرَاء بن سفیان بن عویف.

۲۷- او غُراب بن سفیان بن عویف. (مغازی الواقدی والروض الانف وعیون الاثر)

د حمراء الاسد غزا

کله چه دوی مدینے ته راورسیدل نو صحابه کرامو د شپے د خوا نه د مدینے حفاظت کولو، د نبی علیه السلام سره دا شك پیدا شو چه داسے نۀ چه دا مشرکان بیا په مدینه حمله ونکړی نو سهارئے وویل چه څوك په اُحد کې شریك شوی وو هغوی دے ځان تیار کړی ورځو او په کفارو بیا حمله کوو.

د دوی سره اویا صحابه کرام د مدینے د عوالی نه نور هم تیار شو نو ټول (۳۶۰)

کسان شو،

سیدنا جابر بن عبد الله رضی الله عنهما وویل : اې د الله رسوله ! زهٔ درسره ځم ځکه چه زهٔ په اُحد کې د خپل پلار د وجه نه شریك نشوم چه هغه ما ته زما د خویندو د حفاظت وصیت کړے وو. نبي علیه السلام ورته وویل تهٔ صادق ئې.

عبد الله بن ابی ابن سلول وویل زهٔ هم درسره ځم؟ هغه ته ئې وویل چه تهٔ به نهٔ ځې.

نبي علیه السلام او صحابه کرام د زخمونو او ستړې والي په حالت کې روان شو، نبي علیه السلام په اُوښ باندې سور شو او روان شو تردې چه حمراء الاسد علاقې ته ورسیدل چه دا د مدینې نه (۸) میله (یعنی ۱۳ کیلو میټره) وړاندې علاقه ده چه د مدینې د عقیق په لاره د ذو الحلیفې ګس طرفته ده،

لیکن هلته چه ورسیدل تجارتونه ئې وکړل، مالونه ئې راوړل درې ورځو پورې وسیدل او جنګ ونشو ځکه چه مشرکان روحاء علاقې ته رسیدلي وو چه دا د مدینې نه شپږ دیرش (۳٦) میله وړاندې علاقه ده، هلته ئې دمه وکړه او سوچ ئې وکړو چه مونږ خو هیڅ ونکړل، نهٔ مو زنانه راوستلې، نهٔ مالونه او نهٔ مو مشران مړهٔ کړل،

ابو سفیان او د هغه غشي ویشتونکو ملګرو وغوښتل چه بیا حمله وکړو لیکن بعضو کسانو (صفوان بن امیه) مشوره ورکړه چه دوباره حمله مهٔ کوئ ځکه صحابه کرام غصه دي، داسې نهٔ چه ختم مو کړي.

پدې دوران کې یو سړے معبد بن ابی معبد الخزاعي راغے چه دهٔ اسلام راوړو.

بعض وائي مشرك وو لیکن د رسول الله ﷺ خیر خواه وو ځکه چه خزاعه قبیلې او بنو هاشمو د یو بل سره د مدد حِلف او قسم کړے وو.

دې راغے نبي علیه السلام ته ئې وویل چه تا او ستا ملګرو ته ډیر تکلیف در ورسیدو، پدې مونږ ډیر خفه شو او مونږ غوښتل چه الله تا ته هیڅ تکلیف نهٔ وې رسولے. رسول الله ﷺ ورته حکم وکړو چه تهٔ لاړ شه او ابو سفیان او د هغه په ملګرو باندې رعب وروا چوه، هغه په جلتئ لاړو روحاء ته ورسیدو د ابو سفیان او د هغه د فوج سره ملاؤ شو. ابو سفیان ته دهٔ د اسلام علم نهٔ وو نو ابو سفیان ترې تپوس وکړو چه اې معبده ! تا سره څه خبر دې ؟ هغه ورته خبره سخته کړه چه محمد د خپلو ملګرو سره تاسو پسې راوتلې دې او داسې فوج ورسره دې چه ما هیڅ کله دومره نهٔ دې لیدلې،

سخت درته غصه دی او کوم خلك چه جنګ ته نهٔ وو حاضر شوی هغه هم ورسره راوتلی دی او تاسو باندې چکونه لګوی چه دوی رانه ولې خلاص شول.

ابوسفیان ورته وویل خوار شې دا څه وائې؟ معبد ورته وویل چه زما ګمان دې چه تهٔ به لا دډې ځای نه پاڅیدلې نهٔ یې چه اُوس به دربانده ددې ډیرکو نه اخوا د فوج اول سر راورسیږی او د اسونو تندی به وینې.

ابوسفیان ووئیل چه مونږ کلکه اراده کړیده چه په دوی به حمله کوو او بیخکندی به ئې کوو. معبد وویل: دا کار مهٔ کوه زهٔ ستا خیر خواه یم.

نو د ابوسفیان او د هغه د ملګرو عزم مات شو او په زړونو کې ئې شکست او رعب پریوتلو او د دوباره حملې اراده ئې پریښوده او مکې ته ځان رسول ئې بهتر وګنړل. ددې نه معلومه شوه چه د نبی علیه السلام پالیسی او هوښیارتیا زیاته او صحیح وه.

لیکن ابوسفیان همداسې روان نشو بلکه هغه هم یو هوښیارتیا وکړه او اعصابی جنګ ئې ولوبولو چه هسې نهٔ د محمد (ﷺ) فوج راپسې متواتر مزل ونکړی رالاندې به مو کړی نو د ځان نه د اړولو دپاره ئې یوه طریقه اختیار کړه هغه دا چه په لاره کې د عبدالقیس قبیلې څه کسان مدینې طرفته روان وو، ابوسفیان ورته ووئیل تاسو په محمد (ﷺ) باندې رعب واچوئ د یو اُوښ په مقدار وچکې (کشمش) به تاسو ته د عُکاظ په بازار کې درکړم کله چه تاسو مکې ته راغلئ.

هغوی لاړل او حمراء الاسد کې ئې نبی علیه السلام ته وویل لکه الله تعالیٰ د هغې نه داسې تعبیر کړیدې:

﴿اِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوْا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ اِيْمَانًا وَقَالُوْا حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ﴾ (آل‌عمران:۱۷۵).

یقیناً خلکو (ابوسفیان ډلې) ستاسو د جنګ دپاره خلك راجمع کړیدی نو دوی نه یره وکړئ نو دې خبرې دوی لره ایمان زیات کړو او دوی ووئیل چه الله زمونږ کافی دې او ښه کارساز دې.

سیدنا عبد الله بن عباس رضی الله عنهما فرمائی: حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ کلمه ابراهیم علیه السلام په اُور کې وئیلې وه نو الله تعالیٰ ورته نجات ورکړو.

بیا روسته الله وفرمایل :

﴿ اِنَّمَا ذٰلِکُمُ الشَّیۡطَانُ یُخَوِّفُ اَوۡلِیَآءَہٗ فَلَا تَخَافُوۡہُمۡ وَخَافُوۡنِ اِنۡ کُنۡتُمۡ مُّؤۡمِنِیۡنَ ﴾۔

یقیناً دا جاسوسان شیطانان دی چه تاسو یروی په خپلو دوستان سره نو دوی نه مهٔ یریږئ او خاص زما نه یره وکړئ که تاسو مومنان یئ۔

نبی علیه السلام په حمراء الاسد کی درے ورځے تیرے کړے پیر اومنګل او چارشنبه، یعنی (۹، ۱۰، ۱۱ شوال) او د اتوار په ورځ د مدینے نه راروان شوے وو۔

الله تعالیٰ د دوی صفت وکړو:

﴿ فَانۡقَلَبُوۡا بِنِعۡمَةٍ مِّنَ اللّٰہِ وَفَضۡلٍ لَّمۡ یَمۡسَسۡہُمۡ سُوۡٓءٌ وَّاتَّبَعُوۡا رِضۡوَانَ اللّٰہِ ﴾

(آلعمران: ۱۷٤)۔

دا مؤمنان راواپس شو په نعمت د الله او په فضل د هغه سره چه هیڅ تکلیف ورته نهٔ وو رسیدلی، او روان شو د الله د رضا پسے)

دیته د حمراء الاسد غزا وائی چه دا مستقله غزا نهٔ وه بلکه د اُحد د غزا د متمماتو نه وه۔

د غزوهٔ اُحد په باره کی قرآن کریم کی (۶۰) آیتونه راغلی دی، سورة آل عمران کی ذکر دی چه ددے غزا فوائد او د شکست اسباب پکی ذکر دی۔

د اُحد د غزا فوائد او د شکست اسباب

(۱) اول حکمت: دنیا دار الابتلاء ده که همیشه مؤمنان غالب وی نو بیا امتحان نهٔ راځی نو الله تعالیٰ امتحان راولی او امتحان د تربیت یوه طریقه ده چه د بندګانو تربیت پرے کوی الله فرمائی:

﴿ مَا کَانَ اللّٰہُ لِیَذَرَ الۡمُؤۡمِنِیۡنَ عَلٰی مَاۤ اَنۡتُمۡ عَلَیۡہِ حَتّٰی یَمِیۡزَ الۡخَبِیۡثَ مِنَ الطَّیِّبِ ﴾

(آلِ عمران: ۱۷۹)۔

امتحان دے له راولی چه خبیثان او پاك خلك جدا کړی که په غیر د امتحان نه بنده ته سزا ورکړی بیا به ئے دا شبهات کولے:

﴿ لَوۡلَاۤ اَرۡسَلۡتَ اِلَیۡنَا رَسُوۡلًا فَنَتَّبِعَ اٰیٰتِکَ مِنۡ قَبۡلِ اَنۡ نَّذِلَّ وَنَخۡزٰی ﴾ (طه: ۱۳٤)۔

د امتحان مثال په خارج کی داسے دے لکه سره زرو سره خاوری او خیری ملګری وی

دا چه زرګر ته ویوړل شي نو اور کي ئې واچوي چه خیري او خاوري تري جدا شي دا سرهٔ زر د زرګر بدي نشي، بنه ورته خوښ وي خو اور کي ئې دې دپاره اچوي چه صفا شي څومره چه ویلی کولې او تکولې شي نو سرهٔ زر صفا ګیږي۔

دا د الله تعالیٰ اصول دی چه په بندګانو امتحانات ډیر راولي دې دپاره چه بنه صفا شي، څومره چه امتحانات کم وي صفائي کمه وي۔ د ټولو نه په انبیاؤ باندې زیات او سخت امتحانات راځي بیا چه څوك څومره غوره وي، دا ددې دپاره چه درجې ئې اوچتې شي۔

امتحانات قسم قسم وي کله مال کم کړي، کله بدني امتحان وي، مریض ئې کړي، کله په اولادو کي امتحان راولي، بچي مړهٔ شي، ورك شي لکه د یعقوب علیه السلام نه یوسف علیه السلام ورك شو۔

الله تعالیٰ فرمائي :

﴿ وَجَعَلْنَا بَعْضَكُمْ لِبَعْضٍ فِتْنَةً أَتَصْبِرُونَ وَكَانَ رَبُّكَ بَصِيرًا﴾ (الفرقان: ۱۹)۔

او مونږ بعض ستاسو په بعضو باندې امتحان ګرځولې دې نو آیا تاسو صبر کوئ (یعنی صبر وکړئ) او ستا رب لیدونکې دې۔

بندګان په یو بل باندې امتحان دې ښځه او خاوند، مور او پلار او بچي او ګاونډي په یو بل باندې۔

امتحان کي بله فائده دا ده چه د الله دا بندګان خوښ دي چه ځان سره ئې ګاونډي کړي، جنت ورکړي ﴿ فِي مَقْعَدِ صِدْقٍ عِنْدَ مَلِيكٍ مُقْتَدِرٍ﴾ (القمر: ۵۵)۔

هر سړې غواړي چه زما ګاونډي دې پاك انسان وي، غل، ډاکو پوډري دې نهٔ وي نو الله هم خپل ګاونډ دپاره هغه څوك منتخب کوي چه په چا کي صلاحیت، عقل، خیر ښائسته صفات وي۔

بیا د الله د ګاونډیتوب شرطونه آسان دي، سخت نهٔ دي، هغه دا چه توحید قبول کړي، څه لږ خیر دربکي وو الله تعالیٰ دې دغه ګاونډیتوب ته بوځي، د درې سوه شپیتو خویونو نه چه یو خیر دربکي موجود وو نو الله دې خپل ګاونډیتوب ته بوځي۔ مثال ئې لکه حدیث کي دي چه څوك د اذان نه روسته :

اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ الخ۔ دعا ووائي، زما شفاعت به ورله واجب شي۔

دریم : امتحان ددے دپاره وی چه ناکاره او فاجر خلك امتحان کی ناکام شی چه د الله د ګاونډیتوب نه محرومه شی۔

څلورم : امتحان ددے دپاره راځی چه که همیشه غلبه وی نو دنیا پرست او غلط خلك به هم پدے دین کی داخل شی، د غنیمتونو او د دنیوی مفادو دپاره نو امتحان ددے دپاره راولی چه صحیح او رشتینی بندګان په دین کی داخل کړی او دروغجن پاتی شی: ﴿وَلَیَعْلَمَنَّ اللّٰهُ الَّذِیْنَ صَدَقُوْا وَلَیَعْلَمَنَّ الْکَاذِبِیْنَ﴾ (العنکبوت : ۱۱)

مخکی به عبد الله بن اُبی ابن سلول منافق ځان لوی مسلمان ګنړلو مسجد نبوی کی به د منبر په خوا کی ودریده او ځان به ئے خلکو ته ښودلو او ویل به ئے چه ددے نبی تابعداری وکړئ۔ چه کله د اُحد میدان نه راوتښتیدو نو خلکو وپیژندلو چه دا منافق دے بیا به ئے چه څه ویل خلکو به ورته وئیل : کینه ته خو منافق ئے۔

پنځمه وجه دا ده چه همیشه دپاره غلبه وی نو زړهٔ سخت شی او تکبر او مستی سړی کی پیدا شی، تکبر او قسوت د الله تعالیٰ خوښ نهٔ دی د بنده سره عاجزی، بندګی، د الله یره خوند کوی، جنت ته چه بندګان ځی د عاجزئ او د یرے په وجه۔
﴿اِنَّا کُنَّا قَبْلُ فِیْ اَهْلِنَا مُشْفِقِیْنَ﴾ (الطور:۲۶)۔

جنتیان به وائی مونږ په دنیا کی په خپله کورنئ کی د الله نه سخته یره کوله۔ او د الله نه مو دعاګانی غوښتلے۔

د جهنمیانو صفت دا دے : ﴿اِنَّهٗ کَانَ فِیْ اَهْلِهٖ مَسْرُوْرًا﴾ (انشقاق:۹)۔

دا په خپل اهل کی ډیر خوشحاله وو، بی غمه ژوند ئے تیرولو او د آخرت او د الله د پیشئ عقیده ئے نهٔ وه۔ نو هرکله چه په مؤمنانو امتحان راغلو او مدد ترے لږ روستو شو نو دوی صبر وکړو او منافقانو جزع فزع او بی صبری وکړه۔

۶- امتحاناتو کی بله فائده دا وی چه سړی سره د الله یره پیدا شی۔

۷- بله فائده د شکست او تکلیف دا وی : ﴿وَیَتَّخِذَ مِنْکُمْ شُهَدَاءَ﴾ آلعمران: ۱۴۰)۔

الله غواړی چه تاسو نه شهیدان ونیسی یعنی تاسو کی شهیدان پیدا کړی ځکه شهادت ډیره اُوچته مرتبه ده، شهادت هغه چا ته نصیب کیږی چه ډیر عابدان وی، نرم زړی وی، یا د قرآن قاریان وی ځکه دا خلك د الله خوښ وی، غواړی چه ځان ته ئے بوځی، د سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه په دور خلافت کی اُوه سوه قاریان

شهیدان شو ځکه دا غوره خلك وو.

د شهید مرګ په ظاهره کی مرګ وی لیکن حقیقت کی مرګ نهٔ وی. ددے مثال داسے دے لکه سړے د سفر نه کور ته راځی لار کی تکلیف او بی خوبی وی لیکن خوشحاله وی چه کورته ځم، زړهٔ ئے خوشحاله وی، دغه حالت د شهید دے، د آخرت په سفر کی تکلیف شته دے لیکن خوند په کی ډیر دے نو ځکه الله مؤمنانو ته شهادتونه ورکوی.

۸- بله فائده :﴿ وَاللّٰهُ لَایُحِبُّ الظّٰلِمِیْنَ﴾ (آلعمران: ۱٤۰)

د کفارو دلاسه دا مؤمنان وژنی ځکه چه کفار د الله دشمنان دی، د الله خوښ نهٔ دی.

۹- ﴿ وَلِیُمَحِّصَ اللّٰهُ الَّذِیْنَ آمَنُوْا وَیَمْحَقَ الْکٰفِرِیْنَ﴾ (آلعمران: ۱٤۱).

او دے دپاره چه الله تعالیٰ صفائی وکړی د ایمان والو او هلاك کړی کافران.

الله تعالیٰ د ایمان والو صفائی کوی او کافرانو ته سزا ورکوی. کافرانو ته ډیره زمانه صبر کوی، د بعضو کفارو دلاسه ډیر ناشنا ناشنا کارونه اخلی دے دپاره چه ګناهونه ئے زیات شی لکه فرعون د ماشطه رضی الله عنها درے بچی ګرم دیګ ته واچول هغه ئے شهیدان کړل بیا ئے دا شهیده کړه، ابوجهل سمیه رضی الله عنها په دوه اُوښانو پسے وتړله او په شرمګاه کی ئے په نیزه ووهله. په بله طریقه به ئے وژلے وے لیکن الله تعالیٰ ترے دا لوی جرم صادرولو، دے دپاره چه بیا سخته سزا ورکړی، اُوسنی فوجونو کی شیعه ګان، قادیانیان جرنیلان مسلمانانو ته همداسی ناکاره عذابونه ورکوی.

نبی علیه السلام فرمائی:

(لَوَدِدْتُ اَنِّیْ اُقْتَلُ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ ثُمَّ اُحْیَا ثُمَّ اُقْتَلُ ثُمَّ اُحْیَا ثُمَّ اُقْتَلُ)

(صحیح بخاری: ۲۷۹۷ ومسلم: ٤۹٦۷).

زما دا خوښه ده چه زهٔ د الله په لاره کی شهید شم بیا ژوندے شم بیا شهید شم بیا ژوندے شم بیا شهید شم. ځکه شهادت ډیره لویه مرتبه ده.

۱۰- بله فائده دا چه :

﴿ وَلَقَدْ کُنْتُمْ تَمَنَّوْنَ الْمَوْتَ مِنْ قَبْلِ اَنْ تَلْقَوْهُ فَقَدْ رَاَیْتُمُوْهُ وَاَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ﴾

آلعمران: ۱٤۲).

تاسو د مخکی نه شهادت طلب کولو نو الله درله هغه درکړو، نو اوس خفګان نهٔ دے

پکار بلکه ستاسو ارمان پوره شو۔

۱۱- الله تعالیٰ د خپلو مؤمنانو بندګانو دپاره په جنت او د عزت په کور کی ناشنا مرتبې او درجې تیاری کړیدی چه هغې ته بندګان په خپلو اعمالو نشی رسیدلې نو الله تعالیٰ په هغوی باندې امتحانات راولی دې دپاره چه دغه مرتبو ته ئې ورسوی۔

(زاد المعاد لابن القیم۳ ۱۷۲ والرحیق المختوم)۔

د احد نه تر غزوهٔ احزاب پورې واقعات

د اُحد د غزا نه تر د احزاب (خندق) غزا پورې چه کومه موده وه پدې کی څه واقعات راغلی وو؟۔

یوه د هغې نه دا وه چه نبی علیه السلام چه پدې پوهه شو چه اُحد غزا کی ما ته تکلیف راورسیدو او د کفارو سرونه لړ اُوچت شو، مدینه کی یهود زړه ور شو، په مکه کی مشرکان زړه ور شو، عامی قبیلې د عربو زړورې شوې نو ډیرو خلکو ارادې وکړې چه په مدینه حمله وکړو او ختم ئې کړو، د اُحد د غزا لا دوه میاشتې نهٔ وې تیرې شوې چه بنو اسد اراده وکړه چه په مدینه باندې حمله وکړی او دغه شان د عَضَلْ او قَاره قبیلو د مسلمانانو سره دوکې شروع کړې او یهودو د بنو نضیرو هم سر راپورته کړو او دشمنی ئې ښکاره کړه۔

نو نبی علیه السلام وغوښتل چه د مسلمانانو رعب او دبدبه بیرته قائمه شی نو یو نزدې غزا ئې په اُحد پسې د حمراء الاسد وکړه نو د مسلمانانو طاقت څه نا څه راښکاره شو۔

سریة د ابو سلمه بن عبد الاسد المخزومی رضی الله عنه قَطَن ته

ابتداء محرم (٤ هـ)

بیا د ذو الحجې په میاشت کی (بنو اَسد یوه قبیله وه ددې دوه مشران وو، سَلَمه خُویلد ځوی (سَلَمَه بن خُوَیلد) او طُلَیحه د خُوَیْلد ځوی، راولګیدل خپل قوم راجمع کړل او نور کسان ئې هم د ځان سره ملګری کړل چه په مدینه باندې حمله وکړ

او دا مسلمانان ختم کړو۔

نو نبی علیه السلام دا کمال وکړو چه د دوی د حملے نه مخکې ئے پرے حمله وکړه نبی علیه السلام د یو صحابی سیدنا ابوسلمه بن عبد الاسد المخزومی رضی الله عنه سره یو نیم سل (۱۵۰) صحابه کرام ملګری کړل او جنډه ئے ورله ورکړه او دا ئے ورته وویل چه تاسو به ځئ او په بنو اسد به حمله کوئ،

دا صحابه کرام لاړل د هغوی ځایونو ته ورسیدل، چه دوی په فَید علاقه کی د قَطَن غر په خوا کی وسیدل او فَیُد د کوفے په لاره یو منزل دے چه هلته د بنو اسد بن خزیمه چینه وه۔ فید په جاهلیت زمانه کی د بنو اسد او بنو طی ترمینځ یو بیابان وو، زید الخیل رضی الله عنه چه کله د نبیِ علیه السلام په خدمت کی حاضر شو نو نبی علیه السلام هغه ته د فَیُد علاقه ورکړه، د اَلْغَمُر او فَیْدِ ترمینځ (۲۰) میله فاصله ده۔ (معجم ما استعجم جلد۳،/۱۰۳٤/)۔

کله صحابه کرامو هغوی ته ورسیدل نو هغوی خبر نهٔ وو چه دوی پرے حمله وکړه هغوی وتښتیدل او شکست ئے وخوړو او اُوښان او ګډے بزے ئے ترے په غنیمت کی ونیول او مدینے ته ئے راوستل او سالمین غانمین راواپس شول۔

یو نیم سل (۱۵۰) مجاهدینو پوره علاقه فتح کړه۔ او ددے سریه لیږل د محرم میاشتے په ابتداء کی وو څلورم کال د هجرت شروع وو۔

ابوسلمه رضی الله عنه چونکه په اُحد غزا کی زخمی شوے وو ددے غزا نه روسته ئے بیا زخم راوپاریدو او وینی ترے بهیدلے ترده چه په جمادی الآخره (٤ ھ) کی ددے نه شهید وفات شو رضی الله عنه وارضاه۔

(ابوسلمه رضی الله عنه د رسول الله ﷺ د ترور (بره بنت عبد المطلب) ځوی او د هغه رضاعی ورور هم وو، د ثویبه نه دواړو تے رودلے وو)۔

ام سلمه رضی الله عنها د ابوسلمه رضی الله عنه ښځه وه هغے به خاوند پسے ډیر ژړل ځکه دا د اولنو مسلمانانو نه وو او بله دا چه دوه هجرتونه ئے کړی وو۔ یوه ښځه راروانه وه غوښتل ئے چه دے سره په ژړا کی مدد وکړی نو نبی علیه السلام ورته وویل تهٔ غواړے چه شیطان هغه کور ته داخل کړے چه الله د هغے نه دوه ځل ویستلے دے۔

ددے نه پنځه ورځے روسته نبی علیه السلام یوه بله سریه (دسته) ولیږله۔

سریه د عبد الله بن انیس غُرنه طرفته دپاره د قتل د خالد بن سفیان الهذلی (محرم۵، کال (٤) هجری۔

د مُحرم پنځمه ورځ وه څلورم کال د هجرت وو، نبی علیه السلام ته په څه ذریعه سره دا اطلاع وشوه چه یو سړے دے د هُذَیل قبیلے مشر دے (یعني خالد بن سفیان الهذلی) د عرفات په خوا کې دے هغه کسان (فوجونه) راجمع کوی چه په مدینه باندے حمله وکړی چه رسول الله ﷺ او د هغه ملګری ختم کړی،

نو نبی علیه السلام صرف یو مجاهد ورپسے ولیږلو

(سیدنا عبد الله بن اُنیس رضی الله عنه) چه دا د جُهَینه قبیلے مشهور صحابی دے، د بنو سلیمه حلیف وو، بیعتِ عَقَبه، اُحد، خندق او روستو ټولو غزواتو ته حاضر شویدے او په شام کې وفات شویدے، دا په افرادو کې شامل دے چه د بنو سلمه بُت ئے مات کړیدے۔ (اسد الغابة ۳/۱۷۸)

دۀ ته ئے وویل چه تۀ به د خالد بن سفیان سر راوړے۔ دیته اغتیالات سریه وائی۔

(په پټه یو کافر پسے ورتلل او هغه وژل) سیدنا عبد الله بن اُنیس رضی الله عنه په پنځم د مُحرم روان شو اتلس ورځے ئے یواځے بهر تیرے کړے۔

(ددے نه ثابته شوه چه په بعض اوقاتو کې یو کس هم د جهاد دپاره لیږل جائز دی)۔

دا وائی زۀ لاړم عرفات ته ورسیدم نو خالد بن سفیان الهُذلی مے وپیژندلو ځکه نبی علیه السلام ما ته د هغه دا نښه ښودلے وه چه دا یو غټ سړے دے چه کله تۀ هغه وینے نو په تا باندے به رپیدل (لړزیدل) ولګی او غونی به دے رازیګ شی بیا به دے رعب ختم شی، نو کله چه په تا باندے دا رعب او یره راغله نوپو هه شه چه همدغه سړے دے۔ دے وائی: کله چه ما دا سړے د وړاندے نه ولیدۀ، د خپلو زنانو دپاره ئے ځای تیارولو، خیمے ئے لګولے، یواځې وو چه ما ولیدو د مازیګر د مانځه وخت وو نو ما وویل که زما او ددۀ جنګ شروع شی نو د مازیګر مونځ رانه قضا کیږی

(ځکه د صحابه کرامو سره د مانځه ډیر اهتمام وو) نو ما دا کار وکړو چه زۀ د هغه طرف ته روان وم او مونځ مے په روانه روانه وکړو، د سر په اشاره مے رکوع او سجده

کوله او هغه طرف ته روان وم او هغه نهٔ پوهیدو۔

(دا دلیل شو چه دیرے په وخت کی او د جهاد په موقعه په روانه او په اشاره هم مونځ جائز دے، او یو رکعت مونځ هم جائز دے دیته صلاة الطالب والمطلوب وائی لکه په صحیح البخاری کی راغلی دی)۔

(**فائده** : د جهاد د وجے نه یو شرعی عمل بدلولے شی لکه سیدنا محمد بن مسلمه رضی الله عنه چه کله کعب بن اشرف وژلو نو د نبی علیه السلام خلاف خبرے ئے هم کولے۔ دارنګه که یو شخص د انګریزانو په طریقه لباس جوړ کړی، ټائی، پتلون واچوی د یو غیبی مقصد دپاره او ددے نه خلاصے نهٔ وی، دارنګه ګیره وخریوی نو د یو لوی مصلحت دپاره لړ شان نقصان جائز دے لکه چه دے صحابی د مانځه طریقه په اجتهاد سره بدله کړے ده)۔

سیدنا عبد الله بن اُنیس رضی الله عنه چه کله خالد بن سفیان ته ورنزدے شو هغه ورته وویل : مَنِ الرَّجُلُ؟۔ تهٔ څوک ئے؟۔ عبد الله وائی: ما ورته وویل :

زهٔ د عربو یو سړے یم : سَمِعْتُ أَنَّكَ تَحْشِدُ لِهٰذَا الرَّجُلِ۔

ما آوریدلی دي چه تهٔ ددے سړی خلاف خلك راجمع کوے زهٔ هم راغلم چه ستا ملګرتوب وکړم ځکه دا سړے زمونږ هم دشمن دے۔ دا ئے توریه وکړه۔

هغه وویل : زهٔ خو خلك راجمع کوم په مدینه حمله کوم۔

دا وائی : تردے چه ماښام ته وخت نزدے شو، نو هغه زهٔ واوغوښتل راته ئے وویل چه راشه نو زهٔ ورسره خیمه کیناستم او خبرے اترے مے ورسره وکړے او شعرونه مے هم ورته وویل: نو د هغه زما خبرے خوښے شوے، بیا دے خپلے خاص خیمے ته لاړو او ددهٔ نه خپل ملګری ګیرچاپیره وسیدل هغوی خپلو خیمو ته لاړل نو کله چه دے یوائے شو او خلك اوده شو په آرام شو نو ما توره راویستله او خالد بن سفیان مے پدے ختے ووهلو او بیا مے ترے سر غوڅ کړو او په څادر کی مے پټ کړو او ځان سره مے راوړو، د هغه زنانه پوهه شوے او په هغه باندے ئے ژړا شروع کړه،

ما په جلتئ سره منډه کړه تردے چه په غر کی یو غار ته ننوتم او ما پسے په هر طرف باندے خلك په اسونو راروان شو او زهٔ په دغه غار کی وم، دے وائی چه زهٔ به د ورځے پټیدم او د شپے به مے مزل کولو تردے چه په منډه منډه ما د هغه سر مدینے ته راوړو،

اتلس ورځے روستہ راورسیدم نبی علیہ السلام ډیر خوشحالہ شو چہ ددے غټ کافر سرئے راوړو۔ وے فرمایل:

اَفْلَحَ الْوَجْهُ۔ ستا مخ دے کامیاب شی، دۂ وویل : ستا مخ دے هم کامیاب شی اے د الله رسوله!۔

(د کافر پہ مرګ خوشحالی پکار دہ ځکہ دا د الله دشمن دے، د الله د دین تباہ کولو کوشش کوی داسے نۂ دہ پکارلکہ بعض صوفیان پدے خفګان کوی چہ جهنم تہ لاړو، دا د الله او د رسول نہ ځان مخکی کول دی)۔

رسول الله ﷺ عبد الله بن اُنیس رضی الله عنہ تہ وویل دننہ راشہ، دے وائی زۂ ورغلم نو هغہ ما تہ امسا راکړہ،

بهر چہ راووتلم، صحابہ کرامو راتہ وویل چہ دا څہ دی؟

ما وویل : نبی علیہ السلام امسا راکړہ، هغوی راتہ وویل چہ ورشہ تپوس ترے وکړہ چہ دا امسا دے د څہ مقصد دپارہ راکړہ یا رسول الله! ؟ هغہ ورغلو د رسول الله ﷺ نہ ئے اجازہ واخستہ، ورتہ ئے وویل چہ اے د الله رسولہ ! د څہ دپارہ دے دا امسا راکړہ ؟

نبی علیہ السلام ورتہ وفرمایل چہ دا بہ زما او ستا ترمینځ د قیامت پہ ورځ نښہ وی، تا بہ زۂ د قیامت پہ ورځ پہ دے باندے وپیژنم چہ د خالد بن سفیان الهذلی مشرك قاتل راغے، زۂ بہ ستا غزا پدے باندے پیژنم۔

سیدنا عبد الله بن اُنیس رضی الله عنہ چہ کلہ پہ اتیایم (۸۰) هجری کال کی وفات کیدو نو وصیت ئے وکړو چہ زما پہ کفن کی ما سرہ زما امسا واچوئ ځکہ چہ د الله نبی مالہ راکړیدہ چہ زۂ ئے محفوظہ وساتم نو وارثانو ئے پہ کفن کی ورلہ واچولہ او ورسرہ ئے دفن کړہ چہ د قیامت پہ ورځ بہ دا راپاڅی او دا امسا بہ ورسرہ وی۔

دے صحابی پدے غزا باندے ډیر لوی منقبت او مرتبہ وګټلہ۔

او دا د جهاد ډیر ښہ ترتیب دے چہ د کفارو پہ یو مشر پسے یو مجاهد ورولیږی چہ هغہ قتل کړی لکہ اُوس وخت کی کافران د مسلمانانو پہ مشرانو پسے کوشش کوی۔

ددے غزا فوائد:

۱- د کفارو د مشر پسے یو مجاهد لیږل۔

۲- : پہ مانځہ کی د جهاد د وجہ نہ نقصان زاوستل۔

۳- د نبی علیه السلام د کفارو په مرګ خوشحالیدل۔
٤- ددې صحابی کرامت او انتهائی بهادری۔

سرية الرجيع (صفر سنه ٤هـ)

بلـه واقعـه دا راغـلـه چـه عَضَل او قَاره د عربو دوه وړې قبیلې وې چـه هغوی پـه مسلمانانو حمله نشوه کولے صرف د مسلمانانو سره ئې حسد ډیر وو۔ عضل او قاره قبیلو د هذیل قبیلې نه مطالبه وکړه چه ستاسو مشر خالد بن سفیان ئې مړ کړو راشئ زمونږ ملګری شئ چه پدې مدینه باندې حمله وکړو۔

د هذیـل قبیلې پـه زړهٔ کې ډیر رعب وو ځکه دوی دې کار ډیر حیران کړی وو چه یو کس مسلمان راځی او زمونږ مشر وژنی نوعضل او قاره ته ئې وویل چه که په تاسو باندې مسلمانانو حمله وکړه نو مونږ به ستاسو ملګرتوب وکړو او مدد به مو وکړو او که مونږ ځان سره ملګری کوئ نو دا کار نشو کولے۔

عـضـل او قـاره یـو چـل جـوړ کړو او هغه دا چه څه کسان ئې ولیږل مدینې ته، هغوی خپل اسلام ښکاره کړو او د اسلام دعـوه ئې وکړه، نبی علیه السلام ته ئې وویل چه مـونږ سره څه کسان ولیږه چه زمونږ قوم ته دعوت ورکړی او دین ورته زدهٔ کړی ځکه څـه نا څه دین پکې شته۔ نبی علیه السلام د دوی سره لس کسان ولیږل او د سیرت په کتابونو کې راځی چه شپږ کسان ئې ولیږل صحیح دا ده چه لس کسان وو لکه په حدیث د بخاری کې راغلی دی۔

دوی تـه ئې دوه کـارونه وسپارل چه خپلو ملګرو ته ئې وویل چه تاسو لاړ شئ او کوم کسان چه مسلمانان شویدی هغوی ته به دین ورښایئ او دویم کار دا چه تاسو به د کفارو جاسوسی کوئ، احوال به معلوموئ۔

سیرت کې راځی چه د دعوت دپاره ئې ولیږل او په حدیث کې دی چه د جاسوسئ دپاره ئې ولیږل۔ صحیح دا ده چه دواړه کارونه ئې مقصد وو،

د سیرت پـه بعض کتابونو کې ددې سریه مختلف وجوهات ذکر شویدی، (۱) د بخاری د روایتونونه معلومیږی چه دائې د جاسوسئ دپاره ولیږل۔ (۲) او ځینی

صحیح روایاتو کی راغلی دی چه د عضل او قاره قبیلو اُوه (۷) کسان رسول الله ﷺ ته راغلل او نبی علیه السلام ته ئے ووئیل چه مونږ کی اسلام ښکاره شویدے نو مونږ سره څه کسان ولیږه چه مونږ ته دین وښائی او قرآن راته ووائی او د اسلام احکام راته زده کړی۔

(۳) علامه واقدی رحمه الله ددے غزا سبب دا لیکلے دے چه د هذیل قبیلے یوه قبیله وه یعنی بنو لحیان هغوی لاړل او عضل او قاره قبیلو ته ئے ووئیل چه مونږ به تاسو ته مالونه درکړو خو تاسو رسول الله ﷺ ته ورشئ او د هغه نه څه کسان راولئ پدے بهانه چه هغوی به دوی ته د اسلام دعوت ورکړی او په دین به ئے پوهه کړی نو دوی به ورته پټ شی او وبه ئے نیسی او په مکے والو باندے به ئے خرڅ کړی او د هغوی په بدله کی به پرے پیسے واخلی۔

(نضرة النعيم ١/٣١٤) والسيرة النبوية عرض ووقائع لعلى محمد الصلابى ٣جزء/٢٢٥)

(٤) یا ئے ددے دپاره عضل او قاره ولیږل چه دوی د نبی علیه السلام څه ملګری راولی که په هغوی کی چا خالد بن سفیان الهذلی وژلے وی هغه به مړ کړی او باقی به په قریشو باندے په مکه کی خرڅ کړی۔نو ددے خلکو د لیږلو غرض دا وو چه بنو لحیان د خپل مشر خالد بن سفیان الهذلی بدله واخلی۔

(امتاع الاسماع بما للنبى من الاحوال والاموال والحفدة والمتاع لاحمد المقريزى١/١٨٥)۔

ممکن ده چه ددے خلکو په لیږلو کی دا ټول مقاصد وی او ددے سببونو ترمینځ هیڅ تعارض نشته۔

رسول الله ﷺ ددے کسانو سره سیدنا عاصم بن ثابت الانصاری رضی الله عنه او سیدنا مرثد بن ابی مرثد الغَنَوِی او نور کسان ملګری کړل لکه سیدنا خُبیب رضی الله عنه او سیدنا زید بن دَثِنَه رضی الله عنه، خالد بن ابی البکیر، عبد الله بن طارق معتب بن عبید وغیره۔

کله چه دوی رَجِیع علاقے ته ورسیدل چه دا د حجاز د علاقو نه یوه علاقه ده۔ اوس د رابغ او جده ترمینځ یو ځای دے۔رَجِیع د هذیل قبیلے یوه چینه ده چه د عُسفان او د مکے ترمینځ ده، د عسفان نه اته میله وړاندے ده (ابن کثیر)

دے عضل او قاره قبیلے بنو لحیان قبیلے ته ووئیل چه دا کسان مونږ راوستلی دی،

مړهٔ کول غواړي، د عضل او قاره قبیلې دا کسان ترے جدا شو او مسلمانان ئے په یو شاړ ځای کی پریښودل، نو د بنو لحیان قبیلې سل (۱۰۰) کسان ورپسے راووتل چه مسلمانان ونیسی، مسلمانان په ځان پوهه شول چه دا خلك مو وژني نو دوی ترے پټ شو کفار د دوی پسے گرځیدل چه دا خلك راونیسی۔

سل ویشتونکی کسان چه د غشو په ویشتلو کی ماهر وو دوی پسے گرځیدل۔

حدیث کی راځی چه دوی د کجورو هډوکی ولیدل چه وے کتل نو وے ویل چه دا د مدینے کجوری دی نو پوهه شو چه دا صحابه پدے لاره تلی دی او پدے کندو تیر شویدی نو صحابه کرام ئے یو ځای کی ولیدل۔

صحابه کرام پدے پوهه شو نو یوے اُوچتے ډیرکئ ته وختل، مشرکانو ورته وویل تاسو راکوز شئ تاسو ته هیڅ نهٔ وایو، صرف تاسو مکے والو ته ورکوو، هغوی سره زمونږ قیدیان دی تبادله دربانديے کوو، وژنو مو نهٔ۔

احادیثو کی صرف دومره ذکر دی چه تاسو سره وعده کوو چه وژنو به مو نهٔ۔

ملگرو خپل مینځ کی مشوره وکړه چه څه کوو؟ بعضو کسانو وویل چه ورکوز به شو کیدے شی چه دا زمونږ دپاره د نجات ذریعه شی۔

بعضو وویل چه نهٔ ورکوزیږو، د دوی سره جهاد کوو، خاصکر د دوی امیر سیدنا عاصم بن ثابت رضی الله عنه پدے خبره کلك وو چه په کافر باندے اعتماد نهٔ کوم او نهٔ ورته ځان سپارم نو جنگ ئے ورسره شروع کړو نو پدے کی ددهٔ څه ملگری شهیدان شو۔

سیدنا عاصم بن ثابت سره مشرکانو په توره جنگ نشو کولے نو پدے وجه ئے د لرے نه پرے د غشو گوزارونه شروع کړل نو د ډیرو گوزارونو په وجه هغه شهید شو رضی الله عنه۔

او ددهٔ سره شپږ یا اُوه کسانو هم جنگ وکړو هغوی هم شهیدان شو رضی الله عنهم۔

درے کسان باقی پاتی شو، هغوی ته ئے وویل چه زمونږ تاسو سره وعده ده چه څه به درته نهٔ وایو۔ دے درے کسانو صحابه کرامو وویل چه ورکوز به شو او ځان به ورته وسپارو کیدے شی چه څه وخت قید تیرولو نه روسته مو پریدی۔ بل طرفته سل کسان وو مقابله ئے ډیرهٔ گرانه وه۔ نو دا درے صحابه کرام راکوز شو چه کله ئے ونیول

سمدست ئے د دوی لیندے راکولاوے کړے او د دوی لاسونه ئے پرے وتړل نو سیدنا عبد الله بن طارق رضی الله عنه ورته ووېل دا ستاسو اوله دهوکه ده، توری رانه واخلئ، تړلو ته څه ضرورت دے؟ نو عبد الله بن طارق رضی الله عنه ورته ووېل چه زهٔ درسره نهٔ ځم نو په زور زور ئے راښکلو هغه ورسره نهٔ تللو تردے چه هغه ئے هم شهید کړو۔ رضی الله عنه وارضاه۔

دوه صحابه کرام ئے د ځان سره بوتلل یو زید بن دَثِنَه رضی الله عنه او بل خبیب بن عدی رضی الله عنه دا دواړه صحابه کرام ئے خپلے علاقے ته بوتلل او د مکے په مشرکانو ئے خرڅ کړل۔

سیدنا خبیب رضی الله عنه په بدر کی د حارث بن عامر په نوم یو کافر وژلے وو چه دا د عقبه بن الحارث پلار وو او زید بن دثنه د صفوان امیه پلار (امیه) وژلے وو۔ نو صفوان د دوی نه زید بن دَثِنه واخستو او د پلار په بدِله کی ئے شهید کړو۔ او خبیب بن عدی رضی الله عنه عقبه بن الحارث واخستو چه د پلار په بدله کی ئے شهید کړی۔

د سیدنا عاصم بن ثابت رضی الله عنه کرامت

د سیدنا عاصم رضی الله عنه په باره کی د مکے یوه زنانه (سُلَافه بنت سعد) دا نذر کړے وو چه که د عاصم سر چا راوړو نو زهٔ به د هغه په سرکی اول شراب څکم او د هغے نه به روستو سل اُوښان په انعام کی ورکوم۔

(دا ځکه چه سیدنا عاصم ددے دوه ځامن مُسافع بن طلحه او حارث بن طلحه په اُحد کی وژلی وو)

کله چه سیدنا عاصم بن ثابت رضی الله عنه شهید شو نو د مکے مشرکان ډیر خوشحاله شو، وے وېل لاړ شئ دا خبره یقینی کړئ چه رشتیا عاصم وژلے شویدے یو خو به خوشحاله شو او بل به سُلافه بنت سعد خپل نذر پوره کړی او انعام به ورته حاصل شی۔

نو د هذیل قبیلے څه کسانو اراده وکړه چه د عاصم خوا ته راشی او د هغه نه سر پریکړی لیکن الله تعالیٰ ورته دا طاقت ورنکړو کله چه د هغه خوا ته راغلل نو الله

تعالیٰ د هغه د حفاظت دپاره مچئ راولیږلې، ګیر چاپیره د هغه نه تاویدلې چه څوك به خواته ورتللو هغه به ئې په مخ چیچلو، دوی انتظار کولو چه شپه شي مچئ به ترې لاړې شي او سر به ترې غوڅ کړو چه ماښام شو مچئ لاړې نو سمدست الله تعالیٰ یو تیز باران راښکته کړو چه د هغې نه سیلابونه روان شو نو سیدنا عاصم رضی الله عنه سیلاب ځان سره اُوچت کړو او سیلاب یوړو، دوی د هغه په رانیولو قادر نشو، په سیلاب کې پرې خاورې راواوړیدې او هیچا د هغه ځای معلوم نکړې شو،

پدې وجه عاصم بن ثابت رضی الله عنه ته دَفِینُ الله او دَفِینُ الملائکة وائي۔ یعنی الله تعالیٰ او ملائکو دفن کړې وو۔

الله تعالیٰ د عاصم ﷺ دا عجیب حفاظت پدې وجه وکړو چه عاصم بن ثابت رضی الله عنه کې د ولاء او براء ماده ډیره وه۔ د الله دپاره دشمني او دوستي ئې زیاته وه۔

(د اُوسنو سیاستدانو او سیاسیانو په شان نۀ وو چه د منافقانو سره منافقت او د ډمانو سره ډم او د ملیانو سره ملاوی، زمونږ په دین کې د الله په حکم کللك ودریدل دا سیاست دی)

سیدنا عاصم بن ثابت او نورو ملګرو دا التزام کړې وو او د الله سره ئې دا وعده کړې وه چه مشرك سره به لاس نۀ لګوم او نۀ به مشرك ما له ګوتي راوړي

(لکه عبد الله بن عباس ﷺ به د مشرکانو نه د زیات نفرت دپاره داسې فرمایل :

مَنْ صَافَحَ مُشْرِكًا فَلْيَتَوَضَّأْ)

څوك چه مشرك ته لاس ورکړي هغه دې اُودس وکړي)

عاصم بن ثابت رضی الله عنه دا وعده کړې وه چه مشرك ته به لاس نۀ وروړي نو الله تعالیٰ ددۀ دا وعده پوره کړه چه پس د مرګ نه ئې هم ددۀ سره د مشرك لاس ونۀ لګولو۔ سیدنا عمر فاروق رضی الله عنه به ددې واقعې نه روستو فرمایل : چه الله تعالیٰ د مؤمن حفاظت روسته د مرګ نه هم داسې کوي لکه چه په ژوند کې ئې کوي)۔

ددې ځای پورې ددې قیصې بعض فوائد:

۱– رسول الله ﷺ ته د غیب علم نۀ وو، د عضل او قاره قبیلې په کفر پو هه نۀ وو، ګنې دا کسان به ئې ورسره نۀ لیږلې۔

۲- رسول الله ﷺ د دین اسلام په دعوت ډیر حرص لرلو.
۳- جاسوسی د مسلمانانو دپاره کول غټ جهاد دے او همدا ایمان دے او د کفارو دپاره جاسوسی کول کفر او ارتداد دے او د کفارو جاسوس واجب القتل دے.
٤- ددے واقعے نه دا فائده هم معلومه شوه چه په جنګ کی د مرګ د یرے نه کافرانو ته ځان ورکول هم جائز دی. لکه دلته دے درے صحابه کرامو خپل ځانونه د کافرانو په لاسونو کی ورکړل دا دلیل دے چه په کافر باندے ځان وژل لازم نهٔ دی،

بعض علماو لکه شهید عبد الله عزام دا مسئله لیکلے ده چه د مسلمانانو زنانه که کافران ئے نیسی او بی عزتی ورله کوی نو ځان وژلے شی چه د بی عزتی کولو نه بچ شی. لیکن دا مسئله صحیح نهٔ ښکاری وجه دا ده: د نبی علیه السلام په زمانه کی ډیرے زنانه کافرانو نیولے دی او نبی علیه السلام یوے زنانه ته هم دا نهٔ دی ویلی چه د کافرانو د نیولو نه مخکی ځانونه مړهٔ کړئ حال دا چه کفارو به ورله بی عزتی کوله. نبی علیه السلام به د صبر او تقوىٰ امر کولو که کافرانو ورسره په زوره بی حیائی وکړه نو دا زنانهٔ ګناهګاری نهٔ دی. او بی عزتی خو د سړو هم کیدے شی نو آیا سړی به هم ځان وژنی؟)

د ځان د وژلو دے وخت کی دوه علاجه دی یو دا چه جنګ وکړی تردے چه شهید شی او که د جنګ طاقت نهٔ وو او ونیول شو نو تقوىٰ او صبر دے اختیار کړی. مقصد دا چه دغه صحابه کرامو ځینو جنګ وکړو شهیدان شول او ځینو ځان ورکړو نو دواړه کاره جائز دی لیکن بلا ضرورته د ځان وژل ناروا دی. بعض خلك ځان پدے وجه وژنی چه ما سره رازونه دی، رازونه به رانه افشاء شی، یو ملا دا فتوىٰ هم ورکړے چه د راز د افشاکیدو د وجے نه ځان وژلے شی دا هم ډیره غلطه فتوىٰ ده)

د زید بن دَثِنَه او د خُبَیب رضی الله عنهما د شهادت قیصه

الغرض: مکے والو دغه دوه صحابه کرام (زید بن دَثِنَه او خُبَیب رضی الله عنهما) واخستل او د حرم نه بهر تَنعِیم علاقے ته ئے بوتلل چه دا د حرم نه درے میله وړاندے علاقه ده، صفوان ونهٔ وتلو بلکه خپل غلام (نَسطَاس) ته ئے وویل چه دا واخله او قتل

ئے کړه۔

زید بن دثنه چه کله بهر ویستلے شو نو زید ته ابو سفیان ووئیل چه آیا ته پدے خبره خوشحاله ئے چه ته دے په خپل اهل کی وسیږے او ستا په ځای دے مونږ سره محمد رسول الله وی او مونږ دے هغه مړ کړو؟۔

سیدنا زید رضی الله عنه ورته وویل: قسم په الله زه دا نه خوښوم چه زه دے په خپل اهل کی یم او د محمد رسول الله ﷺ په خپه کی دے ازغی ورننوزی چه هغه ته تکلیف ورکړی۔ ابو سفیان د مکے مشرکانو ته وویل چه قسم په الله ما داسے څوك نه دی لیدلی چه د یو محبوب سره دومره مینه لری څومره چه د محمد ملګری د محمد (ﷺ) سره مینه لری۔

او خبیب بن عدی رضی الله عنه په مکه کی حُجَیر بن ابی اِهَاب واخستو چه دا د عقبه بن حارث اَوښے وو او د عقبه د پلار حارث بن نوفل د مور د طرفنه ورور وو)۔ او عقبه ته ئے وسپارلو لیکن دا د ذی القعدے عزتمنه میاشت وه نو قتل ئے نشو کولے پدے وجه د حُجَیر په کور کی وسیدلو د حجیر یوه وینځه وه ماویه ئے نوم وو، دا روستو زمانه کی ډیره ښه مسلمانه شوے وه۔

دے به د سیدنا خبیب رضی الله عنه واقعه بیانوله۔

کله چه د خبیب د قتل وخت رانزدے شو نو د دغه زنانه نه ئے چاړه وغوښته چه ځان پرے صفا کړی ځکه چه الله ته صفا ورتلل پکار دی۔ (ددے وجه نه شریعت مطهره کی دا مسئله ده چه بنده هره هفته کی ویښته لری کړی دا بهتره ده او هر څلویښتو ورځو کی اخستلِ لازم دی که څلویښتو ورځو کی وانخستل نو ګناهګار دے،

علماء کرام فرمائی چه کله دار حرب کی مسلمانان او کافران یو شان مړهٔ شی نو مسلمانان به پدے پیژنی چه ګیره به ئے په مخ وی او نوکان به ئے واړهٔ وی، بریت به ئے پریکړی وی، زیر ناف ویښته، د تخرګونو ویښته به ئے خریلی وی، که دا صفات پکی نهٔ وی نو په کافرو کی به شمیرلے شی۔

نوکونه پریکول، بریت واړه کول او ګیره پریښودل د فطرت کارونه دی، څوك چه ګیره خریوی هغه خپل فطرت خراب کړیدے)۔

مَاوِیه وائی چه ما یو ماشوم ته چاړه ورکړه چه خبیب ته ئے یوسی کله چه ماشوم

چاړه ویوړه نو خبیب ماشوم په غېږ کې کېنولو نو دے زنانه چه ولیده چه د خبیب په لاس کې چاړه ده او ماشوم ئے غېږ کې دے نو ډېره زیاته هیبت کې شوه چه دا سړے خو مونږ هسے هم وژنو داسے نهٔ چه دا ماشوم قتل کړی او بدله واخلی. خبیب رضی الله عنه ورته وویل تهٔ ددے خبرې نه یرېږې چه زهٔ به دا ماشوم قتل کړم دا کار زهٔ هیڅکله نهٔ کوم (ځکه دا ماشوم دے بې ګناه دے، اسلام مونږ د ماشومانو او د زنانو د قتل نه منع کړی یو)

(ددے نه دا فائده معلومېږی چه د ماشومانو تښتول اګرکه د کفارو ماشوم وی ناروا دی ځکه چه اسلام د رَحم او شفقت دین دے او دا د رَحم او شفقت خلاف کار دے، ماشومان چه څوك تښتوی دا ډېر سخت زړی دی او الله تعالیٰ اُور داسے خلکو له تیار کړیدے).

دا زنانه وائی چه یو خو مونږ ددے سړی دا نیك اخلاق ولیدل او دویم دا چه مونږ ددهٔ څه نا څه کرامت هم ولیده هغه دا چه یوه ورځ زهٔ خبیب ته رانبکاره شوم د هغه په لاس کې د انګورو غونچك وو لکه د سړی د سر په شان چه د هغے نه ئے خوراك کولو او حال دا چه په مکه کې هیڅ قسم انګور په دغه زمانه کې نهٔ وو، نهٔ ئے څوك دوست وو چه انګور ئے ورله راوړی وے، ما ته معلومه شوه چه دا یو رزق دے چه د جنت نه راغلے دے او دا کرامت دے (داسے وخت کې الله تعالیٰ دا کرامتونه ځکه ورکوی چه په جیل او په تکلیف کې وی، د الله نه سویٰ د تکیه ځای ئے بل نهٔ وی نو الله تعالیٰ ورله اطمینانونه ورکوی)

سیدنا خبیب رضی الله عنه ئے د حرم نه بهر ویستلو نو عقبه او ابوسفیان ورته وویل چه تهٔ دا غواړے چه تهٔ خپل کور ته لاړ شے او ستا په ځای دا تکلیف محمد رسول الله ته ورسیږی هغه ورته وویل چه قسم په الله زهٔ دا نهٔ غواړم چه زهٔ دے خلاص شم او د محمد رسول الله ﷺ په خپه کې دے یو ازغی لاړ شی، بیا مشرکینو تعجب وکړه په محبت د صحابه کرامو د خپل نبی سره.

خبیب رضی الله عنه ورته وویل چه د دوه رکعاته مونځ وخت راکړئ هغوی وخت ورکړو، خبیب ډېر مزیدار او مکمل مونځ وکړو بیا ئے هغوی ته وویل چه که دا خبره نهٔ وے چه تاسو به وایئ چه د مرګ نه ویریدو نو ما به نور مونځ هم کړے وے او دا مونځ

به مې اوُرِد کړې وې، بیا دوی خبیب په سولۍ وخېژولو او شهید ئې کړو.

نبی علیه السلام فرمائي: یقیناً خبَیب (رضی الله عنه) ستاسو دپاره د مرګ په وخت دوه رکعاته مونځ سنت ګرځولی دی.

خبیب رضیَ الله عنه د مانځه نه روستو دا اشعار هم وویل:

لَـقَدْ أَجْمَعَ الْأَحْزَابُ حَوْلِيْ وَأَلَّبُوْا	❀	قَبَـائِلَهُـمْ وَاسْتَجْمَعُوْا كُلَّ مَجْمَعِ
وَقَـدْ قَـرَّبُـوْا أَبْـنَـائَهُمْ وَنِسَـائَهُـمْ	❀	وَقُـرِّبْـتُ مِنْ جِذْعٍ طَوِيْلٍ مُمَنَّعِ
اِلَـى اللّٰهِ أَشْكُـوْا غُـرْبَتِيْ ثُمَّ كُـرْبَتِيْ	❀	وَمَـا أَرْصَدَ الْأَحْزَابُ لِيْ عِنْدَ مَصْرَعِيْ
فَذُو الْعَرْشِ صَبَّرَنِيْ عَلٰى مَا يُرَادُ بِيْ	❀	لَقَـدْ بَضَّعُوْا لَحْمِيْ وَقَدْ يَأْسَ مَطْمَعِيْ
وَلَسْـتُ أُبَـالِيْ حِيْـنَ أُقْتَلُ مُسْلِمًـا	❀	عَلٰـى أَيِّ شِقٍّ كَـانَ لِلّٰـهِ مَصْرَعِيْ
وَذٰلِكَ فِـيْ ذَاتِ الْإِلٰـــهِ وَإِنْ يَّشَـأْ	❀	يُبَـارِكْ عَلٰـى أَوْصَالِ شِلْوٍ مُمَزَّعِ

٥دې ډلو زما نه ګیرچاپیره خلك او قبیلې راجمع کړیدی زما د قتل سیال کوی.

٥ماشومان او زنانه ئې هم راجمع کړیدی او زهٔ د کجوری تنی ته رانزدې شوې یم (دیته مې خیژوی) چه ډیره اوږده ده او په سر کی ئې وسپنه هم ده (په هغې ما په سولۍ کوی). ٥ خاص یو الله تعالیٰ ته شکایت کوم د خپلې مسافرۍ او بیا د غم، او د هغه څه چه دې ډلو زما دراپریوتو دپاره د انتظار ځای تیار کړیدې.

٥ الله رب العزت ما ته صبر راکړیدې په هغه کار چه ما ته ئې اراده شوې ده، یقیناً دوی زما غوښه پوتی پوتی کوی او زما د طمع ځای ورك دې.

٥ زهٔ پدې هیڅ پرواه نهٔ کوم کله چه مسلمان مرم په هر طرف چه مې غورځوی، د الله دپاره زما غورځیدل دی.

٥ او دا کار د الله د رضا دپاره کیږی که هغه وغواړی زما په ټوټه ټوټه اندامونو کی به برکت واچوی او یو ځای به ئې کړی).

نو خبیب رضیَ الله عنه ئې راوستو او د کجوری سر ته ئې وخیژولو چه د هغې په سر کی وسپنه وه په هغې باندې ئې خیته ورله وراچوله او شهید ئې کړو. خبیب رضی الله عنه پدې وخت کی دا وفرمایل: اې الله! مونږ ستا د رسول پیغام ورسولو، نو تهٔ خپل رسول ته زمونږ دا حالت ورسوه چه دا په مونږ څه کیږی.

بیا ئے ښیرے وکړے : اَللّٰھُمَّ احْصِھِمْ عَدَدًا وَاقْتُلْھُمْ بَدَدًا وَلَا تُغَادِرْ مِنْھُمْ اَحَدًا) ۔اے الله ! دا کافران جدا جدا راګیر کړه او جدا جدا ئے قتل کړه او د دوی نه هیڅوك مهٔ پریده۔

په دغه وخت کی سیدنا معاویه بن ابی سفیان رضی الله عنه هم حاضر وو (دا د کفر زمانه کی وو) دا وائی چه کله خبیب شهید کیدو نو هغه ښیرے وکړے نو زهٔ ددے ښیرو نه دومره ویریدم چه په زمکه راګوزار شوم۔

او په یو روایت کی دی چه زهٔ ابوسفیان راښکلم تردے چه شاکړے راپریوتم، ابوسفیان په زمکه څملولم۔ ځکه چه د عربو دا عقیده وه چه کله یو سړی ته ښیرے کیږی او هغه په زمکه څملی نو ښیرے ورته نهٔ رسیږی۔

حکیم بن حزام (رضی الله عنه چه روستو مسلمان شویدے) فرمائی چه زهٔ د خبیب رضی الله عنه د ښیرو د یرے نه د ونے پورے پټ شوم۔ جُبیر بن مطعم رضی الله عنه فرمائی چه زهٔ به د سړو پورے پټیدم دے دپاره چه د خبیب ښیرے راونهٔ رسی۔

په دغه موقعه کی سعید بن عامر رضی الله عنه هم حاضر وو،

دے د عمر رضی الله عنه په دور خلافت کی د حِمص امیر وو، او په مجلس کی به په دهٔ باندے بیهوشی راتلله، عمر رضی الله عنه چه کله حمص ته راغلو نو خلکو ورته د سعید ددے کار شکایت وکړو چه دے په مجلس کی ناست وی او بیهوشی پرے راځی نو عمر رضی الله عنه ترے تپوس وکړو؟۔ هغه ووئیل: زهٔ د خبیب قتل ته حاضر شوے وم داسے نهٔ چه الله ما ته د قیامت په ورځ ووائی چه خبیب رضی الله عنه یو صالح سړے وو په سولئ خیژولے شو او تا د هغه مدافعت نهٔ کولو۔ نو عمر رضی الله عنه هغه معذور وګڼړلو او د هغه تحسین ئے وکړو۔

خبیب رضی الله عنه ډیرے ورځے په پهانسئ (سولئ) باندے پروت وو۔

بعضو روایتونو کی راځی چه څلویښت ورځے په پهانسئ پروت وو۔

د سیدنا عمرو بن امیه الضَمری رضی الله عنه کارنامے

نبی علیه السلام وفرمایل : څوك دے چه خبیب رضی الله عنه د سولئ نه راکوز کړی او دفن ئے کړی نو سیدنا عمرو بن امیه الضمری رضی الله عنه تیار شو چه زهٔ به

ئے زاکوز کرم او پټ به ئے کړم نو دۀ سره ئے یو بل انصاری صحابی (سَلَمه بن اسلم) ولیږلو چه یو به ابوسفیان قتل کړی۔

د ابوسفیان د قتل امرئے څکه کړے وو چه ابوسفیان یو بانډچی د نبی علیه السلام د قتل دپاره تیار کړے وو۔ بانډه چی مدینے ته راغے په بنی عبد الاشهل کی ئے خپله اُوښه وتړله، د نبی علیه السلام خو اته راغے وے ویل: تاسو کی د عبد المطلب څوی کوم یو دے ؟ نبی علیه السلام ئے نۀ پیژندلو، خلکو ورته وویل دغه دے۔ خوا ته ورغلو خنجر ئے پټ کړے وو۔ نبی علیه السلام ته داسے ورښکته شو لکه چه پټی خبرے ورسره کوی، اراده ئے دا وه چه نبی علیه السلام په چل کی ووهی نبی علیه السلام وویل دا سړے راغلے دے، د دهوکے اراده ئے ده او ددۀ او د ارادے ترمینځ پردی دی۔

پدے کی اُسید بن حُضیر رضی الله عنه راغے ددۀ دفاع ئے کوله ورته ئے وویل :

د نبی علیه السلام نه جدا شه، څه بی ادبی کوے سم په ادب کینه، چه ګوتی ئے وروړے په بډه باندے ئے خنجر راووتلو ورته ئے وویل دا څه دی ؟

نبی علیه السلام ورته وویل: صحی حال راته ووایه، ستا مقصد څه شے دے، د څه دپاره راغلے ئے؟ هغه ورته وویل زۀ درته رشتیا وایم پدے شرط چه ما ته امن راکړے ؟

نبی علیه السلام وفرمایل:

تا ته امن دے، بانډچی وویل ما ته ابوسفیان پیسے (روپئ) راکړی دی چه محمد (ﷺ) به قتل کړے۔ نو زۀ ستا د قتل دپاره راغلے یم۔ نبی علیه السلام ورته وویل چه تۀ په امن کی ئے۔ اُسید بن حضیر ته ئے وویل چه دا بند کړه او په کور کی ئے جیل ته واچوه دوه درے ورځے هغه سره بندی وو بیا ئے راوغوښتو او ورته ئے وفرمایل چه تا سره مونږ وعده کړے ده اګرکه تۀ د نبی علیه السلام د قتل په اراده راغلے ئے مګر تۀ آزاد ئے، چرته چه ځے لاړ شه۔

لیکن ددے نه ښه شے نۀ درښایم چه تۀ ایمان راوړے او ګواهی ورکړے د لا اله الا الله محمد رسول الله۔

نبی علیه السلام ورته دعوت ورکړو نو بانډه چی ایمان راوړو او کلمه د شهادت ئے وویله۔ او بیا ئے وویل : زۀ ګواهی کوم چه تۀ د الله رسول ئے قسم په الله اے محمد ! زۀ د هیچا نه نۀ یریدم خو کله چه ما ته ولیدلے نو زما عقل لاړو او کمزورے شوم بیا تۀ زما

ډ ارادے نـه خبـر شـوے حـال دا چـه دا نـهٔ کـومے قافلے والو تا ته راوړيده او نهٔ پرے زما نه ځوك خبر شـويـدی نو ما ته پته ولګيده چه تهٔ د الله د طرفنه محفوظ ئے، او تهٔ په حق باندے ئے، او د ابو سفيان ډله د شيطان ډله ده، نبی ﷺ ددهٔ په خبرو مُسکے شو۔

بيا دا اعرابی څه ورځو پورے هلته وو بيا ئے د نبی عليه السلام نه اجازه واخسته او د هغه د خوا نه ووتو او بيا ئے هيڅ خبر رانغلو۔

(السيرة النبوية لابن کثير ۳/۱۲۹)۔

نبی عليه السلام وفرمايل : ابو سفيان مونږ پسے کسان راليږی ددهٔ مرګ پکار دے۔

سيـدنـا عـمـرو بن اميه الضمری رضی الله عنه او د هغه ملګرے مکے ته ورسيدل، د مکے نه بهر ئے خپله اُوښه وتړله، ملګری ئے ورته وويل چه لاړ به شو طواف به وکړو بيا بـه چـرتـه ابـو سفيان ګورو، عمرو بن اميه خپل ملګری ته وويل چه ما ته يقين دے چه ابـو سـفـيـان او د مکے مشرکان د کعبے خواته مازيګر ناست وی، ګيونه لګوی که ورشو مـا پيـژنـی نـو نقصان به راکړی، ملګری پرے اصرار وکړو چه ورننوځو چه لاړل طواف ئے شروع کړو، دوی مسافر ښکاره کيدل، عمرو بن اميه پټ طواف کولو ليکن د مکے مشرکانو وپيژندلو۔

(مـعـاويـه بـن ابی سفيان) وويل چه دا خو زمونږ دشمن راغلے دے نو د مکے خلك په مـونږ پـو هـه شـو او دا ئے وويل چه عمرو د خير دپاره نهٔ دے راغلے، (ځکه چه عمرو بن اميه الضمری د جاهليت په زمانه کی په قاتل مشهور وو)۔

نـو دوی ورپسے را روان شـو، نـو عمرو بن اميه او ملګرے ئے وتښتيدل د مکے نه بهر لاړل چه شپـه شـوه يـو غـار تـه ننوتل۔ مشرکين ورپسے ګرځيدل پدے کی يو مشرك (عثـمـان بـن مـالك بن عبيد الله التيمی) راغے ددے غار خولے ته راورسيدو، د خپل اس دپاره ئے واښه پريکول، نو عمرو خپل ملګری (سلمه بن اسلم) ته وويل چه که دا سړے مـونږ ويـنـی نـو مـکے والا راباندے خبروی او هغوی خو زمونږ نه اوس جدا شوی دی نو هغه همداسے د غار خولے ته رانزدے کيدو تردے چه د غار دپاسه راوختو، نو عمرو بن اميـه ورپسے رابهر شو او په خپل خنجر سره ئے په سينه کی ووهلو نو هغه راپريوتو او چغـه ئے کـړه عـمـرو وائی زهٔ بيرته خپل غار ته ننوتلم او ما خپل ملګری ته وويل چه خوزيږه مهٔ،

نو مکے والا دے خپل سری تہ راجمع شو ورتہ ئے وویل : چا ووهلے؟ هغہ وویل : عمرو بن امیہ الضمری، ابوسفیان وویل: مونږ تہ پتہ وہ چہ عمرو د خیر دپارہ نۀ دے راغلے۔ لیکن سړے زر مړ شو دا طاقت ئے ونۀ لرلو چہ زمونږ ځای ورتہ وښائی۔ نو مشرکان زمونږ د طلب پہ ځای د هغہ پہ تجهیز او تکفین مشغولہ شو او مونږ پہ دغہ غار کی دوہ شپے تیرے کړے تردے چہ د مشرکانو طلب زمونږ نہ پہ آرام شو نو بیا مونږ تنعیم علاقے تہ راغلو۔

نو ما تہ خپل ملګری وویل : اے عمرو بن امیہ ! آیا خبیب بن عدی پسے نۀ ورځو چہ راکوز ئے کړو؟ ما ورتہ وویل : هغہ کوم ځای دے؟ هغہ وویل: پہ دغہ ځای کی دے پہ سولۍ شویدے او ګیر چاپیرہ د هغہ نہ مشرکان څوکیداری کوی۔

نو ما خپل ملګری تہ وویل چہ ما پریدہ او تۀ زما نہ جدا شہ ځکہ زۀ د څہ حالاتو نہ یریږم، تۀ لاړ شہ پہ اوښ سور شہ او رسول اللہ ﷺ تہ خبر ورکړہ او ما پریدہ ځکہ زۀ مدینے تہ پہ څہ چل در رسیدے شم ما تہ مدینہ معلومہ دہ۔

د خبیب رضی اللہ عنہ د بدن خوا کی مشرکانو څوکیداری کولہ او اُودۀ شوی وو، دے وائی زۀ ورغلم خبیب رضی اللہ عنہ مے د کجورے د تنے نہ راکوز کړو بالکل تازہ وو، ښکلی مزیدار وو، خوشبوئی ترے تللہ، پدے کی ما هغہ راواخستو ما لا شل ګزہ نۀ وو وړے چہ مشرکان پوهہ شو چہ سړے خو ئے رانہ ویوړو نو مشرکان ما ت، رانږدے شو نو ما خبیب رضی اللہ عنہ ګوزار کړو چہ ځان بچ کړم چہ ما کلہ ګوزار کړو نو اللہ تعالیٰ ورتہ زمکہ کولاوہ کړہ او تیرئے کړو دا وجہ دہ چہ خبیب رضی اللہ عنہ تہ بَلِیعُ الارض (زمکے تیر کړے) وائی۔ دا د مړګ نہ روستو کرامت دے۔

(پہ ژوند کی کرامت ددے دپارہ وی چہ دا بندہ پہ دین کلك شی او د مرګ نہ روستہ ددے دپارہ وی چہ ددۀ د نیك عمل نتیجہ وی او ددے مشهورول وی چہ دا د اللہ نیك بندہ وو لکہ د نجاشی بادشاہ د قبر نہ بہ رڼا ختلہ، د اُحد شهیدان (٤٨) کالہ روستو د قبر نہ راویستل شو او وینہ ترے روانہ وہ۔ نو خبیب رضی اللہ عنہ پدے طریقہ اللہ تعالیٰ د سولۍ نہ راخلاص کړو او زمکے تیر کړو۔

سیدنا عمرو بن امیہ الضمری رضی اللہ عنہ مدینے تہ راروان شو خلکو ورپسے ډیرہ منډہ ووهلہ لیکن آخر ددۀ نہ عاجز شو دے وائی زۀ راروان وم تردے چہ زۀ پہ ضجنان

مقام کې په یو غر کې یو غار وو هغې ته مې شپه یوړه نو زهٔ چه ورته داخل شوم نو پدې کې یو سړے د بنی الدیل نه کوړ سترګے راغے ګډے بزے ورسره وے، ما ورته ووئیل: څوك ئے؟ هغه ووئیل : د بنو بکر نه، ما ورته ووئیل : زهٔ د بنو بکر نه یم۔ ما ورته ووئیل : مرحبا، راځه۔ راننوتو ډډه ئے ووهله بیائے په خوږ آواز ووئیل: ۔

وَلَسْتُ بِمُسْلِمٍ مَا دُمْتُ حَيًّا	❁	وَلَا أَدِيْنُ دِيْنَ الْمُسْلِمِيْنَا

زهٔ چه ترڅو پورے ژوندے یم اسلام به قبول نکړم او نهٔ به د مسلمانانو دین ته ورشم۔

ما زړهٔ کې ووئیل چه زردے چه تا ته به پته ولګی، نو لږ ساعت روستو هغه اُوده شو، ما د لیندے یو طرف د هغهٔ په روغه سترګه کې ورننویستو او دپاسه پرے وځملاستم تردے چه قتل مے کړو۔ بیا په منډه روان شوم تردے چه نقیع مقام ته راورسیدم نو هلته مے دوه مشرکان ولیدل چه قریشو د جاسوسئ دپاره مدینے ته رالیږلی وو، ما ورته ووئیل: تسلیم شئ هغوی نهٔ تسلیمیدل نو یو مے په غشی ویشتو او په ځای مے قتل کړو او بل را ته تسلیم شو نو ما د خپلے لیندے په رسۍ باندے وتړو او مدینے ته مے راوستو، دا ډیر پهلوان صحابی وو،

هرکله چه زهٔ مدینے ته راغلم د انصارو ماشومانو لوبی کولے نو د مشرانو نه ئے واوریدل چه دا دے عمرو بن امیه الضمری راغے نو ماشومانو نبی علیه السلام ته ورمنډه کړه او خبر ئے ورکړو ما ځان سره دغه مشرك لاس تړلے روان کړے وو زهٔ چه کله رسول الله ﷺ ولیدم نو وے خندل ډیر خوشحاله شو او ما ته ئے د خیر دعا وکړه۔ او ددهٔ ملګرے ددهٔ نه درے ورځے مخکی مدینے ته رارسیدلے وو۔

(السيرة النبوية لابن كثير ۳: ۱۲۹)



د بئر معونه د غم نه ډکه واقعه

نزدې په همدې میاشت د صفر څلورم کال د هجرت کی بله واقعه راغله چه هغې ته د بئر معونه واقعه وائی، دا د اُحد د غزا نه څلور میاشتې روسته راغله. نبی علیه السلام پدې واقعه ډیر خفه شوې وو،

هغه دا چه د بنو عامرو یو سړې راغې ابوبراء د هغه کُنیه وه عامر بن مالك ئې نوم وو، مُلاعِبُ الْاَسِنَّه ئې لقب وو یعنی د نیزو سره لوبی کونکې. دا د عامر قبیلې مشر او رئیس وو، مدینې ته راغې رسول الله ﷺ سره ئې ملاقات وکړو، نبی علیه السلام ورته دعوت ورکړو نو هغه ایمان رانهٔ وړو او د اسلام نه ئې نفرت هم ونکړو، درمیانه حالت ئې اختیار کړو، دهٔ نبی علیه السلام ته ووېل چه ستا یو څو ملګری د نجد خلکو ته ولېږه هغوی ته به دعوت ورکړی کیدې شی چه الله تعالیٰ په هغوی کی خیر واچوی.

نبی علیه السلام ورته وفرمایل: چه زمونږ او د نجد والو ترمینځ څه قبیلې دی زمونږ او د هغوی ترمینځ دشمنی ده، داسې نهٔ چه زمونږ دا ملګری قتل کړی.

نو دې ابو البراء عامر بن مالك ورته ووېل :وَاَنَا لَهُمْ جَارٌ).

زهٔ به د دوی لپاره ذمه واریم یم، زهٔ به پناهی ورکړم، دوی ته څوك څه نشی وئیلې د هغه زمانې عادت وو چه یو سړی ته به چا پناهی ورکړه نو چا به ورته څه نهٔ ویل، د هغه سړی د وعدې او د پناهئ لحاظ به ئې کولو.

نبی علیه السلام اویا کسان تیار کړل چه ډیر پکی اصحاب صفه وو.

(اصحاب صفه هغه مسافر صحابه کرام وو چه دین ئې زده کولو او مسجد نبوی کی اُوسیدل، ډیر نیکان خلك وو) اصحاب صفه ئې تیار کړل او څه انصار صحابه وو، دا ئې ولیږل چه بنو عامر، بنو سلیم او غطفان قبیلو ته به ورځی او دعوت به ورکوی، دوی ته ئې توری ورکړی ځکه هغه وخت کی چه به څوك د دعوت دپاره تللو نو توره به ئې هم ځان سره وړله دا اویا صحابه کرام وو، د قرآن کریم قاریان وو، ډیر اُوچت خلك وو، د مسلمانانو سرداران وو،

دوی روان شو چهٔ د ورځی به ئې لرګی راوړل او په هغې به ئې د اهل صفهٔ دپارهٔ طعام

اخستلو او خپل مینځ کی به ئے قرآن لوستلو او د شپے به ئے مونځونه کول۔
دوی روان وو تردے چه بئر مَعُونه ته ورسیدل چه دا د بنو عامر او د حره د بنو سلیمو ترمینځ زمکه ده او هلته چینه ده، نبی علیه السلام ورته خط ورکړے وو چه عامر بن الطفیل ته ئے ورکړی چه دا د بنو عامر بل مشر وو، دے صحابه کرامو دوه کسان د خپلو اُوښانو د څرولو دپاره پریښودل چه یو پکی عمرو بن امیه الضمری رضی الله عنه وو او دویم مُنذر بن عقبه وو۔ ددے صحابه کرامو مشر منذر بن عمرو انصاری نجاری وو، پدے کی دوی حَرَام بن مِلْحان (د ام سُلیم رضی الله عنها ورور) وړ ولیږلو چه عامر بن طفیل ته د رسول الله ﷺ خط ورکړی، هغه خط ورکړو نو عامر خط ته ونهٔ کتل او یو سړی ته ئے اشاره وکړه چه دا سړے ووهی نو یو کس راغے او حرام بن ملحان رضی الله عنه ئے په نیزه په خیټه کی ووهلو او دے ناخبره وو هرکله چه حرام بن ملحان رضی الله عنه وینه ولیدله نو وے فرمایل : (اَللّٰهُ أَكْبَرُ فُزْتُ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ)۔
الله ډیر لوی دے، زهٔ کامیاب شوم، زما دے قسم وی په رب د کعبه باندے)۔
(مشرکین حیران شو چه مونږ مړ کړو او دے وائی چه زهٔ کامیاب شوم، ځکه چه شهادت لویه کامیابی ده او د انسان ټول کوشش هم ددے دپاره وی چه الله ترے رضا شی او په نتیجه کی ورته جنت ملاؤ شی)
دا صحابی ئے شهید کړو، عامر بن طفیل سمدست بنی عامرو ته اعلان وکړو چه راجمع شئ او ورشئ دا باقی (٦٧) کسان هم قتل کړئ، بنو عامرو ورته وویل چه دوی ته خو عامر بن مالك پناه ورکړیده مونږه ئے نهٔ وژنو، نو دوی ئے خبره ونهٔ منله، نو عامر بن طفیل نورو قبائلو ته آواز وکړو۔ رِعل، ذَکوان او عُصَیه چه دا د بنو سُلیمو وړے قبیلی دی، دوی ورله خبره ومنله نو راجمع شو توری ئے راواخستے، عامر بن طفیل ورسره وو او ددے صحابه کرامو نه ئے گیره واچوله او د دوی سره ئے جنگ شروع کړو، صحابه کرام لږ وو او کافران زیات وو، دا ټول صحابه کرام ئے په شهادت ورسول، صرف یو صحابی بچ شو کعب بن زید بن نجار چه دا زخمی شو د شهیدانو په مینځ کی پروت وو، د مشرکانو خیال وو چه دا هم مړ دے لیکن زخمی وو، د زخم په حالت کی وو چه شپه شوه مدینے ته راغے، بیا الله تعالیٰ روغ کړو ژوندے وو تردے چه لږه زمانه روسته د خندق په غزا کی شهید شو۔

ددے صحابه کرامو سره دے قوم ظلم او دوکه وکړه ابوبراء عامر بن مالك غدر او دوکه ونکړه لیکن دے قوم غلطی وکړه ځکه د استازو او سفیرانو وژل نشته لیکن کافر د لوظ لحاظ نهٔ ساتی۔

پدے کې عمرو بن امیه او مُنذر بن عقبه بن عامر چه د اُوښانو د حفاظت او څرولو دپاره ئے پریښې وو هغوی مرغان ولیدل چه د دغه واقعے د ځای نه ګیر چاپیره تاویږی راتاویږی نو دوی پوهه شو چه مرغان یا په اُوبو ګرځی یا چه په کوم ځای کی حیوان یا انسان مړ شی هلته تولیږی نو دوی د غره نه راکوز شو چه وے کتل ټول مړی پراته وو شهیدان شوی وو، دوی خپل مینځ کې مشوره وکړه چه څه کوو، منذر بن عقبه بن عامر وویل زهٔ نهٔ ځم دا کسان شهیدان شو د الله په لاره کی زهٔ دا نهٔ غواړم چه زهٔ لاړ شم، زهٔ دا غواړم چه نبی علیه السلام ته الله تعالیٰ زمونږ د شهادت خبر ورکړی، دے راکوز شو یواځے ئے جنګ شروع کړو او شهید شو۔

عمرو بن امیه الضمری پاتی شو هغه ئے ونیولو او قیدی ئے کړو ځان سره ئے بوتللو او عامر بن طفیل چه د الله دشمن وو هغه واخستو تپوس ئے ترے وکړو چه تهٔ د کومے قبیلے ئے؟ هغه وویل زهٔ د مضر قبیلے نه یم نو عامر بن طفیل وویل دا خو ناشنا کار وشو زما مور نذر منلے دے چه زهٔ به د مضر قبیلے یو غلام آزادوم او د ضمره قبیلے نه به ئے آزادوم، ځه تهٔ غلام ئے او مونږ آزاد کړے، سرئے ورله وخرولو او آزاد ئے کړو د هغه ځای نه راروان شو،

نبی علیه السلام ته خبر ورکوی چه داسے واقعه وشوه ملګری ټول شهیدان شو، مګر الله رب العزت خپل نبی ته د مخکې نه خبر ورکړے وو۔

بعض سیرتونو کی دی چه په یوه شپه ورته خبر راورسیده د هغه لسو کسانو د خبیب او عاصم بن ثابت او ددے اویا صحابه کرامو نو دوه غمه پرے راغلل او بعض وائی چه هغه خبر مخکی وو او دا روسته وو، او مینځ کی ئے پنځه ورځے تیرے شوے وے، د الله رسول ډیر غمژن شو،

عمرو بن امیه چه په لاره راتللو قَرقَره علاقے ته راورسیدو یو ځای کی ئے دمه وکړه، ډیر خفه ناست وو، دوه کسان راغلل چه د بنو عامرو نه وو، تپوس ئے ترے وکړو، هغوی وویل مونږ د بنو عامرو نه یو، ګپ شپ ئے ورسره شروع کړو، اعتماد ئے پیدا شو دا دواړه

اُودۀ شو عمرو بن امیه راغے توره ئے راواخسته، دواړه ئے مړه کړل ګمان ئے دا وو چه ما د هغه بنو عامرو نه بدله واخسته خوشحاله شو لیکن دے کسانو ته نبی علیه السلام امن ورکړے وو،

دا نبی علیه السلام ته راغلو ټوله قیصه ئے ورته بیان کړه او ددے دوه کسانو د مرګ قیصه ئے هم ورته وکړه، نبی علیه السلام پدے اویا کسانو ډیر غمژن شو، دومره اویا کسان په یو ځای ئے د اُحد نه روسته نۀ وو وژل شوی هغه که مړۀ وو نو په جنګ کښ او دا کسان په دوکه مړۀ شول پدے وجه دا ډیره لویه سانحه او حادثه وه۔

نبی علیه السلام دومره غمژن وو چه دیرش ورځے پرله پسے ئے په پنځه واړه مونځونو کښ قنوت نازله وئیلو۔ (قنوت نازله کفارو ته ښیری کول دی، دا کار اُوس هم سنت دے په پنځو مونځونو او په وترو کښ هم شته لکه مصنف عبد الرزاق رقم (۴۹۹۲) کښ حدیث راغلے دے)۔

نبی علیه السلام به ویل : [وَعُصَيَّةُ عَصَتِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ]۔

عصیه قبیلے د الله او د رسول نافرمانی کړیده۔

[اَللّٰهُمَّ الْعَنْ رِعْلًا وَذَكْوَانَ]۔ اے الله ! په رعل او ذکوان قبیلے لعنت وکړه۔

نو الله تعالیٰ ددے صحابه کرامو په باره کښ قرآن هم نازل کړو چه روسته ئے تلاوت منسوخ شو چه دا کسان جنت ته لاړل او دا ئے وویل:

[بَلِّغُوْا عَنَّا قَوْمَنَا اَنَّا لَقِيْنَا رَبَّنَا فَرَضِيَ عَنَّا وَرَضِيْنَا عَنْهُ]۔

زمونږ قوم ته دا ورسوئ چه زمونږ د خپل مولیٰ سره ملاقات وشو، هغه زمونږ نه راضی مونږ د هغه نه راضی شو۔

ددے آیت الفاظ منسوخ شویدی او په حدیث کښ دا الفاظ موجود دی۔

دغه دوه کسان چه عمرو بن امیه ضمری په غلطئ وژلی وو، نبی علیه السلام بنو عامرو ته جواب ولیږه چه دغه دوه کسان په غلطئ سره وژل شویدی مونږ به تاسو ته ددے دیت درکړو۔

(دا پدے دلیل شو چه اسلام کښ د وعدے ډیر اهتمام دے، بنو عامر کافر دی او (۶۹) صحابه کرام ئے شهیدان کړیدی، نبی علیه السلام د هغه دوه کافرو د مرګ دیت ورکوی پدے وجه چه ددے واقعے نه ئے مخکښ ورسره وعده کړے وه، ددے نه په اسلام کښ

د وعدے د پابندئ اهمیت معلوم شو، ګنے نبی علیه السلام ورته وئیلے شو چه تاسو زمونږ یو کم اویا کسان شهیدان کړل او مونږه درله دغه مرۀ کړل او نور به ګورو لیکن د الله نبی د دهوکے په مقابله کی دوکه نۀ کوله. نبی علیه السلام به فرمایل: [لَا تَغْدِرُوْا]۔ دوکه مۀ کوئ۔ (مسند احمد ۲۷۲۸ باسناد حسن لغیره)

د نبی علیه السلام د قتل اراده - او غزوه د بنی النضیر

پدے وخت کی نبی علیه السلام سره دوه اُوښان نۀ وو چه بنو عامرو ته دیت ورکړی، نو نبی علیه السلام صحابه کرامو ته وویل چه لاړ به شو د یهودو نه به قرض اُوښان واخلو او دیت کی به ئے ورکړو، دوی بنو نضیرو ته ورغلل، یو ددے دپاره چه قرض ترے واخلی بل د دوی سره ئے وعده وه چه د یو بل مدد به کوو۔

نبی علیه السلام د یو څو صحابه کرامو سره ورغلو چه سیدنا ابوبکر او عمر رضی الله عنهما هم ورسره وو، بنو نضیرو ته ئے وویل چه عمرو بن امیه ضمری (رضی الله عنه) په غلطئ سره دوه کسان د بنو عامرو نه وژلی دی، مونږ هغوی ته دیت ورکوو تاسو مونږ ته قرض راکړئ چه دغه دیت پرے خلاص کړو۔

بنو نضیرو وویل صحی ده۔ نبی علیه السلام د یو دیوال د سُورئ لاندی کیناستۀ، یهودو خپل مینځ کی مشوره وکړه چه د ژرندی پَل به راواخلو او پدے پیغمبر به ئے وروغورځوو نو ځان به ترے خلاص کړو ځکه چه ډیر نزدے راغلے دے، یو یهودی عمرو بن جحاش وویل دا کار به زۀ وکړم، نو یو یهودی (سَلام بن مِشْکم) ورته وویل داسے خبره مۀ کوئ دے پیغمبر ته به الله تعالیٰ خبر ورکړی ځکه دا حق رسول دے بیا به مو نۀ پریدی، او بله دا چه دے سړی سره تاسو وعده کړے ده چه څه به درته نۀ وایو پدے کی خو د وعدے ماتول راځی، بنو نضیرو ورته وویل چُپ شه، سړے وژل غواړی نۀ لوظ ته ګورو او نۀ الله خبر ورکوی. نو دوی شروع شو یو کاڼړے ئے خیژولو.

د سیرت په کتابونو کی دوه قوله راغلی دی یو دا چه پدے یهودو کی یوه مسلمانه ښځه وه هغے یو سړے راولیږلو چه نبی علیه السلام ته خبر ورکړه او دا خبره لرہ بعیده

دہ۔ صحی دا ښکاري چه الله تعالیٰ جبریل علیه السلام راولیږلو او نبی علیه السلام ته ئې خبر ورکړو چه دے یهودیانو ستا د قتل غلطه اراده کړے ده۔

نبی علیه السلام باندے رعب او وَرهم رانغلو بلکه په وقار سره د دغه ځای نه راپاڅیدو روان شو، صحابه کرام په ځای ناست وو، نبی علیه السلام روان شو لاړو، د صحابه کرامو دا گمان وو چه نبی علیه السلام د قضاء حاجت دپاره لاړو، پدے کی نبی علیه السلام مدینے ته ورسیدو صحابه کرام هم پو هه شو چه نبی علیه السلام خو په قضاء حاجت دومره وخت نهٔ تیروی معلو میږی چه مدینے ته تللے دے، صحابه کرام هم روان شو او مدینے ته لاړل، نبی علیه السلام ته ئې وویل یا رسول الله! تا خو مونږ ته هیڅ خبر رانکړو او همداسے راغلے نبی علیه السلام ورته وویل چه جبریل ما ته راغے او خبر ئې راکړو چه یهودیان ستا د قتل اراده لری نو بنو نضیرو عهد (لوظ) مات کړو ځکه کفار چه د مسلمان په ملك کی وسیږی یو شرط دا دے چه مسلمان به نهٔ وژنی، دویم د مسلمانانی ښځے سره به زنا نهٔ کوی، دریم دا چه داسے لباس به نهٔ جوړوی چه د مسلمانانو په شان وی او د مسلمانانو سره ئې فرق نهٔ کیږی۔ نو پدے کار سره د دوی لوظ مات شو۔

نبی علیه السلام وریسے سیدنا محمد بن مسلمه رضی الله عنه ورولیږه چه ورته ووائی چه اے یهودو! د مدینے نه وځئ او ستاسو دپاره لس ورځے نیټه شوه، تاسو قاتلان او دوکه کونکی مفسدان یئ، که ددے نه روستو ځوك په مدینه کی ومونده شو زهٔ به ئې ختپ وهم۔

دا د نبی علیه السلام رحم وو گنے د دوی قتلول پکار وو، هغوی ته چه دا خبر ورسیدو رعب پرے راغے اراده ئې وکړه چه د مدینے نه وځو ځکه د مسلمانانو سره مقابله نشو کولے، نو د سفر اراده ئې وکړه۔ یهود ډیر بزدله وو د جنگ او د گوزار نهٔ وو صرف فسادونه او مشورے او حیلے د دوی کار وو۔

پدے وخت کی عبد الله بن ابی ابن سلول منافق ورغلو او بنو نضیرو ته ئې وویل چه په یوه دهمکئ باندے ښنگه اُوځئ زهٔ ستاسو ملگرے یم، د مدینے نه مهٔ اُوځئ که تاسو سره جنگ کیدو مونږ به ستاسو ملگرتوب کوو او که تاسو وتلئ مونږ به هم درسره وځو او ستاسو په مقابله کی به د محمد رسول الله تابعداری هیڅکله نهٔ کوو،

منافق همدے ته وائی چه د محمد رسول الله ﷺ په مقابله کی د بل چا تابعداری کوی۔ او دا ئے ورته وویل چه ما سره دوه زره کسان دی چه هغوی به تاسو سره ستاسو قلعه ګانو ته ننوځی او هغوی به ستاسو نه مخکی مری، او تاسو سره به بنو قریظه او د هغوی حلفاء د غطفان قبیلے هم مدد وکړی۔

حُیَیٰ بن اخطب یهودی چه روسته د رسول الله ﷺ سخر هم جوړ شویدے ددهٔ د ابن سلول منافق په خبره کی طمع پیدا شوه نودهٔ وویل نهٔ وځو بلکه جنګ کوو ځکه بنو نضیر ډیر خلك وو او مالداره هم وو نو نبی علیه السلام ته ئے جواب راولیږه چه مونږ نهٔ وځو نوره ستا خوښه ده چه څه کوے وکړه۔

نو رسول الله ﷺ الله اکبر وویلو او صحابه کرامو هم الله اکبر وویلو ځکه دے وخت کی جهاد ډیر ګران وو ځکه ددینه مخکی صحابه کرامو ته تکلیف رسیدلے وو ځکه اُحد کی ئے شهیدان ورکړی وو۔ په رجیع کی لس کسان او په بئر معونه کی تقریباً اویا کسان صحابه کرام شهیدان شوی وو۔ نو صحابه کرامو وویل چه مونږ به قتال کوو چه هر څه کیږی، د جنګ نه خلاصے نهٔ وو ځکه چه یهودو ډیر غټ جرم کړے وو چه د نبی علیه السلام د وژلو پروګرام ئے جوړ کړے وو۔ نو ددے په نتیجه کی د بنو نضیرو غزا راغله۔

د بنو نضیرو سره غزا

نو نبی علیه السلام وویل چه ځانونه تیار کړئ په بنو نضیرو حمله کوو، په مدینه باندے ئے عبد الله بن ام مکتوم امام پریښودو، او جنډه ئے سیدنا علی بن ابی طالب رضی الله عنه ته ورکړه۔ صحابه کرام روان شو په بنو نضیرو باندے ورغلل، بنو نضیرو ډیرے غټے قلعه ګانی جوړی کړے وے نو په دغه قلعه ګانو کی پټ شو او دروازی ئے په ځان پسے بندے کړے او ځان سره ئے خوراك جمع کړے وو، (٦) شپږ ورځے محاصره وو، په بعض روایتونو کی راځی چه (١٥) ورځے محاصره وو، بنو نضیرو به د قلعه ګانو نه غشی او کانړی ویشتل او پدے کی د دوی کجوری او باغونه ډیر مددګار وو ځکه چه هغه ئے مخے ته وو۔

نونبی علیه السلام صحابه کرامو ته امر وکړو چه د دوی کجوری وسیزئ ځکه په کجورو دوی ډیر خفه کیدل ځکه چه کجوره د ډیرو کلونو نه روسته میوه ورکوی۔
صحابه کرامو کجوروته اُور واچولو نو بنو نضیر پدے باندے ډیر زیات خفه شو ځکه ډیره خواری ئے کړے وه، د مشرانو نه ورته پاتی وے۔
پدے باره کی سیدنا حسان بن ثابت رضی الله عنه دا شعر ووئیلو:

وَهَانَ عَلٰی سَرَاةِ بَنِیْ لُؤَیٍّ	❁	حَرِیْقٌ بِالْبُوَیْرَةِ مُسْتَطِیْرُ

د بنی لؤی په سردارانو باندے د بویره باغونو سیزل ډیر آسان وو۔ (بویره ددے باغونو نوم وو)
کله ئے چه کجوری وسیزلی منافقانو اعتراض وکړو چه تاسو د فساد نه منع کوئ او دلته مو فساد وکړو او یهودو هم دا وویل چه تاسو خو فساد وکړو، دے کجورو څه ګناه کړے وه پدے وجه الله تعالیٰ آیتونه راولیږل:
﴿مَا قَطَعْتُم مِّن لِّينَةٍ أَوْ تَرَكْتُمُوهَا قَائِمَةً عَلَىٰ أُصُولِهَا فَبِإِذْنِ اللَّهِ﴾ (الحشر:۵)۔
هغه چه تاسو پریکړے کجوره یا مو پریښودے چه ولاړی وی په خپلو بیخونو نو دا د الله په حکم سره وو۔
نو پدے کجورو سیزلو دوی ته ډیر زیات درد ورسیدلو او الله تعالیٰ پرے رعب راوستلو نو یهودو وویل چه مونږ تاسو ته ځان سپارو او راکوزیږو۔ نبی علیه السلام ورته وویل تاسو به د مدینے نه وځئ او تاسو ته اجازه ده چه د یو اُوښ سامان ځان سره وړلے شئ او ماشومان او اهل بوتللے شئ صرف اسلحه به نۀ وړئ نو دوی روان شو د مدینے نه ووتل۔ په خپلو لاسونو باندے ئے کورونه ورانول دے دپاره چه د هغے نه دروازی او کړکئ ویسی بلکه بعضو پکی میخونه او د چتونو ستنے په اُوښانو باندے بار کړے او په شپږ سوه اُوښانو ذلیله او رسوا روان شول۔
منافقان هم ډیر ذلیله او خجالته شو چه د هغوی حال الله تعالیٰ په قرآن کریم سورة الحشر کی بیان کړیدے چه دوی کوم لوظ د بنو نضیرو سره کړے وو چه مونږ به ستاسو مدد کوو او که تاسو ویستلے شوئ نو مونږ به هم ستاسو سره وځو او ستاسو په خلاف به د هیچا خبره نۀ منو۔ دا لوظ ئے پوره نکړو۔
او د دوی نورو ملګرو یهودیانو (بنو قریظه) او دغه شان د دوی حلفاء د غطفان قبیلے

هم ورسره مدد ونکړو۔

د دوی نه پاتې شوی اسلحې: (۵۰) پنځوس زغرې (۳٤۰) توری او (۵۰) پنځوس خودونه (د وسپنې ټوپۍ) وې او نور مالونه او زمکې ترې پاتې شوې۔ دوی کې څه یهودیان شام ته او څه خیبر ته لاړل، د دوی مشران حیی بن اخطب یهودی او سلام بن ابی الحقیق خیبر ته لاړل او د یهودو بنو قریظو سره یوځای شو او بیا به ئې د هغه ځای نه وخت په وخت خپل ضدونه او حسدونه رابنکاره کول چه بیا الله تعالیٰ هلته هم ذلیل کړل۔ په غزوه خیبر کې به ئې تفصیل راشي ان شاء الله الرحمن۔

دوه کسانو پکې ایمان راوړو یامین بن عمرو او ابو سعد بن وهب (رضی الله عنهما) نو د دوی مالونه محفوظ کړے شول۔

د بنو نضیرو دا مالونه خالص د رسول الله ﷺ وو لکه چه الله تعالیٰ فرمایلي دي۔ ځکه چه صحابه کرامو په هغې باندې اَسونه او اُوښان نۀ وو زغلولي او بغیر د جنګ نه هغه حاصل شو، رسول الله ﷺ ته الله تعالیٰ اختیار ورکړے وو چه دا مالونه کوم ځای استعمالوي او چاله ئې ورکوي خوښه ئې ده۔ نو رسول الله ﷺ به د هغې نه د یو کال نفقه خپلو بیبیانو ته ورکوله، او کوم چه به باقي پاتې شو هغه به ئې په بیت المال کې جمع کړل او په هغې به ئې وسلې او اسونه د جهاد دپاره اخستل، او څه مالونه ئې خالص د اولنو مهاجرینو ترمینځ تقسیم کړل۔ صرف دوه انصارو (ابودجانه او سهل بن حنیف رضی الله عنهما) ته ئې هم ترې څه حصه ورکړه ځکه چه دا دواړه فقیران وو۔ ددې نه ئې خُمس هم ورنکړو۔

دا غزوه د هجرت په څلورم کال د ربیع الاول میاشت، موافق اګست (٦۲۵ء) کې وشوه۔

دویم سبب

په سنن ابی داود او په سنن کبریٰ د بیهقیؒ او مصنف عبد الرزاق کې په صحیح سند سره ددې غزا یو بل سبب ذکر شوېدې هغه دا چه: هرکله د بدر غزا وشوه نو قریشو کافرانو د بدر د غزا نه روستو یهودیانو ته خط ولیکلو چه تاسو د وسلو او د قلعه ګانو والا خلك یئ نو تاسو به زمونږ ددې صاحب (محمد) سره جنګ کوئ یا به مونږ تاسو سره داسې داسې وکړو، او زمونږ او ستاسو د ښځو د پانزیبونو ترمینځ به

هیڅ شے مانع نهٔ وی۔ (یعنی ستاسو د ښځونه به پانزیبونه وباسو) حمله به دربانده وکړو، هرکله چه د دوی دا خط یهودیانو ته راورسیدو نو بنو نضیرو د غدر او د دهوکے عزم وکړو نو دوی نبی علیه السلام ته جواب ولیږلو چه تهٔ مونږ ته په دیرش ملګرو کی راوځه او مونږ به په دیرش علماؤ کی در وځو او په فلانی ځای کی به ملاقات وکړو چه درمیانه ځای وی نو دوی به ستا خبرے واوری، که دوی ستا تصدیق وکړو او په تا ئے ایمان راوړو نو مونږ ټول به ایمان راوړو، نو نبی علیه السلام د دیرش صحابه کرامو سره راووتو او دے طرفنه دیرش یهودیان علماء راووتل، کله چه دوی یو کولاؤ میدان ته راغلل نو بعض یهودیانو نورو ته وویل چه تاسو به دے پیغمبر ته څنګه ورسیږئ حال دا چه هغه د خپلو دیرشو ملګرو په مینځ کی دے (یعنی هغه خو تاسو نشئ وژلے) هریو په دوی کی دا خوښوی چه دهغه نه مخکی مړ شی۔ نو د نبی علیه السلام پسے ئے جواب ولیږلو چه مونږ او تاسو به خپل مینځ کی څنګه پوهه شو حال دا چه مونږ شپیته کسان یو؟، تهٔ هم په درے کسانو کی راوځه او زمونږ درے علماء به تا ته در وځی او ستا خبره به واوری که هغوی ایمان راوړو مونږ ټول به ایمان راوړو او ستا تصدیق به وکړو نو نبی علیه السلام د درے صحابه کرامو سره راوتو۔ نو یهودو ځان سره خنجرونه په څادرونو کی پټ تاؤ کړل او دوی اراده وکړه چه رسول الله ﷺ پدے سره قتل کړی،

نو د بنو نضیرو نه یوه خیرخواه زنانه خپل وراره ته جواب ولیږلو چه هغه د انصارو نه یو مسلمان سړے وو نو هغه ته ئے د بنو نضیرو د ارادے خبر ورکړو چه دوی د رسول الله ﷺ سره دوکه کول غواړی نو دهغے ورور په جلتئ راغے او نبی علیه السلام ئے رالاندے کړو او پټ ئے د یهودو ددے کار نه خبر کړو او نبی علیه السلام لا دوی ته نهٔ وو رارسیدلے، نو نبی علیه السلام د لارے نه بیرته واپس شو،

هرکله چه صبا له شو نو رسول الله ﷺ دوی پسے فوجونه راروان کړل او دوی ئے محاصره کړل او دا ئے ورته وفرمایل: زهٔ ستاسو نه په امن کی نهٔ یم مګر دا چه تاسو ما ته یو مضبوط لوظ راکړئ، نو هغوی د لوظ ورکولو نه انکار وکړو نو رسول الله ﷺ او د هغهٔ ملګرو د هغوی سره په دغه ورځ جنګ شروع کړو، بیا صبا له ئے په بنو قریظهٔ پسے اسونه او فوجونه وروستل او بنو نضیر ئے پریخودل او هغوی ته ئے دعوت ورکړو

چه ما سره لوظ او معاهده وکړئ نو هغوی ورسره معاهده وکړه چه یو بل ته به څه نهٔ وایو، نو نبی علیه السلام د هغوی نه راواپس شو، او په سهر کی ئے په بنو نضیرو پسے فوجونه بوتلل نو هغوی سره ئے جنګ وکړو تردے چه دوی پدے شرط راکوز شو چه ددے ملك نه به وځی او د دوی دپاره به صرف دومره مالونه وی چه یو اُوښ ئے وړے شی سوئ د وسلو نه. نو بنو نضیر راغلل او په اُوښانو باندے ئے خپل سامانونه او د کورونو دروازے او لرګی واچول او کورونه به ئے ورانول او د هغے نه به ئے لرګی اُوچتول او د دوی دا جلا وطنی اولنے حشر وو شام ته.

(سنن ابی داود: ٣٠٠٦، وصححه الالبانی والحاکم فی المستدرك ووافقه الذهبی ٢/٥٢٥) (٣٧٩٧)

قرآن کریم کی الله تعالیٰ فرمائی: که الله تعالیٰ په دوی باندے دا جلاوطنی نهٔ وے لیکلے نو دوی ته ئے په دنیا کی بل عذاب ورکولو لیکن په دنیا کی د دوی دپاره دا عذاب او ذلت کافی وو چه د خپلو علاقونه وشړل شو.

د بنی اسرائیلو د پیدائش د زمانے نه تر اوّسه پورے دوی د خپلو کورونو نه چا نهٔ وو شړلی دا ئے اولنے ځل وو چه د رسول الله ﷺ په لاس وشړل شو. یهود اُوس د مسلمانانو سره څکه دشمنی کوی چه زمونږ نبی شړلی دی.

د نجد غزا

ربیع الثانی یا جمادی الاولیٰ سنه (٤ هـ)

هرکله چه رسول الله ﷺ او مسلمانانو د بنو نضیرو نه مالونه او وسلے ونیولے نو الله تعالیٰ پدے سره د دوی مدد وکړو، په مدینه کی د دوی قوت نور هم مضبوط شو او منافقان هم د ډیرو چلونو نه بند شو نو رسول الله ﷺ د هغه بانډو والو د بیخ کندئ دپاره وزګار شو کومو چه د اُحد د غزا نه روسته مسلمانانو ته تکلیفونه ورکړی وو او د مسلمانانو سرې ئے په دهوکه وژلی وو.

د هجرت په څلورم کال د ربیع الثانی په میاشت کی نبی علیه السلام د نجد د غزا اراده وکړه چه دا کافران ذلیله شی. ددے غزا سبب دا وو چه د غطفان قبیلے یعنی بنو

محارب او بنو ثعلبه ؤ کفارو اراده وکړه چه په مدینه باندے حمله وکړی نو د دوی د حملے نه مخکی نبی علیه السلام د حملے اراده وکړه۔

په نجد کی غَطفان قبیله وسیدله، نبی علیه السلام په مدینه باندے سیدنا سِبَاع بن عُرُفُطَه صحابی رضی الله عنه امیر پریښودو او د مسلمانانو جنډه ئے سیدنا علی بن ابی طالب رضی الله عنه ته ورکړه۔ نبی علیه السلام نجد ته ورسیدو، د غطفان قبیلے خلک یوخوا بل خوا وتښتیدل، رعب پرے راغے، نبی علیه السلام سره زرو پورے صحابه کرام وو، څه وخت ئے تیر کړو، د عربو قبائل خبر شو چه نبی علیه السلام د خپلو ملګرو سره راغلے دے نو خلکو باندے د مسلمانانو رعب قائم شو، نبی علیه السلام واپس مدینے ته راغے۔

بعض خلک وائی چه غزوه د ذات الرقاع ئے وکړه خو دا خبره غلطه ده۔ غزوۂ د ذات الرقاع د خیبر د غزا نه روسته شویده ځکه چه هغے ته ابو هریره او ابو موسیٰ اشعری رضی الله عنهما حاضر شویدی او ابو هریره رضی الله عنه د خیبر د غزا نه لږ مخکی ایمان راوړیدے او ابو موسیٰ اشعری رضی الله عنه نبی علیه السلام ته په هغه وخت راغلو چه نبی علیه السلام په خیبر کی وو، بله دا چه په ذات الرقاع غزا کی نبی علیه السلام صلاۃ خوف کړیدے او هغه په پنځم کال وو د خندق د غزا نه روسته۔ (الرحیق)

غزوۂ بدر الصغریٰ۔ د بدر دویمه غزا۔
شعبان سنه (٤ هـ) موافق (٦٢٦م)

ددینه روسته بله غزا راغله چه هغے ته غزوه د بدر الصغری (د بدر وړوکے غزا) او غزوۂ بدر الآخرۃ (د بدر روستنۍ غزا) او غزوۂ بدر الثانیة (دویمه غزا د بدر) وائی۔

دا په څلورم کال د هجرت واقع شوے وه دا په اصل کی هغه وعده پوره کول وو چه ابو سفیان په اُحد کی ویلی وو چه زمونږ او ستاسو به په راتلونکی کال کی په بدر کی بیا جنګ وی۔ نبی علیه السلام د بانډ چیانو او خوا و شا کافرانو ازغی مات کړل او د مسلمانانو څه رعب د هغوی په زړونو پریوتو نو نبی علیه السلام بیرته د غټو دشمنانو سره د جنګ کولو دپاره ځان تیار کړو۔

په شعبان میاشت کې نبي علیه السلام یو نیم زر (۱۵۰۰) صحابه کرام ځان سره ملګري کړل او روان شو، د دوی سره لس اسونه وو او جنډه ئې سیدنا علي بن ابي طالب رضی الله عنه ته ورکړه او په مدینه باندې ئې خپل نائب سیدنا عبد الله بن روحه رضی الله عنه مقرر کړو. او بدر ته ئې ځان ورسولو چه دا د مدینې ته اویا کیلو متره وړاندې دې، په دوه درې ورځو کې ورته بنده رسي.

ابوسفیان خبر شو دوه زره کسان ئې ځان سره واخستل او پنځوس اسونه ورسره وو، نبي علیه السلام بدر ته ورسیدو هلته ئې د قریشو انتظار کولو، اته ورځې ئې هلته تیر کړې او تجارتونه ئې وکړل او ددېنه مخکې ئې په اعرابو او بانډو والو باندې په همدې غرض حمله وکړه چه مخه ځان ته آزاده کړي.

د مکې مشرکان راروان شو مرّ الظهران ته راورسیدل چه دا د مکې نه یو پړاؤ وړاندې علاقه ده. د مکې نه شمالي طرف ته دوه وبشت (۲۲) کیلو میټره وړاندې علاقه ده.

(المعالم الاثیرة في السنة والسیرة ۱/۲۱۶).

الله تعالیٰ د مشرکینو په زړونو کې رعب واچولو ابوسفیان چه د مکې نه راوتلو داسې سُست غونډې وو، د بدر د نوم نه یریدل ځکه مخکې ئې شکست خوړلے وو. د مر الظهران په خوا کې مَجنّه یوه چینه وه هلته ئې دمه وکړه، ابوسفیان خپل ملګري راجمع کړل او هغوی ته ئې وویل چه سږ کال جنګ مناسب نۀ دے ځکه چه بارانونه نشته، قحط دے، دا اُوښان به څه خوري، ګیا هګانې نشته نو دا جنګ به بل کال ته واړوو، ستاسو څنګه خیال ده؟ هغوی ټولو ووئیل چه صحي ده، هیچا هم پکې اختلاف ونکړو داسې ښکاریده چه د دوی د فوج په زړونو کې هم رعب ننوتے وو نو مکې ته ئې واپسي وکړه، بل طرفته د رسول الله ﷺ او د هغه د ملګرو د قوت شهرت وشو او په خوشحالئ سره بیرته مدینې ته واپس راغلل.



د دُومة الجندل غزا

ربیع الاول سنه (۵ هـ)

نبی علیه السلام ددې بدر نه روستو په مدینه کې شپږ میاشتې وسیدو چه په امن او سکون ئې ژوند تیرولو نو شپږ میاشتې روستو خبر راورسیدو چه دُومة الجندل علاقه کې (چه دا شام ته نږدې علاقه ده د مدینې نه ورته پنځلس ورځې مزل دې (٤٥٠) کیلو میټره فاصله وړاندې علاقه ده اُوس په سعودي عرب کې شمال طرفته په الجوف علاقه کې داخله ده).

مشرکان راجمع شویدي او په لاره کې ناست دي د مسلمانانو نه مالونه اخلي او ضررونه ورکوي،

نبی علیه السلام زر کسان ځان سره واخستل او په مدینه باندې ئې سیدنا سباع بن عُرفُطه غفاري رضی الله عنه امیر پرېښوده چه مونځونه ورکوي، او ځان سره ئې د بني عُذره نه یو تن د (مذکور) په نوم واخستو دې دپاره چه لاره ورته وښائي.

نبی علیه السلام پدې سفر کې دا طریقه اختیار کړه چه د ورځې به پټیدو او د شپې به ئې مزل کولو چه خلك ئې ونه ویني او په قوم باندې ناڅاپي په غفلت کې حمله وکړي تردې چه دُومة الجندل ته ورسیدو لیکن مشرکین پټ شوي وو نبی علیه السلام څه ورځې تیرې کړې، صحابه کرام ئې لس او پنځلس لیږل چه تاسو وګورئ چه دوی چرته پټ شوي دي لیکن د هغوی ځای ئې پیدا نکړو، کورونه ئې شاړ کړي وو، د هغه قوم ګډې بیزې اُوښان ئې ونیول او غنیمت ئې وګرځول او ډیر رعب ئې په هغوی باندې قائم کړو، په دغه علاقه کې یوه قبیله وه بنو فزاره ئې ورته ویل: مشر ئې عُیینه بن حصن فزاري وو هغه سره ئې صلحه وکړه چه یو بل ته به څه نه وایو.

د دومة الجندل یو مشر وو اُکیدِر دُومه د هغه سره ئې د غزوه تبوك نه روسته صلحه وکړه او جزیه ئې پرې مقرر کړه چه ددې بیان به روستو راشي ان شاء الله تعالیٰ.

نبی علیه السلام مدینې ته سالماً غانماً راواپس شو.

ددې نه روستو غټه معرکه چه واقع شوه هغې ته غزوه د احزاب او غزوه د خندق وائي.

غزوة الاحزاب یا -- غزوه د خندق

دے غزا تہ غزوة الاحزاب ځکه وائی چه د مسلمانانو په خلاف د مشرکینو مختلفے ډلے راجمع شوے وے۔ او غزوه د خندق ورته ځکه وائی چه د مدینے نه چاپیره ئے خندق کنستلے وو۔ ددے سره متصل غزوه د بنو قریظه واقع شوے وه۔

ددے غزا سبب دا وو چه نبی علیه السلام مدینه کی وسیدو نو کوم یهودیان چه د مدینے نه خیبر ته شړل شوی وو هغوی ویریدل چه دا پیغمبر خو دا علاقے فتح کوی او غلبه ئے زیاتیږی، نو دوی خپله کینه راښکاره کړه او همیشه ئے دا انتظار کولو چه کله به دا مسلمانان ختمیږی ځکه چه مسلمانان وخت په سکون او آرام او ترقئ کی وو نو یهودو دا نهٔ برداشت کول۔

نو د خیبر یهود راجمع شو، چه مشران ئے (حُیَی بن اَخطب او سَلّام بن ابی الحقیق) وو دوی ځان سره شل کسان ملګری کړل او مکے ته لاړل ابوسفیان او د مکے مشران ئے په دار الندوه کی راجمع کړل او دا ئے ورته وویل چه دا پیغمبر ورځ په ورځ ترقی کوی، دا مونږ ته هم خطر دے او تاسو ته هم خطر دے راځئ چه په یو ځل په مدینه حمله وکړو چه ختم ئے کړو، ابوسفیان ته ئے وویل چه تهٔ هم ځان او فوجونه تیار کړه او مونږ به هم فوج برابر کړو۔ او قریش خو د بدر د دویم جنګ نه روستو پاتی شوی وو نو موقعه ورته ملاؤ شوه چه بیرته خپل شهرت راواپس کړی۔

ددے نه روسته دا شل یهودیان لاړل غطفان قبیلے ته، هغوی ته ئے وویل چه مونږ سره ملګرتوب وکړئ چه په مدینه باندے حمله وکړو نو دوی ورسره موافقت وکړو، بیا د غطفان نورو قبیلو ته ورغلل یعنی بنو فزاره، بنو مُره، بنو سلیم او بنو اشجع وغیره دے ټولو ورسره موافقت وکړو، نور ډیر قبائل وو تردے چه لس زره فوج تیار شو، د جنوبی طرف نه قریش او کنانه او د هغوی حلفاء کوم چه په مکه کی وسیدل راروان شو چه مشر ئے ابوسفیان وو څلور زره کسان وو او بنو سلیم ورسره په مر الظهران کی ملاؤ شو، او د مشرقی طرف نه د غطفان قبیلے راغلے: بنو فزاره چه مشر ئے عُیَیْنَه بن حِصْن وو او بنو مُره چه مشر ئے حارث بن عوف وو او بنو اشجع چه مشر ئے مِسْعَر بن

رُحیله وو او دغه شان بنو اسد وغیره قبیلے راروانے شوے۔ دا ټول لس زره لوی فوج تیار شو، اراده ئے وکړه چه په مدینه حمله وکړی او یو خاص ورځ ئے وټاکله چه په هغه ورځ به حمله کوی۔

دا دومره لوی فوج وو چه په مدینه کی چه ټول سړی او ښځے او ماشومان او بوډاګان وو د هغوی نه هم په شمار کی زیات وو۔

دا لښکر لا د ځای نه نهٔ وو خوزیدلے چه رسول الله ﷺ ته د هغه استخباراتو او جواسیسو دا خبر راورسولو چه دا مشرکان په مدینه باندے حمله کوی،

نبی علیه السلام ملګری راجمع کړل او مشوره ئے ورسره وکړه چه څه کول پکار دی؟

صحابه کرامو مختلفے رائے ورکړے لیکن د سلمان فارسی رضی الله عنه په رایه باندے اتفاق راغے،

(د سلمان فارسی (۲۵۰ یا ۳۵۰) کاله عمر وو)

سیدنا سلمان فارسی ورته ووئیل چه زمونږ په فارس (ایران) کی عادت دا دے چه په مونږ باندے کوم قوم حمله کوی نو مونږ د خپل کلی نه چارچاپیره کنده (خندق) کنو نو دشمن په مونږ نشی راوړیدلے۔

دا طریقه د جنګ عربونهٔ پیژندله نو د نبی علیه السلام دا مشوره خوښه شوه، صحابه کرامو ته ئے حکم وکړو چه هر لس کسان به څلویښت ګزه اُوږد خندق کنی چه که اِس ورکوز شی چه بیرته نشی راختلے او دومره کولاؤ وی چه اَس پرے ټوپ نشی وهلے، ټول مسلمانان درے زره وو او هر لسو کسانو ته څلویښت څلویښت ګزه وسپارل شو نو دا ټول (٦) شپږ زره ګزه یا درے میله اوږد خندق وکنستل شو۔ (اطلس سیرت)

مدینه خو غته علاقه وه، د ټولے مدینے نه خندق کنستل ګران کار دے نو نبی علیه السلام د جنګ په امورو کی ماهر وو نو دا خندق ئے د هغه ځای نه چاپیره کړو کوم ځای کی چه د جنګ امکان وو، دوه ځایونه داسے وو چه د هغے نه ئے خندق وکنسته یو طرف ته بنو قریظه وو د هغوی سره ئے وعده وه او څه طرفونه داسے وو چه د هغے نه جنګ نهٔ کیده، نو جانب شمالی طرفته ئے خندق وکنسته او ښی طرف او ګس طرفته حره (خوړ) وو په هغے کی کانړی وو چه جنګ پکی نشو کیدے، یو طرفته حرة الواقم او بل طرفته حرة الوبره وه۔

نبی علیه السلام ملګرو ته امر وکړو چه شمالی طرفته دومره کنده وکنئ چه د یوے حرے (خوړ) نه د بلے حرے (خوړ) پورے وی. شا ته یوه بله لاره وه چه دشمن پرے راتلے شو لیکن په دغه ځای کي بنو قریظه پراته وو د هغوی سره وعده شوے وه چه که دشمن راتللو نو تاسو به مقابله کوئ او زمونږ ملګرتوب به کوئ او یو بل ته به ضرر نۀ رسوو.

رسول الله ﷺ او صحابه کرامو خندق وکنسته چه پدے باندے تقریباً میاشت تیره شوه، صحابه کرامو باندے پدے کی ډیر مشکلات راغلی دی یو دا چه دا د یخنئ زمانه وه، دویم دا چه فقر او غریبی او لوږه وه دا بل امتحان وو او یره هم وه،

بله دا چه په مدینه کی منافقان هم وو او بنو قریظه ؤ هم وعده ماته کړه نو یره نوره هم زیاته شوه بل دا چه دشمن ته پهره او څوکیداری کول وو، کورته هم نشو تللے نو د هر طرفنه پریشانی وه، بله دا چه مسلمانان کم هم وو صحابه کرام د سړو او زنانو سره درے زره کسان وو او مشرکین لس زره کسان وو ډیر خوفونه او یرے په مسلمانانو باندے راجمع شوے.

دخندق د کنستو په یوه ورځ رسول الله ﷺ راووتلو صحابه کرام ئے ولیدل چه مهاجرین او انصار ډیر په تکلیف کی وو، یخه یخنی وه،

رسول الله ﷺ دا کلمات وویل:

اَللّٰهُمَّ لَاعَیْشَ اِلَّا عَیْشُ الآخِرَة فَاغْفِرِ الْاَنْصَارَ وَالْمُهَاجِرَة.

اے الله! د مزو بل ژوند نشته ملګر د آخرت ژوند دے نو تۀ انصارو او مهاجرینو ته بخنه وکړه. مقصد دا چه اصلی زندګی خو د آخرت ده، دنیا فانی ده، دا داسے ده لکه د سره چه ژوند نۀ وی.

نبی علیه السلام دوی ته دعا وکړه او ترغیب ئے هم ورکړو چه د دنیا ژوند ختمیږی دا خوخه ژوند نۀ دے، د آخرت ګټه پکار ده. پدے سره د انصارو او مهاجرینو ډیره تسلی وشوه ځکه د رسول الله ﷺ دعا وه.

صحابه کرامو جواب ورکړو: ـ

نَحْنُ الَّذِیْنَ بَایَعُوْا مُحَمَّدًا	❀	عَلَی الْجِهَادِ مَا بَقِیْنَا أَبَدًا

مونږ هغه خلك یو چه د محمد رسول الله (ﷺ) سره مو بیعت کړیدے په جهاد

باندے ترخو چه مونږ ژوندی یو۔ دا جهادونه مونږ پدے نۀ پریدو چه لوږه یا سخته یا تکلیف راغلو بلکه مونږ دا وعده کړیده چه ترمرګه پورے به جنګیږو۔

سیدنا عبد الله بن رواحه رضی الله عنه اشعار ویلی وو رسول الله ﷺ به دغه شعرونه رانقل کول ځکه نبی علیه السلام خپله اشعار نشو ویلے:

اَللّٰهُمَّ لَوْلَا أَنْتَ مَا اهْتَدَيْنَا	❁	وَلَا تَصَدَّقْنَا وَلَا صَلَّيْنَا
فَأَنْزِلَنْ سَكِيْنَةً عَلَيْنَا	❁	وَثَبِّتِ الْأَقْدَامَ إِنْ لَاقَيْنَا
إِنَّ الْأُلٰى قَدْ بَغَوْا عَلَيْنَا	❁	إِذَا أَرَادُوْا فِتْنَةً أَبَيْنَا

○ اے الله که تۀ نۀ وے مونږ به هدایت نۀ وے موندلے، او نۀ به مونږ صدقه کړے وے او نۀ مونځ۔ ○ نازل کړه آرام په مونږ او مضبوط کړه قدمونه زمونږ که مونږ په جنګ کی ملاو شو۔ ○ دغه خلکو په مونږ باندے ظلم کړیدے کله چه دوی د فتنے اراده وکړی مونږ انکار کوو، شرك نۀ منو۔

دے آخری جملے ته به ئے زور ورکولو (يَمُدُّ بِهَا صَوْتَهُ، أَبَيْنَا أَبَيْنَا)۔ آواز به ئے اُوچت کړو چه نۀ منو، نۀ منو۔

نبی علیه السلام به په دے خندق کی خپله هم کار کولو، خاوری به ئے په خپله لمن کی نقل کولے۔ سیدنا براء بن عازب رضی الله عنه وائی: نبی علیه السلام دومره خاورے نقل کړے تردے چه د خیټی سپینه څرمنه ئے نۀ ښکاره کیدله د ډیرو خاورو په وجه۔

په صحابه کرامو لوږه هم راغله،

ابو طلحه رضی الله عنه فرمائی: مونږ رسول الله ﷺ ته د لوږے شکایت وکړو، مونږ خیټو پورے کانړی تړلی وو چه نبی علیه السلام مو ولیدلو په خیټه پورے ئے دوه کانړی تړلی وو۔

د کانړو تړلو فائده دا ده چه دا وتړی نو د لوږے په وخت کی د ملا د ماتیدو خطره نۀ وی بله دا چه پدے سره د لوږے هغه سوزش او تکلیف کم شی۔

صحابه کرام فرمائی: د مدینے نه به وربشے راوړل شوے هغه به مو تهکولے او د زیتونو د تیلو سره یا د وازدے سره به مو یو ځای کړے او بیا به مو خوړلے او هغه به هم ډیرے کمے د یو لپے په مقدار وے چه کله به مو خوړلے یو خو به زړے وے او بل دا چه د دغه وازدے د وجه نه به بدبویه هم وے)۔

د نبی علیه السلام معجزات ښکاره کیدل

مسلمانانو ته ډیر تکلیف وو، الله رب العزت غوښتل چه د مسلمانانو ایمان مضبوط او زیات شی نو د نبی علیه السلام معجزات ښکاره شو،

(۱) یوه معجزه دا ښکاره شوه چه جابر بن عبد الله رضی الله عنهما نبی علیه السلام ولیدهٔ چه ډیر وږے دے او تکلیف کی دے نو خپلے ښځے ته راغے وے ویل چه ما په نبی علیه السلام باندے د لوږے آثار ولیدل نو هغے دوه کیلو وریشے وړه کړلے او روټه ئے ترے پخه کړه او یو وړوکے چیلے ئے ذبح کړو۔ نبی علیه السلام ته ئے دعوت ورکړو چه ته هٔ راشه او یو څو صحابه کرام۔ نو نبی علیه السلام په اُوچت آواز وویل:

يَا أَهْلَ الْخَنْدَقِ اِنَّ جَابِرًا صَنَعَ لَكُمْ سُوْرًا)۔

اے خندق والو جابر تاسو ټولو ته د ډوډئ دعوت درکړیدے۔ یو خو رسول الله ﷺ په اُوچت آواز خبرے وکړے او بل ئے په فارسی باندے خبرے وکړے، امام بخاری دا حدیث راوړیدے چه په بله ژبه کی خبرې کول په جهاد کی جائز دی۔ (سور په فارسی ژبه کی طعام ته وائی)۔

سیدنا جابر رضی الله عنه خپلے بی بی ته په منډهٔ راغے چه ما خو یو یا دوه کسانو ته وویل او نبی علیه السلام ټول فوج راپسے راوستلو (چه دا زر کسان وو) نو د هغه ښځه ډیره ایمانداره او هوښیاره وه، هغے وویل : الله او رسول ښه پو هیږی چه ټول صحابه ئے راوستل الله تعالیٰ به ئے مړوی۔ پدے کی ټول خندق والا د جابر کور ته راغلل،

نبی ﷺ جابر ته وویل چه کټوئ مه راکوزوئ او ډوډئ د تنور نه مهٔ رااُوباسئ تردے چه زهٔ درشم نو نبی علیه السلام راغے، دم ئے پرے واچولو، اذکار شرعیه ئے وویل او په کټوئ کنی ئے لارے تو کړے، الله پکی دومره برکت واچولو چه نبی علیه السلام به غوښه د کټوئ نه راخسته او په ډوډئ به ئے ایښوده او د تنور نه به ئے ډوډئ راخستلے او لس لس کسان صحابه به ئے کینول تردے چه هر یو ملګری ته ډوډئ او غوښه او ښوروا هرڅه ورسیدل او ټول پرے ماړهٔ شول۔

الله تعالیٰ پدے وړوکی چیلی او په دغه دوه کیلو وربشو کی دومره برکت واچولو

چه تول ملګری پرے ماړه شول، جابر رضی الله عنه فرمائی چه ما دے کتهوئ ته وکتل د ډکوالی د وجه نه تویدله هیڅ کمے پکی رانغلو او وړهٔ همغه شان پاتی وو چه ډوډئ به ترے پخیدلے دیته معجزه وائی۔

معجزه د رسول الله ﷺ د لاس نه ناشنا کار صادریدلو ته وائی چه نور خلك ترے عاجزه وی او دغه کار نشی کولے، دا معجزه الله تعالیٰ ځکه ورکړه چه مسلمانانو د الله دپاره سخته تیره کړه نو راحت ورته ملاؤ شو۔

دویمه فائده دا ده چه ایمان ئے مضبوط شی چه کله سخته راشی د نیکانو کرامتونه ښکاره کیږی۔

بعضی تاریخونو کی دا هم راغلی دی چه نبی علیه السلام دے ګډے ته چه ذبح شوے وه امر وکړو چه راپاڅه د الله په حکم نو هغه راژوندئ شوه او د جابر رضی الله عنه په کور کی اُوسیدله، مړی د نبی علیه السلام په لاس راژوندی شویدی لکه د عیسیٰ علیه السلام په لاس به هم راژوندی کیدل۔

دا خبره سبل الهدیٰ والرشاد د صالحی لیکلی ده (الباب الاول فی معجزاته ﷺ فی احیاء الموتی: ۱۰/ ۱۳ بحواله ابو نعیم فی دلائل النبوة ص :۳۲٤)۔

مګر شیخ البانی رحمه الله دغه قصه د ګډے د ژوندی کیدو منکر او شاذ روایت ګنړلے دے ځکه چه پدے کی مخالفت د ثقاتو شویدے۔

السلسلة الضعیفة ۱۱/ ۳۰٦) رقم (۵۲۹۱)

(۲) بله معجزه د نبی علیه السلام دا راښکاره شوه چه د سیدنا نعمان بن بشیر رضي الله عنه خور د مدینے نه د یوے لپے په مقدار کجورے راوړے دے دپاره چه دا ددے پلار بشیر رضی الله عنه او ددے ماما ئے وخوری دا زنانه ددے خندق په خوا ورتیریدله نبی علیه السلام ولیدل چه دے زنانه سره کجوری دی،

نبی علیه السلام ورته وویل دا کجورے راوړه هغے راوړلے، دسترخوان ئے خور کړو بیا ئے صحابه کرامو ته امر وکړو چه راشئ کجوری وخورئ هرمسلمان راتللو د هغے نه به ئے کجورے خوړلے او ځان له ئے توښه کولے، دا کجورے الله تعالیٰ دومره زیاتی کړے چه د دسترخوان د اطرافونه غورزیدلے، الله تعالیٰ پکی دومره ډیروالے پیدا کړو، د دوه کسانو کجوری د پوره فوج دپاره کافی شوے۔

(۳) د رسول الله ﷺ بله معجزه دا ښکاره شوه چه مدینه کارجنه زمکه وه کله به په خندق کې یو کمبر راغے چه هغه به نهٔ ماتیدلو نو نبی علیه السلام ته به ئے وویل، رسول الله ﷺ به راغے جبل او کوداله به ئے راواخسته او هغه کمر به ئے راویستلو یا به ئے مات کړو حال دا چه صحابه کرام به د هغے د ماتولو نه عاجزه وو.

سیدنا جابر بن عبد الله رضی الله عنه فرمائی : یو ځل غټ کمر مخے ته راغے چه خندق ئے بند کړو، نهٔ کولاویدو، ټولو ملګرو کوشش وکړو خو کمر نهٔ ماتیدلو نبی علیه السلام ته ئے آواز وکړو، رسول الله ﷺ وفرمایل : زهٔ ورکوزیږم،

نبی علیه السلام ورکوز شو د دریے ورځو نه ئے خوراك هم نهٔ وو کړے، او د خیټه پورے ئے کانړے تړلے وو. نبی علیه السلام جبل راواخستو کمر ئے ووهلو نو هغه ذره ذره مات شو. (صحیح البخاری، غزوة الخندق).

سیدنا براء بن عازب رضی الله عنه فرمائی. مونږ ته یو بل سخت کانړے رابنکاره شو چه نهٔ ماتیدلو نو مونږ رسول الله ﷺ ته شکایت وکړو هغه راغلو او جبل ئے راواخستو او بسم الله ئے وویله بیا ئے ګوزار وکړو نو د کانړی نه رنړا وختله،

نبی علیه السلام وفرمایل: ما ته د شام خزانے (او چابیانی) راکړے شوے او زهٔ اُوس پدے ساعت کې د شام سرے سرے بنګلے وینم (یعنی الله ما سره وعده وکړه چه پدے به ستا بادشاهی راځی) بیا ئے دویم ګوزار ورکړو نو د کانړی بل طرف مات شو بیا ئے الله اکبر وویلو او وے فرمایل: چه ما ته فارس راکړے شو او زهٔ اُوس د مدائن سپینه بنګله وینم، بیا ئے دریم ګوزار ورکړو نو بسم الله ئے وویله باقی .کانړے هم مات شو او وے فرمایل : الله اکبر ما ته د یمن خزانی او چابیانی راکړے شوے او قسم په الله زهٔ ددے خپل ځای نه د صنعاء الیمن دروازے وینم.

صحابه کرام پدے خبره ډیر خوشحاله شو چه الله تعالیٰ به مونږ ته غلبه او فتح راکوی. د هغوی حوصلے اُوچتے شوے، د رسول الله ﷺ معجزه ښکاره شوه او پیشنګویانی ئے هم ورکړے چه د سیدنا عمر فاروق رضی الله عنه په دور خلافت کې شام، فارس او یمن درے واړه فتح شو او صحابه کرامو د رسول الله ﷺ هغه پیشنګویانی په خپلو سترګو ولیدلے.

کله چه رسول الله ﷺ د روم او د فارس او یمن په باره کې دا خوشخبری ورکوله

نو منافقانو وویل مونږ د یرے نه اَودس ماتی له نشو تللے ا ـ دا د فارس او د روم خبرے کوی ـ منافقان به پټیدل راپټیدل او غلط دعوتونه به ئے کول وئیل به ئے :

﴿ یَا اَهْلَ یَثْرِبَ لَامُقَامَ لَكُمْ فَارْجِعُوْا ﴾ ـ

اے مدینے والو تاسو مقابله نشئ کولے نو واپس لاړ شئ)

مشرکین راروان شو

مشرکین راروان شو مدینے ته راورسیدل، د قریشو قافلے په مجتمع الاسیال کی پړاؤ واچولو چه دا لاره سیده مدینے ته راغلے وه (چه د جُرف او د زغابه ترمینځ وه) او د غطفان قبیلے او د هغوی تابعدارو خلکو د نجد والو نه د اُحد په غاړه کی د ذَنبِ نَقمیٰ په خوا کی پړاؤ واچولو او خیمی ئے ولګولے ـ

﴿ وَلَمَّا رَاَی الْمُؤْمِنُوْنَ الْاَحْزَابَ قَالُوْا هٰذَا مَا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَصَدَقَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَمَا زَادَهُمْ اِلَّا اِيْمَانًا وَّتَسْلِيْمًا ﴾ (احزاب: ۲۲)ـ

او هرکله چه مؤمنانو دا ډلے د کافرانو ولیدلے وے ویل : دا هغه وخت دے چه مونږ سره الله تعالیٰ او د هغه رسول وعده کړیده او الله تعالیٰ او د هغه رسول رشتیا ویلی دی او دے خبرے دوی لره زیات نکړو مګر ایمان او تابعداری)ـ

او د منافقانو او دکمزوری نفسونو والو زړونه په رپیدو شو:

﴿ وَاِذْ يَقُوْلُ الْمُنَافِقُوْنَ وَالَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ مَّا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ اِلَّا غُرُوْرًا ﴾

(احزاب: ۲۱)ـ

او کله چه وویل منافقانو او هغه کسانو چه د هغوی په زړونو کی بیماری ده مونږ سره الله تعالیٰ او د هغه رسول د دروغو وعده کړے ده) چه مدد به راځی کوم دے چه راغلو؟!ـ

او رسول الله ﷺ د درے زره مسلمانانو سره راووتلو او خپلے شاګانے ئے سَلع غر ته واړولے او ددے خندق څوکیداری ئے کوله چه څوك دے طرفته راوانهٔ وړی او د دوی

شعار (حٰمٓ لَا یُنْصَرُوْنَ) وو او په مدینه باندې ئې سیدنا عبد الله بن ام مکتوم رضی الله عنه خلیفه مقرر کړو او د ښځو او ماشومانو په باره کې ئې حکم وکړو چه د مدینې قلعه ګانو ته دې نقل کړې شي۔

مشرکانو چه کله اراده وکړه چه په مدینه حمله وکړي نو راغلل وې لیدل چه دا خو مخې ته خندق دې نو د خندق نه اخوا ئې خیمې ولګولې دلته دیره شو، د مسلمانانو د محاصره کولو دپاره پنځه شلو یښت ورځې دیره وو، د دوی به ډیره خرچه کیدله ځکه لس زره فوج وو، دوی به د خندق نه اخوا غصه کې ګرځیدل خو نشو راپوریوتلې، وخت په وخت به ئې غاړو ته راتلل چه راواوړي لیکن مسلمانان به ورته چمتو ناست وو په غشو به ئې ویشتل دې دپاره چه خندق ته رانزدې نشي۔

دلته ځینې یهودیان هم راغلل وې ویل چه د مدینې جنوبي طرفته بنو قریظه پراته دي او هغه هم یهود دي او د نبي علیه السلام سره ئې وعده ده دا یهودیان به راپاڅوو او دغه لاره به مونږ ته راکړي او حمله به وکړو، دا کار به حُیَی بن اخطب وکړي چه دا د یهودو مشر وو او د مدینې نه خیبر ته شړل شوید ې (حُیَی تصغیر د حَیَّةٌ دې مار په حذف د تاء سره، او اَخطب هم مار ته وائي)

حیی بن اخطب بنو قریظهٔ ته ورغلو د دوی مشر کعب بن اسد وو د هغه سره ئې ملاقات غوښتلو، بنو قریظه اُوه سوه کسان وو، حیی بن اخطب ورته آواز وکړو چه ایې کعب بن اسد! هغه جواب نهٔ ورکولو، بیا ئې ورته آواز وکړو لیکن هغه جواب نهٔ ورکولو ځکه هغه پدې پو هیدلو چه دا خلك مو جنګ کې د ځان سره شریکوي او نقصان کې مو واقع کوي۔

حیی بن اخطب غیرت ورواچولو چه تهٔ یریږې چه مونږ به ستا نه ډوډئ وخورو نو هغه دروازه کولاوه کړه نو حیی بن اخطب ورته وویل چه ما داسې لښکر راوستې د قریشو او غطفان قبیلې چه دا نهٔ واپس کیږي او داسې دریاب مې راوستې دې چه ډك شوې دې، محمد رسول الله او ددهٔ ملګري ختم واخله، تهٔ د دوی سره وعده ماته کړه د شا طرف نه تاسو حمله وکړئ او د مخې طرف نه به مونږ حمله وکړو،

کعب بن اسد ورته وویل دا وعده راباندې مهٔ ماتوه مونږ د محمد رسول الله نه ندې لیدلې مګر رشتیا او وفاء، زهٔ څنګه وعده ما ته کړم؟! حیی بن اخطب ورته وویل : ما

درله عزت راوړیدے، کعب بن اسد ورته ووېل تا ذلت راوړیدے :
وَبِجَهَامٍ قَدْ أُهْرِيقَ مَاؤُهُ.
او داسے ورېځ دے راوړیده چه اُوبه یکې ختمې شویدی، هسے پړقیږی، که مونږه وعده ماته کړو تاسو به رانه وتښتئ او مونږ به ورته پریدئ نو مونږ به د رسول الله (ﷺ) نه څوك خلاص کړی، نو ما په خپل حال پریده دا به ښه وی۔ حیی بن اخطب ورته ووېل دا لس زره فوج دے دا نۀ واپس کیږی او د محمد ملګری ختم واخله تۀ دا وعده ماته کړه همداسے ورپورے انښتے وو، نو کعب بن اسد ورته ووېل چه صحیح ده مونږ به وعده ماته کړو لیکن کچرته دا خلك وتښتیدل نو بیا به څه وی؟ حیی بن اخطب ورته ووېل چه که دا خلك وتښتیدل نو زما تا سره وعده ده چه زۀ به تاسو سره ستاسو په قلعه کې داخلیږم او که تاسو وژلے کیدئ نو زۀ دے هم مړ شم۔
نو دے یهودیانو بنو قریظه ؤ وعده ماته کړه، پدے کې یو کس عمرو بن سعد ووېل وعده مۀ ماتوئ، دا حق نبی دے که ایمان نۀ راوړئ نو د وعدے لحاظ خو وکړئ۔
نو مسلمانانو ته د دوی د طرفه هم خطره راپیښه شوه، دے بنو قریظو مشرکانو ته ډك اُوښان ورولیږل۔
پدے کې رسول الله ﷺ خبر شو نو شل اُوښان ئے ترے ونیول او ددے خبرے تحقیق دپاره ئے ملګری (سیدنا سعد بن معاذ او سعد بن عباده، عبد الله بن رواحه او خوات بن جبیر رضی الله عنهم) ولیږل چه تاسو معلومات وکړئ که وعده ئے ماته کړی وی ما ته به اشاره وکړئ او که وعده ئے نۀ وی ماته کړی نو اعلان به وکړئ چه ملګری مطمئن شی، دا ملګری چه کله لاړل بنوقریظه په قلعه کې وو دوی ورته آواز وکړو چه تاسو د رسول الله ﷺ سره وعده ماته کړیده؟ دوی ووېل رسول الله څوك دے؟ او کنځلے ئے وکړے۔او وے ویل چه زمونږ او د محمد مینځ کې هیڅ وعده نشته،
دوی چه کله رسول الله ﷺ ته راغلل، رسول الله ﷺ ته ئے په اشاره کې ووېل چه دوی وعده ماته کړے ده ورته ئے ویل : عَضَلٌ وَقَارَةٌ ۔ یعنی دوی د عضل او قاره قبیلے په شان وعده ماته کړیده او دوکه باز دی۔
مسلمانان سره ددے پټے اشارے نه پو هه شو نو ډیر د انتهائی پریشانئ حالت راغے، مخے ته ئے داسے لوی فوج دے چه نۀ واپس کیدونکی دے او شا ته بنو قریظه شو چه

ځوك نشته چه د هغوی مقابله وکړی.

نو رسول الله ﷺ او صحابه کرامو باندے هیبت او پریشانی راغله رسول الله ﷺ په مخ مبارك باندے څادر واچولو لږ غلے کیناستو بیا ئے صحابه کرامو ته وویل چه خوشحاله شئ الله تعالیٰ به تاسو ته فتح او مدد درکوی (ځکه د ډیر تکلیف او سختئ نه روسته راحت وی).

مشرکان هم د بنو قریظه ؤ په وعده ماتولو خوشحاله شو ځکه د دوی مقصد دا وو چه بنو قریظه به د هغه طرف نه جنګ شروع کړی مونږ ته به مخه آزاده شی، په خندق به ورواوړو، مسلمانان ذ داسے سخت تکلیف سره ملاو شو لکه سړے چه د ژرندے د دوه پلنو ترمینځ راګیر شی د مخے نه هم یره وه او د شا نه هم.

بل امتحان دا وو چه صحابه کرامو په مدینه کی زنانه پریښی وے او په مسجد نبوی باندے ئے عبد الله بن ام مکتوم ړوند صحابی امام مقرر کړے وو نور ټول صحابه کرام د خندق حفاظت ته تللی وو، او زنانه او ماشومان ئے په غټو قلعه ګانو کی راجمع کړی وو او دا د بنو قریظو په خوا کی وو نو دوی سره دا فکر هم پیدا شو چه چرته دا ظالمان په زنانو او ماشومانو حمله ونکړی.

صفیه بنت عبد المطلب یهودی وژنی

او همدغسے وشوه چه یهودو بنو قریظه ؤ چه کله وعده ماته کړه نو راکوز شو زنانه ئے کتلے چه که سړی ورسره نهٔ وی چه وے نیسو نو دوی راغلل دا قلعه ګانی ئے کتلے نو د یهودو یوه ډله د حسان بن ثابت رضی الله عنه قلعه ته راغله، د حسان بن ثابت په قلعه کی ډیرے زنانه راجمع شوے وے یو پکی د رسول الله ﷺ ترور (صفیه بنت عبد المطلب) هم وه چه ډیره بهادره زنانه وه، د حسان بن ثابت رضی الله عنه د قلعه شا ته څه یهودیان ودریدل او یو یهودی دے دروازے طرف ته راغے صفیه بنت عبد المطلب د بره نه وکتل احوال ئے معلوم ول چه وے لیدل یو یهودی دروازے طرف ته راغے او څه کسان شا ته دی نو حسان بن ثابت رضی الله عنه ته ئے وویل چه تهٔ ورشه دا یهودی

زمونږ ددې قلعه نه کیر چاپیره ګرځي کیدې شي چه روستو نور یهودیان راخبر کړي او زمونږ نه رسول الله ﷺ او د هغه صحابه کرام مشغول دي نو ته ورکوز شه او دا قتل کړه۔ هغه ووئیل : زۀ ددې دپاره نۀ یم۔

(علماو ددې دوه مقصده بیان کړیدي یو دا چه دا شاعر وو او شاعر سړې اکثر د زړۀ نه کمزورې وي نو ددۀ زړه کمزورې وو، دا وجه ابن اسحاق ذکر کړیده لیکن دا وجه کمزورې ده، د صحابي په حق کي دا توجیه مناسب نۀ ده، ځکه چه که دۀ کي دا صفت وې نو شاعرانو به په دۀ باندې په شعرونو کي دا عیب لګولے وې۔

دویمه صحیح وجه دا وه چه حسان بن ثابت رضی الله عنه یو خو بوډا وو او بل ناجوړه وو د جنګ طاقت ئې نۀ وو، رسول الله ﷺ کورونو کي سړي نۀ وو پریښي ضرف زنانه وې ځکه هلته خندق کي ورته ضرورت وو)۔

صفیه رضی الله عنها پخپله د خیمې ستنه راواخستله او په جلتئ راووتله او پدې یهودي باندې ئې ګوزار وکړه او په سرئې ووهلو بنکته ئې راګوزار کړو تردې چه مرګ حالت ته ورسیده او بیا مردار شو نو حسان ته ئې ووئیل چه لاړ شه ددې یهودي نه سر غوځ کړه زمونږ ورته ضرورت دې۔ هغه ووئیل : زۀ دا کار نشم کولے، ددینه معلومیږي چه دا ناجوړه وو ځکه د مړي نه سر بزدله سړې هم غوځولے شي،

صفیه رضی الله عنها خپله راغله چاړه ئې راواخستله او سرئې ترې غوځ کړو او دا سرئې د قلعه سر ته وخیژولو او کوم یهودیان چه د قلعه شا ته ولاړ وو د هغوی مینځ ته ئې ورګوزار کړو نو یهودیانو باندې رعب راغې او وې ویل چه محمد رسول الله ﷺ ډیر هوښیار سړې دې د زنانو سره ئې ډیر فوج پریښې دې، دا زمونږ ملګرې لاورغلې نۀ دې سمدست ئې ترې سر غوځ کړیدې او زمونږ مینځ ته ئې راګوزار کړو۔

ددې زنانه صفیه رضی الله عنها دې عمل دومره فائده وکړه چه یهودیانو باندې رعب راغلو او په قلعه ګانو ئې حمله ونکړه ځکه که دوی حمله کړې وې صحابه کرام به د خندق نه راغلي وې او مشرکین به په خندق باندې راوړیدلي وې ډیر نقصان به شوې وې۔

رسول الله ﷺ به پدې موقعه کي زبیر بن العوام رضی الله عنه بنو قریظه ؤ ته لیږلو چه وګوري چه په ماشومانو او زنانو حمله ونکړي او د بنو قریظه ؤ خبر راوړي،

عبد الله بن زبیر رضی الله عنه فرمائي: مونږ د حسان بن ثابت په قلعه کې وو نو عمر بن ابي سلمه به ما ته ښکته کیناستو او زهٔ به د قلعه په دیوال ښکاره کیدم نو ما خپل پلار ولیدو چه بنو قریظه ؤ طرفته به دوه یا درې کرته لاړو راغلو، کله چه ماښام شو زمونږ قلعه ته راغلو، ما ورته ووېل: اې پلاره !ما تهٔ ولیدې چه بنو قریظه ؤ ته به تلې راتلې، هغه ووېل: آیا تا زهٔ ولیدم اې بچیه ! ما ووېل: آؤ، هغه وفرمایل: رسول الله ﷺ وفرمایل: څوك به بني قریظه ؤ ته ورشي چه د هغوی خبر ما ته راوړي، هرکله چه زهٔ راواپس شوم ما دپاره رسول الله ﷺ خپل مور او پلار راجمع کړل او داسې ئې وفرمایل: زما پلار او مور دې ستا نه قربان شي۔ (اخرجه البخاری: ۳۷۲۰ ومسلم:۶۳۹۸)
(السیرة الحلبیة ۲/۶۳۹) وسبل الهدی والرشاد ۱۱/۳۱۳)



د شاهسوارو مقابله

په مشرکین عرب کې د بهادرئ صفت ډیر وو دومره صبرئې نهٔ شو کولې، یوه ورځ څه شاهسوارانو اراده وکړه چه په هغې کې عکرمه بن ابي جهل المخزومي، عمرو بن عبد وُد العامری (چه دا مشهور پهلوان وو چه خلك به ئې د نوم نه یریدل)، ضرار بن الخطاب الفهري، هبیره بن ابي وهب المخزومي او نوفل بن عبد الله المخزومي دوی اراده وکړه چه په خندق باندې وربورې وځي، ځان سره ئې کرهٔ اَسونه چه غټ توپ وهلې شي (تازی اسونه) ئې راروان کړل او په خندق کې ئې تنګ ځای وکتلو، توپ ئې ووهلو او په خندق راواوړیدل او اعلان ئې وکړو چه څوك به زمونږ مقابله وکړي؟۔

عمرو بن عبد وُد راووتلو۔ (دې په جنګ بدر کې زخمي شوې وو نو د اُحد په جنګ کې شریك نشو نو په دې غزا د خندق کې ئې خلکو ته خپل ځان خودلو) اعلان ئې وکړو: (هَلْ مِنْ مُبَارِزٍ؟) آیا څوك شته چه مقابلې ته راوځي؟

نبي علیه السلام ووېل: څوك به ور وځي؟ سیدنا علي بن ابي طالب رضي الله عنه ووېل: زهٔ به وراُوځم۔ نبي علیه السلام ورته ووېل، تهٔ کینه ځکه علي رضي الله عنه د ځلیریشتو کالو ځوان وو او عمرو بن عبد وُد د اتیا کالو پهلوان تجربه کار وو، بیا ئې

آواز وکړو چه څوك به راوځي؟ نور صحابه كرام چُپ شو، سيدنا علي رضی الله عنه بيا پاڅيدو چه زهٔ ور اُوځم، نبي عليه السلام ورته ووېل ور اُوځه،

څه كسان ورسرهٔ نور تيار شو۔ عمرو بن عبد وذ سيدنا علي رضی الله عنه ته ووېل: تهٔ څوك ئې؟ هغه ووېل: زهٔ علي د ابو طالب څوی يم، عمرو بن عبد وُد ورته ووېل چه اے ورارهٔ! ستا د ترونو په ځامنو كې ستا نه مشر څوك نشته، ځكه زهٔ نهٔ غواړم چه ستا وينه توی كړم نو سيدنا علي المرتضىٰ ورته ووېل:

زهٔ ستا وينه تويه ول غواړم نو عمرو پدې خبره سخت غصه شو چه وړوكے هلك دے او داسے خبرے كوی، داسے سړے خو زهٔ نهٔ وينم چه زما مقابلے ته راوځي دا تا څنګه جرأت وكړو؟ نو د اس نه راكوز شو او اس ئې په مخ ووهلو،

مقصد ئې دا وو چه د اس نه وَرسره جنګ نهٔ كوم خلك به وائي علي (رضی الله عنه) ئې د اس د سر نه ووهلو بيا به زما څه صفت وشي (دا ددهٔ تكبر وو)

نو دواړه يو بل ته مخامخ شو او په يو بل باندے ئې حمله وكړه، دُوړے اُوچتے شوے د هغه طرف نه مشركانو سيل كولو او ددے طرف نه صحابه كرامو، د خلكو خو دا خيال وو چه علي رضی الله عنه به وژني ځكه چه د غټ پهلوان سره ئې مقابله ده، دوی دواړه په دوړوكی پټ شو نو سيدنا علي رضی الله عنه الله اكبر آواز وكړو،

(عمرو بن عبد وُد په زغره پټ وو صرف سترګے ئې ښكاره كيدے ليكن علي رضی الله عنه ورله په سترګو كې خپله توره وركړه) او مردار ئې كړو، د مسلمانانو حوصله اُوچته شوه، هركله چه نورو مشركانو وليده چه علي رضی الله عنه د عمرو په سينه ناست دے او هغه ئې قتل كړو نو په دوی رعب راغے وتښتيدل تردے چه د عكرمه بن ابي جهل نه پكې نيزه هم پاتے شوه۔

سيدنا زبير بن العوام رضی الله عنه ورپسے شو، عثمان بن نوفل باندے سيدنا زبير رضی الله عنه ګوزار وكړو تردے چه په مينځ ئې نيم كړو، بعض وائي: هغه كندے ته پريوتو او مسلمانانو د بره نه په كانړو ويشتو او ځيني وائي چه علي رضی الله عنه ورپسے ورغے او هلته ئې قتل كړو۔ (السيرة النبوية لابن كثير ۳/۲۰۲)

نو دوه ترے مړه شول او دوه وتښتيدل۔

مشركان پدے خبره نهٔ واپس كيدل يوه ورځ ئې ووېل چه دا مسلمانان خو په محاصره

نۀ تنګیږي نو تهول په شریکه خندق غاړې ته راغلل، د ماسپښین نه د ماسخوتن پورې دوی کوشش کولو چه په خندق واوړي لیکن صحابه کرامو به دفاع کوله ددې طرفنه ئې په غشو ویشتل تردې چه د رسول الله ﷺ نه د ماسپښین او د مازیګر مونځونه قضاء شو او د ماښام مونځ ئې د ماسخوتن سره وکړو.

په حدیث د بخاري او مسلم کې دي چه یوه ورځ سیدنا عمر فاروق رضی الله عنه راغې مشرکانو ته ئې ښیرې کولې او ویل ئې چه ددې کفارو دلاسه مونږ نه د مازیګر مونځ هم قضاء شو، نبی علیه السلام وویل: ما هم نۀ دې کړې، دا هغه زمانه وه چه صلاة خوف نۀ وو نازل شوې، بل د صلاة خوف موقعه نۀ وه، مشرکین ډیر زیات وو، مسلمانان ډیرکم وو او اراده ئې وه چه په خندق راواوړي.

(سیدنا انس بن مالك رضی الله عنه فرمائي: مونږ چه تُستُر علاقه فتح کوله نو د سهار مونځ رانه پاتې شو د لسو بجو په وخت کې مو وکړو نو انس به فرمایل چه تهوله دنیا مې فتح کړې وې ددینه راته دا غوره وه چه دا مونځ رانه نۀ وې فوت شوې).

جنګ چه په آرام شو نو بُطحَان خوړ ته کوز شو اَودسونه ئې وکړل او په ترتیب سره ئې دا څلور واړه مونځونه وکړل، یو اذان ئې وکړو، اول ئې د ماسپښین مونځ وکړو او بیا ئې د مازیګر بیا د ماښام او بیا د ماسخوتن.

(**فائده**: په اسلام کې د مانځه قصداً قضاء کول نشته البته که اُودۀ پاتې شي یا د جهاد د جه نه پاتې شي نو په ترتیب سره به ئې قضاء راوړي او چه قصداً ئې پریدي نو د غټې خطرې سره مخامخ دې بعض علماء ئې کافر ګنړي نو آینده دپاره به توبه وباسي او د دغه قصداً پریښودلې شوي مونځ قضائي پرې نشته).

په دویمه ورځ هم مشرکانو د ماسپښین نه روسته حمله شروع کړه بیا د صحابه کرامو نه د مازیګر مونځ قضاء شو نو رسول الله ﷺ مشرکانو ته ښیرې وکړې:

(مَلَأَ اللّٰهُ قُبُوْرَهُمْ وَبُيُوْتَهُمْ نَارًا). الله تعالیٰ دې ددې کافرانو کورونه او قبرونه د اُور نه ډك کړي دوی مونږه مشغوله کړو د درمیانه مونځ نه چه د مازیګر مونځ دې.

بل روایت کې راځي: (مَلَأَ اللّٰهُ أَجْوَافَهُمْ وَقُبُوْرَهُمْ نَارًا).

الله تعالیٰ دې د دوی خیټې او قبرونه د اُور نه ډك کړي.

(**فائده**: نبی علیه السلام رحمة للعالمین دې لیکن داسې سخت زړو کافرو ته ئې

ښیرے هم کړیدی۔

بله فائده دا معلومه شوه چه د فرض عبادت نه دے څوك منع کوی ښیرے ورته کولے شی)۔

په خندق غزا کی صحابه کراموته ډیر تکلیف وو، زړونه ئے مرئ ته رسیدلی وو، نبی علیه السلام ورته دا دعا وښودله: اَللّٰهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَاتِنَا وَآمِنْ رَوْعَاتِنَا۔

اے الله! زمونږ عیبونه پټ کړه او زمونږ یره امن کی کړه)

او کله چه د مونځونو قضائی ئے وکړه دا دعاء ئے وکړه:

(اَللّٰهُمَّ مُنْزِلَ الْكِتَابِ سَرِيْعَ الْحِسَابِ وَهَازِمَ الْأَحْزَابِ اِهْزِمْهُمْ وَزَلْزِلْهُمْ)۔

اے الله! چه تهٔ نازلونکے د کتاب ئے، جلت حساب والا ئے او شکست ورکونکے ئے، دے ډلو لره شکست ورکړه او قدمونه ئے اُوښویوه)۔

د خندق په غزا کی الله تعالیٰ د منافقانو خباثتونه راښکاره کړل، منافقانو به وئیل :﴿اِنَّ بُيُوْتَنَا عَوْرَةٌ﴾۔ یقیناً زمونږ کورونه خالی دی مونږ ته اجازه راکړه چه لاړ شو۔ الله فرمائی: کورونه خالی نهٔ دی بلکه دوی د تیښتی اراده لری۔

د غطفان قبیلے سره د صلحے اراده

په صحابه کرامو ډیر تکلیف وو نبی علیه السلام اراده وکړه چه د غطفان قبیله د قریشو نه جدا کړی چه هغوی ترے جدا شو نو د قریشو مقابله به آسانه شی۔ نبی علیه السلام یو څو مشران د دوی راطلب کړل یو عُیینه بن حِصْن الفزاری بل حارث بن عوف چه دا د بنو مره ؤ مشر وو، د دوی سره کیناستل دا خبره ئے ورته وکړه چه تاسو په جنګ څه کوئ، مونږ به د مدینے منورے دریمه حصه میوے درکړو لاړ شئ خپل فوجونه واپس کړئ او دا قریش پریږدئ، هغوی وویل: میوے مونږ ته مهٔ راکوئ، مونږ ته به د یو کال ټول فصل کجورے راکوئ لیکن نبی علیه السلام ورسره دا ونهٔ منله آخر دا چه غطفان قبیله په دریمه حصه راضی شو،

نبی علیه السلام ورته وویل دا زما رایه ده، زهٔ به د انصارو سره مشوره وکړم که هغوی ومنله ډیره ښه ده، نبی علیه السلام د انصارو یو څو مشران راطلب کړل سیدنا

سعد بن مُعاذ د اَوس قبیلے مشر او سیدنا سعد بن عباده د خزرج قبیلے مشر هغوی ته ئے وویل چه زهٔ د یو کال کجوری دریمه حصه غطفان قبیلے ته ورکوم چه دوی واپس شی، هغوی ورته وویل یا رسول الله ! که دا د الله امر وی نو مونږ تابعدار یو او که دا یو کار وی چه تهٔ ئے زمونږ د فائدے دپاره کوے نو مونږ یوه کجوره هم دوی ته نهٔ ورکوو ځکه مونږ په جاهلیت کی یوه کجوره هم هسے نهٔ ده ورکړے مگر په خرڅولو یا په میلمستوب سره او اُوس خو مونږ ته الله تعالیٰ په اسلام او په تا سره عزت راکړیدے نو اُوس به دوی راځی او مونږ به دوی ته خپل مالونه ورکوو، قسم په الله صرف په توره به ورسره خبرے کوو۔

نبی علیه السلام د دوی د خبرو تائید وکړو چه دا زما یوه رایه وه ستاسو د فائدے دپاره مے کړے وه ځکه چه ټول عرب راغلی دی تاسو په یو غشی ولی نو ستاسو د آسانئ دپاره مے دا خبره وکړه۔

پدے کی په غطفان قبیلے رعَب راغے چه دا څومره قوی او لوی همت والا خلك دی، محاصره هم دی او بیا هم دومره حوصله لری نو الحمد لله یوه کجوره ئے هم ورنکړه۔

(۱: زمونږ دپاره فائده دا ده چه د نبی علیه السلام د یو کار اراده کول هم دین دے، ۲: کفارو ته کله صلحه کی مال ورکول جائز دی چه کله اسلام ته فائده وی)۔

نعیم بن مسعود اشجعی په احزاب کی اختلاف پیدا کوی

د غطفان قبیلے یو سړے وو د هغه نوم نعیم بن مسعود الاشجعی الغطفانی وو چه دا د کفارو په فوج کی وو، ددهٔ زړه کی الله تعالیٰ د اسلام مینه واچوله نو اسلام ئے راوړو او د شپے په تیارهٔ کی نبی علیه السلام ته راغے چه ما خو ایمان راوړیدے او زما قوم زما په اسلام نهٔ دی پو هه، ما ته یوه خبره راوښایه چه زهٔ ئے وکړم، نبی علیه السلام ورته وویل: تهٔ یو سړے ئے که حمله وکړے یو سړے دوه به مړهٔ کړے نو تهٔ داسے وکړه چه دا مشرکان خپل مینځ کی واچوه او د یو بل سره ئے وران کړه،

نو دے د دغه ځای نه روان شو لاړو بنو قریظو ته، د هغوی قلعه ته داخل شو بنو قریظه ته ئے وویل چه زهٔ راغلے یم تاسو خو ما پیژنئ زما تاسو سره څومره مینه ده،

هغوی وویل : تهٔ زمونږ دوست ئې نو نُعَیم بن مسعود ورته وویل : دا مدینه ستاسو ښار دے او ستاسو مالونه هم دلته دي او ستاسو ځامن او زنانه هم دلته دي او د قریشو او غطفان قبیلې مال او اولاد دلته نشته دے، که دا مشرکان غالبه شي خو ډیره ښه ده او که غالبه نشي نو دا قریش به لاړ شي او تاسو به محمد رسول الله (ﷺ) ته پریدي او ستاسو نه به بدله واخلي، دوی وویل دا خبره خو رشتیا ده نو بنو قریظهٔ وویل څه چل وکړو؟ نو دهٔ ورته وویل چه که مشرکین جنګ شروع کوی نو تاسو جنګ مهٔ کوئ ترڅو چه ګانړه ترے واخلئ او د لسو مشرانو ګانړه ترے واخلئ ددے لسو کسانو د وجه نه به ګرځیدلے نشي او تښتي به نهٔ، دوی وویل چه ښائسته رایه دے راکړه۔

نُعیم په همدغه شپه لاړو قریشو ته ورغلو او ورته ئې وویل چه زما خو تاسو سره دوستانه ده، بنو قریظهٔ خپله وعده ماته کړیده، نبی علیه السلام سره ئې لیکل کړیدي چه مونږ ستا ملګری یو او دا مشرکان درله نیسو او تاسو ته ئې په لاس کې درکوو۔ که دے بنو قریظهٔ مونږ او تاسو نه ګانړه غوښتله نو نهٔ ئې ورکوو ځکه دغه لس کسان دوی نبی علیه السلام ته لاس کې ورکوی او یا دا چه خپله ئې وژنی هغوی وویل: خبره دے صحیح ده بیا غطفان قبیلې ته راغے هغوی ته ئې وویل چه بنو قریظهٔ ته به ګانړه نهٔ ورکوو همدغه خبره ئې ورته وکړه۔

پدے وخت کې قریش تنګ شو نو فیصله ئې وکړه چه راځئ چه حمله وکړو په مدینه باندے نو یهودو د بنو قریظهٔ پسے ئې جواب ورولیږو چه تاسو د دغه طرفه جنګ شروع کړئ مونږ به ددے طرفه جنګ شروع کړو۔

یهودو ورته وویل چه مونږ جنګ نهٔ کوو ځکه چه یو خو د خالي ورځ ده او زمونږ مشرانو ددے ورځے تعظیم نهٔ وو کړے نو الله ترے شادوګان جوړ کړل نو مونږ د خالي په ورځ جنګ نهٔ کوو، بله دا ده چه مونږ ترهغه پورے جنګ نهٔ کوو ترڅو چه لس مشران مونږ ته ګانړه راکړی ځکه تاسو به رانه وتښتئ مونږ به یواځې پریدئ۔ مشرکانو وویل چه نُعیم خو رشتیا ویلی دی چه بنو قریظهٔ رانه ګانړه اخلي، او لس کسان رانه اخلي او په محمد ئې وژني او بنو قریظه هم پوهه شو چه نُعیم رشتیا ویلی دی چه مشرکان ځان وباسي۔

نو بنو قریظهٔ د جنګ نه انکار وکړو او خپل مینځ کې په یو بل بدګمانه شو، پدے

حالت کی دوی وو چه الله سبحانه وتعالیٰ هوا راولیږله او ملائك ئے راولیږل، هوا دومره تیزه وه چه د دوی کټوئ او خیمے ئے ورلـه واړولے او یخنی هم شروع شوه او ملائکو هم د خیمو تنابونه او لرګی راویستل او د دوی په زړونو کی ئے رعب اچولو۔ پدے وخت کی مشرکانو د تیښتے اراده وکړه۔

سیدنا حذیفه بن الیمان رضی الله عنه خبر راوړی

نبی علیه السلام ته استخباراتو خبر ورکړو چه دوی تښتی نبی علیه السلام ووېل: څوك به د دوی خبر راوړی؟ صحابه کرام ټول چُپ شو ځکه یره زیاته وه بیا ئے په دویم ځل ووېل: څوك دے چه خبر راوړی؟ سیدنا حذیفه بن الیمان رضی الله عنه ووېل: زهٔ یم او د تیاری د وجه نه زما خپه د رسول الله ﷺ د زنګون سره ولګیدله نو نبی علیه السلام راته ووېل: لاړ شه، خبر راوړه خو نور به هیڅ کار نکوے۔

حذیفه رضی الله عنه فرمائی: ډیره یخنی او تیارهٔ وه زهٔ روان شوم په لاره مے دومره ګرمی وشوه لکه ګرم حمام کی چه ناست یم نو هغه ځادر مے د ځان نه لرے کړو، دا ددے صحابی کرامت وو او د رسول الله ﷺ معجزه وه، زهٔ لاړم د مشرکینو خیمو ته ورسیدم نو ابوسفیان مے ولیدهٔ اُور ئے بل کړے وو ځان ئے ګرمولو، غشے مے راواخستو او په لینده کی مے کینبوده، د ویشتو اراده مے وکړه خو د رسول الله ﷺ خبره رایاده شوه چه بل کار به نهٔ کوے۔

نو غشے مے ښکته کړو۔ پدے وخت کی ابوسفیان اعلان وکړو چه ملګری راجمع کړئ، د قریشو مشران راجمع شو نو ابوسفیان ووېل: په خپل خوا کی د ملګرو نه تپوس وکړئ هسے نهٔ چه د دشمن نه څوك دلته راغلے وی نو حذیفه بهادری او چالاکی وکړه دا وائی چه زما په خوَا کی دوه کسان ناست وو، زر مے د یو نه تپوس وکړو: مَنِ الرَّجُلُ؟۔ څوك یے؟۔ نو ځان ئے راوښودهٔ بیا مے د بل نه تپوس وکړه چه څوك ئے؟ نو هغه ځان راوښودو نو زهٔ ترے خلاص شوم هغوی یو هم زما نه تپوس ونکړو نو ابوسفیان ووېل: داسے کوو نور نهٔ پاتی کیږو خو دلته یخنی ده، آسونه او اُوښان مړهٔ شو، مخے ته خندق دے، ور اوریدلے نشو، دا جنګونه به بیا په بله موقعه وکړو، ټولو خلکو خبره

ومنله ځکه چه په یره کی وو حذیفه رضی الله عنه وائی زهٔ راواپس شوم، رسول الله ﷺ په خپله خیمه کی په مانځه ولاړ وو چه زهٔ خیمے ته داخل شوم نو یخنیٔ مے وشوه مخکی مے گرمی کیدله، رسول الله ﷺ په مانځه کی خپل څادر په ما راخور کړو نیم ما په ځان واچولو او نیم نبی علیه السلام۔

کله چه د مانځه نه فارغ شو، ما ورته احوال بیان کړل چه دوی خو مکے ته روانیږی نو نبی علیه السلام ډیر خوشحاله شو۔

منافقانو دا خبره نهٔ منله، ویل به ئے چه مشرکین چرته ځی هغوی چه مونږ ختم کړی نهٔ یونهٔ ځی، د منافقانو زړونو کی رعب وی:

﴿ یَحۡسَبُوۡنَ الۡاَحۡزَابَ لَمۡ یَذۡهَبُوۡا وَاِنۡ یَّاۡتِ الۡاَحۡزَابُ یَوَدُّوۡا لَوۡ اَنَّهُمۡ بَادُوۡنَ فِی الۡاَعۡرَابِ یَسۡاَلُوۡنَ عَنۡ اَنۡۢبَآئِكُمۡ ﴾ الآیة۔

گمان کوی منافقان چه دا ډلے نهٔ دی تلی او که راشی ډلے نو دوی خوښوی چه دوی په بانډو کی وسیدلے او ستاسو د خبرونو په باره کی ئے تپوسونه کولے)۔

نو مشرکین وتبنتیدل او الله تعالیٰ خپل رسول او مؤمنانو ته غلبه ورکړه۔

ددے واقعے په باره کی په سورة الاحزاب کی دوه رکوع راغلی دی او د منافقانو بدیانی ئے هم بیان کړیدی۔

د احزاب په غزا کی د مسلمانانو ډیره فائده وشوه او د مشرکینو ډیر نقصان وشو، پدے غزا کی د مشرکانو نه لس (۱۰) کسان وژل شوی وو، د مسلمانانو نه شپږ کسان شهیدان شوی وو۔

د سیرت په بعض کتابونو کی راځی چه درے مشرکان وژل شوی وو۔

ددے غزا نه روسته رسول الله ﷺ وفرمایل:

[اَلۡاٰنَ نَغۡزُوۡهُمۡ وَلَا یَغۡزُوۡنَنَا، نَحۡنُ نَسِیۡرُ اِلَیۡهِمۡ]۔

ددینه روسته به مونږ حملے کوو دوی به حملے نشی کولے، یعنی ددینه روسته به اقدامی جنگونه کوو۔

پدے غشی ویشتلو کی د صحابه کرامو نه سیدنا سعد بن معاذ په اکحل (د لاس په) رگ باندے په غشی لگیدلے وو حِبَّان بن عَرَقَه ویشتلے وو چه وینه ئے نهٔ ودریدله، رسول الله ﷺ دوائی هم ورکړه لیکن وینه نهٔ ودریدله۔ نبی علیه السلام ورله په رگ

بانـدې داغ ووهـلـو ويـنـه لړ ساعـت ودريده بيا روانه شوه په دويم ياپه دريم ځل ئې داغ ورکړو ليکن بنۀ نشو، مسجد نبوی ته ئې ويوړو هلته ئې واچولو چه نبی علیه السلام به ئې وخت په وخت تپوس کوی ځکه ئې کور ته نقل نکړو۔

امام بخاری ددې نه دا مسئله ثابته کړيده چه د مريض دپاره جمات کی خيمه وهل جائز دی۔

سيدنا سعد بن معاذ رضی الله عنه دعا وکړه چه اې الله ! که د مشرکينو جنګ ختم شوې وی ما ته شهادت راکړه، زما دا وينه مۀ ودروه او که د قريشو جنګ باقی پاتې وی ما جوړ کړه، الله رب العزت ورله سمدست وينه ودروله۔

او بـلـه دعـا ئې دا وکړه چه ما تر هغه وخت پورې مۀ وژنه ترڅو چه زما سترګې په بنو قـريظـه ؤ يـخـې شـوی نـۀ وی نو الله تعالیٰ ددۀ وينه ودروله او دې جوړ شو او څو ورځې روسته بنو قريظه ددۀ په فيصله ذليله شو۔



غزوة بنی قریظه : سنه (۵ هـ)

حدیث کی راغلي دي چه کله نبی علیه السلام د جنگ احزاب نه فارغ شو او د کفارو ډلے وتښتیدلے، رسول الله ﷺ سهار کی راواپس ښو ماسپښین کورته راورسیدو، رسول الله ﷺ د جنگ جامی ویستلے، د ام سلمه رضی الله عنها په کور کی غسل خانے ته ننوتلو پدے اراده چه غسل وکړی او د جنگ ګردونه او خیری د ځان نه لری کړی پدے کی جبریل علیه السلام راغے چه د وریښمو پټکے ئے وهلے وو په یوه قچره باندے سور وو چه په هغے باندے د وریښمو شړئ پرته وه نبی علیه السلام ته ئے وویل چه تا اسلحه کیښودله اے د الله رسوله ؟، نبی علیه السلام ورته وفرمایل: آؤ،

نو جبریل علیه السلام وویل: مونږ ملائکو اسلحه نۀ ده ایښے، نبی علیه السلام ورته وویل څه وکړو؟ جبریل علیه السلام ورته وفرمایل : الله تعالیٰ تا ته حکم کوی چه په جلتئ سره تۀ او ستا ملګری بنو قریظه ؤ ته ځان ورسوئ.(دا یهود څو مره خائنان دی، څو مره دوکه ئے وکړه). ځکه چه زۀ هم هغوی ته روان یم په هغوی به زلزله راولم.

سیدنا انس بن مالك رضی الله عنه فرمائی: ګویا که زۀ د بنی غنمو په کوڅو کی غبار ته ګورم چه د جبریل علیه السلام د فوج (ملائکو) د خپونه پورته کیدو کله چه رسول الله ﷺ بنی قریظه ؤ ته ورتللو.

نبی علیه السلام د جنګ جامی واغوستلے او یو مؤذن ته ئے وویل چه تۀ ورشه اعلان وکړه چه څوك آوریدونکے او تابعداروی نو د مازیګر مونځ به نۀ کوی مګر په بنو قریظه کی یعنی په جلتئ سره ځان ورسوئ. (ددینه دا فائده معلومه شوه چه د خیانتګرو خلکو سره به په جهاد کی د جلتئ نه کار اخستے شی)

(السيرة النبوية ۳: ۲۲۳)

نبی علیه السلام او صحابه کرام د بنو قریظه ؤ علاقے ته روان شو، دا د مسجد قباء نه مخکی یوه صحراء ده هلته واقع ده، د مسجد نبوی او د دوی ترمینځ درے میله لاره ده، په مدینه باندے ئے ابن ام مکتوم نائب مقرر کړو، او علی بن ابی طالب رضی الله عنه ته ئے جنډه ورکړه او بنو قریظه ؤ طرفته ئے روان کړو. دوی درے زره فوج وو او

دیرش اسونه ورسره وو۔

نبي علیه السلام د مهاجرینو او انصارو سره لاړو هلته د بنو قریظه ؤ یو کوهے وو هغے ته ئے (بئر انّا) وئیلو، هلته کیناستلو، د علي رضي الله عنه فوج هم ورسره یو ځای شو۔ بنو قریظه پوهه شو چه دوی څو مونږ پسے راغلل نو د دوی ډیرے غټے قلعه ګانې وے هغے ته داخل شو او دروازې ئے ځان پسے بندے کړے،

نو نبي علیه السلام دوی محاصره کړل، ځینې صحابه کرام روسته راروان وو نو په ځینو صحابه کرامو باندے د مازیګر مونځ په لاره کې راغے نو اختلاف شو، ځینو صحابه کرامو وویل چه مونځ بنو قریظه ؤ ته رسوو، رسول الله ﷺ امر کړیدے چه مونځ به هلته رسوئ او بعضو ملګرو په لاره کې مونځ وکړو او وے وئیل چه د رسول الله ﷺ مقصد مونځ قضاء کول نۀ دی بلکه په جلتئ سره ځان رسول دی۔

او بعضو ملګرو مونځ ونکړو تردے چه ماسخوتن شو نو د ماسخوتن د مانځه نه روسته ئے وکړو نو نبي علیه السلام ته دا خبره وشوه چه زمونږ اختلاف شو نو یوه ډله هم رسول الله ﷺ ملامته نۀ کړه ځکه اصل کې طریقه دا ده چه د حدیث په ظاهر به عمل کوی چه هغه وائی مونځ قضاء کړه قضاء کوی به ئے، که هغه وویل چه وے کړه نو کوی به ئے مګر که د یو انسان د نبي علیه السلام د تابعدارئ اراده وه او په اجتهاد کې خطاء شو نو ملامته نۀ دے)۔

(نبي علیه السلام دوه مونځونه په سفر او باران او مرض کې جمع کړیدی د امت د آسانئ دپاره، که د یو سړی د نبي علیه السلام د تابعدارئ اراده وه او په اجتهاد کې خطاء شو نو هم ملامته نۀ دے)

بنو قریظه ئے پنځه ویشت ورځے محاصره کړل۔ دے قربانئ ته وګوره چه صحابه کرام د غزوه احزاب نه ستړی ستوړی راواپس شوی لا نۀ وو چه پدے جنګ واوړیدل نولس (۱۹) ورځے تیرے شوے صحابه کرامو وویل چه مونږ خو ډیر انتظار وکړو ددے خلکو سره خوراکی شیان ډیر دی، دوی نۀ راوځی، په دوی ورځو او حمله پرے کوو، په صحابه کرامو کې یوه ډله وه چه هغے ته ئے کتیبة الموت وئیله (د مرګ دسته) او کتیبة الایمان ئے هم ورته وئیله یعنی د ایمان دسته چه په دوی کې د سیدنا علي بن ابي طالب، زبیر بن عوام، محمد بن مسلمه، ابودجانه رضي الله عنهم پشان خلک

شامل وو۔

سیدنا علي المرتضیٰ رضی الله عنه وویل: اے کتیبة الایمان ! راځئ چه ورځو ځکه دومره انتظار مو وکړو نور صبر نشو کولے، دا کتیبة الایمان تیار شو، سیدنا علي رضی الله عنه وویل : زۀ به دا قلعه فتح کوم یا به هغه شهادت څکم کوم چه حمزه (رضی الله عنه) څکلے وو۔

سیدنا علي رضی الله عنه ور روان شو په یهودو رعب راغے چه که دا خلك راغلل نو تباه کوی مو،

د یهودیانو مشر کعب بن اسد یهودیان راجمع کړل چه دوی (۷۵۰) جنګی کسان وو، اسلحه هم ورسره وه (۱۵۰) تورے ورسره وے او (۲۰۰۰) دوه زره نیزے او پنځه سوه (۵۰۰) ډالونه او (۲۰۰) دوه سوه زغرے وے۔ دا ئے د مسلمانانو د مقابلے دپاره تیارے کړے وے۔

بنو قریظه ؤته د خپل مشر کعب بن اسد خبرے

کعب بن اسد دوی ته وویل چه زۀ تاسو ته درے خبرے پیش کوم چه کامیابی به شئ اول دا چه ایمان به راوړو ځکه دا حق نبی دے او تورات کی ئے صفت دے، ایمان به راوړو زمونږ وینه، بچی او مالونه به محفوظ شی ځکه محمد رسول الله ﷺ خپل صحابه کرام نۀ وژنی۔ لیکن الله تعالیٰ دے بدبختوته د ایمان توفیق ورنکړو د ضد د وجه نه۔ ځکه دوی تهول وخت په دوکه کی تیر کړے وو، د الله سره ئے تعلق نۀ وو، نو یهودیانو د ایمان راوړو نه انکار وکړو چه دا نشو منلے۔

دویمه خبره : کعب بن اسد ورته وویل: چه دا خپل اهل او بچی به په خپل لاس سره مړه کړو چه د مسلمانانو لاس ته ورنشی او مونږ به حمله شروع کړو که غالبه شو ترے خلاص به شو، مدینه به مونږ ته پاتی شی او که مړۀ شو جنګ کی به مړۀ شو،

نو قوم ورته وویل چه کله مونږ دا مسکینان مړۀ کړو نو د دوی نه روسته په ژوند کی څه خیر دے؟۔

نو کعب بن اسد ورته دریمه خبره دا وکړه چه نن د خالی ورځ ده د مسلمانانو خیال

دے چه دوی جنګ نۀ کوی د خالی د تعظیم د وجه نه، نو دا مسلمانان زمونږ نه غافله دی مونږ به د خالی تعظیم مات کړو او حمله به وکړو، دا مسلمانان به قتل کړو؟ نو هغوی وویل : د خالی ورځ تعظیم هم نۀ ماتوو ځکه د خالی تعظیم چه چا مات کړیدے هغوی نه شادوګان جوړ شویدی۔

(عجیبه خبره ده : دوی غټ غټ ګنا هونه کول، په محمد رسول الله ﷺ ئے کفر کولو او د وړے ګناه نه ئے ځان ساتلو۔ دا حال زمونږ ددے زمانے د صوفیاو هم دے چه د وړے ګناه نه ځان ساتی او عقیده به ئے د شرك او د وحدة الوجود وی، د قرآن او سنت خلاف به کوی او ځان ته به بزرګ وائی، زر تسبیح به ورسره لاس کی وی)۔

کعب بن اسد ورته وویل چه تاسو کی یو سړی د مور د پیدائش نه تر اُوسه پورے یوه شپه هم په هوښیارتیا کی نۀ ده تیره کړے۔ (پیدائشی بیوقوف یئ)۔

(کعب بن اسد ته پکار وه چه د مسلمانانو ملګرے شوے وے لیکن د کفارو په ډله کی وو قومیت او خپل رسم او رواج او پیغور پرے غالبه شو، ایمان ئے رانۀ وړو، غټ بد بخته وو)

د ابولبابه رضی الله عنه ځان تړل

بنو قریظه څلورمے خبرے ته تیار شو چه د رسول الله ﷺ په فیصله به کوزیږو نو رسول الله ﷺ ته ئے وویل چه یو صحابی ابولبابه بن عبد المنذر راولیږه مونږ ورسره مشوره کوو، ابو لبابه د دوی په ګاونډ کی وسیدۀ، ابو لبابه رضی الله عنه چه ورننوتو نو زنانه او ماشومانو ورته وژړل او سړو هم ورته عاجزی وکړه، دوی ورته وویل چه مونږ د رسول الله ﷺ په حکم در کوز شو؟ هغه ورته وویل: راکوز شئ دا کار درله ښه دے، نو هغوی وویل : چه څه به راسره کوی؟ نو ابو لبابه رضی الله عنه پدے وخت کی خپل لاس په مرئ راښکلو چه حلالوی به مو، پریدی مو نۀ،

دا خبره ترے غیر اختیاری وختله، سمدست ئے خبره ذهن ته راغله چه دا خو ما نه د رسول الله ﷺ سره خیانت وشو ډیر خفه شو او د هغه ځای نه سیده مسجد نبوی ته لاړو او هلته ئے ستنه پورے ځان وتړلو چه هغے ته استوانة التوبة وائی (د توبی ستنه) نبی علیه السلام وویل ابولبابه څو رانغلو څه شو؟

چا ورته وویل چه هغه نه خو غلطي شوې او په مسجد نبوي کې ئې ستنه پورې ځان تړلې دې، نبي علیه السلام وویل چه که دا ماته راغلې وې نو ما به ورله ښښنه غوختې وې اُوس ئې زۀ هم نۀ ایله کوم ترڅو چه توبه ئې نۀ وي قبوله شوي او وحی نۀ وي راغلي، دا شپږ ورځې ستنه پورې تړلې پروت وو، خپله ښځه به ورپسې د مانځه په وخت راتلله او مانځه ته به ئې را ایله کولو بیا به ئې بیرته تړلو او کجوری او ډوډۍ به ئې همداسې په تړلې حالت کې ورکولې۔

تردې چه نبي علیه السلام د ام سلمه په کور کې وو چه آیتونه پرې نازل شو :

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَخُونُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ وَتَخُونُوا أَمَانَاتِكُمْ ﴾ (انفال:۲۷)

﴿ وَآخَرُونَ اعْتَرَفُوا بِذُنُوبِهِمْ خَلَطُوا عَمَلًا صَالِحًا وَآخَرَ سَيِّئًا عَسَى اللَّهُ أَنْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴾ (التوبة:۱۰۲)۔

او نور کسان دي چه اقرار ئې کړې د خپلو ګناهونو، د خپل نیك عمل سره ئې بد عمل هم یو ځای کړې، نزدې ده چه الله تعالیٰ به مهرباني وکړي په دوی باندې یقیناً الله بخنه کونکې رحم کونکې دې۔

کله چه د هغه توبه نازله شوه نبي علیه السلام وخاندل نو ام سلمه رضی الله عنها وفرمایل : الله دې ستا غاښونه وخاندوي اې د الله رسوله ولې خاندې؟ نبي علیه السلام وفرمایل : الله تعالیٰ د ابولبابه توبه نازله کړه، ام سلمه رضی الله عنها وفرمایل: ما ته اجازه وکړه چه زۀ پرې زیرې وکړم۔ نبي علیه السلام ورته اجازه وکړه، نو هغه د حجرې دروازې ته راووتله (او دا هغه زمانه وه چه د پردې حکم نۀ وو نازل شوې)

او ابولبابه ته ئې وویل: خوشحاله شه الله تعالیٰ ستا توبه قبوله کړه، خلکو رامنډه کړه چه هغه راکولاؤ کړي، هغه انکار وکړو چه ما به رسول الله ﷺ په خپل لاس پرانیزي، کله چه نبي علیه السلام سهر مانځه ته راووتو نو هغه ئې راکولاؤ کړو۔

بنو قریظه د ابولبابه د مشورې باوجود پدې رضا شو چه راکوز شي نو دوي راکوز شو نبي علیه السلام فیصله وکړه چه زنانه جدا کورته بوځي او سړي جدا کور ته بوځي۔

د نُسیبه بنت الحارث النجاریه کورته ئې زنانه او ماشومان بوتلل،

د دوی د قتل نه مخکې اَوس قبیله راغله او وې ویل چه اې د الله رسوله ! أَحْسِنْ

مَوَالِیْنَا ۔ دا یهودیان زمونږ ملګری دی د دوی سره احسان وکړه ځکه د خزرجیانو ملګری بنو قینقاع او بنو نضیرو سره دے احسان کړے وو د مدینے نه دے وشړل، دوی زمونږ پخوانی دوستان دی دوی هم د مدینے نه وباسه۔

(دا د کفارو سره دوستانه نۀ وه بلکه د ګاونډیتوب یو احسان کول وو)

نو رسول الله ﷺ ورته وویل : تاسو اَوس قبیله پدے نۀ رضا کیږئ چه ستاسو نه یو کس به په دوی کی فیصله وکړی؟ دوی وویل : څوك به فیصله وکړی؟

نبی علیه السلام وفرمایل : سعد بن معاذ۔ نو دوی وویل: مونږ رضا یو۔

سعد بن معاذ زمونږ سردار دے، دوی خوشحاله شو چه ځه خبره مونږ ته وسپارل شوه، زمونږ په خوښه به فیصله وشی۔ بل طرفته بنو قریظه ؤ هم نبی علیه السلام ته دا جواب لیږلے وو چه مونږ د سعد بن معاذ په فیصله درکوزیږو۔

په بنو قریظه ؤ باندے د سعد بن معاذ رضی الله عنه فیصله

سیدنا سعد بن معاذ د خندق په غزا کی زخمی شوے وو او مسجد نبوی کی پروت وو، نبیٔ علیه السلام وویل هغه راولئ، صحابه کرام ورپسے لاړل، پیاده نشو راتلے، په خرۀ باندے ئے کینولو او رائے وستلو۔ کله چه راغے نبی علیه السلام انصارو ته وویل : قُوْمُوْا اِلٰی سَیِّدِکُمْ۔ تاسو خپل مشر ته پاځیږئ، نو هغوی ودریدل۔

بعض وائی: دا ئے د عزت او تعظیم دپاره ودرول او ظاهر دا ده چه دا امر ئے دوی ته د خدمت دپاره وکړو ځکه چه سعد بن معاذ زخمی او مریض وو۔

سیدنا سعد بن معاذ رضی الله عنه چه کله پدے لاره راتللو نو اَوس قبیلے ورته وویل چه احسان وکړه ددے خلکو سره، نبی علیه السلام تا ته فیصله ددے دپاره سپارلے ده چه احسان وکړے، پدے لاره ئے ورته سفارش کولو هغه چُپ وو، چه کله ئے تنګ کړو سعد بن معاذ ورته وویل۔ اُوس هغه وخت راغے چه سعد بن معاذ به د خلکو د ملامتیا نه نۀ یریږی، خلك پدے سره ویریدل چه کله سعد رضی الله عنه نبی علیه السلام ته ورسیدو، نبی علیه السلام ورته وفرمایل:

دا بنو قریظه ستا په فیصله راضی شویدی، ستا اختیار دے که تۀ د دوی په پرینښودو

فیصله کوے (معاف کوے) او که د مرگ فیصله کوے۔

نو سعد رضی الله عنه وفرمایل : زما فیصله به په دوی نافذه وی؟ هغوی وویل: آؤ، بیا ئے وویل : زما فیصله به په مسلمانانو نافذه وی؟ هغوی وویل: مونږ ستا په فیصله رضا یو۔ بیا ئے نبی علیه السلام ته اشاره وکړه چه آیا زما فیصله به په هغه چا نافذه وی چه دلته ناست دے، هغه وویل: بالکل په ما به هم نافذه وی۔ اشاره ئے نبی علیه السلام ته وه، لیکن د تعظیم او اکرام دپاره ئے د نبی علیه السلام نوم وانخستو۔

نو سیدنا سعد رضی الله عنه وفرمایل : زما فیصله د دوی په باره کی دا ده چه د دوی سړی دے ووژل شی او ماشومان او زنانه دے قیدیان شی، غلامان او وینځے دے ترے جوړ شی او د دوی مالونه دے تقسیم شی۔

نبی علیه السلام او خواص صحابه کرام پدے فیصله انتهائی خوشحاله شو۔ نبی علیه السلام وفرمایل: الله اکبر– (لَقَدْ حَكَمْتَ فِيهِمْ بِحُكْمِ الْمَلِكِ مِنْ فَوْقِ سَبْعِ سَمٰوَاتٍ) یقیناً تا د هغه الله فیصله وکړه چه د اوو آسمانونو دپاسه دے۔ د الله همدا فیصله خوښه وه، الله ستا زړهٔ کی واچوله۔

(التوحيد لابن منده ومعارج القبول للحكمى (١/١٥١)، والسيرة النبوية لابن كثير)

پدے کی اَوس قبیلے څه معمولی خفګان وکړو خو بیا هم راضی شو لیکن منافقانو ورانه خبره کوله، نبی علیه السلام پدے فیصله ډیر خوشحاله شو۔

نبی علیه السلام په سوق المدینه (د مدینے په بازار) کی ژورے کندے وکنستلے چه پدے کی ئے دفن کړی۔

سیدنا زبیر بن عوام، مقداد بن اسود او علی رضی الله عنهم ئے ورته ودرولی وو۔ لس لس کسان به ئے راوستل او په دے ډوغلونو کی به د ښځ د طرفه په توره وهلو او ذبحه کول به ئے۔ (ددینه دا فائده معلومه شوه چه غټ کافر وی د هغه ذبح او قتل جائز دے)

دے یهودو ته ئے ډیر زیات دعوت کړے وو او دوی ډیر لوی خیانت کړے وو، د دوی د قتل نه په غیر بله سزا نهٔ وه)

بعض یهودو خپل مشر کعب بن اسد ته وویل چه دا په مونږ څه کوی؟ لس لس کسان بوځی؟ هغه ورته وویل: تاسو کی تر اُوسه عقل رانغلو دا کسان وژنی تاسو دیته نهٔ ګوریٔ چه کوم کسان بوځی هغوی بیرته نهٔ راواپس کیږی او بلونکی هم دا نهٔ وائی

چه بس دے کسان پوره شو۔

پدے کی حیی بن اخطب چه د بنو نضیرو مشر وو چه د کعب بن اسد سره ئے وعده کړے وه چه که تاسو وژلے شوئ زهٔ به هم درسره پاتی کیږم هغه راوستلے شو خپلے جامے ئے لړے لړے شکولے وے او لاسونه ئے تړل شوی وو، جامے ځکه شکولے وے چه مسلمانان ترے فائده وانخلی۔

داچه کله راوستے شو دهٔ نبی علیه السلام ته وویل: زهٔ ستا په دشمنی کی ځان نهٔ ملامته کوم، تا سره مے بنه دشمنی کړیده لیکن څوك چه د الله مقابله کوی خپله مغلوبه کیږی۔ نو بیا ئے وویل : دا تقدیر دے الله لیکلے په بنی اسرائیلو، مونږ دے وژل شو جنت ته روان یو، پدے وخت کی ئے په څټ ووهلو مردار شو،

عجیبه خبره وه په باطله وو او ځان ئے په حق گنړلو، ددهٔ سره په خپل حقانیت باندے د وحی نه هیڅ دلیل نهٔ وو، شیطان ورته خپل بد عملونه ښائسته ښکاره کړی وو۔

د زَبیر بن باطَا ناشنا قصه

پدے یهودو کی څو کسان محفوظ پاتی شو ځکه نبی علیه السلام د رحمت نبی وو، یو کس زَبیر بن باطا راوستل شو چه وژل کیدو، نو پدے کی سیدنا ثابت بن قیس بن شماس رضی الله عنه رسول الله ﷺ ته عرض وکړو چه دا سړے ما ته راوبښه، دهٔ ما سره په جاهلیت کی احسان کړیدے چه هغه ورله پوره کړم، احسان ئے دا کړے وو چه زهٔ د اَوس او خزرج په جنګ کی نیولے شوے وم، یعنی د بُعاث په جنګ کی او دے یهودی زهٔ خلاص کړے وم، دے یهودی ته ورغے او ورته ئے وویل چه ما پیژنے؟ هغه وویل: ستا په شان سړے به څوك نهٔ پیژنی؟ ثابت بن قیس ورته وویل چه زهٔ تا سره احسان کوم، نو یهودی ورته وویل: إِنَّ الْكَرِيْمَ يَجْزِى الْكَرِيْمَ)۔

عزتمند سړے عزتمند ته بدله ورکوی۔

نبی علیه السلام ورته وبښلو چه زَبیر دے ستا شی نو دے زَبیر وویل: زهٔ یو بوډا سړے یم، ښځه او بچی مو رانه واخستل، زهٔ په ژوند څه کوم؟ ثابت بن قیس نبی علیه السلام ته راغے چه دا ښځه او بچی ئے راکړه هغه ئے هم ورکړل نو زَبیر وویل: چه په

حجاز کی سرے وسیبڑی او مال ورسره نهٔ وی وخت نهٔ تیریږی نو ثابت رضی الله عنه نبی علیه السلام ته راغے د مال سوال ئے هم ورته وکړو،

نبی علیه السلام ورته وفرمایل چه ددهٔ څه مالونه دی دا هم ورکړئ. نو هغه مالونه ئے هم ورکړل نو زَبیر یهودی ډیر بدبخت وو، دهٔ وویل چه زمونږ مشرچه د شیشے په شان مخ ئے وو (کعب بن اسد) هغه څه شو؟ نوثابت بن قیس ورته وویل چه هغه مردار شو؟ نو بیا ئے وویل هغه زمونږ مشر حیی بن اخطب څه شو؟ هغه وویل: هغه هم مردار شو. نو زَبیر یهودی وویل : ما هم مړ کړه چه د هغوی سره یو ځای شم نو ثابت بن قیس توره راواخسته او په څټ ئے ووهلو مردار ئے کړو. سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه خبر شو وے فرمایل چه دا د خپلو دوستانو سره جهنم کی یو ځای شو، زهٔ پدے قسم کوم چه الله به یهودی او نصرانی خامخا اُور ته داخلوی.

دے فیصله کی دا خبره هم شوے وه چه کوم کسان بلوغ ته رسیدلی دی هغه مړهٔ کړئ، او کوم چه واړهٔ دی په اسلام کی د هغوی او د زنانو وژل نشته نو د نامه نه لاندے وینسته ئے کتل چه دغه به ئے نهٔ وو نو پریښودل به ئے نو عَطیة القرظی وائی :

زهٔ ئے وکتلم زما دا وینسته نهٔ وو شوی نو زهٔ ئے پریښودم نو دهٔ روستو ایمان راوړو او صحابی ترے جوړ شو. (رضی الله عنه)

وجه دا وه چه مشران مجرمان ختم شو نو کشرانو ته لاره وزګاره شوه ایمان ئے راوړو.

یو کس (رِفَاعَه بن سَمُوأل القرظی) نزدے بالغ شوے وو، دا ئے راوستو نو یوے زنانه اُمّ المنذر سلمیٰ بنت قیس النجاریه پورے کلك ونښتو او دمرګ نه ویریدو، نو دهٔ وویل : زهٔ مونځ کوم او د اُوبښ غوښه به خورم (مطلب ئے دا وو چه زهٔ مسلمان یم) نو هغه زنانه راغله نبی علیه السلام ته ئے وویل : دا رفاعه ما ته پریده، هغه ئے هم معاف کړو نو دهٔ هم ایمان راوړو، د قرآن قاری هم جوړ شو او د دین لوی داعی هم شو بیا چه کله به ئے قسم کولو د تاکید دپاره نو داسے به ئے فرمایل: وَالَّذِیْ نَجَّانِیْ یَوْمَ قُرَیْظَةَ.

(قسم په هغه الله چه ما ته ئے د بنو قریظه د هلاکت په ورځ نجات راکړیدے)

زَبیر بن باطا چه ووژل شو نو دهٔ یو ځوی نوے بالغ شوے وو، ثابت بن قیس رضی الله عنه هغه ژوندے پریښودو نو هغه هم ایمان راوړو عبد الرحمن بن الزَبیر صحابی ترے جوړ شو. رضی الله عنه

د عمرو بن سُعدیٰ په نوم یو یهودی وو چه دا د بنو قریظه ؤ سره پدیے غدر او خیانت کی شریك نهٔ وو، دهٔ وویل: قسم په الله! زهٔ د محمد سره دوکه نهٔ کوم. نو هغه راکوز شو، محمد بن مسلمه د څوکیدارانو په دسته باندیے امیر وو هغه ویپیژندلو چه دیے شخص مونږ سره دوکه نهٔ ده کړیے نو هغه ئے معاف کړو، دا بدبخته د مدینے نه کډن لاړو او ورك شو ایمان ئے رانهٔ وړو. هیڅ پته ئے ونه لګیده چه کوم طرفته لاړو.

په دوی کی دوه دریے کورنیو ایمان راوړو لکه ثَعلَبَه بن سَعُیَه او اُسَیُد بن سَعُیه او اسد بن عبید هغه ئے هم معاف کړل او تقریباً (۷۰۰) اُوه سوه کم او زیات کسان ئے مړه کړل.

په دوی کپی یوه زنانه قتل شوه ځکه چه هغے په خلاد بن سوید رضی الله عنه باندیے ژرنده راګوزار کړیے وه او هغه ئے شهید کړیے وو، نو د هغه په بدله کی مرداره شوه.

د بنو قریظو غنیمت تقسیمول

او نبی علیه السلام د دوی مالونه تقسیم کړل پس د هغے نه چه خُمس (پنځمه حصه) ئے تریے بیت المال ته دپاره ویستله شاهسوار ته ئے دریے حصے ورکړیے او پیاده ته ئے یوه حصه ورکړه د دوی غنیمتونه سامانونه وو او وسلے ویے او د شرابو چاټیٔ ویے.

او زنانه او ماشومان ئے د سعد بن زید الانصاری رضی الله عنه د اشراف د لاندیے نجد علاقے ته بوتلل، هغوی باندیے ئے خرڅ کړل او د هغوی په بدله کی ئے اَسونه او اسلحے واخستے. او پنځمه حصه ښځے او ماشومان ئے شام ته د سعد بن عباده رضی الله عنه سره ولیږل او هلته ئے خرڅ کړل او په هغه پیسو باندیے ئے اسونه او وسله واخسته.

او کوم مالونه چه غیر منقول وو لکه ونے او باغونه نو هغه ئے صرف مهاجرینو ته ورکړیے او مهاجرینو ته ئے وویل چه تاسو انصارو ته خپل هغه باغونه او ونے او زمکے بیرته واپس کړیٔ کوم چه دوی د انصارو نه په عاریه طور سره اخستی وو چه دوی به د هغوی د ونو نه میویے اخستے. (السیرة النبویة عرض ووقائع۳/۳٦۸)

نبی علیه السلام یوه وینځه د دویٔ نه راواخستله ریحانه بنت عمرو بن خُنافه هغے ته ئے د ایمان دعوت ورکړو هغے انکار وکړو بیا ئے ورته وویل: ایمان راوړه، زهٔ به دیے

خپله بنځه وګرځوم (ځکه د بنځې مقام اُوچت وی د وینځې نه) لیکن هغې ایمان راننه وړو نو نبی علیه السلام ځان سره د وینځې په طور وساتله تردې چه نبی علیه السلام وفات شو او دا ئې په ملکیت کی وه۔ (قاله ابن اسحاق)

بیا یوه ورځ نبی علیه السلام د صحابه کرامو سره ناست وو، د معجزې په طور ئې وفرمایل: چه د ثعلبه په نوم یو صحابی راروان دې (چه دا اصل کی یهودی وو بیائې ایمان راوړې وو) هغه ما ته زیرې زاوړی چه ریحانې ایمان راوړیدې هغه راغې په رسول الله ﷺ ئې زیرې وکړو۔

بعضو تاریخونو لیکلی دی چه دې سره ئې په شپږم کال د هجرت نکاح وکړه او په لسم کال د هجرت د حجة الوداع نه روسته وفات شوه او په بقیع کی دفن شوه۔ (قاله الکلبی)

او بعضو تاریخونو لیکلی دی چه دا د نبی علیه السلام وینځه پاتې شویده لکه دا قول د ابن اسحاق دې۔

حافظ ابن القیم رحمه الله دا خبره راجح کړیده چه نبی علیه السلام اختیار ورکړو نو هغې وویل چه ما ته پدې کی آسانی ده چه زۀ ستا وینځه یم نو نبی علیه السلام د وینځې په طور وساتله۔

په یهود او شیعه ګانو کی دا مرض دې چه دوی کی ضد ډیر دې دوی اسلام ته نۀ راځی، د نبی علیه السلام بیان ته کانړی نشو تینګیدلې هغه کی فصاحت، بلاغت، شفقت او رحمت په اکمله درجه کی وو، پکار وه چه بنو قریظه ۋ ایمان راوړې وې لیکن لوی بدبخته خلق وو۔

د بنو قریظه و نه روسته دوه واقعې

د بنو قریظه د ختمیدو نه بعد دوه واقعی راغلې۔

یوه واقعه دا چه عائشه رضی الله عنها فرمائی چه کله د بنو قریظه ۋ سړی یوه کوټه کی واچول شو او زنانه بیله کوټه کی واچول شوې، نو یوه یهودئ زنانه زما خوا کی ناسته وه ډیر ئې خندل او خوشحاله وه سره ددینه چه ددې قوم قتل کیدو، دویم دا چه

دیته آواز وشو چه فلانئ چرته ده؟۔ دے وویل : زهٔ دلته یم، نو ما ورته وویل: ولے دومره خاندے او خوشحاله ئے او دا آواز دے څنګه وکړو؟ نو دے وویل چه زهٔ فلانئ زنانه یم او زهٔ به اُوس قتل کیږم۔ ما ورته وویل: دا څنګه ؟ هغے وویل: ما د مسلمانانو نه یو سړے وژلے دے زهٔ مجرمه یم، دا زنانه بوتللے شوه او قتل شوه۔ دِ مسلمانانو نه خلاد بن سوید رضی الله عنه ددے د قلعه لاندے تیریدو دے پرے د ژرندے پل راوغورزولو نو په سر ولګیدو شهید شو نو دائے د هغه په بدله کی قصاص کړه۔

د زنانو وژل په اسلام کی نشته لیکن چه کافرے زنانه د کفارو دپاره جاسوسی کوی یا جنګ کوی یا کفارو ته ډوډئ ورکوی په میدان جنګ کی ئے بیا مرګ جائز دے۔

عائشه رضی الله عنها وائی چه ما ددے زنانه (چه نوم ئے بنانه وو) په خندا ډیر تعجب کولو۔

د سعد بن معاذ رضی الله عنه وفات کیدل

بله واقعه د سعد رضی الله عنه وه چه ددهٔ وینه ودریدلے وه لیکن زخمی حالت کی وو کله چه بنو قریظه ووژل شو نو ددهٔ دعا قبوله شوه۔ سعد رضی الله عنه په مسجد کی پروت وو یوے زنانه به ئے خدمت کولو، نو د شپے دا وفات شو،

عائشه رضی الله عنه فرمائی: په مسجد کی د بنو غفارو یوه خیمه لګیدلے وه نو ددهٔ د زخم نه وینه روانه شوه تردے چه وینه د هغوی خیمے ته ورغله هغوی ویریدل او آواز ئے وکړو اے خیمے والو! ستاسو د طرفه مونږ ته دا څه راروان دی؟ چه وے کتل سعد په خپلو وینو کی پروت دے۔ نو د هغے نه وفات شو۔

جبریل علیه السلام راغے نبی علیه السلام ته ئے وفرمایل چه دا څوک دے چه د رحمٰن ذات عرش ددهٔ د مرګ د وجه نه وخوزیدو؟ نو نبی علیه السلام پوهه شو چه دا سعد بن معاذ دے۔ نبی علیه السلام مسجد ته ورغلو هلته دوه خیمے وے، یوه ددهٔ وه او یوه د میلمنو وه د بنو غفار قبیلے۔ د شپے ددهٔ زخم کولاو شو وینه ترے راوتله بهیدله تردے چه دے بلے خیمے ته راورسیدله نبی علیه السلام چه ورسیدو نو سعد وفات شوے وو، او ابوبکر او عمر رضی الله عنهما هم راغلل او ډیر زیات ئے وژړل۔

نبی علیه السلام چه به کله ډیر خفه شو، ګیره مبارکه به ئے ونیوله نو پدے وخت کی

ئے هم کیـره مبارکه ونیوله، کله چه د سعد رضي الله عنه جنازه مقبرے ته وړل کیده، منافقانو وریسے خبرے شروع کړے چه دا د قوي بدن والا سړے وو او دا جنازه ئے سپکه وه، معلـو میږی چه دا سپك سړے وو او دا ئے پدے وجه وویل چه په بنو قریظه ئے د مرګ فیصله کړے وه، نو نبي ﷺ ددۀ دفاع وکړه ځکه د نیکانو دفاع پکار ده۔

حدیث کی دی: ((چا چه د ورور مسلمان د عزت نه دفاع وکړه په غائب والی د هغه کی نو په الله باندے دا حقه ده چه دا به د اُور نه آزادوی))

(صحیح الجامع رقم الحدیث: ٦٢٤٠) حدیث صحیح۔

نبي علیـه السـلام وفـرمایـل: ددۀ جنـازه ځکه سپکه ده چه ددۀ جنازے ته اویا زره ملائك حاضر شویدی۔ (النسائي ٤/١٠٠ عن ابن عمر)

احادیثـو کـی دا دی چه د هر مؤمن جنازے ته ملائك راځی۔ چا ته ډیر او چا ته کم۔ لـکه حـدیث دے: څوك چه جنابت کی مؤمن مړ شي نو خواص ملائك جنازے ته نهٔ راځی، دا وجه ده چه جنـب له د شپے په اول کی غسل پکار دے که نهٔ وی بیا اَودس یا تیمم دے وکړی۔ حدیث نه معلومه شوه چه د هر مؤمن مرګ ته ملائك راځی۔

د سعـد رضـي الله عـنه د مرګ د وجه نه د الله تعالیٰ عرش وخوزیدو وجه ئے دا وه چه ددۀ د روح په راتـللو خوشحاله شو لکه د سړی میلمه راځی.ورته حرکت کی شی، او دا بعیده نهٔ ده۔

یـوحـدیث کی راځی چه مؤمن بنده مړ شي نو په دۀ باندے آسمان او زمکه ژاړی، د آسمان دروازے پرے ژاړی زمکه کی هغه ځای پرے ژاړی په کوم ځای ئے چه عمل کولو او آسمان کی دوه دروازے یوه د عمل د ختلو او بل د رزق راکوزیدلو۔

دویمه وجه د عرش د خوزیدو دا وه :تَعْظِيْمًا لِمَوْتِهِ)

ددۀ د مـرګ عـظـمت ډیر وو نو د هغے د وجه نه وخوزیدو ځکه دا ډیر ناشنا کار وو چه یـو عـظـیم انسان د دنیا نه لاړو، لکه حدیث دے: د مؤمن په مرګ که یوه لویه قبیله راجمع شي تړول به الله تعالیٰ جهنم کی واچوی۔ د مؤمن نفس دومره قیمتي دے۔

دلتـه مـنـافـقـانـو وویـل چه د عرش نـه مـراد کـټ دے یعنی کټ ئے خوزیدلے دے نو مؤمنانو به ورسره دا لفظ زیات کړو چه : اِهْتَزَّ لَهٗ عَرْشُ الرَّحْمٰنِ)۔

د رحمٰن ذات عرش ورته خوزیدلے دے۔

نبی علیه السلام د سیدنا سعد رضی الله عنه جنازه وکړه او هغه ئې دفن کړو د هغه قبر ته حارث بن اوس او اسید بن حضیر او ابو نائله سلکان او سلمه بن سلامه بن وقش ورکوز شو او رسول الله ﷺ ولاړ وو. هرکله چه هغه دفن کړے شو نو د رسول الله ﷺ مخ مبارك متغیر شو او درے کرته ئې الله اکبر او سبحان الله ئې وویله، صحابه کرامو هم ورسره تسبیح وویله تردے چه بقیع کې آوازونه پورته شو،

صحابه کرامو تپوس وکړو چه اے د الله رسوله ! دا کار خو تا د نورو مړو سره نهٔ کولو صرف دعا به دے کوله او اُوس تا تسبیح ووئیله؟،

نبی علیه السلام وفرمایل : دا مے پدے وجه وکړو چه :

لَقَدْ تَضَايَقَ عَلَى هٰذَا الْعَبْدِ الصَّالِحِ قَبْرُهُ)

پدے نیك بنده باندے قبر راتنګ شو هر کله چه ما دا تسبیحات وویل نو الله تعالیٰ ترے دا تکلیف بیرته لرے کړو.

او بل حدیث کې راځي :

لَوْ نَجَا أَحَدٌ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ لَنَجَا هٰذَا)

که د قبر د عذاب نه څوك خلاصیدلے نو دا شخص به خلاص شوے وے. دیته ضغطة القبر وائي یعني د قبر تنګي، او دا به په هر انسان راځي کله چه قبر ته داخل شي قبر پرے راتنګ شي یو هیبت پرے راشي پدے کې حکمت دا دے چه د هر مؤمن نه څه نا څه ګناه شوي وي.

څوك وائي زمکه د انسانانو مور ده او دا انسان ترے جدا شویدے نو غیږ کې ئې راونیسي. ضغطة القبر په هر مؤمن راځي په چا پنځه منته وي او په چا ګینټه او په چا زیاته او په چا کمه وي دا وجه ده چه مړي ته دعا ډیره پکار ده.

نبی علیه السلام خبر ورکړو چه دا ضغطه د سعد (رضی الله عنه) نه زر لرے شوه.

یو روایت کې دي چه رسول الله ﷺ دهٔ دپاره دعا وکړه.

بعضي روایتونو کې راځي چه د سعد د بعض کوروالو نه تپوس وشو نو هغه وویل : چه دهٔ به د بول نه په طهارت کې لږ قصور کولو.

(رواه البیهقي عن ابن اسحاق) السیرة النبویة لابن کثیر ۳/۲٤٦).

د غزوهٔ احزاب نه روستو نبی علیه السلام دا خبره وکړه چه دا د هغه معجزه وه :اَلآنَ

نَغْزُوْهُمْ وَلَا يَغْزُوْنَا ۔ نن نه بعد به زمونږ حملے پدے کافرو وی او د دوی به په مونږ حملے نۀ وی۔ ددینه روسته نبی علیه السلام شروع شو کو مو ډلو چه په مدینه حمله کړے وه په هغوی باندے ئے حملے شروع کړے۔

د غزوه احزاب نه تر غزوه حدیبئه پورے یو څو کارونه وشو چه تفصیل ئے دا دے :

سریه دپاره د قتل د ابورافع یهودی (۲) سریه د محمد بن مسلمه قرطاء علاقے ته (۳) د زید بن حارثه رضی الله عنه او د زینب رضی الله عنها نکاح۔ (٤) غزا د بنو لحیان چه تفصیل ئے روستو راروان دے۔



د ابورافع - سلّام بن ابی الحقیق- یهودي قتل

(ذی قعده یا ذی الحجه سنه (۵ هجری)

نبي علیه السلام یوه سریه تیاره کړه د یو یهودي د قتل دپاره چه د هغه نوم سلام بن ابی الحقیق وو په ابورافع مشهور وو او د شام ډیر لوئ تاجر وو.

دهٔ ډیرے پیسے (مالونه) دے احزاب (ډلو) ته ورکړے چه لاړ شئ او مسلمانان ووهئ نو د خزرج څه کسان رسول الله ﷺ ته راغلل چه دا سړے مونږ ته وسپاره مونږ به ئے مړ کړو او دا کار ئے ددے دپاره کولو چه بنو قریظه د اَوس په لاس هلاك شو دارنگه کعب بن اشرف د اَوس قبیلے په لاس هلاك شوے وو نو دوی وویل چه دا مونږ ختموو چه د هغوی پشان فضیلت حاصل کړو.

نو نبي علیه السلام دوی ته اجازه ورکړه چه لاړ شئ خو زنانه او ماشومان به نهٔ وژنئ نو پنځه کسان تیار شو. چه ټول د بنو سلمهٔ نه وو. (۱) عبد الله بن عتیك، (۲) عبد الله بن اُنیس، (۳) ابو قتاده بن ربعی، (٤) مسعود بن سنان (۵) او د دوی حلیف خزاعي بن اسود رضی الله عنهم.

سیدنا عبد الله بن عَتِیُك رضی الله عنه ئے ورله مشر مقرر کړو، دا کسان لاړل خیبر ته ورسیدل داسے وخت وو چه نمر پریوتے وو، په خیبر کی د ابورافع یهودي قلعه وه چه دا ډیره غټه قلعه وه او ددے قلعه یوه دروازه وه په هغے کی به پهره ولاړه وه، دننه پدے قلعه کی ډیر کورونه وو چه خلك به پکی وسیدل چه دا پدے قلعه کی یوه محله وه.

ابورافع ډیره مالداره وو ډیر څوکیداران ئے لرل، عبد الله بن عتیك رضی الله عنه ملګری کینول چه زهٔ ورځم ګورم چه دے قلعه ته د ورننوتو څه ترتیب دے،

نو سیدنا عبد الله بن عتیك ورغلو، دے وائی چه زهٔ ورغلم نو د ابورافع د قلعه د دیوال سره د دروازی نه وړاندے کیناستم او څادر مے په سر راوا چولو، داسے معلومیده لکه چه متیازو ته ناست یم پدے کی څوکیدار آواز وکړو چه:

يَا عَبْدَ اللّٰهِ اِنْ كُنْتَ تُرِيْدُ اَنْ تَدْخُلَ فَادْخُلْ فَاِنِّيْ اُغْلِقُ الْبَابَ.

اے د الله بنده! که تهٔ د داخلیدو اراده لرے نو داخل شه ځکه زهٔ دروازه بندوم،

د څوکیدار گمان دا وو چه دا هم پدے قلعه کی د کوم کور سړے دے۔

سیدنا عبد الله بن عتیك رضی الله عنه وائی : زۀ راغلم او څادر مے په سر وو په جلتئ ننوتلم دا څوکیدار راباندے پوهه نشو دننه یو طرفته پټ شوم، تیاره وه رنړا هم نۀ وه پدے وخت کی دے پهره دار دروازه دننه طرف نه قلف کړه او چابیانی ئے راواخستے په میز باندے ئے کیښودلے۔

د ابورافع یهودی عادت دا وو چه د ماسخوتن نه روسته به ئے د قلعه کسان راجمع کیدل نو خلك دده کوټے ته ورغلل دۀ سره ناست وو د ډیر وخته پورے ئے قیصے کولے تردے چه بنه سترې شو نو خلك ترے خپلو خپلو کوټو ته خوارۀ شول نو ما ته پته ولگیده چه سړے یواځے پاتے شو نو زۀ لاړم هغه چابیانی مے راواخستلے، دا بهر دروازه مے اول کولاوه کړه چ ه په ىمنده بهر وتل راته آسان شی او ابورافع بره بالاخانه کی وسیدو زۀ په پوړئ باندے بره ورروختلم نو یوه دروازه مے بیرته کړه بیا دویمه دروازه بیا دریمه دروازه۔ ابو رافع د خطرے د وجه نه دننه وسیدو نو ما اوله دروازه کولاوه کړه او دننه طرف نه مے بنده کړه دویمه دروازه مے هم دننه طرف نه بنده کړه چه دریمه دروازه مے کولاوه کړه هغه مے هم دننه طرف نه بنده کړه مقصد مے دا وو چه که د بهر نه څوك پوهه شی او ما پسے راځی ما به کار خلاص کړے وی که بیا زۀ مړ شم خیر دے خو چه ما سړے وژلے وی۔

نو چه زۀ د ابورافع کوټے ته داخل شوم تیارۀ وه نو ما آواز وکړو: يَا أَبَا رَافِعٍ۔

اے ابورافعه ! نو هغه وویل: څوك ئے؟ نو زۀ آواز طرفته ورنزدے شوم۔ ما پرے گوزار وکړو نو صحیح ونۀ لگیده ځکه زۀ یریدونکے وم، نو هغه آواز وکړو، زۀ بهر راووتلم بیا ورغلم آواز مے بدل کړو : مَالَكَ يَا أَبَارَافِعٍ ؟۔ خه چل دے ابورافعه؟، څنگه چغے وهے۔ د ابورافع گمان راغے چه دا زما څوکیدار دے نو ابورافع وویل: ستا مور دے هلاکه شی دلته څوك راغلے دے په ما ئے د توری گوزار وکړو،

عبد الله وائی : چه دا خبره ئے وکړه نزدے ورغلم بل گوزار مے پرے وکړو چه وینی مے کړو لیکن لا مړ مے نکړو بیا مے د توری تیره څوکه د هغه په خیټه کی کیښوده او پرے وروربوتلم تردے چه هډوکو ئے چغارے او آوازونه وکړل زۀ پوهه شوم چه اُوس مے قتل کړو او دۀ ډیره تیزه چغه کړه لیکن بهر خلکو وانۀ وریدله ځکه دروازه بنده وه، زۀ بهر

راوتلم سپور مئ هم وه، هیبت راباندے هم وو، یوه یوه دروازه مے کولاوه وله تردے چه زهٔ آخری پورئ ته رانزدے شوم د هیبت د وجه نه ما گمان وکړو چه دا آخری زمکه ده ما چه خپه کیښوده ښکته راوغورزیدم نوخپه مے ماته شوه، نو ما خپل پټکے را ایله کړو او خپه مے پرے وتړله نو بهر راووتلم او کیناستم دا قصد مے وکړو چه تر هغه وخته به نهٔ ځم ترڅو چه ددهٔ د مرگ نه پوره خبر شومے نهٔ یم کیدے شی چه اُوس هم زخمی وی، زهٔ د دروازے په خوا کی ناست وم تردے چه سهار وختی یو تن اعلان وکړو چه ابورافع د اهل حجازو تاجرمړ شو۔

(دا وجه ده چه شریعت د مړی د اعلان نه منع کړیده داد جاهلیت والو طریقه ده، د مړی اعلان که مسجد کی وی او که بهر وی بدعت او گناه ده)۔

پدے وخت کی سهر وختی اُورونه بل شو یو کس د قلعه سر ته وختلو او په اُوچت آواز ئے اعلان وکړو چه ابورافع د حجاز والو تاجر نن شپه وژلے شویدے۔ نو یهود راووتل خوارهٔ شو نو زهٔ د خپلو ملگرو خوا ته راغلم یو باغ وو هغے ته ننوتلو۔

سیدنا عبد الله بن عتیك رضی الله عنه وائی چه یهودو ته معلومه شوه چه څوك نشته دے واپس لاړل نو مونږ مدینے طرف ته راروان شو۔

په روایت د ابن اسحاق کی دی چه ملگرو عبد الله بن عتیك په اُوښ باندے ځان سره راکینولو او مدینے ته راورسیدل،

د خیبر او د مدینے ترمینځ یو سل پنځه شپیته (۱۶۵) کیلو میتره لاره وه د مدینے شمالی طرف باندے د شام په لاره پروت دے۔ (المعالم الاثیرة ص: ۱۱۰)

نبی علیه السلام خبر شو پدے کار ډیر خوشحاله شو۔ دیته اغتیالات سریه وائی۔

عبد الله بن عتیك رضی الله عنه وائی: رسول الله ﷺ ما ته وویل خپه رانزدے کړه ما ورنزدے کړه، هغه پرے لاس راښکلو نو زما خپه داسے جوړه شوه لکه بالکل چه ماته شوی نهٔ وی۔

دا د نبی علیه السلام معجزه وه لکه مخکی د قتاده بن نعمان رضی الله عنه واقعه تیره شوه چه احد کی ددهٔ سترگه راوتلے وه نبی علیه السلام بیرته په ځای کړه۔

ابورافع پدے طریقه ووژل شو۔ نوپه یهودو باندے نور رعب هم راغے چه ددے نبی نه مونږ دلته هم نشو خلاصیدے د یهودو سرونه نور هم ښکته شو۔

د محمد بن مسلمه رضی الله عنه سریه (دسته) قُرطاء علاقے ته

کله چه رسول الله ﷺ د احزاب او بنو قریظهٔ نه فارغ شو نو هغه قبیلو او باندِچیانو باندے ئے حملے شروع کړے چه هغوی اسلام ته او امن ته په خپله نهٔ راتلل بلکه مضبوط زور ورله پکار وو نو پدے وجه نبی علیه السلام د هغوی د ادب ورکولو دپاره د خپلو صحابه کرامو دستے لیږل شروع کړل۔

یوه پکی د محمد بن مسلمه رضی الله عنه سریه وه۔ چه د هجرت شپږم کال د محرم میاشتے لس ورځے تیرے شوے او پدے سریه کی نولس (۱۹) ورځے غائب وو او بیرته چه واپس شو نو د محرم یوه ورځ پاتے وه۔

(عمر رضی الله عنه به فرمایل: محمد بن مسلمه د زرو (۱۰۰۰) کسانو مقابله کولے شی)۔

سیدنا محمد بن مسلمه رضی الله عنه ئے تیار کړو چه تهٔ به لاړ شے قُرطاء علاقے ته چه هغهٔ د نجد په علاقه کی یوه علاقه ده چه د مدینے او د هغے ترمینځ اوه ورځے مزل دے په بَکرات مقام کی واقع دے په طرف د ضریّه باندے۔ هلته کی د احزابو نه یوه ډله ده بنو بکر بن کلاب ځکه دا هغه خلك دی چه د مسلمانانو مقابلے ته راغلی وو دوی ته ادب ورکول پکار دی۔

دوی دیرش کسان روان شو چهٔ د شپے به ئے مزل کولو او د ورځے به پټیدل، په لاره کی د یوے قافلے سره ملاؤ شول چه هغوی د یوے چینے سره دمه کړے وه، دوی یو کس ورولیږلو چه تاسو څوك یئ؟ هغوی وویل: مونږ بنی محارب یو، نو دے هغوی ته نزدے ورغلو کله چه هغوی خپل اُوښان د اُوبو خوا ته نزدے وروستل او هلته ئے کینول مشغوله شول نو دوی پرے حمله وکړه لس کسان ئے ترے قتل کړل او باقی وتښتیدل او د هغوی نه ئے اُوښان او ګډے بزے ونیولے او هغوی سره چه کومے زنانه وے هغوی ته ئے هیڅ ونهٔ وئیل،

بیا مخکی روان شو کله چه د بنو بکر علاقے ته نزدے شو نو عباد بن بشر رضی الله عنه ئے ولیږلو چه د بنو بکرو خبر راوړی، هرکله چه هغه خبر راوړو نو محمد بن مسلمه پرے د ملګرو سره حمله وکړه د هغوی نه ئے لس کسان قتل کړل او باقی

وتبنتیدل، رعب پرېے واقع شو اګرکه دا صحابه کرام لږ کسان وو، محمد بن مسلمه او ملګروئې ترېے یو نیم سل (۱۵۰) اُوښان او درې زره (۳۰۰۰) ګډې راوستلې او مال غنیمت ئې وګرځولو، پنځمه حصه ئې ترېے بیت المال ته ورکړه او باقي ئې په مجاهدینو تقسیم کړو چه یو اُوښ ئې د لسو ګډو سره برابر وګرځولو۔

(امتاع الاسماع ۱/۲۵۷) والسیرة الحلبیة :۳/۱۷۱)

د ثمامه بن أثال نیولو واقعه او د هغه اسلام قبلول

دغه مالونه ئې چه راوړل په لاره کې یوه واقعه راغله هغه دا چه یو سړې ئې مونده کړه چه د ونې لاندې اُوده وو، دا سړې ئې راونیولو توره ورسره وه، راپائې څولو مدینې ته ئې راروان کړو چه رائې وستلو نبي علیه السلام تپوس وکړو چه دا څوك دې؟ صحابه کرامو وویل: نۀ ئې پیژنو، نبي علیه السلام وویل: دا خو ثمامه بن اُثال دې چه د یمامه قبیلې مشر او سردار دې چه مسیلمة الکذاب هم ددې قبیلې نه وو۔

نبي علیه السلام امر وکړو چه ثُمامه بن اُثال په مسجد نبوی کې وتړی نو د مسجد نبوی هغه ستنې پورې ئې وتړلو چه دروازې ته نزدې وه چه د وتلو په وخت کې مسلمانان وینې او مسلمانان دۀ لره وینې۔

(ددینه معلومه شوه چه په مسجد کې د قیدی تړل روا دی او مسجد ته د کافر داخلول جائز دی سوی د مسجد حرام نه)۔

مسجد کې ئې څکه وتړلو چه د صحابه کرامو عبادت او اخلاق وینې او متأثره شي، نبي علیه السلام به ورتللو ملاقات به ئې ورسره کولو نو نبي علیه السلام سهر وختې ورغلو ورته ئې وویل تاسره څه دي اے ثمامه؟ هغه وویل: ما سره خیر دې، درې خبرې دی: اِنُ تَقُتُلُ تَقُتُلُ ذَا دَمٍ۔ که زۀ دې مړ کړم، زۀ وینې والا یم، (زما قوم به درنه بدله واخلی)، زۀ د یمامې مشر یم، یمامه کې یو لاکھ فوج دې په تا به حمله وکړی او که تۀ معافي وکړې نو زۀ شکرګذار یم او که تۀ مال غواړې نو مال وغواړه زۀ به ئې درکړم څومره چه غواړې، زۀ مالداره یم۔

نبي علیه السلام هغه په همدې حال کې پریښودو۔

صبا تـه بیا نبی علیـه السلام د هغـه خواته ورغے چه تا سره څه دی؟ هغه وویل: همغـه درے خبرے ئے ورته وکړے خو دا د معافی خبره ئے مخکی وکړه چه که معافی کوے نو شکر گذار یم او که مړ دے کړم وینی والا یم او که مال غواړے مال به درکړم۔

په دریمـه ورځ بیا نبی علیه السلام ددۀ خوا ته راغے هغه بیا هم همغه درے خبرے وکړے او د معافی خبره ئے مخکی کړه نبی علیه السلام ددۀ سره د احسان امر کړے وو، دۀ تـه بـه ئے پۓ راوړل نو نبی علیه السلام پو هه شو چه سړے پو هه شویدے نو امرئے وکړه چه ثُمامه پریدئ نو دے د کجورو یو باغ ته لاړو او غسل ئے وکړو او راغلو ایمان ئے راوړو، او دا خبره ئے وکړه چه اے د الله رسوله! قسم په الله په مخ د زمکه یو مخ ما ته ډیر بد نـهٔ ښکاره کیدو ستا د مخ نـه او اُوس ستـا د مـخ نـه بـل د هیـڅ مخ ما ته ښه نۀ ښکاری، په ټول مخلوق کی مے ستا مخ خوښ دے او ما ته د اسلام د راوړلو نه مخکی هیـڅ یـو دیـن بـد نـهٔ ښکـاره کیدلو ستا د دین نه غیر او اوس راته په ټولو دینونو کی غوره او بهتر دین ستا دین ښکاری او ما ته هیڅ یوه علاقه دومره بده نۀ ښکاره کیدله لکه ستا ښار اُوس راته په ټولو ښارونو کی ستا ښار غوره ښکاری،

بیا ئے وفرمایل چه ستا مجاهدینو زۀ رانیولے وم او ما د عُمرے نیت کړے وو۔

(دا یـو د عمرے په نیت راغلے وو دویم: مسیلمة الکذاب رالیږلے وو چه عمره وکړه او چه راواپس شوے په رسول الله ﷺ به حمله وکړے په توره ئے زهر اچولی وو)

نـو ثـمـامـه وویـل: زۀ اُوس عـمـره وکړم؟ رسول الله ﷺ ورته زیرے ورکړو او د عمرے اجازه ئے ورکړه چـه عـمـره دے پوره کړه (چا چه د نیکئ اراده کړی وی او اسلام راوړی نو هغه نیکی به پوره کوی)

کـلـه چـه هـغـه مـکے تـه ورسیدو د مکے خلکو ددۀ ډیر عزت وکړو چه دا خو د یمامه مشر دے، دا ورتـه څرگـنـده نـهٔ وه چه مسلمان شویدے لیکن کله چه دۀ طواف شروع کړو او تلبیه ئے په شرعی او اسلامی طریقه وویله او د مشرکانو تلبیه ئے ونۀ ویله ځکه مشرکانو به دا الفاظ پکی زیاتول: لَاشَرِیْكَ لَكَ اِلَّا شَرِیْكًا تَمْلِكُهٗ وَمَا مَلَكَ۔

(ددے نـه دا فـائـده مـعـلـومـه شـوه چـه مشرکانو الله منلو، حج او طواف ئے هم کولو لیـکـن بـتـان او معبودان به ئے وسیله کی پیش کول او وئیل به ئے چه دوی مونږ الله ته نزدے کوی نو پدے وجه کافران او مشرکان شو)

ثمامه چه کله تلبیه وویله مشرکانو ورته ووبل : ته صابی شوے ئے؟ نو هغه ووبل: زهٔ صابی شوے نهٔ یم لیکن ما اسلام راوړی د محمد رسول الله ﷺ سره نو دوی د هغه دشمنی شروع کړه۔

(ددینه دا فائده معلومه شوه چه څوك حق قبول کړی نو خپله ډله او پارټی به ئے دشمنی شروع کوی)

مشرکینو ثُمامه بن اُثال ونیولو او وے تړلو نو ثُمامه ورته ووبل : چه تاسو ما بندوئ زهٔ به د یمامه نه غله او تجارت دربانده بند کړم نو دهٔ یمامه ته پټ جواب ولیږلو چه غله پرے بنده کړئ نو هغوی ددهٔ خبره ومنله، غله ئے پرے بنده کړه ځکه هغوی ددهٔ د اسلام نه خبر نهٔ وو، د مکے قریشو مشرکینو ووبل: دا به پریدو چه غله را آزاده شی نو ثمامه ورته ووبل : زهٔ خو تاسو پریښودم خو زهٔ به په تاسو غله بندوم تردے چه رسول الله ﷺ ما ته اجازه وکړی نو هغه غله ئے پرے بنده کړه تردے چه مشرکین ډیر وږی شو پدے وخت کی دوی رسول الله ﷺ ته جواب ولیږه چه الله او زمونږ خپلولئ ته وګوره چه دا غله آزاده کړه د لوږے د وجه نه مړه شو۔

نبی علیه السلام ثمامه ته جواب ورولیږه چه غله دوی ته ورپریده. د دینه د اسلام غلبه معلومه شوه چه مشرکین محتاج شو او د رسول الله ﷺ غټ غټ خلك ملګری پیدا شو په مختلفو علاقو کی، د ثمامه بن اثال په وجه ډیره فتح وشوه۔

د زید بن حارثه او د زینب رضی الله عنها نکاح

په پنځم کال د هجرت بله واقعه دا راغله چه نبی علیه السلام د زینب رضی الله عنها سره نکاح کړے وه ددے واقعے خلاصه دا ده چه یو صحابی دے سیدنا زید بن حارثه رضی الله عنه دا ماشوم وو د خپلے مور سره روان وو د ماماګانو ملاقات ته تللو په لاره کی پرے غلو بد معاشانو حمله وکړه، زید رضی الله عنه ئے سره د خپلے مور نه ونیول، مور ئے ورله پریښوده، هلك ئے مقصد وو دا ئے ځان سره ایسار کړو نو په مکه کی ئے خرڅ کړو، حکیم بن حزام چه د خدیجة الکبریٰ رضی الله عنها په مال کی تجارت کولو هغه واخستلو خدیجے ته ئے ورکړو،

نبی علیه السلام چه کله د خدیجی سره نکاح وکړه د نبوت نه مخکې نو زید بن حارثه ئې نبی علیه السلام ته ورکړو دا د هغه غلام شو او د هغه سره ډیر خوشحاله وو پلار او تره ئې پدې ماشوم پسې ګرځیدل ډیر خفه وو، چا خبر کړل چه ستاسو ماشوم په مکه کې دې نو د زید ورور او د زید تره مکې ته راغلل (یا پلار او تره) چا ورته وویل چه د محمد په نوم سړې دې د هغه سره دې، نبی علیه السلام سره ئې ملاقات وکړو او ورته ئې وویل چه زمونږ نه یو ماشوم غلو تښتولې دې داسې خبر شوی یو چه تا سره دې که مونږ سره ئې پریدې بهتره به وی؟،

نبی علیه السلام ورته وویل: هغه ته به اختیار ورکړو که ما سره پاتې کیدو هم خوښه ئې ده او که تاسو سره تللو هم صحیح ده،

هغوی وویل: دا خو ډیره د انصاف خبره ده۔

زید بن حارثه چه کله راغې نبی علیه السلام ورته وویل: ته دا پیژنې ؟ هغه وویل: دا یو مې تره دې او بل مې ورور دې،

نبی علیه السلام ورته وویل: مونږ تا ته اختیار درکړیدې چه مونږ سره پاتې کیږې او که د دوی سره ځې؟۔ الله تعالیٰ په زید رضی الله عنه باندې د خیر اراده کړې وه، هغه وویل چه داسې ځای انسان ته په نصیبونو او قسمتونو ملاویږی او زهٔ د دوی سره نهٔ ځم نو ورور او پلار ئې په خوشحالئ واپس لاړل روسته ئې ورور ایمان راوړو هغه به ویل : زمونږ رایه غلطه وه او د زید رایه صحیح وه،

نو زید رضی الله عنه کله چه نبی علیه السلام په خپل ورور او تره باندې غوره کړو نو د نبی علیه السلام ورسره ډیره مینه پیدا شوه او قریشو ته ئې اعلان وکړو چه تاسو ګواه شئ چه زید زما ځوی شو نو خلکو به ورته زید بن محمد وئیلو او د متبنیٰ (ځوی ولئ) رواج عربو کې د پخوا نه وو تردې چه نبی علیه السلام ته نبوت ملاو شو او مدینې ته ئې هجرت وکړو،

زید بن حارثه رضی الله عنه په اولنو مؤمنانو کې دې چه اول کې ئې ایمان راوړو،

عمرو بن عبسه رضی الله عنه وائی : زهٔ مکې ته راغلم ما د نبی علیه السلام نه تپوس وکړو چه تا سره پدې دین څوك ملګری دی ؟ نو نبی علیه السلام وفرمایل :

(حُرٌّ وَعَبْدٌ)۔ یو غلام او یو آزاد دې، آزاد سیدنا ابوبکر او غلام سیدنا زید وو۔ علی

رضی الله عنه ئے ذکر نکړو ځکه چه هغه ماشوم وو۔

نبی علیه السلام چه به صحراء ته تللو نو ځان سره به ئے بو تللو نبی علیه السلام د زید سره ډیره مینه وه او د هغه د بچو سره ئے هم ډیره مینه وه، د هغه د نمسو سره ئے هم محبت وو، د زید رضی الله عنه ناشنا فضیلت دا دے چه د هیڅ یو صحابی نوم هم قرآن کریم کی ندے ذکر صرف ددهٔ نوم راغلے دے، ددهٔ په نوم اخستو کی دیرش نیکئ دی او د عربو په هر کتاب کی ددهٔ نوم شته ځکه آسان نوم دے۔

نبی علیه السلام د زید رضی الله عنه دپاره وادهٔ وکړو، ام ایمن چه د عبد الله (د رسول الله ﷺ د پلار) وینځه وه او د رسول الله ﷺ حاضِنَه (تربیت کونکے) وه، په وړوکوالی کی ئے د هغه خدمت کړے وو، نبی علیه السلام ام ایمن په نکاح ورکړه، د هغے نه ئے ځوی هم پیدا شو اسامه بن زید رضی الله عنه چه په پنځم کال د هجرت وشو نو رسول الله ﷺ د زید دپاره بله ښځه کوله زینب رضی الله عنها چه دا د قریشو نه وه، د رسول الله ﷺ د ترور لور وه، د اُوچت خاندان نه وه او نیکه او ښائسته هم وه، نبی علیه السلام د هغے د خاندان نه مطالبه وکړه چه دا د زید دپاره وکړی نو هغوی اوله کی روستو شو، وے وئیل چه دهٔ ته ئے نهٔ ورکوو ځکه چه دا خو غلام دے د قریشو نه نهٔ دے، مونږ د اُوچت خاندان خلك یو، وروړ ئے هم نفرت وکړو او زینب هم نفرت وکړو، الله سبحانه وتعالیٰ دا آیتونه رالیږل :

﴿ وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّلَا مُؤْمِنَةٍ اِذَا قَضَى اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗٓ اَمْرًا اَنْ يَّكُوْنَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ اَمْرِهِمْ وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا مُّبِيْنًا ﴾ (احزاب:٣٦)۔

مؤمن سړی او مؤمنے ښځے له دا جائز نهٔ دی چه الله او رسول د یو کار فیصله وکړی او بیا دے د هغوی اختیار چلیږی او څوك چه نافرمانی وکړی د الله او د رسول نه، په تحقیق سره گمراه شو په گمراهئ ښکاره سره)۔

الله تعالیٰ عامه قاعده بیان کړه چه په هر مؤمن سړی او ښځه باندے د الله او د رسول تابعداری ضروری ده۔

امام شافعی رحمه الله فرمائی: أَجْمَعَ الْمُسْلِمُوْنَ عَلٰى أَنَّ مَنِ اسْتَبَانَ لَهٗ سُنَّةٌ مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ لَمْ يَحِلَّ لَهٗ أَنْ يَّدَعَهَا لِقَوْلِ أَحَدٍ)۔

د مسلمانانو پدے اجماع ده چه چا ته د محمد رسول الله ﷺ سنت طریقه (حدیث)

ورسیږی نو دهٔ له دا جائز نهٔ دی چه دا پریدی د چا د خبرے د وجه نه چه دا زما مذهب نهٔ دے زما د امام خبره نهٔ ده، زما په تنظیم او پارټیٔ کی نشته)

کله چه دا آیتونه نازل شو هغوی سمدست تیار شو چه زینب به زید رضی الله عنه ته په نکاح سره ورکوو نو نبی علیه السلام د دوی نکاح وتړله۔

(ددینه دا فائده معلومه شوه چه په اسلام کی تقویٰ له اعتبار دے، نسبونو له اعتبار نشته دے، پدے کی په هغه فقهاؤ رد دے چه وائی کُف په نکاح کی شرط دے، که یوه ښځه د غیر کُف (همزولی) سره نکاح وکړی ولی له دا اختیار شته چه دا نکاح فسخ کړی لکه قریشی د نورو عربو سره نکاح وکړی یا عرب د عجم سره نکاح وکړی یا دا چه ښځے ته کسب (خیاطی، ګلدوزی) ورځی او خاوند ته نهٔ ورځی نو وائی چه دا کف نهٔ دے ددے دواړو په نکاح باندے ولی اعتراض کولے شی، لیکن دا مسئله غلطه ده۔

دویمه مسئله دا ثابته شوه چه په اسلام کی د هر مسلمان سره نکاح کیږی چه دین پکی وی که هغه د هر قوم نه وی)۔

غرض دا چه د زینب رضی الله عنها نکاح د زید رضی الله عنه سره وشوه څه وخت تیر شو لیکن د دواړو اتفاق او مینه پیدا نشوه یو څو ورځے تیریدلے دا بی اتفاقی نوره هم ډیریدله، زید رضی الله عنه راغے رسول الله ﷺ ته ئے وویل : دا ښځه طلاقوم؟ نبی علیه السلام وفرمایل چه د الله تعالیٰ نه ویریږه صبر کوه که هغه څه بد اخلاقی کوی تهٔ صبر کوه حقوق ئے ادا کوه، د نبی علیه السلام په زړه کی دا خبره وه چه که دا ئے پریدی الله تعالیٰ به ما ته امر وکړی چه تهٔ ئے په نکاح واخله ځکه چه الله تعالیٰ به دا رسم ختموی۔

که زهٔ ئے په نکاح واخلم خلك به خبرے شروع کړی چه د اینګور سره ئے نکاح وکړه۔

نو الله تعالیٰ همداسے وکړل چه زید رضی الله عنه تعلق ورسره نهٔ جوړیده نو زید رضی الله عنه کله چه ترے حاجت پوره کړو نو طلاق ئے ورکړو او چه کله ئے عدت تیر شو نو د الله سبحانه وتعالیٰ امر راغے چه زینب ما تا ته په نکاح درکړه۔

یو پدے نکاح کی ولی مقرر نهٔ وو او بل مهر نهٔ وو، دریم دا چه ګواهان پکی نهٔ وو، د نکاح هیڅ پروګرام پکی نهٔ وو وجه دا وه چه دا نکاح الله تعالیٰ د عرش دپاسه تړلے وه۔

او الله تعالیٰ ډیر لوی ولی او لوی ګواه او حلالونکے دے،

دا وجه ده چه زینب رضی الله عنها به په نورو بیبیانو باندے فخر کولو چه زما نکاح الله تعالیٰ د عرش نه بره تړلے ده او زۀ الله تعالیٰ خپل نبی ته په نکاح ورکړے یم او تاسو خپلو پلارانو په نکاح ورکړی یئ۔

(پدے نکاح کی بله فائده دا ده :﴿فَلَمَّا قَضٰى زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا﴾۔

عبد الله بن عباس رضی الله عنه به فرمایل :اَلطَّلَاقُ عَنْ وَطَرٍ۔ طلاق هله واقع کیږی چه د سړی د ښځے نه حاجت پوره وی، مقصد دا چه ضرورت ئے ښځے ته نۀ وی او پلار او مور سره مشوره وکړی او ښه په سوچ او فکر سره طلاقه کړی دا نۀ چه غلطئ کی ورته طلاقه ووائی یا ئے د خُلے نه اُوځی یا چا ته ووائی چه که ستا کور ته درغلم په ما دے ښځه طلاقه وی پدے سره طلاق نۀ واقع کیږی بلکه پدے کی د قسم کفاره ورکول پکار دی دارنګه درے طلاقه په یو ځل ورکړی نو دا یو واقع کیږی، یا غصه کی طلاق ورکړی دا هم نۀ واقع کیږی کله ئے چه نیت د طلاقونۀ وی)۔

نبی علیه السلام چه د زینب رضی الله عنه سره نکاح وکړه، منافقانو دوه اعتراضونه وکړل یو دا چه پنځمه ښځه ئے وکړه او قرآن کریم کی خو څلور ښځے جائز دی لیکن د انبیاو د خصوصیت نه خبر نۀ وو۔ داسے ئے نۀ ویل چه د الله رسول دے، هرڅه د الله په حکم کوی۔

دویم اعتراض دا وو چه د مُتَبَنّٰی د ښځے سره ئے نکاح وکړه ځکه د رواج خلاف راغے دا وجه ده سورة الاحزاب کی د منافقانو بد صفتونه ذکر دی او نبی ته وائی چه د دے منافقانو خبره مۀ منه او پدے سورت کی د رسول الله ﷺ اطاعت ته ډیر ترغیب ورکوی۔

قانون دا دے چه د رواج ختمول ډیر سخت کار دے او ډیر مشقت پکی دے په رسم او رواج کی تکلف دے، الله تعالیٰ دا آیتونه نازل کړل:

﴿مَا جَعَلَ اللّٰهُ لِرَجُلٍ مِّنْ قَلْبَيْنِ فِيْ جَوْفِهٖ﴾۔

الله تعالیٰ منع وکړه چه زید بن حارثه ورته وایئ او زید بن محمد ورته مۀ وایئ خپل پلار ته ئے نسبت کوئ۔

نبی علیه السلام چه د زینب کوټے ته داخل شو صبا ته ئے د هغے په نکاح ولیمه وکړه، ګډ ئے ذبحه کړو خلك ئے په غوښه او ډوډئ ماړه کړل۔

د ولیمے طریقه دا وه چه مخکی ئے ډوډئ تیاره کړه بیا ئے انس بن مالك رضی الله عنه ولیږو چه څوك مخے ته درځی دعوت ورکوه. دا ګیله چا نۀ کوله چه زۀ دے نۀ یم خبر کړے په یوه کوڅه کی به وادۀ وو او څوك به ئے خبر کړی نۀ وو.

هغه زمانه کی پرده نۀ وه نازله، صحابه کرامو ډوډئ وخوړله او بعضی ملګری کیناستل خپل مینځ کی ئے خبرے کولے نبی علیه السلام غوښتل چه دوی پاڅیږی لاړ شی، نبی علیه السلام خپله پاڅیده، په خپلو بیبیانو وګرځیدو، سلام ئے واچولو هغوی مبارکی ورکړه، نبی علیه السلام بیرته راغے صحابه کرام همغه شان ناست وو د دروازی نه بیرته واپس شو نو صحابه کرام پو هه شول زر تول پاڅیدل ووتل، نو دا آیتونه د دعوت د آدابو متعلق نازل شو: ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ إِلَّا أَنْ يُؤْذَنَ لَكُمْ إِلَى طَعَامٍ غَيْرَ نَاظِرِينَ إِنَاهُ وَلَكِنْ إِذَا دُعِيتُمْ فَادْخُلُوا ﴾ (احزاب:۵۳).


اے ایمان والو! مۀ ننوزئ کوټو د نبی علیه السلام ته مګر که اجازه درکړے شی تاسو ته د خوراك دپاره چه نۀ به یئ انتظار کونکی د هغے د پخلی لیکن کله چه دعوت درکړے شی نو ننوزئ او کله چه مو خوراك وکړو نو خوارۀ شئ)

سیدنا انس بن مالك رضی الله عنه فرمائی: چه په همدے موقعه کی د پردے حکم هم نازل شو، زۀ کمرے ته ننوتم نو نبی علیه السلام پرده راخکته کړه او زۀ ئے منع کړم چه دننه به نۀ راځے بلکه اجازه به اخلے.

د هجرت شپږم کال شروع شو

په شپږم کال د هجرت باندے هم د اسلام ترقی راغله، بعضے مختصر جهادونه او ناشنا واقعات راغلل اولنئ خبره سریة محمد بن مسلمه الی القرطاء چه هغے کی ثمامه بن اثال نیول شوے وو د هغه بیان مخکی وشو.

په شپږم کال دویمه واقعه غزا د بنو لحیان وه.



د بنو لحیان غزا - (ربیع الاول یا جمادی الاولیٰ ۶ھ)

دا یو قوم وو چه مکے ته نزدے د قُدَیْد علاقے نه مخکی غُران علاقه راخی په هغے کی وسیدل، (غُران د وادی اَمَج او د عُسفان ترمینځ ځای دے د مکے نه په شمالی طرف ۸۵ کیلو میټره جدا دے) دا هغه خلك وو چه هغه لس صحابه کرام د خبیب رضی الله عنه ملګری ئے شهیدان کړی وو، نبی علیه السلام تر اُوسه بدله نۀ اخستله ځکه مخے ته نور کافر وو۔

نبی علیه السلام په شپږم کال د هجرت پخپله روان شو دوه سوه ملګری ئے ځان سره واخستل او په مدینه منوره باندے ئے سیدنا ابن ام مکتوم رضی الله عنه مقرر کړو چه خلکو ته به ئے مونځونه کول، نبی علیه السلام عامه لاره پریښوده او شام طرفته روان شو چه منافقان پوهه نشی او په دشمن باندے حمله وکړی پداسے حال کی چه غافله وی، عملی توریه ئے وکړه ځکه چه : اَلْحَرْبُ خُدْعَةٌ جنګ د دوکے شے دے۔

بیا چه څه مزل ئے وکړو (ورځ نیمه) نو هغه لارے ته راوګرځیده،

اول د بنو لحیان مقبرے ته لاړو هغه شهیدانو صحابه کرامو دپاره ئے دعا وکړه، په مقبره کی د مړو دپاره دِ دعا په وخت لاس هم وچتول جائز دی، لیکن د مړو نه به دعا نۀ سب کوی د هغوی نه فیوضات حاصلولو عقیده خرافات او بدعات دی۔

نبی علیه السلام دعا وکړه او د هغه ځای نه لاړو په بنو لحیان ئے حمله وکړه۔

بنو لحیان د غرونو سرونو ته وتښتیدل دوه ورځے د دوی په کورونو کی ناست وو، مجاهدین ئے ورپسے ولیږل لیکن پیدا ئے نکړل۔

بیا ددے ځای نه روان شو عُسفان علاقے ته لاړو دا د مکے او د مدینے ترمینځ واقع دے، مکے ته اتیا (۸۰) کیلو میټره کی پروت دے۔

لس شاهسواران ئے کُراع الغمیم علاقے ته ولیږل چه دا مکے ته نزدے ځای دے تقریباً (٦٤) کیلو میټره د مکے نه وړاندے دے او د مدینے په لاره دے)۔

سیدنا ابوبکر صدیق ئے مشر وو، دا ئے ددے دپاره ولیږل چه په قریشو رعب پریوزی

او غصه شي چه د مسلمانانو اَسونه ددے ځای پورے راورسیدل۔

نو ددے لسو کسانو د لیږلو مقصد دا وو چه کافر خفه او غصه شي او دا دین دے او اُوچت عبادت دے۔

دا کسان بیرته مدینے ته راواپس شو په کافرو باندے رعب راغے، دے لسو کسانو سره نبی علیه السلام خپله هم تلے وو پدے وجه دے ته غزا وائی۔

نبی علیه السلام څوارلس ورځے پدے سفر کی تیرے کړے۔

د بنو مصطلق غزا پورے د سرایاؤ بیان

ددینه روسته نبی علیه السلام سریه ګانی لیږلی دی د بنو مصطلق د غزا پورے چه د هغے تفصیل دا دے :

(۱) **سریة د عکاشه بن محصن** اسدی رضی الله عنه غَمر ته :

دا ئے غَمُر علاقے ته په ربیع الاول یا ربیع الآخر میاشت کی ولیږله، څلویښت کسان ورسره وو، دوی لاړل په بنو اَسد ئے حمله کول غوښتل ځکه چه دا خلك هم په خندق غزا کی شریك شوی وو، مشرکین پوهه شو چه دا کسان راغلی دي نو هغوی تښتیدلی وو خپله علاقه ئے پریښے وه، دوی ترے دوه سوه اُوښان په غنیمت کی مدینے ته راوستل۔

غمر علاقه د مدینے نه د دوه ورځو په فاصله باندے وه۔

(۲) **سریه د محمد بن مسلمه- ذی القصه ته**۔ (ربیع الاول ٦ هجری)

محمد بن مسلمه ئے ذی القَصَه علاقے ته ولیږلو، چه ددے او د مدینے ترمینځ (٢٤) میله فاصله ده او دا د ربذے په لاره کی دے۔

دلته بنو ثعلبه وسیدل، سیدنا محمد بن مسلمه ته ئے وفرمایل چه د دشمن حال هم معلوم کړه او حمله هم وکړه لس کسان ئے ورکړل۔

مشرکینو دوی ته کمین نیولے وو سل کسان وو کله چه مسلمانان اُوده شو دیو سوری د لاندے نو دوی راغلل ټول ئے شهیدان کړل صرف محمد بن مسلمه رضی الله عنه بچ شو او د هغه وجه دا وه چه دا زخمي وو ځان ئے په وینو لت پت (ککړ) کړو د

کفارو خیال راغے چه مړ دے لیکن دا ژوندے وو، څه مسلمانان په دغه لاره تیریدل چه وے کتل چه محمد بن مسلمه رضی الله عنه دے انا لله ئے وویله نو دهٔ ورته اشاره وکړه چه زهٔ ژوندے یم نو دلاسه ئے ونیولو او مدینے ته ئے بوتلو۔

(۳) سریه د ابوعبیده بن الجراح ؓ ذی القصه ته۔ (ربیع الآخر)

نبی علیه السلام دهٔ ته څلویښت کسان ورکړل ذی القصه علاقے ته ئے ولیږل چه د دغه مشرکانو نه بدله واخلی کوم چه د محمد بن مسلمه رضی الله عنه ملګری په خوب کښی وژلی وو، رسول الله ﷺ دوی د ماښام مانځه نه روسته روان کړل دوی پیاده ټوله شپه مزل وکړو تردے چه بنو ثعلبهٔ ته ورسیدل نو د سهر په تیاره کی ئے په مشرکانو حمله وکړه، هغوی ترے غرونو ته وتښتیدل او غنیمتونه اُوښان او ګډے بزے ئے ترے ونیولے او یو سړے ئے هم ونیولو چه هغه ایمان راوړو نو هغه ئے د ځان سره راوستلو۔

(٤) سریه د زید بن حارثه ؓ جَمُوم ته ۔ربیع الثانی)

دا ئے په ربیع الثانی کی جَمُوم علاقے ته ولیږلو دا مکے ته نزدے علاقه ده په مر الظهران کی د بنو سلیمو چینه ده۔ دلته بنو سلیم قبیله وه دوی په احزاب کی د مدینے د حملے دپاره راغلی وو د دوی نه ئے بدله اخستله کله چه مسلمانان ورغلل مشرکان وتښتیدل، دوی د مُزینه قبیلے یوه زنانه ونیوله حَلِیمَه ئے نوم وو هغے ورته وویل: زهٔ به هغه ځاې دروښایم چه ددے مشرکانو (بنو سُلَیمو) ګډے بزے او قیدیان پکی دی، دوی ورغلل هغه مالونه ئے غنیمت کړل او کوم مسلمانان چه ئے قیدیان کړی وو هغه ئے د ځان سره راخلاص کړل او دا زنانه ئے هم ځان سره راوستله نبی علیه السلام دا زنانه او ددے خاوند د صحابه کرامو د رهنمایئ او مدد په وجه معاف کړل۔

(۵) سریه د زید بن حارثه ؓ عیص ته

دا ئے په جمادی الاولیٰ سنه (٦ھ) کی عِیص علاقے ته ولیږله چه د مدینے نه ورته

څلور شپې مزل دے، او د یَنْبُع په وادۍ کې شامله ده، د مدینې او د دریاب ترمینځ واقع ده۔ شام طرفته چه کوم قافلې ځي هغه په دے لاره تیریږي۔

یو سل اویا (۱۷۰) کسان ئے ورکړل، په عیص علاقه کې د قریښو قافله د شام نه راروانه وه، چه لار ښودونکے د هغے قافلې فُرات بن حیان العِجلي وو، دوی عیص علاقے ته ورسیدل هلته ډیر باغونه وو، دوی ځانونه پټ کړل کله چه دا قافله راغله ددے قافلې مشر ابوالعاص بن ربیع د رسول الله ﷺ زوم وو، دوی پرے حمله وکړه ټول مالونه ئے ونیول او ابوالعاص ئے هم ونیولو۔ د قریښو دا ټول امانتونه ددهٔ سره وو، او مغیره بن معاویه بن ابی العاص ئے هم ونیولو لیکن ابوالعاص په لاره کې وتښتیدو او سیده مدینے ته لاړو او هلته د خپلې بی بی زینب رضی الله عنها کورته لاړو چه دا د رسول الله ﷺ لور وه، د هغے نه ئے پناهي طلب کړه چه مسلمانان ما وژني ما ته پناهي راکړه کله چه د سهار مونځ وشو، زنانه به هم مانځه ته راتللې او روستنو صفونو کې به ودریدلې، نبی علیه السلام چه په مونځ ودریده زینب رضی الله عنها آواز وکړو:

اِنِّیْ اَجَرْتُ اَبَا الْعَاصِ بْنَ الرَّبِیْعِ۔

(ما ابوالعاص بن ربیع ته پناهي ورکړیده) نبی علیه السلام چه د مانځه نه فارغ شونو وے فرمایل: دا آواز خو د زینب دے او هغے ابوالعاص ته پناهي ورکړه او قانون دا دے چه یو ادنیٰ مسلمان که کافر ته پناه ورکړي نو د هغه حفاظت به کیږي (خو په دے شرط چه دغه کافر به حربي نهٔ وي)

نو نبی علیه السلام او صحابه کرامو پناهي ومنله، دا د اسلام کمال دے چه د ټولو مسلمانانو خبره به یوه وي، زینب رضی الله عنها چه پناهي ورکړه ابوالعاص بچ شو نو کله چه مال تقسیمیدلو نو دهٔ سوال وکړو چه دا مال پردے امانت دے ما ته ئے راکړئ چه زهٔ ئے مشرکانو ته واپس کړم، نبی علیه السلام صحابه کرامو ته ووئیل چه ستاسو خوښه ده که دا مال ورواپس کوئ ښه به وي، هغوی ټول مال واپس کړو ابوالعاص مکے ته لاړو قریښو ته ئے امانت ادا کړو نو د هغوی نه ئے تپوس وکړو چه ما ستاسو امانتونه ادا کړل؟ هغوی ووئیل: بالکل تا پوره امانت ادا کړو نو دهٔ وفرمایل:

اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللّٰهِ۔

دا چه کله ونیول شو بعض صحابه کرامو ورته ووئیل: تهٔ اسلام راوړه ددے قبیلے

تهول مال به تا ته درکړو؟ نو دهٔ ووېل: بِئْسَمَا أَبْدَأُ بِهِ إِسْلَامِيْ۔
دا خبره ډېر بد شے وی چه زهٔ پرے د خپل اسلام ابتداء وکړم۔ دا خو خیانت دے او د سرپټوب خلاف کار دے دا کار نکوم۔ نو دهٔ بیا اسلام راوړو او مدینے ته ئے هجرت وکړو مدینے ته چه کله راغے نبی علیه السلام ورته خپله ښځه زینب بیرته په اولنئ نکاح ورکړه لکه دا خبره په صحیح حدیث کی ثابته ده او د دوی د جدائی درے کاله شوی وو، مخکې د کافر سره د نکاح نه منع نهٔ وه راغلے نو هغه نکاح باقی وه ځکه دے د بل خاوند سره نکاح نهٔ وه کړے بیا په اتم کال باندے زینب رضی الله عنها وفات شوه۔

(٦) سریه د زید بن حارثه رضی الله عنه طرف یا طرق علاقے ته

رسول الله ﷺ زید بن حارثه رضی الله عنه طرِف علاقے ته ولیږلو چه دا د عراق په لاره علاقه ده د مدینے نه ورته شپږ دیرش میله لار ده د اَلْقَصِیم په طرف ده۔
پنځلس کسان ئے ورکړل دلته بنو ثعلبه وسیدل، کله چه دوی ورسیدل نو دغه اعراب (باندہ چیان) وتښتیدل او ددے نه ویریدل چه چرته رسول الله ﷺ مونږ پسے راغلے نهٔ وی نو زید رضی الله عنه د دوی نه شل اُوښان غنیمت کی ونیول او څلور شپے غائب وو بیا مدینے ته راواپس شول۔

(۷) سریه د زید بن حارثه رضی الله عنه وادی القریٰ ته

نبی علیه السلام زید بن حارثه په رجب میاشت کی د دولسو کسانو سره وادی القریٰ ته ولیږلو دے دپاره چه د دشمنانو حرکات کشف کړی، کله چه دوی وادی القریٰ ته ورسیدل خلك پرے راخبر شو نو په دوی باندے ئے حمله وکړه نهه کسان د دوی نه شهیدان شو او درے کسان ترے راوتښتیدل چه یو په هغوی کی زید بن حارثه رضی الله عنه خپله وو۔
وادی القریٰ: پدے علاقه کی کلی زیات وو ځکه ئے ورته وادی القریٰ وئیله، نن صبا ورته (العلا) ښار وائی، د سعودی عرب مشهور ښار دے، د مدینے په شمالی طرف

(۳۵۰) کیلو میټره د مدینې نه وړاندې دې۔

(۸) سریة الخَبَط :

دیته په حدیث د بخاري کې جیش الخَبَط ویل شوي دي۔

رسول الله ﷺ درې سوه (۳۰۰) مجاهدین ولیږل۔ جابر رضی الله عنه فرمائي: نبي علیه السلام مونږ درې سوه کسان ولیږلو چه امیر زمونږ ابوعبیده بن جَرّاح رضی الله عنه وو، مونږ د قریشو د قافلې په انتظار کې وو، مونږ سره توښه نۀ وه مګر کجورې وې، هغه موخوړلې چه هغه کمې شوې نو دوه درې کجورې به ئې د ورځې راکولې بیا چه هغه کمې شوې یوه کجوره به ئې د ورځې راکوله۔ نو مونږ ته سخته لوږه راورسیدله، مونږ به د کیکر د ونې پاڼې خوړلې چه هغې ته عربي کې خبط وائي، پدې وجه دې سریه ته د خبط نوم ورکړې شو۔

نو پدې کې قیس بن سعد بن عباده رضی الله عنه اُوښان واخستل او درې اُوښان به ئې د ورځې ذبح کول، په یوه ورځ ئې درې ذبح کړل په بله ورځ درې او په بله ورځ درې نو ابوعبیده رضی الله عنه ددې کار نه منع کړو (ځکه چه د سفر سامان ختمیږي)

په مونږ باندې په دغه حالت کې ډیرې ورځې تیرې شوې، یوه ورځ د دریاب په غاړه په یوه لاره روان وو یو غټ حیوان راته ښکاره شو دا ورته دریاب راګوزار کړې وو نو مونږ د هغې په خوراک شروع شو چه لږه لږه غوښه به مو ترې راپریکوله او خوړله به مو دې ماهي ته ئې عَنْبَر وئیلو،

پنځلس ورځې مو ددې نه خوراک وکړو تردې چه څاربه شو،

هرکله چه هغه ختم شو سیدنا ابوعبیده رضی الله عنه د هغې هډوکي راواخستل او یو اُوچت سړې ئې په اُوچت اُوښ کینولو او ددې ماهي د پوښتو د لاندې تیر شو او د هغې سرونو ته ونۀ رسیدو او د هغه د سترګې په خالي ګاه (قُرم) کې به دیارلس کسان کیناستې شو، ددې ماهي نه ئې ځان سره څه غوښه هم ویوړه۔

دې وائي مونږ چه کله مونږ مدینې ته راغلو نبي علیه السلام ته مو دا قصه ذکر کړه نو هغه وفرمایل: دا رزق دې چه الله تعالیٰ تاسو ته راویستلې دې، آیا تاسو سره ددې نه څه شته

چه په مونږه ئے وخوروئ؟ نو مونږ رسول اللهﷺ ته د هغې نه څه برخه ولیږله.

دا ددې صحابه کرامو کرامت وو،

د حدیث نه دا فائده معلومه شوه چه کوم ماهي دریاب راوغورځوی هغه حلال دے دیته سَمَكِ طافی وائی.

پدے شپږم کال دا لس غزوات وشو ددے نه روسته یوه لویه غزا واقع شوه چه هغه غزا د بنی المُصْطَلِق وه چه په مُریسیع علاقه کی وسیدل پدے وجه دے ته غزوه د مُرَیْسِیْع هم وائی.



غزوة بنی المصطلق ، شعبان سنه (٥) یا (٦)

د عام اهل المغازی په نیز دا غزا په پنځم هجری کی واقع شوے ده او د محمد اسحاقؒ په نیز په شپږم د هجرت واقع شویده.

د بنو المُصْطَلِق مشر حارث بن ابی ضرار وو دا یو ضرری او خبیث سړے وو، دهٔ اراده وکړه چه په مدینه باندے حمله وکړی چه صحابه کرام ختم کړی، رسول اللهﷺ د خپلو استخباراتو په واسطه معلومه کړه چه دوی حمله کوی، نبی علیه السلام یو صحابی سیدنا بُرَیده بن حصیب الاسلمیؓ رضی الله عنه ولیږه، دا بنو المصطلق علاقے ته لاړو د هغوی د مشر سره ملاؤ شو د هغهٔ د خبرو نه ئے معلومه کړه چه دا په مدینه حمله کول غواړی، مدینے ته راغے، نبی علیه السلام ته ئے وویل چه دا واقعه رشتینی ده هغوی په مدینه حمله کوی.

نبی ﷺ صحابه کرام په جلتئ سره تیار کړل دا د شعبان دویم تاریخ وو، پدے غزا کی ورسره منافقان هم ملګری وو چه مخکی ددے نه دومره ډیر نهٔ وو او په مدینه باندے ئے زید بن حارثه یا ابوذر یا نُمیله بن عبد الله اللیثی رضی الله عنه مقرر کړو.

نبی علیه السلام روان شو حدیث کی دا دی چه نبی علیه السلام چه کله ور ورسیده دوی د غفلت په حالت کی وو حارث بن ابی ضرار هم یو جاسوس ولیږو چه د نبی علیه السلام جاسوسی وکړی لیکن صحابه کرامو هغه ونیولو او قتل ئے کړو۔

کله چه مشرکانو ته د خپل جاسوس د قتل او د رسول الله ﷺ د صحابه کرامو سره راروانیدل معلوم شو نو سخت رعب پرے راغلو او کوم عرب چه ورسره مِلګری شوی وو هغه ترے وتښتیدل۔

رسول الله ﷺ د صحابه کرامو سره مُریسیع علاقے ته ورسیدل چه دا یوه چینه وه ساحل طرفته په قُدَیْد علاقه کی وه چه د مکے نه (۱۲۰) کیلو میټره وړاندے ده نو دوی جنګ ته تیار شو۔

رسول الله ﷺ د خپل صحابه کرامو صفونه جوړ کړل، د مهاجرینو جنډه ئے سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه او د انصارو جنډه ئے د سیدنا سعد بن عباده رضی الله عنه په لاس کی ورکړه، نو د څه وخت دپاره د یو بل په غشو ویشتل شروع شو، بیا رسول الله ﷺ حکم وکړو چه په یو ځل (د یو سړی پشان) حمله پرے کوو نو دوی پرے حمله وکړه، په هغوی کی څه کسان ووژل شو او څه کسان وتښتیدل او نبی علیه السلام ښځے او ماشومان او اُوښان او ګډے بزے ونیولے او مدینے ته ئے راوستلے۔

د سیرت د روایتونو نه معلومیږی چه څه لږ جنګ هم وشو چه لس کسان ئے ددوی نه د جنګ دوران کی قتل کړل۔

حافظ ابن القیم لیکی چه جنګ نهٔ وو شوے بلکه په صحیح حدیث کی راغلی دی چه رسول الله ﷺ په هغوی باندے حمله وکړه او هغوی په غفلت حالت کی وو۔ انتهیٰ۔

صحابه کرامو ښځے، غلامان او مالونه تقسیم کړل د سیدنا ثابت بن قیس بن شماس رضی الله عنه په برخه کی جُوَیْرِیه بنت الحارث (چه د مشر لور وه) رسیدلے وه،

د ثابت بن قیس رضی الله عنه پیسو ته ضرورت وو نو دے زنانهٔ ته ئے وویل ما سره مکاتبت وکړه نو دے زنانهٔ هم دا غوښتل چه د غلامیٔ نه خلاصه شی ځکه د قوم د مشر لور وه، ثابت بن قیس ورته وویل دومره پیسے راوړه هغه راغله د نبی علیه السلام نه ئے مطالبه وکړه چه ما آزاده کړه، نبی علیه السلام ورته وویل: تا به زهٔ د غلامیٔ نه

خلاصه کړم دغه مال به ادا کړم او تهٔ ایمان راوړه تا سره به زهٔ نکاح وکړم، دا ښځه پدے راضي شوه، نبي علیه السلام پیسے ورکړے، هغے ثابت بن قیس ته ورکړے او ایمان ئے راوړو، نبي علیه السلام ورسره نکاح وکړه.

صحابه کرام هوښیار خلك وو چه پوهه شو چه دا خو د نبي علیه السلام سخرګنئ شوه نو سل کسان ئے آزاد کړل د رسول الله ﷺ د خپلولئ او د رشتي د وجه نه، د هغه اکرام او اعزاز ئے کولو.

عائشه رضي الله عنها فرمائي: جُویریه ډیره برکتي ښځه وه، داسے زنانه مونږ نهٔ وه لیدلے چه د هغے په وجه خپل قوم ته دومره فائده رسیدلې وي، دا ډیره ذاکره ښځه وه امهات المؤمنین کې داخله ده. د سهار مونځ چه به ئے وکړو ناوخته پورے به ذکر ته کیناستله.

حدیث کې راغلي دي چه دا یوه ورځ د سهر مانځه نه روسته ذکر ته ناسته وه نبي علیه السلام راغلو وے فرمایل:

(لَقَدْ قُلْتُ بَعْدَكِ كَلِمَاتٍ)

ستا نه روستو ما داسے کلمات وئیلي دي که هغه ستا د ذکر سره موازنه کړے شي نو زما دغه کلمات به پرے وزني شي. هغه دا کلمات دي:

سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ عَدَدَ خَلْقِهٖ وَرِضَا نَفْسِهٖ وَزِنَةَ عَرْشِهٖ وَمِدَادَ كَلِمَاتِهٖ).

که چا دا درے کرته د سهر مانځه نه روستو ولوستل نو دغه اجر به ورته ملاؤ شي چه د ټولو ذکرونو نه به ددے ذکر وزن زیات وي. صحیح مسلم: ۷۰۸۸)

د مقیس بن صبابه اللیثي قصه

دا آسانه غزا وه خاص مرګونه پکې ونشو، صرف یو صحابي پکې شهید شو هشام بن صبابه اللیثي رضي الله عنه د انصارو نه یو سړي په غلطئ ویشتو، د هغه دا ګمان وو چه دا د مشرکانو نه دے، ددهٔ ورور مقیس بن صبابه مشرك وو هغه مدینے ته راغے اسلام ئے ښکاره کړو چه دیت واخلي نبي علیه السلام ته ئے وویل: ما ته د خپل ورور دیت راکړه، نبي علیه السلام ورته دیت ورکړو هلته دوه درے ورځے مدینه کې وسیدو

نو په دغه انصاری باندې یو ځای کې قادر شو نو هغه مسلمان ئې شهید کړو او مکې ته وتښتیدو او مرتد شو او وې ویل چه پیسې مې هم راوتښتولې او د ورور بدله مې هم واخسته او بیرته بتانو ته راواپس شوم.

نبی علیه السلام چه کله مکه فتح کړه وې فرمایل چه دا به نهٔ معاف کیږی اگرکه د کعبې غلاف ئې نیولې وی ځکه دا ډیر غلیظ کافر وو.

په غزوه د بنی المُصْطَلِق کی دوه قصې راغلې یوه قصه د افك (په عائشه رضی الله عنها باندې د تهمت) او بله قصه د عبد الله بن ابی ابن سلول منافقت ښکاره کیدل.

نبی علیه السلام مُریسیع علاقه کی دوه درې ورځې دیره وو او دا د رسول الله ﷺ عادت وو چه یو ځای کی به ئې فتح وکړه نو هلته به ئې دوه درې ورځې تیرولې.

د عبد الله بن ابی د منافقت مثالونه

په دغه ځای کی د دوه کشرانو صحابه کرامو ترمینځ اختلاف شو یو سیدنا جَهْجَاه بن عمرو الغفاری چه د عمر بن الخطاب رضی الله عنه اَجِیر (مزدور) وو، هغه په مزدورئ نیولې وو چه زما خدمت به هم کوی او جهاد به هم کوی او بل صحابی سیدنا سِنَان بن وَبَر الجهنی الانصاری وو. یو ځای کی اُوبه وې نور صحابه کرام اُوبو ته لاړل چه اُوبه راوړی، د سیرت کتابونو کی راځی چه د دواړو په اُوبو جنگ شو. لیکن د حدیثونو په کتابونو کی راځی چه جهجاه الغفاری چهٔ مهاجر صحابی وو د توقو او گپ شپ والا وو، دا راولگیدو په توقه کی ئې سِنَان بن وَبَر په پونده باندې په کناتو کی ووهلو نو هغه غصه شو چه دا دې غلط کار وکړو.

(هغه توقې چه جنگ ترې جوړیږی نهٔ دی پکار او ډیرې توقې زړهٔ سختوی نبی علیه السلام نه په ژوند کی (۲۲) کرته توقې نقل دی او هغه هم حق دی دِاسې توقه ناروا دهٔ چه د مسلمانانو سپکاوې پکی راځی)

انصاری آواز وکړو : یَا لَلْأَنْصَارِ. اې انصارو راورسیږئ، او مهاجر آواز وکړو : یَا لَلْمُهَاجِرِیْنَ. اې مهاجرو راشئ، نو د انصارو او مهاجرو ترمینځ اختلاف راغې، نبی علیه السلام خبر شو او خپله سره د خاصو ملگرو نه ورغې او دا کسان ئې منع

کړل چه دا خبرے مهٔ کوئ دا د تعصب بدبویه کلمه ده، مهاجرین او انصار یو شان ورونه دی آیا زهٔ ستاسو مینځ کی موجود یم او تاسو به د جاهلیت آوازونه کوئ؟!۔

(**فائده:** لسانی او تنظیمی تعصبونه اسلام کی نشته او منع دی، اکثرو تنظیمونو والا وائی : اسلام دے راشی زما په لاس که بل ئے راولی نهٔ ئے منی۔ مسلمانانو له یو تنظیم پکار دے چه هغے ته خلافت وائی نور واړه تنظیمونه جوړول نهٔ دی پکار پدے سره په مسلمانانو کی تعصبونه پیدا کیږی، اسلام د تنظیم پرستئ او مذهب پرستئ او قوم پرستئ او تعصب نه منع کړیده دا څلور مذهبه هم د تعصب لویه ذریعه ده، یو بل ته سپك گوری امام شافعی ورته داسے ښکاری لکه د یهودو مُلا هغوی ته خصوم (جگړه ماران) وائی، حال دا چه ټول علماء زمونږ د امت مشران دی د هر عالم خبره چه د کتاب او سنت موافقه وه هغه زمونږ مشر دے لیکن اکثر خلق پدے خبره نهٔ پو هیږی والله المستعان)۔

نبی علیه السلام صحابهِ کرام منع کړل نو جگړه ختمه شوه۔

نو پدے وخت کی عبد الله بن ابی ابن سلول څانلبه یو ځای کی ناست وو خپل منافقان ملگری ئے ځان سره راجمع کړی وو، زید بن ارقم رضی الله عنه د دوی خوا کی ناست وو، نو عبد الله بن ابی ابن سلول ته چا وویل چه انصارو او مهاجرینو ترمینځ جگړه شویده نو ابن سلول وویل : دوی خو زمونږ په وجه ډیر شو او فائدے ورته ملاؤ شوے او اُوس مونږ سره جگړے کوی، د دوی مثال د هغه متل دے چه پخوانو عربو ویلی دی: (سَمِّنْ كَلْبَكَ يَأْكُلْكَ) ۔ سپے څورب کړه نو وبه دے خوری۔ دا د کفر کلمهٔ ئے وویله، د صحابه کرامو او د نبی علیه السلام په باره کی ئے د کفر خبره وکړه۔

بیا ابن سلول خپلو ملگرو انصارو ته متوجه شو او وے ویل دا کار تاسو پخپله په ځان وکړو مالونه مو ورکړل ځایونه مو ورکړل که تاسو دا مالونه په دوی بند کړی وے، صدقے مو پریښودے وے نو دوی به دا علاقه پریښودے وے۔

الله تعالیٰ د دوی حال په سورة المنافقون کی بیان کړیدے چه دوی وائی:

﴿ لَا تُنفِقُوا عَلَىٰ مَنْ عِندَ رَسُولِ اللَّهِ حَتَّىٰ يَنفَضُّوا ﴾۔

(خرچ مهٔ کوئ په هغه کسانو چه د رسول الله ﷺ خوا کی دی تردے چه دوی به ددے ځای نه لاړ شی)۔

الله جواب ورکړو: ﴿ وَلِلَّهِ خَزَائِنُ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلٰكِنَّ الْمُنَافِقِينَ لَا يَفْقَهُونَ ﴾۔
د آسمانونو او د زمکے خزانے د الله تعالیٰ په اختیار کی دی لیکن منافقان ناپوهه دی۔
بله د خطرے خبره ئے دا وکړه چه که مونږ مدینے ته واپس شو:
﴿ لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ مِنْهَا الْأَذَلَّ ﴾۔
دا عزتمند خلك به ډیر ذلیله خلك وباسی۔ ځان ته ئے عزتمند ویلو او نبی علیه السلام او صحابه کرامو ته ئے ذلیل ویل۔ الله جواب ورکړو:
﴿ وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلٰكِنَّ الْمُنَافِقِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴾۔
(عزت خو د الله او د رسول او د مؤمنانو دپاره دے لیکن منافقان جاهلان دی)۔
زید بن ارقم رضی الله عنه د دوی په دے خبرو ډیر خفه شو خپل تره ته ئے وویل چه تهٔ رسول الله ﷺ په دے خبرو خبر کړه هغه نبی علیه السلام ته خبر ورکړو، نبی علیه السلام ډیر خفه شو نو عبد الله بن ابی ابن سلول هم چا خبر کړو چه نبی علیه السلام ستا په خبرو چا خبر کړیدے نو ابن سلول او ملگری ئے راغلل نبی علیه السلام ته ئے قسمونه وکړل چه دا خبرے مونږ ندی کړی۔
په دے کی بعضو انصارو وویل دے سړی به دا خبرے نهٔ وی کړی کیدے شی چه زید بن ارقم کشر هلك دے نهٔ وی پوهه شوے نو نبی علیه السلام چُپ شو، ظاهره کی ئے ورته څه ونهٔ وئیل، زید بن ارقم خپل ترهٔ ملامته کړو او نورو خلکو هم ملامته کړو، نو ډیر خفه شو چه دا کنځلے خو دهٔ کړیدی او ما آوریدلی دی نو چه مدینے ته راغلو سورة المنافقون نازل شو نبی علیه السلام زید بن ارقم راطلب کړو ورته ئے وفرمایل چه الله ستا تصدیق نازل کړیدے، زید بن ارقم ډیر خوشحاله شو۔
عمر رضی الله عنه وفرمایل: اے د الله رسوله! عباد بن بشر ته حکم وکړه چه عبد الله بن ابی ابن سلول په توره ووهی، نبی علیه السلام وفرمایل: که زهٔ ئے مړ کړم عرب به خبرے کوی چه محمد رسول الله (ﷺ) خپل ملگری وژنی ځکه ظاهر کی خو ابن سلول غزاگانو ته هم تللو او ظاهر کی ئے ځان ته مسلمان وئیلو۔
نبی علیه السلام د بنو مصطلق د علاقے نه ناشنا وخت کی سفر شروع کړو چه بل وخت ئے د سهار نه سفر شروع کولو یا د شپے ځکه چه خفه او بی سوره وو۔
نبی علیه السلام سفر شروع کړو اسید بن حضیر رضی الله عنه ورته وویل یارسول

الله په ناشنا وخت کی دے ولے سفر شروع کړو؟ نبی علیه السلام ورته وفرمایل: ستا ملګری څه وئیلی دی؟ ﴿لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ مِنْهَا الْأَذَلَّ﴾۔

(چه عزتمند به د مدینے نه ذلیله وباسی) اُسید بن حضیر د اَوس قبیلے د انصارو مشر وو او ابن سلول د خزرج قبیلے نه وو د دوی تربوران وو، اسید بن حضیر رضی الله عنه نبی علیه السلام ته تسلی ورکړه چه ته مه خفه کیږه، ته عزتمند ئے او دا ذلیل دے، ته چه کله وغواړے دا به وباسے او دے تا نشی ویستلے۔

بیا ئے ووېل: یارسول الله ددهٔ سره نرمی کوه ځکه چه ستا د راتللو نه مخکی خلکو تاج جوړولو او دهٔ ته ئے په سر کولو دا ئے مشر کولو تردے چه الله تعالیٰ مونږ ته ستا پشان هستی راوسته نو دے ګمان کوی چه تا ددهٔ نه بادشاهی واخسته،

د عبد الله بن ابی ابن سلول ځوی عبد الله بن عبد الله بن ابی ابن سلول خبر شو چه دا نیك صحابی وو ډیر غیرتی وو، دهٔ د خپل پلار نه براء ت اعلان کړو او مخکی لاړو او د مدینے په لاره کی ودریدو او توره ئے راویستله چه زهٔ خپل پلار مدینے ته نهٔ پریدم وژنم ئے ترڅو چه رسول الله ﷺ اجازه وکړی، پلار ئے ودرولے وو، رسول الله ﷺ پرے راغے چه وے لیده پلار ئے ودرولے وو، نبی علیه السلام ته ئے ووېل چه تا اجازه نهٔ وی کړی دا نهٔ پریدم؟ نبی علیه السلام ورته ووېل: پریده، نرمی ورسره وکړه،

عبد الله ﷺ بیا هم نهٔ پریښودو ورته وے وېل چه ځان ته به ذلیل ووائے او محمد رسول الله ﷺ ته عزتمند بیا به دے پریږدم نو ابن سلول ووېل: زهٔ ذلیل او دا عزتمند۔ نو بیا ئے پریښوده، الله تعالیٰ د خپل ځوی په واسطه ذلیله کړو۔

(دلته د الولاء والبراء عقیده ظاهره شوه چه پلار دے کافر دے مینه به ورسره نهٔ کوے)

عبد الله ﷺ یو ځل نبی علیه السلام ته ووېل چه زهٔ خبر شوے یم چه ته زما پلار وژنے نو د بل چا په لاس ئے مهٔ وژنه ما ته اجازه راکړه چه سمدست ئے درله سر راوړم۔

نبی علیه السلام چه کله د بنو مصطلق نه راتللو نو په لاره کی ئے دمه وکړه نو قصه د اِفك راپیښه شوه یعنی په عائشه رضی الله عنها باندے منافقانو د دروغو الزام ولګولو چه دے د صفوان بن معطل السهمی رضی الله عنه سره زنا کړیده۔



واقعة الافک
(په عائشه رضی الله عنها باندے د تور او تهمت لگیدو واقعه)

دا واقعه په صحیح بخاری وغیره کی تفصیلاً راغلے ده۔
عائشه رضی الله عنها فرمائی: د نبی علیه السلام عادت مبارك دا وو چه کله به سفر ته تللو نو ځان سره به ئے بیبیانی بوتللے کله یوه کله دوه، نبی علیه السلام به د دوی ترمینځ قُرعه کوله (یعنی خځنړے به ئے اچولو) چه د کومے بی بی خځنړے به راوختلو هغه به ئے د ځان سره بوتلله، قُرعه ئے ځکه اچوله چه د ټولو زړونه خوشحاله وی چه کومه دا ونهٔ وائی چه زهٔ ئے ولے پریښودم، جهاد ته ځان سره زنانه بوتللے شی چه کله امن وی او د کفارو د نیولو خطره نهٔ وی۔
عائشه رضی الله عنها فرمائی: په غزا د بنی المُصطَلِق کی زما قُرعه راوختله، مونږ لاړو غزا وشوه واپس مدینے ته راروان شو چه یو ځای ته راورسیدو، دمه مو وکړه نو زهٔ قضاءِ حاجت ته لاړم او داسے وخت وو چه نبی علیه السلام اعلان وکړو چه ځان تیاروئ، نوزهٔ د حیاء د وجه نه وړاندے لاړم چه واپس راغلم ما سره یو اَمیل وو هغه مے د خپلے خور اَسماء نه اخستے وو ځان مے پرے رسول الله ﷺ ته ښائسته کولو۔
(**فائده:** په ښځه دا واجب دی چه خپل خاوند ته به ځان ښائسته کوی او ډول او سنګار به کوی او همیشه به په ډول کی گرځی، ډیرو ښځو د خاوند دا حق برباد کړیدے)
دا اَمیل زما نه ورك شو زهٔ بیرته لاړم هغه ځای کی مے امیل کتلو چه واپس راغلم خلك تلی وو زهٔ چه په کوم اُوښ ناسته ووم په هغے ډولئ وه کجاوه غوندے، مونږ به په هغے کی کیناستلو چه په پرده کی یو،
(په ډولئ کی چه دننه ناسته وی ټول شخص او جثه ئے پټه وی، برقعه او پړونی ئے هم نهٔ ښکاری)۔
طریقه دا وه چه ډولئ ته به زنانه په زمکه ورننوته نو څلور کسان به راغلل هغه به ئے اُوښ ته اُوچته کړه، دغه څلور کسان راغلل او دا کجاوه ئے اُوښ ته وچته کړه او پدے

پوهه نشو چه پدې کې څوك شته او که نه؟ څکه چه دغه وخت کې مونږ کې دومره غوښه نهٔ وه، خوارې وو نو د هریو کس خیال دا وو چه زور په هغه بل کس دے۔

دویمه وجه دا وه چه زما عمر هم کم وو بل خوراکونه کم وو دومره څوك نهٔ چاقیدل۔

عائشه رضی الله عنه فرمائی: چه زهٔ دغه ځای ته راغلم هیڅوك نهٔ وو نو په خپل ځای کیناستم پدے خیال چه رسول الله ﷺ به ما پسے څوك راولیږی نو خوب راغے څادر مے په ځان راواچولو۔

(ددے نه دا فائده معلومه شوه چه عائشه رضی الله عنه ډیره اُوچته وَلیٔ او د الله دوسته ده او صحابه کرام اُوچت اولیاء او نبی علیه السلام خو ډیر اُوچت شان والا وو لیکن په غیبو نهٔ پوهیدو، علم غیب صرف د الله تعالیٰ پورے خاص دے، مخلوق په غیبو نهٔ پوهیږی، د غیب علم مخلوق ته ورکول دا د بریلیانو گمراهانو عقیده ده، د تصوف نه ئے اخستے ده او شیطان ورته ویلی دی چه دا عقیده اختیار کړئ دا د کفر عقیدی دی۔ دلته نبی علیه السلام پوهه نشو چه زما بی بی پاتے شوه)۔

عائشه رضی الله عنها فرمائی چه زهٔ اُوده شوم نو صفوان بن معطل السهمی صحابی رضی الله عنه راغے۔

د سیرت په بعضو روایتونو کی راځی چه د څه حاجت د وجه نه پاتے شوے وو او بعضو روایتونو کی راځی چه نبی علیه السلام روسته پاتے کړے وو چه د چا نه څه پاتی شی نو هغه به ئے راواخلی۔

لیکن په حدیث کی ددے بله وجه ذکر شویده هغه دا چه: كَانَ كَثِيْرَ النَّوْمِ۔ دا ډیر خوب والا وو، ډیر به اُوده کیدو نو اُوده شوے وو او ملگری ترے تلی وو۔

(**فائده**: صفوان بن معطل وادهٔ کړے وو، ښځه ئے راغله رسول الله ﷺ ته ئے درے شکایته وکړل: (۱) ما د شپے تهجدو ته نهٔ پریدی (۲) نفل روژی ته مے نهٔ پریدی (۳) د سهار مانځه ته نهٔ پاڅیږی، نبی علیه السلام ورته وفرمایل: ولے؟ هغه وویل: دا ښځه ډیره بزرگه ده تهوله شپه په مانځه ولاړه وی هر رکعت کی دوه سورته وائی، زما ورته ضرورت راځی۔ او د ورځے هم روژه وی زما ورته ضرورت راځی او هر چه دا خبره کوی چه سهار مانځه ته نهٔ پاڅی نو مونږ ناوخته د اَرت کار نه راشو نو زمونږ د کورنئ دا دے چه اُوده شو بیا نشو پاڅیدلے۔ نبی علیه السلام ئے ښځے ته وویل چه

مانځه کې یو سورت وایه او روژه ددهٔ د اجازې نه په غیر مهٔ نیسه ستا اجر پدې کې دے چه نفلي روژه پریدے۔ او دهٔ ته ئې وویل چه کله راپاڅیدلے مونځ کوه۔ ددې حدیث نه معلومیږي چه سیدنا صفوان بن معطل کثیر النوم (ډیر خوبي) وو۔

عائشه رضی الله عنها فرمائي چه دا راغے زهٔ ئې وپیژندم ځکه چه د حجاب د نزول نه مخکې به صحابه کرام د رسول الله ﷺ کور ته ورتلل۔

نو دهٔ اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رَاجِعُوْن وویل۔ عائشه رضی الله عنها فرمائي چه قسم په الله چه ما سره ئې هیڅ خبرې ونکړې صرف انا لله ئې وویله نو اُوښ ئې کینولو او زهٔ پرې کیناستم د اُوښ مهار ئې ونیولو او روان شو۔

عائشه رضی الله عنها ډیره پاکه صحابیه وه سورة النور کې لسو آیتونو کې ددې شان او پاکي ذکر ده او صفوان هم ډیر پاك صحابي وو ځکه نبي علیه السلام به فرمایل چه زهٔ په دهٔ کې نهٔ پیژنم مګر خیر۔ یعني ما ته په دهٔ کې خیر معلوم دے۔

دوی روان وو د سهار وخت وو نبي علیه السلام په بل ځای کې دمه کړې وه هلته چه مونږ ورسیدلو د غرمې وخت وو نو منافقانو ولیدو،

عبد الله بن ابی ابن سلول وویل: دوی چه ایسار شویدی نو دے کې څه چل شته، او د زنا بدنامه ئې ولګوله لیکن مونږ پو هه نهٔ وو۔

د ابن سلول مقصد دا وو چه د نبي علیه السلام په بي بي بدنامه ولګوي چه خلك ددهٔ نه جدا شي او زما ملګري شي او ما مشر کړي۔

مسلمانانو صحابه کرامو کې دوه ډلے جوړے شوے بعضو صحابه کرامو وویل : سُبْحَانَكَ هٰذَا بُهْتَانٌ عَظِيْمٌ ۔ دا لوی بهتان دے۔ سیدنا ابو ایوب انصاري او ملګروئې دا خبره وکړه یو درے صحابه کرامو د خپلې خطایئ د وجه نه پدے تهمت کې شریك شو یو مِسْطَح بن اُثَاثه چه د ابوبکر صدیق رضی الله عنه د ترور ځوی وو او بدري صحابي وو، مهاجر هم وو لیکن پدے تهمت کې شریك شو بله حَمْنَه بنت جَحْش د رسول الله ﷺ بنینه هم وه او دریم سیدنا حسان بنؓ ثابت شاعر صحابي هم شریك شو۔

منافقانو به دے خبرے له شهرت ورکولو۔ عائشه رضی الله عنها فرمائي چه زهٔ په مدینه کې وم نو مریضه شوم۔ د منافقانو زړونه فاسد وو، فاسدے خبرے ترے راوتلے :

﴿قُلْ كُلٌّ يَعْمَلُ عَلٰى شَاكِلَتِهٖ﴾۔

هر سړے په خپله طریقه عمل کوی۔

كُلُّ اِنَاءٍ يَنْضِحُ بِمَا فِيْهِ۔

هر لوښے توی کوی هغه څه چه پکی پراته وی۔

نو منافقانو او د هغوی مشر عبد الله بن ابی ابن سلول ددے خبرے ډیر اشاعت کولو چه دا ولے پاتے شوه؟۔ د کفارو دا طریقه ده چه تهمتونه لګوی، نبی علیه السلام ډیر زیات خفه وو، عائشه رضی الله عنها فرمائی: زۀ د یوے میاشتے پورے ناجوړه وم، تبی مے کولے زۀ په هیڅ خبره نۀ وم صرف دومره وه چه زۀ به کله مخکی ناجوړه شوم، د الله نبی به ما سره ډیره مینه او نرمی کوله خواته به ډیر راتللو، تپوس به ئے کولو او دا ځل نبی علیه السلام زما ډیر تپوس نۀ کولو صرف دومره به ئے ویل : كَيْفَ تِيْكُمْ۔ تاسو څنګه یئ؟۔ د رسول الله ﷺ د خپلی بیبیانو سره ډیره مینه وه او دا د پاکو خلکو کار وی چه د خپلو بیبیانو سره ئے مینه وی ځکه هغوی نورو زنانو ته نۀ ګوری او کافر او بی دینه خلك د خپلو بیبیانو سره مینه نۀ لری ځکه هغوی دپاره آزادی وی)

عائشه رضی الله عنها فرمائی: زۀ په قصه پوهه نۀ وم خو پدے حیرانه وم چه د نبی علیه السلام دا مینه ولے کمه شوه، پدے وخت کی وحی بنده شوه یوه میاشت تیره شوه، نبی علیه السلام یوه ورځ د صحابه کرامو سره مشوره وکړه،

علی رضی الله عنه ته ئے وویل : زۀ څه وکړم ؟ هغه ورته وویل چه زنانه خو ډیرے دی بله به وکړے اشاره ئے دیته کوله چه طلاقه ئے کړه، الله تعالیٰ به بله ښځه درکړی۔

دا وجه ده چه عائشه رضی الله عنها د علی رضی الله عنه نه په دے کار خفه وه او ورته ویل به ئے چه تا ولے داسے مشوره ورکړه۔ اسامه بن زید رضی الله عنه ئے راطلب کړو او مشوره ئے ترے واخسته ځکه دا هم د کور سړے وو، هغه ورته وویل : اے اد الله رسوله ! دا ستا اهل دے ستا د شان لائق دی پدے کی هیڅ عیب نشته همیشه د خیر خبرے کوی مونږ پدے کی صرف خیر پیژنو د دشمنانو په خبرو پسے مۀ څه دوی تاپسے دروغ وائی۔

علی رضی الله عنه ورته وویل: چه تۀ د بریرے نه تپوس وکړه دا د عائشے رضی الله عنها وینځه وه ځکه زنانۀ ؤ ته د زنانه حال ښه معلوم وی۔

(**فائده:** بریره د مغیث ښځه وه عائشے رضی الله عنها واخسته د نبی علیه السلام

کورتـه راغـلـه عـائشـې رضـی الله عـنـها آزاده کړه نو د مغیث نه ئې ځان آزاد کړو ځکه وینـځـه چـه آزاده شي نو د خاوند نه ځان جدا کولې شي۔ مغیث بـه د مدینې کوڅو کې ګرځیده ژړل بـه ئې، نبي عـلـیه السلام بریرې ته شفاعت وکړو چه ته مغیث ته رجوع وکړه، بـریـرې ورتـه وویـل چه اې د الله رسوله ! ته سفارش کوې او که ستا حکم دې؟ که ستا امر وي واپس کیږم او که سفارش وي نو زه نه واپس کیږم۔

بـریره عائشې رضی الله عنها په نهه اُوقیه واخستله مالکانو ئې وویل چه په نهو کالو کې دا اُوقیه راکوئ او که په نقدو ستاسو خوښه ده نو عائشې ترې په نقدو واخستله)۔

دلته نه دا فائده معلومه شوه چه د چا سفارش رد شي نو هغه به نه خفه کیږي)

الـغـرض : نبي عـلـیـه الـسلام بریرې ته وویل چه ته د عائشې په باره کې څه وائې؟ نو هغې وویـل یارسول الله ما پـدې کې هیڅ عیب نه دې لیدلې صرف دا چه زه کله وړه واغږم نـو دیـتـه ووایـم دا کیده نو دا ئې همداسې پریدې چیلۍ راشي او وې خوري داسې غافله ده۔

نبي عـلـیـه السلام د زینب رضي الله عنها نه تپوس وکړو چه دا هم د رسول الله ﷺ بي بي ده، هغې وویل : زه د خپلو غوږونو او سترګو حفاظت کوم، عائشه بي ګناه ده۔

عـائشه رضي الله عنها به فرمایل: چه زینب زما بن وه او زما مقابله به ئې کوله ځکه ښائسـتـه هـم وه او د اُوچـت نـسـب والا وه لیـکـن الله تعالیٰ د تقوىٰ په وجه زما د بدنامې لـګـولـو نـه بـچـه وساتله، ددې خور حمنه بنت جحش پدې بدنامه لګولو کې شریکه شوه ځـکـه چـه د هغې ورع او تقوىٰ زینب ته نه رسیدله۔ د نبي علیه السلام خو یقین وو چه عائشه پاکه ده او ددې خلکو د مشورې په وجه نور هم مطمئن شو۔

نبي عـلـیـه الـسلام پـه منبر کیناستلو او خلکو ته ئې خطاب وکړو چه دلته یو سړې دې زما پـه اهـل پسې خبرې کوي نو ما معذوره وګنړئ که دا زه چرته مړ کړم ځکه دا سړې ضرري دې او زه په خپله ښځه خیر وینم هغه پاکه ده، دوی یو سړې ذکر کړیدې صفـوان بـن معطل هغه مونږ همیشه په خیر لیدلې دې او پخوا زمانه کې زما کورته یواځې نه دې راغلې ما سره یو ځای راغلې دې۔

سیدنـا صـفـوان بـن معطل رضي الله عنه دومره نیك وو چه روسته د یمامه په غزا کې ورته شهادت هم نصیب شو۔

د نبی ﷺ د خطبې په دوران کې یو صحابي (اُسید بن حضیر رضی الله عنه) پاڅیدو وې فرمایل یا رسول الله تهٔ سرې وښایه که زمونږ د اَوس قبیلې نه وي مونږ به ئې مړ کړو او که زمونږ د ورونو خزرجیانو د قبیلې نه وي، تهٔ به امر وکړې ستا د امر تابع به شو۔

عبد الله بن ابي ابن سلول د خزرج قبیلې نه وو، پدې وخت کې یو لوی صحابي سعد بن عُباده رضی الله عنه د خزرج قبیلې مشر وویل قسم په الله چه زمونږ د قبیلې سړے تهٔ نشې وژلے، نو اسید بن حضیر ورته وویل: تهٔ منافق ئې۔ هغه وویل: تهٔ منافق ئې نو دواړه قبیلې راوچتیدلې، نبي علیه السلام کینول او غلي ئې کړل۔

عـائشـه رضـی الله عنها فرمائي : زهٔ لږه راښه شوم نو زمونږ عادت دا وو چه کورونو کـې د اَودس مـاتـې ځـایونه عربو نهٔ جوړول د نظافت د وجه نه نو د شپې به بهر ته تللو، کورونو کې بیت الخلاء نهٔ وو بیا روسته جوړ شو۔

عـائشـه رضـی الله عنها فرمائي: زهٔ بهر لاړم ما سره زما ترور د مِسُطَح مور ملګرې وه چه بهر تللو د هغې خپه وښویدله نو هغې مسطح ته ښیرې وکړې ما ورته وویل :

تهٔ هغه سړي ته ښیرې کوې چه د بدر غزا ته حاضر شویدے هغه خو نیك سړے دے ولـې ورتـه ښیـرې کـوې ؟ چه مخکې لاړه بیا ئې خپه وښویدله هغې بیا ښیرې وکړې نو عـائشـه رضـی الله عنها فرمائي : ما بیا منع کړه نو هغې راته وویل چه ته نهٔ ئې پو هه چه زمـا ځـوی مِسُطَح تا پسې څه ویلي دي؟ ما وویل : څه ئې ویلي دي؟ هغې وویل : هغوی خـو پـه تا بدنامه لګولې ده۔ ما وویل دا قِسم خبرې شویدي څه ؟ نبي علیه السلام ددې خبرو نه خبر دے، زما مور او پلار خبر دي ؟ نو هغې وویل: ټول خبر دي۔

عـائشـه فرمائي: پدې خبره سره زما مریضتیا راواپس شوه او هغه اَودس ماتې مې هم ونـکـړو پـه خیټه کې مې هر څه د غم د وجه نه ختم شو کورته راغلم، نبي علیه السلام تـه مې وویـل چـه زهٔ بـه لاړه شم د پلار کورته غرض مې دا وو چه د هغوی نه به تحقیق وکړم۔ نبي علیه السلام ته خو مې څه نشو وئیلے، د الله نبي اجازه راکړه چه لاړه شه نو لاړم د مور نه مې تپوس وکړو چه دا خبرې شویدي ؟ هغې وویل :

خلکو دا خبرې کړیدي نو مورئې تسلي ورکړه چه یوه ښځه ښائسته وي او خاوند ته ګرانـه وي او د هغې بنې وي نو داسې تهمت پرې لګوي۔ د هغې خیال دا وو چه دا تهمت پرې بنو لګولے دے حال دا چه دا خو منافقانو لګولے وو۔

عائشه رضی الله عنها فرمائی: په ما باندے دومره خفګان راغے چه نهٔ د شپے اُوده کیدم او نهٔ مے اُوښکے ودریدلے، د شپے او د ورځے به مے مسلسل ژړل خوب مے ورك شو، نزدے وه چه د ډیر خفګان د وجه نه مے جګر وچوی او مړه شم۔

نو د کلی یوه زنانه راغله او زما سره ئے ژړا شروع کړه چه زما امداد وکړی۔ زما په زړه کی دا نهٔ وه چه زما په حق کی به قرآن نازل شی ما ته خپل ځان سپك ښکاره کیدو ددے نه چه زما په باره کی دے وحی راشی او خلك دے هغه تلاوت کوی لیکن زما دا خیال وو چه رسول الله ﷺ به خوب وینی او په خوب کی به ورته زما صفائی بیان شی ځکه رسول الله ﷺ هم پریشانه وو۔

(منافقانو داسے ګوزار کړے وو چه ښځه او خاوند او ټول مسلمانان ئے پریشانه کړی وو)

پدے وخت کی رسول الله ﷺ دوه ورځے روسته زما د پلار کور ته راغے زهٔ ئے راوغوښتم او ما ته ئے وویل: اے عائشے! که تا دا ګناه کړی وی تهٔ حال ووایه استغفار او توبه وکړه کله چه بنده ګناه وکړی او توبه وباسی الله تعالیٰ ئے معاف کوی او که ګناه دے نهٔ وی کړی هم ووایه، الله تعالیٰ به ستا پاکی بیان کړی۔

نو ما خپل پلار اومور ته وویل: زما د طرفه جواب ورکړئ، هغوی چُپ شو، نو زما اُوښکے بندے شوے ما خبره شروع کړه چه که زهٔ اقرار وکړم چه دا ګناه ما کړیده او الله تعالیٰ پدے ښه عالم دے چه زهٔ پاکه یم خو ستاسو یقین راځی او که زهٔ دا ووایم چه ما دا عمل نهٔ دے کړے الله تعالیٰ عالم دے چه زهٔ پاکه یم نو تاسو زما تصدیق نهٔ کوئ لیکن زما حال په شان د پلار د یوسف علیه السلام دے،

عائشه رضی الله عنها فرمائی: د ډیر خفګان د وجه نه د یعقوب علیه السلام نوم هم رانه هیر شو۔ یعقوب علیه السلام ته چه ځامن راغلل او ورته ئے وویل چه یوسف خو شرمخ خوړلے دے نو هغه وویل: ﴿ فَصَبْرٌ جَمِيلٌ وَاللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ عَلٰى مَا تَصِفُوْنَ ﴾۔

زهٔ به ښائسته صبر کوم او الله رب العزت نه به مدد غواړم په مقابل د هغه خبرو کی چه تاسو ئے بیانوئ۔

دا خبرے چه مے وکړے زهٔ لاړم خپل کټ کی څملاستم مریضه هم ووم نو پدے وخت کی وحی راغله۔

په نبی علیه السلام باندے چه به کله وحی راتلله خوَله به شو داسے بی هوشی

حالت به پرېوتلے راغلے لږ ساعت پس نبی علیه السلام خوله د ځان نه وچه کړه او ویے خندل او اوله خبره ئے دا وکړه : أَمَّا اللَّهُ فَقَدْ بَرَّأَكِ۔

الله رب العزت ستا براءت او صفائي نازله کړه او د سورة النور دا آیتونه ئے ولوستل :

﴿ إِنَّ الَّذِينَ جَاءُوا بِالْإِفْكِ عُصْبَةٌ مِّنكُمْ لَا تَحْسَبُوهُ شَرًّا لَّكُم بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ﴾ الآية۔

یقیناً هغه کسان چه راتلل ئے وکړل په دے دروغو سره دا یوه ډله ده ستاسو نه تاسو پدے باندے د شر ګمان مهٔ کوئ بلکه دا خیر دے ستاسو دپاره)۔

نو په سورة النور کی قوانین نازل شو چه د یو مؤمن په باره کی د زنا یوه خبره واورئ چه څلور ګواهان نهٔ وی نو نهٔ به ئے منئ که دوه کسان ګواهی ورکړی یا درے نو هغوی به اتیا درے وهل کیږی تر دے چه څلور ګواهان پیش شی۔

﴿ وَلَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ الْمُؤْمِنُونَ ﴾۔

مؤمنانو ته ئے دا هم وفرمایل: چه کله تاسو دا خبرے واوریدلے نو مؤمنانو سړو او مؤمنو ښځو به په خپلو ځانونو د خیر ګمان کړے وے، یعنی چه هرکله تاسو په خپلو ځانونو داسے ګمان نهٔ کوئ نو په بل مؤمن داسے ګمان ولے کوئ او داسے به مو وئیلی وے : سُبْحَانَكَ هَٰذَا بُهْتَانٌ عَظِيمٌ۔ (پاکی ده تا لره، دا لویه بدنامه ده)

عائشه رضی الله عنها فرمائی : ما ته مور او پلار وویل، نبی علیه السلام ته ورپاڅه د هغه شکریه ادا کړه۔ عائشه رضی الله عنها وفرمایل: چه زهٔ نبی علیه السلام ته نهٔ ورپاڅیږم زهٔ د هغه الله حمد او شکر ادا کوم چه زما براءت او پاکی ئے نازله کړه۔

نبی علیه السلام ته ځکه نهٔ ورپاڅیدله چه دیته اِدْلَال وائی، ناز کول په خپل خاوند باندے د ډیرے مینی د وجه نه، په هغه ئے لحاظ لیدو، د هغه ورسره محبت ډیر وو او د ښځے او د خاوند په مینځ کی داسے آزادی وی۔

هغے وویل: زهٔ د الله حمد وایم۔ نبی علیه السلام وفرمایل: عَرَفَتِ الْحَقَّ لِأَهْلِهِ۔

تا د خپل اهل دپاره حق وپیژندلو، د حمد اصلی مرکز دے وپیژندلو، ځکه چه الله تعالیٰ د حمدونو لائق دے۔

ټولو خلکو ته معلومه شوه چه عائشه رضی الله عنها پاکه ده، سیدنا صفوان پاک دے او منافقان ذلیله شو وشرمیدل بیا چه لږه خبره به ئے کوله خلکو به غلی کول چه منافقه کینه۔

نبی علیه السلام سیدنا عمر بن خطاب رضی الله عنه ته وویل: هغه وخت کې چه تا مشوره راکړه چه دا ابن سلول مړ کړه او ما وژلے وے نو ډیرو خلکو به پوزې تروے کړے وے ځکه هغه وخت کې خلکو ته ددهٔ شر پوره نهٔ وو معلوم او نن الله دومره ذلیله کړو چه خپل قوم ئے ملامته او ذلیله کوی او که اُوس امر وکړو نو سمدست به ئے خلك قتل کړی او هیڅوك به پرے خفه نهٔ وی۔ عمر رضی الله عنه وویل: زهٔ پوهه شوم چه د رسول الله ﷺ خبره زما د خبرے نه ډیره لویه وه۔

(**فائده**: د اهل السنة والجماعة مذهب دا دے چه عائشه رضی الله عنها صدیقه بنت الصدیق ده، د آسمان نه ئے براء ت او پاکی راغلے ده که چا د هغے په باره کې دا ګمان وکړو چه بې حیائی ئے کړیده دا د قرآن په نص باندے کافر او مرتد دے او د مسلمانانو حاکم به ئے وژنی۔ شیعه ګان وائی عائشه رضی الله عنها زنا کړیده حد پرے نهٔ دے قائم شوے، زمونږ مهدی به راځی هغه به ئے د قبر نه راپاڅوی او حد به پرے قائموی۔ د شیعه ګانو د ځانه مهدی دے، پلار نهٔ لری، ابوالحسن عسکری ښځه نهٔ وه کړے، بچی ئے نهٔ وو پیدا، دوی وائی دا یو ځای کې پټ ناست دے او د ابو الحسن عسکری ځوی دے هغه به راځی، شیعه ګان د کفری عقیدو په وجه مرتد او بد ترین کافر دی، د مسلمانانو مهدی حق دے، هغه به راځی چه نن صبا ئے علامات ښکاره کیږی د یهودو مهدی دجال کذاب دے)

الغرض: عائشه رضی الله عنها د قرآن په نص سره پاکه ده۔

نبی علیه السلام درے کسانو ته حد ورکړو (مسطح، حمنه بنت جحش او حسان بن ثابت رضی الله عنهم) دوی ئے اتیا درے ووهل او منافقانو ته ئے څه ونهٔ ویل، وجه دا وه چه مؤمنان پاك شی ځکه په حدودو انسان پاکیږی۔

او منافقانِ ئے پریښودل چه همداسے قبر ته لاړ شی چه هلته ډیر تکلیفونه ورکړی او سخت عذاب سره ئے مخامخ کړی۔

څوك وائی: سزا ئے ددے وجے نه ورنکړه چه خلك خبرے ونکړی۔

بعضی صحابه کرامو قسم کړے وو چه چا په عائشه رضی الله عنها پسے خبرے کړی دی مونږ په هغوی خرچه نهٔ کوو لکه ابوبکر صدیق رضی الله عنه دا قسم کړے وو چه په مِسطح به خرچه نهٔ کوم او نورو صحابه کرامو هم دا قسم کړے وو، الله تعالیٰ

دا آیت نازل کړو :

﴿ وَلَا يَأْتَلِ أُولُوا الْفَضْلِ مِنكُمْ وَالسَّعَةِ أَن يُؤْتُوا أُولِي الْقُرْبَىٰ وَالْمَسَاكِينَ وَالْمُهَاجِرِينَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلْيَعْفُوا وَلْيَصْفَحُوا أَلَا تُحِبُّونَ أَن يَغْفِرَ اللَّهُ لَكُمْ ﴾ ـ

په تاسو کې دے مالدار دا قسم نۀ کوی چه خپلوانو او مسکینانو او د الله په لاره کې هجرت کونکو ته به مال نۀ ورکوی بلکه معافی دے وکړی او مخ د واړوی د هغوی د خبرو نه، آیا تاسو نۀ خوښوئ چه الله تعالیٰ تاسو ته بخښنه وکړی)

نو هغوی ووېل : ولے نۀ، نو بیرته ئے خرچه شروع کړه۔

د دینه د صحابه کرامو تابعداری معلومه شوه۔

منافقان ذلیله شو او ایمان والو ته الله تعالیٰ عزت ورکړو او په سورة النور کې د هغوی دپاره قوانین ذکر کړل، د فحشاء د مخ نیوی دپاره ئے قوانین ذکر کړل، دارنګه د بی حیائی د واقع کیدو نه مخکې او روستو قوانین ئے ذکر کړل چه زنانه به پرده کوی۔ دا سورة د معاشرے د اصلاح دپاره ډیر اهم سورت دے۔

ددے لویې معرکې نه روسته رسول الله ﷺ بیا د سرایاؤ د لیږلو سلسله جاری وساتله او دا ترغیب به ئے ورکولو فرمایل به ئے : کچرته د مال کموالے نۀ وے چه ډیر مجاهدین نشم تیارولے او ملګری رانه نۀ پاتے کیدلے نو زۀ به هرے سریې سره جهاد ته تللے، نبی علیه السلام فرمائی چه زۀ خوښوم چه د الله په لار کې ووژل شم بیا راژوندے شم بیا ووژل شم بیا راژوندے شم بیا ووژل شم۔

۱ - سریه د عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه دومة الجندل ته

په شعبان کې په شپږم کال (٦ هـ) کې رسول الله ﷺ سیدنا عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه راوغوښتو او دُومَة الْجَنْدَل علاقے ته ئے لیږلو چه دا شام ته نزدے ځای دے هلته بنو کلب قبیله وسیدله چه دا خلك به د مهدی آخر الزمان دشمنان هم وی)

نبی علیه السلام سیدنا عبد الرحمن بن عوف ته توره وړکړه او په خپل لاس مبارك ئے ورله پټکے وتړلو او ورته ئے وفرمایل چه که دا خلك ایمان ته مائله شو او ایمان ئے قبلولو نو د دوی د مشر نه مطالبه وکړه چه لور درکړی ځکه چه دا به ستا سخرګنئ

شی بیا به ئې درسره مینه پیدا شي، د خپلو زومانو سره د خلکو مینه وی ځکه عربو به زوم داسې ګنړلو لکه د ځوی په شان۔

دوی لاړل درې ورځې ئې دغه خلکو ته دعوت ورکړو چه اسلام کې داخل شي نو هغوی مشوره وکړه نو ټول قوم ایمان راوړو۔ عبد الرحمن بن عوف د نبی علیه السلام د فرمان مطابق د هغوی د مشر نه مطالبه وکړه چه د هغه اصبغ بن عمرو کلبی نوم وو چه تهٔ ما ته خپله لور په نکاح راکړه نو هغه لور ورکړه چه تُمَاضِر بنت الاصبغ نوم ئې وو۔

د دغه بی بی نه د سیدنا عبد الرحمن بن عوف یو ځوی پیدا شو ابوسلمه بن عبد الرحمن چه مشهور عالِم دې په کتب ستهؤ کی ئې ډیر حدیثونه نقل دی: (عَنْ اَبِیْ سَلَمَةَ عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ) دا ډیر قوی تابعی دې۔ (ضبقات ابن سعد : ۲/۸۹)

پدې واقعه کی مسلمانانو جهاد هم کړیدې او دعوت ئې هم ورکړیدې دعوت او جهاد زمونږ د دین دوه پایې دی۔ ددې روایت نه دا فائده هم معلومه شوه چه اسلام کی د جهاد مقصد د خلکو مال اخستل نهٔ دی بلکه اصلاح مقصد ده چه خلکو ته هدایت وشي۔

د پټکي استحباب هم معلوم شو، ډیر علماء پټکے مُباح ګنړی لیکن بهتره خبره دا ده چه افضیلت پکی شته ځکه چه پدې کی د نبی علیه السلام د زمانې لباس اختیارول دی،

عمدة القاری کی د عبد الله بن عمر رضی الله عنهما روایت کی ورته سنت ویلی دی۔ عمر رضی الله عنه به فرمایل: تَعَمَّمُوْا۔ پټکی وهئ ځکه چه دا د عربو لباس دې۔

لیکن پټکے واجب او لازم ګنړل بدعت دې عربو به عمامه مُحَنَّکه اچوله چه د مرئ نه لاندې به ئې د هغې ول کلکولو)۔

۲- بله فائده دا معلومه شوه چه د عربو په نکاحونو کی آسانی وه، لکه شعیب علیه السلام هم موسیٰ علیه السلام ته خپله لور ورکړه مسافر وو، جائیداد ئې نهٔ وو نن صبا خلکو جینکئ کورونو کی کینولی وی چه مالدار او جائیداد والا به راځی هغوی ته به ئې ورکوی، دا سراسر ظلم دې)

۲- سریه د علی بن ابی طالب ﷺ فدک ته (۵٦)

په شعبان میاشت کې رسول الله ﷺ سیدنا علی بن ابی طالب رضی الله عنه ته سل (۱۰۰) کسان ورکړل چه تهٔ لاړ شه فَدَكُ علاقے ته

(ددے او د مدینے ترمینځ دوه ورځے بعض وائی درے ورځے مزل دے د خیبر په مشرقی طرف کې دے نن صبا ورته الحائط وائي) چه دلته بنو سعد بن بکر دی په دوی حمله وکړه ځکه بنو سعدو ویلی وو چه اسلحے به د خیبر یهودو ته ورکړو چه دوی په نبی علیه السلام باندے حمله وکړی او په خیبر والو باندے ئے دا شرط لګولے وو چه د یو کال د خیبر د کجورو فصل به مونږ ته راکوی۔

نبی علیه السلام علی رضی الله عنه ولیږلو چه د ورځے به پټیدل او د شپے به ئے مزل کولو تردے چه یوے چینے ته ورسیدل چه د خیبر او د فدك ترمینځ وه هغے ته ئے هَمَج ویله۔

بنو سعدو د خیبر یهودو ته یو جاسوس رالیږلے وو چه یهودو سره دغه وعده وکړی لیکن صحابه کرامو په لاره کې ونیولو او دا ئے وتړلو تردے چه حال ئے وویلو چه زهٔ جاسوس یم، بنو سعدو لیږلے یم چه یهودو ته به اسلحے ورکوو او هغوی به مونږ ته کجوری راکوی نو دے جاسوس وویل: زهٔ به تاسو ته بنو سعد وښایم ځایونه ئے راته معلوم دی۔

علی رضی الله عنه سره د ملګرو نه لاړو او په هغه علاقه ئے حمله وکړه هغوی د غفلت په حالت کې وو چه پوهه شو ټول وتښتیدل، زنانه ئے هم وتښتیدلې د دوی مشر وَبَر بن عُلیم وو، نو د دوی دوه زره ګډے او پنځه سوه اُوښان وو سیدنا علی المرتضیٰ رضی الله عنه ملګرو ته حکم وکړو چه دا تربے راونیسی دا غنیمت دے،

دوی د دنیا دپاره دا کار کولو چه یهودو ته اسلحه ورکړی الله تعالیٰ دوی ته مالی تاوان ورکړو۔

علی رضی الله عنه او د هغه ملګری د بنو سعدو پسے اخوا دیخوا وګرځیدل لیکن هیڅوك ئے ونهٔ لیدل نو دا غنیمت ئے ځان سره مدینے ته رااروان کړو۔ نو پنځمه حصه

غنیمت ئے بیت المال ته ورکړو او باقی ئے د مجاهدینو ترمینځ تقسیم کړل او روغ جوړ مدینے ته راواپس شو۔

دا د رسول الله ﷺ مهارت او هوښیارتیا وه چه کوم ځای کی به کافر سر راوچتولو نو کسان به ئے ورلیږل۔

ددینه وروسته بله سریه د ابوبکر صدیق رضی الله عنه وه۔

۳- سریه د ابوبکر صدیق رضی الله عنه وادی القریٰ ته

نبی علیه السلام ابوبکر صدیق رضی الله عنه وادی القریٰ علاقے ته ولیږو چه دا هم خیبر ته نزدے وه او دا د رمضان میاشت وه شپږم کال دے، ددے سریه مشر ابوبکر صدیق رضی الله عنه وو، سلمه بن اکوع هم پکی وو۔

دلته یو قوم وو چه د نبی علیه السلام د وژلو اراده ئے کړے وه په دغه قوم کی یوه زنانه وه ام قِرفَه ئے ورته ویله هغے دیرش هلکان تیار کړی وو او هغوی ته ئے ویلی وو چه توری به ښے تیرے کړئ او زهر به پرے واچوئ او په نبی علیه السلام به ناڅاپی حمله وکړئ۔

سلمه بن اکوع رضی الله عنه په منډه کی ډیر تیز وو چه د غشی نه به هم تیز تللو، دوی د سهر په وخت کی پرے حمله وکړه ډیر کسان ئے ووژل او څه یو خوا بل خوا وتښتیدل۔

کله چه رڼرا شوه سلمه بن اکوع رضی الله عنه فرمائی: ما یوه ډله ولیدله د وادی القریٰ د مشرکینو نه چه غرۀ طرف ته منډے وهی، ما ورمنډه کړه د هغوی نه مخکی شوم او غشی مے د دوی او د غرۀ ترمینځ ورګوزار کړل نو په دوی باندے رعب راغے ودریدل، زۀ ورغلم ګیره مے ترے واچوله په یواځی سر مے راونیول او تول مے ابوبکر صدیق ته راوستل نو ابوبکر صدیق رضی الله عنه ما ته د انعام په ډول د ام قِرفه زنانه لور راکړه چه په عربو کی ډیره ښائسته وه هغه مے ځاواخستله،

چه جهاد ختم شو مدینے ته راغلو، نبی علیه السلام خبرشو نو هغه وویل دا زنانه ما ته راکړه نو ما ورته وویل اے د الله رسوله ! ما ددے سره لاس هم نۀ دے لګولے تۀ ئے

بالکل واخله.

نبي عليه السلام د ځان دپاره نهٔ وه اخستے بلکه د مسلمانانو غم ورسره وو، د مشرکینو سره په مکه کې څه مسلمانان قیدیان وو نو دا بنځه ئې مکے ته ولیږله او مشرکینو ته ئې ورکړه د هغوی سره ئې پرے تبادله وکړه او هغه مسلمانان ئې پرے راخلاص کړل.

ام قِرفَه هم پدے جنګ کې ونیول شوه او قتل شوه نو دا هم ذلیله شوه او د خپلے جزا سره مخامخ شوه او دیرش واړه شاهسواران ئې هم قتل شو. دا د رسول الله ﷺ د حقانیت دلیل وو ځکه چه د الله مدد ورسره وو.

ددے نه روسته بله مختصره واقعه راغله هغه د سیدنا عبد الله بن رواحه رضی الله عنه لیږل وو د یَسِیر بن رِزَام یهودی د قتل دپاره.

٤- سریه د عبد الله بن رواحة ﷺ د یسیر بن رزام پسے

دهٔ ته په بعض کتابونو کې اُسَیر بن رِزام وئیلے شی.

نبي عليه السلام سیدنا عبد الله بن رواحه رضی الله عنه خیبر ته ولیږلو ورته ئې وویل چه د ابورافع یهودی د قتل نه روسته یَسِیر بن رزام مشر شویدے مونږ خبر شوی یو چه د خیبر یهود او غطفان قبیله او نور کفار هم ورسره ملګری دی دوی اراده لری چه په مدینه حمله وکړی.

رسول الله ﷺ په رمضان کې درے کسان ولیږل چه ددے سری معلومات راوړی، سیدنا عبد الله بن رواحه رضی الله عنه د درے ملګرو سره لاړو او خبر ئې راوړو چه دوی په مدینه د حملے اراده لری.

بیا په شوال کې نبي عليه السلام ورته دیرش کسان ورکړل چه لاړ شی ددے یهودی سره خبره وکړی او د ایمان دعوت ورکړی.

عبد الله بن رواحه رضی الله عنه د شوال په میاشت کې ور ورسیدو نو ددے یهودی نه ئې مطالبه د امان وکړه چه مونږ یو پیغام راوړیدے مونږ ته به څه نهٔ وایئ هغه یهودی یریدو هغه وویل: ما دپاره به هم امان وی، دوی وویل: صحیح ده.

سیدنا عبد الله بن رواحه ورته وویل چه تاسو ایمان راوړئ مونږ به درته څه نهٔ وایو، د رسول الله ﷺ د طرف نه به د خیبر مشر تهٔ ئې مونږ به درته څه نهٔ وایو نو هغه د دنیا پرستئ د وجه نه دے خبرے ته مائل شو، اسلام ئې خوښ نهٔ وو بلکه مشری ئې خوښه وه، موافقه ئې وکړه چه صحیح ده۔

سیدنا عبد الله بن رواحه ورته وویل چه تهٔ مونږ سره مدینے ته لاړ شه چه هلته خبره مکمله شي نو دیرش یهود ئې ځان سره واخستل او دیرش کسان دا صحابه وو۔

د هغه ځای نه راروان شو قَرْقَرَه علاقے ته راورسیدل چه دا د خیبر نه شپږ کیلو میټره جدا ځای دے، دغه ځای کی دا یهودی پښیمانه شو چه زهٔ به اُوس اسلام راوړم،

یهود ډیر ضدیان دی ایمان نهٔ راوړی، نو ددهٔ سره عبد الله بن اُنیس رضی الله عنه شا ته سور وو، دهٔ لاس تورے ته ویوړو چه په هغه باندے ګوزار وکړی نو عبد الله بن اُنیس پرے پوهه شو نو هغه پرے ورمخکی شو په توره ئې پرے ګوزار وکړو د هغه خپه ئې پریکړه او یَسِیر بن رزام په عبد الله بن انیس باندے په مخ ګوزار وکړو نو هغه ئې زخمی کړو او هر مسلمان چه د کوم یهودی سره شا ته سور وو هغه ئې قتل کړو، دیرش واړه یهودیان قتل شو صرف یو یهودی په خپو وتښتیدو او مسلمانان ټول محفوظ پاتی شو، دوی راغلل رسول الله ﷺ ته ئې دا واقعه بیان کړه،

نبی علیه السلام وفرمایل: الحمد لله چه الله تعالیٰ تاسو د ظالم قوم نه راخلاص کړئ، د دوی د خیر اراده نهٔ وه که ایمان ئې راوړے وے نو مشری به ئې هم باقی وے۔

بیا رسول الله ﷺ د عبد الله بن اُنیس رضی الله عنه په زخم باندے لاړے تف کړلے چه هډوکے ئې مات شوے وونو هغه بیخی روغ شو چه هیڅ تکلیف ورته نهٔ وو۔ دا د نبی علیه السلام معجزه وه۔ (امتاع الاسماع ۱ / ۲۷۱)

دے یهودیانو د مسلمانانو سره دوکه کوله نو الله تعالیٰ په دوی باندے خبره راواپس کړه۔ (السیرة النبویة لابن کثیر ۴ / ۴۳۴)



واقعه د عُرنِیین - او سریه د کرز بن جابر الفهری

ددې نه روستــه د عُـکـل او عـُرینه قبیلې اته کسان مدینې ته راغلل ایمان ئې راوړو په دوی امتـحان راغـې، تبې پرې راغـلې، خیټې ئې خرابې شوې، دوی اجازه طلب کړه چه مـونږ به د مدینې نه بهر اُوخو ځکه چه د مدینې آب وهوا مونږ باندې موافق رانغله نو نبي علیه السلام ورته طریقه وخودله چه د بیت المالٌ د زکاة اُوښان دی تاسو لاړ شئ د هغـه اُوښانـو خـوا تـه ورشـئ صـحراء کې وسیږئ. دوه درې شپونکیان ئې وو مشر ئې یسار وو.

دا ئې ورتــه وویـل چـه تـاسـو بـه د اُوښانو پئ او د هغې متیازې وڅکئ، دوئ لاړل د رسـول الله ﷺ هغـه غلامانو به ددې میلمنو ډیر عزتِ کولو پئ به ئې هم ورکول او د اُوښـانـو مـتـیـازې بـه ئې هم ورکولې نو دوی لږ وخت روسته جوړ شو او صحتونه ئې ښه شو او خاربه شو. (د اُوښانو پئ د ډیرو مرضونو دپاره دوائی ده)

دا کسـان نـمـك حرامه وو کله چه روغ شو نو د رسول الله ﷺ غلامان شپونکیان ئې په ډیر بې رحمـه مـرگ شهـیـدان کـړل، سیـخان ئې گرم کړل او په سترگو کې ئې ورله ورکړل او انـدامـونـه ئې تـرې پـریکړل او مرتّد شو او هغه اُوښان ئې هم وتښتول. دا ډیر زیات ظلم وو دوی قطاع الطریق (ډاکوان) قاتلین او مرتدین شو.

رسـول الله ﷺ تـه چـا خبـر ورسـولـو چـه داسې کـار شویدې، نبي عـلـیـه السلام شل کسـان تیار کړل، کرز بن جابر الفِهرِی ئې مشر کړو چه لاړ شئ دا خلك راونیسئ او نبي عـلـیـه السـلام ښیـرې وکـړې چه یا الله لاره ترې خطا کړې او لار پرې د څرمنې نه هم ډیره تنګه کړې،

په دوی بـانـدې لاره گـډه وډه شوه مسلمانانو په نیمه ورځ کې دننه دوی پیدا کړل او مـدیـنې تـه ئې راورسـول او اُوښـان ئې هم ترې راوستل، نبي علیه السلام ترې همغسې قـصـاص واخسـتـه، دا ئې څملول میخونه ئې ورته گرم کړل او سترگې ئې ترې ویستلې او اُوبه ئې غوښتلې سیدنا انس بن مالك رضی الله عنه فرمائی چه هغه هم چا ورنکړې او په زمکه ئې چکونه لگول.

ځینې وائي چه څلور کسان د عُرینه قبیلې او درې کسان د عُکل قبیلو نه وو او یو پکې د بلې قبیلې نه وو۔ (ابن جریر، ابوعوانة، السیرة الحلبیة)

ددینه بعد نبي علیه السلام ته الله تعالیٰ احوال بدل کړل، عامه ز مکه د عربو کې د اسلام د غلبې نښې ښکاره شوې تردې وخته پورې د مسجد حرام نه بند وو مکې ته چا نهٔ پرېښودل، د نبي علیه السلام زړه کې راغله چه دا مسجد حرام خو زمونږ حق دې دیته تلل پکار دي نو پدې موقعه کې صلح د حدیبیه وشوه۔



د صلح حدیبیه واقعه (ذی قعده ٦ھ)

د ذی القعدے میاشت ده شپږم کال دے چه نبی علیه السلام په مدینه کی خوب ولیده چه زهٔ او زما ملګری مسجد حرام ته داخل شوی یو او د کعبے چابی ئے راخستے ده او دوی طوافونه او عمره کوی او بعضو ملګرو سر خریلے او بعضو سر لنډ کړیدے، دا خوب د نبی علیه السلام پهٔ قرآن کریم کی په سورة الفتح کی ذکر دے۔

نبی ﷺ دا خوب خپلو ملګروته بیان کړو صحابه کرام ډیر خوشحاله شو چه د رسول الله ﷺ خوب رشتینی وی نو د صحابهٔ دا ګمان وو چه سږ کال به عمره کوو۔

اګرکه دے خوب کی د وخت تعیین نهٔ وو شوے، د یوسف علیه السلام خوب د مفسرینو د قول مطابق اتیا کله روسته رشتینی شو۔

خوب اکثر رشتینی وی خاصکر د مؤمنانو او بیا د نبی علیه السلام۔

نبی ﷺ صحابه کرامو ته اعلان وکړو چه شریك به عمرے ته ځو، (عمره سنت ده د راجح قول په بنا لیکن دا عمره فرض وه ځکه د رسول الله ﷺ حفاظت لازم وو)

نبی علیه السلام سره صحابه کرام ملګری شو، بانډو والو ته ئے هم دعوت ورکړو لیکن منافقان پټ شو۔

(منافقانو وېل چه که مونږ لاړ شو د مکے مشرکان خو زمری دی مونږ به قتل کړی او پدے خوشحاله وو چه دا نبی (علیه السلام) لاړ شی او قتل ئے کړی لکه دا حالت د منافقانو په سورة الفتح کی ذکر دے د دوی د دروغو بهانی هم هلته ذکر دی)۔

نبی علیه السلام د څوارلس نیم سوه (۱٤٥٠) کسانو سره روان شو۔

بعضی روایتونو کی راځی چه (۱٤٠٠) سوه کسان وو بعضو کی (۱٥٠٠) سوه کسان خودلے شویدی، عرب کله کسر حذف کوی او کله ئے پوره کوی۔

په مدینه باندے ئے ابن ام مکتوم یا نُمیله بن عبد الله اللیثی نائب پرینښودو او د یوم الاثنین (دوشنبی په ورځ) په ابتداء د ذی القعده کی ووتلو چه ام المؤمنین بی بی ام سلمه رضی الله عنها ورسره وه۔

دوی روان شو چه کله ذو الحُلَیفے ته ورسیدل چه دا د مدینے والو میقات دے نبی علیه السلام صحابه کرامو ته وویل چه هدیه راواخلئ، په عُمره کښې هدیه نهٔ وی لیکن دوی پدے غرض واخستل چه که چرته مشرکان مو د عُمرے نه بند کړی نو بیا چه ځان حلالوو نو هدیه پکار ده، بغیر د هدی ذبح کولو نه احرام نشی کوزولے۔

نبی علیه السلام او صحابه کرامو ځان سره اُوښان روان کړل نبی علیه السلام هم اِشعار وکړو (یعنیٰ د اُوښ د قوب نه ئے وینه ویستله او بیرته ئے پرے راښکله لکه چه دا سنت طریقه ده، احناف ئے نهٔ منی د دوی مذهب پدے کښې خطاء دے ځکه چه پدے باره کښې صحیح حدیثونه راغلی دی)۔

دے اُوښانو ته ئے پټئ چپړے واچولے غرض ئے دا وو چه خلکو ته معلومه شی چه دا حیوانات حرم ته روان دی چه څوك ئے په لاره کښې پټ نکړی او حاجیانو ته هم ضرر ونهٔ رسوی۔

(کوم خلك چه موټرو ته چپړه راز وړنده وی د نظر نه د بچ کیدو په نیت دا غلطه طریقه ده او په شرك کښې داخلیږی)۔

نبی علیه السلام ځان سره ډیره اسلحه وانخسته ځکه د عمرے اراده ئے وه د جنگ اراده ئے نهٔ وه صرف توری ئے ځان سره واخستے او هغه ئے په کاټیو کښې بندے کړی، نبی علیه السلام د خزاعه قبیلی نه یو جاسوس ولیږه چه معلومه کړی چه دا خلك مونږ عُمرے ته پریدی او که نهٔ ؟

هغه لاړو د مکے احوال ئے واخستل حالات ئے معلوم کړل، نبی علیه السلام چه کله عُسفان علاقے ته ورسیدو

(چه د عسفان او د مکے ترمینځ تقریباً اتیا کیلو میټره فاصله ده، د مکے نه په شمالی طرف باندے د مدینے په لاره پروت دے– المعالم الاثیرة ۱/ ۱۶۵)

نو هغه کس راورسیده هغه وویل: مشرکین راجمع شویدی تاسو نهٔ پریدی چه مکے ته داخل شئ، (مشرکین دومره ذلیله شو چه بهر مقابله خو ئے نشوه کولے او نهٔ ئے د حملے زړه کولے شو خو صرف دفاعی حالت ئے اختیار کړو)

مشرکین ذی طُویٰ علاقه کښې راجمع شو (چه دا د مکے نه بهر ځای دے) او دوه سوه (۲۰۰) کسان ئے خالد بن الولید ته ورکړل چه تهٔ لاړ شه کُراع الغَمِیم علاقه کښې کمین

ونیسئ کہ دوی راځی اول بہ تۀ حملہ کوے بیا بہ مونږ۔ (کراع الغمیم د عسفان نہ شپاړس کیلو میټره رادیخوا علاقہ دہ)

دوی لاړل کمین ئے ونیوہ، نبی علیہ السلام خبر شو چہ خالد بن ولید د جنگ پہ ارادہ راوتلے دے (د نبی علیہ السلام د جنگ ارادہ نۀ وہ) نبی علیہ السلام دوی تہ مخامخ وو، صحابہ کرام او نبی علیہ السلام پہ مانځہ ودریدل چہ د مونځ نہ فارغ شو خالد بن ولید وویل : افسوس ! مونږ خو مرہ نقصان وکړو کہ ددے مانځہ پہ وخت کی مو پرے حملہ کړے وے نو ټول بہ ختم شوی وے نو دوی خپل مینځ کی مشورہ وکړہ چہ ددے مسلمانانو بل مونځ راروان دے چہ د مازیگر مونځ دے دا مونځ دوی تہ د پیغلی لور نہ ډیر خوښ دے، د پیغلے لور دو مرہ حفاظت نۀ کوی لکہ ددے مانځہ چہ خو مرہ حفاظت کوی۔ (دا دلیل شو چہ څوک د مانځہ حفاظت او اهتمام کوی دا د صحابہ کرامو تابعدار دے او چہ د مانځہ حفاظت نۀ کوی د ابوجهل تابع دے)۔

مشرکینو وویل د مازیگر د مانځہ پہ وخت کی بہ پرے حملہ وکړو نو اللہ تعالیٰ صلاۃ خوف نازل کړو او وحی راغلہ۔

(صلاۃ خوف دیتہ وائی چہ څہ کسان پہ جمعہ سرہ پہ مانځہ ودریږی او څہ دشمن تہ)

د مازیگر د مانځہ وخت چہ راغے نبی علیہ السلام پہ مانځہ ودریدہ یوہ ډلہ ئے د دشمن مخے تہ ودرولہ او بلہ ډلہ ئے ځان سرہ مانځہ تہ ودرولہ چہ یوے ډلے یو رکعت وکړو هغوی لاړل دشمن طرفتہ ودریدل هغہ بلہ ډلہ راغلہ نبی علیہ السلام سرہ ئے دویم رکعت وکړو نبی علیہ السلام سلام وگرځولو دے ډلے خپل مونځ پورہ کړو سلام ئے وگرځولو، بیا هغہ بلہ ډلہ راغلہ او ځانلہ ئے خپل یو رکعت مونځ پورہ کړو۔

خالد بن ولید حیران شو چہ پہ دوی خو حملہ گرانہ دہ دا کوم کار ئے راسرہ وکړو۔

نبی علیہ السلام لارہ بدلہ کړہ او د غرونو مینځ مینځ کی لاړو، خالد بن ولید لاړو مکے تہ داخل شو مشرکینو تہ ئے وویل چہ صحابہ کرام پہ بلہ لار درباندے راتاؤ شو د ځان غم وکړئ۔

نبی علیہ السلام حُدیبِیَہ علاقے تہ ورسیدو چہ دا لس میلہ د مکے نہ لرے دہ د حدیبیہ څہ حصہ حرم کی داخلہ دہ او څہ حصہ ئے د حرم نہ بهر دہ۔ د حرم د حدودو اندازہ تقریباً (۳۶) میلہ جوړیږی چہ د حرم خپل احکام دی۔

حدیبیه علاقے ته چه رسول الله ﷺ ورسیدو اراده ئے وه چه مکے ته ننوځی نو اُوښه ئے خملاسته نهٔ پاځیدله، صحابه کرامو وویل : خَلَأَتِ الْقَصْوَاءُ۔

د اُوښې عادت خراب شو، نبی علیه السلام وفرمایل :

(ما خَلَأَتِ الْقَصْوَاءُ وَمَا ذَاكَ لَهَا بِخُلُقٍ وَلٰكِنْ حَبَسَهَا حَابِسُ الْفِيلِ)

ددے عادت نهٔ دے خراب او نهٔ دا ددے خوئی دے بلکه دا هغه ذات بنده کړه کوم ذات چه هاتیانو والا مکے ته د داخلیدو نه بند کړی وو،

(په هغوی خو عذاب وو او دا اُوښه چه بنده شوه پدے کی حکمت دا وو چه د نبی علیه السلام د جنګ اراده نهٔ وه او الله رب العزت نهٔ غوښتل چه په مکه کی دے جنګ وشی)

ورسره دا خبره ئے هم وکړه چه قسم په الله که دے مشرکانو ما سره هره خبره کوله چه په هغے کی د الله د حرم عزت راتللو نو زه به ئے منم، د نبی ؑ د کعبی سره ډیره مینه وه، (د حج په دوران کی به په منیٰ کی اُوسیده او د شپے به د کعبے د لیدلو دپاره راتللو)۔

بیا نبی علیه السلام خپله اُوښه پاځوله نو لږه مخکی لاړه او د حدیبیه په آخر طرف کی د یو کوهی په خوا کی خملاسته نوزه مخکی نهٔ تلله۔

نو نبی علیه السلام او صحابه کرامو په حُدیبیه کی پړاوونه واچول پدے انتظار وو چه مکے ته داخل شی۔

پدے وخت کی د مسلمانانو د یقین مضبوطولو دپاره الله تعالیٰ د نبی علیه السلام دوه درے معجزے راښکاره کړے، یوه معجزه دا وه چه یو وړوکے شان حوض وو د هغے اُوبه ختمے شوی ځکه مسلمانان ډیر وو نو صحابه کرامو شکایت وکړو یارسول الله ! اُوبه نشته۔ نبی علیه السلام د خپلے غاړکئ نه غشے راواخسته چه دا هغه حوض کی واچوئ نو هغه ئے ویوړو په حوض کی ئے واچولو نو حوض کی اُوبه راوخوټ کیدے، نو تول پرے ماړه شول (صحیح البخاری ۲۷۳۱)

صحابه کرام خوشحاله شو د نبی علیه السلام د ګوتو نه هم اُوبه راووتلے۔

نبی علیه السلام حذیبیه کی دمه وکړه مشرکان هم حیران وو چه احرام ته ئے کتل نو وئیل به ئے چه عُمرے ته راغلی دی او چه توروته ئے کتل نو وئیل به ئے چه جنګ ته راغلی دی۔ نو پدے کی یو بل سره خبرے اتر شروع شوے۔

د بُدَیل بن ورقاء راتلل

پدے وخت کی د خزاعه قبیلے یو وفد راغے چه مشر ئے بُدَیل بن وَرقاء بن الاخنف الخزاعی وو دا مشرکان وو لیکن د جاهلیت د زمانی نه د رسول الله ﷺ ملګری وو او خیرخواهی ئے دے طرف ته وه، بُدیل نبی علیه السلام ته وویل چه ما قریش پرینبودل تول راوتلی دی دومره ډیر دی لکه د حدیبیه چه څومره اُوبه دی، د هغوی سره د بچو والا اُوښان هم دی، اراده ئے ده چه تا سره جنګ وکړی او د بیت الله نه دے منع کړی اُوس دے خپله خوښه ده۔ دوی دا خبره د خیرخواهی په نیت وکړه۔

رسول الله ﷺ نرمی خبری وکړے چه مونږ جنګ ته نهٔ یو راغلی، عمرے له راغلی یو. تهٔ داسے وکړه چه دے قریشو ته زما جواب ورسره چه مونږ جنګ له نهٔ یو راغلی بلکه عمرے ته راغلی یو او که د دوی خوښه وی زهٔ به د دوی سره صلحه وکړم څکه دے قریشو ته جنګ ډیر ضرر ورکړیدے ما سره دے صلحه وکړی، ما دے نورو عربو ته پریدی. زهٔ به ورسره مقابله کوم که زهٔ غالبه شوم بیا د دوی خوښه ده که په اسلام کی داخلیږی فائده به ئے وشی او که نهٔ داخلیدل نو راحت کی خو به شی او که دوی خامخا جنګ کول غواړی قسم په الله زهٔ به ورسره پدے توحید او اسلام جنګ کوم تردے چه زما دا څټ پریکړے شی یا زما ملګری شهیدان شی او یا به الله تعالیٰ خپل دین غالبه کړی۔

بُدیل وویل : زهٔ به ستا خبره ورسوم، بُدیل لاړو د قریشو د مشرانو سره ملاؤ شو هغوی ته ئے وویل : زهٔ ددے سړی یعنی محمد رسول الله (ﷺ) د خوا نه راغلم یوه خبره ئے ما ته کړیده که ستاسو خوښه وی درته ویه ئے کړم او که ستاسو خوښه نهٔ وی نو نهٔ به ئے کوم نو په هغوی کی جاهلانو کشرانو وویل: ددهٔ یوه خبره هم مونږ ته مهٔ کوه مونږ ددهٔ سره د توری په واسطه خبرے کوو، د توری په سر کی ورسره ګورو، عقلمندو او مشرانو پکی وویل :

خبره وکړه تا څه آوریدلی دی؟۔

بُدیل ورته تفصیلاً د رسول الله ﷺ خبره وکړه چه مونږ عمرے ته راغلی یو جنګ نهٔ کوو یا راسره صلحه وکړئ تاسو به راحت کی شئ او که جنګ کوئ جنګ ته تیار یو۔

نو د مکے مشرکانو په خزاعه قبیلے اعتماد ونکړو چه دا خو د هغوی خیرخواه دی

نو سختی خبرے ئے وکړی چه تاسو هم د هغوی ملګری یئ۔

غرض ئے دا وو چه دا به دروغ وائی او نبی علیه السلام به جنګ له راغلے وی نو مشرکینو فیصله وکړه چه یو بل سړے لیږو چه معلومات وکړی چه دا سړے جنګ له راغلے دے او که بل څه غرض ئے دے نو پوره معلومات ئے کولو نو دوی مِکرَز بن حفص ولیږه، دا چه راغے نبی علیه السلام سمدستْ وویل :

هٰذَا رَجُلٌ غَادِرٌ)۔ دا دوکه مار سړے دے۔

کله چه د نبی علیه السلام خوا له راغے نبی علیه السلام ورسره په کولاؤ تندی خبرے وکړے کله چه هغه لاړو عائشه رضی الله عنها وویل: اے د الله رسوله ! اول دے وویل چه دا غادر (دوکه مار) دے او بیا ورسره په ښو اخلاقو ملاؤ شوے؟

نبی علیه السلام وفرمایل : د سړی نه ځان ساتل کیږی د هغه د بد اخلاقئ د وجه نه که ما دهٔ سره تیزی کړی وے زما خوا ته به نهٔ راتللے۔

نبی علیه السلام ددهٔ سره خبرے وکړے او همغه جواب ئے ورته ورکړو کوم چه ئے بدیل بن ورقاء ته ورکړے وو۔

دا قریشو ته راغے خبر ئے ورکړو، هغوی ددهٔ په خبره هم اعتماد ونکړو، قریش د جنګ نه هم ویریدل او که عمره وکړی هم د شرم خبره ده نو یو بل سړے وو حُلیس بن علقمه چه د احابیشو سردار او مشر وو د بهرنیو قبیلو نه وو کوم چه د مکے نه بهر اُوسیدل چه هغے ته ئے احابیش وئیل چه دوی د قریشو سره (د حُبُشِی) غر په خوا کی (په لاندے طرف د مکه کی) د مدد قسمونه کړی وو ځکه ئے ورته احابیش وئیل)۔

حُلیس بن علقمه مشرکینو ته وویل چه زهٔ ستاسو د بچی په شان یم تاسو زما د پلارانو په شان یئ ما ته اجازه نکوئ چه زهٔ ورشم ؟ هغوی اجازه ورکړه۔

دا چه نبی علیه السلام ته ورنزدے شو نبی علیه السلام وفرمایل : چه دا سړے د هغه قوم نه دے چه د بُدنو د اوښانو ډیر تعظیم کوی، داسے وکړئ چه دا اوښان پاځوئ وے دروئ او تلبیه شروع کړئ چه دوی ته معلومه شی چه دوی عُمرے ته راغلی دی۔

دا چه راغلو ډیر متاثره شو او وے فرمایل: سبحان الله دا خو مناسب نهٔ ده چه دوی د بیت الله نه منع شی دا خو جنګیان خلك نهٔ دی دا خو د الله حرم ته راغلی دی۔

نبی علیه السلام سره ملاؤ شو نبی علیه السلام ورته همغه خبرے وکړے کومے ئے

چه بُدیل بن ورقاء او مکرز بن حفص ته کړے وے۔

(۱: **فائده** : کله چه یو عمل یو بنده د الله دپاره شروع کړے وی او بیا پدے عمل کی دا نیت وکړی چه خلك متأثره شی نو هغوی ته دا عمل ښکاره کړی او هغوی دین ته مائله شی نو دا جائز ده، ریاکاری دیته وائی چه یو سړے د اول نه یو عمل شروع کوی نو د مخلوق دپاره ئے شروع کړی، یا په اول کی عمل ګډوډ شان کوی خو چه څوك ورته ګوری نو عملِ ښکلے کړی دا ریاکاری ده او ددے نه منع راغلے ده او دیته شرکِ خفی (پټ شرك) وئیلے شویدے)

(۲: **فائده** : بعضی خلکو ددینه مظاهرے او جلوسونه جائز ګرځولی دی او وائی چه دا په کافرو باندے اثر کوی او دلیل ئے دا حدیث ګرځولے دے، د دوی دا خبره غلطه ده مظاهرو او جلوسونو کی ظلم کیږی د مسلمانانو لارے بندے شی، کاروبار ئے متاثره شی، نقصانات ورته ملاؤ شی او هرچه حج دے نو هغے کی خو تلبیه شرعی عمل دے په هغے کی اجر دے، مظاهری د قیامت د علاماتو نه دی، دا د اسلام رخ بدلول دی بلکه دعوت او جهاد صحیح لاره ده)۔

حُلیس هم واپس لاړو مشرکانو ته ئے وویل چه ډا خلك مۀ بندوئ دوی خو اِشعار کړیدے تلبیه وائی نو مشرکان ورته غصه شو او دا ئے ورته وویل: (اسکت فانما انت اعرابی لا علم لك) چه چپ شه تۀ یو اعرابی ئے ستا علم نشته دے۔ هغه ورته وویل چه ما ددے دپاره تاسو سره ملګرتوب نۀ دے کړے چه خلك دے د بیت الله نه منع کړم زۀ اُوس خپل قوم ته آواز کوم ستاسو په خلاف به ودریږی او جنګ به درسره وکړو نو مشرکین ویریدل حیران شو نو دۀ ته ئے وویل تۀ مۀ خفه کیږه مونږ ځان دپاره یو شرط لګوو چه خلك ونۀ وائی چه دے نبی عُمره په زور سره وکړه۔

د عروه بن مسعود ثقفی راتلل

دوی بل سړے راولیږه د ثقیف قبیلے مشر وو عُروه بن مسعود الثقفی چه د طائف یو خان او نواب سړے وو دا هم مکے والو ته ډیر محترم وو، دۀ هم خپله قبیله راوستے وه مکے ته راداخل شوی وه چه د مکے د خلکو امداد وکړی۔

(دا هم روستو ډیر ښه مسلمان شوے وو)

عروه بن مسعود ورته وویل: زۀ به لاړ شم خو پدے شرط چه واپس راشم او جواب

راوړم نو بی عزتی به راله نهٔ کوئ۔
عروه بن مسعود ثقفی راغے دهٔ هم معلومات کولو چه دوی عُمرے ته راغلی دی او که جنګ ته که نرمے خبرے کوی نو جنګ به ئے اراده نهٔ وی او که سختے خبرے ئے کولے نو د جنګ اراده به ئے وی او دا معلومات ئے هم کول چه دا ملګری تکړه دی او که نهٔ۔
عـروه بن مسعود راغے څان سره ئے توره راوړے وه، رسول الله ﷺ ددهٔ سره جدا شو او خبری ئے ورسره وکړے همغه خبرے چه بدیل ته ئے کړے وے،
سیـدنا مغیره بن شعبه رضی الله عنه د رسـول الله ﷺ پـه سر ولاړ وو څان ئے په زغره پټ کړے وو خو کیداریٔ ئے کوله چه دا سړے غلط حرکت ونکړی ابوبکر صدیق هم خوا کی ناست وو او نور مشران صحابه کرام هم ناست وو۔ مغیره بن شعبه رضی الله عنه سره توره وه،
عـروه بـن مسـعـود دا خبره وکړه اے محمده ! که تهٔ پدے خپلو ملګرو قریش ووهے نو تـهٔ خـو خپـل قوم تباه کوے په پردو خلکو او عربو چرته داسے کار نهٔ دے کړے چه خپل قوم سره د پردو خلکو په واسطه جنګ وکړی۔
(عربو کی خو قومیت دے د خپل ورور مدد کوی اګرکه ظالم وی)
عـروه بـن مسـعـود وویل چه ستا دا ملګری به ستا نه وتښتی او یواځے به دے پریدی نبی علیه السلام باندے ئے رعب اچول غرض وو نو ابوبکر صدیق رضی الله عنه ورته غصه شو او کنځله ئے ورته وکړه چه اُمْصُصْ بَظْرَ اللَّاتِ۔ تهٔ لاړ شه د لات ذکر (عورت) څټـه۔ ډیره غـلیـظـه کنځله ئے ورته وکړه۔ (کله چه یو انسان د مسلمانانو بی عزتی او سپکاوے کوی نو هغه ته په داسے موقعه کی کنځل کول روا دی)
نبـی عـلیـه السـلام ورتـه وویـل چـه خیـر دے لږه نـرمی کوه۔ (یعنی دے خلکو سره زمونږ د صلحے اراده ده سختی ورسره مهٔ کوه)
عـروه بن مسعود وویل : دا سړے څوك دے چه کنځلے کوی؟ خلکو ورته وویل چه دا خـو ابـوبکر دے نو عروه بن مسعود وویل : ستا ما سره یو احسان دے، په جاهلیت کی دے راسره کړیدے، ما د هغے بدله نهٔ ده درکړے نو د هغے په وجه تا ته ددے کنځلے جواب نهٔ درکوم۔ دا د هغے په بدله کی شوه۔
عروه بن مسعود چه د رسول الله ﷺ سره خبرے کولے نو ګیری ته ئے لاس وروړل۔
د سیـرت عـلـمـاء لیـکـی چه ددے دوه مقصده کیدے شی یا خو ئے نبی علیه السلام

ځان ته مائله کولو اویا دا چه غصه کولو ئے چه حال ئے معلوم کړی چه جنګ ته راغلے دے او که نه ؟ دۀ چه ګیرے ته لاس راوړاندے کړو مغیره بن شعبه د توری په موتی د عروه لاس ووهلو او ورته ئے وویل چه دا لاس دے وړاندے کړه د ګیری د رسول الله ﷺ نه دا ګنده لاس دے، که نۀ وی دا لاس به درنه غوځ کړم مخکی ددے نه چه ستا دا لاس د رسول الله ﷺ ګیری ته ورسی۔

هغه ورته داسے بره وکتل وے ویل دا څوك دے ؟ نبی علیه السلام ورته وویل : دا ستا وراره دے، مغیره بن شعبه د عروه بن مسعود خپل وراره وو لیکن د ایمان د وجه نه د رسول الله ﷺ مُحافظ او څوکیدار وو او خپل ترۀ ته غصه وو دا د ایمان غیرت دے۔

عروه بن مسعود ورته وویل : چه اے دوکه ماره، ستا د دوکی د وجه نه زۀ اوس هم منډے وهم (وَقَدْ غَسَلْتُ سَوْءَتَكَ بِالْاَمْسِ)

او ستا عورت او شرمګاه خو پرون ما وینځله،

پدے خبره کی ئے یوے قیصے ته اشاره وکړه چه تا خو یو د عیب کار کړیدے هغه ورته وویل چه ما د عیب هریو کار کړے وی خو دا د الله حق رسول دے، زۀ تا نۀ پریدم چه ګیری ته لاس ورووړے۔

(هغه قصه دا وه چه مغیره بن شعبه رضی الله عنه (د اسلام نه مخکی) د خپلو ملګرو سره (چه د بنو مالك نه وو) مصر ته تلے وو هلته مُقَوقِس بادشاه ددۀ تولو ملګروته بنه تحفه ورکړه او مغیره بن شعبه ته ئے بنه تحفه ورنکړه ځکه دۀ د بادشاه مخے ته څه ادبی خبرے ونکړے نو بادشاه تحفه ورنکړه ځکه دا سخت مزاجه سړے وو کله چه واپس راتلل نو لاره کی ئے دمه وکړه ددۀ دیارلس ملګری وو هغه اُوده شو نو دۀ توره راواخسته او تول ئے مړۀ کړل او تول مال ئے ترے واخسته نو مدینے ته وتښتیدۀ، هلته ئے ایمان راوړو، نبی علیه السلام ورته وویل: اسلام دے قبول دے ځکه چه هر څو مره لوی کافر وی او قاتل وی اسلام ئے قبول دے او هرچه ستا مال دے نو دا نۀ قبلوم ځکه دا د غدر او دوکے مال دے نو مال ئے ورته واپس ورکړو۔

بعض وائی : مغیره بن شعبه دا مال خپلو مالکانو ته واپس کړو۔ پدے کی بنو مالك د مغیره بن شعبه د قوم سره جنګ شروع کړو چه دا سړے مونږ ته راکړئ عروه بن مسعود انکار وکړو نو بعضو خلکو عروه ته وویل چه دیت ورکړه نو هغه د

دیارلسو کسانو دیت ورکړو نو عروه بن مسعود دغه واقعې او دیت ته اشاره وکړه چه ما پدغه کې مندې وهلې)۔
ددې خبرو په دوران کې د مانځه وخت شو صحابه کرامو اُوبه راوړې نبي علیه السلام اَودس شروع کړو نو چه خولې ته به ئې اُوبه واچولې صحابه کرامو به هغه راخستلې چه پوزه ئې سونړ کوله لاسونو به ئې ورته نیول او په ځان به ئې رابنکل چه د چا لاس به نهٔ وو رسیدلې د بل ملګرې لاس ته چه به کومې اوبه رسیدلې وې هغه به ئې په ځان رابنکلې۔
صحابه کرامو دا کار د درې وجو نه کولو یو خو ئې مشرکینو ته ځان ښودلو چه مونږ د نبي دومره عزت کوو چه د هغه د خولې اوبه زمکې ته نهٔ پریدو نو وینه به ئې څنګه پریدو چه په زمکه تویه شي۔
دویم مقصد یکې دا وو چه د تبرك دپاره ئې دا کار کولو۔ د نبي علیه السلام په آثارو تبرك حاصلول جائز دي دا د هغه پورې خاص دي د صحابه کرامو په آثارو چا تبرك نهٔ دې نیولې۔
دریم مقصد حدیث کې داسې راغلې دې چه دوی نه نبي علیه السلام تپوس وکړو چه دا کار ولې کوئ؟ هغوی وویل: د الله او د رسول سره مینه ده۔ نبي علیه السلام ورته وفرمایل: که تاسو غواړئ چه د الله او د رسول سره مینه وکړئ نو درې کاره کوئ: خبرو کې رشتیا وایئ، او د وعدې لحاظ ساتئ او د امانت حفاظت کوئ۔
عروه بن مسعود چه د صحابه کرامو دا حالت ولیده حیران شو،
هرکله چه مشرکینو ته واپس شو هغوی ته ئې وویل اول درته د صحابه کرامو حال بیانوم بیا درته خبره کوم وې ویل: قسم په الله زهٔ یو مشر سړې یم ما د بادشاهانو سره ملاقات کړیدې، د ایران د کسرئ بادشاه سره، د حبشو بادشاه او د قیصر د روم بادشاه سره مې ملاقات شویدې:
(وَاللّٰهِ مَا رَأَيْتُ مَلِكًا قَطُّ يُعَظِّمُهُ أَصْحَابُهُ مِثْلَ مَا يُعَظِّمُ أَصْحَابُ مُحَمَّدٍ مُحَمَّدًا، وَ وَاللّٰهِ اِنْ تَنَخَّمَ نَخَامَةً اِلَّا وَقَعَتْ فِيْ كَفِّ رَجُلٍ مِنْهُمْ فَدَلَكَ بِهَا وَجْهَهُ وَجِلْدَهُ، وَاِذَا تَوَضَّأَ كَادُوْا يَقْتَتِلُوْنَ عَلٰى وَضُوْءِهٖ وَاِذَا تَكَلَّمَ خَفَضُوْا أَصْوَاتَهُمْ عِنْدَهُ وَاِذَا أَمَرَهُمْ اِبْتَدَرُوْا أَمْرَهُ وَمَا يُحِدُّوْنَ النَّظَرَ اِلَيْهِ تَعْظِيْمًا لَهُ)

قسم په الله ما هیڅوك نه دے لیدلے چه د خپل مشر دومره عزت کوی څومره چه د محمد رسول الله ﷺ ملګری د هغه عزت کوی، قسم په الله که لاړے به ئے تو کلے یا خراچکی هغه به ئے په لاس کی نیول او په ځان به ئے راښکل او چه اودس کوی نو د هغه د اودس په اوبو ځان وژنی هر یو وائی ما ته ئے پریدئ او کله چه خبرے کوی ټول چُپ وی او سرونه ئے ښکته وی او کله چه امر ورته وکړی ټول په جلتئ هغه کار ته منډه وهی او د هغه د تعظیم او د ډیرے حیاء د وجه نه هغه ته نیغ نیغ او بره نه ګوری۔

دا د یو مشرك په خوله د رسول الله ﷺ د ملګرو صفت کیږی ۔

وَالْفَضْلُ مَا شَهِدَتْ بِهِ الْأَعْدَاءُ۔

(فضیلت خو هغه دے چه دشمنان هم پرے ګواهی وکړی)

ددے نه دا فائده معلومه شوه چه د رسول الله ﷺ په خبره منلو کی به جلتی کولے شی او د هغه په خبرو به ځان او د خپل امام او پیر خبره نه مخکی کوی۔

نو که دغه پنځلس سوه کسان تاسو وژلی نه وی نو دا پیغمبر نشئ وژلے او تاسو به هم وژنی نو بیا ئے ورته د رسول الله ﷺ پیغام ورسولو۔

عروه بن مسعود چه دا خبرے ورته وکړے نو د دوی جوش کیناسته نو پدے کی مشرکان صلحے ته مائله شو، لیکن د مکے کشران او ځوانان صلحے ته نهٔ وو مائله او هغوی خپل مشران ولیدل چه صلحے ته مائل شو نو دوی غوښتل چه جنګ وکړی نو کشرانو مشوره وکړه چه څه پروګرام جوړه وو چه جنګ شروع شی نو دوی اویا یا اتیا کسان تیار کړل چه په پټه به حمله پرے وکړو نو جنګ به شروع شی او یو کس نیم به ترے ګرفتار کړو به ئے وهو او تحقیق به ترے هم وکړو چه جنګ له راغلی دی او که عمرے له پوره معلومات به وشی۔

دوی د مشرانو د اجازے نه په غیر اتیا کسان د شپے ووتل حدیبی ته ئے ځان ورسولو هلته یو غر وو (جبل التنعیم) هغے ته وختل، نبی علیه السلام څه کسان ودرولی وو د پهرے او څوکیدارئ دپاره، نبی علیه السلام ددے څوکیدارانو مشر محمد بن مسلمه رضی الله عنه ته امر وکړو چه دے کسانو پسے ورشئ، دوی ورغلل اتیا واړه کسان ئے ټول ونیول نو ټول ئے راوستل نبی علیه السلام ته قیدیان شو نو مشرکین خبر شو چه کسان ئے راله ونیول نو غصه شو او جنګ ته لاره جوړه شوه نو نبی علیه السلام د

بنائسته اخلاقو نه کار واخسته ټول ئې پرېښودل اګرکه مرګ ئې هم جائز وو ځکه حمله ئې کړې وه لیکن پدې پرېښودو کې فائده ډېره وه، کله ئې چه دا کسان پرېښودل مشرکین پوهه شو چه دا خلك جنګ له نهٔ دي راغلي بلکه عمرې له راغلي دي۔

دا واقعه قرآن کريم سورة الفتح کې ذکر ده:

﴿وَهُوَ الَّذِىْ كَفَّ اَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ وَاَيْدِيَكُمْ عَنْهُمْ بِبَطْنِ مَكَّةَ مِنْۢ بَعْدِ اَنْ اَظْفَرَكُمْ عَلَيْهِمْ﴾ (آيت:٢٤)۔

(الله هغه ذات دې چه د مشرکانو لاسونه ئې ستاسونه او ستاسو لاسونه ئې د هغوی نه بند کړل په خېټه د مکه کې روستو د هغې نه چه تاسو ئې کامیاب کړئ په هغوی باندې)۔

پدې کې نبي علیه السلام مشرکانو ته یو کس ولېږلو چه مونږ ته لار راکړئ چه عمره وکړو ځکه صحابه کرامو ته تکلیف وو ځینو صحابه کرامو کې د ډېر تکلیف او سفر د اُوږد والي دو چه نه سپږې شوې وې لکه په صحیح حدیث کې د سیدنا کعب بن عُجره رضي الله عنه واقعه راځي فرمائي چه ما د کټوی نه لاندې اُور بلولو او سپږې رانه روانې وې رسول الله ﷺ راته وویل: آیا تا ته د سر دا حشرات تکلیف درکوي؟ ما ورته وویل: آؤ، اې د الله رسوله! هغه وفرمایل: سر وخریبوه او ددې په بدله کې فدیه ورکړه ګډ ذبح کړه یا شپږو مسکینانو ته (نیمائي صاع) کجورې ورکړه یا درې روژې ونیسه۔ (بیا صبا له صلح وشوه) مونږ ته پته نهٔ وه چه دا مسئله به دومره زر حل کیږي، ګنې مونږ به سر نهٔ خرئیلې۔

نبي علیه السلام خِراش بن امیه په خپل اوښ باندې قریشو ته ورولېږه چه هغوی ته ووایه چه مونږ عُمرې ته پریدئ نو د هغوی په معسکر باندې ورتیر شو نو عکرمه بن ابي جهل د هغه اُوښ قتل کړو او په دهٔ پسې ئې منډه وکړه لیکن دهٔ ترې ځان خپلو ملګرو ته راخلاص کړو۔

(او په یو روایت کې دي چه ددهٔ د قوم خلکو ددهٔ حفاظت وکړو)۔

بیا خبره لږه شان ګډه وډه شوه ځکه چه یو طرفته مشرکان صلحې ته مائل کیږي او بل طرفته دا کسان ئې حملې هم کوي۔

نو پدې کې نبي علیه السلام وفرمایل: یو مشر کس لیږو چه دوی سره صفا خبره

وکړی نو عمر رضی الله عنه ته ئے وفرمایل چه تهٔ لاړ شه دے مشرکینو ته ووایه چه مونږ عُمرے له راغلی یو او مکه کی چه کوم کمزوری مسلمانان دی هغوی ته زیرے ورکړه چه فتح به راځی ان شاء الله او تاسو صبر کوئ۔ ځکه په مکه کی ایمان والا پیدا شوی وو او هغوی تړلے شوی وو او وهل ټکول به پرے تیریدل۔

عمر رضی الله عنه ووئیل: یارسول الله ! ما مهٔ لیږه ځکه دے مکے والو سره ما ډیره سختی کړیده که زهٔ ورشم ما وژنی، او زما قوم قبیله هلته نشته، عثمان رضی الله عنه ولیږه ځکه ددهٔ هلته خپلولی ده، (ابوسفیان هم د بنو امیه ؤ نه دے او عثمان هم د بنو امیه ؤ نه دے) او عثمان کی نرمی هم ده نو ستا پیغام به ورسوی،

(دا د امر مخالفت نهٔ دے بلکه دا مشوره ورکول دی ځکه چه عمر رضی الله عنه د رسول الله ﷺ وزیر وو او وزیر بادشاه ته مشوره ورکولے شی او که دا چرته جِدی او حتمی امر وے نو که په سیدنا عمر هر څه حالات راتللی هغے ته به تیار وے)

فائده : عمر رضی الله عنه داسے ونهٔ وئیل چه توکل په الله ورځم بلکه په داسے وخت کی ظاهری اسباب استعمالول هم دین دے، پدے وجه رسول الله ﷺ د عمر رضی الله عنه خبره ومنله)۔

قریشو ته د سیدنا عثمان غنی رضی الله عنه لیږل

نو نبی علیه السلام عثمان بن عفان رضی الله عنه ته وفرمایل :

تهٔ لاړ شه مشرکانو ته ووایه چه مونږ د جنګ دپاره نهٔ یو راغلی بلکه د عمرے اراده لرو، او مشرکانو ته به د اسلام دعوت ورکړے او بیا به مومنانو سره هم پټ ملاقات وکړے او تسلی به ورکړے او د فتح زیرے به ورکړے او دا خبر به ورکړے چه الله تعالیٰ به په مکه کی خپل دین رابنکاره کوی چه بیا به هیڅوك ایمان نهٔ پټوی۔

عثمان مکے ته روان شو تردے چه په بَلْدح علاقه کی په قریشو ورتیر شو، دلته د مشرکینو معسکر وو، د مشرکینو په معسکر چه ورغلو هغوی را ایسار کړو ورته ئے ووئیل : څه کوے ؟ دهٔ ووئیل : ستاسو مشرانو سره ملاقات کوم نو هغوی پریښودهٔ،

ابان بن سعید بن العاص اموی د عثمان رضی الله عنه خپلوان وو هغه په خپل اس

باندے ځان سره کینولو او مکے ته ئے د ځان سره داخل کړو چه خپل پیغام ورسوه تا ته به څوك څه نهٔ وائی۔

عثمان رضی الله عنه چه مکے ته ورسیده نو پینځی ئے اوچتی وے او د مشرکینو پینځی به ښکته وے او دا کبیره گناه ده

(حدیث کی دی : مَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ مِنَ الْإِزَارِ فَفِي النَّارِ۔ (بخاری:۵۷۸۷)

کوم پرتوګ چه د گیټونه لاندے وی هغه به په اور کی وی)

او بل حدیث دے : چه الله تعالیٰ به ورسره خبرے نهٔ کوی او نهٔ به ورته گوری او نهٔ به ئے پاکوی او دردناك عذاب به ورکوی) ددے نه لوی بل هیڅ عذاب نشته، که چا کی ایمان وی نو دا حدیث د انسان غوږنے زیږ کوی۔

مشرکینو عثمان رضی الله عنه ته وویل دا پینځی دی ولے اُوچتی کړیدی؟

هغه جواب ورکړو : هٰكَذَا يَتَّزِرُ صَاحِبُنَا۔

دارنګه لنګ وهی زمونږ ملګرے او مونږ د خپل ملګری تابعداری کوو۔

ابوسفیان او مشرکانو سیدنا عثمان رضی الله عنه ته وویل: ته طواف وکړه او عمره هم ادا کړه هسے هم زاغلے ئے۔ عثمان رضی الله عنه وفرمایل :

قسم په الله که زهٔ عمره وکړم ترڅو چه رسول الله ﷺ نهٔ وی کړی۔

دا د عثمان رضی الله عنه انتهائی فقاهت فی الدین (په دین باندے پوهه) وه۔ چه پیغمبر یو عمل نهٔ وی کړے امتی به ځان د هغه نه نهٔ مخکی کوی)

ددے نه مونږ ته دا فائده راووته چه دین به هغه وی چه رسول الله ﷺ کړے وی که رسول الله ﷺ یو عمل نهٔ وی کړے یوه عمره ئے نهٔ وی کړی یو مونځ ئے نهٔ وی کړے هغه به د سَره دین نهٔ وی۔ مونږ له داسے مزاج جوړول پکار دی۔

دے ظرفته بعض مسلمانانو هم وویل چه عثمان له دے مبارکی وی چه هغه به عمره او طواف کړے وی، رسول الله ﷺ وفرمایل: هیڅکله داسے نشی کیدے چه ما یو عمل نهٔ وی کړے او عثمان به ئے کوی هغه زما نه ځان نهٔ مخکی کوی۔ ددے نه معلومه شوه چه د رسول الله ﷺ نه څوك ځان په نیکئ کی نشی مخکی کولے او د رسول الله ﷺ د سیدنا عثمان په فقاهت باندے اعتماد وو۔

نو عمره ئے ونکړه لاړو مشرکانو ته ئے د رسول الله ﷺ پیغام ورسولو نو مشرکینو د

خان سره بند کړو چه ته به نۀ ځې صبر وکړه مونږ مشوره کوو چه پدې باندې بیا بیعة الرضوان مرتب شو چه د هغې تفصیل دا دې۔

بیعة الرضوان (یعني د رضا والا بیعت)

دې طرفته د مسلمانانو په ډله کې یو غلط خبر خور شو چه عثمان رضی الله عنه مشرکانو قتل کړو پدې باندې رسول الله ﷺ او ټول مسلمانان سخت دردمند شو ځکه چه په ټولو ملتونو کې دا قانون ذې چه استازی نۀ قتلیږی او دا د اسلام هم قانون دې او مشرکانو ددې خلاف وکړو نو نبی ﷺ د یوې ونې لاندې کیناستو او ملګروته ئې دا وویل چه ما سره پدې خبره بیعت وکړئ چه یا به د عثمان رضی الله عنه بدله اخلو فتح به کوو یا به ځان وژنو او نۀ به واپس کیږو۔

نو ملګری تیار جذبه کې وو نو ټول تیار شو اول کې ابوسنان اسدي رضی الله عنه رامخکې شو رسول الله ﷺ سره ئې بیعت وکړو، ددۀ نوم وَهُب بن مِحُصَن دې چه د عُکاشه بن مِحُصَن رضی الله عنه ورور دې۔

سیدنا سلمه بن اکوع رضی الله عنه فرمائی: ما په اول کې هم بیعت وکړو او په مینځ کې هم بیا د ونې لاندې ناست ووم رسول الله ﷺ راته وفرمایل: آیا تۀ بیعت نۀ کوې؟ ما وویل: اې د الله رسوله! ما خو بیعت وکړو، وې فرمایل: راشه بیا بیعت وکړه نو په دریم ځل مې هم بیعت وکړو۔ (صحیح مسلم) الفصول فی سیرة الرسول ص (۷۰)

او د صحابه کرامو په رشتیا بیعت وو چه یا به مرګ او شهادت وي او یا به فتح وی او دا هسې د خولې بیعت نۀ وو۔ دا ډیر تکړه مجاهد وو پدې وجه رسول الله ﷺ ددۀ نه بار بار بیعت واخستو۔

په صحابه کرامو کې دوه ډلې وې یوه ډله هغه وه چه پدې باندې ئې بیعت وکړو: (عَلٰی اَنْ لَا نَفِرَّ) چه تښتو بۀ نۀ، او بلې ډلې پدې وکړو: (عَلَی الْمَوْتِ) چه ځان به وژنو خو بدله به اخلو۔ د دواړ حاصل یو راوځی چه ترڅو پورې مړۀ نۀ یو نو تیښته به نۀ کوو۔ بیعت وعدې ته وائی او پدې کې د تاکید دپاره لاس هم ورکولې شي او یو لاس به ورکولې شي لکه دا په مصافحه کې هم سنت ده۔ د دواړو مسئله یوه ده۔

نبی علیه السلام سره صحابه کرامو بار بار بیعت کولو نو رسول الله ﷺ ستړے شو ځکه څوارلس سوه کسان چه بیعت کوی ډیر ګران کار دے نو سیدنا عمر فاروق راغلو د رسول الله ﷺ لاس مبارك ئے ونیولو دا د هغه د اکرام دپاره وو اګرکه رسول الله ﷺ دومره کمزورے هم نهٔ وو۔

عمر رضی الله عنه اول کی ددے بیعت نه خبر نهٔ وو نو وړاندے د یو بے وَنے لاندے ناست وو خپل ځوی عبد الله بن عمر ته ئے وویل: تهٔ لاړ شه وګوره چه دا خلك څنګه راجمع دی؟ هغه چه راغلو وے کتل چه رسول الله ﷺ د صحابه کرامو نه بیعت اخلی نو هغه هم پکی د پلار نه مخکی بیعت وکړو بیا لاړو عمر فاروق ته ئے خبر ورکړو چه رسول الله ﷺ بیعت اخلی نو عمر فاروق راغلو نو عبد الله بن عمر هم ورسره بیا راغلو او دوباره ئے د رسول الله ﷺ سره بیعت وکړو۔ دوه ځله۔

روستو به بعض خلکو وویل چه ابن عمر د خپل پلار عمر رضی الله عنه نه مخکی ایمان راوړے نو عبد الله بن عمر به ورته ویل چه ما د عمر نه مخکی ایمان نهٔ دے راوړے بلکه ما پدے موقعه کی د هغه نه مخکی بیعت وکړو۔

دا هغه بیعت دے چه د الله تعالیٰ دومره خوښ شویدے چه په قرآن کریم کی ئے تول سورة الفتح ددے دپاره نازل کړیدے او ددے بیعت تذکره ئے کړیده:

﴿لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنْزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا﴾ (الفتح: ۱۸)

یقیناً الله تعالیٰ راضی شو د ایمان والو نه کله ئے چه بیعت کولو تا سره د وَنے لاندے نو الله تعالیٰ پیژندهٔ هغه خبره چه د دوی په زړونو کی وه (یعنی ایمان او دغه درد) نو الله راولیږه په دوی باندے آرام او دوی ته ئے فتح ورکړه)

دے بیعت ته بیعة الرضوان وائی ځکه چه الله تعالیٰ پدے سره د صحابه کرامو نه د خپلے رضا اعلان کړیدے۔ رضوان رضامنتیا ته وائی۔

رسول الله ﷺ وفرمایل: زهٔ د الله نه امید لرم چه کومو کسانو ما سره ددے وَنے لاندے بیعت کړیدے د دوی نه به یو کس هم اُور ته نهٔ داخلیږی۔ (دا تول جنتیان دی، څومره لوی منقبت دے چه دے خلکو ته د الله تعالیٰ د دین د خدمت د وجه نه ملاؤ شو)

الله تعالیٰ چه د چا نه د رضا اعلان وکړو نو هغه جنتی وی بیا ترے بیرته نهٔ ناراضه

کیږي. بلکه دا لا څه کوي چه ټول مهاجرین او انصار جنتیان دي لکه د نورو آیتونو د سورة توبه نه معلومیږي. آیت (۱۱۷)

نبي علیه السلام وفرمایل: دا ټول صحابه کرام جنتیان دي بسوی د یو سړي نه صاحب الجمل الاحمر (چه د سور اُوښ والا وو) چه د هغه جَد بن قَیس نوم وو دا منافق وو، کله چه رسول الله ﷺ بیعت اخستو نو ددهٔ نه اُوښ ورك شوے وو بیا ئے اُوښ پیدا کړو او دے د اُوښ نه شا ته شا ته کیدو چه بیعت نه ځان پټ کړي غلے ناست وو چه رسول الله ﷺ مے ونهٔ وینی نو رسول الله ﷺ ولیدو او دهٔ په حال پوهه شو چه دا ددے بیعت نه ځان پټوي او چا دهٔ ته وویل چه راشه محمد رسول الله ﷺ بیعت اخلي نو دهٔ وویل: چه زهٔ خپل اُوښ پیدا کړم دا ما ته د هغے بیعت نه غوره ښکاره کیږي چه دا ستاسو صاحب ئے اخلي. لکه د ډیرو کافرو دا خبري دي چه یو سیر وړه ګټل پکار دي جهادونه او د دین خبرے پریدئ، داسے انسان ته محروم انسان وائی،

بعض انسانان د خوراك په ځای کی د خوراك نه محروم او د ګلونو په باغ کی د خوشبوئی نه محروم او د هدایت په ځای کی د هدایت نه محروم او د علم په مرکز کی د علم نه محروم وي او بعض خلك داسے وي چه الله تعالیٰ ئے د لرے ځای او باندے او شاړ ځای نه ئے راکوز کړي او په خوشبویانو او هدایت او علم باندے ئے ورواړوي دا د الله تعالیٰ فضل وي. کله کله به د هدایت اسباب موجود وي او بنده ته به هدایت نهٔ کیږي دلته د الله نبي موجود دے او دے انسان بیعت ونکړو د هدایت نه محروم شو، غټ بد بخته وو.

بیا نبي علیه السلام ښے لاس راواخستو او په ګس لاس کی ئے ورداخل کړو او وے فرمایل: (هٰذِهِ عَنْ عُثْمَانَ) دا لاس د عثمان د طرفنه بیعت شو.

صحابه کرام فرمائي: (لَيَدُ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ الْيُسْرٰی لِعُثْمَانَ خَيْرٌ مِنْ أَيْمَانِنَا).

رسول الله ﷺ چه ګس لاس راواخستو او د عثمان دپاره ئے بیعت وکړو دا زمونږ د ښي لاسونو نه ډیر غوره وو ځکه چه مونږ د خپل ځان دپاره بیعت وکړو او د عثمان دپاره رسول الله ﷺ بیعت وکړو. او د رسول الله ﷺ لاس زمونږ د لاسونو نه ډیر غوره وو.

په بیعت الرضوان کی عثمان رضی الله عنه حاضر شوے نهٔ دے لیکن ډیره لویه مرتبه ئے ګټلے ده ځکه چه رسول الله ﷺ ددهٔ په ځای باندے د ځان سره بیعت کړیدے.

دا وجه ده سیدنا عبد الله بن عمر ته یو خارجي په عثمان باندې دا اعتراض ذکر کړو چه عثمان بیعت الرضوان ته نهٔ وو حاضر شوې نو ابن عمر ورته وفرمایل:
دا بیعت خو د عثمان دپاره شوې وو، (ددې نه مونږ ته دا فائده هم معلومه شوه چه جهاد د ډیرو مقاصدو دپاره کیږي کله اعلاء د کلمة الله (غلبه د اسلام) مقصد وي او کله د خپلو مسلمانانو بدله د کافر نه اخستل وي برابره ده که اسلام غالبه کیږي او که نهٔ. په هر جهاد کې دا ضروري نهٔ ده چه خامخا غلبه د اسلام به وي. د کافر شړل او وژل دین دې اګرکه اعلاء د کلمة الله اصلي مقصد دې).

د سهیل بن عمرو راتلل

لږ وخت چه تیر حقیقت ښکاره شو چه عثمان رضی الله عنه شهید شوې نهٔ وو بلکه صرف ئې بند کړې وو نو مشرکانو سهیل بن عمرو راولیږلو (چه دا په روسته زمانه کې مسلمان شوېدې او ډیر ښه مسلمان او هوښیار او عقلمند سړې وو)
دهٔ ته ئې وویل چه ته لاړ شه ته د رسول الله ﷺ سره د صلحې خبرې وکړه مګر دا تاکید ئې پرې وکړو چه هره خبره چه ورسره کوې خو دا خبره به ز مونږ د طرفنه ضرورلیکې چه سږکال به دا کسان عمره نهٔ کوي ځکه چه بیا به عرب مونږ پورې خبرې کوي چه محمد ترې په زوره مکې ته داخل شو. دا د جاهلیت غیرت ئې په زړه کې واچولو لکه قرآن کریم کې دغه تعبیر شوېدې.
هرکله چه سهیل بن عمرو رسول الله ﷺ ته رابنکاره شو نو رسول الله ﷺ وفرمایل: (هٰذَا سُهَيْلٌ قَدْ سَهُلَ لَكُمْ أَمْرُكُمْ).
دا سهیل بن عمرو دې او تاسو ته خبره آسانه شوه، (اوسه پورې خبره سخته وه صلحه نهٔ کیدله) مګر د سهیل په راتللو خبره آسانه شوه)
دا خبره رسول الله ﷺ د دوه وجو نه وکړه (۱) یو پدې وجه چه قریشو به سهیل بن عمرو په هغه ځای کې لیږلو چه کله به د مشرکینو آخري فیصله وه هغې ته مفاوضات وائي یعنی آخري فیصلې.
(۲) او دویم علماء وائي چه ددې نه دا هم معلومیږي چه رسول الله ﷺ د هغه د نوم

نـه نیك فالی ونیوله چه د سهیل په معنیٰ کې آسانی پرته ده او فال نیول سنت طریقه ده۔ او دا د نبوت د علومو نه یو علم دے او پدے کې ناشنا راز وی پدے کې د الله د طرفنه اشاره وی چه تا ته به الله تعالیٰ خیر درکوی۔

هـرکله چه سهیل راغلو رسول الله ﷺ ورته همغه مخکنۍ خبرے وکړے نو سهیل صلحے ته مائل شو چه صلح کوو، خو د الله نبی ورته وویل چه مونږ عمرے ته پریدئ، سهیـل ورتـه وویـل چـه سږکـال دا نشـی کیدے مونږ پورے به عرب خاندی، کال له به راځـئ، نو رسول الله ﷺ ورسره دا هم ومنله ځکه چه نبی علیه السلام د مخکی نه دا عزم کړے وو چه دا مشرکان ما کومے خبرے ته رابلی چه په هغے کې د حرم عزت راځی نو زهٔ به هغه منم نو د سهیل بن عمرو سره د صلحے خبرے شروع شوے۔

د سیدنا ابوجندل رضی الله عنه واقعه

لا صلح لیکلے شوے نهٔ وه چه پدے کې ابوجندل راغے چه دا د سهیل بن عمرو ځوی دے او په مکه کې ئے ایمان راوړے او سهیل بن عمرو د دواړو خپو نه تړلے وو۔

(يُرْسُفُ فِيْ قُيُوْدِهٖ) چه په خپلو زنځیرونو کې ئے توپونه وهل۔

نو هغه په توپونو توپونو حدیبیه پورے راغے او د مسلمانانو ترمینځ ئے ځان وېشتو، دے خبر شوے وو چه مسلمانان نزدے راغلی دی نو ورته راووتو چه ورسره ملګرے شی (مسلمانانو باندے دومره تکلیفونه تیر شویدی چه چا به اسلام ته هم نهٔ پریښودل) نو پدے کې سهیل بن عمرو وویل : (هٰذَا أَوَّلُ مَا أُقَاضِيْكَ عَلَيْهِ عَلٰى أَنْ تَرُدَّهٗ)

دا اولنـے هغـه شخص دے چه زهٔ پرے تا سره صلح کوم چه دا به تهٔ مونږ ته راواپس کوے، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل چه لا صلح خو لیکلے شوے نهٔ ده۔

نـو سهیـل وویـل چه دا نهٔ واپس کـوئ زهٔ صلح نهٔ کوم۔ بیا به جنګ کوو، نو نبی علیه السلام ورته سوال وکړو چه دا مونږ ته راکړه؟ نو هغه ورته وویل : (مَا أَنَا بِمُجِيْزِهٖ لَكَ)۔ زهٔ ئے هیڅکله نشم درکولے۔ بیا سهیل راولګیدو او ابوجندل ئے په مخ ووهلو او د مرئ نه ئے رانښکلو مشرکینو ته ئے واپس کولو نو ابوجندل مسلمانانو ته چغه کړه :

(يَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِيْنَ ! ءَ أُرَدُّ إِلَى الْمُشْرِكِيْنَ يَفْتِنُوْنِيْ فِيْ دِيْنِيْ ؟)

اې د مسلمانانو ډلې آیا زۀ به مشرکانو ته واپس کولې شم چه هغوی به ما ته په خپل دین کې عذابونه راکوي؟ نو پدې کې صحابه کرام پدې کار ډیر خفه شو او په غصه کې راغلل او جنګ ته تیار وو ځکه چه مخکې نه خفه دي او دا خفګان هم راغلو۔

نو رسول الله ﷺ د ابوجندل خوا ته ورغلو او ورته ئے وفرمایل:

(یَا أَبَا جَنْدَلٍ! اِصْبِرْ وَاحْتَسِبْ فَإِنَّ اللّٰهَ جَاعِلٌ لَكَ وَلِمَنْ مَعَكَ مِنَ الْمُسْتَضْعَفِينَ فَرَجًا وَمَخْرَجًا)

اې ابوجندله! صبر کوه او پدې مصیبت کې اجر ګڼړه ځکه چه الله تعالیٰ به ستا او د نورو کمزورو مسلمانانو دپاره چه تا سره دي لاره کولاوه کړي) نزدې زمانه کې به الله تعالیٰ فتح راولي، دا ټول ایماني او غیبي خبرې دي، پته نۀ لګي چه کله به فتح راځي لیکن هغوی ته وائي چه داسې به کیږي صبر وکړئ او هغوی پدې صبر کوي دیته یقین وائي۔

نو د مسلمانانو په خفګان باندې هغه واپس کړې شو۔ نو پدې کې عمر بن الخطاب رضی الله عنه توره راواخسته او د ابوجندل خوا ته ورغے او دا ئے ورته ووېل چه صبر کوه، او توره ئے د هغه خوا ته کوله دا ئے ورته ووېل چه:

(إِنَّمَا هُمْ مُشْرِكُونَ وَإِنَّمَا دَمُ أَحَدِهِمْ دَمُ كَلْبٍ)

دا خلك مشرکان دي او د دوی د یوتن وینه داسې ده لکه د سپي وینه، عمر فرمائي: ما اشاره ورکوله چه دې به زما نه دا توره واخلي او خپل پلار به قتل کړي (په مونږ به ذمه واري هم رانشي او مشرکان به هم څه نۀ وائي ځکه چه خپل پلار ئے وژلے دے) لیکن: (فَضَنَّ الرَّجُلُ بِأَبِيهِ)

سړي په خپل پلار باندې بخل وکړو او قتل ئے نکړو۔

(کیدې شي چه د ابوجندل به دې خبرې ته فکر شوې نۀ وي ځکه هغه په خپل غم کې وو)

سیدنا سهل بن حنیف رضي الله عنه د جنګ صفین په موقعه کې صحابه کرام او تابعینو ته وفرمایل: يَا أَيُّهَا النَّاسُ! اِتَّهِمُوا رَأْيَكُمْ عَلَى دِينِكُمْ لَقَدْ رَأَيْتُنِي يَوْمَ أَبِي جَنْدَلٍ وَلَوْ أَسْتَطِيعُ أَنْ أَرُدَّ أَمْرَ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ لَرَدَدْتُهُ) (صحیح البخاری :۷۳۰۸)

اې خلکو خپله رایه د دین په مقابله کې تهمتي وګرځوئ او رای له د دین په مقابله

کی اعتبار مهٔ ورکوئ ځکه چه ما خپل ځان د ابوجندل په ورځ باندے ولیدو چه کله هغه رسول الله ﷺ مشرکانو ته واپس کولو او مونږ ډیر زیات خفه وو که زمونږ واك وے مونږ نهٔ واپس کولو لیکن د رسول الله ﷺ حکم وو چه واپس ئے کړئ نو که مونږ طاقت لرلے چه د رسول الله ﷺ امر رد کړو نو رد کړے به مو وے لیکن د رسول الله ﷺ خبره منل ضروری وو۔ مقصد دا چه یو طرفته زمونږ رایه وه او بل طرفته د الله د نبی خبره وه نو مونږ خپله رایه پریښوده او د رسول الله ﷺ خبره مو واخسته نو دغه شان تاسو هم د نبی ﷺ د خبرو په مقابله کی خپله رایه مه اخلئ) غرض ئے دا وو چه په جنګ صفین کی شرکت نه ځان وساتئ هسے نهٔ چه د مسلمان وینه درنه تویه شی۔

د صلح شرطونه

پدے کی ئے ابوجندل واپس کړو او مکے ته ئے بوتلو او سهیل د صلحے خبرے شروع کړے او شرطونه ئے ولیکل:

(۱) اولنے شرط دا دے چه سږکال به عمره نهٔ کوئ ځکه دا زمونږ د غیرت خلاف ده او کال له به عمرے له راځئ او په مکه کی به صرف درے ورځے پاتے کیږئ او وسله به ځان سره نهٔ راوړئ مګر توری او هغه به هم په تیکو کی دننه وی۔

(۲) دویم دا چه دواړو طرفونو ته به لس کاله صلح وی جنګ به نهٔ وی چه په هغے کی به خلك په امن کی وی او یو بل ته به هیڅ تکلیف نهٔ ورکوی۔

(۳) دریم دا چه زمونږ نه چه څوك مسلمان شو او بغیر د اذن د ولی (مالك) نه دروتښتیدو نو هغه به مونږ ته بیرته راواپس کوئ او که تاسو نه څوك کافر شو او مونږ ته راغلو نو مونږ به ئے نهٔ در واپس کوو۔ دا خبره په ظاهره کی ډیره سخته خبره وه لیکن په حقیقت کی ئے دومره زور نهٔ وو لکه روستو معلومیږی۔

(٤) که څوك غواړی چه د محمد (ﷺ) سره په عقد او عهد کی داخلیږی نو داخلیدلے شی او که څوك غواړی چه د قریشو په عقد کی داخلیږی نو داخلیدلے شی او دا به ددغه قبیلے نه یو جزء ګڼلے شی نو چا چه په دغه شخص ظلم وکړو دا به په ټوله قبیله ظلم حسابیږی۔ نو خزاعه قبیله د نبی علیه السلام سره پدے صلح کی

داخل شو او بنو بکر د قریشو سره داخل شو.

ورسره دا خبره هم وشوه که چرته مکے والو په مدینے والو حمله وکړه نو صلحه به ماتوی او که مدینے والو په مکے والو حمله وکړه نو صلح به ماتوی او د هغوی وینه به مباح وی دارنګه د دوی دا حلفاء چه د دوی سره پدے عهد کی داخل شو که د دوی وینه چا توی کړه نو دا به هم د هغه طرفنه حمله وی. مثلاً که بنو بکرو په خزاعه حمله وکړه دا به داسے وی لکه قریشو چه په محمد رسول الله ﷺ باندے حمله کړی وی. او ددے برعکس، پدے کی هم ډیره عجیبه فائده وه چه دا فائده روستو راښکاره کیږی چه دا بیا د فتح د مکے دپاره مقدمه وګرځیدله.

نبی علیه السلام ورسره دا ټولے خبرے ومنلے پدے باندے صحابه کرام ډیر سخت خفه وو لیکن نبی علیه السلام ډیر لرے نظر لګیدو پدے کی فائده وه، همیشه د دین په کارونو کی په آرام او وقار کی خیر وی او په جلتئ کی فائده نهٔ وی، د هغے نتیجے خرابی راوځی.

پدے کی ترے الله تعالیٰ زنانه هیرے کړے بلکه د سرې الفاظ ئے ولیکل پدے کی به هم د الله حکمت وو لکه روستو راځی.

دا خبرے په خوله باندے وشوے بیا نبی علیه السلام علی بن ابی طالب رضی الله عنه راوغوښتو چه دا خبرے ولیکی نو قلم او کاغذ راوړے شو. نو داسے ولیکل شو :

(بسم الله الرحمن الرحیم). نو سهیل بن عمرو ووېل : مونږ رحمن نهٔ پیژنو مګر په یمامه کی یو رحمان دے (مسیلمة الکذاب) دا نوم مونږ د الله دپاره نهٔ پیژنو. داسے ولیکه : بِاسْمِكَ اللّٰهُمَّ . پدے وجه الله تعالیٰ په قرآن کریم کی په ډیرو ځایونو کی په مشرکانو رد کړیدے چه دوی زما دپاره د رحمن نوم نهٔ منی. او په سورة مریم کی ئے ورته پنځلس کرته ذکر کړیدے.

نبی علیه السلام ورته ووېل : چه بِاسْمِكَ اللّٰهُمَّ به ولیکو، علی رضی الله عنه ته ئے ووېل: بسم الله الرحمن الرحیم وران کړه او دا بِاسْمِكَ اللّٰهُمَّ ولیکه هغه نهٔ ورانولو، نبی علیه السلام وفرمایل : ما ته ئے راوښایه چه زهٔ ئے وران کړم.

(پداسے موقعه کی د الله په نوم باندے خلك ځان وژنی لکه صحابه کرام هم غصه وو لیکن رسول الله ﷺ جلتی نهٔ کوله او ددے خبرے نه روستو نور ډیر خیر راتللو د

نبی علیه السلام هغې ته فکر وو، په وړو خبرو جګړه نۀ ده پکار، د کاغذ نه دې د الله نوم وران شي مګر د نبی علیه السلام او د صحابه کرامو د زړونو نه ئې هیڅوك نشي ورانولې)

بیا نبی علیه السلام وفرمایل : ولیکه : (هٰذَا مَا صَالَحَ عَلَیْهِ مُحَمَّدٌ رَسُوْلُ اللّٰهِ)

(دا هغه خبره ده چه محمد رسول الله پدې سره د سهیل او قریشو سره پرې صلح کړیده)

نو پدې کې سهیل اعتراض وکړو وې وئیل :

(لَوْ عَلِمْنَا اَنَّكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ مَا صَدَدْنَاكَ عَنِ الْبَیْتِ وَلَا قَاتَلْنَاكَ وَلٰکِنِ اکْتُبْ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ) که مونږ ته معلومه وې چه ته د الله رسول ئې مونږ به تۀ د بیت الله نه نۀ منع کولې او نۀ به مو درسره جنګونه کولې لیکن داسې ولیکه (محمد بن عبد الله).

رسول الله ﷺ وفرمایل : (اِنِّیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ وَاِنْ کَذَّبْتُمُوْنِیْ)

زۀ د الله رسول یم اګر که تاسو ما نۀ منئ)

او بیا ئې علی بن ابی طالب ته حکم وکړو چه (محمد بن عبد الله) ولیکی او (محمد رسول الله) لفظ وران کړی نو علی بن ابی طالب رضی الله عنه انکار وکړو وې وئیل : (وَاللّٰهِ لَا اَمْحُوْكَ اَبَدًا) قسم په الله که زۀ تا وران کړم. دې ته وائی الادب فوق الامر. د نبی علیه السلام ادب ئې د هغه په امر باندې مخکې کړو.

نبی علیه السلام وفرمایل: ما ته ئې وښایه چه زۀ ئې وران کړم نو هغه په خپل لاس سره وران کړو او محمد بن عبد الله ئې ولیکو.

مشرکینو د محمد رسول الله نوم په دغه وړوکی کاغذ کې نۀ پرېښودو نو الله تعالیٰ په خپل عظیم کتاب کې چه تر قیامته پورې لوستلې کیږی داسې آیت راولیږلو :

﴿ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ وَالَّذِیْنَ مَعَهٗ اَشِدَّآءُ عَلَی الْکُفَّارِ ﴾ (سورة الفتح:۲۹)

پدې کې الله تعالیٰ زنانه راوستې هغوی ایمان راوړو، د یو لوی مشرك عُقْبَه بن ابی مُعیط چه په بدر کې مردار شوې وو لور کلثوم بنت عقبه ایمان راوړو او هجرت ئې وکړو او ددې سره نورې زنانه هم راغلې نو مشرکینو جواب راولیږلو چه د صلحې مطابق دا زنانه مونږ ته راواپس کړئ نو رسول الله ﷺ انکار وکړو او دا ئې وفرمایل چه دا په صلح کې نۀ دی لیکلې شوی ځکه چه په صلح کې د سړو تذکره شوې وه نۀ د

ښځو، الله تعالیٰ ترې د ښځو تذکره هیره کړې وه. او الله تعالیٰ د سورة ممتحنه دا آیتونه نازل کړل :

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا جَاءَكُمُ الْمُؤْمِنَاتُ مُهَاجِرَاتٍ فَامْتَحِنُوهُنَّ اللَّهُ أَعْلَمُ بِإِيمَانِهِنَّ فَإِنْ عَلِمْتُمُوهُنَّ مُؤْمِنَاتٍ فَلَا تَرْجِعُوهُنَّ إِلَى الْكُفَّارِ﴾ الى آخر الآيات).

چه کله تاسو ته مومنانې زنانه هجرت وکړي نو د دوی نه امتحان واخلئ چه واقعی ایمان ئې راوړیدې او که هسې راتښتیدلی دی نو که ایمان ئې راوړې وی نو بیا ئې کافرانو ته مهٔ واپس کوئ ځکه چه هغوی ئې بیرته په زوره خپل دین ته واپس کوی او د کافرانو نکاح هم ددې زنانو سره ماته شویده نو دوی کافرانو لره حلالې نهٔ دی.

او هرچه سړې دې نو هغه صبر کولې شي او د هغه سره د نکاح متعلق څه خبره هم نهٔ وی،

نو نبی علیه السلام د دوی نه په شپږو خبرو بیعت اخستو او دا به ئې ورته وئیل چه داکارونه به نهٔ کوئ

(۱) شرك به د الله تعالیٰ سره نهٔ کوئ (۲) غلا به نهٔ کوئ (۳) زنا به نهٔ کوئ (٤) اولاد به نهٔ وژنئ (٥) بهتان به نهٔ تړئ (٦) او په جائز کار کی به د نبی علیه السلام مخالفت نهٔ کوئ. لکه څنګه چه دا خبرې په آیت د بیعت کی ذکر دی.

نو که یوې زنانه به دا خبرې ومنلې نو دا به مومنه حسابیدله او که پدې باندې به چا اقرار نهٔ کولو نو هغه به مؤمنه نهٔ حسابیدله،

پدې آیت کریمه کی دا هم راغلې وو ﴿ وَلَا تُمْسِكُوا بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ﴾ (ممتحنة: ١٠)

که چرته ستاسو په نکاح کی کافرانې زنانه وی نو هغه ځان سره مهٔ ساتئ نو د عمر رضی الله عنه په مکه کی دوه کافرې زنانه په نکاح کی وې قریبه بنت ابی امیه بن المغیره (د ام سلمه رضی الله عنها خور وه) او ام کلثوم بنت جرول خزاعی نو هغه دواړه ئې طلاقې کړې اوله معاویه بن ابی سفیان او دویمه صفوان بن امیه په نکاح واخسته چه دا دواړه په دغه زمانه کی مشرکان وو.

نو ډیرې زنانه طلاقې کړې شوې او په مکه کی مشرکانو په نکاح واخستې. عیاض بن غنم الفهری رضی الله عنه د ابوسفیان لور ام الحکم بنت ابی سفیان طلاقه کړه نو بیا عبد الله بن عثمان الثقفی په نکاح واخسته چه دا مشرك وو.

(امتاع الاسماع ۱/۳۰٤)

او دا حکم هم وشو چه کومې زنانه تاسو ته مومنې راغلې او دوی ځان سره د مشرکانو پیسې راوړې وی نو هغوی ته دا پیسې ورواپس کړئ زمونږ پیسو ته طمع نشته بلکه مونږ د خپلو مومنو ښځو سره کار دے۔

او الله تعالیٰ دا حکم هم وکړو چه دے مومنو مهاجرو زنانو سره تاسو نکاح وکړئ دے دپاره چه د دوی د اطمینان ځای پیدا شی ځکه هلته ئے مور او پلار او خپل خپلوان او خاوندان پریښودل نو دلته ورله دلجوئی پکار ده۔

واپسی او د احرام نه وتل

هرکله چه صلح ولیکلے شوه نو رسول الله ﷺ ملګرو ته ووېل چه واپس کیږو او د احرام نه ځان وباسئ او د هغے طریقه دا وه چه نبی علیه السلام امر وکړو چه اول هدیه ذبح کړئ بیا سرونه وخریوئ پدے مقام کی دا امر د وجوب دپاره وو، نو د الله د نبی په دے خبره یو تن هم پا نهٔ څیدو هغوی دے امر ته تیار نشو،

یو خو هغوی انتهائی غصه وو چه مونږ خو ددے کافرانو سره جهاد کوو۔

او بل ئے دا انتظار کولو چه رسول الله ﷺ به پدے امر کی تبدیلی پیدا کړی نافرمانی ئے غرض نهٔ وه۔ نبی علیه السلام پدے کار سخت خفه شو چه څوك امر نهٔ منی نو نبی علیه السلام لاړو خپلے خیمے ته ننوتو

(نبی علیه السلام په دغه مقام د حدیبیه کی خیمه لګولے وه او کله چه به ئے مونځ کولو نو د حدیبیی سر ته به تللو دے دپاره چه مونځ ئے په حرم کی راشی ځکه چه په تول حرم کی یو مونځ په یو لاکهٔ دے) نبی علیه السلام خیمه کی غمجن ناست وو ام سلمه رضی الله عنها تپوس وکړو چه اے د الله رسوله ! دا خفګان ولے دے ؟

رسول الله ﷺ وفرمایل : ما ملګرو ته حکم وکړو لیکن هغوی دے امر ته نهٔ تیاربږی، نو د نبی علیه السلام بی بیانو تهٔ الله تعالیٰ ډیر هوښیارتیا ورکړے وه هغے یوه مشوره ورکړه چه اے د الله رسوله ! تهٔ بهر وځه او خپل حالق (سر خریونکے نائی) راوغواړه هغه به ستا سر وخریوی نو صحابه کرام به ستا عمل وینی نو دوی به خامخا

ستا تابعداری کوی نو رسول الله ﷺ دا مشوره ومنله، بهر ووتو هیچا سره ئے خبرے ونکړے قربانئ ئے وکړه او حالق ئے راطلب کړو چه زما سر وخریوه نو تول مسلمانان پاځیدل او قربانیانی ئے وکړے او سرونه خرئیل ئے شروع کړل او دومره خفه وو چه نزدے وه چه په سر خرئیلو کی ئے د یو بل سرونه زخمی کړی وے او دا خفګان د دوی د الله دپاره وو چه مونږ ولے داسے په دین کی کمزوری اختیار کړه ځکه دوی ډیر زیات بهادران وو۔ او رسول الله ﷺ ته خو د الله وحی کیده هغه د الله د وحی تابع وو نو ځکه ئے داسے کمزورتیا اختیاروله۔

بعض مسلمانان ولیدے شو چه هغوی سرونه نهٔ خرئیل بلکه سرونه ئے وړوکی کول۔ نو پدے ځای کی رسول الله ﷺ ترغیب ورکړو: (رَحِمَ اللّٰهُ الْمُحَلِّقِيْنَ) الله دے په سر خریونکو رحم وکړی، صحابه کرامو وفرمایل: (وَالْمُقَصِّرِيْنَ) داسے هم ووایه چه الله دے په سر لنډونکو هم رحم وکړی نبی علیه السلام وفرمایل: الله دے په سر خریونکو رحم وکړی بیا صحابه کرامو وفرمایل: (والمقصرین)۔ نبی علیه السلام دریم ځل هم وفرمایل: الله دے په سر خریونکو رحم وکړی بیا صحابه کرامو والمقصرین وویل نبی علیه السلام وفرمایل: الله دے په لنډونکو هم رحم وکړی۔ (بخاری ومسلم)

نو په حج او عمره کی سر خرېل درے درجے د لنډولو نه بهتر دی۔

هرکله چه صحابه کرام د احرام نه ووتل او بیرته مدینے ته واپس کیدل نو ډیر زیات خفګان او غصه کی وو او ډیر زیات پکی سیدنا عمر فاروق رضی الله عنه وو ځکه چه دے د الله تعالیٰ په حکم کی ډیر زیات سخت وو هغه راغلو رسول الله ﷺ ته ئے عرض وکړو: اے د الله رسوله! آیا تا مونږ ته نهٔ وو وئیلی چه عمره به کوو او طواف د بیت الله به کوو؟ نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: آیا ما تا ته دا وئیلی وو چه سږ کال به ئے کوو؟

هغه وویل: نهٔ، نو رسول الله ﷺ وفرمایل: دا به کوو، سږکال که نهٔ وی کال له به ئے وکړو (ددے نه دا فائده معلومه شوه چه نبی علیه السلام په یو شی کی تعیین نهٔ وی کړے نو سړے د ځان نه تعیین نشی کولے ځکه کیدے شی چه دغه وعده روستو وی، لکه د علاماتو د قیامت په باره کی هم داسے قاعده ده)۔

بیا ئے رسول الله ﷺ ته وویل: (أَلَسْنَا عَلٰی حَقٍّ وَهُمْ عَلٰی بَاطِلٍ؟)

آیا مونږ په حق باندے نهٔ یو او دوی په باطل باندے دی؟، نبی علیه السلام وفرمایل:

ولے نۀ، بیا ئے وویل : (أَلَيْسَ قَتْلَانَا فِي الْجَنَّةِ وَقَتْلَاهُمْ فِي النَّارِ؟)

آیا زمونږ مړی په جنت کی او د هغوی مړی په اُور کی نۀ دی؟ نبی علیه السلام وفرمایل: ولے نۀ، نو وے وئیل :

فَلِمَ نُعْطِي الدَّنِيَّةَ فِي دِيْنِنَا وَنَرْجِعُ وَلَمَّا يَحْكُمِ اللّٰهُ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ؟)

نو ولے مونږ په دین کی کمزورتیا او ذلت ورکوو (اوځان ذلیله کوو) او واپس کیږو حال دا چه الله تعالیٰ لا زمونږ او د دوی ترمینځ فیصله نۀ ده کړے (یعنی جنګ ورسره پکار دے چه فیصله وشی)

نو نبی علیه السلام عمر فاروق ته اجمالی جواب ورکړو وے فرمایل:

(إِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ، وَلَسْتُ أَعْصِيْهِ، وَهُوَ نَاصِرِيْ وَلَنْ يُّضَيِّعَنِيْ اَبَدًا)

زۀ د الله رسول یم، زۀ د هغه خلاف نۀ کوم، هغه به زما مدد کوی او هغه به هیچرے نۀ ضائع کوی)

عمر فاروق د غصے او خفګان د وجه نه پدے جواب کی سوچ ونکړو نو لاړو او سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته ئے دا شکایت وړاندے کړو او همدغه شان خبره ئے هغه ته هم وکړه چه آیا د الله رسول نۀ وو وئیلی چه عمره او طواف به کوو؟ نو ابوبکر صدیق رضی الله عنه همغه شان جواب وکړو کوم چه رسول الله ﷺ کړے وو دیته توارد الخاطر وائی چه د دوه دوستانو د زړه نه یو شان خبره راوځی۔

دا ئے ورته وویل : دا د الله رسول دے (وَهُوَ نَاصِرُهُ) هغه به ئے مدد کوی، آخره کی ئے ورسره دا خبره زیاته کړه: (فَاسْتَمْسِكْ بِغَرْزِهِ حَتّٰى تَمُوْتَ فَوَاللّٰهِ اِنَّهُ لَعَلَى الْحَقِّ)

ددۀ رکاب تر مرګه پورے ونیسه (ددۀ تابعداری کوه ددۀ د خپو پسے ورځه هغه چه څه کوی هغه کوه) قسم په الله چه دا خامخا په حق باندے دے۔

سیدنا عمر فاروق رضی الله عنه فرمائی : کله چه زما غصه سړۀ شوه نو ما سوچ وکړو چه دا خو تا چرته بی ادبی نۀ وی کړی، الله او د هغه رسول بنه پو هیږی او ما داسے سختی وکړه نو ددے وجه نه (فَعَمِلْتُ لِذٰلِكَ أَعْمَالًا) ما ددے خبرے د وجه نه د الله دپاره ډیر نیک عملونه وکړل چه الله تعالیٰ زما دا ګناه معاف کړی، ما به روژے او نفلی مونځونه او صدقے ورکولے او غلامان مے آزاد کړل تردے چه ما ته پته ولګیده چه الله به زما ګناه معاف کړی وی او ما دا خبرے د الله دپاره کړیدی۔

دا ددهٔ ډېره تقویٰ وه ورنه دهٔ پدے خبرو کی یوه د ګناه خبره نهٔ ده کړے۔
کله چه روان شو په لاره کی سورة الفتح نازل شو الله تعالیٰ وفرمایل :
﴿ اِنَّا فَتَحۡنَا لَكَ فَتۡحًا مُّبِيۡنًا...... ﴾ (مونږ تا ته ښکاره فتح درکړه)
نو رسول الله ﷺ عمر راوغوښتو او دا سورة ئے پرے ولوستو هغه وویل: اے د الله رسوله (أَفَتۡحٌ هُوَ ؟) آیا دا ګنړے فتح وه ؟ (حال دا چه دا خو زمونږ ذلت وو)
رسول الله ﷺ وفرمایل : قسم په الله دا فتح وه۔
دا څنګه فتح وه حال دا چه ظاهره کی دا فتح نهٔ ښکاره کیده ؟ وجه دا وه چه پدے کی د اسلام د غلبے او د دعوت د لارے د کولاویدو او د مسلمانانو او کفارو ترمینځ د میل جول پیدا کیدو او ددے په نتیجه کی ډیر مشرکان مسلمانیدل وو۔

د کمزورو مسلمانانو دپاره لاره کولاویدل او قصه د ابوبصیر رضی الله عنه

پدے کی الله تعالیٰ هغه مومنانو دپاره هم یو مخرج پیدا کړو کومو ته چه نبی علیه السلام تسلی ورکړه چه تاسو صبر کوئ الله تعالیٰ به ستاسو دپاره یو مخرج او لاره وګرځوی۔
نو کله چه صحابه کرام مدینے ته ورسیدل نو پدے کی یو تن په مکه کی مسلمان شو د هغه ابوبصیر نوم وو چه د ثقیف قبیلے نه وو او د قریشو حلیف وو (خپل نوم ئے عُتۡبَه بن اَسِیۡد وو) نو د وعدے مطابق (چه لیکل شوی وو چه زمونږ نه څوك مسلمان شی او تاسو ته درشی هغه به مونږ ته بیرته راکوئ)
نو قریشو او اخنس بن شریق ثقفی ددهٔ پسے دوه کسان راولیږل چه تاسو لاړ شئ او دغه سړے راواپس کړئ (مشرکان د مسلمانانو وجود نهٔ برداشت کوی)
نو دے دواړو کسانو وویل : اے محمده ! دا مونږ ته راکړه د وجه د هغه وعدے نه چه تا مونږ سره کړیده۔ نو نبی علیه السلام مجبوراً ابوبصیر رضی الله عنه دے دواړو مشرکانو سره ملګرے کړو (ځکه چه نبی علیه السلام به د کافرو سره هم د وعدے خلاف او خیانت نهٔ کولو) نبی علیه السلام ابوبصیر ته تسلی ورکړه چه مونږ دے خلکو سره لوظ کړیدے کوم چه تا ته معلوم دے او زمونږ په دین کی غدر جائز نهٔ دے

او الله به ستا دپاره او ستا د کمزورو ملګرو دپاره فراخي او لاره پیدا کړي نو ته خپل قوم ته واپس شه. هغه ووېل: یارسول الله! ته ما مشرکانو ته واپس کوې چه هغوی ما ته په دین کې عذابونه راکوي او په فتنه کې مې اچوي؟ نبي علیه السلام ورته وفرمایل: اې ابوبصیره ته اوس لاړ شه الله تعالیٰ به ستا او ستا د ملګرو دپاره زر تر زره یوه لاره او فراخي پیدا کړي. (الروض الانف ٤/٧٤)

دې دواړو دا ځان سره روان کړو کله چه دوی ذو الحُلیفې علاقې ته ورسیدل (چه دا د مدینې والو میقات دې او د مدینې نه نهه کیلو میټره وړاندې دې (المعالم الاثیرة)

هلته ئې دمه وکړه او کجورې ئې راوبستلې هغه ئې خوړلې نو پدې کې یو مشرك خپله توره راوېستله او د هغې صفت ئې کولو چه زما دا توره ډیره مزیداره ده او پدې باندې ما ډیر خلك وهلي دي (لَقَدْ جَرَّبْتُ بِهِ ثَمَّ وَجَرَّبْتُ)

ما پدې باندې ډیرې تجربې کړیدي نو ابوبصیر رضی الله عنه ورته ووېل ما ته ئې راوښایه چه وګورم چه واقعي داسې ده او که نه، کله ئې چه ابوبصیر ته ورکړه نو ابو بصیر پرې توره اُوچته کړه او همدغه مشرك ئې پرې ووهلو تردې چه سر ئې ترې ګوزار کړو او یخ ئې کړو. او بل مشرك ویریدو نو منډه ئې کړه مدینې ته راغلو (ځکه که صحراء ته منډه کړي ابوبصیر وربسې ورځي دا هم وژني نو مدینې ته راغلو چه د رسول الله ﷺ سره مونږ صلح کړیده نو د هغه په وجه ئې ځان خلاصولو) مدینې ته راغلو مسجد نبوی ته داخل شو، رسول الله ﷺ چه کله ولیدو نو وې فرمایل:

(لَقَدْ رَأَىٰ هٰذَا ذُعْرًا) دې سړي یره لیدلې ده، څه چل شویدې، هغه چه رانږدې تو دا ئې ووېل: (قُتِلَ وَاللّٰهِ صَاحِبِيْ وَإِنِّيْ لَمَقْتُوْلٌ)

ملګرې ئې راله قتل کړو قسم په الله ما هم وژني.

پدې کې ابوبصیر رضی الله عنه هم واپس راغلو او مسجد نبوي ته رانږدې نو نو نبي علیه السلام ته ئې ووېل: (يَا نَبِيَّ اللّٰهِ! قَدْ أَوْفَى اللّٰهُ ذِمَّتَكَ وَقَدْ رَدَدْتَنِيْ إِلَيْهِمْ ثُمَّ أَنْجَانِي اللّٰهُ مِنْهُمْ) اې د الله نبي! یقیناً الله ستا ذمه او وعده پوره کړه تا زه د دوی سره ولیږلم لیکن ما ته الله تعالیٰ د دوی نه نجات راکړو.

نو نبي علیه السلام وفرمایل: (وَيْلُ أُمِّهِ، مِسْعَرُ حَرْبٍ لَوْ كَانَ لَهُ أَحَدٌ).

ددهٔ په مور افسوس دې دا خو د جنګ ورلړونې (لرګې) دې ارمان چه ده لره څوك

ملګرے وے) یعنی دا خو جنګی دے که ددهٔ سره نور کسان ملګری شو سم جنګونه به راتازه کړی او حال دا چه مونږ خو صلح کړیده چه جنګ ونشی۔

هر کله چه رسول الله ﷺ دا خبره وکړه نو ابو بصیر رضی الله عنه په ځان پوهه شو چه بیرته مے واپس کوی نو د رسول الله ﷺ د اجازے نه بغیر ئے بل ځای ته هجرت وکړو لاړو عِیص علاقے ته چه دیته سِیف البحر وائی د دریاب غاړه ده داسے علاقه ده چه هلته غرونه او غارونه او باغونه ډیر دی ځنګل دے د مجاهدینو دپاره داسے ځایونه ډیر فائده مند وی، ددے وجه نه د کافرانو طریقه دا ده چه داسے ځایونو ته سرکونه بوځی دے دپاره چه مجاهدینو ته په جلتئ سره ورسیږی۔

(د صحابه کرامو په ایمان باندے انسان تعجب وکړی چه څومره قوی ایمان والا خلك وو د الله رسول چه د امت مشر دے هغه ئے کافر ته ورکوی او ددهٔ ایمان نهٔ خرابیږی، ضد کی نهٔ راځی چه زهٔ ستاسو یو مسلمان یم، تاسو ته راغلے یم او تاسو ما کافرانو ته ورکوئ او لاړ شی بیرته د کافرو ملګرے شی نهٔ بلکه نور هم په دین باندے مضبوطیږی دیته بصیرت او هدایت وائی۔ رشتیا چه ابوبصیر وو د بصیرت خاوند وو که د چا زړه ته حقیقی ایمان نهٔ وی ننوتے دا کار نشی کولے، مونږ دے خپل ځان ته وګورو که تا ته چرته د یو مسلمان د لاسه تکلیف ورسیدو نو بیا به د اسلام او د مسلمانانو پسے ردے بدے وائے او بیا ورته اهل حدیث توب هم پریدی، حال دا چه د یو مسلمان د سختے خبرے په وجه په قرآن او حدیث باندے داغ نهٔ لګی، د یو تن په خرابوالی سره اسلام نهٔ خرابیږی)

نو ابوبصیر سِیفُ البحر علاقے ته لاړو، دلته په مکه کی دا خبره خوره شوه چه ابو بصیر د نبی علیه السلام نه لاړو هجرت ئے وکړو او مشرکانو څه ونهٔ ویل ځکه چه نبی علیه السلام خو خپله وعده پوره کړه چه ابوبصیر ئے د دوی د ملګرو سره واپس کړو نو په مکه کی نورو قیدی مسلمانانو ته الله تعالیٰ یوه لاره کولاوه کړه دوی یو یو په پټه باندے ځان د قید نه آزادوی او د سیدنا ابو بصیر خوا ته هجرت کوی،

(بعض روایاتونه معلومیږی چه عمر فاروق د مکے مسلمانانو ته په پټه خط ولیکلو چه رسول الله ﷺ د ابوبصیر په باره کی داسے وئیلی دی چه دا جنګ راتازه کونکے دے که ددهٔ سره سړی پیدا شی نو پدے کی اشاره ده چه تاسو ورسره ملګری شئ او

ځای ئے هم ورته وخودو چه هغه ساحل البحر ته تلے دے نو مسلمانان به په پټه یو یو ورتلل) (امتاع الاسماع ۱/۲/۳۰۲)

ابوجندل بن سهیل هم ورغلو پدے کی ډیر مسلمانان هلته جمع شو تقریباً اویا (۷۰) کسان شو۔

نو پدے کی د مکے مشرکانو پدے صلحے سره ډیره فائده حاصله کړے وه ځکه چه په امن وامان به گرځیدل او تجارتونه ئے هم شام ته کولاؤ کول، پدے کی د مشرکانو کومه قافله چه به په دے لاره تیریدله نو دا مجاهدین به ورپسے ورتلل او مشرکین به ئے وژل او قافله به ئے لوټ کوله تردے چه هغه قافلے چه تجارت له به نهٔ تلے او د یو ځای نه به ئے غله اخستله کجورے وغیره نو هغهِ به ئے هم نیولے نو مشرکانو ته ئے سمه سزا ورکړه نو مشرکان د دوی نه ډیر تنگ شو۔

نو د سیرت په کتابونو کی راځی چه دوی یوه مجموعه کسان تیار کړل د دغه صحابهٔ کرامو د مقابلے دپاره، دوی ډیر کسان وو او د ابوبصیر جماعت کم وو نو هغوی تره په غارونو او صحراوونو کی پټ شول، د مشرکانو پرے هیڅ وس ونشو، دوی ته راونهٔ وتل ځکه ختمیدل، پدے کی وخت تیریدو نو د ابوبصیر سره درے سوه (۳۰۰) کسان جمع شو (الروض الانف ٤/٦٤)

نو پدے کی مشرکانو سړی راولیږل مدینے ته چه تا سره مونږ کوم لوظ کړے چه تهٔ به مونږ ته مسلمانان سړی رالیږے دا شرط دے پکی زمونږ د طرفنه مات وی، هغوی دپاره دے هم امن وی خو دغه کسان مدینے ته راوغواړه چه زمونږ خطره ختمهٔ شی او رسول الله ﷺ ته ئے په الله او خپلولئ سره قسم ورکولو چه خامخا دا کار وکړه۔

نو رسول الله ﷺ د دوی پسے جواب ولیږلو او خط ئے ورکړو چه تاسو راشئ تاسو ته امن ملاؤ شو، مرگ انسان نهٔ پریدی هرکله چه دا خط ابوبصیر ته ورسیدو نو هغه د مرگ په حالت کی وو هغه ته دا خط ورکړے شو او هغه لوستلو او پدے باندے ئے خوشحالی کوله تردے چه په همدے حالت کی وفات شو چه خط ئے په سینهٔ باندے پروت وو، ملگرو د هغه د قبر په خوا کی مسجد جوړ کړو۔ (الروض الانف: ٤/٦٠)

داسے قبر جوړول د اسلام خلاف کار دے لیکن دے ملگرو ته معلومات نهٔ وو بیا هم دا قبر په مسجد کی دننه نهٔ وو بلکه بهر وو مگر د قبر په خوا کی مسجد جوړول حرام

دی، پدے سره د مشرکانو سره مشابهت راځی، یهود او نصاراؤ باندے الله تعالیٰ پدے وجه لعنت کړے وو چه دوی به د نیکانو او انبیاء علیهم السلام د قبرونو په خوا کی مسجدونه جوړول۔ مسجد او قبر په اسلام کی نهٔ جمع کیږی، ددے وجه نه په هغه مسجد مونځ نهٔ کیږی چه قبر د مسجد په چاردیوالیٔ کی وی اګرکه شاته ولے نهٔ وی۔

پدے طریقه د ابوبصیر ملګری رسول الله ﷺ ته مدینے ته راواپس شول او کافران الله تعالیٰ ذلیله کړل۔

د صلح حدیبیه فوائد

۱- ددے صلح نه مخکی د نبوت نولس کساله تیر شویدی پدے کی صرف درے زره مسلمانان د رسول الله ﷺ په دعوت باندے پیدا شوی وو او ددے صلحے نه روستو په لږه موده کی په دوه کالو کی دننه (چه دوه کاله روستو فتح د مکه وشوه) لس زره صحابه کرام پیدا شو او د اسلام مقصد هم دا وو چه خلك په اسلام کی داخل شی، د الله بندګی په دنیا کی عامه شی، هغه ته سجدے ولګی، د توحید د آواز په هر ځای کی اُوچت شی جنګ اصلی مقصد نهٔ دے بلکه جنګ د رکاوټ د ختمولو دپاره دے، ولے دومره ډیر خلك مسلمانان شو؟ وجه دا وه چه تر اُوسه کافرانو د مسلمانانو نه نفرت کولو، یو بل سره میل جول نهٔ وو رابطه ختمه وه، مسلمانان ورته قاتلان ښکاره کیدل او د تعلق نه روستو دوی د مسلمانانو د تقویٰ او د ایمان نه متأثره شو۔

۲- فائده: دا د نورو علاقو دپاره سبب د فتح وګرځیدو ځکه چه ددے نهبعد د خیبر غزا وشوه یهودیان الله تعالیٰ ذلیله کړل او دغه شان غطفان قبیلے ذلیله شوے۔ اکثر خلك په اسلام کی داخل شول ځکه چه عامو قبیلو وئیلی وو چه مونږ دا پیغمبر او خپل قوم پریدو که دا پرے غالب شو نو دا به حق نبی وی او که قوم پرے غالبه شو نو مونږ به ترے خلاص شو نو ددے صلحے نه روستو دغه قبیلے په اسلام کی داخلے شوے او بیا د فتح د مکے نه روستو عام عرب په اسلام کی داخل شو۔

۳- فائده: د اسلام د دعوت دپاره لاره کولاوه شوه اوسه پورے مشرکانو د مسلمانانو وجود او د هغوی دعوت نهٔ برداشت کولو، ځوك ئے اسلام ته نهٔ پریښودل، په مکه کی

چه به چا ایمان راوړو تړلو به ئې او عذاب به ئې ورکولو که چا به هجرت کولو هغه به ئې نۀ پرېښودو او اوس آزاده آزادي شوه، هر سړے خپلے خوښے ته پرېښودے شو، خپله په صلحه کې دا الفاظ لیکلے شوو چه هر څوك د چا سره په لوظ کې داخلیږي داخلیدلے شي۔

صرف پدے صلح کې د مسلمانانو ظاهري لږه کمزوري ښکاره کیده چه هغه هم څه کمزوري نۀ ده هغه دا چه داسے لیکلے شوي وو که زمونږ نه څوك لاړو او قریشو سره ملګرے کیدو نو هغوي به ئې نۀ راواپس کوي او که د هغوي نه څوك راغے مونږ به ئې ورواپس کوو دا هغه خبره وه چه مسلمانان پرے ډیر خفه وو لیکن رسول الله ﷺ ددے داسے جواب کړے وو چه زمونږ نه څوك کافرانو ته ورځي نو مرتد کیږي به (فَاَبْعَدَهُ اللّٰه) الله دے ئې هلاك کړي مونږ پرے څه کوو۔ او دا قانون دے چه څوك یو ځل ایمان راوړي هغه بیا نۀ مرتد کیږي ددے وجه نه د مسلمانانو د طرفنه داسے هیڅوك مشرکانو طرفته نۀ وو تلي۔ او د مشرکانو نه چه مونږ ته راشي (مسلمان شي)

(فَسَيَجْعَلُ اللّٰهُ لَهٗ فَرَجًا وَمَخْرَجًا) نو زر دے چه الله به ورله لاره کولاوه کړي (په الله توکل پکار دے) نو نزدے ورله الله تعالیٰ د ابو بصیر په واسطه دغه لاره کولاوه کړه۔

ددے قصے نه بعض درباري ملیان غلطه فائده اخلي کوم چه بزدله او امریکه نواز وي هغوي وائي که امریکه او نور کافران د مسلمانانو نه کوم مجاهد وغواړي نو دا ور له ورکول پکار دي،

جواب دا دے چه دا دلیل نیول د هغه چا کار دے چه په زړه کې ئې شیطان ناست وي او زړه ئې شکست خوړلے وي اول خو زمونږ د کافرانو سره دا وعده نشته چه تاسو ته به مسلمانان درکوو۔

دویم دا چه آیا کافران زمونږ د یو شرط پابند ی کوي؟ دریمه وجه دا ده چه دا کار په وحي سره شوے وو، دا ټوله صلح په وحي سره شوے وه ددے وجه نه رسول الله ﷺ عمر فاروق ته ووېل : چه زۀ دا لله رسول یم او هغه زما مددګار دے او هغه ما نۀ ضائع کوي، الله ورته داسے خودنه کړے وه نو دا کار د صلح د حدیبیه د خصوصیاتو نه دے پدے باندے بل څوك نشي قیاس کیدلے، ددے وجه نه علماء کرامو دا فتویٰ لیکلے ده چه په اجماع د مسلمانانو سره څوك د مسلمانانو په خلاف د مشرکانو کافرانو سره

تعاون کوی او هغوی ته مسلمانان ورکوی نو دا پدے کار سره کافر کیږی اګرکه څان ته به بزرګ وائی۔ دا سبب د ارتداد دے۔

٤- بله فائده دا وه چه کله به اعصابی جنګونه راتلی، مینځ کی به هیڅ جنګ نهٔ وی، بلکه رعب او یرے به راشی چه کافران راغلل او مسلمانان ئے قتل کړل او دغه دے حملهٔ ئے وکړه لکه دلته د عثمان رضی الله عنه قتل نهٔ وو شوے لیکن دا رعب او یره راغله چه عثمان ئے شهید کړو نو مسلمانانو په جنګ بیعت وکړو نو الله تعالیٰ ددے په وجه د دوی نه د خپلے رضا اعلان وکړو۔

٥- په سورة الفتح کی الله تعالیٰ د مسلمانانو د تسلیٔ دپاره دا خبره هم راولیږله چه خفه کیږیٔ مه چه تاسو عمره ونکړه بلکه عمره به خامخا کویٔ الله تعالیٰ د خپل نبی دغه خوب رشتینی کړیدے۔

٦- د ایمان والو صفت ئے بیان کړو چه (أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ) په کافرانو سخت او په خپل مینځ کی یو بل باندے رحم کونکی دی)، سجدو او رکوع او بندګیانو والا دی۔ او دائے وښودل چه مسلمانان به ډیرېږی لکه د بزغلی او تخم په شان چه لړ لړ غټیږی تردے چه مضبوط بوټے او ډیر فصل ترے جوړ شی۔

د صلح حدیبیه نه بعد مختصره غزوه بیا د نبی علیه السلام د دعوت طریقه (بادشاهانو ته خطوط) بیا غزا د خیبر بیا عمرة القضاء او ددے په مابین کی نور سرایا ذکر کیږی۔



غزوه ذی قَرَد (الغابه)

ذی قَرَدَ: دا د مدینې او د خیبر ترمینځ ځای دے د مدینې نه د دوه شپو په فاصله باندے یوه چینه ده، دے غزا ته غزوه د ذی قرد هم وائی او غزوة الغابه (ځنګل والا غزوه) هم وائی.

کله چه رسول الله ﷺ د صلح حدیبیه نه مدینې ته راواپس شو نو نزدے وخت کی یوه بله غزا وشوه هغه دا چه د بنو فزاره قبیلے نه یو تن عبد الرحمن الفزاری (چه دا ډیر ښه نوم دے لیکن سړے مشرک وو) ځان سره څه کسان راواخستل او په مدینه باندے ئے پټه شان حمله وکړه د رسول الله ﷺ د زکاة اُوښان وو چه په (الغابه) صحراء کی څریدل د رسول الله ﷺ غلام رَبَاح او یو بل غلام وو دا ئے شپونکیان وو، سیدنا سلمه بن اکوع رضی الله عنه وائی چه زۀ په دوی کی وم.

نو پدے کی عبد الرحمن الفزاری راغے او په دغه اُوښانو ئے حمله وکړه او هغه ئے وتښتول او دغه یو شپونکے ئے شهید کړو او بیرته په منډه باندے واپس شو ځکه چه د مدینې ډیر رعب وو هرچا کی دا همت نۀ وو چه په تسلیٔ سره حمله وکړی بلکه کله نا کله به د غلا په شان حمله کیدله، دوی نور څه توره ونکړه بلکه اوښان ئے وتښتول او یو شپونکے ئے شهید کړو،

سیدنا سلمه بن اکوعؓ صحابی د بدن نه ډیر قوی او په منډه کی انتهائی تیز چه د اس نه به هم تیز تللو او داسے لاسونه ئے وو لکه د اوښانو د لاسونو په شان غټ او قوی،

د سلمه بن اکوع سره د ابو طلحه اَس هم وو، دا وائی: ما رباح ته وویل چه تۀ دا اس واخله او ابو طلحه ته ئے ورسوه او مدینې ته ددے حادثے خبر ورکړه او حپه یوے ډیرکیٔ ته وختلو او مدینې طرفته ئے مخ کړو او درے کرته ئے په اوچت آواز سره دا آواز وکړو. (یا صباحاه!) اے خلکو! حمله درباندے وشوه. (لکه دا د عربو عادت وو چه د حملے حادثے نه به ئے خلکو ته پدے لفظ سره خبر ورکولو)

دے وائی: زۀ یواځے ددے حمله کونکو پسے روان شوم (او آواز مے دے دپاره وکړو چه روستو نه راپسے مسلمانان راشي) نو رسول الله ﷺ او د هغه ملګرو سمدست ځان

تیار کړو او په مدینه باندے ئے عبد الله بن ام مکتوم رضی الله عنه نائب پرے ښودو او نبی علیه السلام پکی خپله هم راروان شو څکه دے ته غزوه وائی او مقداد بن الاسود رضی الله عنه ته ئے جنډه ورکړه او څه شاهسواران او څه پیاده راروان شو۔

سیدنا سلمه وائی : دغه فزاریان ما یواځے په غشو باندے ویشتل او هغوی به مے زخمی کول او دا به مے وئیل :

خُـذْهَـا وأَنَـا ابْـنُ الْأَكْـوَعِ	وَالْيَـوْمُ يَـوْمُ الـرُّضَّـعِ

دا گوزار واخله او زهٔ د اکوع ځوی یم او نن ورځ د ذلیلانو ورځ ده (نن به د ذلیلانو پته لگی)۔

دا د عربو عادت وو چه جنگ کی به ئے دغه شان فخریه کلمات وئیل، رُضع به ئے هغه ذلیلانو ته وئیل چه اوښان او گډے بزے به ئے پټ لشل دے دپاره چه مسکینان پرے خبر نشی او څه برخه ورنکړی یعنی بخیلان۔

سلمه وائی : کله چه به کوم دشمن ما پسے راواپس شو نو زهٔ به د یوے ونے بیخ ته کیناستم او په غشی به مے ویشتلو، او د هغوی پسے همداسے روان وم تردے چه هغوی د نبی علیه السلام ټول اوښان پریښودل زهٔ بیا هم د هغوی پسے روان وم او غشی به مے ویشتل تردے پورے چه هغوی د خپل بوج د کمولو دپاره دیرش شړئ او څادرونه او دیرش نیزے پریښودے نو ما هغه راغونډ کړل او دپاسه مے پرے یو غټ کمر کیخودو دے دپاره چه روستو نه نبی علیه السلام او د هغه ملگری راشی او دا وپیژنی څکه چه صحراء کی څادرے ورك کیږی۔

زهٔ وریسے همداسے روان وم تردے چه دشمنان د دوه غرونو مینځ ته ننوتل نو زهٔ زر په یو منډه په لړ ساعت کی د مشرکینو نه مخکی د غر سر ته وختلم او په هغوی باندے مے د بره نه کانړی او کمرے راگوزار کړل او د کانړو باران مے پرے وکړو نو سړی مے په دغه ځای کی هم ډیر راتنگ کړل نو باقی مالونه ئے هم گوزار کړل تردے چه یوے لرے علاقے ته ورسیدل چه د غرمے په وخت د خوراك دپاره یو ځای کی کیناستل نو زهٔ د هغوی نه بنه او چت غر دپاسه وختلم ورته کیناستم دے دپاره نبی علیه السلام او د هغه ملگری به راورسیږی او په شریکه به پرے حمله وکړو نو پدے کی د مشرکانو نه څلور کسان ما پسے راوختل دے دپاره چه ما ونیسی نو ما ورته ووبل چه تاسو ما

پیژنئ زهٔ سلمه بن اکوع یم، (لَا اَطْلُبُ رَجُلًا مِنکُم اِلَّا اَدرَکتُهٗ)
زهٔ چه کوم سړے ستاسو نه طلب کړم نو زرئے لاندے کولے شم۔
(وَلَا یَطْلُبُنِیْ فَیُدْرِکُنِیْ) او ما چه څوك طلب کوی ما نشی لاندے کولے۔ ما ته تاسو په منډه کی نشئ رارسیدلے، نو هغوی ویریدل نو واپس شو۔
پدے کی زهٔ ناست وم چه ما د رسول الله ﷺ ملګری شاهسواران ولیدل چه د ونو ترمینځ راروان وو اول اخرم الاسدی، د هغه پسے ابوقتاده او د هغه پسے مقداد بن الاسود رضی الله عنهم راورسیدل، نو پدے کی اخرم او مشرك عبد الرحمن الفزاری د یو بل سره ملاؤ شو نو اخرم په عبد الرحمن الفزاری باندے حمله وکړه، اس ئے ورله زخمی وکړو نو عبد الرحمن په دهٔ باندے د بره نه حمله وکړه او دا ئے شهید کړو او ددهٔ نه ئے اس واخستو او په هغے باندے کیناستو، پدے کی ابوقتاده رضی الله عنه ورغلو او په دغه مشرك ئے ګوزار وکړو تردے چه هغه ئے هلاك کړو او دنیا ئے ترے وزګاره کړه نو په نورو مشرکانو رعب راغے نو ټول په شا وتښتیدل،
پدے کی ابوقتاده رضی الله عنه چه ددے مشرکانو نه کوم مالونه نیولی وو په هغے باندے ئے خپل څادر واچولو او دا ئے وویل چه دا ما نیولی دی نو مخکی روان شو شا ته د رسول الله ﷺ ملګری راغلل چه وے کتل انا لله ئے وویله چه ابوقتاده شهید شویدے دا څادر ئے پروت دے او لاندے به ترے مړے وی نو رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه نهٔ دے مړ بلکه دا ئے څادر دے، چه وے کتل هغه څادر وو او مړے پکی نهٔ وو،
پدے کی مشرکانو منډه کړه ذی قَرَدَ علاقے ته ورسیدل چه هلته یوه چینه وه نو هغے ته ورمائل شو چه اُوبه وڅکی نو سلمه بن اکوع د هغوی پسے روان شو او هلته ئے پرے هم کانړی ور ویشتل او اُوبو ته ئے پرینښودل بلکه هلته نه ئے هم وزغلول،
دے بیرته راواپس شو نو نبی علیه السلام دے چینی ته رارسیدلے وو، دهٔ نبی علیه السلام ته وفرمایل: ما ته سل کسان راکړه، دوی لا خپلو علاقو ته نهٔ دی رسیدلی زهٔ دا ټول د څټونو نه نیسم او تا ته ئے راولم۔ نبی علیه السلام وفرمایل:
(یَا ابْنَ الْأَکْوَعِ! مَلَکْتَ فَأَسْجِحْ)
تا په دوی باندے قابو ومونده (مالونه درله الله درکړل) نو اوس نرمی کوه۔ یعنی جهاد د یوے ورځے شے نهٔ دے چه په یوه ورځ هر څه ته ځان رسوے،

بیا ئے وفرمایل: (اِنَّهُمُ الآنَ یُقْرَوْنَ فِیْ غَطْفَانَ)
دوی ته اوس په غطفان کی میلمستیا ورکولے شی۔
پدے کی د غطفان قبیلے یو سړے راغے او وے وئیل چه دغه خلك د یو غطفانی سړی په خوا ورتیر شو نو هغه ورله اُوښ حلال کړو نو کله چه دوی د هغے نه پوستکے لرے کړو نو پدے کی دوی یو خړگرد او دوړه ولیدله نو دغه اُوښ ئے په ځای ئے پریښودو او د هغه نه ځای نه په منډه وتښتیدل (گمان ئے داوو چه گنے دغه صحابه کرام راپسے دلته هم راورسیدل نو هغه خوراك هم تړے پاتے شو او سترې ستوړی خپلو علاقو ته ورسیدل)۔ (مسند احمد ۱٦٥٨٧ بسند صحیح)
دا د نبی علیه السلام معجزه وه چه مخکی نه ئے خبر ورکړو چه دوی ته اُوس میلمستیا ورکولے شی او همغه شان رشتینی شوه۔
نو رسول الله ﷺ سلمه بن اکوع رضی الله عنه د خپل ځان سره شا ته په (عَضْبَاء) اُوښه باندے سور کړو او ددهٔ صفت ئے وکړو:
(خَیْرُ فُرْسَانِنَا الْیَوْمَ اَبُوْقَتَادَةَ وَخَیْرُ رَجَّالَتِنَا سَلَمَةُ)
نن ورځ زمونږ غوره شاهسوار ابوقتاده دے او غوره د پیاده خلکو نه سلمه بن اکوع دے)
سلمه بن اکوع وائی ما ته رسول الله ﷺ د غنیمت دوه قسمه برخے راکړے یعنی سَهْمُ الرَّاجِلِ وَسَهْمُ الْفَارِسِ۔ یوه برخه د پیاده مجاهد او بل د آس والا، د اس دوه برخے وی او په اس باندے سور یوه برخه نو گویا که رسول الله ﷺ دهٔ ته څلور برخے غنیمت ورکړو ځکه چه ټوله غزوه دهٔ په یواځے سر باندے سنباله کړے وه۔
دا ټول جهاد یو تن کړے وو۔
بیا رسول الله ﷺ او صحابه کرام په امن وامان سره مدینے ته راواپس شو۔
(بخاری حدیث رقم: ٤١٩٤) البدایة والنهایة (۲/۱٥۱،۱٤٥) الرحیق المختوم (۳۲٤) السیرة النبویة لابن کثیر)۔
دا یوه وړوکے شان غزا وه، د کافرانو غلا وه چه یواځے سلمه بن اکوع رضی الله عنه وزغلول او پته ورته ولگیده چه مسلمانان ډیر قوی دی د دوی نه څوك په آسانئ سره څه شے نشی تښتولے، نو مدینه په خلکو کی پداسے ځوانانو او مجاهدینو باندے

مشهوره وه۔

د بادشاهانو په نوم خطونه

ددې نه بعد د رسول الله ﷺ یوه نوې شان زندګی شروع شوه ځکه چه د رسول الله ﷺ سخت دشمنان خو قریش وو، او هم دوی جنګیان وو نو دلته په صلحې سره رسول الله ﷺ او صحابه کرامو ته د دعوت لاره کولاوه شوه۔

نو نبی علیه السلام د دعوت دپاره یوه خاص طریقه اختیار کړه چه عامې دنیا ته به دعوت د دین څنګه ورسیږی نو بادشاهانو ته ئې خطونه ولیکل چه هغوی ته پکې د اسلام دعوت ورکړې شو، که عوامو ته خطونه ولیکی نو دومره فائده نهٔ کوی ځکه یو کس دوه کسان به پرې خبر شی یا به ایمان راوړی یا نهٔ او چه بادشاه ته خط ولیکل شی نو که هغه ایمان راوړو تول خلك ورسره ایمان راوړی او که هغه ایمان رانهٔ وړی بیا هم فائده کیږی ځکه چه په ټولو خلکو کی به مشهوره شی چه فلانی بادشاه ته د رسول الله ﷺ خط راغلې وو او هغه داسې انکار وکړو نو په خلکو کی د اسلام د دعوت شهرت ډیر کیږی ځکه چه بادشاه چه یو کار وکړی تول ملك پرې خبریږی،

بیا د رسول الله ﷺ هوښیارتیا ته فکر وکړه چه ددې نه مخکی ئې بادشاهانو ته دعوت نهٔ ورکولو دا هم رسول الله ﷺ کولې شو چه په مکه کی وو او بادشاهانو ته ئې خطونه لیکلی وې او کافرانو بادشاهانو ته ئې وئیلی وې چه ایمان راوړئ، دا ئې ونکړل ځکه چه په مکه کمزورې وو خلك به ورپورې توقی وکړی اګرکه د هغه سره به الله تعالیٰ مدد کولو لیکن د دعوت دا ترتیب نهٔ دې بلکه کله ئې چه په مدینه کی طاقت پیدا شو، د پناهیٔ ځای ئې پیدا شو نو خطونه ئې ولیکل او پدې سره ډیره فائده وشوه، ددې وجه نه هر کار به په خپل وخت کولې شی بې وخته او بې طاقته کار شروع کولو نتیجه خرابه راوځی، هرڅه به ګډوډ شی، اسلام خلکو کی بدنامیږی، مسلمانان، علماء او مجاهدین خلکو کی بدنامیږی۔

بله فائده دا وه چه دعوت یواځې دیته نهٔ وائی چه یو جماعت ددې دپاره ویستلې شی بلکه خط او کتاب چا ته ولیږل شی چه داسې وکړه او داسې مهٔ کوه دا هم د دعوت

طریقه ده۔ یا یو تن ولیږی چه هلته د الله د کتاب درس کوی او د خلکو فیصلے کوی او د هغوی نه زکاتونه راټولوی لکه معاذ بن جبل رضی الله عنه ئے یمن ته ددے دپاره لیږلے وو۔

د سیرت او د احادیثو په کتابونو کی اته خطونه ذکر شویدی چه غټو بادشاهانو ته ئے لیکلی دی۔

د خطونو دا سلسله د شپږم کال په آخر کی شروع شوه او دا ټول په یو وخت کی نهٔ وو لیږلے شوی بلکه مینځ کی ئے ډیره موده تیره شوے وه۔

کله چه نبی علیه السلام دا خطونه لیکل نو نبی علیه السلام خپل ملګری راجمع کړل او هغوی ته ئے دا خبره ښکاره کړه چه زهٔ د عربو او عجمو بادشاهانو ته خطونه لیږم خو تاسو به ما سره د بنی اسرائیلو په شان کار نهٔ کوئ چه عیسیٰ علیه السلام خپل حوارین (ملګری) راجمع کړل هغوی ته ئے خبره وکړه نو هغوی اختلاف وکړو نو صحابه کرامو ټولو په یو آواز وویل چه اے د الله رسوله! تهٔ چه مونږ ته څه امر کوے موږ ټول به هغے ته تیار یو، هر ځای ته چه تهٔ مونږ لیږے، زمونږ بدن روح او مال دے قربان شی نو نبی علیه السلام د دوی نه یو څو هوښیار او چالاکه کسان منتخب کړل چه دوی به بادشاهانو ته خطونه وړی یو په هغوی کی عمرو بن امیه الضمری وو چه روستو راځی۔

رسول الله ﷺ چه کله اراده وکړه چه بادشاهانو ته خطونه ولیکی نو چا ورته وویل چه اے د الله رسوله! د بادشاهانو طریقه دا ده چه هغوی هغه خط ته نهٔ ګوری چه په هغے باندے مهر (ټاپه) نهٔ وی نو نبی علیه السلام مجبوراً مهر (خاتم) جوړ کړو ځکه چه دین ته پکی څه ضرر نشته او د دعوت فائده پکی شته او دا خاتم ئے د سپینو زرو نه جوړ کړو چه د ګوتمے په مقدار وه او هغه ئے ګوتے ته اچولے وه چه په هغے باندے (محمد رسول الله) الفاظ لیکلے شوی وو او پدے کی هم رسول الله ﷺ د ډیر ادب نه کار واخستو چه د الله نوم ئے پورته لیکلے وو بیا لاندے ترے رسول بیا لاندے محمد وو۔ درے کرښے وے۔ بل ادب به پدے باره کی رسول الله ﷺ دا کولو چه کله به بیت الخلاء ته ننوتو نو دغه ګوتمه به ئے بهر کیخوده او بیا به ننوتو ځکه چه د الله او د محمد نوم بهترین نومونه دی د هغے به قدر او احترام کولے شی۔

(۱) نو اول خط ئے نجاشی بادشاه ته ولیږلو او دا خط ئے تقریباً درے څل دۀ ته لیږلے وو۔ یو په هغه وخت کی چه کله سیدنا جعفر بن ابی طالب رضی الله عنه د مکے نه حبشو ته هجرت وکړو نو نبی علیه السلام نجاشی ته خط ولیکلو چه زما د ترۀ ځوی او ملګری ستا خوا ته درغلل دوی ته پناهی ورکړه او دوی باندے تکبر مۀ کوه او د دوی سره احسان وکړه۔

دویم پدے کال د صلحه حدیبیه کی ئے بیا خط ولیږلو۔

د نجاشی بادشاه نوم اَصُحَمَه وو او نجاشی ئے لقب وو دا د پخوانو کتابونو عالِم وو، نصرانی وو او ډیر نیك عابد سړے وو، په نصاراؤ کی ډیر نرم او عابدان خلك په هغه زمانه کی موجود وو۔

سیدنا عمرو بن امیه الضمری رضی الله عنه ته رسول الله ﷺ خط ورکړو چه دا اصحمه بادشاه ته ورسوه خط ئے لنډ او مختصر ولیکلو مقصدی خبرے ئے په کی ولیکلے: [مِنُ مُحَمَّدٍ رَسُوُلِ اللّٰهِ اِلٰی اَصُحَمَةَ النَّجَاشِیِّ عَظِیُمِ الُحَبَشَةِ سَلَامٌ عَلٰی مَنِ اتَّبَعَ الُهُدٰی] (دا خط د محمدؐ د طرفنه چه د الله رسول دے اصحمه بادشاه ته لیکلے کیږی چه نجاشی ئے لقب دے او د حبشو بادشاه (لوئ سړے) دے سلام دے په هغه چا چه د هدایت تابعداری وکړی)،

د هغه دپاره ئے د اکرام الفاظ استعمال کړل ددے نه مونږ ته دا فائده راوځی چه په خط کی به اول بسم الله لیکی بیا به د لیږونکیٔ نوم لیکی چه هغه ته پته ولګی چه د چا د طرفنه راغلے دے او چا ته ئے لیکی نو د هغه د اکرام الفاظ به استعمالوی کنځلے به نۀ کوی، او داسے ئے ونۀ وئیل چه زمونږ مشر بلکه د حبشو مشر نو پدے کی به حقائق ذکر شو ځکه چه هغه د نبی علیه السلام او د صحابه کرامو مشر نۀ دے بلکه حبشو په ځان مشر کړیدے۔

[فَاِنِّیُ اَحُمَدُ اِلَیُكَ اللّٰهَ الَّذِیُ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الُمَلِكُ الُمُهَیُمِنُ الُقُدُّوُسُ السَّلَامُ وَاَشُهَدُ اَنَّ عِیُسَی ابُنَ مَرُیَمَ رُوُحُ اللّٰهِ وَكَلِمَتُهٗ اَلُقَاهَا اِلٰی مَرُیَمَ الُبَتُوُلِ الطَّیِّبَةِ الُحَصِیُنَةِ، فَحَمَلَتُ بِعِیُسٰی مِنُ رُوُحِهٖ وَنَفُخِهٖ كَمَا خَلَقَ آدَمَ بِیَدِهٖ، اَسُلِمُ تَسُلَمُ]

یقیناً زۀ تا ته د هغه الله تعالیٰ صفتونه کوم چه نشته حقدار د بندګیٔ سویٰ د هغه نه، هغه بادشاه، نګهبان، پاك او سلامتیا والا ذات دے او ګواهی کوم چه عیسیٰ علیه

السلام د مریم ځوی د الله روح دے او د هغه کلمه ده چه مریم ته ئے ګوزار کړے هغه مریم چه نکاح ئے نۀ ده کړے، پاکدامنه حیاناکه ده او په عیسیٰ علیه السلام باندے د الله د روح او د هغه د پوکی نه حامله شویده لکه څنګه چه آدم علیه السلام د الله تعالیٰ په لاس سره پیدا دے۔ بیا ئے ورته د اسلام دعوت ورکړو چه اسلام راوړه تا ته به الله تعالیٰ سلامتیا درکړی۔

نو بادشاه ډیر نیك سړے وو نو هغه ته چه کله دا خط مبارك ملاؤ شو نو هغه په سترګو باندے کیخودو، بیا د تخت نه خکته راکوز شو او د جعفر بن ابی طالب رضی الله عنه په لاس ئے اسلام قبول کړو، او نبی علیه السلام ته ئے په جواب کی خط ولیکلو چه مضمون ئے داسے دے:

(بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اِلٰى مُحَمَّدٍ رَسُوْلِ اللّٰهِ مِنَ النَّجَاشِيِّ أُصْحَمَةَ سَلَامٌ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ مِنَ اللّٰهِ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ، اللّٰهِ الَّذِيْ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ، أَمَّا بَعْدُ:

فَقَدْ بَلَغَنِيْ كِتَابُكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فِيْمَا ذَكَرْتَ مِنْ أَمْرِ عِيْسٰى، فَوَرَبِّ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ اِنَّ عِيْسٰى لَايَزِيْدُ عَلٰى مَا ذَكَرْتَ تُفْرُوْقًا، اِنَّهٗ كَمَا قُلْتَ، وَقَدْ عَرَفْنَا مَا بُعِثْتَ بِهٖ اِلَيْنَا وَقَدْ قَرَيْنَا ابْنَ عَمِّكَ وَأَصْحَابَكَ، فَأَشْهَدُ أَنَّكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَادِقًا مُصَدَّقًا، وَقَدْ بَايَعْتُكَ وَبَايَعْتُ ابْنَ عَمِّكَ وَأَسْلَمْتُ عَلٰى يَدَيْهِ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ)

دا خط محمد رسول الله (ﷺ) ته د طرفه د نجاشی اصحمه نه لیکلے شی سلام دے په تا باندے اے د الله نبی د الله د طرفنه او د الله رحمت او برکتونه دے وی هغه الله چه نشته حقدار د بندګئ سویٰ د هغه نه اما بعد:

اے د الله رسوله! ما ته ستا خط راورسیدو کوم کی چه تا د عیسیٰ علیه السلام په باره کی لیکلی وو قسم په رب د آسمانونو او د زمکے چه عیسیٰ علیه السلام د هغه خبرونه ذره برابر هم زیات نۀ دے کوم چه تا ذکر کړل بیخی همدغه شان دے څنګه چه تا ذکر کړل او مونږ وپیژندو هغه دعوت (او حق) چه تۀ پرے مونږ ته رالیږلے شوے ئے، او مونږ ستا ترۀ ځوی (جعفر) او ستا ملګرو ته میلمستیا ورکړے نو زه ګواهی کوم چه تۀ د الله رسول ئے، رشتینے ئے او ستا تصدیق شویدے او ما تا سره بیعت کړے او ستا د ترۀ ځوی سره مے بیعت وکړو او د هغه په لاسونو مے د الله رب العالمین دپاره اسلام راوړو)۔

۰ او نبي علیه السلام د نجاشي نه دا مطالبه هم کړې وه چه ته زما د ترۀ ځوی (جعفر بن ابي طالب) او زما ملګري راولیږه نو نجاشي دا صحابه کرام په دوه کشتو کښې سوارۀ کړل او د عمرو بن امیه ضمري رضي الله عنه سره ئې راولیږل دوی چه کله راورسیدل نو نبي علیه السلام په خیبر کې د یهودیانو سره ئې غزا کوله۔ چه روستو ددې تفصیل راځي ان شاء الله الرحمن۔

بیا دا نجاشي په رجب میاشت کې په نهم کال د هجرت د تبوك د غزا نه روستو وفات شو، او نبي علیه السلام خپلو ملګروته د هغه د مرګ په ورځ خبر ورکړو د جبریل علیه السلام په واسطه او نبي علیه السلام صحابه کرام عیدګاه ته راویستل او په هغه باندې ئې غائبانه جنازه وکړه، کله چه دا نجاشي وفات شو نو ددۀ نه روستو بل بادشاه مقرر شو هغه ته بیا په روستو زمانه کې رسول الله ﷺ خط ولیکلو لیکن د هغې معلومات نشته چه هغه اسلام راوړو او که نۀ؟۔ (الرحيق المختوم)

غائبانه جنازه کله نا کله جائز ده دا د رسول الله ﷺ دائمي طریقه نۀ وه خاصکر کله چه په یو مړي باندې بنائسته جنازه شوې وي نو دوباره نۀ ده پکار۔

(نبي علیه السلام په دۀ باندې سلام نۀ وو اچولې بلکه عامه خبره ئې کړې وه چه سلام دې وي په هغه چا چه د هدایت تابعداري وکړي ځکه چه په کافر باندې ابتداءً سلام اچول نشته او دلته نجاشي په نبي علیه السلام باندې سلام راولیږلو ځکه چه ایمان ئې راوړو، بیا نجاشي شومره د ادب نه کار واخستو چه په خط کې ئې د رسول الله ﷺ نوم مخکې ولیکلو او خپل نوم ئې روستو کړو)

اَصْحَمَه بادشاه ته نبي علیه السلام دا جواب هم لیږلې وو چه ام حبیبه بنت ابي سفیان سره زما نکاح وکړه نو هغه دا نکاح وکړه او د خپل طرفنه ئې (۴۰۰) څلور سوه دینار مهر مقرر کړو او دا ئې هم د مهاجرینو د حبشو سره یو ځای کړه او د عمرو بن امیه ضمري سره ئې په دوه کشتو کې کینونه او مدینې ته راورسیدل۔ (مدینې ته نزدې بندګاره ینبُع نه تر اکسوم (حبشو) پورې تقریباً (۱۲۱۰) دولس سوه لس کیلو میټره فاصله ده)۔

دا خط رسول الله ﷺ د شپږم کال په آخر کې یا د اووم کال په اول یعني محرم میاشت کې لیږلې وو۔

(۲) خط: د مصر بادشاه مُقوُقِس ته

د مصر بادشاه ته به ئے مُقوُقِس وئیلو دا د مصر او د اسکندریه بادشاه وو ددهٔ نوم جُریج بن متّی وو ددے خط د لیږلو دپاره ئے یو بدری هوښیار صحابی حاطب بن ابی بلتعه رضی الله عنه منتخب کړو چه ددهٔ په باره کی ابتدائی آیتونه د سورة الممتحنه هم نازل دی، دهٔ ته ئے ووئیل چه دا خط به مقوقس بادشاه ته وړے، دا صحابه کرام به ئے یواځے لیږل، او په صحراونو او بیابانو او شاړو دشتو کی به ئے مزلے کولے لوږے تندے به پرے تیریدلے، سخت تکلیفونو سره به بادشاهانو ته رسیدل۔

او د خط وړل به ددے سره برابر وو چه دا به بیرته ژوندے رانشی ځکه چه ډیره ممکنه ده چه بادشاه به دهٔ لره قتل کړی ځکه چه بادشاه ته دا وئیل چه ایمان راوړه او ددے هرڅه نه دستبردار شه او دا هر څه او بادشاهی ټوله رسول الله ﷺ ته تسلیم کړه او بادشاهان دا کار چرته کولے شی نو دغه سړے به د مرګ خطر سره مخامخ وی۔ لیکن صحابه کرام دے ته تیار وو۔

مقوقس بادشاه نصرانی وو نو رسول الله ﷺ ورته داسے خط ولیکلو :

(بسم اللّٰه الرحمن الرحیم مِنْ مُحَمَّدٍ عَبْدِ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ اِلَی الْمُقَوْقِسِ عَظِیْمِ الْقِبْطِ، سَلَامٌ عَلٰی مَنِ اتَّبَعَ الْهُدٰی، اَمَّا بَعْدُ : فَاِنِّیْ اَدْعُوْكَ بِدِعَایَةِ الْاِسْلَامِ، اَسْلِمْ تَسْلَمْ، وَاَسْلِمْ یُؤْتِكَ اللّٰهُ اَجْرَكَ مَرَّتَیْنِ، فَاِنْ تَوَلَّیْتَ فَاِنَّمَا عَلَیْكَ اِثْمُ اَهْلِ الْقِبْطِ (یَا اَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا اِلٰی كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَیْنَنَا وَبَیْنَكُمْ اَنْ لَّا نَعْبُدَ اِلَّا اللّٰهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهٖ شَیْئًا وَلَایَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا اَرْبَابًا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقُوْلُوا اشْهَدُوْا بِاَنَّا مُسْلِمُوْنَ)۔

(دا خط د محمد د طرفنه چه د الله بنده او رسول دے مقوقس بادشاه ته لیکلے کیږی چه د قبطیانو مشر دے، سلام دے وی په هغه چا چه د هدایت تابعداری کوی، اما بعد : زهٔ تا ته د اسلام دعوت درکوم، اسلام راوړه، الله به سلامتیا درکړی، او اسلام راوړه الله به دوه کرته اجر درکړی، که تا مخ واړولو نو په تا باندے به د قبطیانو ګناه راځی بیا ئے ورته دا آیت ولیکلو : اے کتاب والو ! راشئ یوے داسے خبرے ته چه زمونږ او ستاسو ترمینځ برابره ده (دواړه به پرے یو شان ایمان راوړو او عمل به پرے یو شان کوو) هغه دا

چه بندګی به نۀ کوو سوئ د الله نه د بل چا او هیڅ شریکان به د الله تعالیٰ سره نۀ جوړه وو او بعضے زمونږ به نورو لره معبودان نۀ نیسو سوئ د الله نه (یعنی شارعان به د خپلو علماؤ او پیرانو نه نۀ جوړو یعنی تقلید به نۀ کوو) که دوی ددے خبرو نه مخ واړولو (یعنی وے نۀ منلو) نو تۀ داسےووایه چه مونږ د الله تعالیٰ تابعدار یو)۔

پدے آیتونو کی اهل کتابو ته ډیر ښکلے دعوت پروت دے۔

(تقلید دے ته وائی چه د یو چا پورنے داسے انبنتل چه د هغه هره خبره د کانړی کرخه وګنړی، غلط او صحیح ټولے خبرے ورله منی، او د هغه نه د دلیل مطالبه نۀ کوی) او د علماؤ خبره منل شته چه کله په دلیل سره وی مګر علماؤ له به د الله تعالیٰ او د رسول درجه نۀ ورکوی ځکه دا خصوصیت صرف د الله او د هغه د رسول دے چه د هغوی به هره خبره منلے شی ځکه چه د هغوی په خبره کی خطائی او غلطی نشی کیدے او د علماؤ ځینی خبری خو غلطے هم کیدے شی اجتهادی خطائی ترے کیدے شی نو ځوك چه تقلید کوی بیا ورته واجب وائی نو ددے مطلب دا چه د غلطو خبرو منل هم واجب دی۔ پدے کی سوچ وکړه د تقلید د کړئ نه به د الله تعالیٰ په فضل سره اُوځے که چرته الله تعالیٰ ستا دپاره د هدایت اراده کړی وی ان شاء الله تعالیٰ۔

یهود او نصاراؤ کی دا مرض وو چه خپلو پیرانو او ملیانو ته به ئے دا اختیار سپارلے وو چه حلال او حرام به ورته هغوی د ځان نه جوړول نو پدے باندے الله تعالیٰ رد وکړو چه د حلال او حرام اختیار صرف د الله تعالیٰ دے دغه ته اربابا من دون الله وائی۔

کله چه حاطب بن بلتعه مقوقس بادشاه ته خط ورسولو نو خپله ئے هم ورته ډیر ښکلے او د عقل او خیر خواهئ نه ډك دعوت ورکړو او داسے ئے ورته وویل:

(اِنَّهٗ کَانَ قَبْلَكَ رَجُلٌ یَزْعُمُ اَنَّهُ الرَّبُّ الْاَعْلٰی، فَأَخَذَهُ اللّٰهُ نَکَالَ الآخِرَةِ وَالْاُوْلٰی، فَانْتَقَمَ بِهٖ ثُمَّ انْتَقَمَ مِنْهُ، فَاعْتَبِرْ بِغَیْرِكَ وَلَایَعْتَبِرُ غَیْرُكَ بِكَ)

ستا نه مخکی پدے کرسئ باندے یو سړے تیر شوے (فرعون) چه هغه به دا ګمان کولو چه هغه لوی رب دے، نو الله تعالیٰ هغه لره د دنیا او د آخرت په سزا راونیولو، اول ئے د هغه په وجه خلکو ته سزا ورکړه بیا الله تعالیٰ د هغه نه بدله واخسته، نو تۀ د بل چا نه عبرت او نصیحت واخله او بل ځوك دے ستا نه نصیحت وانخلی)

نو هغه ورته یو جواب وکړو چه دا اول کی ښه جواب وو لیکن روستو ئے ضد وکړو

هغه داسے ووېل : (اِنَّا عَلٰی دِیْنٍ لَنْ نَّدَعَهٗ اِلَّا لِمَا هُوَ خَیْرٌ مِّنْهُ) مونږ په یو دین روان یو دا دین مونږ نۀ پریدو مګر که ددے نه چا غوره دین راوړو نو بیا به ورته خپل دین پریدو)

نو دا خبره فی نفسه ښه ده ځکه چه تا له الله تعالیٰ یوه عقیده درکړے ده دغه به نۀ پریږدے مګر که ددے نه درته په دلیل سره غوره عقیده ښکاره شوه نو بیا به دغه خپله زړه عقیده پریږدے۔ لیکن پدے سړی کی مرض د ضد وو ځکه چه د خیر دین ورته ښکاره شو بیا هم په خپل شرکی دین باندے پاتے شو۔

نو حاطب بن ابی بلتعه رضی الله عنه ورته وفرمایل:

(نَدْعُوْکَ اِلَی الْاِسْلَامِ الْکَافِیْ بِهِ اللّٰهُ فَقْدَ مَا سِوَاهُ)۔

مونږ تا دین اسلام ته رابلو چه دا په هر لحاظ سره پوره دین دے او د نورو دینونو په ځای هم کار ورکوی، بیشکه دے نبی (محمد ﷺ) خلکو ته دعوت ورکړو نو د ټولو نه زیات مخالفت قریشو وکړو او ددے نبی د ټولو نه لوی دشمنان یهودیان دی، او عیسایان مسلمانانو ته ډیر نزدے دی،

بیائے وفرمایل: (وَمَا بِشَارَةُ مُوْسٰی بِعِیْسٰی اِلَّا کَبِشَارَةِ عِیْسٰی بِمُحَمَّدٍ عَلَیْهِ السَّلَامُ)

موسیٰ علیه السلام زیرے ورکړے وو چه روستو به عیسیٰ علیه السلام راځی نو دغه شان عیسیٰ علیه السلام زیرے ورکړے وو چه روستو به محمد علیه السلام راځی۔ دواړه زیری یو شان دی۔

بیائے ورته وفرمایل: (وَمَا دُعَاؤُنَا اِیَّاکَ اِلَی الْقُرْآنِ اِلَّا کَدُعَائِکَ اَهْلَ التَّوْرَاتِ اِلَی الْاِنْجِیْلِ) او زمونږ رابلل تا لره قرآن کریم ته داسے دی لکه تا چه تورات والا انجیل ته رابللی دی،

(تۀ انجیل ته دعوت ورکوے نو مونږ تا ته دعوت درکوو چه تۀ قرآن ته راشه)۔

(فَکُلُّ نَبِیٍّ اَدْرَکَ قَوْمًا فَهُمْ اُمَّتُهٗ فَالْحَقُّ عَلَیْهِمْ اَنْ یُّطِیْعُوْهُ وَاَنْتَ مِمَّنْ اَدْرَکَهٗ هٰذَا النَّبِیُّ) ۔

او هر نبی چه یو قوم لاندے کړی (یو قوم کی راشی) نو دا د هغه امت وی نو دغه خلکو له پکار دی چه ددغه نبی تابعداری وکړی او تا هم دا نبی رالاندے کړو (ددۀ امتی شوے) نو ددۀ تابعداری وکړه) بیائے ورته وفرمایل: (وَلَسْنَا نَنْهَاکَ عَنْ دِیْنِ الْمَسِیْحِ وَلٰکِنَّا نَاْمُرُکَ بِهٖ) ۔ مونږ تا د عیسیٰ علیه السلام د دین نه نۀ منع کوو بلکه مونږ تا ته د دغه دین د پابندۍ حکم کوو (چه دغه دین که تا مضبوط راونیولو نو په هغے کی دا خبره ده

چه په آخری نبی محمد رسول الله ﷺ به هم ایمان راوړے)۔(عیون الاثر ۲/۲٦٥)

مقوقس ووېل : دا تهٔ چه د چا په باره کی خبره کوے آیا دا نبی دے ؟

سیدنا حاطب وفرمایل : ولے نهٔ، دا د الله تعالیٰ رسول دے۔

مقوقس ووېل : نو بیا څه وجه ده چه دا کله خپل قوم د خپل کلی نه ویستلو نو دهٔ ښیرے ولے ونکړے؟

سیدنا حاطب وفرمایل : د عیسیٰ بن مریم په باره کی تهٔ څه وائے ؟ آیا هغه نبی نهٔ وو؟ نو بیا کله چه هغه لره خپل قوم د سولئ کولو اراده وکړه نو هغه ورته ولے ښیرے ونکړے تردے چه الله تعالیٰ هغه لره آسمان ته پورته کړو؟

مقوقس ووېل: ډیر ښه، تهٔ یو پوهه شخص ئے چه د یو پوهه شخص د خوا نه راغلے ئے۔ (السیرة النبویة لابن کثیر۳/٥١٤) واسد الغابة١/٢٢٩)۔

مقوقس بادشاه حاطب ته ووېل : ما ددے نبی په باره کی سوچ وکړو نو ما وموندو چه په هغه شی حکم نهٔ کوی چه خلك پکی رغبت نهٔ لری (یعنی غلطو خبرو باندے حکم نهٔ کوی) او د هغه څه نه منع نکوی چه خلکو ته محبوب وی او ما دا جادوګر ګمراه ونهٔ موندو او نهٔ دروغجن کاهن دے او ما په دهٔ کی د نبوت نخه وموندله هغه دا چه پټ ځیزونه راوباسی او د پټو خبرو نه خبر ورکوی، بیا ئے ووېل زهٔ به فکر وکړم۔

او بیا ئے د نبی علیه السلام دغه خط راواخستو او د هاتی د غاښ نه جوړ په یو ګلدان کی ئے واچولو او په هغے باندے ئے مهر ووهلو او هغه ئے خپلے یوے وینځے ته ورکړو بیا مقوقس خپل کاتب راوغوښتو دے دپاره چه هغه په عربی کی جواب ولیکی نو هغه داسے جواب ولیکلو :

بسم الله الرحمن الرحیم

دا خط محمد بن عبد الله طرفته د قبطیانو (مصریانو) د حکمران مقوقس د طرف نه لیکلے کیږی، په تا باندے دے سلامتیا وی، ما ستا خط ولوستلو او تا چه کومه خبره ذکر کړیده او کومے خبرے ته چه دعوت ورکوے هغه مے ښه وپیژندله ما ته دا معلومه وه چه یو نبی باقی پاتے دے (راتلونکے دے) مګر زما خیال دا وو چه هغه به په شام کی راځی، بهرحال ما ستا د قاصد پوره تعظیم او اکرام وکړو او تا ته مے دوه وینځے درولیږلے چه هغوی ته د قبطیانو په نیز لویه مرتبه حاصله ده، ددے سره زهٔ ستا په خدمت کی

جامے کپړے او د سورلئ دپاره بهترین قچر هم درلیږم۔ والسلام علیك۔

دوه وینځے یوه ماریه قبطیه بنت شمعون او بله د هغے خور سیرین وه، ماریه رسول الله ﷺ د خپل ځان دپاره وینځه وګرځوله چه د هغے نه د نبی علیه السلام ځوی ابراهیم بن ماریه پیدا شو او سیرین نبی علیه السلام حسان بن ثابت رضی الله عنه ته په تحفه کی ورکړه چه د هغے نه عبد الرحمن بن حسان بن ثابت پیدا شو۔ ماریه د سیدنا عمر فاروق په زمانه د خلافت کی وفات شوه په محرم میاشت کی په (۱۵) هجری کی، عمر فاروق پرے جنازه وکړه او په بقیع کی دفن شوه۔ (واقدی)

(السیرة النبویة لابن کثیر ۴/۶۰۳)

بعض وائی دا دواړه د مقوقس بادشاه وینځے وے۔

او د قچر نوم (دُلدُل) وو چه ددے سپین رنګ وو او د معاویه رضی الله عنه د زمانے پورے باقی وو،

بعض سیرتونو نقل کړیدی چه مقوقس بادشاه حاطب ته د نبی علیه السلام دپاره (۱۰۰۰) زر دیناره او شل جوړه جامے چه هغے ته قباطی وائی چه په بعض د هغه کپړو کی رسول الله ﷺ ته کفن هم ورکړے شو۔ او نور سامانونه ورکړل چه په هغے کی یوه د شیشے پیاله هم وه، رسول الله ﷺ به په هغے کی څکل کول۔ او یو غلام ئے هم راولیږلو چه د هغه نوم مابور الخصی وو۔

او حاطب ته ئے ذاتی طور سل دیناره او پنځه جوړه جامے ورکړے۔

حاطب وائی: په واپسئ کی ئے حفاظتی دسته ما سره روانه کړه او په یره سره ئے ما ته وویل چه ددے ځای نه لاړ شه چه قبطیان ددے خبرو نه خبر نشی نو زۀ د هغه ځای نه روان شوم، ما د هغه سره صرف پنځه ورځے تیرے کړے او حال دا چه نور وفدونه به د هغه په دروازه باندے د میاشت یا د هغے نه هم زیات پراته وو۔ (عیون الاثر ۲/۳۳۱)

او بیا ئے دا هم وویل: نزدے ده چه ستا د نبی حکومت به پدے علاقه (مصر) باندے راشی)

کله چه حاطب رضی الله عنه رسول الله ﷺ ته راواپس شو او د بادشاه آخری خبره ئے ورته وکړه نو رسول الله ﷺ وفرمایل: (ضَنَّ الْخَبِيثُ بِمُلْكِهِ وَلَا بَقَاءَ لِمُلْكِهِ)

دے خبیث صرف د خپل حکومت بچ کولو دپاره اسلام قبول نکړو حال دا چه د هغه

حکومت به باقی نهٔ پاتی کیږی۔

کله د چا دپاره تنظیم او بادشاهی د گمراهئ ذریعه وگرځی۔

رسول الله ﷺ به بیا د خپلے سخرگنئ (مصریانو) دومره لحاظ ساتلو چه خپلو صحابه کرامو ته ئے وفرمایل: که تاسو چرته مصر فتح کړو نو په هغے کی یوه علاقه ده د هغے به خصوصاً اکرام کوئ او دوی سره احسان کوئ د دوه وجونه یو دا چه هاجره رضی الله عنها چه د اسماعیل علیه السلام مور ده هغه د دغه ځای ده اوبله ماریه قبطیه زما په نکاح کی راغلے ده۔ د دومره وړاندے خپلولئ لحاظ ئے ساتلو۔

حافظ ابن کثیر رحمه الله د ماریه قبطیه تذکره کوی لیکی: دا زنانه د مصر د یوے علاقے (حَفَن) نه وه چه دا په اَنْصِنَا علاقه کی ده، سیدنا معاویه بن ابی سفیان رضی الله عنهما به د ماریه قبطیه دا حترام ساتلو دپاره د خپل حکومت په دوران کی ددے علاقے والو نه خراج (ټیکس) اخستل بند کړی وو ځکه چه دا د رسول الله ﷺ د ځوی ابراهیم والده محترمه وه۔ (البدایة والنهایة ۵/۲٦٤)

فائده: د کافرانو هدیه قبلول دوه قسمه دی (۱) یو حربی کافر دی چه جنگ ئے د مسلمانانو سره شروع دے نو د هغے هدیه قبلول صحیح نهٔ دی ځکه چه پدے کی مسلمان ذلیله کیږی او کافران خپل ځان عزتمند گنړی او خلکو ته دا ښکاره کوی چه زمونږ د مسلمانانو سره ضد نشته بلکه خاصو خلکو سره زمونږ دشمنی ده، مسلمانانو سره چل کوی۔ د کافرانو پدے کی دینی او دنیاوی مفادات وی۔

(۲) دویم داسے کافر چه جنگ ورسره نهٔ وی او په یوه علاقه کی وسیږی مسلمانان ورسره راشه درشه کوی نو هغوی ته تحفه ورکول یا اخستل روا دی لکه نبی علیه السلام به یهودیانو سره دغسے کول۔ سلیمان علیه السلام ته بلقیس هدیه راولیږله نو هغه ئے قبوله نکړه ځکه چه پدے کی د بلقیس مقصد دا وو چه د سلیمان علیه السلام حال معلوم کړی او په غلط نیت ئے رالیږلے وه د سلیمان علیه السلام دنیا پرستی او نبوت ئے معلومولو۔ که دین پرے نهٔ خرابیدو نو قبلول ئے جائز دی لکه دلته نبی علیه السلام د مقوقس هدایا قبولے کړے۔



(۳) دریم خط : کسریٰ (د ایران بادشاه) ته

نبی علیه السلام عبد الله بن حذافه السهمی رضی الله عنه ددې دپاره مقرر کړو چه دا به کسریٰ ته خط وړی، دا هغه بهترین صحابی دې چه په زمانه د عمر فاروق کې هرقل بادشاه د ملګرو سره نیولې وو او اراده ئې کړې وه چه دا د اُور کړی ته واچوی نو هغه ترې الله تعالیٰ په یوه خاص طریقه سره راخلاص کړو چه اوږده قصه ده روستو به راشی ان شاء الله تعالیٰ۔

قیصر او کسریٰ په هغه زمانه کې ډیر لوی طاقتونه وو لکه په نن زمانه کې د روس او امریکه په شان۔

عبد الله بن حذافه رضی الله عنه ته ئې خط ورکړو او هغه یواځې روان شو او دا امر ئې ورته وکړو چه کسریٰ بادشاه ستا خط نهٔ اخلی بلکه تهٔ به اول د هغه ګورنر عظیمِ بحرین ته ورځې چه د هغه نوم مُنْذِر بن سَاویٰ دې،

عبد الله بن حذافه رضی الله عنه دغه شتې او بیابانو نه یواځې ووهل او بحرین ته ورسیدو او منذر بن ساویٰ ته ئې د رسول الله ﷺ دغه خط ورکړو چه زهٔ رسول الله ﷺ رالیږلې یم چه کسریٰ ته دا خط ورکړم نو په بعض روایاتو کې راځی چه د بحرین دې ګورنر عبد الله بن حذافه رضی الله عنه ته وویل چه تهٔ خپله بادشاه خوا ته ورشه،

مګر ظاهر دا ده چه اول کې منذر بن ساویٰ بادشاه ته خبر ورکړو چه عربو کې یو سړې پیدا شویدې او د نبوت دعوه ئې کړیده، هغه خط رالیږلې دې بیا ئې ورته عبد الله بن حذافه رضی الله عنه ورولیږلو پدې وجه بادشاه ته د مخکې نه معلومه وه چه خط راتللو والا دې۔

نو کسریٰ بادشاه د فارس والا مشران خلك راجمع کړل او دا ئې وویل چه دا څوك دې چه مونږ ته خطونه رالیږی یو هنګامی اجلاس ئې راطلب کړو نو عبد الله بن حذافه سهمی رضی الله عنه چه د هغه ځای ته وررورسیدو نو په ساده لباس کې وو چه څادر ئې د ځان نه تاؤ کړې وو سر ئې غټ وو او بدن ئې وړوکې وو، کله چه هغوی ته ورغلو نو د بادشاه د دربار مخې ته پولیس ولاړ وو دا ئې دننه نهٔ پریښودو او بادشاه دوی ته وئیلی وو

چه ددهٔ نه خط واخلئ او دا دننه مهٔ راپریدئ،

نو پدے کی عبد الله بن حذافه رضی الله عنه دوی ته خط نهٔ ورکولو او دا ئے ورته وویل چه ما ته خپل نبی وئیلی دی چه دا خط به بل چا ته نهٔ ورکوے د بادشاه په لاس کی به ئے ورکوے نو زما د نبی حکم ماتیږی۔

(د نبی علیه السلام په حکم دومره مضبوط ولاړ وو)

پدے کی کسریٰ حکم وکړو چه سرے راپریدئ، عبد الله بن حذافه رضی الله عنه دننه ننوتو نو کسریٰ بادشاه ته ئے خط ورکړو، کسریٰ په خپل تخت ناست دے او د هغه مشران د هغه نه لاندے ناست دی او عبد الله بن حذافه رضی الله عنه یو طرف ته ودریدو نو پدے کی ئے د حِیَره علاقے یو عربی راوغوښتو چه دا خط ورته ولولی، خط ئے چه کولاؤ کړو په هغے کی لیکلے شوی وو: بسم الله الرحمن الرحیم۔

(مِنْ مُحَمَّدٍ رَسُوْلِ اللّٰهِ اِلٰی کِسْرٰی عَظِیْمِ فَارِسَ، سَلَامٌ عَلٰی مَنِ اتَّبَعَ الْهُدٰی، وَآمَنَ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ، وَشَهِدَ أَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِیْكَ لَهٗ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ، وَأَدْعُوْكَ بِدِعَایَةِ اللّٰهِ فَاِنِّیْ أَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَی النَّاسِ كَافَّةً لِیُنْذِرَ مَنْ كَانَ حَیًّا وَیَحِقَّ الْقَوْلُ عَلَی الْكَافِرِیْنَ، فَأَسْلِمْ تَسْلَمْ فَاِنْ أَبَیْتَ فَاِنَّمَا عَلَیْكَ اِثْمُ الْمَجُوْسِ)

(دا خط د محمد رسول الله د طرف نه د فارس حکمران کسریٰ ته لیکلے کیږی، سلام دے وی په هغه چا چه د هدایت تابعداری کوی، او په الله تعالیٰ او د هغه په رسول ایمان راوړی او دا گواهی وکړی چه نشته حقدار د بندگئ سویٰ د یو الله نه چه هیڅ شریکان نهٔ لری او محمد (ﷺ) د الله بنده او د هغه رسول دے، زهٔ تا ته د الله تعالیٰ دعوت درکوم، بیشکه زهٔ د الله رسول یم ټولو خلکو ته دے دپاره چه زهٔ هر هغه شخص ته یره ورکړم چه ژوندے دے او په انکار کونکو باندے د الله تعالیٰ فیصله ثابته شی، تهٔ مسلمان شه، محفوظ به پاتے شے او که تا انکار وکړو نو په تا باندے به د مجوسیانو گناه وی (ایران والا مجوسیان وو)۔

الکامل فی التاریخ (۲/۹۷) الطبقات الکبری (۱/۲۵۹) الرحیق المختوم)

هرکله چه په دهٔ باندے دا خط ولوستلے شو او دا لفظ پکی راغلو چه دا خط د محمد رسول الله د طرفنه دے کسریٰ ته نو دے په تکبر کی راغلو او دا خط ئے د هغه د لاس نه راخکلو او ذره ذره ئے وشوکولو او په تکبر کی ئے وویل: (عَبْدٌ حَقِیْرٌ مِنْ رَعِیَّتِیْ یَكْتُبُ

اسمُهٗ قَبْلِیْ) یو سپلك غلام دے زما د رعیت نه او خپل نوم زما دِ نوم نه مخکی لیکی۔
(تکبر همیشه دپاره د هلاکت ذریعه ده، ډیر کم عقل بادشاه وو۔

پدے کی بادشاه حکم وکړو چه دا سړے (عبد الله بن حذافه رضی الله عنه) وباسئ نو زۀ په خپله سورلئ راسور شوم او د هغه علاقے نه راووتم ځکه چه زما مقصد پوره شو، خط ورسیدو او نور د بادشاه خپل تکبر وو چه خط ئے ونۀ لوستلو او په هغے کی ئے فکر ونکړو نو ما ډیرے ورځے مزل کړے وو چه پدے کی د بادشاه غصه سړۀ شوے وه او دماغ ئے ځای ته راغلل بیا ئے حکم وکړو چه هغه سړے څه شو چه خط ئے راوړے وو، چه تپوس ترے وکړو چه دا خط چا رالیږلے او دا څه قصه ده،

عبد الله بن حذافه رضی الله عنه فرمائی: خلك ما پسے ډیر وګرځیدل لیکن زۀ ورته ملاؤ نشوم ځکه چه زۀ د ایران د سلطنت نه راوتے وم او جزیرة العرب کی داخل شوے وم۔ نو هرکله چه زه رسول الله ﷺ ته راورسیدم هغه ته مے قصه بیان کړه چه ستا خط ئے سمدست وشوکولو نو حدیث کی دی چه رسول الله ﷺ ورته بنیرے وکړے:
(اَللّٰهُمَّ مَزِّقْهُ كُلَّ مُمَزَّقٍ) (صحیح البخاری رقم: ٦٤ وغیره)

الله دوی ذره ذره کړه په پوره ذره ذره کیدو سره لکه څنګه ئے چه زمونږ خط وشوکولو)

مقوقس بادشاه د خط اکرام وکړو پدے وجه الله تعالیٰ ورته په دنیا کی ډیره موده پورے بادشاهی پریښوده لکه څنګه چه هرقل اکرام کړے وو نو الله تعالیٰ ورته ډیل او مهلت ورکړو او د ایران بادشاه د خط بیعزتی وکړه نو الله تعالیٰ په ډیره لږه موده کی ددۀ بادشاهی ختمه کړه۔ چه هغه اوږده واقعات دی او مخکی هم څه نا څه تیر شویدی۔

او څه به روستو بیان کړو خو اوس به دا قصه خلاصه کړو۔

نو پدے کی کسریٰ بادشاه خپل د یمن ګورنر ته حکم وکړو چه د هغه باذان نوم وو (ځکه چه کسریٰ بادشاه یمن نیولے وو) چه ستا ته نزدے په عربو (حجاز) کی یو سړے پیدا شویدے او د نبوت دعوه ئے کړیده دغه سړی پسے دوه کسان پولیس ولیږه او لاس تړلے ئے ما ته راوله نو کله چه باذان ته خط ورسیدو نو هغه دوه کسان پولیس (پهلوانان) مقرر کړل او دا ئے ورته ووېل چه حجاز نه به دغه سړے شاهنشاه (کسریٰ) ته بوځئ، هغوی دواړه حجاز ته راغلل کله چه طائف ته راورسیدل نو لاره ورته نۀ وه

معلومه نو تپوس ئے وکړو چه دلته یو سړے پیدا شویدے چه د نبوت دعوه ئے کړیده هغه چرته دے؟ نو د قریشو تاجران ورسره په لاره کی ملاؤ شو، هغوی ورته وویل چه څه پرے کوئ؟ دوی ورته ووئیل : مونږ هغه نیسو او کسریٰ بادشاه ته ئے لاس تړلے بوځو، هغه غوښتے دے، نو قریش ډیر زیات خوشحاله شو او زر زر ئے ورته لاره وخودله چه داسے به لاړ شئ او یثرب (مدینے) ته به ځان ورسوئ او دا تاجران مکے ته راغلل او قریشو ته ئے وویل چه خوشحاله شئ د محمد (رسول الله ﷺ) د شر نه به نزدے زمانه کی خلاص شئ ځکه چه کسریٰ بادشاه ورته په غصه شویدے اُوس به ئے درله ختم کړی،

خواران ظاهری اسبابو ته گوری او دیته نهٔ گوری چه فیصلے خو د بره الله دی۔

نو دا کسان مدینے ته ورسیدل او د رسول الله ﷺ سره ملاؤ شو چه مونږ باذان رالیږلی یو او هغه ته شاهنشاه حکم کړیدے چه تهٔ زمونږ سره لاړ شهٔ که مونږ سره لاړ شے کیدے شی چه خلاص شے او که لاړ نشوے نو تهٔ او ستا ټول قوم تباه کیدو والا دے، د شاهنشاه د غصے او د قوت نه ویریږه او دے دواړو گیری هم خرئیلے وے،

نبی علیه السلام دوی ته دا دعوت ورکړو : (وَيْلَكُمَا مَنْ فَعَلَ بِكُمَا هٰذَا)

هلاك شئ تاسو باندے دا کار چا کړیدے؟ نو هغوی وویل چه دا زمونږ د بادشاه حکم دے۔ (په هغه زمانه کی د ایرانیانو کار گیره خرئیل وو)

رسول الله ﷺ دے دواړو ته وویل چه اوس تاسو لاړ شئ او صبا ته راشئ خبرے به وکړو، دے دواړو وویل چه گنے سړے سوچ کوی او راسره ځی، کله چه صبا شو دوی راغلل چه څنگه چل دے سوچ دے وکړو؟ نو نبی علیه السلام دوی ته خبر ورکړو چه ستاسو مشر (بادشاه) زما رب وژلے دے۔ نو دے دواړو ډیر تعجب کی وویل :

(كُنَّا نَنْقِمُ عَلَيْكَ أَيْسَرَ مِنْ هٰذَا) زمونږ په تا باندے دا گمان وو چه گنے ستا بعض خبرے خطا دی تهٔ خو ډیرے غلطے خبرے کوے)

دا چرته کیدے شی چه کسریٰ بادشاه قتل شی۔ نو دوی وویل چه آیا مونږ ستا نه دا خبره ولیکو؟ نبی علیه السلام وفرمایل : بالکل ولیکئ او باذان ته دا دعوت ورکړئ چه ایمان راوړه، تا ته به ستا دا بادشاهی هم پریدم، صرف ایمان راوړه او که ایمان نهٔ راوړے نو زما بادشاهی هغه ځای ته رسیدو والا ده کوم ځای چه د کسریٰ بادشاهی ده۔

او کوم ځای ته چه اسونه او اوښان رسیدے شي هلته به زما بادشاهي رسیږي دغه دواړه سړي چه کله باذان ته یمن ته ورسیدل نو باذان دوی ته دا هم وئیلي وو چه ددے سړي پوره جان پېژندګلو او معلومات وکړئ چه څنګه سړے دے، ساحر جادوګر دے او د نبوت څه آثار پکې ښکاره کیږي او که نه ؟

کله چه دوی باذان ته خبر ورکړو چه داسے داسے حالات ئے دي او مونږ ته ئے دا خبر راکړو چه بادشاه مړ دے. کسریٰ چا وژلے دے. نو باذان وویل که چرته دا خبره حقه وي نو بیا به دا رشتینی نبي وي او که کسریٰ نه وي مړ نو بیا به دهٔ له بل پروګرام کوو او دا سړے به نیسو.

او پدے وخت کې د کسریٰ بادشاه په کورنۍ کې اختلافات پیدا شوي وو د هغه ځوي شیرویه راولګیدو پلار ئے قتل کړو پدے وجه چه دهٔ دوه ورانیاني کړے وے یو دا چه د خپل قوم شرفاء او عزتمند خلك ئے وژلي وو پدے بهانه چه د دوی د هرقل بادشاه سره پټ تعلق دے (هسے شبهه باندے ئے وژلي وو) او بل د زنانو بې عزتي ئے کړے وه نو چا ددهٔ ځوي ته شیطاني وکړه چه ستا دے پلار ستا د قوم بې عزتي وکړه او قوم ئے درله خراب کړل او قتل ئے کړل، قوم ئے ورته نیغ نیغ کولو،

نو هغه پلار مړ کړو د شپے ئے په خېټه کې په چاړه باندے ووهلو او مردار شو او د نبي علیه السلام ښیرے پرے ولګیدے. بادشاه په ځان پوهه شوے وو چه ځوي مے وژني نو ددهٔ یوه دوائي خانه وه په هغے کې ئے په زهرو باندے لیکلي وو چه (اَلدَّوَاءُ النَّافِعُ لِلْجِمَاعِ) هغه دوائي چه په جماع کې فائده ورکوي. (ددے په وجه به د ډیرو زنانو سره ملاویدے شي) او دا ځوي ئے پدے بد کار باندے ډیر عاشق وو، کله ئے چه پلار مړ کړو او شپږ میاشت پس ئے دغه خزانه راکولاوه کړه نو دا دوائي ولیدله نو دهٔ وویل چه زما پلار به دا دوائي خوړله او مزے به ئے کولے نو دهٔ دا دوائي په سر باندے راواړوله نو هغه هم پرے مردار شو.

او د الله کار ته وګوره چه دا شیرویه چه کله بادشاه شو نو دهٔ باذان ته خط لیکلے وو چه ما خپل پلار قتل کړو او تهٔ زما د طرفنه د یمن ګورنر شوے او زما پلار چه د عربو د دغه سړي په باره کې د نیولو کوم حکم کړے وو هغه مهٔ کوه (فَلَا تُهِجْهُ حَتّٰى يَأْتِيَكَ أَمْرِيْ) هغه راپسے مهٔ راپاڅوه تردے چه زما د طرفنه حکم در شي.

ددهٔ د مرګ نه روستو دوی ددهٔ لور مشره کړه نو رسول الله ﷺ ته دا خبر راورسیدو هغه وفرمایل: (لَنْ يُّفْلِحَ قَوْمٌ وَلَّوْا أَمْرَهُمُ امْرَأَةً)

هغه قوم به هیڅکله کامیابی مونده نکړی چه د خپلو کارونو مشری ئې ښځې ته وسپارله)

یعنی په دنیا کی به د داسې خلکو انجام ټیك نهٔ وی چه ښځې ته مشری حواله کړی. (او دا د الله تعالیٰ سزا وی چه هغه بندګانو ته ئې ورکوی چه هغوی نا اهله وی ځکه چه په بدانو او ناکاره خلکو باندې الله تعالیٰ ناکاره مشران راولی،

﴿وَكَذٰلِكَ نُوَلِّىْ بَعْضَ الظّٰلِمِيْنَ بَعْضًا بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ﴾ (الانعام:١٢٩).

(په ظالمانو باندې الله تعالیٰ ظالمان مقرروی د هغوی د بد عمل د وجه نه).

بیا د عمر فاروق رضی الله عنه په زمانه کی په ایران باندې حمله وشوه او ایران فتح شو او دغه زنانه د سیدنا حسین رضی الله عنه په نکاح کی راغله.

او باذان ته چه کله د شیرویه خط رارسیدلو نو د هغې نه مخکی مخکی دهٔ او ددهٔ ملګرو ایمان راوړو چه زمونږ شیرویه ته هیڅ ضرورت نشته مونږ دپاره په مشرئ کی محمد رسول الله ﷺ کافی دې. او کوم فارس والا چه په یمن کی اوسیدل نو هغوی هم ددې مشر د وجه نه ایمان راوړو نو ځومره لوی کار وشو چه اسلام یمن ته هم ورسیدو او د اسلام دائره فراخه شوه. ګویا که دا بادشاهی هم د رسول الله ﷺ د لاس د لاندې راغله ځکه دا بادشاهی اګرکه د باذان وه لیکن هغه صحابی شو اُوس به د رسول الله ﷺ هره خبره منی پدې وجه صلح حُدیبیه ته الله تعالیٰ لویه فتح وئیلې وه چه ددې په وجه د اسلام دعوت او دائره ډیره فراخه شوه، ملکونه د اسلام د لاندې راغلل.

ددې نه معلومه شوه چه د دین د دعوت ضرور فائده وی.

٤- خط : هِرَقل بادشاه ته - آغاز (٧) هجری /٦٢٨ء)

هرقل د روم بادشاه وو چه اوس زمانه کی ټول یورپ په روم کی داخل دې، هِرَقُل ته قَیصَر وائی دا نصرانی بادشاه دې او عجیبه دا ده چه دا د پخوانو کتابونو ښه عالِم هم

وو او ددے سره (كَانَ حَزَّاءً) دهٔ ته د علم نجوم مهارت هم حاصل وو۔
مونږ شریعتِ مُطهره د علم نجوم نه منع کړی یو، علم نجوم دیته وائی چه د ستورو نه خپل خیر او شر او د غیبو خبرے معلوموی، پدے کی به یو اثر وی لیکن مونږ ترے منع شوی وو لکه په جادو کی به د دنیا څه فائدے وی لیکن حرام دے۔
فارس والا په رومیانو باندے غلبه کړے وه او رومیان ئے په قُسطُنطِینیه علاقه کی رابند کړی وو نو الله رب العزت فارس والا مغلوبه کړل او رومیان ئے پرے غالبه کړل نو فارس والو د دوی سره صلحه وکړه او کوم څیزونه ئے چه ترے راتښتولی وو هغه ئے ورله واپس ورکړل فارس والو د دوی نه صلیب هم راوړے وو (صلیب د دوی په نیز باندے د عیسیٰ علیه السلام د سولئ کولو نشان دے چه په دے باندے مونږ عیسیٰ علیه السلام وژلے دے او ددے په وجه مونږ بخښلے شوی یو،
دا عجیبه عقیده ده چه عیسیٰ علیه السلام دوی وژلے هم دے او بیا د هغے په وجه دوی وبښلے شو اُوس هم نصاریٰ د صلیب تعظیم کوی)
هرکله چه صلیب هرقل بادشاه ته راواپس شو نو دهٔ دوه نذرونه ومنل یو دا چه په ما باندے دے نذر وی چه زهٔ به د حِمص (شام) علاقے نه پیاده بیت المقدس علاقے ته ځم او دا صلیب به په بیت المقدس کی په یوځائ کی لګوم مخکی چه څنګه وو همغه شان به ئے لګوم او بل د الله تعالیٰ د شکریه کولو دپاره به دا کار کوم۔
نو دا د حِمص نه راروان شو او په لاره کی به دهٔ ته خلکو ګلونه اچول او په هغے باندے به دهٔ خپے کیخودے ډیر غټ اکرام به ئے کیدو ځکه د ډیرو بادشاهانو بادشاه دے۔
تردے چه اِیلِیَاء یعنی بیت المقدس ته راورسیدو۔
دلته ددهٔ یو ګورنر دے د هغه سره په مجلس کی ناست دے نو پدے وخت کی رسول الله ﷺ یو صحابی دِحیَة بن خلیفه الکلبی رضی الله عنه ته خط ورکړو چه دا د شکل نه انتهائی ښائسته وو او ددے امت یوسف علیه السلام وو او دهٔ ته ئے دا خط پدے وجه ورکړو (والله اعلم) چه دا رومیان ښائسته وو نو نبی علیه السلام دا ورولیږلو چه د هغوی نه خپل ښائست هیر شی او دے دپاره چه هغوی وربورے توقے ونکړی نو د هغوی د شان مناسب سړے ئے ولیږلو۔
براهِ راست بادشاه سره ملاویدل ګران وی نو رسول الله ﷺ دهٔ ته حکم وکړو چه دا

خط به د بُصریٰ (علاقے) گورنر ته ورکړے دے دپاره چه هغه ئے هرقل بادشاه ته ورکړی نو هغه دا خط هرقل بادشاه ته ورکړو۔ نو هرقل بادشاه پو هه شو چه دا خط د یو سړی د طرفنه دے چه په عربو کی دے او هغه د نبوت دعوه کړیده نو د خط د لوستلو نه مخکی ئے تحقیق وکړو، اُوس تحقیق د چا نه وکړو؟ نو تپوس ئے وکړو چه آیا ددهٔ په دے علاقه کی څوك کلی وال او خپلوان شته او که نهٔ؟ ځکه که د بل چا نه تپوس وکړی نو هغه به ګډے وډے وائی صحیح حقیقت نشی وئیلے۔

ابو سفیان رضی الله عنه دا قصه بیانوی (کما فی البخاری، چه پدے وخت کی ابو سفیان لا ایمان نهٔ دے راوړے) چه هغه خپل فوج او پولیس په خپل شام علاقو کی په هر کلی او کوڅه کی وګرځول چه وګوری چه ددے سړی څوك خپلوان به وی او که نهٔ؟ نو زه او زما ملګری چه شام ته د تجارت دپاره تلی وو مونږه ئے په غزّه علاقه کی وموندلو دا په هغه موده کی چه مونږ د رسول الله ﷺ په حدیبیه کی صلح کړے وه،

فوج مونږ ته وویل چه بادشاه تاسو غواړی مونږ حیران شو چه د بادشاه زمونږ سره څه کار دے نو آخر دا چه مونږه ئے فوجی چونړئ ته بوتللو چه په هغے کی هرقل بادشاه وو او هغه ته د ملك نور مشران بَطَارِقه او اَسَاقِفَه راجمع شوی وو نو هرقل په عربئ نهٔ پو هیدو نو یو ترجمان ئے راطلب کړو او مونږ نه ئے په عربئ کی تپوس وکړو چه په تاسو کی دے نبی ته څوك نزدے نسب والا دے؟ نو ما ورته وویل چه زهٔ۔ وے ویل : ستا او د هغه څه خپلولی ده؟ ما وویل : زما د ترهٔ ځوی دے ځکه چه په دے ملګرو کی د بنی عبد مناف نه زما نه سویٰ بل څوك نهٔ وو۔

نو هرقل زهٔ خپلے مخے ته کینولم او دا نور ملګری ئے زما شا ته کینول (دا هم د هغه حکمت وو چه دوی ورته اشاره ونکړی) نو هغوی ته ئے دا وویل چه زهٔ ددے سړی نه د یو څو خبرو تپوس کوم که ما ته ئے دروغ وویل نو تاسو دهٔ لره دروغجن کړئ،

ابو سفیان وائی : قسم په الله که چرته ددے خبرے یره نهٔ وے چه خلکو کی به زهٔ په دروغو مشهور شم (چه ابو سفیان کاذب او دروغجن دے عربو کی ډیر غیرت وو)

نو ما به هغه ته ډیر دروغ وئیلی وے نو یوه خبره کی ما دروغ ونهٔ وئیل سِویٰ د یو تکی نه چه هغه مے په مینځ کی راوستلو خو هغے ته هرقل بادشاه هیڅ توجه ونکړه۔ هغه روستو راځی۔

نو هغه تقریباً لس تپوسونه وکړل او ما جوابونه ورکړل بیا هرقل د دغه تپوسونو حکمت بیان کړو چه ما دا تپوسونه تا نه ولے وکړل؟ ددے راز دا دے۔ دا روایت په صحیح بخاري او صحیح مسلم کی راغلے دے او دا ددے دپاره راوړے شویدے چه زمونږ رسول د الله حق رسول دے، د پخوانو کتابونو علماء هم ددهٔ تصدیق کوی۔

اول تپوس : (كَيْفَ نَسَبُهُ فِيكُمْ؟) ددهٔ نسب په تاسو کی څنګه دے؟ ابوسفیان : (هُوَ فِينَا ذُو نَسَبٍ) هغه په مونږ کی ډیر لوی نسب والا دے (ځکه قریشو کی بنو هاشم ډیر اُوچت دی) هرقل : (فَهَلْ كَانَ مِنْ آبَائِهِ مِنْ مَلِكٍ؟) ددهٔ په پلارانو کی څوك بادشاه تیر شویدے؟۔ ابوسفیان : نهٔ، هرقل :(فَهَلْ قَالَ هٰذَا الْقَوْلَ مِنْكُمْ أَحَدٌ قَطُّ قَبْلَهُ؟)

آیا دا خبره ددهٔ مخکی یو تن په تاسو کی کړیده؟۔ ابوسفیان : نهٔ، هرقل : فَأَشْرَافُ النَّاسِ اتَّبَعُوهُ أَمْ ضُعَفَاؤُهُمْ ؟) آیا شریفان خلك ددهٔ تابعداری کوی او که کمزوری؟، ابوسفیان : کمزوری او ضعیفان۔

هرقل : (أَيَزِيدُونَ أَمْ يَنْقُصُونَ؟) آیا دوی زیاتیږی او که کمیږی؟ ابوسفیان : زیاتیږی، هرقل: (فَهَلْ يَرْتَدُّ أَحَدٌ مِنْهُمْ سُخْطَةً لِدِينِهِ بَعْدَ أَنْ يَدْخُلَ فِيهِ ؟)

څوك چه په دے دین کی داخل شی نو آیا د هغوی نه بیرته مرتد کیږی چه دا دین بد وګڼړی ؟ ابوسفیان : نهٔ، هرقل : (فَهَلْ تَتَّهِمُونَهُ بِالْكَذِبِ قَبْلَ أَنْ يَقُولَ مَا قَالَ ؟)

آیا تاسو په دهٔ باندے ددے نبوت د دعوے نه مخکی د دروغو تهمت لګولے دے؟ ابوسفیان : نهٔ، هرقل : (فَهَلْ يَغْدِرُ؟) آیا دا دوکه کوی؟، ابوسفیان : نهٔ،
(وَنَحْنُ مِنْهُ فِي مُدَّةٍ لَا نَدْرِي مَا هُوَ فَاعِلٌ فِيهَا)

لیکن مونږ ددهٔ سره په صلح کی یو نهٔ پو هیږو چه څه به پکی کوی)

ابوسفیان وائی ما ته ددے خبرے موقعه ملاؤ شوه دا مے وویل چه کیدے شی اوس راسره دوکه وکړی۔ نو یو روایت کی دی چه ابوسفیان وائی هرقل دے خبرے ته هیڅ توجه او اعتبار ونکړو او بل روایت کی دی چه هرقل وویل چه هرکله مخکی ئے دوکه نهٔ ده کړے نو اوس هم درسره دوکه نهٔ کوی۔ نو زهٔ ئے په خپله خبره بیرته پښیمانه کړم۔

هرقل : (فَهَلْ قَاتَلْتُمُوهُ؟)

آیا ستاسو ددهٔ سره جنګ راغلے دے؟، ابوسفیان : آؤ، هرقل : (فَكَيْفَ كَانَ قِتَالُكُمْ اِيَّاهُ ؟) ستاسو د هغه سره څنګه جنګ وی؟ ابوسفیان : ما وویل : (اَلْحَرْبُ بَيْنَنَا

سِجَالٌ، يَنَالُ مِنَّا وَنَنَالُ مِنْهُ) جنگ زمونږ ترمینځ بوقے وی او د بوقے مطلب دا چه هغه مونږ ته مصیبت رارسوی او مونږ هغه ته، کله هغه غالب وی او کله مونږ۔

هرقل : (مَاذَا يَأْمُرُكُمْ؟) په څه خبره تاسو ته حکم کوی؟،

ابوسفیان : ما وویل : (أُعْبُدُوا اللّٰهَ وَحْدَهُ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَاتْرُكُوا مَا يَقُولُ آبَاؤُكُمْ، وَيَأْمُرُنَا بِالصَّلَاةِ وَالصِّدْقِ وَالْعَفَافِ وَالصِّلَةِ)۔

دا نبی مونږ ته وائی چه د الله یواځے بندګی وکړئ او د هغه سره شریکان مۀ جوړوئ او پریدئ هغه خبرے چه ستاسو پلاران ئے وائی او مونږ ته په مانځه او رشتیا وئیلو او په پاکدامنئ او صله رحمئ باندے حکم کوی۔

اُوس هرقل ابوسفیان ته د خپلو تپوسونو حکمت بیانوی چه دۀ کی ټول صفتونه د نبی موجود دی۔

ترجمان ته ئے وویل چه دۀ ته ووایه چه اول تپوس چه مے وکړو چه نسب ئے څنګه دے؟ نو تا وویل چه اوچت نسب والا دے نو (وَكَذٰلِكَ الرُّسُلُ تُبْعَثُ فِيْ أَحْسَابِ قَوْمِهَا) دغه شان رسولان د قوم په غوره نسب کی راليږلے شی (ددے څه حکمت دے ؟ نو وجه دا ده چه انبیاء علیهم السلام په امتونو باندے حجت وی د الله تعالیٰ، الله تعالیٰ به امتونو نه تپوس کوی چه تاسو ددے انبیاؤ خبره ولے نۀ ده منلے نو بیا به پرے د جنت او جهنم فیصله کوی نو څه وړه خبره نۀ ده نو ددے وجه نه الله تعالیٰ انبیاؤ ته داسے شخصیت ورکوی چه د خلکو پرے هیڅ قسم اعتراض نۀ وی څکه بیا د خلکو دلیل په الله باندے پاتی کیږی۔ بل انبیاء علیهم السلام چه الله تعالیٰ راليږی نو د نورو حدیثونو نه معلومیږی چه هغوی ته ښائسته مخ او ښائسته آواز ورکوی

(مَا بَعَثَ اللّٰهُ مِنْ نَبِيٍّ اِلَّا حَسَنَ الْوَجْهِ حَسَنَ الصَّوْتِ)

(شمائل الترمذی عن قتادة، وتحفة الاشراف بمعرفة الاطراف ١٩٢٢٧)

څکه چه د بد رنګ شکل او خراب آواز والا خوا ته څوك نۀ ورځی نو څوك الله تعالیٰ ته عذر پیش نکړی چه زۀ د هغه د آواز نه یریدلم څکه خوا له نۀ ورتلم۔ دغه شان انبیاء علیهم السلام باندے زکاتونه او صدقات الله تعالیٰ حرام کړی وی دے دپاره چه خلك ونۀ وائی چه ځان له جمعواری کوی، دغه شان د انبیاء علیهم السلام میراث هم بچو ته نۀ پاتی کیږی څکه چه خلك ونۀ وائی چه بچو له ئے بنه ګټه وکړه۔

هرکله چه انبیاؤ کی داسے کمالات وی او الله تعالیٰ ئے راولیږی او د بنده نه څه نهٔ غواړی او د هغه خیرخواهی کوی او بیا ئے هم بنده ونهٔ منی نو الله تعالیٰ ئے راګیروی او سخته سزا ورکوی۔

هرقل : ما تا نه تپوس وکړو چه آیا ددهٔ په پلارانو کی څوك بادشاه تیر شویدے؟ نو تا وویل : نهٔ، دا تپوس مے ځکه وکړو که ددهٔ په پلارانو کی څوك بادشاه تیر شوے وے نو ما به وئیلی وی چه د خپل پلارانو بادشاهی بیرته راواپس کول غواړی۔

ما تپوس وکړو چه دا دعوه د نبوت بل چا کړیده ؟ نو تا وویل نهٔ، نو ما وویل چه که دا خبره بل چا کړی وی نو دا به د هغه نقل کوی او د هغه اقتداء به کوی،

ما تپوس وکړو چه ددهٔ ملګری اشراف (مالدار) دی او که کمزوری؟ تا وویل : کمزوری، (وَكَذٰلِكَ أَتْبَاعُ الرُّسُلِ)۔ د رسولانو تابعدار همدغه شان کمزوری وی او د دین کار همیشه دپاره د کمزورو خلکو نه الله تعالیٰ اخستے دے۔

ما تپوس وکړو چه تاسو په دهٔ باندے د دروغو تهمت لګولے ؟ تا وویل : نهٔ، نو ما وویل چه داسے نشی کیدے چه یو سړے په خلکو دروغ نهٔ وائی او په الله دے دروغ شروع کړی۔ او ما ستا نه تپوس وکړو چه ددهٔ ملګری زیاتیږی او که کمیږی ؟ تا وویل : زیاتیږی (وَكَذٰلِكَ أَمْرُ الْإِيْمَانِ حَتّٰى يَتِمَّ) نو د ایمان حال هم دغه شان دے چه وخت په وخت زیاتیږی تردے چه پوره شی۔ یعنی لکه څنګه چه نفری زیاتیږی نو دغه شان ایمان هم زیاتیږی۔ دویمه معنیٰ دا ده چه د ایمان نه مراد اهل ایمان دی یعنی د حق نښه دا ده چه هغے ته به خلك وخت په وخت راځی او څوك به ترے نهٔ اوړی۔

ما تپوس وکړو آیا یو تن په دوی کی د دین د قبلولو نه روستو مرتد کیږی چه د دین نه خفه شی؟ تا وویل : نهٔ، (وَكَذٰلِكَ الْإِيْمَانُ حِيْنَ تُخَالِطُ بَشَاشَتُهُ الْقُلُوْبَ)۔

ایمان هم دغه شان وی کله چه ددے تازګی د زړونو سره یو ځای شی نو بیا بنده نهٔ مرتد کیږی۔

د ایمان تازګی چه کله زړونو ته ننوزی یعنی حق په بصیرت او د زړه نه ومنی او د توحید او د محمد رسول الله ﷺ د تابعداریٔ په خوند پوهه شی نو بیا بنده په هیڅ حالت کی حق نهٔ پریدی، که جیل کی وی او که د لوږے نه مری او که څوك د دنیا لالچ ورکوی ځکه چه هغے کی بیل خوند دے، اُوګوره فرعون خپلے بی بی ته څومره

تکلیف ورکوی، د هغې بچې وژنې، ګرمو شګو کې ئې اچوې عذابونه ورکوی مګر هغې بادشاهي پرېښې ده او دغه تکلیفونو ته ئې غاړه اېښې ده، په مکه کې کمزورو مومنانو سمیه، یاسر او عمار او بلال او خباب بن الارتؓ رضی الله عنهم نا برداشته تکلیفونه تیروی او د دنیا راحتونه پریدی او په ایمان باندې مضبوط ولاړ وی دا هغه د ایمان خوند دې چه زړه ته کوز شویدې، دا خوند د دنیا په هیڅ نعمت کې نشته نۀ په مال کې نۀ په ښځه او نۀ په عهده کې۔

نو ددې نه دا فائده معلومه شوه چه د حق نښه دا ده چه خلك به ورته ډیر راځي او د باطل نښه دا ده چه خلك به ترې اوړی، هیڅوك د حق قبلولو نه روستو او د تقلید پرېښودو نه روستو هیڅوك تقلید نۀ خوښوی، د نصرانیت نه خلك اسلام ته راوړی او د اسلام نه څوك نصرانیت ته نۀ اوړی، آؤ بعض کسان د اسلام نه بل دین ته اوړی لیکن پدې حدیث کې ئې ورسره دا قید لګولې دې (سُخْطَةً لِدِيْنِهٖ) یعنی چه اسلام بد وګنړی او بل دین ښه وګنړی او داسې څوك نشته چه هغه داسې ووائی چه په اسلام کې خوند نۀ وو په مونځ کې، د الله په تعلق کې خوند نۀ وو ځکه د اسلام نه واوړیدم بلکه هغه چه د اسلام نه اوړی نو د خواهشاتو دپاره نور په زړه کې ئې د اسلام څه نا څه قدر وی، د اسلام بدی نشی بیانولې لیکن خواهشاتو پرې غلبه کړې وی، د اسلام نه ئې پوره خوند نۀ وی اخستې ځکه پرې خواهشات غلبه وکړی۔

ما تپوس وکړو آیا دا دوکه کوی؟ تا ووېل: نۀ، (وَكَذٰلِكَ الرُّسُلُ لَاتَغْدِرُ)

نو دغه شان رسولان وی چه دوکه نۀ کوی۔

ما تپوس وکړو: ستاسو ددۀ سره جنګ راغلې دې؟ او د جنګ څه نتیجه وی؟ نو تا ووېل چه زمونږ ترمینځ جنګ نمبر په نمبر وی کله د دوی غلبه وی او کله زمونږ.

(وَكَذٰلِكَ الرُّسُلُ تُبْتَلٰى ثُمَّ تَكُوْنُ لَهُمُ الْعَاقِبَةُ)

نو دغه شان رسولانو باندې امتحان کیدې شی لیکن بیا عاقبت او انجام د رسولانو د کامیابئ وی۔ حق لـه الله تعالیٰ خامخا غلبه ورکوی خو شرط دا دې چه ترتیب او اصول صحیح وی۔

بیا ما تپوس وکړو چه دا تاسو ته په کومو خبرو حکم کوی؟ نو تا ووېل: چه پښ توحید او د شرك نه په منع کیدو او په مانځه او رشتیا او پاکدامنئ او صله رحمئ

حکم کوی نو ددے په باره کی ئے څه ونهٔ وئیل (ځکه چه نبی همدغه شان اُوچتو صفاتو باندے حکمونه کوی) بیا ئے وویل :

(فَإِنْ كَانَ مَا تَقُوْلُ حَقًّا فَسَيَمْلِكُ مَوْضِعَ قَدَمَيَّ هَاتَيْنِ)

که تا ما ته صحیح او حق جوابات راکړی وی نو زړ دے چه هغه ته به زما ددے قدمونو په ځای (یعنی زما په مملکت) باندے غلبه حاصلیږی،

(دا خبره هغه ته د پخوانو کتابونو نه معلومه وه، پخوانو کتابونو کی ئے لیکلی وو چه مَوْلِدُهٗ بِمَكَّةَ وَمُهَاجَرُهٗ بِطِيْبَةَ وَمُلْكُهٗ بِالشَّامِ) د آخری نبی د پیدائش ځای به مکه وی او د هجرت ځای به ئے مدینه وی او بادشاهی به ئے په شام باندے وی، ددے وجه نه معاویه رضی الله عنه هلته تلے وو او د هغه ځای نه ئے بادشاهی چلوله)۔

بیا ئے وویل : زما دا یقین وو چه آخری نبی راتلونکے دے لیکن زما دا خیال نهٔ وو چه دا به د عربو نه وی۔ (دے ځای کی د هرقل علم کمزورے شویدے ځکه چه په پخوانو کتابونو کی ئے د لیکلی وو چه دا به په مکه کی پیدا کیږی او د هجرت ځای به ئے مدینه وی او دا د عربو ځایونه دی)۔

بیا ئے وویل : (فَلَوْ أَعْلَمُ اَنِّیْ أَخْلُصُ اِلَيْهِ لَتَجَشَّمْتُ لِقَاءَهٗ)

که چرته ما ته یقین وے چه زهٔ به دے نبی ته ځان ورسوم نو ما به ډیر تکلف کړے وے د هغه د ملاقات او د اوږد سفر مشقت به مے برداشت کړے وے او د هغه سره به مے ملاقات کړے وے، بیا ئے دا ازمان هم وکړو : (وَلَوْ كُنْتُ عِنْدَهٗ لَغَسَلْتُ عَنْ قَدَمَيْهِ)

او که زهٔ د هغه په خوا کی وے نو ما به د هغه قدمونه وینځلی وے)، ډیرو خلکو ته بادشاهی لوی مصیبت ګرځیدلے وو، بادشاه ته څه تکلیف دے چه د کلی نه راوځی او په چکر باندے مدینے ته راشی او په نبی علیه السلام باندے ایمان راوړی او بیرته لاړ شی لیکن امتحان کی ناکام شو۔

د دوه بادشاهانو عبرتناکه قصه

د عبرت یوه قصه په حدیث کی راغلے ده چه په هغے کی د دنیا بی رغبتی ذکر ده۔

سیدنا عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی : په بنی اسرائیلو کی یو بادشاه وو

چه یوه ورځ ئې په خپله بادشاهۍ کې سوچ وکړو چه دا خو ختمیدونکې ده او مونږ ددې په وجه بانديې د الله تعالیٰ د بندګۍ او د هغه د تعلق نه جدا یو نو د شپې پټ د خپلې بنګلې نه راووتو او ددې ملك نه ووتو یو ځنګل ته لاړو چه هلته د بل بادشاه حکومت وو نو د دریاب غاړې ته ورغې هلته ئې څه کسان ولیدل چه په مزدورۍ باندې کچه خختې جوړوی نو ذوی ورته ووېل چه زۀ هم تاسو سره مزدوری کوم، نو هغوی سره به ئې مزدوری کوله او د خپل لاس په کار باندې به ئې خوراك کولو او زیاتي پیسې به ئې صدقه کولې په همدې حالت کې پدې ځنګل کې وسیدو تردې چه دغه خلکو کې په ډیر عبادت باندې مشهور شو تردې چه بادشاه ته دا خبره ورسیده چه دلته یو سړې دې چه ډیر غوره او عبادت ګزار دې نو بادشاه ددۀ پسې جواب راولیږلو نو دۀ ووېل چه زما سره د بادشاه څه کار دې زۀ یو عاجز سړې یم، درې کرته بادشاه استازې راولیږلو لیکن دې ورسره نۀ تللو او وې ویل چه زما او د بادشاه څه کار دې؟

نو بادشاه ته معلومه شوه چه سړې ډیر کمالي دې نو خپله په اس باندې سور شو او ددۀ خوا ته راغې دۀ چه کله بادشاه ولیدو نو منډه ئې کړه نو بادشاه هم ورپسې منډه کړه لیکن دا ئې ونۀ نیولو نو آواز ئې ورته وکړو چه اې د الله بنده ! زما د طرف نه په تا باندې څه تکلیف نشته لږ ودریږه نو هغه ودریدو، بادشاه د هغه نه تپوس وکړو چه ته څوك ئې الله دې په تا رحم وکړي؟ هغه ورته ووېل : زۀ فلانې ځوی د فلانې یم، د فلانې حکومت بادشاه یم، ما په خپل کار کې فکر وکړو نو ما ته معلومه شوه چه زۀ مړ کیدونکې یم او دا بادشاهي مې ختمیدونکې ده او دې زۀ د خپل رب د بندګۍ نه مشغول کړې یم نو بس دا بادشاهي مې پریښوده او دلته راغلم چه د خپل رب بندګي به کوم نو هغه ورته ووېل : (مَا أَنْتَ بِأَحْوَجَ إِلَى مَا صَنَعْتَ مِنِّيْ)

تۀ دې کار ته زما نه ډیر محتاج نۀ ئې) یعني مونږ هم دې بادشاهۍ کې مشغول یو او د خپل رب بندګۍ ته فارغ نۀ یو نو زۀ خو دې بندګۍ ته ډیر محتاج یم۔ بیا د اس نه راکوز شو او هغه اس ئې پریښودو او ددې سړي سره یو ځای شو نو دواړو به د الله تعالیٰ بندګي کوله او د خپل لاس مزدوری به ئې کوله نو (یوه ورځ) دې دواړو د الله تعالیٰ نه دعا وغوښته چه مونږ دواړه په یو ځای مړه کړه نو الله تعالیٰ د دوی دعا قبوله کړه او په یو ځای باندې مړۀ شول۔ عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمائي:

(لَوْ كُنْتُ بِرُمَيْلَةَ مِصْرَ لَأَرَيْتُكُمْ قُبُوْرَهُمَا بِالنَّعْتِ الَّذِىْ نَعَتَ لَنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ)

که چرته زهٔ د مصر په رُمَیْلَه (یا رَمْلَه) علاقه کې وے نو ما به تاسو ته ددے دواړو قبرونه خودلي وے ځکه چه مونږ ته رسول الله ﷺ د هغے پوره خودنه کړے وه)۔

(مسند احمد٤٣١٢ والبزار (٣٦٨٩) والطبراني في الاوسط والكبير وقال الهيثمي في المجمع ١٠/٢١٩) اسناده حسن) السلسلة الصحيحة ٦/٨٠٥)

پدے قصه کې ډیر عبرت پروت دے او دا هم معلومه شوه چه بادشاهي او مشري انسان د الله تعالیٰ د بندګئ نه مشغول کوی نو دے خبرو ته سوچ پکار دے چه انسان داسے عهده او کاروبار کې داخل نشي چه د هغے په وجه د الله تعالیٰ د بندګئ نه مشغول شي او دے بادشاهانو ډیره قرباني ورکړه ځکه چه داسے بادشاهي پریښودل انتهائي ګران کار دے لیکن کله چه د الله تعالیٰ هدایت زړه کې راشي نو بیا دا کارونه آسان شي)۔

بیا هرقل د رسول الله ﷺ خط راوغوښتو او هغه ئے ولوستلو۔

په هغے کې ئے داسے لیکلي وو:

(بسم الله الرحمن الرحيم مِنْ مُحَمَّدٍ عَبْدِ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ اِلٰى هِرَقْلَ عَظِيْمِ الرُّوْمِ، سَلَامٌ عَلٰى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدٰى أَمَّا بَعْدُ فَاِنِّىْ أَدْعُوْكَ بِدِعَايَةِ الْاِسْلَامِ أَسْلِمْ تَسْلَمْ، يُؤْتِكَ اللّٰهُ أَجْرَكَ مَرَّتَيْنِ فَاِنْ تَوَلَّيْتَ فَاِنَّ عَلَيْكَ اِثْمَ الْأَرِيْسِيِّيْنَ وَ ﴿ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا اِلٰى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَنْ لَّا نَعْبُدَ اِلَّا اللّٰهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهٖ شَيْئًا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقُوْلُوا اشْهَدُوْا بِأَنَّا مُسْلِمُوْنَ﴾

دا خط د محمد د طرف نه چه د الله بنده او د هغه رسول دے هرقل ته لیکلے کیږی چه د رومیانو مشر دے، سلام دے وی په هغه چا چه د هدایت تابعداری وکړی، اما بعد: زهٔ تا ته د اسلام دعوت درکوم اسلام قبول کړه، سلامتیا به درکړے شي، الله تعالیٰ به دوه کرته اجر درکړی او که تا مخ واړولو نو په تا باندے به ددے دهقانانو ګناه راځي او بیا ئے دغه آیت ولوستلو د کوم تشریح چه مخکې خط کې تیره شوه۔

ابوسفیان وائي هرکله چه هرقل دغه خبرے وکړے او دغه خط ولوستلے شو نو د هغه په خوا کې شور زیات شو او آوازونه پورته شو (ځکه چه په داسے وخت کې عوام خلك دا خبرے نهٔ برداشت کوی چه د خپل دین نه ئے څوك اړوی او شیطان هم داسے

مجلسونو ته حاضر شوي وي زور لګوي چه خلك راپاڅوي او په مخالفت کې ئې ودروي، سم ئې پرسولي وي نو کله چه شور شو نو بادشاه حکم وکړو چه دا میلمانه وباسئ بیا به ګورو، نو مونږ راوېستلې شو۔

ابوسفیان وائي : ما خپلو ملګروته ووېل : (لَقَدْ أَمِرَ أَمْرُ ابْنُ أَبِي كَبْشَةَ إِنَّهُ يَخَافُهُ مَلِكُ بَنِي الْأَصْفَرِ) د ابن ابي کبشه خبره خو ډېره غټه شوه چه دهٔ نه ددې سپین پوسته خلکو (رومیانو) بادشاه هم یرېږي، رسول الله ﷺ ته به مشرکانو ابن ابي کبشة (د ابو کبشه ځوی) وئیلو د رسول الله ﷺ نوم به ورله په خوله نهٔ ورتلو د ډېر ضد د وجه نه او دا نوم به ئې ورته ددې وجه نه وئیلو چه ابو کبشه د رسول الله ﷺ د مور د طرفنه وړاندې نیکه دې دا ابو قَيْلَه وو او (قیله ام وهب بن عبد مناف بن زهرة) وه چه دهٔ ته به ئې ابو کبشه وئیلو او دا ئې ورته ځکه وئیلو چه دهٔ د عامو عربو خلاف کړې وو چه دهٔ به د شِعرىٰ ستوري عبادت کولو نهٔ نورو عربو ګویا که ابو کبشه عربو ته نوې دین راوړې وو او رسول الله ﷺ هم دوی ته د توحید دین راوړې وو نو ځکه به ئې هغه ته نسبت کولو۔

ابوسفیان وائي : (فَمَا زِلْتُ مُوْقِنًا أَنَّهُ سَيَظْهَرُ حَتَّى أَدْخَلَ اللَّهُ عَلَيَّ الْإِسْلَامَ)

د هغه وخت نه زما یقین راغلو چه دا نبي به غالبه کېږي تردې چه الله تعالىٰ زما زړه ته (په اتم کال د هجرت) اسلام راننوېستو۔

کله نا کله انسان ته د کافرو په ملك کې د هدایت توفیق ورکړې شي، ابوسفیان له دا سبب د هدایت وګرځېدو چه هرقل د رسول الله ﷺ د نبوت اقرار وکړو۔

دې خط یو خو اثر دا وکړو چه ابوسفیان په هرقل باندې ددې خط اثر ولیدو۔ او بل په هرقل باندې ئې دا اثر وکړو چه دحیة الکلبي رضی الله عنه ته ئې په تحفه کې ډېر مالونه او قیمتي کپړې ورکړې او دا ئې ورته ووېل : قسم په الله ! زهٔ یقیناً پو هېږم چه ستاسو رسول د الله د طرف نه رالیږلې شوې نبي دې، یقیناً دا هغه نبي دې چه مونږه ئې انتظار کولو او د همدهٔ ذکر مونږ په خپلو کتابونو کې مونده کوو لیکن ما ته خطره ده که زهٔ په دهٔ باندې ایمان راوړم نو رومیان به ما قتل کړي، که دا خطره نهٔ وې قسم په الله ما به په هغه باندې ایمان راوړې وې۔

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي : که هرقل د خط پدې الفاظو (أَسْلِمْ تَسْلَمْ)

(مسلمان شه، محفوظ به پاتے شے) حقیقی معنیٰ کی سوچ کرے وے چه ددے نه د دنیا او د آخرت دواړو سلامتیا او حفاظت مراد دے او مسلمان شوے وے نو د هرے خطرے نه به محفوظ شوے وے لیکن هر قسم توفیق د الله تعالیٰ په لاس کی دے)

(السیرة الحلبیة فی سیرة الامین المامون لعلی بن برهان الدین الحلبی ٣٨٧/٣) فتح الباری (٣٧/١)

سریه د زید بن حارثه رضی الله عنه حسمیٰ ته

دحیة الکلبی د هرقل بادشاه نه راروان شو په لاره کی په حِسمیٰ علاقے راتیرېدو نو هلته ورته د جُذام قبیلے څه کسان راووتل (هُنَیُد بن عارض) او د هغه ځوی (عارض بن هُنید) او د هغه سره د بنو جذام نور کسان وو نو د دِحیَه نه ئے ټول مالونه او کپړے واخستے او هیڅ ئے ورته پرینښودل صرف دائے قتل نکړو دلته د جذام قبیلے څه مسلمانان وو هغوی د دغه کفارو مقابله وکړه لیکن هغوی پرے کامیاب شو نو دحیة الکلبی راغے کور ته د داخلیدو نه مخکی سیده رسول الله ﷺ ته راغلو او دا قصه ئے ورته بیان کړه چه ما سره داسے کار وشو نو رسول الله ﷺ په جلتیٔ سره د مجاهدینو یوه دسته تیاره کړه او زید بن حارثه رضی الله عنه ئے ورله امیر مقرر کړو او پنځه سوه (٥٠٠) کسان ئے ورکړل او حِسمیٰ علاقے ته ئے ولیږل چه د جذام قبیلے نه بدله واخلی، ولے دوی په اسلامی ملك کی امن خراب کړیدے۔

(حِسمیٰ د شام د ځنګلاتو نه د یو ځای نوم دے د وادی القریٰ نه شا ته علاقه ده ددے او د وادی القریٰ ترمینځ د دوه شپو فاصله ده او د تبوك په طرف دے، تبوك والا خپل مغرب طرفته د حسمیٰ علاقے غرونه لیدلے شی) (معجم البلدان ٢٥٨/٢)۔

زید بن حارثه رضی الله عنه لاړو او دِحیة الکلبی هم ورسره وو دوی به د ورځے پټیدل او د شپے به ئے مزل کولو تردے چه په دغه علاقے والو باندے ئے په صبا کی حمله وکړه د هغوی نه ئے ډیر کسان مردار کړل او هنید بن عارض او د هغه ځوی عارض بن هنید دواړه ئے قتل کړل او د هغوی زر (١٠٠٠) اُوښان او پنځه زره (٥٠٠٠) ګډے بزے ونیولے او سل زنانه او ماشومان ئے قیدیان کړل،

پدے کی د بنو جذام قبیلے بعض مسلمانان راغلل چه د هغوی مشر زید بن رفاعة

الجذامی وو او نبی علیه السلام ته ئے احتجاج وکړو چه اے د الله رسوله! مونږ مسلمانان یو او مونږ د دحیة الکلبی مدد هم کړیدے او زید بن حارثه په ناخبرئ کی زمونږ گډے بزے او زنانه او ماشومان راوستی دی نو رسول الله ﷺ د دوی نه دا خبره قبوله کړه او بیرته ئے ورله ورکړل ځکه اسلام د خلکو مالونو ته محتاج نهٔ دے بلکه مقصد پکی خلکو ته ادب ورکول دی۔ او دوی ته ئے وویل چه ستاسو نه چه کوم مړی شوی دی د هغوی به څه حال وی؟ نو په دوی کی ابویزید بن عمرو وویل چه یارسول الله! مونږ ته دا ژوندی قیدیان راپریده او څوك چه قتل شویدی نو هغه زما د قدمونو نه لاندے شو ما معاف کړل۔ نو رسول الله ﷺ زید بن حارثه ته حکم وکړو چه دوی ته خپل قیدیان ورکړی۔ (امتاع الاسماع ۱/۲۶۸) وغزوات الرسول وسرایاه لابن سعد (۱/۴۴)

دا سریه په اوم کال د جمادی الثانیه میاشت کی واقع شویده لیکن دلته د مناسبت د وجه نه ذکر شوه۔

بیا په روایت د بخاری کی راځی چه هرقل بادشاه د نبی علیه السلام نبوت د مخکی نه د علم نجوم په ذریعه معلوم کړے وو خلاصه ئے داسے ده چه هرقل بادشاه یوه ورځ سهر کی ډیر بی سوره او گډوډ راپاځیدو نو بعض قومندانانو ورته وویل چه دا هیئت او شکل دے څنګه ناشنا دے ولے خفه ئے؟ هغه ورته وویل: بیگاه ما په ستورو کی وکتل او د هغے نه راته معلومه شوه چه یو سړے دے چه د هغه بادشاهی به دے دنیا راتللو والا ده او هغه سړے خپله هم سنت شویدے او د هغه قوم هم سنت شویدی مَلِكُ الخِتَان ورته وائی۔ یعنی سنت گیری کوی، نصاریٰ شو په گان وو سنت گیری صرف مسلمانان او یهودیان کوی۔ نو هغه تپوس وکړو چه څوك سنت گیری کوی؟ خلکو ورته وویل مهٔ خفه کیږه یهودیان سنت گیری کوی (فَلَا يُهِمَّنَّكَ شَأْنُهُم،

د هغوی نه مهٔ پریشانه کیږه، یهودیان کم خلك دی تهٔ د خپل ملك ښارونو گورنرانو ته خطونه ولیکه چه د هغوی سره څومره یهودیان دی هغه به قتل کړی نو په یهودیانو باندے دغه امتحان راغے نو دوی د هغوی په قتل شروع شو،

په دے کی لږه زمانه روستو هرقل بادشاه ته یو سړے راغے چه هغه د غسان باشاه رالیږلے وو او د رسول الله ﷺ د راښکاره کیدو خبرئے ورته ورکولو نو هرقل بادشاه د هغه نه تپوس وکړو چه لاړ شئ دغه سړے وگورئ چه سنت گیری کوی او که نهٔ؟ نو

خلك لاړل او خبر ئے راوړو چه هغه سنت شویدے او د عربو په باره کی ئے تپوس وکړو چه دوی سنت کیری کوی او که نهٔ؟ نو هغه سړی ورته وویل چه آؤ دوی هم سنت کیری کوی نو هرقل پوهه شو او دا ئے وویل: (هٰذَا مَلِكُ هٰذِهِ الْأُمَّةِ قَدْ ظَهَرَ)

دا سړے چه راښکاره شویدے دا به ددے امت بادشاه ری)

هرقل یو بل تحقیق شروع کړو، د هرقل بادشاه په رُومیه علاقه کی یو بل ملګرے وو چه هغه ددهٔ سره په علم نجوم کی یو شان ماهر وو هغه ته ئے جواب ولیږلو چه تهٔ هم په ستورو کی وګوره چه دا زما خبره صحیح ده او که نهٔ چه ددے خلکو بادشاهی راتللو والا ده۔ او خپله هرقل حِمص ته راغے لړ وخت ئے لا نهٔ وو تیر کړے چه دغه ملګری ورته د رُومیه نه جواب راولیږلو چه ما په ستورو کی وکتل چه ستا خبره صحیح ده او ددے خلکو بادشاهی به راځی۔

(علم نجوم ناروا علم دے لیکن کله نا کله ئے یو خبره صحیح شی لکه د جادو په شان)

نو هرقل بادشاه ته ښه تحقیق وشو چه دا د الله حق رسول دے ځکه چه د ابوسفیان د جوابونو نه هم ورته معلومه شوه او د خپل علم نجوم نه هم ورته معلومه شوه او د بل ملګری نه هم ورته پته ولګیده نو پوره تحقیق ته ورسیدو نو په زړهٔ کی ئے راغله چه ایمان راوړم او د حق نبی تابعداری پکار ده لیکن ترتیب به څه وی نو دهٔ ځان سره ووېل چه مشران خلك ځان سره ملګری کوم که دوی ایمان راوړو نو ټول خلك به ایمان راوړی نو دهٔ په حِمص کی یو دعوت وکړو چه د روم غټان او مشران او بطارقه او اساقفه او احبار او رهبان ئے راوغوښتل او په یوه غټه قلعه کی ئے دوی ته دعوت وکړو او د هغے دروازے ئے بندے کړے او دا ورته د یو اُوچت ځای نه راښکاره شو او دا دعوت ئے ورته ورکړو چه:

(یَا مَعْشَرَ الرُّوْمِ! هَلْ لَّكُمْ فِي الْفَلَاحِ وَالرُّشْدِ، وَأَنْ يَّثْبُتَ مُلْكُكُمْ فَتَبَايَعُوْا هٰذَا النَّبِيَّ)

اے رومیانو! آیا ستاسو په کامیابیٔ او هدایت کی مینه شته؟ او بله دا چه ستاسو بادشاهی به هم مضبوطه پاتی شی نو هغه دا چه راځئ چه ددے نبی سره بیعت وکړو)۔

هرکله چه هرقل دا خبره وکړه نو ټولو خلکو تړے منډه کړه:

(فَحَاصُوْا حَيْصَةَ حُمُرِ الْوَحْشِ إِلَى الْأَبْوَابِ)۔

نو خلکو د صحرائی خرو په شان دروازو طرفته منډه کړه او دے خبرے منلو ته تیار نشو، د حق نه داسے وتښتیدل څکه چه یو تن به تا ښه سړے ګڼړی خو چه کله دے حق ښکاره کړو،نو بیا به درنه دغه شان منډے وهی۔ نو هغوی چه دروازو ته ورسیدل نو دروازے ئے وموندلے چه بندے شوے وے،

نو هرکله چه هرقل بادشاه د دوی نفرت ولیدو او د دوی د ایمان نه نا امیده شو نو په دهٔ باندے رعب راغے چه افراتفری جوړه شوه او بادشاهی مے خرابه نشی۔

(دهٔ له پدے وخت کی لږ صبر پکار وو)

نو دهٔ حکم وکړو چه دا خلك ما ته بیرته راواپس کړئ خلك بیرته راواپس شو نو دهٔ خلکو ته وویل : (اِنِّیۡ اِنَّمَا قُلْتُ مَقَالَتِیۡ آنِفًا أُخْتَبِرُ بِهَا شِدَّتَكُمْ عَلٰی دِیۡنِكُمْ فَقَدْ رَأَیْتُ)۔

اے خلکو ! ما چه اوس کومه خبره تاسو ته وکړه نو پدے سره ما ستاسو په دین باندے مضبوطوالے معلومولو او امتحان مے درباندے کولو نو ما ته پته ولګیده چه تاسو په خپل دین ډیر مضبوط یئ)۔ او په همدے باندے کلك شئ۔ (خلکو وویل چه همداسے خبرد کوه نوی دین ته مو مهٔ اړوه)

نو خلکو دهٔ ته سجده وکړه او ددهٔ نه راضی شو۔

امام بخاری وائی : (فَكَانَ ذٰلِكَ آخِرَ شَانِ هِرَقْلَ) دا د هرقل بادشاه آخری حالت وو چه د دین په مقابله کی ئے بادشاهی غوره کړه، او بیا روستو زمانه کی په خپل کفر کی د دنیا نه لاړو۔ (صحیح البخاری ١ /٧) باب بدء الوحی)

مګر د رومیانو سره الله تعالیٰ دا کار وکړو چه د دوی بادشاهی ئے ډیره موده پورے قائمه وساتله او ددے دوه وجے معلومیږی (والعلم عند الله) یو دا چه حدیث د مسلم کی راځی چه په رومیانو کی بعض ښائسته اخلاق او صفات دی یو دا چه دوی د خلکو سره احسانات کوی، د بشریت حقوق ادا کومی د خلکو سره همدردی کوی، میلمه ته میلمستوب ورکوی او په دشمن چه کله غلبه وکړی نو ظلم نکوی)۔

یعنی دوی کی نرمی ده۔

دویمه وجه دا ده چه دوی د رسول الله ﷺ د خط ډیر اکرام کړے وو هغه ئے په وریښمو کی تاؤ کړو او په یو ډبی کی ئے بند کړو بیا ئے په صندوق کی کیخودو او بچو ته ئے دا وصیت وکړو چه تر څو پورے دا خط تاسو سره وی ستاسو بادشاهی به قائمه

وی، ددے اکرام کوئ۔

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی : زما یو استاذ وائی چه زهٔ د رومیانو یو بادشاه سره چه د هرقل په وړاندے نمسو کی دے ملاؤ شوم (چه دا اتمے صدئ ته رارسیدلے دے) نو هغه راته وویل چه راشه زهٔ تا ته ستاسو د نبی خط دربنایم نو ما ورته وویل چه دا خو غنیمت دے نو زهٔ ئے بوتلم او دغه صندوق ئے راکولاؤ کړو او هغه ډبے ئے راویستو او په هغے کی په وربښمو کی خط تاؤ شوے وو چه څه نا څه شوکیدلے وو تغیر پکی پیدا شوے وو ما ته ئے راوښودو چه دا ستاسو د نبی خط دے او زمونږ نیکه ته ستاسو نبی رالیږلے وو او دا خط مونږ په میراث کی ځان سره پریښے دے، دا خط چه تر څو زمونږ سره وی نو الله تعالیٰ مونږ نه دا بادشاهی نهٔ اخلی،

نو اُوګوره په یو وړوکی خط سره د دوی د بادشاهئ حفاظت کیږی نو کله چه دوی د الله تعالیٰ دا لوی خط (قرآن کریم) ومنی نو الله تعالیٰ به یو بل قسم حفاظت ورکړی چه په دنیا او آخرت کی به د عذابونو نه بچ شی۔ پدے قرآن کی دغه کمال شته که هرڅوك ئے ومنی نو هغوی سره به دغه شان کار کیږی پدے خبره باندے یقین پکار دے۔ او څوك چه د الله د کتاب او د نبی ﷺ د احادیثو ادب او قدر کوی الله پاك هغوی ته دنیا هم ورکوی او آخرت هم۔

(۵) خط : د بحرین حاکم مُنذِر بن ساویٰ ته

یو صحابی عِلاء بن الحضرمی رضی الله عنه ته ئے دا خط ورکړو او هغه یواځے روان شو بحرین ته ورسیدو او دغه خط ئے د بحرین حکمران منذر بن ساویٰ ته ورکړو چه هغه ته ئے پکی د اسلام دعوت ورکړے وو نو هغه چه خط ولوستلو نو سمدست ورته الله تعالیٰ د ایمان توفیق ورکړو

(په بعض انسانانو کی اهلیت وی چه د خیر خبره واوری نو سمدست پرے هغهٔ اثر وکړی او بعض خلك نا اهله وی که ټول قرآن واوری نو هیڅ اثر پرے نهٔ کوی)

نو دهٔ کی اهلیت وو، ایمان ئے راوړو او دهٔ د نبی علیه السلام خط راواخستو او د بحرین مشران خلك ئے راجمع کړل او هغوی ته ئے دا خط پخپله ولوستلو دا ئے وویل

چه د محمد رسول الله (ﷺ) د طرفه مونږ ته دا خط راغلے دے او مونږ ته ئے د اسلام دعوت راکړیدے (یعنی د الله بندګی او د رسول الله ﷺ تابعداریٔ ته) نو د بادشاه د وجه نه ډیر خلك په اسلام کی داخل شو ځکه چه خلك د بادشاهانو نه متأثره وی (اَلنَّاسُ عَلٰی دِیْنِ مُلُوْکِهِمْ) خلك د بادشاهانو په دین باندے وی۔

لیکن لږ شان کسانو د رسول الله ﷺ دا دعوت ونهٔ منلو او دے خط پرے څه اثر ونکړو او په علاقه کی یهودیان او مجوسیان وسیدل هغوی ایمان رانهٔ وړو۔

منذر بن ساویٰ واپس رسول الله ﷺ ته خط ولیږلو چه په هغے کی ئے دا لیکلی وو:

(أَمَّا بَعْدُ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ، فَإِنِّيْ قَرَأْتُ كِتَابَكَ عَلٰى أَهْلِ الْبَحْرَيْنِ فَمِنْهُمْ مَنْ أَحَبَّ الْإِسْلَامَ وَأَعْجَبَهٗ وَدَخَلَ فِيْهِ وَمِنْهُمْ مَنْ كَرِهَهٗ، وَبِأَرْضِيْ مَجُوْسٌ وَيَهُوْدٌ فَأَحْدِثْ إِلَيَّ فِيْ ذٰلِكَ أَمْرَكَ)

اما بعد: یارسول الله! ستا خط مونږ ته راورسیدو ما په بحرین والو باندے ولوستلو نو دوی کی چا اسلام خوښ کړو او مزه ئے ورکړه او پکی داخل شو او ځینو بد وګڼړلو او زمونږ په ملك کی مجوس او یهودیان وسیږی نو تهٔ ما ته د دوی په باره کی خپل حکم راولیږه) چه دوی سره څه وکړو؟۔

نو رسول الله ﷺ دهٔ ته د تعلیم بل خط راولیږلو:

(بسم الله الرحمن الرحيم مِنْ مُحَمَّدٍ رَسُوْلِ اللّٰهِ إِلَى الْمُنْذِرِ بْنِ سَاوٰى سَلَامٌ عَلَيْكَ، فَإِنِّيْ أَحْمَدُ إِلَيْكَ اللّٰهَ الَّذِيْ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ، أَمَّا بَعْدُ: فَإِنِّيْ أُذَكِّرُكَ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ فَإِنَّهٗ مَنْ يَّنْصَحْ فَإِنَّمَا يَنْصَحُ لِنَفْسِهٖ، وَإِنَّهٗ مَنْ يُّطِعْ رُسُلِيْ وَيَتَّبِعْ أَمْرَهُمْ فَقَدْ أَطَاعَنِيْ وَمَنْ نَصَحَ لَهُمْ فَقَدْ نَصَحَ لِيْ وَإِنَّ رُسُلِيْ قَدْ أَثْنَوْا عَلَيْكَ خَيْرًا، وَإِنِّيْ قَدْ شَفَّعْتُكَ فِيْ قَوْمِكَ فَاتْرُكْ لِلْمُسْلِمِيْنَ مَا أَسْلَمُوْا عَلَيْهِ وَعَفَوْتُ عَنْ أَهْلِ الذُّنُوْبِ فَاقْبَلْ مِنْهُمْ، وَإِنَّكَ مَهْمَا تُصْلِحْ فَلَنْ نَعْزِلَكَ عَنْ عَمَلِكَ، وَمَنْ أَقَامَ عَلٰى يَهُوْدِيَّةٍ أَوْ مَجُوْسِيَّةٍ فَعَلَيْهِ الْجِزْيَةُ)

(دا خط د محمد رسول الله (ﷺ) د طرفنه منذر بن ساویٰ ته لیکلے شی، په تا باندے دے سلام وی یقیناً زهٔ تا ته د هغه الله صفتونه بیانوم چه نشته حقدار د بندګیٔ سویٰ د هغه نه او ګواهی کوم چه محمد (ﷺ) د الله بنده او د هغه رسول دے،

اما بعد: زهٔ تا ته الله تعالیٰ در یادوم (او دا خبره یاده کړه) چه څوك د مخلوق دپاره خیرخواهی کوی نو دا اصل کی ځان دپاره خیر خواهی کوی او څوك چه زما د استازو خبره منی او د هغوی د حکم تابعداری کوی نو دا زما تابعداری کوی او څوك چه د

دوی دپاره خیرخواهي کوي نو یقیناً دے زما خیر خواهي کوي او زما استازو ستا نیك صفتونه بیان کړل او یقیناً زهٔ تا ته ستا د قوم په باره کې سفارش کوم نو چا چه اسلام قبول کړو نو هغه په خپل حال باندے پریده (هیڅ ورته مهٔ وایه، هیڅ جزیه ترے مهٔ اخله او ضرر مهٔ ورکوه، ځکه اسلام د امن دین دے) او څوك چه ګناهګار دی نو ما هغوی معاف کړل نو تهٔ هم د هغوی نه دا خبره قبوله کړه (ځکه چه د اسلام په وجه مخکنی ګناهونه معاف کیږی) او که تا د اصلاح کارونه کول نو مونږ به تا د خپل کار (او مشرئ) نه نهٔ معزوله کوو (ځکه چه اکثر خلك د کرسئ په وجه د حق نه اوړيدلی دی) او څوك چه په یهودیت او مجوسیت پاتی شو نو د هغوی نه جزیه واخله. خط ختم شو.

جزیه یو ټیکس دے چه په کال کی به ئے کافران ورکوی چه د هغے په اسلام کی جدا احکام دی چه په هغے کی هیڅ قسم ظلم نشته بلکه په هغے کی مقصد دا دے چه دا خلك اسلام ته مجبوره شي او اسلام قبول کړی نو بیا به پرے جزیه نهٔ وی،

او دا ټیکس ترے پدے وجه اخستلے کیږی چه د الله رب العالمین په زمکه وسیږی او د هغه دین نهٔ منی (د هغوی د کفر سزا ده) دویم دا چه حکومت اسلامی د هغوی حفاظت او خدمت کوی.

نو په علاقه کی ډیر خیر شروع شو، تقریباً پوره مملکت د بحرین په اسلام کی داخل شو نو ددے وجه نه احادیثو کی راغلی دی چه د بحرین نه به ډیره زیاته جزیه مدینے ته راوړلے کیده یوه ورځ علاء بن الحضرمی رضی الله عنه یو لاکهـ درهم د بحرین نه راولیږل (ځکه چه دا هلته کی ګورنر وو)

نو دلته په مدینه کی صحابه کرام خبر شو چه ډیره جزیه راغلے ده نو د نورو جماتونو نه دے مسجد نبوی ته خلك زیات راغلل (ځکه چه رسول الله ﷺ ئے ځانله هسے هم نهٔ اخلی او په خلکو ئے تقسیموی نو مونږ له به هم څه برخه راکړی او حلال مال طلب کول هم جائز کار دے، نِعْمَ الْمَالُ الصَّالِحُ لِلرَّجُلِ الصَّالِحِ)

حلال مال د نیك سړی دپاره بهتر دے چه څه طمع او ذلت پکی نهٔ وی دا د دنیا دبی رغبتئ سره مخالف نهٔ دے)

رسول الله ﷺ چه سهر مونځ وکړو ملګری ئے وکتل چه نن ډیر راغلی دی نو وے

خندل مسکے شو وے فرمایل: زما گمان دے چه تاسو به د ابوعبیده بن الجراح په باره کی آوریدلی وی چه دهٔ د بحرین نه مال راوړیدے نو هغوی ووېل: آؤ، اے د الله رسوله! نو وے فرمایل: (أَبْشِرُوْا وَأَمِّلُوْا مَا يَسُرُّكُمْ).

خوشحاله شئ او د هغه شی امید وساتئ په کوم چا تاسو خوشحالیږئ،

(فَوَاللّٰهِ لَا الْفَقْرَ أَخْشٰی عَلَيْكُمْ وَلٰكِنْ أَخْشٰی عَلَيْكُمْ أَنْ تُبْسَطَ عَلَيْكُمُ الدُّنْيَا كَمَا بُسِطَتْ عَلٰی مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ فَتَنَافَسُوْهَا كَمَا تَنَافَسُوْهَا وَتُهْلِكَكُمْ كَمَا أَهْلَكَتْهُمْ)

قسم په الله زهٔ د فقر نه په تاسو نهٔ ویریږم بلکه زهٔ ددے خبرے نه په تاسو یریږم چه په تاسو به د پخوانو خلکو په شان دنیا فراخه شی او داسے مینه به ورسره وکړئ لکه څنګه چه پخوانو ورسره کړے وه نو داسے به مو هلاك کړی لکه څنګه ئے چه هغوی هلاك کړی وو)

ځکه چه شهوات کله زیات شی نو بیا ئے قتل وقتال او تکبر او ظلم ته توجه پیدا شی.

بیا په لږ ساعت کی رسول الله ﷺ هغه ټول مال ختم کړو او عباس رضی الله عنه ته ئے هم د هغے نه دومره ډیر ورکړل چه هغه په څادر کی څومره وړلے شو. لکه دا خبره مخکی هم ذکر شویده.

نو الله تعالیٰ په دے ذریعو سره په مسلمانانو باندے فراخیانی راوستے.

(٦) خط : د یمامه حکمران هوذه بن علی ته

دا د یمامے علاقے مشر وو، رسول الله ﷺ سَلِيْط بن عَمْرو الْعَامِرِی رضی الله عنه ددے خط دپاره منتخب کړو او په خط باندے ئے مهر ولګولو،

د خط مضمون داسے وو: (بسم الله الرحمن الرحيم مِنْ مُحَمَّدٍ رَسُوْلِ اللّٰهِ إِلٰی هَوْذَةَ بْنِ عَلِيٍّ، سَلَامٌ عَلٰی مَنِ اتَّبَعَ الْهُدٰی، وَاعْلَمْ أَنَّ دِيْنِيْ سَيَظْهَرُ إِلٰی مُنْتَهَی الْخُفِّ وَالْحَافِرِ، فَأَسْلِمْ تَسْلَمْ وَأَجْعَلْ لَكَ مَا تَحْتَ يَدَيْكَ)

دا خط د محمد رسول الله (ﷺ) د طرف نه هوذه بن علی ته لیکلے کیږی، سلام دے وی په هغه چا چه د هدایت تابعداری وکړی، پوهه شه چه زما دین به هغه ځای باندے ښکاره کیږی (او هلته به رسیږی) کوم ځای ته چه اوښان او آسونه رسیږی، نو تهٔ

اسلام راوړه محفوظ به پاتے شے او زۀ به ستا دپاره هغه حکومت وګرځوم کوم چه ستا د لاسونو د لاندے دے)۔

سیدنا سَلِیط بن عمرو رضی الله عنه لاړو نجد (یمامه) ته (چه اوس ورته ریاض او ددے خواؤ شا وائی) او هلته ئے دا خط هوذه بن علی ته ورکړو، هغه ددے صحابی نه خط واخستو او ددۀ اکرام او اعزاز ئے وکړو او انعام ئے هم ورله ورکړو څه خاص تحفے وے چه په هغے کی د هَجَر علاقے کپړے وے او ښه شان جواب ئے وکړو او نبی علیه السلام ته ئے دا خط ولیکلو :

(مَا أَحْسَنَ مَا تَدْعُوْ اِلَیهِ وَأَجْمَلَهُ، وَالْعَرَبُ تَهَابُ مَکَانِیْ فَاجْعَلْ لِیْ بَعْضَ الْأَمْرِ أَتَّبِعُكَ)

تۀ چه کومو خبرو ته دعوت ورکوے دا څومره ډیرے ښائسته او مزیداری دی، لیکن دا یو عرض کوم چه عرب خلك زما د مرتبے نه یریږی نو داسے وکړه چه زما دپاره بعض مشری (او د زمکے څه حصه باندے ما ته حکومت) راکړه نو زۀ به ستا تابعداری وکړم۔

غرض ئے دا وو چه ما په خپل خلافت کی شریك کړی حال دا چه د رسول الله ﷺ طریقه خو دا وه چه هغه به چا ته خط ولیکلو نو دا به ئے ورته وئیل چه تۀ به د همغه ځای بادشاه او والی ئے صرف ایمان راوړه لیکن ددۀ نیت غلط وو مشری ئے غرض وه په عامو خلکو باندے او د رسول الله ﷺ نه روستو په خلافت کی ئے ځان شریکول غوښتل۔

صحابی چه کله راورسیدو نو تولهٔ هدیهٔ ئے نبی علیه السلام ته وسپارله چه دغه تحفے ئے ما ته راکړیدی نو د الله نبی دغه قبولے کړے ځکه دا د جزیه په شکل دی او بیا ئے ورته د هغه دا خبره راورسوله نو د الله نبی وفرمایل:

(لَوْ سَأَلَنِيْ قِطْعَةً مِنَ الْأَرْضِ، مَا فَعَلْتُ، بَادٍ وَبَادٍ مَا فِيْ يَدَيْهِ)۔

که دا زما نه د زمکے یوه ټکړه غواړی نو زۀ ددے ورکولو ته تیار نۀ یم (ځکه چه دا خو د الله تعالیٰ اختیار دے چه زما نه روستو خلافت چا ته ورکوی) او بیا ئے دا پیشنګوئی ورکړه چه دا هم هلاك دے او ددۀ په لاسونو کی چه کومه بادشاهی ده هغه هم هلاکه ده۔ ځکه دۀ ته نبی علیه السلام وئیلی وو چه زما دین به ستا دغه ځای ته هم رسیږی او زما نبوت به ښکاره کیږی او زما فوجونه به در رسیږی۔

هوذه بن علی پدے حالت کی وو لږه زمانه روستو د فتح د مکے نه روستو جبرئیل

علیه السلام راغے او د الله نبی ته ئے خبر ورکړو چه هوذه بن علی مردار شو۔

نو د الله نبی په دغه وخت کی ملګرو ته وفرمایل: چه په یمامه کی به یو سړے پیدا کیږی (أَمَا اِنَّ الْيَمَامَةَ سَيَخْرُجُ بِهَا كَذَّابٌ يَتَنَبّىٰ، يُقْتَلُ بَعْدِیْ) خبردار، د یمامے نه به یو دروغجن سړے راوځی چه د نبوت دعوه به کوی او زما نه روستو به هغه قتل کیږی)

یعنی داسړے ما سره په خلافت کی سیالی کوی او بل سړے به راوځی هغه به په نبوت کی ځان شریکول غواړی نو پدے کی یو صحابی وویل :

اے د الله رسوله ! څوك به ئے وژنی ؟ نبی علیه السلام وفرمایل : (أَنْتَ وَأَصْحَابُكَ)۔

تهٔ او ستا ملګری به ئے وژنی نو همدغه شان وشوه۔

چه په یمامه کی مسیلمة الکذاب پیدا شو او د نبوت د دروغو دعوه ئے وکړه چه دا یو ساحر او بی حیاء زناکار سړے وو او بیا د صحابه کرامو په لاس د ابوبکر صدیق رضی الله عنه په دور کی مردار شو د عاصم او وحشی بن حرب رضی الله عنهما په لاس مردار شو۔

دا خبرے د رسول الله ﷺ د نبوت یقینی نښے دی چه څنګه ئے پیشنګوئی ورکړے وه همغه شان وشوه۔

(۷) خط : د شام بادشاه حارث بن ابی شَمِر الغسانی ته

نبی علیه السلام دهٔ ته ولیکل :

(بسم الله الرحمن الرحیم، مِنْ مُحَمَّدٍ رَسُوْلِ اللّٰهِ اِلَى الْحَارِثِ بْنِ اَبِیْ شَمِرٍ، سَلَامٌ عَلٰى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدٰى، وَآمَنَ بِاللّٰهِ وَصَدَّقَ، وَاِنِّیْ اَدْعُوْكَ اِلٰى اَنْ تُؤْمِنَ بِاللّٰهِ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، يَبْقىٰ لَكَ مُلْكُكَ)

د محمد رسول الله (ﷺ) د طرفنه دا خط حارث بن ابی شمر ته لیکلے شی، سلام دے وی په هغه چا چه د هدایت تابعداری وکړی او په الله ایمان راوړی او تصدیق وکړی او زهٔ تا ته ددے خبرے دعوت درکوم چه یواځے په الله ایمان راوړه چه د هغه شریکان نشته، تا ته به ستا بادشاهی باقی پاتی شی)

دا خط ئے سیدنا شجاع بن وهب الاسدی رضی الله عنه ته ورکړو، دهٔ چه دا خط

ورسولو نو هغه بې عقله بادشاه وو نو هغه خط گوزار کړو او دا ئې وويل :
(مَنِ الَّذِيْ يَنْزِعُ عَنِّيْ مُلْكِيْ؟) ـ دا څوك دې چه زما نه بادشاهي د لاسه وباسي؟ (ددۀ غرض دا وو چه گڼې د رسول الله ﷺ پدې خط راليږلو کې زما بادشاهي اخستل مقصد دې حال دا چه دۀ د رسول الله ﷺ په دغه خبره کې فکر ونکړو چه تا ته به بادشاهي باقي پاتې شي) د رسول الله ﷺ په دې دعوت کې مقصد د خلکو راويښول وو چه اې خلکو تاسو د الله د بندگئ او د خپل مقصد نه اودۀ يئ په نورو څيزونو کې مشغول شوي يئ خپلو خواهشاتو کې ننوتي يئ حال دا چه تاسو دې له پيدا يئ چه د الله بندگي وکړئ هغه ته سجدې ولگوئ، د هغه د حکم مطابق زندگي تيره کړئ،
بيا ئې ووېل : (أَنَا سَائِرٌ إِلَيْهِ) ـ زۀ ددې نبي پسې ورځم او په مدينه حمله کوم ـ ددې وجه نه دۀ اسونه تيارول : (تُنْعِلُ النِّعَالَ) ـ غسان قبيلې اسونو ته نعلونه وهل چه په مدينه حمله وکړي، نبي ﷺ او صحابه کرام به هر وخت په انتظار او تيارئ او بيدارئ کې وو چه اوس څوك په مدينه حمله ونکړي اگرکه حمله ئې نشوه کولې ځکه چه نبي عليه السلام د غزوۀ احزاب نه روستو فرمايلي وو چه نن نه بعد به مونږ په خلکو حملې کوو په مونږ به ئې څوك نشي کولې ليکن کافرانو خو دا غلطې ارادې لرلې نو ددې وجه نه هر وخت به مدينه په تيقظ کې وه،
ددې وجه نه حديث کې راځي چه عمر رضي الله عنه وفرمايل چه زۀ په بانډه کې وسيدم يوه ورځ به مدينې ته زۀ راتلم او بله ورځ به زما ملگرې راتلو (ځکه کاروبار به مو کولو او علم به هم طلب کولو، لکه امام بخاري باب التناوب في العلم باب ايښودې دې يعني په علم زدۀ کولو کې نمبر کيخودل) نو يوه ورځ زما ملگرې راغې او زما دروازه ئې ډيره سخته ووهله نو زۀ ورته راووتلم چه څه شويدي؟ هغه ووېل ډير لوی کار شويدې نو ما ورته ووېل : أَجَاءَ الْغَسَّانِيُّ؟) ـ
آيا د شام بادشاه (حارث بن ابي شمر) راورسيدو کوم چه په مدينه باندې حمله کوي) ما ته ئې ووېل چه ددې نه غټه خبره ده، ما ورته ووېل : څه شويدي ؟ نو هغه يوه بې تحقيقه خبره آوريدلې وه هغه ئې عمر رضي الله عنه ته بيان کړه : چه نبي عليه السلام ټولې بيبيانې طلاقې کړيدي ـ عمر فاروق فرمائي : نو زۀ سخت پريشانه شوم او چه سهر شو مدينې ته راروان شوم چه راورسيدم حالت بدل وو دغه کار نۀ وو شوې ليکن دغه

ملګرې چا غلط پوهه کړې وو) هغه نبی علیه السلام صرف د خپلو بې بیانو نه قسم کړې وو او بیله بالاخانه کې وسیدو. چه ددې تفصیل دا ځای نۀ دې په روایت د بخاری (۱/رقم: ۲۹۷۹) کې ئې وګوره.

نو دې غسانی بادشاه ته الله تعالیٰ د مدینې د حملې توفیق ورنکړو او په روستو زمانه کې شام د مسلمانانو لاس ته راغلو.

په بعض سیرتونو کې دی چه دۀ پدې حمله کې د قیصر بادشاه نه مشوره واخسته نو هغه ددې ارادې نه منع کړو نو حارث بن ابی شمر الغسانی سیدنا شجاع بن وهب الاسدی ته کپړې او خرچه ورکړه او په ښه شان ئې مدینې ته رارخصت کړو.

(الرحیق المختوم)

(۸) خط: جیفر او عبد ته چه د جلندی ځامن دی سنه (۸) هجری

رسول الله ﷺ جیفر او عبد (یا عبد الله) چه دواړه د جُلندی ځامن وو هغوی ته ولیږلو د خط مضمون دا وو:

(بسم الله الرحمن الرحیم مِنْ مُحَمَّدٍ رَسُوْلِ اللّٰهِ اِلٰی جَیْفَرَ وَعَبْدٍ اِبْنَیِ الْجُلَنْدِیِّ، سَلَامٌ عَلٰی مَنِ اتَّبَعَ الْهُدٰی، اَمَّا بَعْدُ: فَاِنِّیْ اَدْعُوْکُمَا بِدِعَایَةِ الْاِسْلَامِ، اَسْلِمَا تَسْلَمَا فَاِنِّیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَی النَّاسِ کَافَّةً، لِاُنْذِرَ مَنْ کَانَ حَیًّا وَیَحِقَّ الْقَوْلُ عَلَی الْکَافِرِیْنَ، فَاِنَّکُمَا اِنْ اَقْرَرْتُمَا بِالْاِسْلَامِ وَلَّیْتُکُمَا وَاِنْ اَبَیْتُمَا (اَنْ تَقَرَّا بِالْاِسْلَامِ) فَاِنَّ مُلْکَکُمَا زَائِلٌ، وَخَیْلِیْ تَحُلُّ بِسَاحَتِکُمَا، وَتَظْهَرُ نُبُوَّتِیْ عَلٰی مُلْکِکُمَا)

(دا خط د محمد رسول الله (ﷺ) د طرف نه جیفر او عبد ته چه د جلندی ځامن دی لیکلې کیږی، سلام دې په هغه چا چه د هدایت تابعداری کوی،

اما بعد: زۀ تاسو دواړو ته د اسلام دعوت درکوم، اسلام راوړئ محفوظ به پاتې شئ، ځکه چه زۀ د الله رسول یم ټولو انسانانو ته دې دپاره چه څوک ژوندې وی هغه ته یره ورکړم او په کافرانو باندې د الله تعالیٰ فیصله ثابته شی، که تاسو دواړو د اسلام اقرار وکړو نو تاسو به په خپل حکومت باندې باقی پریدم او که تاسو د اسلام نه انکار وکړو نو ستاسو بادشاهی ختمیدونکې ده، زما اسونه به ستاسو په میدان باندې نازل شی او

زما نبوت به ستاسو په بادشاهئ باندے ښکاره شی)

(یعنی زۀ نبی یم داسے ونۀ وایئ چه یو بادشاه دے، ورسره دهمکی ئے هم بیان کړه)

او پدے خط بانـدے ئے مهر ووهلو او دا ئے د عربو ماهر شخصیت سیدنا عمرو بن العـاص رضـی الله عـنـه تـه ورکـړو، سیدنا عمرو وائی چه زۀ راووتلم تردے چه عُمان ته راورسیـدم نـو پـدے دواړو ورونـو کـی دا عبـد لږ نرم وو او بادشاهی اصل کی د جیفر په لاس کـی وه او دا ئے تـابـع وو او جیفر سخت وو نو ما وویل چه اول به دے نرم ته ورشم دۀ سره بـه خبـره وکـړم نو لاړم هغه ته مے وویل چه زۀ د رسول الله ﷺ استازے یم تا ته او ستا ورور ته او دا خط مے راوړے نو هغه ولوستلو۔

سیـدنا عمرو وائی: نو ددۀ سره زما ډیرے خبرے اترے وشوے نو هغه زما نه تپوس ونه وکړل:

عبد: (مَا تَدْعُوْ اِلَیْهِ؟)۔تۀ څه شی ته دعوت ورکوے؟، عمرو:

(اَدْعُوْ اِلَی اللّٰهِ وَحْدَهٗ لَا شَرِیْكَ لَهٗ، وَتَخْلَعُ مَا تَعْبُدُ مِنْ دُوْنِهٖ وَتَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ) زۀ الله تـه دعوت ورکوم چه یواځے دے هیڅ شریکان ورسره نشتـه، او تۀ به ټول هغه معبودان پریدے چه تۀ ئے سویٰ د الله تعالیٰ نه بندگی کوے، او دا گواهی به وکړے چه محمد ﷺ د الله بنده او د هغه رسول دے۔

عبد: اے عمرو! تۀ خو د خپل قوم د سردار د ترۀ ځوی ئے نو ستا پلار ددۀ سره څنگه معامله کریده (هغه خو په شرك مړ دے) (فَاِنَّ لَنَا فِیْهِ قُدْوَةً)۔

نو بس مونږ هم ستا د پلار پسے روان یو هغه زمونږ مشر دے۔

عـمـرو بـن الـعـاص: هغه په داسے وخت کی مړ دے چه په محمد ﷺ ئے ایمان نۀ وو راوړے او زما دا خوښه وه چه هغه اسلام راوړے وے او تصدیق ئے کړے وے

(وَقَدْ کُنْتُ اَنَا عَلٰی مِثْلِ رَاْیِهٖ حَتّٰی هَدَانِیَ اللّٰهُ لِلْاِسْلَامِ)

او زۀ هـم د هغه په رایه پسے روان وم (مشرك وم) تردے چه ما ته الله تعالیٰ اسلام طرفته هدایت وکړو۔ (نو تۀ زما د پلار تابعداری کوے او زۀ ئے نکوم دا څو مره ناشنا ده)۔

عبد: (فَمَتٰی تَبِعْتَهٗ ؟)۔تا کله نه د رسول الله ﷺ تابعداری شروع کریده۔

عمرو بن العاص: لږ وخت وشو۔

عبد وویل: تا کوم ځای کی ایمان راوړیدے؟

عمرو بن العاص: د نجاشي بادشاه په خوآکي ما اسلام قبول کړو او ما ورته خبر ورکړو چه نجاشي بادشاه هم مسلمان شویدے۔

نو عبد ووېل: نجاشي چه ایمان راوړو نو قوم ورسره څه چل وکړو؟

عمرو بن العاص ووېل: (أَقَرُّوْهُ وَاتَّبَعُوْهُ)۔ هغوی په خپله بادشاهئ باندے پرېښودو او قوم ئے تابعداری وکړه، عبد ووېل: (وَالْأَسَاقِفَةُ وَالرُّهْبَانُ تَبِعُوْهُ؟)۔

آیا علماء او پیرانو ئے هم تابعداری وکړه؟ نو عمرو بن العاص ووېل: آؤ، هغوی هم په اسلام کی داخل شویدی۔ نو عبد حیران شو او دا ئے ووېل:

(أُنْظُرْ يَا عَمْرُو لَيْسَ هُنَاكَ مِنْ خَصْلَةٍ فِيْ رَجُلٍ أَفْضَحَ لَهُ مِنَ الْكَذِبِ)۔

اے عمرو! فکر وکړه په یو سړی کی داسے خوئی نشته چه هغه لره ډیر شرمونکے وی د دروغو نه۔ چرته دروغ راته ونهٔ وائے۔

عمرو بن العاص: (مَا كَذَبْتُ وَلَا نَسْتَحِلُّهُ فِيْ دِيْنِنَا)۔

ما درته دروغ نهٔ دی وئیلی او دروغ مونږ په خپل دین کی حلال نهٔ گڼړو۔ بیا عبد شك وکړو چه کیدے شي چه هرقل بادشاه به د نجاشي د اسلام نه نهٔ وی خبر شوے،

عمرو بن العاص: هرقل خبر شویدے۔

عبد: تا ذا د څه نه معلومه کړه؟۔

عمرو بن العاص: نجاشي بادشاه وړوکے بادشاه وو او هرقل لوی بادشاه او وړو بادشاهانو به دغه هرقل ته جزیه ورکوله لیکن کله ئے چه اسلام راوړو او د محمد ﷺ تصدیق ئے وکړو نو قسم ئے وکړو چه زهٔ به یوه روپئ هم هرقل ته ورنکړم (په اسلام سره په انسان کی غیرت او بهادری پیدا کیږی)۔ نو هرکله چه هرقل ته د نجاشي بادشاه دا خبره ورسیدله نو هغه ته د هغه ورور (نیاق) ووئیل: دا نجاشي ستا یو غلام دے او تا ته ټیکس نهٔ رالیږی او ستا د دین نه سِوئ بل نوے دین ئے هم اختیار کړیدے او تهٔ ورته څه نهٔ وائے؟ نو هرقل ورته ووېل:

(رَجُلٌ رَغِبَ فِيْ دِيْنٍ، فَاخْتَارَهُ لِنَفْسِهِ مَا أَصْنَعُ بِهٖ؟)۔

نجاشي یو سړے دے چه یو دین سره ئے مینه پیدا شوه او د ځان دپاره ئے غوره کړو نو زهٔ پرے څه وکړم؟) ښه کار ئے کړیدے چه اسلام ئے قبول کړو۔

بیا ئے ووېل: (وَاللّٰهِ لَوْلَا الضَّنُّ بِمُلْكِيْ لَصَنَعْتُ كَمَا صَنَعَ)۔

قسم په الله که په بادشاهئ باندے زما بخل نۀ وے نو ما به داسے کار کړے وے لکه څنګه چه نجاشي وکړو) - نو ددے نه معلومیږی چه هرقل هم د اسلام رغبت لرى لیکن د بادشاهئ د وجه نه ئے نۀ راوړی۔

عبد : اے عمرو! وګوره چه دا ته څه وائے؟

عمرو : قسم په الله ما درته رشتیا وئیلی دی۔

عبد : ما ته خبر راکړه چه دا ستاسو نبی تاسو ته په څه باندے حکم کوی او د څه نه منع کوی؟ عمرو بن العاص : (يَـأْمُـرُ بِـطَاعَةِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ وَيَنْهٰى عَنْ مَعْصِيَتِهٖ وَيَأْمُرُ بِالْبِرِّ وَصِلَةِ الرَّحِمِ، وَيَنْهٰى عَنِ الظُّلْمِ وَالْعُدْوَانِ وَعَنِ الزِّنَا وَعَنِ الْخَمْرِ وَعَنْ عِبَادَةِ الْحَجَرِ وَالْوَثَنِ وَالصَّلِيْبِ) هغه د الله تعالىٰ په طاعت باندے حکم کوی او د هغه د مخالفت نه منع کوی او په نیکئ او صله رحمئ باندے حکم کوی او د ظلم، زیاتی او زنا او شرابو او د کاڼړو او بت او صلیب د عبادت نه منع کوی)۔

صلیب ئے ورته ذکر کړو ځکه چه دوی هم نصارىٰ وو۔

عبد وویل : دا څومره ښائسته خبرو ته دعوت ورکوی، ارمان دے چه زما دا ورور ما سره ملګرے شی او مونږ شریك ایمان راوړو لیکن زما د ورور بادشاهی او کرسئ ډیره خوښه ده ګمان مے نۀ دے چه ایمان به راوړی

(لٰكِنَّ أَخِيْ أَضَنُّ بِمُلْكِهٖ مِنْ أَنْ يَّدَعَهٗ وَيَصِيْرَ ذَنَبًا)

زما ورور په خپله بادشاهئ باندے ډیر بخیل دے دا نشی کولے چه دا پریدی او د بل چا تابع شی۔

عمرو بن العاص : دا دے ایمان راوړی رسول الله ﷺ به ئے په همدے بادشاهئ باندے مشر کړی او دا کار به وروسپاری چه د مالدارو نه به زکاة اخلی او په فقیرانو به ئے تقسیموی۔

عبد وویل : دا خو ډیر ښه اخلاق دی، نو هغه ما نه تپوس وکړو : صدقه او زکاة څه ته وائی نو ما ورته د زکاة تشریح وکړه چه رسول الله ﷺ په مالونو کی زکاتونه لازم کړیدی تردے چه زۀ اوښانو ته راورسیدم چه د اوښانو نو په دومره دومره کی زکاة لازم دے نو هغه وویل :آیا زمونږ په هغه څاروو کی به هم زکاة وی چه اُوبو ته راځی او ونو بوټو باندے څریږی؟ ما وویل : آؤ، نو هغه وویل چه زما قوم ډیر مالداره خلك دے او د

نبی علیه السلام د ځای نه ډیر جدا دی نو زما دا قوم به دا خبره تا سره ونهٔ مني.

عمرو بن العاص رضی الله عنه فرمائي: آخر دا چه ما د هغه په دربار کی ډیرے ورځے تیرے کړے او هغه به زما هره خبره خپل وررور ته رسوله بیا ئے یوه ورځ زهٔ جیفر ته بوتللم، دننه ئے چه بوتلم خلکو د لاس نه نیولے وم، جیفر امر وکړو چه دا پریدئ، بیا زهٔ کیناستم نو دوی زهٔ کیناستو ته نهٔ پریښودم نو ما نه ئے تپوس وکړو چه څه پسے راغلے ئے ؟ نو ما خط راویستو او هغه ته مے ورکړو او هغه هم ولوستلو او د هغه وررور هم، بیا ئے ما نه تپوس وکړو چه قریشو ددے سړی (نبی) سره څه کړیدی؟

ما ورته وویل : بعض خلك په اسلام کی داخل شویدی په خپله مینه او بعض د توری لاندے راغلی دی۔ مقصد ئے دا وو چه فتح د مکے شویده دا د ټولو نه آخری خط دے اتم کال دے) بیا دهٔ وویل : ددے نبی څوك ملګری شویدی؟ ما ورته وویل :

خلکو په اسلام کی ډیر رغبت کړیدے او دا ئے د خپل ځانونو دپاره په نورو دینونو غوره کړیدے (وَعَرَفُوْا بِعُقُوْلِهِمْ مَعَ هُدَى اللّٰهِ اِيَّاهُمْ اَنَّهُمْ كَانُوْا فِيْ ضَلَالٍ)

او په خپلو عقلونو ئے دا خبره پیژندلے ده چه دوی مخکی په ګمراهئ کی وو او دوی ته الله تعالیٰ هدایت وکړو) او ما ته ستا نه غیر بل څوك نهٔ دے معلوم چه هغه پدے سخت حالت کی باقی پاتی وی۔ او که ته نن ورځ اسلام رانهٔ وړے او ددے نبی تابعداری ونکړے (تُوْطِئُكَ الْخَيْلُ وَتَبِيْدُ خَضْرَاءُكَ، فَأَسْلِمْ تَسْلَمْ) نو اسونه به تا پایمال کړی (اسونه به دربانده راشی) او ستا دا تازګی او شینکی به هلاکه کړی نو اسلام راوړه محفوظ به پاتے شے او رسول الله ﷺ به تا په خپل قوم باندے نائب مقرر کړی او هسے نه چه په تا باندے اسونه او پیاده خلك راداخل شی (جلتی وکړه)،

نو هغه وویل : ما ته یوه ورځ مهلت راکړه، او صبا راشه، نو زهٔ د هغه وررور ته راواپس شوم، هغه وویل : اے عمرو! زما امید دے چه زما وررور به اسلام راوړی که چرته په بادشاهئ باندے بخل ونکړی۔

هر کله چه صبا شو زهٔ ورته راغلم، خلکو ما ته اجازه رانکړه نو زهٔ د هغه وررور ته واپس شوم، هغه ته مے خبر ورکړو نو هغه زهٔ وررور ته راورسولم نو جیفر وویل : ما ستا په دعوت کی فکر وکړو (فَاِذَا اَنَا اَضْعَفُ الْعَرَبِ اِنْ مَلَّكْتُ رَجُلًا مَا فِيْ يَدِيْ)۔

نو ما ته خپل ځان د ټولو عربو نه کمزورے ښکاره شو که زهٔ چرته دا خپله بادشاهی

دے نبی ته ورکړم۔ یعنی که زمانه بادشاهی لاړه شی نو عرب به ما کمزورے وګڼری او هرچه نبی علیه السلام دے (وَهُوَ لَا تَبْلُغُ خَيْلُهُ هٰهُنَا)

او د هغه اسونه دلته نشی رارسیدلے او که اسونه ئے راورسی نو داسے جنګ سره به ملاؤ شی چه مخکی به د چا سره نهٔ وی ملاؤ شوے۔

سیدنا عمرو بن العاص وائی : ما ورته وویل : زهٔ ستاسو نه صبا له ځم۔ هرکله چه هغه زما په راوتلو یقین وکړو نو دا یو ورور د بل سره جدا شو او دواړو مشوره وکړه، ورور ورته دا وویل : چه دا نبی چه په څه غالبه شویدے د هغے په مقابله کی مونږ څه یو، او چا ته چه دهٔ خط لیږلے دے هغوی ورله خبره منلے ده نو الله تعالیٰ ورته په زړه کی ایمان واچولو نو کله چه صبا شو ما پسے ئے جواب راولیږو، نو دواړو ورونو په شریکه اسلام قبول کړو او د نبی ﷺ تصدیق ئے وکړو او ما به چه څه خبره دوی ته کوله هغه به ئے منله او د زکاة مسئلے مے ورته هم وکړے په هغے کی ئے راسره تابعداری وکړه۔

او الله ورته په زړه کی ایمان واچولو او کوم مخالفین چه به زما مخے ته راتلل نو دے دواړو به ما سره په هغے کی مدد کولو۔ (الرحیق المختوم ص ٣٢٢)

ددے نه معلومیږی چه دا خط د فتح د مکے نه روستو لیږلے شویدے۔

نو بعض بادشاهانو ایمان راوړو او بعضو ایمان رانهٔ وړو نو چا چه ایمان راوړو هغوی په خپله بادشاهی هم پاتی شو نو دنیا ئے هم وګټله او آخرت ئے هم بنه شو او چا چه ایمان رانهٔ وړو هغه هم ختم شو او بادشاهی هم ترے ختمه شوه او په آخرت کی ناکام شو۔

ددے وجه نه د هوښیارو خلکو طریقه دا ده چه کله ورته حق ورسیږی نو هغه سمدستی قبلوی پدے کی بی عزتی نشته بلکه په همدے کی عزت او شرافت دے او د دنیا او د آخرت کامیابی ده۔

نو رسول الله ﷺ پدے خپلو خطونو سره عامے دنیا ته د اسلام دعوت ورسولو، که کومو کافرانو ایمان رانهٔ وړو هغوی ته هم دعوت ورسیدو چه یو شخص دے د نبوت دعوه ئے کړیده په مکه کی پیدا شویدے او مدینے ته ئے هجرت کړیدے او دے خبرے ته ئے دعوت دے چه د الله بندګی دے یواځی وکړے شی۔

دے ته دعوت وائی او دعوت دے ته نهٔ وائی چه تهٔ به یو قوم ته ورځے او د الف نه تر

یاء پورے پہ تول دین به ئے پو هه کوے لکه بعض خلك دا غلط نظر لری۔ دعوت ډیته وائی چه د کافر غوږ ته صرف دا خبره ورورسی چه اسلام یو حق دین دے او اسلام داسے داسے خبرے کوی که دا دعوت د هرچا په خوله ورسیده که د کافر وی او که د مسلمان او که د اخبار یا د ټیلفون په ذریعه وی بس دعوت ورته وشو۔

پدے معنیٰ باندے په دنیا کی چه څه کافر دی هغوی ټولو ته د اسلام دعوت رسیدلے دے ځکه چه ټوله دنیا د اسلام دین پیژنی چه څه خلك شته چه دا دین منی نو د دوی په باره کی به مونږ نه الله تعالیٰ دا تپوس نۀ کوی چه تاسو دوی ته دین ولے نۀ بیانولو اُوس په دوی باندے فرض دی چه د خپلو علاقو او ملکونو د علماؤ نه دا دین زده کړی او که هلته ئے نشی زده کولے بل ځای ته به ورپسے سفر کوی که دے خلکو ایمان رانۀ وړو او پدے حالت کی دوی مړۀ شول نو دوی به سیده اُور ته ځی په دوی باندے حجتِ قائم دے، د نورو بندګانو نه به د دوی په باره کی هیڅ تپوس نۀ کیږی څوك چه دا وائی چه یو هندو په یو ځای کی مړ شو نو الله به مونږ نه تپوس کوی چه دا بی کلمے ولے مړ شو دا ولے جهنم ته لاړو ؟ دا د اسلام غلط تصور دے ددے وجه نه د الله رسول چه به کله یوے علاقے ته ورتللو نو دغه علاقے ته به ئے غوږ کیخودو که اذان به پکی کیدو نو هغوی باندے به ئے حمله نۀ کوله او که اذان به نۀ کیدو نو پټه حمله به ئے پرے کوله ځکه چه دے خلکو ته اجمالًا اسلام رسیدلے وو اګرکه نبی علیه السلام هر کلی ته نۀ دے تلے چه اے خلکو راشئ ایمان راوړئ بلکه هر کلی کی مشهوره شوے وه چه یو نبی دے او یو دین ئے راوړیدے نو په هغوی لازمه وه چه مدینے ته به راځی او په نبی علیه السلام به ایمان راوړی او اسلام به زده کوی او که څوك رانغلو نو دا کافر دے د قتال او جهاد لائق دے۔

په ټولو انسانانو لازم ده چه تحقیق وکړی ځکه چه جنت خو څه سرائے او منډئ نۀ ده چه هر سړے به همداسے بے تپوسه ورداخلیږی۔

رسول الله ﷺ همداسے هم دعوت کولو او د خطونو په ذریعه ئے هم دعوت وکړو او ملګری ئے لیږلی دی هلته به ئے والیان کړی وو او هغوی به خلکو ته دین بیانولو او د هغوی فیصلے به ئے کولے دا د هغوی د دعوت طریقه وه۔

ددے نه روستو غزا د خیبر راغله چه دا ډیره ناشنا غزوه ده چه پدے مینځ مینځ کی

ئے ډیر عجائبات واقعات شویدی دا د یهودو سره مقابله وه،

غزوۂ خیبر (سنه ۷ھ)

جُمهور اهل سیرت وائی چه خیبر غزا په اوم کال د هجرت واقع شویده او د امام مالك رحمه الله نه نقل دی (او دا د ابو محمد بن حزم رحمه الله مذهب دے) چه دا په شپږم کال شویذه لیکن د جمهورو قول صحیح دے۔

(امتاع الاسماع ۱/۳۰۶)

نبی علیه السلام چه کله د حُدیبیه نه راواپس شو نو د ذی الحجے میاشت ئے په مدینه کی تیره کړه او د مُحرم ئے یو څو ورځے تیرے کړے بیا ئے پروګرام برابر کړو د خیبر د حملے دپاره او دا پروګرام ئے ولے برابرولو ؟ وجه دا ده چه په خیبر کی یهود وسیدل او یهود هغه مکر او دسیسو والا خلك دی چه د پخوا نه د انبیاؤ علیهم السلام دشمنان دی، انبیاء ئے وژلی دی او د اسلام سره ئے ډیره دشمنی کړیده او بیا د رسول الله ﷺ سره ئے سخته دشمنی کړیده او اوس ئے هم دشمنان دی او دجال به هم په دوی کی پیدا کیږی چه ډیر امت به په هغه سره ګمراه کیږی او اوس هم د یهودو دلاسه ډیر امت ګمراه دے نو دغه د مکر او د فریب ځای وو، په جنګ احزاب کی هم دوی قبائل راپاڅولی وو او قریش به هم دوی راپاڅول او بنو قریظو له هم دوی ورغلی وو چه د نبی علیه السلام سره وعده ماته کړئ او اُوس هم لګیا وو کوشش ئے کولو چه د مدینے دا خلافت ځنګه ختم کړو، بنو نضیر د مدینے نه تلی وو هلته دیره وو۔

رسول الله ﷺ په صلح حدیبیه سره د غټ کافر نه په امن کی شو نو اوس موجوده کافرو طرفته متوجه شو چه دا د غټو کافرانو وزرے وے چه هغه یهود او د نجد قبائل دی(غطفان قبیلے) دے دپاره چه پوره امن او سلامتیا په ملك کی راشی او ددے خلکو د شرونو نه خلاص شی نو ددے خلکو د حساب ورځ راغله۔

ددے کافرانو مثال د مارغۂ دے د مارغه یو سر وی او دوه وزرے وی نو د مارغه سر قریش وو هغه رسول الله ﷺ څه نا څه پریکړو او په صلح حدیبیه سره ذلیله شو او

خیبر والا یهود یو وزر او اعراب (غطفان) قبیله د بل وزر په شان وو نو اوس رسول الله ﷺ دا یو وزر پریکول غواړی.

خیبر د مدینې نه په شمالي طرف باندې (۹۶) میله یعنی (۱۶۵) کیلو میټره وړاندې شام طرفته علاقه ده، (المعالم الاثیرة ۱/۱۰۱)

د اوښانو په مزل ورته درې ورځو کې ورسیږي، ډیره ناشنا علاقه ده اوس همغه شان په خپل حال باندې پرته ده د خیبر نومې کلې د غرهٔ په غاړه کې جوړ شویدې او د خیبر زوړ د یهودو کلې همغه شان باقي دې په یو کنده شان ځای کې واقع دې د کجورو باغونه دی عربو ورله همغه آبادیانی او قلعه ګانی د یادګار دپاره پریښی دی.

نبي علیه السلام اراده وکړه چه په خیبر باندې حمله کوی نو ملګروته ئې ښکاره اعلان وکړو چه خیبر باندې به حمله کوو، عامو جهادونو ته به نبي علیه السلام توریه کوله تپوس به ئې د یو ځای کولو او روان به بل ځای ته وو او پدې جهاد کې ئې ښکاره د ځای نوم واخستو ددې حکمت دا وو چه قرآن کریم کې الله تعالیٰ د خیبر وعده کړې وه داسې ئې فرمایلی وو: ﴿وَعَدَكُمُ اللّٰهُ مَغَانِمَ كَثِيْرَةً تَأْخُذُوْنَهَا فَعَجَّلَ لَكُمْ هٰذِهٖ وَكَفَّ اَيْدِيَ النَّاسِ عَنْكُمْ﴾ الله تاسو سره وعده کړیده د ډیرو غنیمتونو چه تاسو به ئې اخلئ (یعنی د خیبر غنیمتونه) نو د رسول الله ﷺ او د صحابه کرامو د خیبر په فتح باندې یقین وو چه دا غنیمتونه به مونږ ته ملاویږی دا وجه ده چه په نورو جهادونو کې به پرې ځه ناځه یره وه او پدې کې ډیر په اطمینان روان وو دیته یقین وائی، د الله تعالیٰ په وعدوئې پوره یقین دې ځکه د الله وعده رشتینې وی. نو که څوك راته لاره نیسی او که څوك شیطاني کوی په هر حال کې به الله تعالیٰ مونږ ته خیبر راکوی ځکه د الله په وعده کې خلل او خلاف نهٔ راځی.

پدې کې اعرابو (بانډچیانو) او د مدینې منافقانو کوم چه د حدیبیه نه پاتې شوی وو وویل چه مونږه هم خیبر غزا ته ځو وجه دا وه چه دوی ته دا معلومه وه چه خیبر کې غنیمتونه زیات دی کجوری او فصلونه دی دا به راته ملاؤ شي، د مال په نیت باندې ئې دا خبره وکړه او د نبي علیه السلام نه ئې اجازه غوښته چه مونږ هم تا سره دې جهاد ته ځو مګر الله رب العزت رسول الله ﷺ ته پته وحی کړې وه چه خیبر ته به نهٔ بوځې مګر هغه خلك چه حدیبیه ته حاضر شویدی چه هغه څوارلس یا پنځلس سوه کسان

دی۔ او پدے خبره باندے قرآن کریم کی الله تعالیٰ حواله ورکړیده:
﴿ قُل لَّن تَتَّبِعُونَا كَذَٰلِكُمْ قَالَ اللَّهُ مِن قَبْلُ ﴾
(تهٔ ووایه تاسو به مونږ سره (خیبر ته) نهٔ ځئ ځکه همدغه شان خبره کړیده الله تعالیٰ مخکی۔ (په وحی خفی کی) ﴿ فَسَيَقُولُونَ بَلْ تَحْسُدُونَنَا ﴾
(نو زردے چه دوی به وائی چه تاسو مونږ سره حسد کوئ)۔
دے اعرابو او منافقانو وویل چه تاسو مونږ سره حسد کوئ۔ دا همیشه د باطل پرست طریقه ده چه په حق پرست باندے دا تهمت لګوی چه دوی حسد ګر دی۔
عجیبه خبره ده، دوی سره څه شے او څه کمال وو چه صحابه کرام د دوی سره حسد وکړی بلکه د صحابه کرامو سره الله تعالیٰ او د هغه رسول او حق او قرآن او کمال ورسره وو۔
نو رسول الله ﷺ د دوی سره یو بل حکمت وکړو هغه دا چه دوی ته ئے وویل چه څوك غواړی چه خیبر ته لاړ شی نو راځئ لاړ دے شی خو غنیمت کی به د هغه چا حصه وی چه حدیبیه ته حاضر شوی وی او باقی خلك دے حاضر شی که جهاد غواړی اجر به ئے وشی خو غنیمت کی به ئے برخه نهٔ وی، که د غنیمت په نیت ځئ نو غنیمت نشته۔ نو هغوی خو الله والا خلك نهٔ وو بلکه د غنیمت طمعدار وو پدے وجه شا ته شول دا د منافقانو جهاد وو چه کوم ځای کی دنیاوی فائده وینی یا غلبه د مومنانو په یو ځای کی راشی نو دوی سر راوچت کړی او ځان مخے ته مخے ته کوی او چه تکلیف وی نو بیا شا ته شا ته کیږی۔
نو دغه عدد (څوارلس سوه) مسلمانانو شرکت وکړو چه دا ټول د الله اولیاء وو یو هم پکی منافق نهٔ وو او ټول د الله د رضا پسے روان وو چه داسے جماعت په مخ د زمکه به چرته پیدا نشی۔
پدے غزا کی زنانو هم شرکت کړے وو لکه ام سلمه، صفیه او رُبَیّع او نورے زنانه هم وے رضی الله عنهنّ۔

د منافقانو د یهودو دپاره جاسوسی

کله چه رسول الله ﷺ خیبر ته روانیدو نو پدے کی عبد الله بن ابی ابن سلول رئیس المنافقین په جلتیٔ سره په پټه خیبر ته جاسوس ولیږلو چه آگاه شیٔ رسول الله ﷺ درغلو جنگ درسره کوی ورته بیدار شیٔ او دا ئے ورته وویل چه تاسو ته چه الله تعالیٰ کوم قوت او طاقت درکړیدے هغه ددے رسول سره نشته یو وړوکے شان جماعت دے او وسله ورسره دومره نشته ستاسو طاقت او شمار ته دوی نشی رسیدلے نو دوی نه یره مهٔ کویٔ۔

یهودیان د غطفان قبیلے نه مدد طلب کوی

نو پدے کی د یهودیانو نه دوه کسان یو کنانه بن الربیع ابن ابی الحقیق دے چه دا ددے علاقے مشر دے او هوذه بن قیس دواړه غطفان قبیلے ته ورغلل د هغوی نه ئے مدد اخستو ځکه چه غطفان قبیله د خیبر د یهودیانو حلفاء وو یو بل سره ئے حلف او معاهده کړے وه چه د یو بل مدد به کوو او غطفان قبیله خو د رسول الله ﷺ مخکنی دشمنان دی نو دوی غطفان ته وویل چه دا سړے (رسول الله ﷺ) راروان دے، د مدینے نه په مونږ باندے حمله کوی تاسو به مونږ سره ودریږئ د دوی مشر عُیینه بن حِصن فزاری دے چه ددهٔ په باره کی نبی علیه السلام وئیلی وو چه دا (اَلْأَحْمَقُ الْمُطَاع) دے یعنی غټ کم عقل دے او قوم مشر کړیدے او دا سره ددے کم عقل توب نه کله چه به دهٔ یوه خبره وکړه نو لس زره توری به دهٔ ته او چتیدلے سلامی به ئے ورته کوله چه بس زمونږ مشر خبره کړیده مونږ به پرے ورځو۔ او داسے نا اهله مشران او کشران په هره زمانه کی شته چه وائی امیر صاحب او افسر صاحب حکم کړیدے او د بره نه آډر دے دا به خامخا منو او په خبره کی سوچ نهٔ کوی د داسے حالت نه د الله تعالیٰ پورے پناه۔

نو دغه عُیینه بن حِصن ورته وویل چه که په تاسو باندے دے نبی حمله وکړه نو زما د طرفنه به ستاسو مدد ته څلور زره فوج درځی۔

او بعض روایتونو کی راځی چه زر کسان ئے ورله نقد ورکړل چه دا واخلئ دوی به تاسو سره په خیبر کی وسیږی او چه ضرورت شو نو څلور زره به درولیږو۔ او دے طرفنه یهودیانو دوی سره دا شرط وتړلو که مونږ په مسلمانانو غالبه شو نو مونږ به

تاسو ته د خیبر نیمائی میوه جات درکوو۔
نو یهودیان خوشحاله شو چه خلك راسره ملگری شو۔
دلته نبی علیه السلام د مدینے نه ووتو او خیبر ته روان شو او سِبَاعُ بُنُ عُرُفُطَه غفاری رضی الله عنه ئے نائب مقرر کړو چه تهٔ به په مسجد نبوی کی مونځونه کوے۔
او سپینه جنډه ئے وتړله او سیدنا علی رضی الله عنه ته ئے ورکړه
(رسول الله ﷺ پدے غزا کی د دوه میاشتو نه زیات وخت تیر کړو)۔

په لاره کی راغلی واقعات

د ابوهریره رضی الله عنه راتلل :

ابو هریره رضی الله عنه چه دا د مسلمانانو یو محدث او امام دے چه امت ته ئے ډیر خیر ورکړیدے دا د دَوس قبیلے نه راغلو ایمان ئے راوړو، دا یوه نوے فتح وه چه داسے قیمتی انسان مسلمان شی۔ هغه چه مدینے ته راغے وے کتل چه نبی علیه السلام په مدینه کی نهٔ دے موجود، نو د سباع بن عرفطه غفاری رضی الله عنه سره ئے د سهر مونځ وکړو او د هغه نه ئے تپوس وکړو چه د الله رسول چرته تلے دے ؟ نو هغه ورته وویل چه خیبر ته، هغه ورپسے د هغه ځای نه خیبر ته راروان شو او په داسے وخت خیبر ته راورسیدو چه دا جنگ ختمیدو والا وو او غنیمتونه نیول شوی وو نو رسول الله ﷺ د ملگرو نه اجازه واخسته چه ابو هریره له به هم په دے غنیمت کی برخه ورکړو نو ملگرو اجازه وکړه چه بالکل ئے ورکوو،
پدے کی یو کس وویل : اے د الله رسوله نهٔ ئے ورکوو ځکه چه دا پدے جنگ کی حاضر نهٔ دے نو ابو هریره (رضی الله عنه) دهٔ ته په غصه شو او دا ئے ورته وویل :
(هٰذَا قَاتِلُ ابْنِ قَوْقَلٍ)
ستا د لاس نه خو ابن قوقل صحابی مړ دے یعنی تهٔ خو هغه قاتل ئے چه مسلمان دے وژلے دے نو هغه ورته وویل : چه دا پیغور ما له مهٔ راکوه ما خو ځکه وژلے چه زهٔ هغه وخت کی کافر وم او دے یو مومن وو زما په لاس الله تعالیٰ جنت ته بوتلے دے۔ زهٔ

اوس مسلمان شوے یم۔ (وَاعَجَبًا لِوَبْرٍ تَدَلّٰی عَلَیْنَا مِنْ قَدُوْمِ ضَأْنٍ یَنْعٰی عَلَیَّ قَتْلَ رَجُلٍ مُسْلِمٍ أَکْرَمَهُ اللّٰهُ عَلٰی یَدَیَّ وَلَمْ یُهِنِّیْ عَلٰی یَدَیْهِ)۔

تعجب دے په غریز حیوان چه مونږ باندے د غره نه ناڅاپه راغلو او ما ته د یو مسلمان د قتل پیغور راکوی چه الله تعالیٰ هغه ته زما په لاسونو عزت ورکړو او زۀ ئے د هغه په لاسونو بیعزته نۀ کړم)۔

د بعض روایاتو نه معلومیږی چه دا ابان بن سعید بن العاص وو چه په دے صلح حدیبیه کی نوے مسلمان شوے وو۔ (فتح الباری۷/٤٩١)۔

لنډه دا چه ابو هریره رضی الله عنه او دۀ ملګرو ته هم برخه ورکړے شوه۔

بیا ابو هریره رضی الله عنه څلور کاله لږ څه کم د رسول الله ﷺ سره لازماً وسیدو او کار ئے دا وو چه د رسول الله ﷺ احادیث یادول، د حدیثونو سره ئے الله تعالیٰ ډیره مینه پیدا کړے وه چه د نبی علیه السلام هره ادا او عمل یاد کړی او امت ته ئے پیش کړی واقعی چه دا د امت دپاره یو لوی نعمت وو، د ابو هریره رضی الله عنه سره چه څوك مینه لری هغه مؤمن دے او څوك چه ورسره مینه نۀ لری هغه بی ایمانه دے لکه دا د یو حدیث نه معلومیږی، ابو هریره رضی الله عنه وویل : اے د الله رسوله ما ته دعا وکړه نو نبی علیه السلام وفرمایل: اے الله ! ابو هریره او دۀ مور مومنانو ته محبوب کړه۔

نو څوك چه د ابو هریره رضی الله عنه پسے خبرے کوی او بد ورته ګوری لکه په امت کی ډیر خلك داسے تیر شویدی چه ابو هریره ته بد ګوری لکه منکرین حدیث ورته غیر فقیه وائی چه دا په دین نۀ پوهیدو۔

د ابو هریره رضی الله عنه کار دا وو چه په مسجد کی به ناست وو او د رسول الله ﷺ حدیث به ئے یادول او خپله خیټه به ئے ساتله نور نۀ د کور غم ورسره وو او نۀ د ښځے او بچو څکه چه لا وادۀ ئے نۀ وو کړے۔

پدے وجه دا به د نبی علیه السلام سره په هر مجلس کی حاضر وو چه ډیر مشران صحابه کرام به په هغے کی نۀ وو حاضر پدے وجه دۀ امت ته ډیر زیات احادیث رانقل کړل چه هغه نورو صحابه کرامو ندی نقل کړی۔

او دویمه وجه د احادیثو ډیر یادولو دا وه چه یوه ورځ رسول الله ﷺ وفرمایل: څوك دے چه خپل څادر واچوی او زۀ خبره وکړم او بیا ئے د سینے سره یو ځای کړی نو هیڅ

خبره به ترې نۀ هیرېږي۔ ابو هریره رضی الله عنه وائي نورو ملګرو چه ځان برابرولو نو ما جلتي وکړه ما سره یوه شړۍ وه زر مې رسول الله ﷺ ته راخوره کړه، د بیان نه روستو نبي علیه السلام ما ته وویل چه دا د سینې سره یو ځای کړه چه ما یو ځای کړه نو الله تعالیٰ زما د ذهن نه یوه خبره هم نۀ ده هیره کړې، د رسول الله ﷺ معجزه په دۀ کې ښکاره شوه۔ او امت دپاره داسې کسانو ته هم ضرورت دے چه هره خبره یاده کړي۔

دریمه وجه یو حدیث کې دا هم راغلې ده چه د ابو هریره رضی الله عنه د احادیثو سره حرص او مینه ډیره زیاته وه۔ ابو هریره رضی الله عنه وفرمایل:

مَنْ أَسْعَدُ النَّاسِ بِشَفَاعَتِكَ؟)

یارسول الله ! ستا په سفارش به څوك نیك بخته کېږي؟

رسول الله ﷺ دۀ ته وفرمایل: (لَقَدْ ظَنَنْتُ أَنْ لَّا يَسْأَلُنِي عَنْ هٰذَا الْحَدِيْثِ أَحَدٌ أَوَّلَ مِنْكَ، لِمَا رَأَيْتُ مِنْ حِرْصِكَ عَلَى الْحَدِيْثِ)

زما ګمان وو چه ددې حدیث (خبرې) په باره کې به ما نه اول ستا نه هیڅوك تپوس نۀ کوي ځکه چه ما لیدو چه ستا حرص په حدیثونو باندې ډیر زیات دے، بیا ئې ورته وفرمایل: (زما په شفاعت به هغه څوك د قیامت په ورځ نیك بخته کېږي چه هغه لا اله الا الله کلمه د زړه د اخلاص نه وئیلې وي)۔

(صحیح البخاری ١/٣٦) رقم : ٩٩) باب الحرص علی الحدیث)

نو چه د یو سړي شوق هم زیات وي او وزګار هم وي او د رسول الله ﷺ معجزه هم پکې ښکاره شوې وي نو ولې به دومره ډیر حدیثونه نۀ یادوي نو ابو هریره رضی الله عنه د امت دپاره لوی نعمت وګرځیدو۔

دویمه واقعه : نبي علیه السلام چه کله ووتلو نو دوه کسان ئې ځان سره واخستل چه د یو نوم حُسَیْل بن نُوَیْرَه اشجعي وو او یو بل صحابي وو چه تاسو به مونږ ته د خیبر لاره راښایئ

(نبي علیه السلام ته د خیبر طرف معلوم وو لیکن بالضبط داسې لاره ورته نۀ وه معلومه چه د یهودو قلعه ګانو ته رسیدلې وي)۔

ددې نه دا معلومېږي چه د الله نبي سره ډیر علم دے لیکن د غیبو علم ئې ورله نۀ دے ورکړے چه د اسبابو نه بالاتر وي۔

رسول الله ﷺ چه کله خیبر طرف ته روان شو نو په لاره کی په جبل عِصر باندے ورتیر شو بیا د هغے نه صَهبَاء علاقے ته ورغلو (چه ضبهاء علاقه کی یو تالاب دے چه رسول الله ﷺ خیبر ته په تلو او راتلو کی دلته دمه کړے وه)

بیا یو وادی کی کوز شو چه هغے ته ئے رجیع وئیلو او د دغه ځای نه د غطفان پورے د یوے ورځے او یوے شپے مزل وو، ددے نه چه مخکی لاړ شی نو دلته یوه خکته او فراخه وادی ده چه په هغے کی د خیبر ښار آباد دے دا د کجورو په ونو سره دومره پټ شویدے چه د یو اوچت ځای نه هم د ښار نظارے په نظر نهٔ راځی)

اتلس سیرت ص (۳۳۰)۔

په لاره کی چه یو ځای ته ورسیدل نو ځلور لارے مخے ته راغلے، لاربنودونکی وویل چه دا ځلور واړه لارے خیبر ته رسیدلی دی نو رسول الله ﷺ وفرمایل چه ما ته ئے نومونه واخله دے دپاره چه د ښه نوم والا نه نیك فالی ونیسی لکه دا د نبی علیه السلام عادت مبارك وو. د بد نوم نه به ئے بد فال نهٔ نیولو بلکه هغه شے به ئے پریښودو او د هغے نه ښه نوم به ئے کتلو. یو شخص وویل چه ددے لارے نوم (حَزَن) دے (یعنی سخته لاره) نو رسول الله ﷺ دا لاره پریښوده ځکه چه حزن کی معنی د سختئ وه. ددے بلے لارے نوم (شاش) دے رسول الله ﷺ دا هم پریښوده ځکه چه شاش کی معنیٰ د تشویش او ګډوډ والی پرته ده. د بلے لارے نوم حَاطِب دے، نبی علیه السلام دا هم پریښوده ځکه چه حاطب کی معنیٰ د شپے لرګی راټولو ده او د شپے لرګی راټولو کی کله ماران هم راټول شی، یارسول الله ! یوه لاره پاتے شوه عمر رضی الله عنه وویل :

ددے څه نوم دے ؟ هغه وویل : مَرحَب. نو نبی علیه السلام پدے باندے روان شو ځکه چه مرحب کی معنیٰ د فراخئ ده نو نبی علیه السلام ددے نه فال ونیولو چه الله تعالیٰ به مونږ ته فراخی راکړی پدے نوم کی الله تعالیٰ مونږ ته اشاره راکوی چه فراخه راروانه ده.

دریمه واقعه : سلمه بن اکوع رضی الله عنه وائی : مونږ خیبر ته د شپے روان وو نو یو ملګری وویل چه ځوك نشته چه مونږ ته څه اشعار ووائی چه دا لاره لنډه کړی نو پدے کی یو صحابی عامر بن اکوع رضی الله عنه د خپلے سورلئ نه راکوز شو او بعض اشعار ئے ولوستل (ځکه چه دا یو ښه شاعر وو) ۔

اَللّٰهُمَّ لَوۡلَا أَنۡتَ مَا اهۡتَدَیۡنَا	❁	وَلَا تَصَدَّقۡنَا وَلَا صَلَّیۡنَا
فَاغۡفِرۡ فِدَاءً لَكَ مَا اقۡتَفَیۡنَا	❁	وَثَبِّتِ الۡأَقۡدَامَ اِنۡ لَاقَیۡنَا
وَأَلۡقِیَنۡ سَكِیۡنَةً عَلَیۡنَا	❁	اِنَّا اِذَا صِیۡحَ بِنَا أَبَیۡنَا

وَبِالصِّیَاحِ عَوَّلُوۡا عَلَیۡنَا.

ㅇ اے الله کـه تـهٔ نهٔ وے مونږ به هدایت نهٔ وے حاصل کړے او نهٔ به مو صدقه ورکړے وے او نهٔ به مو مونځ کړے وے. ㅇ نو مونږ ته بخنه وکړه ترڅو چه مونږه ستا د دینٍ او د رسول تابعداری کوو، مونږ دے ستا د دین نه قربان شو او زمونږ قدمونه مضبوط کړه کـه چرته مونږ ستا د دشمنانو سره ملاؤ شو، ㅇ او پـه مونږ باندے آرام واچوه دا کافران مونږ ته چغے وهی لیکن مونږ د دوی د چغو نه انکارکوو.

نبی علیه السلام وفرمایل : دا څوك دے چه دا شعرونه وائی او دا ملګری ئے تیز روان کړیدی؟ (ځکه چه کله شعرونه وئیل کیږی ملګری جذبه کی وی تیز روانٍ وی) دیته عربئ کی حُدِیَ خوانی وائی اُوښان پدے سره مستیږی او مزل تیز کوی)

صحابـه کرامـو وویـل : دا خو عـامر بن الاکوع (رضی الله عنـه) دے نو نبی علیـه السلام دهٔ ته دا دعا وکړه : (یَرۡحَمُهُ اللّٰهُ) الله دے په دهٔ باندے رحم وکړی.

نو یو صحابی وویل : اے د الله رسوله (وَجَبَتۡ یَا نَبِیَّ اللّٰهِ، هَلَّا أُمۡتِعۡتَنَا بِهٖ)

دا دعـا قبـوله شوه اے د الله نبی تا خو به مونږ ته په دهٔ باندے لږے فائدے راکړے وے. اے د الله رسولـه دا دعـا دے ورته ولے وکړه. ځکه چه نبی علیـه السلام به کلهِ چا ته دعا وکړه او د یو خـاص سړی نوم به ئے واخستو او بیا په جهاد کی نو هغه به شهید کیدو نـو دے صحـابی وویل چه دا خو زمونږ په ملګرو کی قیمتی سړے دے که دا زمونږ نه لاړ شی مـونږ بـه ډیر نیمګړی شو نو د الله رسول څه ونهٔ وئیل، نو همدغه شان وشوه چه عامر رضی الله عنه خیبر ته لاړو نو هلته شهید شو.

دا خبره رسول الله ﷺ په وحی سره کړے وه دیته علم غیب نهٔ وائی.

٤- واقعه : یو بل صحابی وو انجشـه د هغه نوم وو د نبی علیهٔ السلام تور غلام وو د هغـه آواز ډیر خـوږ وو هغـه شعرونه وئیل او د زنانو اُوښانو پسے روستو روان وو نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: (رُوَیۡدَكَ یَا أَنۡجَشَةُ رِفۡقًا بِالۡقَوَارِیۡرِ) اے انجشه ! په آرام شه، ددے شیشـو سره نـرمی وکړه. ځکه چه زنانه د شیشو په شان زړونه لری کمزوری دی

هسے نۀ چه زړونه ئے بل طرفته مائل نشی (ځکه د ډیر خوږ آواز د وجه نه کمزوری زړونو والا باندے کله نا کله بی هوشی هم راځی او کله ئے زړه دغه سړی طرفته هم مائله کیږی) ددے وجه نه کومے گانے بجانے چه زنانه آوری نو دا اکثر د عشق او گندگیرئ سبب جوړیږی نو دۀ ته ئے وویل چه پدے زنانو شفقت وکړه. دویم دا چه ددۀ په آواز سره اُوښان هم په تیزئ کی راغلل نو نبی علیه السلام دۀ ته وویل چه آواز بس کړه هسے نۀ چه دا زنانه د اُوښانو نه پریے نۀ وځی.

٥- واقعه : رسول الله ﷺ په لاره روان وو نو صحابه کرامو ته ئے دا تعلیم ورکړے وو چه تاسو به په لاره د الله تعالیٰ ذکر ډیر کوئ (ځکه چه هغه مجاهد او داعی ډیر غوره وی چه د الله تعالیٰ ذکر ډیر کوی)

(نبی علیه السلام په یوه موقعه کی د مکے په لاره کی روان وو نو لاره کی جُمدان غر باندے ورتیریدل نو وے فرمایل: (سِیْرُوْا جُمْدَانَ سَبَقَ الْمُفَرِّدُوْنَ) تاسو په جُمدان غر باندے روان وسئ خو مفردون خلك مخکی شو، صحابه کرامو تپوس وکړو یارسول الله مفردون څوك دی ؟ وے فرمایل: (اَلذَّاكِرُوْنَ اللّٰهَ كَثِيْرًا وَالذَّاكِرَاتُ) هغه سړی او زنانه چه الله تعالیٰ ډیر یادوی. (صحیح مسلم ٦٩٨٤).

نو صحابه کرامو به ذکر کولو نو پدے کی ددوی آوازونه په سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اکبر باندے پورته شو نو رسول الله ﷺ ورته تعلیم ورکړو :

(اِرْبَعُوْا عَلٰى اَنْفُسِكُمْ) په خپل ځانونو باندے رحم او شفقت وکړئ یعنی په جهر سره ذکر مۀ کوئ وجه دا ده چه کله انسان په زوره ذکر کوی نو بیا ډیر ذکر نشی کولے، زر ستړے کیږی، دویم دا چه په پټه ذکر افضل دے او په جهر جائز دے او بیا ئے ورته وجه دا وښودله : (فَاِنَّكُمْ لَا تَدْعُوْنَ اَصَمَّ وَلَا غَائِبًا، اِنَّكُمْ تَدْعُوْنَ سَمِيْعًا قَرِيْبًا، اَقْرَبُ اِلٰى اَحَدِكُمْ مِنْ عُنُقِ رَاحِلَتِهٖ) ځکه چه تاسو نۀ رابلئ کوڼ او غائب ذات بلکه تاسو آوریدونکے او نزدے ذات رابلئ، ډیر نزدے دے یو تن ستاسو ته د څټ د خپلے اوښے نه)، او قانون دا دے چه نزدے ذات او مخامخ ذات ته خلك چغے نۀ وهی دا د ادب خلاف ده.

(البداية والنهاية ٢٤٣/٤، وسبل الهدى والرشاد ١٥٠/٥)

٦- واقعه : رسول الله ﷺ په لاره کی ملگرو ته وویل چه تاسو به نیغ د صف په شکل روانیږئ او یو تن به نۀ مخکی کیږی

(پدے کی د رسول الله ﷺ مقصد د ملګرو تابعداری معلومول وو، بل پدے کی د سلیمان علیه السلام تابعداری مقصد وه چه هغه خپل صفونه (د انسانانو، پیریانو او مارغانو) دغه شان نیغ روان کړی وو (فَهُمْ یُوْزَعُوْنَ) د قرآن د آیت تابعداری ئے غرض وه)
نو ټول د صف په شکل روان وو پدے کی رسول الله ﷺ یو تن ولیدو چه مخکی یو ځای کی ناست دے وے فرمایل: دا څوك دے؟ وویل شو: دا خو فلانے دے.
رسول الله ﷺ وفرمایل: دا ولے مخکی شوے ئے؟، نو د هغه څه عذر نهٔ وو نو رسول الله ﷺ حکم وکړو چه راوړے نیسئ او سزا ورکړئ نو هغه ئے وتړلو چه تهٔ ولے داسے کار کوے هغه له ئے ادب ورکړو.
۸- واقعه : پدے کی رسول الله ﷺ صهباء علاقے ته ورسیدو چه دا خیبر ته نزدے ځای دے نو هلته ئے دمه وکړه د مازیګر مونځ ئے وکړو او بیا ئے ملګرو ته وویل چه خپلے توښے راوړئ چه د خوراك نه ورته ځان فارغه کړو (فَلَمْ یُؤْتَ اِلَّا بِالسَّوِیْقِ) نو ټولو مجاهدینو سره صرف ستوان وو هغه ئے راوړل کجورے هم ورسره نهٔ وے، سبحان الله ! څومره پاك جماعت دے ټول جنتیان دی او دومره غربت حالت کی دی.
په ستوانو کی ئے اُوبه واچولے او چقړ ئے کړل او په هغے باندے شروع شو نبی علیه السلام او صحابه کرامو وخوړل، بیا رسول الله ﷺ د ماښام مانځه ته راپاڅیدو، مضمضه ئے وکړه او اودس ئے ونکړو او صحابه کرامو هم مضمضه وکړه بیا رسول الله ﷺ د ماسخوتن مونځ هم وکړو. ددے وجه دا ده چه کله انسان مانځه ته ودریږی نو پکار ده چه د هغه په غاښونو کی څه طعام نهٔ وی انښتے او دا وجه ده چه شریعت پدے وخت د مانځه کی مسواك وهل سنت ګرځولی دی. یو ددے دپاره چه الله تعالیٰ ته پاکه خوله ودریږی او دویم دا چه ستا توجه هم ددے طعام په وجه خرابه نشی.
او د پخ کړی شی د خوراك نه په ابتداء د اسلام کی اودس کول لازم وو لیکن بیا روستو منسوخ شو او صرف مضمضه پاتے شوه.
ددے حدیث نه جمع بین الصلاتین هم ثابته شوه چه رسول الله ﷺ د ماښام نه پس د ماسخوتن مونځ هم وکړو ځکه چه روستو سفر وړیه غاړه دے او وتر به رسول الله ﷺ پدے وخت کی نهٔ کول بلکه هغه به ئے په خپل وخت کی کول یا د صبا د راختلو نه مخکی نو کوم خلك چه د جمع بین الصلاتین کی وتر په ماښام کی کوی نو دا

تیك نهٔ ده ځکه چه وتر د صبا راختلو پورے کیږی۔

دویم دا چه وتر په سورلئ هم کیږی او نبی علیه السلام به په سورلئ باندے کول۔

بیا رسول الله ﷺ روان وو د شپے مزل ئے کولو تردے چه خیبر ته نزدے شو نو رسول الله ﷺ خبر شو چه غطفان قبیله راځی او د یهودو سره مدد کوی نو رسول الله ﷺ دغه دوه لار ښودونکو ته وویل چه مونږ په داسے لاره بوځئ چه د یهودو او د غطفان قبیلے په مینځ کی واقع شو او دغه غطفان قبیله یهودو ته راونهٔ رسی یعنی د شمال طرفنه چه دا د شام طرف وو او دے دپاره چه دا یهودیان هم پدے لاره شام ته ونهٔ تښتی۔

نو رسول الله ﷺ د غطفان قبیلے پسے جواب ولیږلو چه تاسو د یهودیانو مدد ته مهٔ راځئ هغوی خبره نهٔ منله نو نبی علیه السلام هغوی سره دا مفاوضه (مطالبه) وکړه ورته ئے وویل چه تاسو ته به مونږ د خیبر د میوه جاتو دریمه حصه درکړو کله ئے چه فتح کړو،

(کافرو ته وائی مونږ به مال درکړو خو تاسو د یهودو مدد مهٔ کوئ، دا د جهاد ترتیبونه وی بعض خلك د خپل کم عقل توب او د دین د ناپوهئ په وجه دا فتوے لګوی چه څوك حکم بغیر ما انزل الله کوی که د هغے په خوا ورتیر شو نو لاړو کافر شو، نهٔ بلکه د اسلام د غلبے دپاره به قسما قسم کارونه کوے کله چه د اسلام خلاف نهٔ وی) هغوی نهٔ منله، بیا رسول الله ﷺ جواب ولیږلو چه نیم مال د خیبر به درکړو، هغوی بیا هم نهٔ منله۔

د سیرت په بعض کتابونو کی دی چه رسول الله ﷺ دوی ته وویل چه د خیبر د یو کال ټول میوه جات به درکړو لیکن هغوی خپل کم عقل توب کولو نو رسول الله ﷺ په خپل حال پریښودل۔

پدے مابین کی غطفان قبیله د خپلو علاقو نه راووتل او ډیر مزل ئے وکړو نو چا ورله خبر راوړو چه ستاسو په کلی کی شور او شرغب دے نو هغوی سره دا خطره شوه چه دا شور به پدے وجه وی چه مسلمانان به تلی وی او ز مونږ په کلی او مالونو به ئے حمله کړی وی او مونږ به دلته د یهودو مدد کوو او هلته به ئے زمونږ کلے تباه کړے وی نو ټولو منډه کړه او خپل کلی ته واپس شو، کله چه خپل علاقے ته ورسیدل هیڅ نهٔ وو بیا هغوی اراده وکړه چه بیرته راځی لیکن دلته رسول الله ﷺ خیبر ته داخل شوے

وو او ډیرے قلعه ګانې ئے فتح کړے وے نو هغوی چه راتلل نشو رارسیدلے ځکه چه یوه ورځ او یوه شپه مزل ئے کړے وو۔

نو غطفان قبیله الله تعالیٰ په هسے هوائی آواز باندے واپس کړل او د مسلمانانو سره ئے مدد وکړو چه هیڅ ئے ترے وانخستل ددے نه د الله تعالیٰ مددونه معلومیږی او دغه الله تعالیٰ اُوس هم دے چه د مسلمانانو سره به دغه شان مدد کوی۔

فائده : دلته د نبی علیه السلام دا زړهٔ نهٔ وو چه غطفان قبیلے ته مال ورکړی لیکن هغه غوښتل چه د هغوی د شر نه مسلمانان محفوظ شی نو مال ئے ورته پیش کړو ددے نه دا مسئله معلومه شوه چه کله یو انسان د چا د شر نه یریږی یا د خپلو ملګرو د حفاظت دپاره هغه ته مال پیش کړی نو دا به رشوت نهٔ وی یا هغه باندے د یرے د وجه نه سلام واچوے یا هسے د مینے اظهار ورسره وکړے نو دا به جائز وی خو شرط دا دے چه په زړه کی به دے ورسره دشمنی وی. اَلْحَرْبُ خُدْعَةٌ۔ خو پدے خبره هغه څوك پوهیږی چه د الله د دین صَحیح تصور ئے کړے وی۔

نبی علیه السلام خیبر ته ورنزدے شو، خیبر والو ته دا اطلاع شوے وه چه نبی علیه السلام په دوی باندے حمله کوی نو دوی به هر سهر راوتل او لارے به ئے څارلے چه هسے نهٔ په مونږ باندے په غفلت حالت کی حمله ونشی نو د الله کار ته ګوره په کومه شپه چه رسول الله ﷺ په دوی باندے حمله کوله نو دوی ئے اُوده پاتی کړی وو تردے چه ډیر ناوخته راپاڅیدل او په نورو ورځو کی به دوی د سهر د اذانونه مخکی پاڅیدل او پټو ته به تلل خو اسونو والا به ئے مخکی ولیږل چه دا علاقه وڅاری چه کوم فوج خو نهٔ دے راغلے۔

نو پدے ورځ دوی اسونه ونهٔ لیږل تردے چه رسول الله ﷺ د دوی کورونو مخے ته ورغے نو دوی راپاڅیدل او پټو ته روان شو چه پچے ګانے او بیلچے ورسره وے چه خپلو باغونو او پټو کی ئے کار کولو نو وے لیدل چه لښکر راروان دے نو ټولو باندے رعب راغے او خپلو قلعه ګانو ته ئے منډه کړه او دائے وویل : (مُحَمَّدٌ وَاللهِ مُحَمَّدٌ وَالْخَمِيْسُ)

محمد دے قسم په الله محمد دے او فوج ورسره دے۔ رسول الله ﷺ چه کله دوی ولیدل او د خیبر قلعه ګانې ئے ولیدلے نو وے فرمایل: (اَللّٰهُ أَكْبَرُ خَرِبَتْ خَيْبَرُ) الله ډیر لوی دے خیبر خراب شو، (اِنَّا اِذَا نَزَلْنَا بِسَاحَةِ قَوْمٍ فَسَاءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِيْنَ) مونږ چه کله د

یو قوم په مندوو (میدانئ) نازل شو نو ډیر بد دے صبا د هغه قوم چه یره ورکړے شوےده. دوی ته به مونږ یره ورکوله لیکن دوی نهٔ سمیدل نو اُوس د دوی تباهی رانږدے شوه.

دا هغه رعب والا آواز وو چه ټول خیبر ئے ولړزولو او په هغوی باندے سخت رعب راغے.

رسول الله ﷺ چه کله د خیبر قلعه ګانے ولیدلے نو پدے وخت کی ئے دعا وکړه او دا دعا د امت دپاره هم ده چه هغوی داسے دعا وکړی کله چه یو کلی ته داخلیږی وے فرمایل:

(اَللّٰهُمَّ رَبَّ السَّمٰوَاتِ السَّبْعِ وَمَا اَظْلَلْنَ وَرَبَّ الْاَرْضِيْنَ السَّبْعِ وَمَا اَقْلَلْنَ، وَرَبَّ الشَّيَاطِيْنِ وَمَا اَضْلَلْنَ وَرَبَّ الرِّيَاحِ وَمَا ذَرَيْنَ فَاِنَّا نَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ وَخَيْرِ اَهْلِهَا وَخَيْرِ مَا فِيْهَا وَنَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ وَشَرِّ اَهْلِهَا وَشَرِّ مَا فِيْهَا)

اے الله چه تهٔ رب د اوه آسمانونو ئے او د هغه څه چه دے پرے سورے کړیدے او رب د اوه زمکو ئے او د هغه څه چه دے پورته کړیدی او رب د شیطانانو ئے او د هغه څه چه دوی ګمراه کړیدی او رب د هواګانو ئے او د هغه څه چه دے رالوزولی دی یقیناً مونږ ستا نه ددے کلی خیر او ددے د وسیدونکو خیر او هغه خیر چه پدے کی دے غواړو او پناه غواړو د شر ددے کلی نه او د شر د وسیدونکو ددے نه او د هغه شر نه چه پدے کی دے).

بیا ئے وفرمایل: (اُقْدِمُوْا بِسْمِ اللّٰهِ) د الله په نوم ورمخکی شئ.

د اسلامی فوج معسکر

او ددے نه بعد رسول الله ﷺ خپل ځان او ملګرو له یو معسکر جوړ کړو نو پدے کی یو صحابی حُباب بن المنذر رضی الله عنه راغے وے ویل:

(يَارَسُوْلَ اللّٰهِ، اَرَاَيْتَ هٰذَا الْمَنْزِلَ اَنْزَلَكَهُ اللّٰهُ اَمْ هُوَ الرَّأْیُ فِي الْحَرْبِ ؟)

اے د الله رسوله! خبر راکړه آیا دا ځای چه تا پکی پړاؤ واچولو دا د الله په حکم دے او که دا په جنګ کی یوه رایه ده؟، رسول الله ﷺ وفرمایل: دا زما یوه رایه ده،

نو حُباب رضی الله عنه ورته عرض وکړو چه دا ځای زما نهٔ دے خوښ وجه دا ده چه

پدے کې نقصانات دي اول نقصان دا دے چه دا ځاي نطاة قلعه ته نزدے دے او ټول جنګیان د دوي پدے کې دي (وَسِهَامُهُمْ تَصِلُ اِلَيْنَا وَلَا يَصِلُ سِهَامُنَا اِلَيْهِمْ)
د دوي غشي به مونږ ته رارسيږي او زمونږ غشي دوي ته نۀ رسيږي (مونږ په هوار ميدان کې يو).

(وَهُمْ يَدْرُوْنَ أَحْوَالَنَا وَلَا نَدْرِيْ أَحْوَالَهُمْ) او دوي به زمونږ په حالاتو پوهيږي (رابنکاره کيږي به) او مونږ به د هغوي په احوالو نۀ پوهيږو.

(وګوره ټول د الله اولياء دي او په حالاتو نۀ پوهيږي څوك چه دا وائي رسول الله ﷺ او اولياء په غيبو پوهيږي دا مشرکين دي د الله تعالىٰ حق ئے بندګانو ته ورکړيدے)

(وَلَا نَأْمَنُ مِنْ بَيَاتِهِمْ أَيْضًا) او مونږ به د دوي د شپے حملے نه په امن کې هم نۀ يو، ځکه چه (هٰذَا مَكَانٌ غَائِرٌ وَفِيْهِ وَخَامَةٌ وَبَيْنَ النَّخْلَاتِ) .دا جوړ ځاي دے او کمزورے زمکه ده او د کجورو په مينځ کې واقع دے چه پدے کې خطرے ډيرې دي
(فَلَوْ أَمَرْتَ بِمَكَانٍ خَالٍ عَنْ هٰذِهِ الْمَفَاسِدِ نَتَّخِذُهُ مُعَسْكَرًا).

که تۀ د بل ځاي حکم وکړے چه ددے نقصانانو نه خالي وي نو هغه به معسکر جوړ کړو نو نبي عليه السلام وفرمايل: (اَلرَّأْيُ مَا أَشَرْتَ) . دا تا چه کومه رايه ورکړه همدغه صحيح رايه ده. نو ددے ځاي نه لاړل بل ځاي کې ئے معسکر جوړ کړو.

(دا د رسول الله ﷺ مخالفت نۀ وو بلکه هغه ته يوه مشوره ورکول وو او په دنياوي امورو کې به رسول الله ﷺ د صحابه کرامو سره مشوره کوله او بيا به هغه قبلوله هم کله چه به صحيح وه لکه دلته ئے قبوله کړه).

د رسول الله ﷺ عادت مبارك دا وو چه کله به يو قوم ته ورتللو نو حمله به ئے پرے نۀ کوله بلکه انتظار به ئے کولو کله چه به سحر شو او اذان به ئے واوريدو نو هغه کلي باندے به ئے حمله نۀ کوله ځکه چه هغه کلي به مومنان وي او که اذان به ئے وانۀ وريدو نو حمله به ئے کوله، صحابه کرام وائي خيبر ته چه مونږ ورسيدو نو د صبا وخت وو د الله رسول غوږ کيښودو چه کيدے شي دے خلکو ايمان راوړے وي نو معلومه شوه چه اذان نشته نو رسول الله ﷺ د سحر مونځ وختي په اول وخت کې وکړو او د مانځه نه فارغ شو نو بيا خيبر ته ورنزدے شو.

انس بن مالك رضي الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ په اس باندے سور شو او زۀ د

ابو طلحه سره په اس باندې سور شوم او نبي علیه السلام لنګ اغوستې وو او لنګ ئې رابډې کړې وو او د هغه د زنګون سر زما نه لګیدو دومره نزدې نزدې د خیبر په کوڅو کې روان وو او یهودیان قلعه ګانو ته ننوتي وو او د الله اکبر چغه هم رسول الله ﷺ پدې وخت کې ووهله او پدې کې بیا جهاد شروع شو.

د فتح زیرے او جنګ ته تیاری

رسول الله ﷺ په دغه معسکر کې کیناستو پدې سوچ کې وو چه دے خلکو سره په څه ترتیب مقابله وکړو او دوی ته څوك ورولیږو؟ نو رسول الله ﷺ به ډله ډله خلك لیږل او په دے قلعه ګانو به ئې حملے کولے اول ئې جنډه ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته ورکړه او صحابه کرام ئې ورسره ولیږل چه حمله وکړی لیکن د هغه په لاس هم فتح ونشوه بیا ئې عمر فاروق رضی الله عنه ته جنډه ورکړه هغه هم سخت جنګ وکړو تردې چه سخت ستړے شو لیکن فتح ونشوه

(الدرر فی اختصار المغازی والسیر لابن عبد البر النمری القرطبی ١/١٩٨)

بیا شپه شوه نو رسول الله ﷺ وفرمایل:

(لَأُعْطِيَنَّ الرَّايَةَ غَدًا رَجُلًا يُحِبُّ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ وَيُحِبُّهُ اللّٰهُ وَرَسُولُهُ يَفْتَحُ اللّٰهُ عَلٰى يَدَيْهِ)

زۀ به صبا ته یو داسې سړی ته جنډه ورکوم چه د الله او د رسول سره به مینه کوی او الله او رسول به ددۀ سره مینه کوی او الله تعالیٰ به د هغه په لاس باندے دا یوه قلعه فتح کوی. (ځکه چه خیبر کې غټے اته قلعه ګانے وے او تول ترتیب سره پرتے وے چه پنځه په یو طرف کې وے او درے په بل طرف کې)

صبا چه شو هر ملګری ځان پیش پیش کولو هر یو دا ارمان کولو چه دا جنډه ما ته راکړی ځکه چه دا لوی منقبت به مونږ ته حاصل شي چه الله او رسول به مونږ سره مینه کوی ددے دپاره ئې جنډه غوښتله.

(سیدنا عمر فاروق رضی الله عنه وفرمایل: (مَا أَحْبَبْتُ الْإِمَارَةَ إِلَّا يَوْمَئِذٍ)

ما هیڅکله مشری نۀ وه خوښوله او پدے ورځ زما زړه کې د مشرئ مینه راغله (ددے دپاره چه د الله او د رسول محبوب جوړ شم) نو ما خپل ځان رسول الله ﷺ ته

پیش پیش کړو پدې امید چه زهٔ به دې جنډې ته راوبللې شم، (صحيح مسلم٦٣٧٥)

نو رسول الله ﷺ علي رضي الله عنه راوغوښتو چه هغه څه شو؟ خلکو ووېل: هغه خو بيمار دې سترګې ئې خوږېږي او په يوه خيمه کې پروت وو نو رسول الله ﷺ وفرمايل: ما له ئې راوغواړئ هغه راوستې شو چه نظر ئې نهٔ لګېدو نو رسول الله ﷺ مخې ته کېنولو او په سترګو باندې ئې ورله چُپ وکړو او لاړې ئې په سترګو ورواچولې نو سمدستي الله تعالیٰ روغ کړو او دا د نبي عليه السلام معجزه وه او د هر مومن په دم کې شفاء وي.

علي رضي الله عنه فرمائي: ددې نه روستو زما په سترګو هيڅکله درد نهٔ دې راغلې. نو علي رضي الله عنه ته ئې دا جنډه ورکړه او رته ئې ووېل: لاړ شه او يهودو ته دعوت ورکړه دې دپاره چه ښه حجت پرې قائم شي، دوی ته دعوت رسيدلې دې ليکن دا نفلي دعوت دې نو علي رضي الله عنه وفرمايل: (أُقَاتِلُهُمْ حَتَّى يَكُونُوا مِثْلَنَا)

زهٔ د دوی سره جنګ وکړم تردې چه زمونږ په شان شي.

مِثْلَنَا څکه وائي چه صحابه کرام په دين باندې سو فيصد پوره روان وو هغوی د خلکو دپاره مثال وو.

نبي عليه السلام ورته وفرمايل: زهٔ وايم په آرام لاړ شه تردې چه د هغوی د قلعه خوا ته ورشې بيا دوی ته د اسلام دعوت ورکړه او د الله حکمونه ورته بيان کړه چه د الله حکمونه او حقونه ادا کوئ بس زمونږ او ستاسو هيڅ جنګ نشته (الله تعالیٰ به دنيا او آخرت درکړي) او دا ئې هم ورته وفرمايل:

(فَوَاللَّهِ، لَأَنْ يَهْدِيَ اللَّهُ بِكَ رَجُلًا وَاحِدًا خَيْرٌ لَكَ مِنْ حُمْرِ النَّعَمِ)

(قسم په الله که الله تعالیٰ ستا په وجه يو تن هدايت وکړي دا ستا دپاره د سرو اُوښانو نه ډېره غوره ده). (صحيح بخاري: ٣٠٠٩)

سره اوښان په هغه وخت کې داسې وو لکه نن صبا اعلیٰ ترين ګاړې موټرې.

دا د حديث الفاظ دي او د سيرت په بعض رواياتو کې دي: (خَيْرٌ لَكَ مِنْ قَتْلِ مِائَةِ كَافِرٍ) دا غوره ده ددې نه چه تهٔ سل کافران قتل کړې. دا هغه روايت دې چه ددې نه بعض صوفياؤ غلطه فائده اخستې ده چه د جهاد نه دعوت غوره دې، د کافر قتل نهٔ دې پکار بلکه هغه مسلمانول پکار دي مونږ وايو چه د کافر وژل بعينه عبادت دې آو.

که په جهاد کې یو کافر مسلمانیږي نو د هغه وژل نهٔ دي پکار بلکه په دغه وخت کې د هغه مسلمانیدل د هغه د قتل نه ډیر غوره دي ځکه وژل مقصود نهٔ دے بلکه هدایت مقصود دے لیکن که دعوت نهٔ مني نو بیا ورله ځټ وهل غوره دي۔

جنګ شروع کیدل او حِصن ناعم فتح کیدل

علي رضی الله عنه د خپلو ملګرو سره لاړو هغوی ته ئې د اسلام دعوت ورکولو نو د اوّلې قلعه چه هغې ته ئې حِصنِ ناعِم وئیله د هغې نه د هغوی مشر چه مرحب ئې نوم وو راووتو چه ځان ئې په وسله تیار کړے وو او دا کس به یواځې د زرو کسانو د مقابلې دپاره ګڼړلے کیدو او دا ئې وویل چه زمونږ اسلام ته ضرورت نشته بلکه مونږ مقابله کوو۔
(یهودو کې کبر زیات دے او بل پکې حسد دے او په ټول عالَم باندے ځان اُوچت ګڼړي)۔

پدے مقام کې یو سُوري ته محمود بن مسلمه رضی الله عنه (چه د محمد بن مسلمه رضی الله عنه ورور دے) کیناستو ځکه چه دهٔ سخت جنګ کړے وو او ستړے شوے وو او ګرمي ډیره سخته وه نو دغه سوري ته ناست وو پدے کې مرحب یا کنانه بن ربیع د ناعم قلعه نه په هغه باندے د جرندے یو لوی کمر راګوزار کړو چه په سر ولګیدو او د تندي کوپړۍ ئې په مخ راپریوته او درے ورځې پس شهید شو۔ او د خپل قاتل د مرګ نه خبر شو چه محمد بن مسلمه ورله ځټ ووهلو۔

(السیرة الحلبیة ٢/ ٧٣٢) امتاع الاسماع (١/ ٣١١)

نو مرحب راووتو په لاس کې ئې توره وه او په سرئې یماني د وسپنې ټوپۍ وه او دا اشعار ئې ویل:

قَدْ عَلِمَتْ خَیْبَرُ اَنِّیْ مُرَحَّبُ	❁	شَاکِی السِّلَاحِ مُجَرَّبُ
اِذَا الْحُرُوْبُ اَقْبَلَتْ تَلَهَّبُ	❁	اَطْعَنُ اَحْیَانًا وَاَحْیَانًا اَضْرِبُ

○خیبر والو ته دا معلومه دهٔ چه زهٔ مرحب یم، په وسله پوره (او) تجربه کړے شوے یم. ○کله چه جنګونه لمبے وهي نو زهٔ کله په نیزه وهل کوم او کله په توره۔

نو ددهٔ د مقابلې دپاره عامر رضی الله عنه راووتو کوم ته چه رسول الله ﷺ دعا کړے

وه چه الله دے پرے رحم وکړی۔ او ددهٔ د شهادت خبره وه۔

هغه هم شعر ووئیلو :

قَدْ عَلِمَتْ خَيْبَرُ اَنِّىْ عَامِرُ	❁	شَاكِى السِّلَاحِ بَطَلٌ مُغَامِرُ

خیبر والو ته معلومه ده چه زما عامر نوم دے په وسله پوره یم داسے ځوان یم چه د جنګونو مینځ ته ننوزم۔

دا چه ورغے نو دواړو په یو بل باندے حمله وکړه نو پدے کی د کافر (مرحب) توره د عامر رضی الله عنه په ډهال کی ونښتله، عامر رضی الله عنه سره وړه توره وه نو هغه خکته کیدو چه د یهودی خپه ووهی لیکن هغه ته ونهٔ رسیده او بیرته راواپس شوه او ددهٔ د زنګون سترګه پرے ولګیده نو زخمی شو او شهید شو پدے کی بعض مسلمانانو د ناپوهئ د وجه نه ووئیل چه عامر ځان مړ کړو عمل ئے برباد شو (دا به جهنمی وی ځکه قاعده دا ده چه څوك ځان مړ کړی هغه به جهنم ته ځی)

سلمه بن اکوع رضی الله عنه فرمائی: په واپسئ کی زهٔ رسول الله ﷺ ولیدم چه چُپ وم زما لاس ئے ونیولو ما ته ئے ووئیل چه ولے رنګ دے متغیر دے ؟ ما ووئیل: اے د الله رسوله ! خلك وائی چه (زما د ترهٔ) عامر عمل برباد شو رسول الله ﷺ وفرمایل : چا دا خبره کړیده ما ووئیل چه فلانی فلانی او اسید بن حضیر انصاری رضی الله عنه نبی علیه السلام وفرمایل: دروغ ئے وئیلی دی :

(اِنَّ لَهٗ لَاَجْرَيْنِ وَجَمَعَ اِصْبَعَيْهِ– اِنَّهٗ لَجَاهِدٌ مُجَاهِدٌ)

ددهٔ دپاره دوه اجرونه دی او دواړه ګوتے ئے یو ځای کړے بیا ئے وفرمایل : دا خو مشقت کونکے مجاهد دے، یعنی مشقت ئے هم برداشت کړو او د الله په لاره کی د جهاد دپاره راوتے دے او ځو مره تکلیف ئے تیر کړو۔ نو دا شهید دے۔

(قَلَّ عَرَبِىٌّ مَشٰى بِهَا مِثْلَهٗ) په مخ د زمکه باندے ددهٔ په شان ډیر کم عرب دی۔ ددهٔ په شان عربی انسان ډیر کم ملاویږی۔ (صحیح بخاری: ٦١٤٨/و ٤١٩٦)

بیا مرحب میدان ته راودانګل او وے وئیل چه څوك به مقابله وکړی؟ نو سیدنا علی بن ابی طالب رضی الله عنه راووتو او د مرحب د دغه شعرونو په مقابله کی دهٔ هم دا شعرونه ووئیل لکه په حدیث د مسلم کی نقل دی :

اَنَا الَّذِىْ سَمَّتْنِىْ اُمِّىْ حَيْدَرَهْ	❁	كَلَيْثِ غَابَاتٍ كَرِيْهِ الْمَنْظَرَهْ

أُوفِيهِم بِالصَّاعِ كَيْلَ السَّنْدَرَهْ

زهٔ هغه سړے یم چه ما ته مې مور حیدر نوم ایښے دے (حیدر د زمری نوم دے) لکه زمرے د ځنګلو چه بد شکل والا وی (او خلك ترے یریږی نو زهٔ په دغه شکل یم)

ځوك چه ځنګه معامله راسره کوی هغه شان تول ورله ورکوم۔

نو مرحب ورته ځان راوړاندے کړو نو علی رضی الله عنه پرے د زمری په شان ورټوپ کړو او په سر باندے ئے ووهلو او مردار ئے کړو، د دوی دا مشر چه مردار شو نو په هغوی کی کمزوری پیدا شوه نو پدے کی د هغه ورور یاسر راووتو هغه وویل :

ما سره به ځوك مقابله وکړی ؟ نو پدے کی سیدنا زبیر بن العوام رضی الله عنه چه د رسول الله ﷺ د ترور ځوی دے راووتو نو د زبیر مور (صفیه) رضی الله عنها وفرمایل: اے د الله رسوله ! زما دا ځوی مهٔ وریریده دا به مړ کړی۔ نو د رسول الله ﷺ معجزه ښکاره شوه او وے فرمایل: (بَلْ اِبْنُكَ يَقْتُلُهُ) بلکه ستا ځوی به دهٔ لره وژنی)

نو زبیر رضی الله عنه په اول ګوزار سره یَاسِر قتل کړو بیا دغه شان نور یهودیان به راوتل او جنګ به کیدو تر درے ورځو پورے دغه شان معرکه روانه وه چه د دوی کسان به راوتل او صحابه کرامو به ورسره جنګ کولو ډیره سخته قلعه وه نهٔ فتح کیدله آخر دا چه دوی د مسلمانانو دے حملو ته ټینګ نشو نو دوی په پټه باندے ددے قلعه نه بلے قلعه ته وتښتیدل چه هغے ته ئے د صعب بن معاذ قلعه وئیله۔

د صعب بن معاذ قلعه فتح کول

کله چه یهودیان هغے ته ننوتل نو مسلمانان د هغے پسے ورغلل پدے وخت کی د مسلمانانو جنډه د حُباب بن المنذر رضی الله عنه سره وه د هغه د قیادت د لاندے ورغلل او د هغے نه ئے ګیره واچوله او درے ورځو پورے ئے هغوی محاصره کړل او د هغے په فتح کی هم تقریباً درے ورځے ولګیدے د هرے قلعه په فتح کیدو کی درے درے ورځے ولګیدے داسے په آسانه باندے نهٔ وو فتح شوے، د هغه زمانے اوږده اوږده جنګونه وو۔

کله چه دریمه ورځ شوه مسلمانانو ته پدے وخت کی ډیره سخته تنده او لوږه

رسیدلے وه ځکه چه خرچه ورسره ختمه شوے وه ځکه چه څوارلس سوه کسان لوی تعداد دے او موده هم ډیره تیره شویده نو پدے کی بعض مسلمانان (د بنو اَسلَم نه) راغلل رسول الله ﷺ ته ئے شکایت وکړو چه د لوږے نه مرو نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل:

زما په لاس کی هیڅ نشته نو پدے وخت کی نبی علیه السلام او مسلمانان د الله تعالیٰ ذات ته متوجه شو او د الله تعالیٰ نه ئے دعا وکړه نبی علیه السلام وفرمایل :

(اَللّٰهُمَّ اِنَّكَ عَرَفْتَ حَالَهُمْ وَأَنْ لَيْسَتْ بِهِمْ قُوَّةٌ وَأَنْ لَيْسَ بِيَدِیْ شَیْءٌ أُعْطِيهِمْ اِيَّاهُ فَافْتَحْ عَلَيْهِمْ أَعْظَمَ حُصُوْنِهَا عَنْهُمْ غَنَاءً وَأَكْثَرَهُمْ طَعَامًا وَوَدَكًا)

اے الله ! تا ته زما ددے ملګرو حال معلوم دے چه د دوی هیڅ قوت او طاقت نشته او زما په لاس کی هم څه نشته چه دوی ته ئے ورکړم نو دوی ته هغه لویه قلعه فتح کړه چه د دوی مالداری پکی ډیره وی (چه دوی بی پرواه کړی) او طعامونه او وازدے پکی ډیرے وی)

ځکه چه یهودو به غوړ د وازدو نه ویستو او هغه به ئے ساتلو۔

په حدیث کی راځی چه په خیبر کی مسلمانانو ته دومره لوږه او تکلیف رسیدلے وو چه د خوراك څه نۀ وو نو په خیبر کی د یهودیانو خرۀ وو چه هغوی قلعه ګانو ته نۀ وو ننویستلی مسلمانانو راونیول او هغه ئے ذبح کړل او غوښه ئے کتهوئ ګانو کی واچولے او هغه ئے پخول او د نبی علیه السلام نه ئے اجازه نۀ وه اخستے نو رسول الله ﷺ پدے وخت کی هم اجازه ورنکړه یو تن ئے ولیږلو او دا حکم ئے ورته وکړو :

(اِنَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ يَنْهَيَانِكُمْ عَنْ لُحُوْمِ الْحُمُرِ الْاِنْسِيَّةِ) ۔

الله او د هغه رسول تاسو د کورونو خرو د غوښونو نه منع کوی)

(صحیح بخاری: ۲۹۹۱ وغیره)

ددے حکمت دا دے چه دا مسلمانان دی د الله تعالیٰ دوستان دی که دوی د خرۀ غوښه وخوری نو هغه صفت به پکی پیدا شی کم عقل توب به پیدا شی او زړه به ئے مړ شی۔ مردارو او مکروه خوړلو سره زړه مړ کیږی۔ نو مسلمانانو ډکے کتهوئ واړولے۔

او نبی علیه السلام وفرمایل: چه دغه لوښی وینځئ۔

صحابه کرامو سره ددے سختے لوږے نه هغه کتهوئ واړولے او د الله تعالیٰ د رسول

حکم ئے ومنلو، دے ته تابعداری وائی۔

نو هر کله چه نبی علیه السلام مسلمانانو ته دعوت ورکړو چه پدے قلعه باندے حمله وکړئ نو بنو اسلم ورمخکی شو او جنګ د یهودو سره ددے قلعه مخے ته شروع شو بیا الله تعالیٰ په همدغه ورځ باندے د نمر پریوتو نه مخکی دا قلعه فتح کړه۔

نو ددے دعا برکت راښکاره شو او الله تعالیٰ د صعب بن معاذ قلعه فتح کړه چه په خیبر کی ددے نه لویه قلعه نهٔ وه چه په هغے کی طعامونه او وازدے وی۔ نو مسلمانان په خوراکونو باندے مارهٔ شول او د حرام مال نه ئے بچ وساتل۔

او مسلمانانو پدے کی منجنیقونه او دبابات وموندل چه دا د هغه زمانے توپے او ټینکونه وو منجنیق به یو تال وو چه په هغے کی به ئے کانړی کیخودل او په مسلمانانو به ئے راویشتل او دبابات د تختونه به ئے یوه کوټه جوړه کړے وه او ټائرونه به ئے ورله جوړ کړی وو دننه ناستو کسانو به روان کړے وو په هغے کی به کیناستل او ځان به ئے د غشو نه بچ کولو۔

د قلعة الزبیر فتح

د ناعم او د صعب د قلعه ګانو د فتح نه روستو یهودیان وتښتیدل او قلعة الزبیر ته ئے پناه ورے وړه چه دا ډیره مضبوطه قلعه وه په یو اُوچت ځای (غر) باندے وه چه هلته اسونه او پیاده خلك نشو ورتللے او د هغے نه لاندے چینے او اُوبه روانے وے چه اوس هم هلته دا چینے او اُوبه شته نو رسول الله ﷺ د هغوی نه ګیره واچوله او درے ورځو پورے ئے هغوی هم محاصره کړل چه هیڅ کار نهٔ کیدو،

مسلمانان بره ورختلے نشی او هغوی نهٔ راکوزیږی نو پدے کی د الله مدد ته وګوره چه په پټه یو یهودی راغے رسول الله ﷺ ته ئے وویل:

اے ابوالقاسم! که دلته یو میاشت پورے وسیږے نو دوی نهٔ شے وهلے، د دوی پدے باندے هیڅ باك نشته ځکه چه د دوی سره خوراك څکاك هر شے شته، چینے ددوی د زمکے لاندے روانے دی، د شپے راوځی او د هغے نه اُوبه څکی نو داسے کار وکړه چه د اُوبو لار ورله بنده کړه نو دوی به تا ته میدان ته راوځی نو دغه شان وشو چه رسول الله

ﷺ او د هغه ملګرو د دوی اُوبه بندې کړې نو هغوی بهر ته راووتل چه پدې کې بیا سخت جنګ وشو چه په هغې کې څه کسان مسلمانان هم شهیدان شول او تقریباً لسو کسانو پورې یهودیان مردار شول او آخر الله تعالیٰ دا قلعه هم فتح کړه۔

په مغازی د واقدیؒ کې راغلي دي چه دې یهودی ته رسول الله ﷺ د اسلام دعوت ورکړو نو هغه وویل چه ما ته څو ورځې مهلت راکړه او دائے هم ورته وویل چه په حِصْنِ نَزَار کې زما ښځه ده هغه به هم ما ته رابخښې نو رسول الله ﷺ ورته هغه هم وبښله نو بیا دغه یهودی ایمان راوړو او د هغه نوم سِمَاك وو او بیا هغه د خیبر نه ووتو او هیڅ پته ئې ونهٔ لګیده۔ (مغازی الواقدی ۲/۶۴۵)

د اُبی قلعه فتح کېدل

کله چه زُبیر قلعه فتح شوه نو دغه یهودیان یوې بلې قلعه ته نقل شو چه هغې ته ئې قلعه د اُبَیُ وئیله، مسلمانان د دوی پسې هم ورغلل او د دوی نه ئې هم ګیره واچوله آخر دا چه د دوی نه دوه پهلوانان راووتل او د یو بل نه پس ئې د مبارزې (مقابلې) اعلان وکړو نو دې طرفنه د مسلمانانو شاه زلمو ورپسې ورټوپ کړل او یوې ئې مردار کړو او په بل پهلوان پسې د مسلمانانو لوی پهلوان ابودُجانه سِمَاك بن خَرَشَه رضی الله عنه وروداننګل چه دهٔ سرهٔ کپړه د سر نه تاؤ کړې وه او دغه یهودی ئې مردار کړو او ددې نه روستو ابودجانه رضی الله عنه جلتي وکړه او د هغه سره اسلامی فوج هم ملګرې شو او دغه قلعه ته ننوتل او دننه په قلعه کې یو ساعت پورې سخت جنګ شروع شو، بیا یهودیان په پټه ددې قلعه نه وتښتیدل بلې قلعه ته چه هغې ته ئې حصن النزار وئیله۔

د نزار قلعه فتح کیدل

دا قلعه ددې طرف آخری قلعه وه او دا ډیره مضبوطه وه چه زنانه او ماشومان ئې پدې کې راجمع کړی وو دې دپاره چه دې ته څوك نشي راتللې ځکه چه دا هم د غر په سر باندې وه او جنګیان هم په کې ډیر وو،

نو رسول الله ﷺ پدے باندے هم محاصره ورواچوله دا هم نۀ فتح کیدله. ځکه چه رسول الله ﷺ او د هغه ملګری دے ته نشو داخلیدے او هغوی بهر نۀ راوتل دومره جرأت ئے نشو کولے لیکن هغوی دا کار وکړو چه د بره نه به ئے سخت غشی او کانړی راویشتل او پدے باندے ئے ډیر مسلمانان شهیدان هم کړل،

آخر دا چه رسول الله ﷺ حکم وکړو چه دوی ته منجنیق (ټال) ودروی نو په هغے کی ئے غټ غټ ګټان واچول او د هغه قلعه دیوالونه ئے پرے ویشتل چه په هغے کی خلل او سوری پیدا شو نو پدے طریقه څه لاره دغه قلعه ته پیدا شوه نو صحابه کرام پرے ورمنډه کړه او په دغه سوری باندے ورننوتل او دننه ئے ورسره سخت جنګ وکړو هلته هم څه مسلمانان شهیدان شو او څه یهودیان مردار شو لیکن الله تعالیٰ په هغوی باندے هلته سخت شکست راوستو او په زړونو کی ئے رعب پریوتو نو نزدے بله قلعه ورسره نۀ وه چه هغے ته وتښتی لکه څنګه چه مخکنو قلعه ګانو نه یو بل ته راوتښتیدل،

نو پدے قلعه کی ئے مسلمانانو ته خپل بچی او زنانه پریښودل او خپله د خیبر یو بل طرف وو هغے طرفته لاړل نو دلته مسلمانانو ته په لاس کی مالونه او زنانه او ماشومان راغلل. دیته په عربئ کی او د احادیثو په اصطلاح کی سَبیِ وائی.

دا ئے مسلمانانو ته ورکړل چه روستو به ئے تقسیموی.

د قیدی زنانو په باره کی حکمونه

پدے وخت کی رسول الله ﷺ د دوی په باره کی څه احکام وښودل

(۱) یو ئے دا وفرمایل :

څوک چه په الله او په ورځ د آخرت ایمان لری (فَلَا یَسْقِیُ مَاءَهٗ زَرْعَ غَیْرِهٖ)

نو په خپلو اُوبو سره دے پردے پټے نۀ خړوبه کوی.

یعنی کومه زنانه چه حامله ده د هغے سره به نزدیکت نۀ کوئ ځکه چه بیا نسب خرابیږی بیا پته نۀ لګی چه دا بچے ستا نه پیدا دے او که د هغه کافر نه.

(۲) دویم قانون ئے دا بیان کړو که څوک الله او قیامت منی نو یوے زنانه سره به

نزدیکت نۀ کوی (حَتّٰی یَسْتَبْرِئَهَا) تردے چه هغے باندے یو حیض تیر شی۔ او بیا پاکه شی ځکه که همداسے ورسره نزدیکت وشی نو کیدے شی چه د هغے په خیټه حمل وی نو بیا پته نۀ لګی چه دا حمل د چا نه دے۔ او کله چه بیماری تیره شی نو پته لګی چه ددے زنانه حمل نشته، البته د پیغلو جینکو دپاره دا شرط نشته۔

(٤) بل قانون ئے دا بیان کړو چه څوك په الله او په قیامتِ ایمان لری نو هغه دے د مسلمانانو د غنیمت نه اُوښان نۀ استعمالوی چه ښه ئے ستړی او خوار کړی بیا ئے بیرته غنیمت کی واچوی، نو داسے به نۀ کوی۔

بل قانون: که څوك الله او قیامت منی نو د مسلمانانو د غنیمت نه به کپړه نۀ اخلی چه استعمال ئے کړی کله ئے چه ښه زړۀ کړی بیا ئے راواخلی او په غنیمت کی ئے واچوی چه دا غنیمت دے۔

پدے کی یو صحابی راغے او دا ئے وویل چه اے د الله رسوله ! ما ددے غنیمت نه (د څپلو) دوه تسمے اخستے وے دا واخله (دا ډیر معمولی شے وو) لیکن رسول الله ﷺ وفرمایل: (شِرَاكٌ اَوْ شِرَاكَانِ مِنْ نَارٍ) دا یو تسمه یا دوه تسمے دی د اُور نه)

دا خبره ئے یو مسلمان ته وکړه چه د مسلمانانو مشترك مال نه ئے اخستے وے نو د هغه چا به څه حال وی چه تول په توله پردے مال غلا کوی۔ دا کار انسان ته ووړکے ښکاری لیکن د الله په نیز ډیر لوی وی۔

د خیبر دویم طرف فتح کیدل

دا طرف چه کله فتح شو چه دے ته د نَطَاة او شِق طرف وئیلو نو رسول الله ﷺ خپل صحابه روان کړل او د خیبر دویم طرف ته ورغلل چه هغے ته ئے کَتِیْبَه وئیله په هغے کی درے غټے قلعه ګانے وے (١) حِصْن قَمُوص (حِصْنُ بَنِیْ اَبِی الْحُقَیْقِ مِنْ بَنِی النَّضِیْرِ)۔ یعنی د مدینے نه چه د بنو نضیرو نه کوم خلك دلته خیبر ته راغلی وو هغوی پکی وسیدل چه هغه د ابو الحقیق ځامن وو یعنی کنانه بن الربیع وو چه دا د صفیه رضی الله عنها خاوند وو او صفیه رضی الله عنها هم ورسره پدے قلعه کی وه۔

(٢) حِصْنُ الوَطِیح (٣) حصن السُّلَالِم۔

نو رسول الله ﷺ د دوی نه هم ګیره واچوله او دا ګیره څوارلس ورځو پورې وه،
(امتاع الاسماع) السیرة النبویة عرض ووقائع ٣/٤٨٦) السیرة النبویة لابن کثیر ٣/٣٧٥)

ظاهر د سیرت نه دا معلومیږي چه د دوی سره لږ شان جنګ وشو لیکن دې یهودو خپل مابین کې صلاح مشوره وکړه چه تباه کیږو که جنګ وکړو نودلته ئې د هوښیارتیا نه کار واخستو، د دوی یو مشور د ابوالحقیق د اولادو نه کنانه بن الربیع د رسول الله ﷺ نه مطالبه وکړه چه تهٔ راکوز شه زهٔ تا سره یوه خبره کوم رسول الله ﷺ په یو اوچت ځای کې وو نو د بعضو ملګرو سره دواړه یو ځای شول نو دهٔ وویل چه مونږ صلح غواړو نو رسول الله ﷺ ورته بالکل تیار شو ځکه چه اسلام حتی الوسع جنګ نهٔ خوښوي۔ ددې نه معلومه شوه چه رسول الله ﷺ دا جنګ مجبورًا کولو ددې وجه نه چه معمولي غونډې ځای د صلح او آساني او په خلکو باندې د رحم او د شفقت به ملاویدو نو په دغه ځای کې به هغه د شفقت لاره اختیاروله ځکه چه رحمت للعالمین دې،

نو صلح پدې خبره وشوه چه تاسو به د خیبر نه وځئ او دا علاقه به پریدئ بهر ملك ته به ځئ، او ستاسو چه کوم جنګیان دي هغه هم معاف او ستاسو ماشومان هم معاف او تاسو ته دا اجازه هم ده چه که تاسو د یو اُوښ په مقدار سامان د ځان سره وړئ نو وړې شئ، او باقي څیزونه سرهٔ او سپین او زمکې او کجورې د الله مال دې دا به مونږ ته پاتې وي صرف خپلې کپړې چه ستاسو په بدن وي وړې شئ او دومره سامانونه چه اُوښ ئې وړې شي لکه په روایت د ابوداود (١١٧/٣) کې راغلی دی۔

د ابن ابی الحُقیق د ځامنو قتلول

لیکن دې سره رسول الله ﷺ ورته دا وفرمایل چه زمونږ تاسو سره پدې خبره صلح شوه خو شرط دا دې چه تاسو سره کوم مالونه دي د هغې نه به هیڅ نهٔ پټوئ بلکه ټول به مونږ ته راښکاره کوئ که تاسو ددې نه څه پټ وساتل : (فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْكُمْ ذِمَّةُ اللّٰهِ وَذِمَّةُ رَسُوْلِهٖ) نو تاسو نه به د الله تعالیٰ او د هغه د رسول ذمه بری وي او صلح به ماته وي او ستاسو به هیڅ لوظ پاتې نهٔ وي بیا به درسره جنګ کوو او ستاسو قتل به مونږ

لـه جائز وی نو پدے مابین کی دوی مقصدی مالونه پټ کړل سرهٔ او سپین او معمولی څیزونه ئے راښکاره کړل چه په هغے کی د حُیَیٗ بن اَخُطَب خزانه چه د بنو نضیرو مشر وو هغه د ابن ابی الحقیق سره پرته وه کله چه حُیَیٗ بن اخطب د بنو قریظو سره مردار یدو نو دا ئے دلته جمع کړے وه، کله چه دوی دغه کم مالونه راښکاره کړل نو رسول الله ﷺ د دوی نه تپوس وکړو چه د حیی بن اخطب خزانه څه شوه؟

نو دوی وویل چه هغه خو جنګونو او نفقو ختمه کړیده نو رسول الله ﷺ په قرائنو باندے استدلال وکړو او دائے ورته وویل : (اَلۡمَالُ کَثِیۡرٌ وَالۡعَهۡدُ قَرِیۡبٌ) ـ دغه خو ډیر مال وو او وخت پرے ډیر کم تیر شویدے نو دومره غټه خزانه په یو کال نیم کی نهٔ ختمیږی نو دا مال به تاسو مونږ ته خامخا راښایئ نو هغوی دروغ وویل چه دا مال نشته نو نبی علیه السلام د هغه نه اجازه واخسته چه که دا مال مونږ تا سره پیدا کړو نو تا به وژنو؟ هغه وویل : زهٔ بالکل قتل ته تیار یم که تاسو ما سره دغه مال پیدا کړو۔

(السيرة النبوية لابن كثير ٣/٣٧٥)

نو پدے کی یو یهودی (سَعۡیَة بن سَلام بن ابی الحقیق) راغے (چه د خپل یهودی شیطانی ئے کوله څکه چه د دوی هم خپل مینځ کی حسد او ضد دے او دا د کنانه د ترهٔ څوی وو)

دهٔ نبی علیه السلام ته وویل چه ما به دا کنانه لیدو چه هر سهر به یو شاړے زمکے ته تللو او هلته به ئے نظر اچولو نو کیدے شی چه دهٔ دا خزانه هلته پټه کړی وی نو رسول الله ﷺ سیدنا زبیر رضی الله عنه ته څه کسان ورکړل او د سعیه سره ئے ولیږلو او دغه ځای ئے راوکنستو نو په هغے کی خزانه راووتله چه هغه سرهٔ زر او ګانړے وے چه د اُوښ په څرمن کی ئے بند کړی وو لیکن دا بعض خزانه وه ټوله نه وه پدے خزانه کی د سرو زرو بنګړی او کړے او د سرو زرو پانزیبونه او د سرو زرو والئ او د جواهرو (قیمتی کانړو) او زمردو امیلونه او د سرو زرو ګوتمے وے (امتاع الاسماع ١/٣١٥)۔

نبی علیه السلام دهٔ ته وویل چه باقی خزانه چرته ده ؟ نو دهٔ حال نهٔ وئیلو نو رسول الله ﷺ دهٔ لره ریماند ته وسپارلو او زبیر رضی الله عنه ته ئے وویل چه دا ونیسه او وے وهه چه حال ووائی دا د مسلمانانو خزانه ده او دهٔ پټه کړیده نو زبیر رضی الله عنه سره په لاس کی چقماق وو (کوم باندے چه اُور بلیږی) نو هغه په سینه کی وهلو وهلو

لیکن دهٔ حال نهٔ وئیلو تردے چه مرگ ته ئے نزدے کړو نو نبی علیه السلام دا ونیولو او محمد بن مسلمه رضی الله عنه ته ئے ورکړو چه د خپل ورور (محمود بن مسلمه) په بدله کی دا قتل کړه ځکه چه دے کنانه په اوله قلعه کی محمود بن مسلمه رضی الله عنه باندے د ژرندے پل راغورځولے وو. نو محمد بن مسلمه رضی الله عنه ددهٔ نه د خپل ورور په بدله کی ثټ وو هلو.

دا کِنانه د صفیه رضی الله عنها خاوند وو که دهٔ ایمان راوړے وے نو رسول الله ﷺ به په خپله مشرئ باندے پرینښے وے په اسلام کی به هم مشر وے لیکن یهودیان دی داسے خیانتګر او فسادیان، نو د خپل عمل سزائے وڅکله.

نو ددے صلح والو نه رسول الله ﷺ هیڅوك قتل نکړل سِوی د دوه کسانو نه چه د ابن ابی الحقیق ځامن وو ځکه دا ډیر ضرریان وو یو دغه کنانه وو او بل ئے ورور وو.

رسول الله ﷺ ته د زهر ورکولو قصه

کله چه رسول الله ﷺ په خیبر کي د فتح نه روستو په آرام شو نو رسول الله ﷺ ته یوے یهودیه زنانه (زینب بنت الحارث) چه دا د سَلَّام بْن مِشْکم یهودی (چه د یهودیانو مشر وو) ښځه وه دعوت ورکړو رسول الله ﷺ د اخلاقو د وجه نه د هغے دعوت قبول کړو (اګر که دے ته ئے ضرورت نهٔ وو لیکن دوی سره ئے اخلاق استعمالول چه متأثره شی) نو هغے ورله یو ګډ حلال کړو او د خلکو نه ئے تپوس کړے وو چه د رسول الله ﷺ کومه غوښه ډیره خوښه وی نو چا ورته وئیلی وو چه د حیوان مخکنئ لیچه (ځکه چه دا زر پخیږی او بله دا چه د خوشیانو او ګندونو نه لرِ جدا وی)

نو رسول الله ﷺ د بعض ملګرو سره ورغے نو هغه ته غوښه کیخودے شوه نو رسول الله ﷺ د هغے نه پوټے راپریکړو او خولے ته ئے واچولو نو په خوله کی ئے تاوول راتاوول نو پدے وخت کی معجزه ښکاره شوه وے فرمایل:

ما ته دے هډوکی خبر راکړو چه ما مهٔ خوره په ما کی زهر اچولے شویدی نو ملګرو ته ئے وویل چه لاسونه بند کړئ، پدے خاص وخت کی معجزه راښکاره شوه ګنے که رسول الله ﷺ خوړلی وے نو شهید شوے به وے مګر الله تعالی ئے حفاظت وکړو خو

بیا هم څه نا څه زهر د رسول الله ﷺ تیر شول چه په هغه باندې ئې اثر وکړو او دا زهر به هر کال راپاریدل ځکه زهرو کې دا اثر شته چه کال پس راپارېږي نو د رسول الله ﷺ په سر به درد راتللو نو رسول الله ﷺ به ددې دپاره په خپه او سر او شا کې ښکر لګولو چه د هغې په وجه به د زهرو اثر کمیدو. کال له پرې بیا راغې او بیا په دریم یعنی آخری کال کې ددې نه شهید هم شو نو رسول الله ﷺ ته هم د شهادت مرګ نصیب شویدې ځکه چه دا لویه مرتبه ده. او خپله به نبي علیه السلام فرمایل:

(وَهٰذَا أَوَانُ انْقِطَاعِ أَبْهَرِيْ مِنْ ذٰلِكَ السَّمِّ الَّذِيْ أَكَلْتُهٗ بِخَيْبَرَ)

دا هغه وخت دې چه زما د زړه رګونه شوکیږي د هغه زهرو د وجه نه چه ما په خیبر کې خوړلې وو) یهود څومره لوی دشمنان دي.

رسول الله ﷺ دا راطلب کړه او نور یهودیان ئې هم ورسره ودرول او قسم ئې ورکړو چه تاسو پدې کې زهر اچولي دي او که نه؟ نو هغې وویل چه آؤ، مونږ اچولي دي، دا ولې؟ نو هغوی د دروغو بهانه وکړه، وې ویل مونږ وویل:

(اِنْ كَانَ مَلِكًا اِسْتَرَحْنَا مِنْهُ وَاِنْ كَانَ نَبِيًّا فَسَيُخْبَرُ)

که دا چرته بادشاه وي نو مونږ به ترې په راحت کې شو او که نبي وي نو خبر به ورته ورکړې شي. دا د دوی غلطه بهانه وه ځکه چه دې خلکو یقیناً رسول الله ﷺ وژلو ځکه چه دوی ته ښه معلومه وه چه دا د الله تعالیٰ نبي دې او دوی ډیر انبیاء وژلي دي. او دا عذر ددوی غلط وو ځکه چه دنیا دار الامتحان دې په نبي باندې هم ضرري څیزونه اثر کوئ او کله چه دوی د هغه د قتل اراده وکړه نو پدې سره دوی مجرمان شو بیا اخوا د الله کار دې چه په دغه زهرو کې اثر اچوي او که نه.

بیا رسول الله ﷺ د اخلاقو د وجه نه دا پریښوده، لیکن بِشْرِ بن الْبَرَاء بن مَعْرُوْر رضي الله عنه یو پوټې غوښه خوړلې وه چه د هغې په وجه شهید شو نو بیا رسول الله ﷺ دغه ښځه راونیوله او قصاصاً ئې قتل کړه.

او پدې سره جمع د ټولو روایاتو راځي ځکه چه په بعض روایاتو کې دي چه دا ئې معاف کړه او په بعضو کې دي چه دا ئې قتل کړه.

فائده۱ : د رسول الله ﷺ اخلاق معلوم شول چه د یهودیانو دعوت ئې قبول کړو.

۲- د یو داسې سړي سره معامله جائز ده چه د هغه په مال کې حلال او حرام دواړه

وی او د یو بل نه جداً نهٔ وی لکه یهودیانو په باره کی الله تعالیٰ قرآن کریم کی فرمائی :
﴿وَأَخْذِهِمُ الرِّبٰوا﴾ (النساء:١٦١)

یهودیان سود خوارهٔ دی او رسول الله ﷺ د دوی دعوت قبول کړے او د دوی نه ئے قرضونه او دیتونه اخستی دی۔ فتدبر، البته که تا له ئے بنکاره حرام مال راوړو نو بیا به ئے نهٔ اخلے۔ لکه په مدینه کی بلے زنانه رسول الله ﷺ ته دعوت ورکړے وو او گډ ئے حلال کړے وو بغیر د اجازت د خاوند نه نو نبی علیه السلام وفرمایل : چه ددے گډے نه ما ته خبر ملاویږی چه دا مال بغیر د اجازت د مالك نه حلال شویدے نو د هغے نه ئے خوراك ونکړو۔ بیا ئے وفرمایل: دا مهٔ ضائع کوئ بلکه دا قیدیانو ته ورکړئ په هغوی کی به کوم کافران وی هغوی ته ئے ورکړئ۔

د یهودو دهقانی

هرکله چه ددے یهودیانو سره دا صلح وشوه چه تاسو به ددے ځای نه ځئ او دا زمکے به مسلمانانو ته پاتی وی نو پدے کی دوی رسول الله ﷺ ته یو درخواست وکړو چه دا زمکه خو ستاسو شوه الله درله درکړه خو تاسو ددے زمکے او د باغونو په تربیت بنه نهٔ پوهیږئ او مونږ ته ئے چل راځی نو دا مونږ له په دهقانئ او اجاره باندے راکړئ چه دیته مزارعه وائی۔

نو رسول الله ﷺ ورسره دا هم ومنله دا هم په دوی باندے احسان وو بیرته ئے پریښودل او دا ئے ورته ووپل چه د زمکے مالکان مونږ یو او تاسو دهقانان شوئ او په خیبر کی چه کوم مالونه او کجورے کیدلے نو نیم به زمونږ وی او نیم به ستاسو وی۔

وجه دا وه چه د مسلمانانو سره کسان کم وو غلامان ئے نهٔ وو نو ددے زمکے سنبالښت ئے نشو کولے او خپله جهادونو کی مصروف وو نو ځکه ئے دا په خدمت ولګول۔ (ددے نه معلومه شوه چه سړے د کافر نه کار اخستے شی، مزدور ترے جوړولے شی، او که تهٔ د کافر سره کار کوے چه حربی کافر نهٔ وی نو د هغے دپاره شرطونه دی)

بیا به رسول الله ﷺ هر کال سیدنا عبد الله بن رواحه رضی الله عنه ورلیږلو او هغوی باندے به ئے دا کجورے تخمین کولے او اټکلی اندازه به ئے ورکوله چه ستاسو

پدے باغونو کی دومره دومره کجوری کیدو والا دی مونږ ته به ددے نیمائی راکوئ. ځکه چه دوی خائنان خلك دی هسے نۀ چه کجورے پټے کړی.
بیا کله چه عبد الله بن رواحه رضی الله عنه په غزوه مُوته کی شهید شو نو بیا سیدنا جَبَّار بن صَخُر رضی الله عنه د بنو سَلِمهٔ نه د دوی دپاره اټکل کولو. بعض وائی: اَبو الْهَیْثَم بن التَّیِّهَان وو. (واقدیؒ، ابن اسحاقؒ)

عبد الله بن رواحه رضی الله عنه ته د یهودیانو رشوت ورکول

عبد الله بن رواحه رضی الله عنه به خیبر ته هر کال راتللو او دوی ته به ئے اټکل کولو او د نیمائی مالونو ذمه وار به ئے ګرځول چه دا به مونږ ته راکوئ نو دوی رسول الله ﷺ ته شکایت وکړو چه ددهٔ اټکل ډیر سخت دے او په مونږ باندے زیاتے کوی او بل طرفته ئے اراده وکړه چه عبد الله بن رواحه رضی الله عنه ته رشوت ورکړی.
نو دهٔ ورته وویل: (یَا أَعْدَاءَ اللّٰهِ تُطْعِمُوْنِی السُّحْتَ!)
اے د الله دشمنانو تاسو ما ته د حرامو لالچ راکوئ.
بیا ئے وویل: قسم په الله تاسو ته د هغه چا د خوا نه راغلے یم چه د ټولو خلکو نه ما ته زیات محبوب دے او تاسو ما ته د خنزیرانو او شادوګانو نه زیات مبغوض یئ لیکن زما بغض چه تاسو سره دے او د رسول الله ﷺ سره مے کوم محبت دے دا به ما پدے خبره راپورته نۀ کړی چه زۀ به تاسو سره عدل ونکړم. نو یهودیانو وویل:
(بِهٰذَا قَامَتِ السَّمٰوَاتُ وَالْأَرْضُ)
دا هغه انصاف دے چه پدے سره آسمان او زمکه ولاړ دی. یعنی کله چه داسے انصاف کیږی نو هیڅکله به آسمان او زمکه کی خرابی رانشی.
السیرة النبویة لابن کثیر ۳/۳۷۸) السیرة الحلبیة (۲/۷۷۱) الروض الانف، سبل الهدی و الرشاد)
بل شرط ئے ورسره دا ولګولو چه (نُقِرُّکُمْ مَا أَقَرَّکُمُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ)
مونږ به تاسو تر هغه وخته پورے اُوسه وو ترڅو چه تاسو الله او د هغه رسول وسولئ. یعنی دا دعوه به نۀ لرئ چه مونږ به دومره دومره موده دلته پاتی یو بلکه مسلمانانو چه کله وغوښتل تاسو به ویستلے شی.

پـدے کـی درے کـالـه روستـو رسـول الله ﷺ وفات شو بیا د ابوبکر صدیق رضی الله عـنـه خـلافـت راغـے او دا یـهـود هـمـدغـه شان په خیبر کی وسیدل بیا د عمر فاروق دور خـلافـت راغـے نـو څـه زمـانـے پـورے دا یهودیان وو نو سیدنا عمر فاروق اراده وکړه چه دا یهـودیـان ددے ځای نه وشړی ځکه چه عمر فاروق ته الله تعالیٰ ډیره هوښیارتیا او د دین ډیر ښـه غیـرت ورکـړے وو چـه دا یهـودیـان مونږ له چرته کار ونهٔ ګوری ځکه چه دوی حیـلـه ګر وو، صحابه کرام چه به د دوی کلو ته د تجارت دپاره ورغلل نو هغه به ئے وژل، یو ځل دوی د عبد الله بن عمر رضی الله عنهما لاسونه او خپے خیژولی وو۔

یـو بـل صـحابی مُطهر بن رافع رضی الله عنه ئے وژلے وو نو عمر فاروق پو هه شو چه دا کسـان د پـریـښـودو نـهٔ دی نو عمر فاروق خطبه وویله او صحابه کرامو ته ئے وفرمایل چـه مـا اراده کـړیـده چه دا یهودیان شړم ځکه چه دوی دا فساد وکړو او د مطهر بن رافع رضی الله عـنـه سره ئے هم ظلم وکړو او د نبی علیه السلام په زمانه کی ئے عبد الله بن سهـل رضـی الله عـنـه قتـل کـړے وو۔ نـو انـصـارو او مهـاجـرینو د عمر سره پدے خبره موافقه وکړه۔ السیرة الحلبیة ٢/٧٧٢)۔

د مطهَر بن رافع ﷺ د مرګ قصه

د مُطهر بن رافع قصه داسے وه چه دهٔ د شام نه لس غلامان راوستل دے دپاره چه دا به ددهٔ پـه زمـکـو کـی کـار کـوی نـو پـه خیبر کی درے ورځو پورے دیره شو نو د یهودو یو سـړی دوی تـه وویـل چه تاسو نصاری یئ او مونږ یهودیان یو او دا ستاسو سردار د عربو نـه دے چـه مـونـږه ئے په توره سره مغلوبه کړی یو او تاسو لس کسان یئ او دا یو سړے دے تـاسـو ځـان پسے راکـاږی او تـکـلیـفـونـو او بـوجـونو ته مو ورولی او تاسو د سختے غـلامـئ سره مـخ یـئ نـو کله چه تاسو زمونږ د کلی نه وځئ نو دا قتل کړئ چه ترے خـلاص شـئ نـو هـغـوی ورتـه وویـل چه مونږ سره وسله نشته نو یهودیانو په پټه سره دوی تـه دوه یـا درے چـړے ورکـړے نـو کـلـه چه دوی د خیبر نه ووتل نو د مطهر بن رافع رضـی الله عـنـه پسـے ئـے چـړے راویستـلے نو مطهر د دوی نه ووتو او خپلے توره پسے ئے منـډه کـړه چـه هـغـه ددهٔ پـه اوښـه باندے په کځوړه کی وه نو هغه لا نهٔ وو رسیدلے چه

دوی وړپسے ورغلل او په خیته کی ئے ووهلو او شهید ئے کړو او بیا په جلتئ سره خیبر ته راواپس شول او یهودو دوی ته خای ورکړو او دوی ته ئے توښے ورکړے چه شام ته لاړ شئ نو عمر فاروق ته د مطهر د شهادت خبر راورسیدو او د یهودیانو ددے حرامتوب نه خبر شو نو دغه خبره عمر فاروق پدے خطبه کی ذکر کړه۔ (السیرة الحلبیة۲ ۷۷۲)

نو عمر فاروق دوی ته ورغلو او دا ئے ورته وویل چه مونږ تاسو ددے خای نه شړو، خپل سامانونه مو واخلئ او ددے خای نه خئ ستاسو چه په مونږ باندے د سږ کال دهقانئ کومه برخه کیږی د هغے په بدله کی ئے مالونه، اُوښان، توری، کتے، او پالانونه او رسئ وغیره ورکړل۔ نو پدے کی د ابن ابی الحقیق د خامنو نه یو خوی راغلو چه د دوی مشر وو عمر ته ئے وویل چه تۀ مونږ څنګه ددے زمکو نه اُوباسے

(وَقَدْ أَقَرَّنَا مُحَمَّدٌ ﷺ وَعَامَلَنَا عَلَى الْأَمْوَالِ وَشَرَطَ لَنَا ذٰلِكَ؟)

او حال دا چه مونږ محمد ﷺ دلته اُووسولی یو او مونږ سره ئے په مالونو باندے معامله کړیده او مونږ سره ئے ددے شرط لګولے دے؟ (مطلب ئے دا وو چه تۀ د خپل نبی خلاف کوے)

نو سیدنا عمر فاروق رضی الله عنه ورته وویل: مونږ ته د خپل نبی خبرے ډیرے ښے یادی دی هغه په تاسو باندے دا شرط نۀ وو لګولے چه تاسو به دلته وسیږی ترڅو چه زمونږ خوښه وه او هغه ته ئے وویل چه زما ګمان دے چه تا دا خبره د رسول الله ﷺ هیره کړه چه تا ته ئے ویلی وو:

(كَيْفَ بِكَ إِذَا أُخْرِجْتَ مِنْ خَيْبَرَ تَعْدُوْ بِكَ قُلُوْصُكَ لَيْلَةً بَعْدَ لَيْلَةٍ ؟)

ستا به څه حال وی کله چه به تۀ د خیبر نه ویستلے کیږے او په تا باندے به ستا اوښه تیز مزل کوی یوه شپه روستو د بلے شپے نه؟ یعنی د شپے به روان ئے او د خیبر نه به وځے۔ نو پدے کی دغه یهودی د رسول الله ﷺ پدے خبره کی تاویل وکړو وے ویل:

(تِلْكَ هُزَيْلَةٌ مِنْ أَبِي الْقَاسِمِ ﷺ)

دا خو محمد ما سره یوه ټوقه کړے وه۔ نو عمر رضی الله عنه ورته په غصه شو او ورته ئے وویل: (كَذَبْتَ يَا عَدُوَّ اللّٰهِ)۔ دروغ دے وویل اے د الله دشمنه! دا رشتینی خبره وه۔ نو په حدیث د بخاری کی راغلی دی چه عمر فاروق دوی تَیمَاء او اَریحاء علاقے ته وشړل۔ او الله تعالیٰ خیبر د دوی نه صفا کړو چه تر اوسه پورے د مسلمانانو په لاس کی

دیے اوس یهود بیرته کوشش کوی چه خیبر ونیسی او ددیے دپاره محنتونه شروع دی، یهود د دجال دپاره تیاریے کوی چه هغه به د دوی لوی لیډر وی۔

تیماء خو د خیبر نه شا ته علاقه ده چه د اُردن په لاره کی راځی او اریحاء په فلسطین کی یوه علاقه ده۔ (المعالم الاثیرة فی السنة و السیرة ١/١٨)

عمر فاروق رضی الله عنه چه کله یهودیان وشړل نو صحابه کرامو ته ئے وفرمایل چه حدیبیه والا دیے حاضر شی چه هغوی ته خپل خپل ځایونه وسپارو۔

بیا ئے د رسول الله ﷺ بی بیانو امهات المؤمنین ته وفرمایل چه ستاسو خوښه ده چه تاسو د سل وسقه کجورو ونے او د هغے اصل او زمکه او اُوبه اخلئ (او ځانله به ئے ساتئ) او د شل وسقه وربشو پټے اخلئ اوکه صرف په خُمس کی چه ستاسو د هریے زنانه کومه برخه تیاریے کجوریے او تیاریے وربشے کیږی هغه اخلئ ستاسو خوښه ده مونږ دواړو ته تیار یو۔ ځکه چه رسول الله ﷺ به خپلو بیبیانو ته د خمس نه هریے یویے ته سل وسقه کجوریے او شل وسقه وربشے ورکولے۔ (یو وسق شپیته صاعه دیے او یو صاع تقریباً پاؤ باندیے دوه کیلو دیے نو دا (١٣٥٠٠) کیلو جوړیږی او د من په حساب چه پنځوس کیلو یو من حساب شی نو دا (٢٧٠) دوه سوه اویا منه جوړیږی)

السیرة النبویة لابن کثیر ٣/٣٨٠)

د غنیمتونو تقسیم

رسول الله ﷺ چه کله د خیبر زمکے فتح کړے نو یهودو ته ئے په دهقانئ ورکړے او دا زمکے ئے د مسلمانانو دپاره معینے کړے چه دا ستاسو شوے او یهود به پکی دهقانان وی، د خیبر زمکه شپږ دیرش سوه برخے شوه پدے کی نیمائی مال رسول الله ﷺ د مسلمانانو د حوائجو او د میلمونو او د تکلیفونو دپاره مقررکړو ځکه چه حکومت او خلافت چلول دی او هغه د مال نه بغیر چرته کیږی او باقی اتلس سوه حصے ئے په مجاهدینو باندے تقسیم کړے چه دوی څوارلس سوه کسان وو او دوه سوه پکی شاهسواران وو په یو جهاد کی هم دوه اسونو والا نهٔ وو او پدے غزا کی راغلی وو او قانون دا دے چه اس له دوه برخے دی او پیاده والا دپاره یوه برخه ده نو شپږ سوه برخے ئے

دوه سوه کسانو ته ورکړے چه هر ملګرې ته درے درے برخے ورسیدلے (یو ددهٔ او دوه ئے د اس) او باقي دولس سوه کسان پاتې شو او دولس سوه برخے نو په هغوی باندے ئے یوه یوه برخه تقسیم کړه او نبی علیه السلام پکې دومره برخه واخسته لکه څنګه چه یو عام مسلمان اخلی، زیاته ئے پکې وانخسته، پدے ډیرو غنیمتونو سره الله تعالیٰ په مسلمانانو فراخي راوسته۔

حدیث د بخاري کی راغلی دی عبد الله بن عمر رضی الله عنهما وفرمایل:

(مَا شَبِعْنَا حَتّٰى فَتَحْنَا خَيْبَرَ)

مونږ په کجورو نهٔ وو ماړه شوی تردے چه خیبر مونږ فتح کړو۔

عائشه رضی الله عنها وفرمایل کله چه خیبر فتح شو : (أَلْآنَ نَشْبَعُ مِنَ التَّمرِ)

اوس به مونږ په کجورو ماړه شو۔

مسلمانانو ته زمکے، کجورے او باغونه ملاؤ شو څوك چه د الله دپاره قرباني ورکړی الله تعالیٰ پرے دغه شان فراخیانی راولی، الله ډیر غیرت مند ذات دے۔

کله چه صحابه کرام مدینے ته راواپس شو نو انصارو چه مهاجرینو ته کوم مالونه ورکړی وو، چا ګډه ورکړے وه او چا کجورے وئے ورکړے وے هغه ئے انصارو ته بیرته واپس کړل چه الله دے تاسو له جزاءِ خیر درکړی الله تعالیٰ په مونږ باندے فراخي راوسته اوس زمونږ ضرورت ختم شو۔

په خیبر کی ناشنا واقعات راغلل

چه په هغے کی زمونږ دپاره ډیر فوائد پراته دی۔

قصة د علی رضی الله عنه

سیدنا سلمه بن اکوع رضی الله عنه فرمائی: کله چه علی رضی الله عنه د اولے قلعه د فتح دپاره جنډه واخسته او روان شو نو تیزه منډه ئے کړه او مونږ ورپسے شا ته روان وو لاړو تردے چه هغه خپله جنډه د قلعه لاندے د کاڼو په مینځ کی ناله کړه نو یو یهودی ورته د قلعه د سر نه راښکاره شو او دا ئے ورته وویل چه ته څوك ئے ؟ علی رضی الله عنه وفرمایل : (أَنَا عَلِيُّ بْنُ أَبِيْ طَالِبٍ) زهٔ علی یم۔ هغه یهودی وویل :

(عَلَوْتُمْ وَمَا أُنْزِلَ عَلَى مُوْسَى) ـ تاسو په مونږ پورته او غالب شوئ قسم په هغه کتاب (تورات) چه په موسیٰ علیه السلام باندے نازل شویدے۔

یو خو هغه ته د پخوانو کتابونو نه دا معلومه وه چه محمد رسول الله ﷺ ته به الله تعالیٰ غلبه ورکوی۔ پخوانو کتابونو کی ئے داسے لیکلی وو چه یهودیان به د رسول الله ﷺ د بعثت په زمانه کی دوه ځل ذبح کیږی یو ځل به په مدینه کی او بل کرت به په خیبر کی۔ نو په مدینه کی خو دوی ذبح شو لکه د بنو قریظه په واقعه کی تیر شو چه دوی تقریباً اوه سوه کسان په یو ځل ذبح کړے شول او اوس په خیبر باندے حمله ده، نو هغه د پخوانو کتابونو پیشن گوئی اُوس رشتینی کیږی۔ نو دوی ته په ښه شان دا خبره معلومه وه لیکن ضدیان وو۔

لکه په سیرت کی دا واقعه هم راغلے ده چه عُیَینه بن حِصن د غطفان قبیلے مشر چه کله یهودو ته ورتللو او د هغوی مدد ئے کولو نو یو بل عربی مشر چه د بلے قبیلے نه وو (یعنی د بنو مره ؤ نه) حارث بن عوف ئے نوم وو هغه ورغللو دے عُیَیْنَه ته ئے وویل چه د یهودو مدد له مۀ ورځه محمد رسول الله ﷺ به خامخا غالبه کیږی، تۀ نۀ گورے چه دا دومره مختلفے علاقے ئے ونیولے او هیڅوك منع کونکے ئے نشته نو هغه وویل چه ما سره څلور زره فوج وی او داسے د یهودو اته لس زره فوج وی نو په مونږ چرته غالبه کیدے شی زۀ خامخا مدد له ورځم نو حارث بن عوف ورته وویل چه گوره زۀ درته یو نصیحت کوم چه ما د سلام بن مِشکم نه آوریدلی دی (چه دا د یهودو د جنگ مشر وو او ډیر بهادر پهلوان وو دۀ ته به ئے ابو الحکم وئیلو) چه د یهودو به دوه ځل ذبح کیږی یو په مدینه کی او یو په خیبر کی، نو هغوی خپله اقرار کوی چه مونږ به ذبح کیږو او تۀ ورځے د هغوی مدد کوے؟

نو عُیَینه بن حِصَن کم عقل سړے وو دۀ وویل: بیا سَلام بن مِشکم ولے خپله جنگ کوی؟ نو حارث بن عوف ورته وویل چه یهودیانو کی ضد دے خپل غیرت تینگ کړیدے۔ بیا په دے غزا د خیبر کی الله تعالیٰ دا سلام بن مشکم هم مردار کړو، دا ډیر غټ جنگی وو لیکن الله تعالیٰ پدے موقعه کی په مرض باندے مشغوله کړے وو په یوه قلعه د نطاة کی پروت وو، صحابه کرام ورپسے ورغلل او مردار ئے کړو ځکه چه دا مشر وو او ډیر سخت ضرری وو او خلکو ته به ئے د جنگ مشورے ورکولے پدے وجه ئے

ووژلو۔
نو یو خو دے یهودی د پخوانو کتابونو نه دا معلومه کړه چه دا نبی به غالبه کیږی دویم دے یهودی د علی د نوم نه معلومه کړه چه د علی په معنیٰ کی عُلُو او پورته والے پروت دے نو دوی دا فال ونیولو چه دا اولنے کس راځی او په مونږ حمله کوی او ددهٔ په نوم کی علو ده نو دوی به په مونږ باندے غلبه کوی۔
ددے نه د یهودیانو ضد معلوم شو ښه پدے پوهیږی چه مونږ مغلوبه کیږو لیکن په خپل باطل باندے کلك ولاړ دی، په دنیا کی د دوی نه بدترین او شریان خلك نور نشته۔ ډیر خلك په خپل باطل ښه پوهه شی لیکن د خلکو د خبرو نه یریږی او رواج او خپلے مشرئ رانیولی وی نو حق ته نهٔ تسلیمیږی، والله المستعان۔

د شپونکی عجیبه قصه

بله واقعه په خیبر کی دا راغله چه نبی علیه السلام ته یو راعی (شپونکے) راغے چه د رنګ نه تور وو حبشی غلام وو الله تعالیٰ ورته په زړه کی ایمان اچولے وو، هغه خیبر والا ولیدل چه وسلے ئے راواخستے نو دهٔ ترے تپوس وکړو چه تاسو څه کوئ؟ هغوی وویل : مونږ د دغه سړی سره جنګ کوو چه وائی چه زهٔ نبی یم۔ نو ددے سړی په زړه کی د نبی علیه السلام ددے نوم اثر وشو او په پټه نبی علیه السلام ته راغے هغه ته ئے وویل اے د الله رسوله ! تهٔ څه ته دعوت ورکوے ؟ هغه وفرمایل : زهٔ تا اسلام ته رابلم او دے خبرے ته چه تهٔ ګواهی وکړه چه نشته حقدار د بندګئ سویٰ د الله نه او زهٔ د الله رسول یم او تهٔ به بندګی صرف د یو الله کوے۔ هغه وویل : زما دپاره به څه وی که زهٔ دا ګواهی ورکړم او په الله ایمان راوړم؟۔ نبی علیه السلام وفرمایل: که پدے حالت کی مړ شوے نو جنت به وی۔ نو هغه سمدست ایمان راوړو
نو نبی علیه السلام د هغه نه ایمان قبول کړو بیا هغه وویل : ما سره د فلانئ قلعه والا یهودیانو ګډے بزے دی او ما ایمان راوړو او دا زما په لاس کی امانت دے نو دے سره زهٔ څه وکړم؟ نو نبی علیه السلام داسے ونهٔ وئیل چه دا تهٔ غلا کړه یا ئے ماله راکړه بلکه د معجزے په طورئے داسے وفرمایل: چه دا ګډے همداسے تهٔ ورخوشے کړه الله رب

العزت به دا خپل ځای ته ورسوی، وجه دا ده چه که تهٔ د هغوی علاقے ته ورشے نو تهٔ مسلمان شوے ئے هغوی به دے قتل کړی او که ګډے بزے دلته پریدے نو ضائع کیږی (امانت خرابیږی) او طریقه ئے دا وخودله چه دا په مخونو ووهه خپل مالك ته به واپس شی او خپله نبی علیه السلام یو موټے شړے راواخستے او ددے ګډو مخونو ته ئے ویشتے او دا ئے ورته وویل : ځئ د الله په اذن باندے خپل مالك ته واپس شئ،

نو دا ګډے سیده داسے یو ځای روانے شوے ګویا که شا ته نه ورپسے څوك روان دے تردے چه علاقے ته ورسیدلے او د چا چه ګډے بزے وے په همغه خپلو قلعه ګانو باندے وررننوتے۔

(ددے حدیث نه دا فائده راووتله چه د امانت به سخت لحاظ ساتلے شی اګرکه د کافرو مال وی نو په دهوکه سره به دغه مال خوړل حرام وی، د کافر سره هم خیانت او دوکه حرامه ده ګنے دا مال تیار غنیمت وو لیکن نبی علیه السلام ورواپس کړو ځکه چه په جنګ سره نهٔ وو نیولے شوے بلکه امانت وو)

بیا دغه حبشی غلام د علی رضی الله عنه سره ملګرے شو او شریکه ئے حمله وکړه تردے چه په یو غشی باندے دا شهید شو نو مسلمانانو خپل معسکر ته راوړو، دا په خیمه کی پروت وو نو رسول الله ﷺ په دهٔ باندے راننوتو او بیا ووتو او وے فرمایل: الله تعالیٰ دے غلام ته ډیر عزت ورکړو او خیر طرفته ئے راوستو او ما ددهٔ په خوا کی د جنت دوه حورے ولیدلے چه ددهٔ نه ئے دا ځُغه (جبه) ویستله او حال دا چه دهٔ الله تعالیٰ ته یوه سجده هم نهٔ ده لګولے۔

(زاد المعاد ٣/٣٢٣، ٣٢٤) السیرة الحلبیة ٣/٣٩) والسیرة النبویة لابن کثیر (٣/٣٦١) الخصائص الکبری للسیوطی (١/٤٢٥) واسد الغابة)

د اعرابی د ایمان ناشنا قصه

بله واقعه : یو اعرابی (باندچی) سړے راغے او نبی علیه السلام د خیبر یو طرف فتح کړے وو او غنیمتونه ئے مخے ته پراتهٔ وو نو دغه اعرابی ایمان راوړو او کلمه ئے وویله نو رسول الله ﷺ د غنیمت نه څه برخه راواخسته او هغه له ئے ورکړه

(څکه اعرابی سړے دے نوے مسلمان دے نو پدے سره به د هغه حوصله افزائی وشی لکه دا د نبی علیه السلام طریقه وه چه بعض خلك به ئے په مال سره اسلام ته راغب کول بیا چه اسلام وپیژنی نو که توله دنیا ورکوے او که هیڅ نهٔ ورکوے د هغه پرے هیڅ پرواه نهٔ وی)

نو هغه دومره ښه صفا مسلمان وو هغه وویل : اے د الله رسوله ما دا ایمان ددے دپاره نهٔ دے راوړے چه زهٔ ستا نه مال واخلم بلکه زهٔ دے له راغلے یم چه د کافرو یو غشے راشی او زهٔ په دغه ځای ولګیږم او مرئ ته ئے اشاره وکړه) او زهٔ شهید شم او سیده جنت ته لاړ شم (زما جنت په نظر کی دے) او دا مال زما غرض نهٔ دے نو هغه ئے بیرته واپس کړو، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: (اِنْ تَصْدُقِ اللّٰهَ يَصْدُقْكَ) که ته چرته د الله تعالیٰ سره د رشتیاؤ معامله کوے نو هغه به هم درسره د رشتیاؤ معامله وکړی) که تهٔ رشتینی شهادت غواړے نو الله به ئے درکړی۔

(څوك چه په رشتیا سره د الله تعالیٰ نه څه غواړی هغه به ورکړی) نو پدے کی دویم طرف د خیبر بانڈے چه کله حمله کیده نو دے هم ورغے او حمله ئے وکړه نو یو غشے راغے او په هغه ځای بانڈے ولګیدو کوم ځای ته چه دهٔ اشاره کړے وه نبی علیه السلام ته راوستے شو نو هغه فرمایل: دا هغه سړے دے ؟ صحابه کرامو وفرمایل: آؤ، نو وے فرمایل: (صَدَقَ اللّٰهَ فَصَدَقَهُ اللّٰهُ)

دهٔ الله ته رشتیا وویل نو الله هم ورسره رشتینی معامله وکړه)

بیا نبی علیه السلام هغه په همغه خپله جبه (کوټ) کې دفن کړو او مخکی شو په هغه بانڈے ئے مونځ وکړو او هغه ته ئے داسے دعا وکړه : (اَللّٰهُمَّ هٰذَا عَبْدُكَ خَرَجَ مُهَاجِرًا فِیْ سَبِیْلِكَ، قُتِلَ شَهِیْدًا وَّاَنَا عَلَیْهِ شَهِیْدٌ)

(النسائی ٤/٦٠) شرح معانی الآثار (١/٢٩١) والبیهقی (٤/١٥،١٦) واسناده صحیح نقلاً عن زاد المعاد (٣/٣٢٤) وسیرة ابن کثیر (٣/٣٦٢)

اے الله ! دا ستا بنده دے ستا په لاره کی هجرت کونکے راوتے دے، او شهید شو او زهٔ په دهٔ بانڈے ګواه یم)۔



د حجّاج بن عِلاط حیرانونکے قصه

بله واقعه: د مکے مکرمے یو سرے چه حَجّاج بن عِلَاط السّلَمِی ئے نوم وو دا خیبر ته راغلے وو پدے حال کی چه مشرك وو دلته به د تجارت یا بل څه کار له راغلے وو لیکن کله ئے چه نبی علیه السلام ولیدو نو الله تعالیٰ ورته په زړه کی ایمان واچولو او دا مالداره سړے وو تاجر وو او مالونه ئے په مکے والو خرځ کړی وو او د هغوی پورے ئے پیسے قرض وے کله ئے چه ایمان راوړو نو وے وئیل که زهٔ مکے ته لاړ شم نو مکے والا مے نهٔ پریدی وهی مے۔ بله دا چه کومے پیسے مے ورپوری دی هغه راله یوه هم نهٔ راکوی ځکه چه کافران د مسلمانانو په مالونو قبضے اچوی او د هغوی اساسے منجمدے کوی دا د کفارو د پخوانه طریقه راروانه ده۔

نو دهٔ د رسول الله ﷺ نه اجازه طلب کړه چه زهٔ به مکے ته لاړ شم او څه خلاف الحقیقة خبرے به کوم تهٔ ما ته اجازه راکړه، نو رسول الله ﷺ ورله اجازه ورکړه او دا ئے ورته وویل چه هغوی ته داسے خبرے وکړه چه هغوی کی پریشانی راشی او خفه شی او د خپل مال حفاظت وشی نو دا مسلمان په جلتئ باندے مکے ته ورسیدو دے دپاره چه د خیبر د فتح خبر مکے والو ته زمانه مخکی ونهٔ رسی،

نو مکے والو په دهٔ باندے دا گمان وکړو چه دا زمونږ ملگرے دے نو دهٔ نه ئے تپوس وکړو چه څه خبر دے؟ نو دهٔ ورته وویل چه قصه دا ده چه محمد (ﷺ) خیبر ته تلے دے او یهود په دهٔ باندے غالبه شویدی او هغه ئے نیولے دے او ملگری ئے ورله وژلی دی او مالونه ئے هم ترے اخستی دی، او یهود دا اراده لری چه محمد دلته مکے ته راولی او ستاسو مخامخ ئے په سولئ کړی چه ستاسو زړونه پرے خوشحاله کړی، دا خبره ئے خوره کړه او مشرکان خو پدے انتظار وو چه محمد (ﷺ) به د چا د لاس نه وهلے کیږی او کله به وهلے کیږی نو مشرکان دومره خوشحاله شو (حَتّٰی طَارُوْا بِالْفَرَحِ) تردے چه د خوشحالئ نه سم والوتل۔ چه بنه دے مونږ خو ونهٔ وهلو خو چه یهود پرے غالبه شو۔

(داسے حالات چه کله راشی د بعض خلکو دپاره د گمراهئ ذریعه شی او د بعضو

خلکو د اجر لکه د یو مؤمن په باره کی هم داسے خبرے کله خوریږی او د دروغو خبرے ډیرے خوریږی ددے وجه نه قرآن کریم مونږ ته په تحقیق کولو باندے حکم کړیدے او بی تحقیقه خبرو نه ئے منع کړی یو)

پدے کی عباس رضی الله عنه خبر شو هغه په مکه کی وو نو هغه ته سخت تکلیف شو او دومره خفګان پرے راغلو چه طاقت ئے نهٔ وو چه زمکے نه پاڅیږی چه زما وراره ته داسے تکلیف ورسیدو او دغه شان نور مسلمانان هم خفه شو۔

نو عباس رضی الله عنه راغے او حجاج ته ئے وویل چه هلکه دا تا کوم خبر راوړیدے دا خبره رشتینی ده او که نه څنګه چل شویدے ؟ نو هغه ورته تفصیل وکړو چه زهٔ مسلمان شوے یم او دا خبره برعکس ده رسول الله ﷺ غالبه شویدے او خیبر ئے ټول نیولے دے تردے چه د هغوی د مشر حیی بن اخطب لورئے په نکاح باندے اخستے ده نو عباس رضی الله عنه سخت خوشحاله شو۔

حجاج ورته وویل چه زما د مکے والو پورے قرضونه دی که زهٔ دوی ته اسلام ښکاره کړم ما له قرضونه نهٔ راکوی نو زه په چل کی دا مالونه راویاسم او ما د رسول الله ﷺ نه ددے خبرو په باره کی اجازه اخستے ده هغه ماله اجازه راکړے ده۔

او دهٔ ته ئے دا هم وویل چه درے ورځے پس زهٔ د مکے نه ووځم تهٔ بیا دا اعلان وکړه نو دے په جلتئ جلتئ سره په قریشو وګرځیدو او د هغوی نه ئے خپل مالونه پدے طریقه راجمع کړل چه هغوی ته ئے وویل چه ما ته خپل قرضونه راکړئ ځکه چه د محمد (ﷺ) مالونه یهودو په خیبر کی نیولی دی او هغه خرڅوی نو زهٔ په جلتئ سره ورځم چه هغه مالونه ترے واخلم چه نور تاجران رانه مخکی نشی او مال ارزان دے نو د مشرکانو نه ئے پدے طریقه مالونه راجمع کړل او درے ورځے پس ووتلو،

کله چه دهٔ درے ورځے مزل وکړو نو سیدنا عباس رضی الله عنه ښائسته جامے واغوستے او ځان ئے صفا او ډولی کړو او امسا ئے راواخسته او مسجد حرام ته راغے او طواف د بیت الله ئے وکړو او بیا د مشرکینو خوا ته ورغلو نو هغوی ورته وویل :

(يَا أَبَاالْفَضْلِ ! مَا هٰذَا التَّجَلُّدُ لِحَرِّ الْمُصِيْبَةِ ؟)

اے ابو الفضل! دا څنګه دے ځان د ګرم مصیبت دپاره صبرناك کړیدے او ښائسته حالت کی راووتے د خفګان اثر درباندے نشته۔ ډیر صبرناك ئے۔ نو هغه ورته وویل چه

هیڅکله خبره داسے نۀ ده بلکه رسول الله ﷺ غالبه شویدے خیبرئے فتح کړیدے او یهودو شکست خوړلے دے تردے چه د هغوی د مشر لورئے هم په نکاح اخستے ده (دے دپاره چه مشرکان پدے بنه خفه شی)

نو دوی پدے خبره ډیر سخت پریشانه او دردمند شو (ځکه چه د خوشحالئ نه روستو خفګان ډیر سخت وی) دوی تپوس وکړو؟ تا ته دا خبر چا راوړو؟

هغه ورته ووئیل: هغه سړی چه تاسو ته ئے خبر راوړے وو، او هغه اصل کی مسلمان شویدے او د هغه اراده وه چه تاسو نه مالونه جمع کړی او بیرته د محمد (ﷺ) او د هغه ملګرو خوا ته لاړ شی نو دوی ووئیل: (یَا لَعِبَادِ اللّٰهِ اِنْفَلَتَ عَدُوُّ اللّٰهِ)

د الله دشمن مونږ نه وتښتیدو ګنے دا به مونږ سم کړے وے۔

مسند احمد ۱۳۸/۳) باسناد علی شرط الشیخین مع تصرف والسیاق لابن اسحاق (السیرة النبویة لابن کثیر۴۰۹/۳)

بیا لا دوی دومره وخت نۀ وو تیر کړے چه د خیبر د فتح خبر دوی ته راورسیدو۔

(**فائده**: جنګ د چل نوم دے پدے وجه رسول الله ﷺ پدے مقام کی دے صحابی ته د خلاف الحقیقة خبرو اجازه ورکړه هر وخت به کافر ته رشتیا نۀ وائے ځکه هغه دے بیا په عذابوی بلکه د کافرو د ذلیله کولو دپاره کله نا کله خلاف الحقیقة خبره هم اجازه لری، ډیر خلك پدے وخت کی د سادګئ نه کار اخلی، دا ددے قصے فائده وه)۔

OOOO

د خیبر چه کوم اول طرف فتح شوے وو نو رسول الله ﷺ د هغے غنیمتونه راواخستل او هغه ئے په صحابه کرامو تقسیم کړل او باقی زمکے ئے یهودو ته پریښودے چه دا به په نیمائی سره کرئ۔

نبی علیه السلام پدے غنیمتونو کی د یهودو نه زرتورے څلور سوه نیزے او پنځه سوه لیندے او منجانیق (د هغه زمانے توپے) نیولے وے او رسول الله ﷺ او د هغه ملګروته ددے یو طرف نه صرف څلویښت زره کجورے ملاؤ شوے چه دا ډیر لوی غنیمت دے ځکه چه الله تعالیٰ وئیلی وو:

﴿وَعَدَكُمُ اللّٰهُ مَغَانِمَ كَثِيرَةً﴾ الله تعالیٰ تاسو سره د ډیرو غنیمتونو وعده کړیده۔

او کجوره یو داسے نعمت دے لکه د سړی چه لنګه غوا وی هر قسم فائدے پکی

شته، د خوراك په ځای كار وركوی د میوے په ځای كار وركوی د دوائی په ځای كار وركوی خرخولے هم شی پیسے ترے كولے شی او دا د مجاهدینو خوراك دے۔
او نبی علیه السلام ته الله تعالیٰ ددے نه علاوه نور سرۀ او سپین او سامانونه وركړل نو د خیبر د غزا نه روستو ښه مالداری راغله۔

د صفیه رضی الله عنها متعلق تفصیلی واقعات

رسول الله ﷺ چه كله د خیبر والو وینځے او ماشومان ونیول نو پدے كی سیدنا دِحْیَةُ الْكَلْبِیُّ رضی الله عنه راغے عرض ئے وكړو یارسول الله! زما یوے وینځے ته ضرورت دے؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: (اِذْهَبْ فَخُذْ جَارِیَةً مِنَ السَّبْیِ)
لاړ شۀ او ددے قیدیانو زنانو نه یوه وینځه ځانله واخله ستا شوه۔ نو هغه لاړو یوه زنانه ئے ولیدله چه هغهٔ ډولی هم وه او ځوانه هم وه چه هغه صفیه رضی الله عنها ده چه لا اولسو كالو ته نۀ وه رسیدلے او د كنانه بن الربیع سره ئے د واده لړ وخت شوے وو۔
پدے كی یو صحابی راغے وے ویل: یا رسول الله تا دحیة الكلبی ته دا زنانه وركړه (سَیِّدَةُ بَنِیْ قُرَیْظَةَ وَبَنِی النَّضِیْرِ) چه دا د بنو قریظه او د بنو نضیرو سرداره ده د بنو نضیرو د سردار حیی بن اخطب لور وه او د كنانه بن الربیع بن ابی الحقیق ښځه وه چه هغه هم ددے علاقے بادشاه وو نو ددے پلار هم بادشاه او خاوند ئے هم بادشاه او ټوله كورنۍ ئے اُوچته ده نو دا دۀ له مۀ وركوه، (لَاتَصْلُحُ اِلَّا لَكَ) دا ستا د شان سره لائقه ده،
(السیرة الحلبیة ۳/۴۱۵)

نو نبی علیه السلام پدے خبره كی حكمت ولیدو چه دا خبره ددے سړی روغه ده وجه د هغے دا ده چه كله داسے زنانه یو عام سړے واخلی نو هغه خلك خفه شی چه زمونږ د مشرانو داسے اُوچته زنانه یو عام سړی ته ورغله نو بیا غالباً هغوی تهٔ د ایمان توفیق نۀ ملاویږی په ضد كی راځی او چه كله دغه زنانه مشر سړی، بادشاه او خلیفه ته لاړه شی او بیا د نبی په نكاح كی راشی نو هغوی پدے خوشحاله شی چه زمونږ زنانه اُوچت سړی ته لاړه او عربو كی دا عادت وو چه كله به یو سړے د چا زوم شو نو سخرګنۍ به ئے ډیر سخت اكرام كولو، محبت به ئے ورسره كولو۔

نو نبي علیه السلام ته راوستے شوه نبي علیه السلام ورته وکتل او دغه صحابي ته ئے وویل چه ته دا زنانه مهٔ اخله او ددے په ځای بله زنانه واخله او په بعض روایاتو کی دی چه هغه ته ئے وویل چه ددے په ځای اوه (۷) واخله۔

(ابوداود: ۲۹۹۹، مسند احمد بسند صحیح۳/۲٤٦) السیرة النبویة لابن کثیر۳/۳۷۳)۔

بیا نبي علیه السلام هغه خپله واخسته لکه څنګه چه هغه ته الله تعالیٰ ددے اجازه ورکړے وه۔

خو ددے زنانه کمال ته وګوره چه نبي علیه السلام هغے ته اشارةً د اسلام دعوت ورکړو نو هغے سمدست ایمان راوړو چه یهود داسے زر ایمان نهٔ راوړی ځکه چه هغوی ضدیان دی نو په رشتیا دا د نبي سره لائقه وه۔

نو د رسول الله ﷺ ددے سره پدے وجه هم مینه پیدا شوه نو رسول الله ﷺ بیا هغه آزاده کړه وینځه ئے هم ترے جوړه نکړه ځکه چه د وینځے درجه کمه وی) او د هغے آزادول ئے د هغے مهر وګرځولو او خپله ئے په نکاح واخسته او په امهات المؤمنین کی ئے داخله کړه چه د ټول امت مور شوه څومره اوچت عزت ئے ورکړو او د رسول الله ﷺ په نکاح کی چه څوک راشی نو ددے معنیٰ دا وی چه دا به الله تعالیٰ جنت ته بوځی نو دا داسے شوه لکه جنت ته داخلول۔ ډیره عقلمنده او هوښیاره ښځه وه۔

د هغے نه دا تپوس هم وشو چه تا څنګه په جلتیٔ سره ایمان راوړو؟ نو هغے دوه وجے بیان کړے (۱) یو مخکی مونږ واقعه وئیلے وه چه کله نبي علیه السلام مدینے ته هجرت وکړو او په قباء کی وسیدو نو هلته ددے پلار حیي بن اخطب او ترهٔ (ابویاسر) د نبي علیه السلام د معلومات دپاره راغلی وو او بیا ستو مانه مابنام کی راواپس شو نو زما ترهٔ زما د پلار نه تپوس وکړو چه دا هغه نبي دے ؟ نو هغه وویل همغه دے،

ستا څه اراده ده ؟ زما پلار وویل : ترڅو چه زهٔ ژوندے یم دشمني به ئے کوم۔ نو د هغه وخت نه زما په زړه کی دا خبره پرته وه چه هرکله دا د الله تعالیٰ حق پیغمبر دے او اسلام حق دین دے او دوی ئے نهٔ مني نو زما په زړه کی رغبت او مینه وه لیکن ما ته موقعه نهٔ ملاویده، اوس الله تعالیٰ دغه موانع لرے کړل نو الله تعالیٰ موقعه راوسته، د ایمان توفیق ئے راکړو۔

(کله کله په خلکو باندے دغه شان مشران د الله تعالیٰ عذاب وی، حق ته ئے نهٔ

پریدی، لکه فرعون هم خپل قوم لاس کی نیولے وو او حق ته ئے نهٔ پرېښودل، بعضے علاقو کی ملیان او پیران د الله تعالیٰ عذاب وی که دوی نهٔ وے دغه علاقے والا حق ته راتلل، ددے وجه نه قرآن کریم مونږ ته بار بار دا خبره کوی چه خپلو مشرانو ته وګورئ چه تاسو د چا پسے روان یئ، هسے نه چه دا مشر مو جهنم ته بونهٔ ځی، بعض مذهبونه او تقلیدونه په خلکو امتحان او د الله تعالیٰ عذاب مسلط دے وائی چه مذهب کی به دننه وسیږے او بهر به نهٔ وځے ګنے ګمراهی ده حال دا چه دا په کوزه کی دریاب راګیرول دی چه ناممکنه خبره ده خو کله چه دغسے غلط مشران ختم شی نو خلکو ته لاره کولاوه شی هدایت طرفته)۔

(۲) دویمه وجه دا وه چه صفیه رضی الله عنها سره چه نبی علیه السلام نکاح وکړه (لکه روسته واقعه کی راځی) نو نبی علیه السلام ددے په مخ باندے شینوالے ولیدو (لکه په څپیړه چه وهلے شوی وی) نو د الله نبی ترے تپوس وکړو چه دا ولے ؟ هغے وویل : یارسول الله ما خوب ولیدو په داسے وخت کی چه ما ته ستا په باره کی هیڅ شے په ذهن کی نهٔ وو : (كَأَنَّ قَمَرًا زَالَ عَنْ مَكَانِهٖ فَوَقَعَ فِيْ حِجْرِيْ)

ګویاکه یوه سپوږمه ده چه د خپل ځای نه راجدا شوه او زما غیږ کی راپریوته۔

نو ما دا خوب خپل خاوند کنانه بن الربیع بن ابی الحقیق ته بیان کړو چه ما داسے خوب لیدلے نو خاوند ئے مُلا وو پدے خوب سمدست پوهه شو نو د تعبیر نه مخکی ئے په مخ باندے سخته څپیړه ورکړه او دا ئے ورته وویل :

(تَمَنِّيْنَ ذٰلِكَ الْمَلِكَ الَّذِيْ بِالْمَدِيْنَةِ)

تهٔ هغه بادشاه غواړے چه په مدینه کی دے (نبی ئے هم ورته ونهٔ وئیلو د سخت ضد د وجه نه) دهٔ ته پته وه چه دغه سپوږمۍ د الله نبی دے او د سپوږمۍ راپریوتل دا وو چه دا به په نکاح اخلی یا به ترے وینځه جوړه کړی۔

لیکن ددے وهلو هیڅ فائده ونشوه ځکه چه هغه تعبیر پرے صادق شو چه محمد رسول الله ﷺ ددے غیږ ته راغے۔

(ددے نه دا معلومه شوه چه کله نا کله د کافر خوب هم رشتینی کیږی ځکه چه صفیه پدے زمانه کی په حالت د کفر کی وه، او د هغه چا خوب اکثر رشتینی وی چه صادق وی او دروغجن او خیانتګر نهٔ وی)

نو د دغه خوب د وجه نه هم زما اسلام ته رغبت پیدا شو۔

صفیه رضی الله عنها ډیره نیکه زنانه وه د الله تعالیٰ خوښه وه ځکه ئې خپل نبی ته راورسوله، ډیره حیاء او ادب پکی وو،

احادیثو کی راځی چه کله نبی علیه السلام مدینے ته راواپس کیدو نو دا به ئې په ډولئ کی په اوښ باندے سوره وله نو دا اوښ ته نشوه ختلے ځکه اوښ اوچت وی نو نبی علیه السلام ورته لاندے کیناستو او دائې ورته وویل چه زما په پتون باندے خپه کیده او ډولئ ته وخیژه (د خپلے بی بی اکرام به ئې کولو، زمونږ ددے بدے معاشرے خلك دا بده ګنړی چه څوك د ښځے سره داسے برتاؤ او سلوك کوی وائی چه پدے سره به ښځه راباندے مستـه شی دا خبرے خطاء دی قرآن او حدیث (اسلام) ښځے ته ډیر زیات عزت ورکړیدے خو د هغے سره سره ئې پابندی هم وئیلے ده)

نو دے به دومره ادب کولو چه خپه به ئې د نبی علیه السلام په زنګون نهٔ کیخودله بلکه خپل زنګون به ئې د هغه په پتون باندے کیخودو،

نورو ښو به کله نا کله د بشری تقاضا مطابق چه کله صفیه ته غصه شوے نو دے ته به ئې وئیل : (یَا بِنْتَ یَهُوْدِیٍّ) اے د یهودی لورے۔ نبی عَلَیْهِ السلام یو ځل زینب رضی الله عنها ته پدے خبره په غصه شوے وو۔

د یو بل سفر واقعه ده چه نبی علیه السلام د زینب رضی الله عنها سره په سفر کی روان وو د هغے سره دوه اوښان وو او د صفیه سره یو اوښ وو هغه کمزورے شوے وو مزل ئې نشو کولے نو نبی علیه السلام زینب ته وویل چه دا یو اوښ صفیه ته ورکړه چه هغه پرے کینی نو دا ډیره نیکه ښځه وه لیکن پدے وخت کی غصه شوه او دائې وویل : (أَنَا أُعْطِیْ تِلْكَ الْیَهُوْدِیَّةَ؟) آیا زهٔ دے یهودئ ته اوښ ورکړم؟۔

نو نبی علیه السلام ددے نه سخت خفه شو او درے میاشتے ئې د زینب رضی الله عنها سره خبرے ونکړے (خپلے ښځے ته سړے داسے ادب ورکولے شی کله چه دغه شان ورانے وکړی او عام مسلمان سره به د درے ورځو نه زیات نهٔ ورانوی)

(ابوداود : ٤٦٠٤ ومسند احمد : ٢٥٠٤٦)

نو صفیه رضی الله عنها به پدے خبره ډیره خفه کیده چه ما ته یهودیه وائی نو رسول الله ﷺ دے ته چل وښودو چه کله دوی دا خبره کوی نو تهٔ ورته داسے وایه : (أَنَا

زَوُجَةُ نَبِيٍّ) زهٔ خو یو د نبی ښځه یم، دویم دا په نسب کی د هارون علیه السلام د اولادو نه وه نو داسے وایه چه زما پلار هم پیغمبر او تره (موسی علیه السلام) مے پیغمبر او خاوند مے پیغمبر دے او تاسو کی څوك دے چه داسے درے پیغمبران لری نو پدے به ئے پړ کوے۔ نو هغے به بیا دغسے جواب کولو۔

د رسول الله ﷺ شفقت

کله چه رسول الله ﷺ د دِحُیَة الُکلبی نه صفیه واخسته نو بلال ته ئے وویل : دا زنانه چه نورے زنانه هم ورسره وے دا بوځه او فلانی ځای کی زمونږ خیمے ته ئے ویسه (د یو امن ځای ته ئے بوتلل) نو بلال رضی الله عنه دا زنانه په مړو باندے وروستے چه د یهودو مړی پراتهٔ وو

(ځکه چه پدے غزا کی ډیر یهودیان مردار شوی وو تقریباً (۹۳)

(سبل الهدی و الرشاده/١٤٨)

نو دوی چه خپل خاوندان او خپل خپلوان ولیدل نو په ژړا شوے او چغے ئے جوړے کړے نو رسول الله ﷺ بلال ته غصه وکړه او دا ئے ورته وفرمایل:

(یَا بِلَالُ ! أَنُزِعَتُ مِنُ قَلُبِكَ الرَّحُمَةُ)

اے بلاله ! آیا ستا د زړه نه شفقت وتلے دے چه تا دا زنانه په دے مړو باندے ورتیرے کړے، پدے لار دے ولے بوتللے چه دا مړی ئے نهٔ لیدلے۔ د الله په مخلوق باندے شفقت پکار دے۔

داسے په یوه بله واقعه کی هم راځی چه رسول الله ﷺ وفرمایل:

(أَمَا کَانَ فِیکُمُ رَجُلٌ رَحِیُمٌ ؟)

آیا په تاسو کی څوك رحمدل سړے نهٔ وو۔

دا ئے په هغه وخت وو چه یو کافر سړے په یوه ښځه باندے عاشق وو او صحابه کرام وریسے ورغلی وو او هغه ئے وژلے وو او هغه ښځه راغله د هغه خواته ودریده او په تیزه چغه ئے وژړل او کریکه ئے وکړه او راپریوته مړه شوه نو رسول الله ﷺ وفرمایل چه جنګ ئے نهٔ کولو نو تاسو به پرے شفقت کړے وے او نهٔ به مو وژلے په تاسو کی دومره

ځوك رحم والا نهٔ وو۔

(السنن الکبری للنسائی ٨٦٠٦)

د الله په مخلوق چه په چا کی شفقت نهٔ وی هغه جنت ته نهٔ شی تللے د جنت د داخلیدو دپاره دوه سببونه ځان سره یاد ساته (١) یو (تَعْظِیمِ لِاَمْرِاللهِ) د الله تعالیٰ د حکمونو تعظیم کول، د دین هره خبره به درنه ګڼړے چه د الله خبره ده (٢) او دویم (اَلشَّفْقَةُ عَلٰی عِبَادِ اللهِ) د الله په مخلوق باندے شفقت کول۔

د لارے واقعات

د صفیه رضی الله عنها سره وادهٔ

رسول الله ﷺ چه کله خیبر نه راروانیدونو په لاره کی رسول الله ﷺ د صفیه رضی الله عنها سره نکاح وکړه، اول کی رسول الله ﷺ دا وینځه وګرځوله بیائے آزاده کړه د خپل واك خاونده شوه بیائے ترے مطالبه د نکاح وکړه نو هغه په نکاح راضی شوه۔ قانون دا دے چه وینځے سره بغیر د نکاح نه نزدیکت جائز وی، هغه د الله د طرفنه حلاله ده ځکه چه د هغے خپل واك نهٔ وی خو چه کله آزاده شی نو د خپل واك خاونده شی بیا به ورسره په رضا سره نکاح کولے شی۔

خو رسول الله ﷺ د هغے سره نزدیکت نهٔ کولو ځکه چه دا قانون دے چه زنانه کله وینځه ونیولے شی نو د هغے سره به سمدست نزدیکت نشی کولے ترڅو چه یو حیض ئے نهٔ وی تیر شوے نو کله چه رسول الله ﷺ سد الصهباء علاقے ته راورسیدو چه دا خیبر نه شپږ میله راوړاندے علاقه ده نو دلته د حیض نه پاکه شوه نو رسول الله ﷺ ورسره نکاح وکړه او پدے سفر کی د رسول الله ﷺ سره د انس بن مالك رضی الله عنه مور ام سُلیم رضی الله عنها هم تلے وه نو هغے دا صفیه تیاره کړه لکه ځنګه چه یوه زنانه د وادهٔ دپاره تیارولے شی، عطر ئے پرے راښکل او ډول سنګار ئے ورله وکړو او ښائسته جامے ئے ورته واغوستے او رسول الله ﷺ ته ئے ورواده کړه

نو رسول الله ﷺ چه د شپے دا واده کولو نو بعض صحابه کرام راغلل او دے خیمے ته د حفاظت دپاره ودریدل یو په هغے کی سعد او بل ابو ایوب انصاری رضی الله عنه

وو، رسول الله ﷺ وفرمایل: څه کوئ؟ هغوی وویل: یارسول الله! دا زنانه ده چه تا ورله په بنو قریظه کې پلار وژلے دے او دلته ددے خاوند او نور خپلوان مړه شول نو مونږ یریږو چه دا زنانه تا قتل نکړي ځکه چه د دشمن نه تازه نیولے شویده امن پرے نشته. دیته په خپل مشر باندے شفقت وائي.

نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: تاسو واپس شئ دے اوس په صدق سره ایمان راوړیدے ددے نه امن دے.

فوائد: (۱- دا حدیث پدے خبره دلیل دے چه صحابه کرام په غیبو نۀ پو هیدل،

۲: پیغمبران قتل کیږي هم، ظالمان ئے قتلولے شي، ۳- او د صحابه کرامو په رسول الله ﷺ باندے شفقت).

O دلته ذهن کې یو سوال راځي چه نزدے په خیبر کې درے نوي (۹۳) کافران قتل شوي او (۲۳) صحابه کرام شهیدان شوي چه دا ټول جنتیان وو د ګوتمے غمي وو دومره خواره ملګري وو نو زړه کې دا اشکال راځي چه داسے نزدے زمانه کې څنګه داسے وادۀ وشي، د سړي په زړه کې خو درد او خفګان وي؟

جواب: زمونږ او د صحابه کرامو او د نبي علیه السلام حال جدا جدا دے، د هغوی یقین په آخرت مضبوط وو او زمونږ کمزورے وو، د هغوی دا یقین وو چه دا کوم مسلمانان زمونږ نه لاړل نو دا کامیاب شو او جنت ته ورسیدل نو د فِراق (او جدایئ) معمولي غوندے خفګان به پرے وو او نور به پرے خوشحاله وو چه ښه دے چه جنت ته ورسیدل، ددے یقین مثال داسے دے لکه ستا یو بچے ستا نه جدا شي او یو مقصد ته ورسیږي او تا ته ټیلفون وکړي چه زۀ خپل ځای ته راورسیدم او خپل مقصد کې کامیاب شوم نو تۀ به د هغه په جدایئ معمولي خفه ئے لیکن په دغه ټیلفون سره به دے خفګان بیخي ختم شي. صحابه کرامو ته دنیا معمولي ښکاره کیده او مونږ ته دنیا لوی شے ښکاري ځکه داسے سوال زمونږ ذهن ته راځي.

۲- بله دا چه د رسول الله ﷺ ودونو کې څه تهنګ تکور نۀ وو بلکه ښه په امن کې یو جائز واده وو عادي حالت وو او دا د الله تعالیٰ عبادت او بندګي ده پدے وجه پدے کې هیڅ حرج نشته، پداسے غمونو باندے د دنیا ژوند نۀ دی تنګول پکار ځکه زمونږ برائے نام مسلمانان د مړي نه روستو یوٚ کاله پورے خوشحالي نۀ کوي، کله وائي دا اول اختر

دي دا تول د جاهليت خبرې دي.

نبي ﷺ په سد الصهباء علاقه کې درې شپې تيرې کړې،

د واده نه روستو رسول الله ﷺ آسانه شان وليمه هم ورکړه، صحابه کرامو ته ئې حکم وکړو چه خپلې توښې راوړئ نو چا پکې ستوان، چا کجورې، چا غوړي او چا پنير راوړو او دسترخوان خور شو او انس بن مالك ته ئې حکم وکړو چه ورشه څوك چه مخې له درځي هغوی راطلب کړه.

انس بن مالك رضى الله عنه فرمائي: ما مسلمانان د رسول الله ﷺ وليمې ته رادعوت کړل چه په هغه وليمه کې نهٔ ډوډئ وه او نهٔ غوښه وه. (بلکه دغه څيزونه وو) (صحيح البخاري : ۴۲۱۳)

دا ډيره مبارکه زنانه وه چه امت ته ئې ډير احاديث هم نقل کړي.

په لاره کې رسول الله ﷺ جهادونه هم وکړل او ناشنا واقعات راغلل لکه روستو راځي.

د حبشو نه د سيدنا جعفر بن ابی طالب رضی الله عنه واپسی

رسول الله ﷺ ددې نه مخکې نجاشي بادشاه ته عمرو بن اميه الضمري رضى الله عنه ليږلے وو چه هغه ته ئې خط ورکړے وو چه په هغې کې د اسلام دعوت وو او دا حکم وو چه تهٔ ما ته جعفر بن ابی طالب او د هغه ملګري راوليږه او دوی شپاړس کسان وو او څه ورسره بچي او زنانه هم وې،

(ځکه چه څه کسان د دوی نه مخکې مدينې ته راغلي وو)

او رسول الله ﷺ دا حکم ځکه کړے وو چه دوی د تربيت د ځای نه جدا وو ځکه چه رسول الله ﷺ د دين مرکز او مدرسه وه د تعليم او د تعلم ځای وو او انسانان تربيت ته محتاج دي.

د ابوموسیٰ اشعري د يمن نه رارسيدل

سيدنا ابو موسیٰ اشعري رضى الله عنه وائي چه مونږ په يمن کې وسيدو مونږ خبر

شو چه رسول الله ﷺ راوتے دے نو مونږ هغه ته د هجرت کولو اراده وکړه، زۀ وم او زما دوه ورونه وو او څه دپاسه پنځوس کسان نور وو زمونږ د قوم نه نو مونږ کشتۍ کې کیناستو نو هوا خرابه شوه زمونږ کشتۍ هوا (د مدینې په ځای) حبشو ته بوتله نو مونږ حبشو کې کوز شو هلته د جعفر بن ابی طالب او د هغه د ملګرو سره ملاؤ شو نو هغه مونږ ته وویل چه مونږ رسول الله ﷺ دلته رالیږلی یو او مونږ ته ئے دا حکم کړیدے چه دلته وسیږئ نو تاسو هم مونږ سره پاتے شئ بیا به شریك لاړ شو، نو پدے وخت کې د رسول الله ﷺ حکم هم وررسیدو چه تاسو راشئ.

نو نجاشی بادشاه مونږ په دوه کشتو کې سوارۀ کړو او مدینے ته ئے رارخصت کړو مونږ په داسے وخت راورسیدو چه نبی ﷺ خیبر ته تلے وو او هغه ئے فتح کړے وو مونږ هم د مدینې نه خیبر ته ورغلو (دلته ایسار نشو)

دا ولے؟ یو د ډیرے مینے د وجه نه چه د نبی علیه السلام سره په جلتۍ ملاؤ شی ځکه چه د رسول الله ﷺ نه جدائی ډیره سخته وه خو دا خبره مونږ نۀ ده ځکلے ځکه مونږ ته پوره نۀ معلومیږی.

یوه ورځ رسول الله ﷺ سیدنا معاذ بن جبل رضی الله عنه یمن ته لیږلو، په اُوښ باندے ئے سور کړو او رسول الله ﷺ ورپسے پیاده روان وو وے فرمایل: اے معاذه! شاید چه تۀ به پدے لاره راشے او ما به مونده نۀ کړے نو پدے باندے معاذ بن جبل رضی الله عنه سخت وژړل د چه د فراق د رسول الله ﷺ نه نو نبی علیه السلام ددۀ نه مخ جدا کړو چه ددۀ زړه ځای ته راشی،

بیا ئے وفرمایل: (إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِيَ الْمُتَّقُونَ مَنْ كَانُوا وَحَيْثُ كَانُوا)

(مسند احمد ۲۲۱۰۵) باسناد صحیح)

ما ته د ټولو خلکو نه ډیر نزدے او غوره خلك متقیان دی هرڅوك چه وي او هر ځای کی چه وی) که تۀ بهر ته هم لاړ شے خو چه تقویٰ درکی وی نو ما ته به نزدے ئے.

OOOO

مقصد دا چه دا صحابه کرام خیبر ته لاړل دے دپاره چه رسول الله ﷺ سره په جلتۍ ملاؤ شی نو هلته چه لاړل رسول الله ﷺ خیبر فتح کړے وو نو رسول الله ﷺ چه کله سیدنا جعفر ولیدو نو رسول الله ﷺ راپاڅیدو او هغه ته ئے غاړه ورکړه او د

ستر گو مینځ ئے ورله خکل کړو (مسافر چه د لرې ځای نه راشی نو غاړه ورکول جائز دی، د صحابه کرامو طریقه دا وه چه کله به دوی د سفر نه راتلل نو یو بل ته به ئے غاړه ورکوله او چه کله به یو بل سره (په عام حالت کی ملاو شول) نو مصافحه به ئے کوله.

جعفر رضی الله عنه ډیره موده بهر تیره کړې وه نو د ډیرې مینې د وجه نه رسول الله ﷺ خکل کړو او د الله د دین دپاره ئے ډیرې سختئے تیرې کړیدی چه بیا په نزدې زمانه کی په غزا د مُوتَه کی شهید شو.

او بیا نبی علیه السلام ددې خکلولو نه روستو د خوشحالئ اظهار وکړو او دا ئے ورفرمایل: (وَاللّٰهِ مَا أَدْرِىْ بِأَيِّهِمَا أَفْرَحُ؟ بِفَتْحِ خَيْبَرَ أَمْ بِقُدُوْمِ جَعْفَرِ)

قسم په الله زهٔ نهٔ پوهیږم چه کوم ددې دوه کارونو باندې زهٔ ډیر خوشحاله شم په فتح د خیبر باندې او که په راتللو د جعفر باندې.

(د کافرانو نه چه یوه علاقه صفا شی او د الله بندگئ ته وزگاره شی دا غټه د خوشحالئ خبره ده لیکن زمونږ زړونه جوړ نهٔ دی پدې وجه ددې په خوند مونږ نهٔ پوهیږو ورنه صفا اسلام چه یو ځای کی راځی او کافر د مخ د زمکې نه ورك کیږی دا انتهائی د خوشحالئ خبره ده، نبی علیه السلام د خیبر فتح کی پیسو او روپو او کجوړو ته نهٔ وو خوشحاله، دا خبرې هغه ته د ماشی د وزر نه هم خکته ښکاره کیدې لیکن غلبه د اسلام ډیر لوی شے دے، ددې وجه نه خیبر ئے بیرته یهودو ته ورکړو چه نیم ستاسو او نیم زمونږ څو مره آسانی ئے ورسره وکړه.

فائده : ددې نه معلومیږی چه د دنیا په بعض څیزونو باندې انسان خوشحالی کولے شی کله چه انسان تکبر ته نهٔ رسوی او نهٔ ئے غافله کوی او کله چه یو سړے د نعمت په وجه تکبر کی راشی الله ترې هیر شی او سخته مستئ کی راشی نو دا د کافرانو صفت دے، لکه قرآن کریم کی دی

﴿ وَفَرِحُوْا بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا، وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا فِي الآخِرَةِ اِلَّا مَتَاعٌ﴾ (الرعد: ٢٦).

(دوی په ژوند دنیوی باندې خوشحالی (تکبر) کوی او نهٔ دے ژوند دنیوی په مقابله د آخرت کی مگر معمولی فائدې)

قارون ته مؤمنانو علم والو وئیلی وو:

﴿ لَا تَفْرَحْ اِنَّ اللّٰهَ لَايُحِبُّ الْفَرِحِيْنَ﴾ (قصص: ٧٦)

ډیره خوشحالي مۀ کوه (چه مست کیږې) یقیناً الله تعالیٰ مینه نۀ کوی د خوشحالي کونکو سره۔

دنیا د مزو ځای نۀ دے بلکه دِ امتحان ځای دے ځوك چه دا د خوشحالئ ځای ګنړی دا جاهل دے او د هوکه شویدے د خپل ځان علاج دے وکړی۔

﴿ وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا ﴾ ..... (الاسراء: ٣٧)

(په زمکه په تکبر سره مۀ ګرځه) او د دین په کارونو خوشحالي ښه کار دے لکه د یو مسلمان په ملاقات خوشحالیدل هم دین دے۔

ددے نه دا معلومه شوه چه مخامخ د چا صفت کول د نبی علیه السلام طریقه وه لکه یو تن ته به ئے ووبل چه ستا په راتللو یا ستا په لیدو زۀ ډیر خوشحاله شوم، (مَرْحَبًا بِكُمْ، مَرْحَبًا بِالْقَوْمِ غَيْرَ خَزَايَا وَلَا نَدَامٰى) به ئے ویل، یعنی تاسو ته دے مرحبا وی، دے قوم ته دے مرحبا وی تاسو دے الله تعالیٰ ونۀ شرموی او نۀ دے پښیمانه کړی لکه دا خبره ئے وفد عبد القیس ته کړے وه۔

OOOO

بیا رسول الله ﷺ د خیبر د غنیمتونو نه څه برخه راواخسته او سیدنا جعفر او د هغه (شپاړس) ملګرو او د ابوموسیٰ اشعری رضی الله عنه سره ذغه پنځوسو کسانو ته لو ته ئے ورکړه حال دا چه دوی په جنګ کی شامل شوی نۀ دی،

دا ئے ولے ورکړه ؟ نو علماؤ ددے دوه وجے خودلی دی (١) یوه وجه دا ده چه دا هغه مسلمانان وو چه د الله د دین دپاره ئے ډیره سخته زندګی او د فقر او فاقے زندګی ئے تیره کړے وه نو د مسلمانانو په مشوره باندے چه ټول خوشحاله وو چه دوی ته دے ددے غنیمتونو نه برخه ورکړے شی۔

(٢) او بل رسول الله ﷺ ته الله تعالیٰ په غنیمتونو کی ډیر واك هم ورکړے وو چه هغه څه کول په هغه باندے پابندی نۀ وه اګرکه هغه به مجاهدینو ته پوره برخه ورکوله لیکن الله تعالیٰ ورله پدے خبره کی ډیره فراخي ورکړے وه نو د نبی علیه السلام او د عامو امیرانو په مابین کی فرق دے عام امیران د ځان دپاره شے وهی او رسول الله ﷺ به د عامو مسلمانانو لحاظ ساتلو۔

بله وجه دا وه چه دوی په داسے وخت کی خیبر ته ورسیدل چه لا جنګ ختم شوے

نهٔ وو او اصول دا دی چه کله د مجاهدینو پسے نور ملگری په داسے وخت کې راورسی نو د هغوی پرے مَلا مضبوطه شی او هغوی ډاډه شی نو کله چه غنیمت حاصل شی نو دوی له به په کې برخه ورکولے شی ځکه چه د دوی د راتگ د وجه نه هغوی مضبوط شو نو پدے کې دا د غنیمتونو د احکامو نه یوه مسئله شوه۔

OOOO

د فَدَک علاقے سپارل

فَدَك د خیبر په مشرق کې د دوه ورځو په فاصله باندے یوه علاقه وه چه نن صبا په (حائل) علاقه کې په (حائط) نوم سره مشهور دے، چه دلته هم یهود وسیدل۔ اُوس هم آباد ښار دے، ډیرے کجورے، فصلونه پکې موجود دی۔ (المعالم ومعجم البلدان ج٤)

فدك، تیماء او وادی القرىٰ دا درے واړه علاقے د مدینے او د خیبر په مابین کې دی او پدے درے واړو علاقو کې دِ خیبرِ نه یهود وسیدل څه د مدینے نه دغه علاقو ته تلی وو او څه د شام نه راغلی وو د پخوا نه هلته کې آباد وو، اُوس هم یهود ددے علاقو دعوه کوی چه دا زمونږ دی او ددے د نیولو کوشش کوی۔ دا خلك د رومیانو د لاسه پخوا نه دلته رامهاجر شوی وو لیکن دلته ئے په نبی علیه السلام باندے کفر اختیار کړو نو الله تعالىٰ ددے ځای نه وشړل او ذلیله ئے کړل۔

رسول الله ﷺ چه کله خیبر ته ورسیدو نو هغه سیدنا مُحَیِّصَه بن مسعود رضی الله عنه د فدك یهودیانو ته ولیږو چه هغوی ته د اسلام دعوت ورکړی او ورته ووائی چه تاسو اسلام راوړئ زمونږ درسره نور کار نشته، هرڅه دے ستاسو وی خو صرف اسلام قبول کړئ نو هغوی کې همغه شان یهودیت (ضد) پروت وو، اسلام ته نهٔ تیاریدل اسلام ئے قبول نکړو لیکن کله چه رسول الله ﷺ خیبر فتح کړو نو په دوی باندے الله تعالىٰ رعب راوستو چه د خیبر غتے غتے قلعه گانے چه لس زره فوج پکې پروت دے او زر کسان پکې د غطفان نه راغلی دی داسے مضبوط فوج وهلے شی نو زمونږ علاقے او خلك خو کمزوری دی دا خو به خامخا فتح کولے شی۔

او نبی علیه السلام ته الله تعالىٰ د یوے میاشتے پورے رعب ورکړے وو او هرڅوك

چه د الله تعالیٰ د حکمونو تابعدار شي هغوی ته الله تعالیٰ داسې رعب ورکوي په صحابه کرامو کې هم دا صفت وو چه کافران به ترې هیریدل او یو قوي مسلمان چه د خواهشاتو تابعدار نهٔ وي هغه ته الله تعالیٰ رعب ورکوي۔

نو فدك والو باندې رعب راغې سړې ئې راولیږو چه مونږ درسره روغه (صلح) کوو لکه څنګه چه تاسو د خیبر والو سره وکړه یعني په نیمائي مالونو د فدك باندې، نو رسول الله ﷺ دا خبره قبوله کړه چه ددې خلکو وژل مقصود نهٔ دي کیدې شي چه روستو پکې الله تعالیٰ ایمان والا پیدا کړي، ژوندي دې پاتې وي خو چه شر او فساد نهٔ کوي، نو صلح وشوه چه تاسو به په کال کې د فدك چه کوم مالونه دي هغه به نیمائي مدینې ته ورکوئ او دا زمکه به هم د الله تعالیٰ او د رسول حسابیږي خو تاسو به د دهقانانو په شان یئ۔

بیا دا مال به د رسول الله ﷺ دپاره خاص وو څکه چه پدې باندې مسلمانانو څه جنګ ونکړو بلکه په صلح سره حاصل شو نو ددې نه به رسول الله ﷺ د خپلو بي بیانو دپاره د یو کال خرچه ساتله، او د بنو هاشمو د بچو عیالداري به ئې هم ددې نه کوله او کوم مسلمانان میلمانه چه به راتلل، بیماران او بي واده او ضرورت مندو خلکو ته به د هغې نه ورکړه کیده او اسونه او د مجاهدینو توښې به ئې پرې اخستې څکه چه اسلامي حکومت بغیر ددې خرچو نه نهٔ چلیږي۔

(سیرت ابن هشام : ۲/۳۳۷/۳۵۳) والسیرة النبویة لابن کثیر)

رسول الله ﷺ مخکې ډیر تکلیفونه تیر کړل څکه پرې الله تعالیٰ داسې آساني راوسته اول به تکلیف تیروې بیا به آساني راځي اول نه آساني غوښتل د شریعت د اصولو خلاف دي۔ ﴿أَوْفُوا بِعَهْدِي أُوفِ بِعَهْدِكُمْ﴾ ﴿إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا﴾

اول به د الله تعالیٰ لوظ او وعدې پوره کوې بیا به الله تعالیٰ ستا وعده پوره کوي، اول به تنګي او تکلیف تیره کړې بیا به ورپسې آساني راځي۔



د وادی القریٰ فتح کیدل

نبی علیه السلام د خیبر نه راروان شو راتلو تردے چه وادی القریٰ علاقے ته راغے، دلته هم یهودیان وسیدل او څه د عربو قبیلے وے خو لږے وے دا مدینے ته نزدے ځای دے نو دے خلکو ته ئے د اسلام او د ایمان دعوت ورکړو سړے ئے ورولیږلو نو هغوی انکار وکړو چه مونږ دے خبرو ته نهٔ تیاریږو۔

نو پدے مابین کی رسول الله ﷺ چه دغه علاقے ته وروړسیدو نو دے یهودیانو مخکی نه د جنګ تیارے کړے وو دا د دوی کم عقلتوب وو نو دوی پټو پټو ځایونو کی ناست وو مورچے ئے نیولے وے نبی علیه السلام او صحابه کرامو ته پته نهٔ وه هغوی په خپل یو ځای کی پړاؤ واچولو او خپل معسکر ئے جوړولو نو دے یهودو پرے شروع وکړه، یو غشے راغلو د نبی علیه السلام یو غلام وو د هغه مِدْعَم نوم وو (رفاعه بن عمرو الجذامی رضی الله عنه کوم چه په جِسمیٰ علاقه کی د بنی الضبیب بیا د جُذام قبیلے مشر وو، ورته په تحفه کی ورکړے وو)

دهٔ د نبی علیه السلام د اُوښے نه سامان کوزولو پدے غشی باندے دا ولګیدو او سمدست وفات شو په ظاهره کی دا مسلمان دے نو بعض صحابه کرامو وفرمایل:

(هَنِيئًا لَهُ الْجَنَّةُ)

دهٔ دپاره دے د جنت مبارکی وی۔ په خیبر کی نور شهیدان هم وشول مګر دا مبارکی ئے دهٔ ته ځیدے وجه ورکوله چه دا د رسول الله ﷺ خدمتګار دے، د هغه اُوښه څملوی او پاڅوی او په هغے باندے سامان اچوی او راکوزوی او هر خدمت دا کوی او د نبی ﷺ بلکه د یو عام مسلمان خدمت عین عبادت دے۔

نبی علیه السلام وفرمایل: (كَلَّا وَالَّذِىْ نَفْسِىْ بِيَدِهٖ) داسے مهٔ وایئ چه دا جنتی دے قسم په هغه ذات چه زما نفس د هغه په لاس کی دے (اِنَّ الشَّمْلَةَ الَّتِىْ اَخَذَهَا يَوْمَ خَيْبَرَ مِنَ الْمَغَانِمِ لَمْ تُصِبْهَا الْمَقَاسِمُ لَتَشْتَعِلُ عَلَيْهِ نَارًا) هغه شړئ چه دهٔ د خیبر په ورځ د غنیمت نه اخستے وه چه هغے ته لا تقسیم نهٔ وو رسیدلے خامخا په دهٔ باندے اُور بلوی)

دا ډیر معمولی شے دے او دے سړی جهاد هم کړیدے او په غنیمت کی د دهٔ حصه هم

شته د مشترك مال نه ئې اخستے ده نو ددهٔ دومره لویه سزا شوه چه پدے باندے به دا اُور بلیږی همداسے به پرے روان وی ترڅو چه الله تعالیٰ معاف کړے نهٔ وی۔

مسلمانان پدے خبره ډیر سخت ویریدل چه دهٔ د الله د دین دپاره څومره خواری کوله او په دومره معمولی شی باندے ورته اُور رسیږی، کله چه مسلمانانو دا خبره واوریدله نو (جَاءَ رَجُلٌ اِلَی النَّبِیِّ ﷺ بِشِرَاكٍ اَوْ شِرَاکَیْنِ)

یو سړی رسول الله ﷺ ته یوه تسمه یا دوه تسمے (د څپلئ) راوړے او دائے وویل چه دا ما د غنیمت نه اخستی وو (ما ته معمولی شے ښکاره کیدو)

نو نبی علیه السلام وفرمایل:

(شِرَاكٌ أَوْ شِرَاکَانِ مِنْ نَارٍ)۔ دا یوه یا دوه تسمے د اُور دی)

الله به تا له پدے سزا درکوی دا تا ولے اخستے ده،

د نورو احادیثو نه معلومیږی د بل ځای واقعه ده چه رسول الله ﷺ یو تن ته وویل چه هرکله غنیمت تقسیم شویدے نو زهٔ به دا اُوس په چا باندے تقسیم کړم۔

دا اګرکه معمولی شے دے دا هم کیدے شوه چه رسول الله ﷺ ددے تولو مسلمانانو نه اجازه واخلی چه دا دهٔ ته معاف کړئ لیکن رسول الله ﷺ دهٔ ته دا سخته دهمکی ورکړه چه نور خلك ددے نه نصیحت واخلی او څوك زړهٔ ورنشی چه غلا کوه او بیا به معافی غواړو۔ په حرام خورئ سره زړه مړ کیږی او بیا هیڅ عبادت نهٔ قبلیږی او نهٔ به د نیك عمل توفیق ورته ملاویږی۔

ددے نه دا فائده معلومه شوه چه هر مجاهد چه مړ شی د هغه په باره کی به دا نشی وئیلے چه دا شهید شو بلکه د الله نه به ښه ګمان لرے او داسے به وائے چه زما ګمان دے چه ان شاء الله چه د الله په نیز به شهید وی، یقین سره به ئې نهٔ وائے ځکه چه تا ته د هغه د زړه حالت څه معلوم دے چه زړه کی ئې څه وو او د هغه د زړه مرضونه درته نهٔ دی معلوم۔ د قیامت په ورځ به د بنده عملونه الله تعالیٰ ته پیش شی نو الله به ووائی چه دا ګوزار کړئ او دا راواخلئ ملائك به وائی (لَا نَعْلَمُ اِلَّا خَیْرًا) مونږ خو ددهٔ دا عملونه نیك ګڼړو (دائے مونځ، دائے جهاد، دائے صدقه او نور نیك عملونه کړیدی) څنګه ئې مونږ ګوزار کړو الله به ورته وفرمائی: چه تاسو زما د بنده ظاهری عملونه ګورئ (وَاَنَا رَقِیْبٌ عَلٰی مَا فِیْ نَفْسِهٖ) او زهٔ ددهٔ د زړه په حال خبریم دا عمل ددهٔ خالص زما دپاره نهٔ وو

نو دا سجین ته گوزار کړئ۔

(تخریج احادیث الکشاف ٤/١٧٤) الزهد لابن المبارك ١/١٥٣ عن ضمرة بن حبيب مرسلا)۔

الغرض: پدے کی رسول الله ﷺ هم دوی تـه تیارے وکړو لویه جنډه ئے سعد بن عباده رضی الله عنـه تـه ورکړه چه دا د انصارو رئیس وو او وړے جنډے ئے حُباب بن المنذر، سهل بن حنیف او عباد بن بشر رضی الله عنهم ته ورکړے یوئے یو طرفته او بل ئے بل طرفته او بل ئے بل طرفته ودرولو او لوی جنډے والائے شاته ودرولو،

بیا رسول الله ﷺ دوی تـه د اسلام دعوت ورکـړو لیـکن د هغوی نـه یو پهلوان د مقابلے دپاره راووتو نو سیدنا زبیر بن العوام رضی الله عنه ور ووتو او هغه ئے مردار کړو بیا دویم راووتو نو هغه هم سیدنا زبیر رضی الله عنه قتل کړو بیا دریم راووتو نو سیدنا علی بن ابی طالب رضی الله عنه ورووتو نو هغه ئے هم قتل کړو تردے چه ددے کافرانو نـه یولس کسان ووژل شو، هرکـله چـه به ددوی نه یو سړے قتل کیدو نو نبی علیه السلام بـه دے یهودو تـه د اسلام دعـوت ورکولو چه ایمان راوړئ مونږ به درته څه نهٔ وایو، او د مانځـه وخت به راتللو مونځ به ئے کولو او بیا به ئے د اسلام دعوت ورکولو چه الله او د هغه رسول ته راشئ،

رسول الله ﷺ د دوی ډیره زیاته خیر خواهی کړیده ګنے داسے دعوت فرض نهٔ دے۔

غـرض دا چه پدے طریقه ماښام شو، د شپے جنګ نهٔ کیدو، د دویمے ورځے صبا شو، مسلمانانو بـه دعاګانے هم کولے، قنوت نازله وویل شو بیا نبی علیه السلام په دوی باندے حمله وکړه نو نمر لا د نیزے په اندازه نهٔ وو راوچت شوے چه یهودیانو شکست وخوړو، او علاقه ئے ترے ونیوله او ډیر مالونه او سامانونه ئے په غنیمت کی ونیول،

بیـا یهودیانو سوال وکړو چه مونږ سره هم داسے معامله وکړه لکه خیبر والو سره چه څنګه وشوه، نبی علیه السلام ورله دا خبره هم منظور کړه، ورته ئے وویل چه دا زمکه د مسلمانانو او د اسلامی حکـومـت شوه او دے کی چه څه کیږی هغه به نیمائی ستاسو وی او نیمائی زمونږ، دائے ورسره احسان وکړو او نبی علیهٔ السلام دوی دپاره دا خبره ولیکله چه کله مونږ غواړو تاسو به شړو۔

بیـا د عـمـر بن الخطاب رضی الله عنه په زمانه کی دا ټول یهودیان د خیبر، او د فدك ټول شام او اریحاء علاقے ته وشړل شو چه اوسه پورے دغه یهودیان په دغه علاقو کی،

آباد دی۔

رسول الله ﷺ په وادی القریٰ کې څلور ورځې تیرې کړې او په خپلو ملګروئې هغه غنیمتونه تقسیم کړل کوم ئې چه ددې یهودیانو نه ونیول او زمکې او کجورې ئې دوی ته د خیبر والو په شان پریښودې۔

وادی القریٰ : دې ته اُوس زمانه کې (اَلْعُلا) وائی دا په صوبه مدینه منوره کې د صوبه تبوك ساحلی ښار (الوجه) نه تقریباً (١٥٠) کیلومیټره مشرق طرفته دې د العلا نه تقریباً (٤٠) کیلومیټره شمال مشرق طرفته مدائن صالح واقع دې چه دلته د صالح علیه السلام د عذاب شده قوم د غرونو نه جوړې آبادیانی ملاویږی، د العلا نه یو سړك د البدائع او قلعه زمرد په لاره خیبر ته ځی چه دا د العلا نه تقریباً (١٩٠) کیلومیټره وړاندې دې، د العلا نه مشرق طرفته حائل ته سړك ځی۔

(اطلس سیرت ص: ٣٣٢)



د اهلِ تیماء سره صلح

هرکله چه د تیماء یهودیانو ته د خیبر، د فدك او د وادی القریٰ د فتح خبرونه ورسیدل نو هغوی خپله رسول الله ﷺ ته کسان راولیږل چه مونږ تاسو سره صلح کول غواړو جزیه قبلوو۔ جزیه دے ته وائی چه کافران خپله مسلمانانو ته ووائی چه مونږ ایمان نهٔ راوړو بلکه ستاسو په ملك کی به وسیږو او تاسو به زمونږ حفاظت کوئ او مونږ به تاسو ته دومره دومره مالونه کال کی درکوو۔ او مسلمانان ئے ترے قبول کړی۔ نو مسلمانانو باندے دا فرض ده چه دوی دپاره به امن وامان ورکوی حفاظت به ئے کوی نو دا کسان اهل ذمه شو۔ او جزیه دپاره بعض علماؤ اندازه خودلے ده چه کال کی به هر یو تن (۱۲) او (۲٤) او (٤۸) روپیۍ ورکوی یعنی د مالداره او د متوسط او غریب د حال مطابق به وی۔ او بعض وائی چه د مسلمانانو ورسره په څو باندے جوړه راغله هغه جزیه ده۔ دا به په زنانو، او ماشومانو او راهبانو باندے نهٔ مقرریږی بلکه صرف په جنګیانو باندے به وی۔

او رسول الله ﷺ ددوی دپاره یو خط هم ولیکلو چه مضمون ئے دا دے:

(هـٰذَا كِتَابٌ مِنْ مُحَمَّدٍ رَسُوْلِ اللّٰهِ لِبَنِيْ عَادِيَا، أَنَّ لَهُمُ الذِّمَّةَ وَعَلَيْهِمُ الْجِزْيَةَ وَلَاعَدَاءَ وَلَا جَلَاءَ، اَللَّيْلُ مَدٌّ، وَالنَّهَارُ شَدٌّ، وَكَتَبَ خَالِدُ بْنُ سَعِيْدٍ)

دا خط د محمد رسول الله ﷺ د طرف نه لیکلے کیږی د عادیا د اولادو دپاره چه د دوی دپاره به ذمه (حفاظت) وی او په دوی باندے به ددے په مقابله کی جزیه لازمه وی او دوی باندے به نهٔ زیاتے کیږی او نهٔ به ویستلے کیږی او نهٔ به په دوی باندے د شپے حمله وی او نهٔ د ورځے او دا خط خالد بن سعید ولیکلو۔

بیا د عمر فاروق رضی الله عنه په زمانه کی تول یهودیان وشړل شو سِویٰ ددے تیماء والو نه ځکه چه دا اهل ذمه دی او د اهل ذمهٔ شړل نهٔ وی ترڅو پورے چه دوی شر او فساد نهٔ وی پیدا کړے او لوظ ئے نهٔ وی مات کړے۔

تیماء: دا د صوبه تبوك مشهور ښار دے چه د خیبر په شمال کی د حَفِيْرَةُ الْعِيْدَا په لاره تقریباً (۲۳۰) میله وړاندے دے، په المنجد فی الاعلام کی دی چه تیماء په شمالی

سعودی عرب کې د صحرائے نفود الکبریٰ په جنوب کې یوه د کجورو علاقه ده د هغے آبادی (۱۵) پنځلس زره ده۔

د اهل ذمه دپاره شروط عمری

دے ځای سره مناسب به د اهل ذمه په باره کې عُمَری شرطونه بیان کړو کوم چه عمر فاروق په اهل ذمه باندے لګولی وو۔ اوسنی کافرانو ته دغه شرطونه یاد دی نو کوشش کوی چه په مسلمانانو دغه شان شرطونه ولګوی او دوی خپل غلامان کړی لیکن الحمد لله بیا هم مسلمان آزاد دے، کافرانو ته الله تعالیٰ دغه بهادری نۀ ده ورکړے مسلمانان په هغوی باندے دغه شرطونه د الله د حدودو د وجه نه لګوی او د هیڅا پرواه نۀ کوی۔

عمر رضی الله عنه تقریباً دیرش شرطونه په اهل ذمه ؤ لګولی وو۔

(۱) یو د هغے نه دا وو چه د مسلمانانو په علاقه کې به نوے ګیرجے او عبادت خانے نۀ جوړوی که زړے وے هغه دے وی خو عبادت به پکې په پټه کوی۔

(۲) او تلیځ به په پټه خپل مینځ کې وهی۔

(۳) دا چه که یو مسلمان ددوی ګیرجے ته ورځی نو دوی به ئے نۀ منع کوی نۀ د شپے او نۀ د ورځے او ددے دروازے به د لاره تیریدونکو او مسافرو دپاره کولاوی وی۔

(٤) دوی باندے چه یو مسلمان ورتیریږی نو دوی به ورته درے ورځو پورے میلمستیا ورکوی۔

(۵) دوی به په خپلو ګیرجو او کورونو کې جاسوس ته امن نۀ ورکوی۔

(٦) د مسلمانانو سره به پټ غش او خیانت نۀ کوی۔

(۷) دوی به شرک ښکاره نۀ کوی او نۀ به هغے ته څوك رابلی۔

(۸) که د دوی نه څوك په اسلام کې داخلیدل غواړی نو دوی به ئے نۀ منع کوی۔

(۹) دوی به د مسلمانانو توقیر او عزت کوی او هغوی ته به د خپلو مجلسونو نه پاڅیږی کله چه د مسلمانانو د ناستے اراده وه۔

(۱۰) دوی به په هیڅ شی کې خپل ځان د مسلمان سره نۀ مشابه کوی نۀ په توپۍ

او نۀ پټکی او نۀ څپلو او نۀ د ویښتو په لاره اړولو کی۔
یعنی د مسلمان او د اهل ذمه په شکل کی به فرق وی، ګیری خو د ټولو وے خو شکل به پدے طریقه بدل وی چه ویښته به ئے د مسلمانانو نه جدا وی په مینځ کی به لاره نۀ تیروی، بلکه ویښته به په چپه اړوی لکه هغه زمانه کی به زناکارو ښځو دغسے ویښته اړول یا به پیکے پریکوی۔
مسلمانان په هغه زمانه کی ډیر اعلیٰ او اوچتے مرتبے والا وو نو دوی ته امیر المؤمنین وئیلی وو چه تاسو به د مسلمانانو په شان شکل نۀ برابروئ اوس زمانه کی خبره برعکس شوه، مسلمانان د هغوی په شان شکل جوړوی د شادوګانو او خنزیرانو سره ځان مشابه کوی۔
(۱۱) دوی به د مسلمانانو په شان کنیه (نوم) نۀ اږدی۔
(۱۲) دوی به د مسلمانانو په بازارونو کی به په اسونو نۀ کینی دے دپاره چه مسلمانان د دوی نه متأثره نشی۔
(۱۳) دوی به ښکاره غاړو ته توری نۀ اچوی۔ او هیڅ شے د وسلے به ځان سره نۀ ګرځوی او نۀ به وسله جوړوی۔
(۱٤) او ګوتمے به په عربئ ژبه کی نۀ نقش کوی۔ یعنی داسے ګوتمے نۀ اچوی چه په هغے باندے ئے عربی لیکلی وی۔
(۱۵) شراب به نۀ خرڅوی (او نۀ به ښکاره شراب څکی)
(۱٦) د ویښتو مخکی حصه به پریکوی دے دپاره چه د مسلمانانو سره ئے فرق وشی۔
(۱۷) او ډول به بهر نۀ راښکاره کوی بلکه په خپلو کورونو او ګیرجو پورے به خاص وی۔
(۱۸) او زنار به د شاګانو پورے تړی او صلیبونه به نۀ راښکاره کوی نۀ په لاره د مسلمانانو کی او نۀ د هغوی په بازارونو کی۔
(۱۹) او صلیب په ګیرجو دپاسه هم نۀ ښکاره کوی۔
(۲۰) او مسلمانان چه کله ګیرجه کی وی نو د هغوی په مخکی به ټلیٔ نۀ وهی۔
(۲۱) او ښکاره به اخترونه نۀ مناوه وو۔

(۲۲) او د مړو سره به آوازونه نهٔ پورته کوو (چغې به نهٔ وهو).
(۲۳) او د مړو سره به اُورونه نهٔ ښکاره کوو په هیڅ لاره د مسلمانانو کې.
(۲٤) د دوی مړی به د مسلمانانو د مړو نه جدا خخولې شي.
(۲۵) کوم غلامان چه د مسلمانانو په حصه کې راغلي وي هغه به نهٔ اخلي.
(۲٦) مسلمانانو ته به لاره ښایو (کله چه د هغوی نه کومه لاره خطا وه)
(۲۷) د مسلمانانو کورونو ته به نهٔ ښکاره کیږي.
(۲۸) هیڅ مسلمان به نهٔ وهي.
(۲۹) بچو ته به قرآن نهٔ ورزده کوي.
(۳۰) د مسلمانانو په شان خبرې به نهٔ کوي.

عمر رضی الله عنه دا شرطونه د شام په نصاراؤ باندې لګولي وو کله ئې چه د هغوی سره صلح کوله. السنن الکبری للبیهقی (۹/۲۰۲) ودلائل النبوة)

مقصود دا دې چه رسول الله ﷺ د دوی نه جزیه قبوله کړه او جزیه والائې وګرځول بیا اسلام د هغوی حفاظت کوي او بیا وائي چه دې کافرانو ته به یو تن هم نهٔ وژنئ که چا د دوی نه قتل وکړو نو د هغه دپاره دوه سزاګانې دي (۱) په دنیا کې به دیت ورکوي. پدې وخت کې ددې کافر وینه هم بیکاره نهٔ ده بلکه د لوظ د وجه نه به دیت ورکولې شي. (۲) او د آخرت سزا ئې دا ده چه نبي علیه السلام فرمائي:

(مَنْ قَتَلَ مُعَاهَدًا لَمْ يَرَحْ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ) (صحیح بخاری:۳۱٦٦)

چا چه ذمي کافر مړ کړو د جنت خوشبوئي به موندهٔ نکړي.

دا دومره سخت وعید ولې بیان شو؟ وجه دا ده چه مسلمان به د ذمي سره په معمولي خبره لانجه راځي او تنګ به ترې وباسي او بیا به وائي چه هسې هم کافر دې نو اسلام وائي چه دا به نهٔ وژنې دا بد اخلاقي ده د لوظ مخالفت دې، هغوی ددې حفاظت په بدله کې جزیه ورکوي. اُوګوره د اسلام اخلاق او د امانت او د وعدې پابندئ ته.



واقعة د ليلة التعريس

بیا رسول الله ﷺ د دغه ځای نه راروان شو، مدینے ته راتللو نو د شپے ئے مزل کولو کولو، د هغه عادت مبارك دا وو چه کله به ئے د ماسخوتن نه مزل کولو نو د شپے په اخر کی به ئے ملګرو له دمه ورکوله چه اُوده شی نو پدے سفر کی هم کله چه ناوخته شان وخت شو ملګرو ترے مطالبه وکړه چه یارسول الله دمه راکړه ستړی شو،

نو د الله نبی وفرمایل: زۀ یریږم چه د سهر مونځ به درنه پاتی شی نو بلال ووېل چه زۀ به مو رابیدار کړم، پدے کی رسول الله ﷺ او د هغه ټول ملګری اوده شول (ځکه سخت ستړی وو، تهجد به هغوی په لاره باندے په سورلئ کول عبادت ئے کړیدے) نو بلال رضی الله عنه د صبا د راختلو په انتظار کی دے نو په مانځه ودریدو دے دپاره چه وخت نه فائده واخلی، مونځ ئے چه وکړو او صبا رانزدے شو نو دۀ خپلے سورلئ ته تکیه ووهله او صبا راختو ته مخامخ کیناستو چه اوس به راخیژی او اذان به کوم (نو دے هم ستړے شوے وو) نو بی اختیاره پرے خوب راغے نو ټول اوده پاتی شول یو هم مانځه ته راپانه ځیدو (حَتّٰی ضَرَبَتْهُمُ الشَّمْسُ)

تردے چه نمر پرے راوختو، سهر مونځ د ټولو نه قضاء شو۔

(د حدیثو د کتابونو نه معلومیږی چه دا واقعه په سفرونو کی دوه درے کرته راغلے ده ځکه په احادیثو کی کله یوه خبره ذکر کیږی او کله بله موږ هغه د فائدے دپاره راجمع کوو)

نو پدے کی نبی علیه السلام اول رابیدار شو او اول کی ئے خپله معجزه ښکاره کړه (په داسے موقعه کی ولے معجزه ښکاره کوی؟ وجه دا ده چه په داسے وخت کی د مسلمانانو په زړونو کی د نبی په باره کی څه وسوسه پیدا نشی چه دا څنګه نبی دے چه دۀ نه مونځ قضاء کیږی) نو نبی علیه السلام ابوبکر صدیق راطلب کړو او پدے ځای کی بلال حاضر نۀ دے هغه ته ئے ووېل :

بلال په مانځه ولاړ وو عبادت ئے کولو څو مره چه ورله الله لیکلے وو نو پدے مابین کی ورله شیطان راغلو چه تکیه ولګوه دمه هم ښه شے دے، نو دۀ چه کله تکیه

ولگوله نو شیطان ددهٔ غوږ ته پولو تپولو تردے چه هغه ئے اُوده کړو۔

بیا رسول الله ﷺ بلال راطلب کړو چه اے بلاله! تا خو وئیلی وو چه زهٔ به تاسو راپاڅوم ستا هغه خبره څه شوه؟ (نبی علیه السلام ورته غصه ونکړه ځکه چه عذر موجود دے) نو بلال ورته ټوله قصه وکړه چه یارسول الله! زهٔ په مانځه ولاړ وم او شیطان راغے وسوسه ئے راوا چوله راته ئے وویل چه ډیر مونځ دے وکړو لږ تکیه ووهه نو ما تکیه ووهله بیا ئے زما غوږ تپولو تردے چه زهٔ اوده شوم او زما روح هغه الله اخستے وو کوم چه ستا روح اخستے وو۔

پدے کی ابوبکر صدیق رضی الله عنه چه کله دا معجزه ولیدله نو داسے وویل :
اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ۔

صحابه کرام سخت هیبت کی وو چه اُوس به عذاب راځی ځکه چه مونږ سخت نقصان وکړو نو رسول الله ﷺ ورته تسلی ورکړه او ورته ئے وفرمایل :
(لَيس فِي النَّوْمِ تَفرِيْطٌ اِنَّمَا التَّفرِيْطُ فِي الْيَقظَة)

کله چه تهٔ صحیح وخت کی اوده شے او مونځ درنه قضاء شی نو تهٔ گناهگار نهٔ ئے، گناهگار به هله ئے چه تهٔ ویښ ئے او مونځ قصداً روستو کړے۔

(نبی علیه السلام پدے مقام کی غصه ونکړه ځکه که غصه ئے کړے وے نو د صحابه کرامو زړونه به چاودلی وے ځکه چه دا د نبی علیه السلام حکمت وو چه څوك به په یو کار سخت خفه وو او یریدو به نو نبی علیه السلام به تسلی ورکوله او چه څوك به سست وو نو هغه ته به ئے تیزی ورکوله)

بیا نبی علیه السلام ملگروته حکم وکړو چه ددے ځای نه روان شئ
(اِنَّ هٰذَا وَادٍ بِهٖ حَضَرَنَا شَيْطَانٌ) دا یوه کنده ده چه مونږ ته پدے کی شیطان حاضر شو نو ددے ځای نه روان شو، بله کنده کی ئے پړاؤ واچولو او بلال ته ئے د اذان حکم وکړو هغه اذان وکړو، ملگرو اودسونه وکړل چا تیمم ووهلو بیا د سهر سنت وشو (پدے موقعه کی د سهر د سنتو قضائی هم شته) بیا اقامت وشو او بیا جمع ودریده او په هغے کی ئے جهر وکړو لکه څنگه چه به ئے خپل وخت کی جمعه کوله۔

(**فوائد**: پدے روایت کی ډیرے فائدے دی :

١ - اوله جمله چه نبی علیه السلام وفرمایل: زهٔ یریږم چه مونځ به قضاء شی نو دے

کی فائده دا ده چه د مانځه دپاره غم پکار دے ځوك چه د مانځه نه بې پرواه وي نو هغه دے د خپل دین طمع نۀ کوي او دا امید دے نۀ ساتي چه ګنے زۀ به د الله تعالیٰ سره مسلمان ملاؤ شم۔

دویمه فائده : بلال دعوه وکړه چه (اَنَا) زۀ به تاسو راپاځوم نو پدے دعوه کی ورله الله تعالیٰ کمزوري واچوله ځکه چه دعوه د الله تعالیٰ خوښه نۀ وي، که سیدنا بلال داسے وئیلی وے چه زۀ به تاسو د الله په توفیق سره راپاځوم، یائے داسے وئیلی وے چه یارسول الله ! د الله نه وغواړه چه ما ویښ کړي، خپله کمزوري او عاجزي ئے ښکاره کړے وے نو الله تعالیٰ به توفیق ورکړے وے، دا وجه ده نیکانو او خواصو خلکو ته الله تعالیٰ په هره خبره کی تنبیه ورکوي۔

نبی علیه السلام مشرکانو ته وئیلی وو چه صبا به خبر درکړم، ان شاء الله ترے هیره شوه، نو الله تعالیٰ تنبیه ورکړه، څلویښت ورځے وحی بنده شوه۔

دا د توحید تقاضا ده چه همیشه به په خپله خبره کی ان شاء الله وائے او دعوے به نۀ کوے چا چه دعوه کړیده هغه په خپله دعوه کی پیل شویدے۔

دریمه فائده : د شپے مونځ سرے زیات هم کولے شي، د اتو نه زیادت هم جائز دے نبی علیه السلام به خپله اته رکعاته کول مګر ددے نه زیاتو کی ئے اجازه ورکړیده۔

څلورمه فائده : د صبا د راختلو نه مخکی اذان نۀ دے پکار لکه اکثرو ځایونو کی د سهر اذان ډیر وختی کوي چه د وخت نه هم مخکی وي۔

۵- فائده : نبی علیه السلام او صحابه کرام د الله تعالیٰ اولیاء دي او د سهر مونځ ترے قضاء شو نو ځوك چه دا خبره کوي چه زمونږ امام صاحب څلویښت کاله د ماسخوتن په اوداسه بانديے د سهر مونځ کړیدے نو دا ښکاره دروغ وائي آیا دا څلویښت کاله نۀ ناجوړه کیدو ځکه بیماري راتلل هم د مؤمن صفت دے، آیا امام صاحب د خپل اهل او بي بي حق نۀ ادا کولو د خپل نفس حق ئے نۀ ادا کولو نو په امام صاحب کی دومره غلو کول دا بې دیني ده۔

نبی علیه السلام ته الله تعالیٰ د امت نه ډیر زیات طاقت ورکړے وو لیکن هغه نه به کله نا کله تهجد قضاء کیدل او بیا به ئے د ورځے قضائي راوړله۔

٦- فائده : په مشرکانو رد دے، نبی علیه السلام په غیبو نۀ پو هیږي، ځکه چه اوده

دے او نۀ پو هیږي چه دا دے مونځ رانه قضاء کیږي او نمر راباندے راخیژي۔

۷- فائده : بیا د نبي علیه السلام نه الله تعالیٰ ولے داسے مونځ قضاء کولو الله تعالیٰ به راپاڅولے وے ؟ جواب دا دے چه دا ددے دپاره چه د امت دپاره سبق او سنت جوړ شي او دین جوړ شي چه هغوی به په داسے موقعه کی څه طریقه اختیاروی۔

۸- فائده : د قضائي مانځه دپاره مکروه وخت نشته، بلکه هرکله چه رابیدار شوے سمدست مونځ کوه او نمر ته مۀ ګوره۔ او ځان به پدے کار سره ګناهګار نۀ ګڼړے بلکه استغفار وکړه چه دا تقصیر درنه وشو او بیا دپاره احتیاط کوه۔

او د (اِنَّ هٰذَا وَادٍ بِهٖ حَضَرَنَا شَیْطَانٌ) الفاظو نه معلومه شوه چه نبي علیه السلام ددے ځای نه ځکه روان شو چه دلته شیطان اثر وکړو نۀ ددے وجه نه چه ګنے دا مکروه وخت وو۔ بلـه دا چه مـکـروه وخـت خو ختم شوے وو ځکه چه دوی د نمر په څرکه رابیدار شوي وو۔ فتدبر۔

۹- د نبي علـیـه الـسـلام معجزه رابنکاره شوه دپاره ددے چه د نبي علیه السلام په نبـوت کـی د چا وسـوسـه پیـدا نشي۔ په خوب کی نۀ پو هیدو او په ویښه د رسول الله ﷺ معجزه رابنکاره شوه پدے کی رد دے چه نبي علیه السلام په غیبو نۀ پو هیدو او په ویښه ورله الله تعالیٰ خبر ورکړو نو ځکه ئے معجزه رابنکاره کړه۔

۱۰- نبي علیه السلام صحابه کرامو ته زورنه ورنکړه ځکه چه معذوره وو او چه د چا عـذروی هغه ته به زورنه نشي ورکولے او پس د پو هے نه چه څوك ورانے کوی هغه سره سختـی پـکـار ده۔ مثـال : یو صحابي په مانځه کی خبرے کړے وے د یو سړی په پرنجي باندے ئے هغه ته په مانځه کی یرحمك الله وئیلے وه نو خلکو ته په مانځه کی تیز تیز وکتل نو دۀ نورے خبرے وکړے چه دا څه چل دے چه تاسو ما ته نیغ نیغ ګورئ لیـکـن هغـوی په اشارو سره غلے کړو بیا غلے شو (دے نوے مسلمان وو) نو د مانځه نه روسـتـو ورتـه نبـي عـلـیـه الـسـلام وفـرمـایل: چه په مونځونو کی دنیاوی خبرے نۀ وی پکار پدے کی قرآن وئیل دی او ذکر او تسبیحات دی، هغه صحابي دومره متأثره شو وے وئیـل : قسم په الله چه زۀ ئے نۀ ووهلم او نۀ ئے راته قهر وکړو او نۀ ئے راته رد بد وویل ما داسے مُعَلِّم چرتـه نۀ مخکې لیدلے وو او نۀ روستو چه ددۀ نه ډیر ښائسته تعلیم والا وی۔ (صحیح مسلم:۱۲۲۷)

بـل صـحـابـی د سرو زرو ګوتمه اچولے وه او رسول الله ﷺ د هغے نهِ منع کړے وه نو رسول الله ﷺ د هغه د لاس نه دا ګوتمه په زوره ویستله او وړاندے ئے ګوزار کړه او وے فرمایل: (یَعۡمِدُ أَحَدُکُمۡ اِلٰی جَمۡرَةٍ) چه تاسو کی یو تن سکروټه په لاس کی اچوی.

بیا نبی عـلیـه السـلام پاڅیدوادے صحابی ته چا وویل چه دا ګوتمه راواخله ځانله تـرے فائده واخله، هغه وویل: قسم په الله چه هیڅکله به ئے راوانهٔ خلم حال دا چه دا د الله رسول غورزولے ده. (صحیح مسلم: ۵۵۹۳) دومره اوچت مومن وو.

دا سړے پوهه وو ځکه ئے ورسره سختی وکړه.

بـل مثال: رسول الله ﷺ سره یو سړی په ګس لاس طعام خوړلو (دا لازمه ده چه په ښـی لاس بـه خوراك کوی) نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: په ښی لاس خوراك کوه. هغه له پدے خبره غصه ورغله (ځکه چه خلکو کی وشرمیدو) نو هغه بهانه وکړه: (لَا أَسۡتَطِیۡعُ) زهٔ ددے طاقت نهٔ لـرم (لاس مے خوږیږی) نو نبی علیه السلام ورسره سختی وکړه ورته ئے وفرمایل: (لَا اسۡتَطَعۡتَ) تـا تـه دے الله تعالیٰ طاقت درنکړی نو پدے ښیرو سرهِ سمدست د هغه سړی لاس شل شو او خولے ته ئے پورته نکړے شو.

(صحیح مسلم: ۵۳۸۷)

پـدے طـریـقـه رسـول الله ﷺ ددے سفـر نه مدینے ته راواپس شو او پدے سفر کی ئے تـقـریـباً دوه میاشتے تیرے کړے او دا اوم (۷) کال د هجرت وو، د صفر میاشتے آخر او د ربیع الاول میاشتے ابتداء وه.

OOOO

ددے نـه روستـو رسـول الله ﷺ د جهـاد دپاره پـرله پسے سرایا لیږلی دی، لس دولس سرایـا ئے لیـږلـی دی پـه اوه میاشـتـو کی دننه چه د هغے وضاحت روستو راځی. نبی عـلیـه السـلام په ژوند کی ټول سرایا (۱۵۰) لیږلی دی کله واړه جماعتونه او کله لوی لـوی. کله ئے دوه ورځے بهر تیری کړی او کله میاشت او کلهِ پنځلس ورځے او کله زیات وکم د احوالو مطابق.

نبی علیه السلام د ربیع الاول میاشتے نه تر شوال پورے په یوه غزا کی خپله شریك شویدے او نور ئے سرایا لیږلی دی اول د هغه غزوے تذکره کوو چه هغے ته غزوه د ذات الرقاع وائی.

د ذات الرقاع غزا سنه (۷) هجری

نبی علیه السلام د اوم کال په ابتداء کې کله ئې چه خیبر فتح کړو او قریشو سره ئې صلح هم کړې وه نو د عربو په صحراوونو کې اعراب (بانډچیان) وسیدل چه هغه غطفان قبیله وه چه دا لویه قبیله ده پدې کې وړې وړې قبیلې دي نو دوی ته د ادب ورکولو دپاره رسول الله ﷺ په دوی باندې حملې شروع کړې ځکه چه دوی اسلامی خلافت ته رکاوټ وو امن به ئې خرابولو او غلطې ارادې به ئې لرلې او غلاګانې به ئې کولې او وخت په وخت به ئې د کافرو سره مدد کولو، د خندق په غزا کې هم دوی شریك شوی وو دلته ئې خیبر کې زر کسان یهودیانو ته ورکړی وو۔

دا هغه دویم وزر دے چه پاتے دے چه د کفر دا وزر هم پریکړې چه د الله دین ته خلك وزګار شي۔ دا خلك چونکه په یو ځای باندې نۀ وسیدل او نۀ په یو ښار کې راجمع وو لکه دخیبر والو په شان نۀ وو نو رسول الله ﷺ د دوی د شر د ختمولو دپاره تادیبی او د رعب وراچولو دپاره په دوی باندې حملې وکړې۔

دا غزا عام اهل مغازی په څلورم کال د هجرت کې ذکر کوی لیکن چونکه پدې کې ابو هریره رضی الله عنه او ابو موسی اشعری رضی الله عنه حاضر شویدی نو دا دلیل دے چه دا د خیبر د غزا نه روستو په ربیع الاول کې په اوم کال کې واقع شویده۔لکه دا طریقه امام بخاری، حافظ ابن قیم، حافظ ابن کثیر او حافظ ابن حجر رحمهم الله غوره کړیده، خلاف ثابت دے واقدیؒ او ابن اسحاقؒ لره۔

(اصول وضوابط فی دراسة السيرة النبوية الشريفة لعبد اللطيف بن محمد الحسن ص : ۵)

بنو محارب د غطفان قبیلې نه او بنو ثعلبه دارنګه بنو انمار په نجد علاقه کې د رسول الله ﷺ سره د جنګ دپاره لښکر راجمع کړو نو رسول الله ﷺ خبر شو نو د هغوی د ذلیله کولو دپاره ئې د ځان سره څلور سوه (۴۰۰) یا اوه سوه (۷۰۰) کسان صحابه کرام واخستل او په مدینه باندې ئې ابوذر غفاری رضی الله عنه یا عثمان بن عفان رضی الله عنه په مسجد نبوی باندې نائب پریښودو چه مونځونه به ورکوی او د قوم تربیت او خدمت به کوی۔

په صحیح بخاری کی د ابو موسی اشعری رضی الله عنه نه نقل شویدی چه مونږ د رسول الله ﷺ سره نجد طرفته ووتو چه زمونږ سورلئ کمے وے نو مونږ به په یو اُوښ باندے شپږ کسان نمبر په نمبر سوریدو (په یو اوښ باندے د دوه کسانو نه زیات سوریدو نه نبی علیه السلام منع کړیده مگر هله چه لږ شان سفر وی یا ماشوُمان پرے کینوی) نو دلته دوی پرے نمبر په نمبر کیناستل۔

او پدے سفر کی زمونږ څپلئ او چپړے هم نهٔ وے بلکه خپے ابله سفر مونږ وکړو (فَنَقِبَتْ أَقْدَامُنَا وَنَقِبَتْ قَدَمَایَ وَسَقَطَتْ أَظْفَارِیُ)

تردے چه زمونږ قدمونه سوری شو (د بیابانو د شړو او کانړو د وجه نه) او زما قدمونه هم سوری شو او زما نوکونه پریوتل نو مونږ به توټے پیدا کولے او هغه به مو د خپلو خپو نه تاوولے نو دے ته ئے پدے وجه غزوه د ذات الرقاع هم وئیله ځکه چه مونږ به د خپو نه رقعے (توټے) تاو کړے وے۔ یعنی دا هغه غزوه ده چه صحابه کرامو پکی د خپلو خپو نه توټے تاؤ کړیدی۔

ځینی وائی : ذات الرقاع د هغه ځای نوم دے کوم ځای کی چه دغه غزوه راغلے وه ځکه چه د هغه زمکے او د غرونو رنگونه مختلف وو گویا که هغه رقاع (یعنی پیوند) وو۔ (فتح الباری ۷/ ۵۲۰)

یا د صحابه کرامو جنډه د مختلفو توټو نه جوړه وه پدے وجه ئے ورته ذات الرقاع غزا وئیله۔

ابو موسی اشعری رضی الله عنه به اول کی دا حدیث بیانولو بیا ئے روستو پریخودو چه هسے نه چه د خپل ځان صفت پکی رانشی چه مونږ د الله په لاره کی دومره سختے تیره کړیده۔ (صحابه کرامو ته د نفس ورانے معلوم وو پدے وجه د هغے به ئے ډیره ښه مقابله کوله او نفس پرے غلبه نشوه کولے، ځکه چه نفس انسان لره په عبادت او جهاد او د دین په کار کی خرابوی، ریاکارئ، خود پسندئ، تکبر او دنیا طلبئ کی ئے اچوی مومن بنده به خپل نفس ته ډیر متوجه وی)۔

۱: ددے نه مونږ ته دا فائده راووتله چه جهاد دپاره دا ضروری نهٔ ده چه انسان به مالداره کیږی بلکه ډا د خپل وسع مطابق کمزوری او غریبان خلك هم کولے شی۔

۲: د ځان مدح او صفت کول صحیح نهٔ دی، ځان ته به اشاره هم نهٔ کوے۔ بعض

خلك خپله نیكي په اشاراتو كې راښكاره كوي دا هم شیطاني حركت دے)۔

بعض علماء وائي چه بعض موحدین ملیان د شرك رد كوي او وائي چه د الله سره باباګان مهٔ برخه داران كوئ، د اولیاؤ عبادتونه مهٔ كوئ او ځان د الله سره شریكوي داسے وائي چه كه دے ملك كې زهٔ نهٔ وے نو دا ټول خلك مشركان وو خو زما په وجه توحید راغے، كه زهٔ نهٔ وے دا ټول خلك به په بدعاتو كې اخته وے خو زما په وجه سنت طریقو ته راغلل، دا ما پوهه كړل او زما د درسونو په وجه اصلاح وشوه. دا هم د الله سره یو قسم شرك دے بلكه تا له پكار دي چه تهٔ د الله شكر وكړے چه تا الله تعالیٰ د خپل دین دپاره استعمالوي، ستا نه غوره خلك د الله تعالیٰ سره شته تا به ختم كړي او هغه به راولي د الله سره څه كمے دے، دا زمونږ د اصلاح دپاره یوه عظیمه فائده ده چه د سیدنا ابوموسیٰ اشعري رضي الله عنه پدے خبره كې پرته ده)۔

رسول الله ﷺ او صحابه كرامو دوه ورځے مزل وكړو نو یو ځاې ته ورسیدل چه هغے ته ئے (نخل) وئیلو۔

دا د مدینے نه د دوه مرحلو په فاصله باندے د بنو ثعلبه ؤ كلے دے، بعض وائي دا په نجد كې د غطفان په زمكه یوه علاقه ده۔

هلته د غطفان قبیلو یوه ډله راجمع شوے وه، مسلمانان او كافران دواړه ډلے د یو بل سره ملاؤ شوے او یو بل ته نزدے نزدے راغلل او بعضو بعضو لره ویرول لیكن جنګ پكې ونشو،

د صلاة الخوف ابتداء

نو پدے موقعه كې رسول الله ﷺ صلاة خوف وكړو پدے طریقه چه یوه ډله ئے دشمن ته مخامخ ودروله (چه حمله ونكړي) او بله ډله ئے ځان سره په مانځه باندے ودروله د مازیګر یا د ماسپښین مونځ دے نو نبي علیه السلام دے یوے ډلے ته دوه ركعاته وكړل او سلام ئے وګرځولو، بیا بله ډله راغله هغوي ته ئے بیا نیت وتړلو او هغوي ته ئے هم دوه ركعاته وكړل نو اولني دوه ركعاته د رسول الله ﷺ فرض شو او روستني ئے نفل شو۔ او د روستنو صحابه كرامو دا مونځ فرض وو د رسول الله ﷺ د نفلو پسے ئے نیت وتړلو نو دا طریقه جائز ده چه فرض والا د نفل والا پسے نیت وتړي

هیڅ گناه او حرج پکې نشته، کوم علماء کرام چه ددے نه منع کوي د هغوي سره څه دليل نشته سِوئ د عقلي خبرے نه چه فرض مونځ قوي دے او نفل ضعيف نو قوي به د ضعيف پسے څنګه وشي ؟ جواب دا دے چه د نص او حديث په مقابله کې دے خبرے له هيڅ اعتبار نشته، رسول الله ﷺ وائي کيږي او تهٔ وائے چه څنګه به وشي؟، همدغه شان کيږي، د رسول الله ﷺ او د صحابه کرامو دا مونځ الله تعالیٰ قبول کړيدے۔

د امام سره د نيت يو والے شرط نهٔ دے بلکه هغه هم مونځ کوي او مقتدي هم۔ او معاذ بن جبل رضي الله عنه به هم داسے طريقه کوله چه فرض مونځ به ئے د نبي عليه السلام سره وکړو بيا به لاړو خپل قوم ته به ئے جمعه ورکوله نفل مونځ به ئے کولو۔

صلاة خوف په مختلفو طريقو کيږي، کله به رسول الله ﷺ ځان سره يوه ډله مانځه ته ودروله او بله دشمن ته، دے ډلے ته به ئے يو رکعت وکړو او د دوه سجدو نه روستو به دا ډله په مانځه کې لاړه د دشمن مخامخ به ودريدله او هغه بله ډله به راغله نبي عليه السلام پسے به ئے نيت وتړلو، د رسول الله ﷺ به دويم رکعت وو او د دوي به اول رکعت، رسول الله ﷺ چه به په التحيه کيناستو نو دوي به هم ورسره کيناستل نبي عليه السلام به سلام وګرځولو نو دوي به پاڅيدل ځانله به ئے يو رکعت وکړو او هغه بلے ډلے به هم ځانله يو رکعت وکړو۔ (په صلاة خوف کې د قبلے نه مخ اړول او ګرزيدل راګرزيدل جائز دي کله چه د دشمن نه يره وي)۔

کله رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته په خوف کې دا هم ويلي دي چه ما پسے يو رکعت وکړئ بس ستاسو مونځ وشو۔ لکه دا احاديث په سنن ابي داود کې تفصيلاً ذکر شويدي۔

بنو انمار : دا قحطاني قبيله ده چه د بنو لُکيز بن افصیٰ بن جَديله بن اسد بن ربيعه بن نزار يو شاخ دے۔ (معجم قبائل العرب جلد ۱ /۶۳)

بانډچي د رسول الله ﷺ توره راخلي

پدے کې بله واقعه دا راغله چه جابر رضي الله عنه فرمائي: مونږ د رسول الله ﷺ

سره په ذات الرقاع کې وو نو گرمي ډيره وه د عربو زمکه هسې هم گرمه ده غرمه کې سفرې نهٔ کيږي نو د نبي عليه السلام عادت مبارك دا وو چه د غرمې په وخت کې به ئې تر مازيگره پورې دمه کوله چه نمر راوگرځي، سوري پيدا شي او هواگانې وچليږي نو بيا به ئې مزل شروع کولو) نو مونږ به چه صحراوونو کې راروان وو نو چه غټه ونه به مو وليدله هغه به مو نبي عليه السلام ته پريښودله چه هغه ترې لاندې آرام وکړي، مونږ به اخوا ديخوا خوارهٔ راخوارهٔ شو نو يو وخت کې مونږ د غرمې په تپيم کې خوارهٔ شو يو يو او دوه دوه او درې او پنځه پنځه او رسول الله ﷺ مو يواځې د يوې ونې لاندې پريښودو، هغه خپله توره ونې ته زوړنده کړه او د ونې لاندې اُوده شو،

پدې کې يو اعرابي (بانډچي) د غر د سر نه رسول الله ﷺ وليدو نو دهٔ وويل چه ورځم او دا مشر ورله ختموم (کفارو د رسول الله ﷺ د قتل پسې ډير کوشش کړې وو ليکن الله تعالىٰ ورسره د حفاظت وعده کړې وه چه الله به دې بچ کوي ترڅو چه نبوت پوره شوې نهٔ وي)

نو دې اعربي د رسول الله ﷺ توره راواخسته او د تيکي نه ئې ويسته نو پدې کې رسول الله ﷺ په دهٔ باندې راويښ شو، (د الله حفاظت ته وگوره، د هغه زړه کې دا رانغله چه سمدست گوزار وکړي بلکه هغه اول کې لاپه وکړه) (مَنْ يَّمْنَعُكَ مِنِّيْ؟)

اُوس به دې ما نه څوك بچ کوي؟ (ملگرې هم درنه جدا دي)

نو رسول الله ﷺ په ډير اطمينان سره ورته وويل : (اَللّٰهُ يَمْنَعُنِيْ مِنْكَ) الله به مې درنه خلاصوي. ديته توکل وائي، د الله نوم د نبي عليه السلام د خولې نه راوتل وو چه په دې اعرابي باندې رعب راغې او د هغه د لاس نه توره پريوته او نبي عليه السلام راواخسته او هغه ته ئې وويل : (مَنْ يَّمْنَعُكَ مِنِّيْ؟) تا به ما نه څوك خلاصوي؟

نو د هغه په زړه کې دا خبره رانغله چه الله به مې بچ کوي. وجه دا ده چه کله ستا په زړه کې د مخکې نه د الله تعالىٰ سره تعلق نشته نو په وخت د مصيبت کې هم الله تعالىٰ ستا په زړه کې نهٔ راځي. دغه شان د مرگ په حالت کې هم انسان ته الله نهٔ يادېږي کله ئې چه په دنيا کې الله تعالىٰ نهٔ وي ياد کړې، او کله ئې چه د مخکې نه الله ياد وي نو په وخت د مرگ او مصيبت او بوډا والي کې هم الله تعالىٰ ددهٔ مدد کوي ځکه چه دا هغه بنده دې چه د الله سره ئې د مخکې نه تعلق دې او ددهٔ آواز معروف دې. د

اصلاح دپاره دا ډیره مزیداره قاعده یاده کړه.

نو هغه اعرابي سوال زاري شروع کړه وې ویل: (کُنْ خَیْرَ آخِذٍ) زهٔ خو دے ونیولم خو خیر دے نیکي او احسان راسره وکړه، مهٔ مے وژنه، نو نبي ﷺ ورته وفرمایل:

ایمان راوړه نو هغه وویل دا خو نشم کولے (د پلار نیکه لاره نهٔ پریدم، دا خلکو ته ډیر لوی شئے ښکاره شویدے) خو تیك ده یو لوظ درسره کوم چه (لَا اُقَاتِلُكَ وَلَا اُكُوْنُ مَعَ قَوْمٍ يُقَاتِلُوْنَكَ) ستا سره به جنګ نهٔ کوم او د هغه قوم سره به نهٔ ملګرے کیږم چه ستا سره جنګ کوی. نو رسول الله ﷺ دا معاف کړو،

(ځکه چه رسول الله ﷺ کې د رحم او درګزر او معافئ ماده زیاته وه)

او دے خپل قوم ته لاړو او هغوی ته ئے وویل: (جِئْتُكُمْ مِنْ عِنْدِ خَيْرِ النَّاسِ) زهٔ تاسو ته د یو سړی د خوا نه راغلم چه د ټولو خلکو نه غوره انسان دے. (اوګوره زهٔ ددهٔ د قتل پسے راغلے یم او دشمن ئے یم او پدے کې د رسول الله ﷺ ملګری هم راورسیدل هغوی ورته د وراندے نه اشارے وکړے چه مونږ درغلو (فَتَهَدَّدَهٗ اَصْحَابُ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ)

صحابه کرامو ورته دهمکي ورکړه پدے کې هغوی هم راورسیدل او په دهٔ باندے هم رعب راغلے دے نو پداسے حالت کې ئے هم زهٔ معاف کړم نو دا ډیر غوره انسان دے.

رسول الله ﷺ په نرمي او رفق سره د دعوت ډیر زیات کار کړیدے او هغه فرمایلي هم دي: (اِنَّ اللّٰهَ رَفِيْقٌ يُحِبُّ الرِّفْقَ وَيُعْطِيْ عَلَى الرِّفْقِ مَا لَا يُعْطِيْ عَلَى الْعُنْفِ) یقیناً الله تعالیٰ نرمي کونکے ذات دے او نرمي ئے خوښه ده او په نرمئ باندے هغه څه ورکوی چه په سختئ ئے نهٔ ورکوی). (صحیح مسلم: ٦٧٦٦)

خو د نرمئ معنیٰ دا نهٔ ده چه سړے به حق خلکو ته پریدی بلکه حق باندے به مضبوط ولاړ وی خو نرمي او اخلاق به کوے.

ددے اعرابي نوم غورث بن الحارث وو. (بخاري)

دهٔ اسلام پدے موقعه کې رانهٔ وړو روستو عامے علاقو والو اعرابو ایمان راوړو نو کیدے شي چه دهٔ هم پکي ایمان راوړے وی لیکن احادیث او سیرت ددهٔ د اسلام نه ساکت دي.

بل هم یو داسے اعرابي راغلے وو د هغه دُعثور نوم وو د هغه د لاس نه هم توره پریوتے وه او آخر کې رسول الله ﷺ دعوت ورکړو او هغه ایمان راوړو. لیکه دغه قصه مخکي

پدے کتاب کی په غزوه ذی امر کی تیره شویده۔

(حافظ ابن حجر، واقدی) الرحیق المختوم)۔

رسول الله ﷺ چه کله د صلاة خوف نه فارغه شو نو الله تعالیٰ د دشمنانو په زړونو کی رعنب واچولو نو هغوی خوارۀ وارۀ شول جنګ ونشو او پدے کی رسول الله ﷺ مدینے ته راروان شو۔

کله چه صحابه کرام د دغه علاقے نه راروانیدل نو پدے کی یوه زنانه وه چه د نبی علیه السلام او د صحابه کرامو مقابله ئے کوله، دوی ته ئے ضرر ورکولو او کنځل ئے کول۔ نو د رسول الله ﷺ ملګری ورپسے ورغلل هغه ئے ونیوله او د ځان سره ئے راروانه کړه او دا د مومنانو دپاره روا ده۔

یو انصاری په مانځه کی په غشی لګی

پدے کی د هغے خاوند خبر شو چه زما ښځه ئے بوتلے ده نو هغه قسم وکړو چه تر هغه وخته پورے به نۀ منع کیږم (حَتّٰی أُهْرِيْقَ دَمًا فِيْ أَصْحَابِ مُحَمَّدٍ (ﷺ) ترڅو چه زۀ د محمد (ﷺ) په ملګرو کی وینه تویه کړم۔ لیکن دۀ ښکاره دا حمله نشوه کولے نو رسول الله ﷺ راروان وو تردے چه یوے غریزے علاقے ته راورسیدو شپه پرے راغله نو هلته ئے دمه وکړه چه شپه به دلته تیره کړو نو نبی علیه السلام د غفلت والا انسان نۀ وو نو هغه (په خُذُوا حِذْرَكُمْ (د خپل بچاؤ سامان تیار کړئ) باندے د عمل کولو دپاره) دوه کسان څوکیدارئ ته ودرول یو عمار بن یاسر رضی الله عنه چه مهاجر صحابی دے او بل عباد بن بشر رضی الله عنه چه انصاری دے۔

(عَبَاد بن بِشر ډیر کرامتونو والا انسان وو کله چه د مسجد نبوی نه وتلو نو امسا ئے رڼا کړے وه، اُسَید بن حُضَیر او عَبَاد بن بِشر دواړه ډیر ښه ملګری وو)

نو پدے کی عَمّار بن یاسر ډېر ولګوله نو ایسته اُوده شو او عباد بن بشر وویل چه زۀ به ولاړ یم نو د وخت نه به فائده واخلم لکه یو سړے څوکیداری کوی نو ورسره د الله ذکر هم کوی یا مونځ کوی خو چه کله څوکیداری پدے عمل نۀ خرابیږی لکه دلته څوکیداری نۀ خرابیدله نو هغه په مانځه ودریدو نو پدے کی دا مشرك ورپسے روستو

روستو راروان وو دلته چه راورسیدو نو دهٔ وکتل چه یو شخص ولاړ دے نو دهٔ وویل چه پدے غرهٔ کی بل څوک نشته بغیر ددے سړی د ملګرو نه دا به همدا خلك وی نو د یو کمر شا ته ورته کیناستو او غشی ورسره وو نو په یو غشی باندے ئے په سینه کی ویشتو نو په هغه باندے وینے راروانے شوے نو بیا هغه دویم او دریم ګوزار وکړو او رعب پرے راغے او وتښتیدو چه بس وینه مے تویه کړه او نذر مے پوره شو۔

پدۓ کی دے صحابی مونځ پوره کړو او په التحیه باندے کیناستو اوزر ئے سلام وګرځولو او بیا ئے دا خپل ملګرے راپاڅولو چه هغه وکتل په سړی باندے وینی روانی دی، دا ولے؟ هغه وویل : څوك کافر راغے زهٔ ئے ویشتم او زهٔ په مانځه ولاړ وم که د رسول الله ﷺ د څوکیدارئ د خرابوالی یره نهٔ وے نو ما دا مونځ نهٔ لنډولو او زهٔ په یو داسے سورت (سورتِ کهف) کی لګیا وم چه ما دا نهٔ غوښته چه هغه قطع کړم۔ لیکن ما جلتی وکړه پدے وجه چه زهٔ به مړ شم او مشرکان به راشی او د الله نبی ته به ضرر ورکړی۔

فوائد : ١- ددے نه دا ایمانی فائده معلومیږی چه کله سړے په ایمان کی اُوچتے درجے ته ورسیږی او د الله تعالیٰ صحیح محبت ئے زړه کی پریوزی، او د آخرت یره ئے په زړه کی راشی، نو داسے انسان ته الله تعالیٰ یو صفت ورکوی چه هغے ته اُنس بالله وائی، یعنی په الله تعالیٰ سره زړه خوشحالیدل او د هغه نه په غیر په نور مخلوق باندے زړه تنګیدل او د الله نه چه لرِ جدا شی نو زړه تنګیږی او چه د الله سره یواځی شی او د هغه ذکر کوی یا د هغه کتاب وائی یا په مانځه ولاړ وی نو دا ورله داسے خوند ورکوی لکه تهٔ به وائے چه په نشه کی دے،

دا کیفیت الله تعالیٰ خواصو مومنانو ته ورکوی تردے چه ډیر کرت دا انسان په خپل ستړی والیٔ هم نهٔ پوهیږی لکه نبی علیه السلام به دومره اُوږد ودریدو چه خپے مبارکے به ئے وپړسیدے او وبه چاودے او وینه به ترے روانه شوه۔ لکه دے صحابی ته هم دا کیفیت حاصل وو، په غشی لګیدلے، د مرګ خطر دے او بیا هم پدے حالت کی د غشو په درد نهٔ دے پوهه شوے او دا وائی چه که څوکیدارئ نهٔ خرابیدلے نو ما سورة الکهف نهٔ پریښودو۔ دا کیفیت به د ډیرو سلفو وو عروه بن الزبیر تابعی دے د زبیر رضی الله عنه ځوی دے د هغه خپه کینسر شوے وه نو طبیبانو ترے پریکوله چه ددے

نه نور بَره بدن خرابیږی نو نشه خو هغه وخت کی نهٔ وه نو هغه ته ډیره گرانه وه چه خپه ترے پریکړی نو چا وویل چه دا په مانځه ودریږی نو داسے حالت ته رسیږی چه زړهٔ ئے د الله سره شی بیا په خپل درد بانده نهٔ پوهیږی نو پهٔ مانځه چه کله ودریدو نو طبیبانو ترے خپه پریکړه او هغه په ځان پوهه نشو، ددے خبرے تصدیق به هم ډیر کم خلك کوی چه دا څنگه کیدے شی۔ دا حالت هر وخت او هرچا سره نهٔ وی بلکه دا کله کله وی۔

۲- فقهی فائده: وینه چه د سړی نه روانه وی نو اَودس نهٔ ماتیږی علی القول الراجح که څوك ئے وکړی نو بهتره ده لکه دے صحابی نه وینه وتلے ده او اَودس ئے نهٔ دے مات شوے۔

۳- فائده: که په مانځه کی دننه په چا بانده گندگی د چا دلاسه پریوته او یا په مانځه کی ورته یاد شو چه زما خو قمیص یا پرتوگ گنده وو او هغه په مانځه کی نشی لرلے کولے نو د هغے سره پدے حالت کی مونځ کیږی البته که د مخکی نه ورته یاده وه نو بیا به ئے خامخا پاکوی۔ که کومه جامه وغیره لرے کولے شی لکه پټکے ټوپئ، رومال او څپلئ نو هغه به وباسی لکه نبی علیه السلام په مانځه کی گنده چپړے ویستلی دی۔ ابن عمر رضی الله عنه به چه کومه کپړه گنده وه او لرے کولے به ئے شوه نو هغه به ئے په مانځه کی لرے کړه، رسول الله ﷺ په مسجد حرام کی په سجده پروت وو او مشرکانو پرے گندگیانی واچولے تردے چه فاطمے رضی الله عنها ترے لرے کړل بیا نبی علیه السلام راپورته شو الخ او مونځ ئے مات نکړو۔

او دا د شریعت آسانی ده ولله الحمد او په ډیرو ځایونو کی انسان ته پکار راځی کله به ستا پرتوگ گنده وی او په مانځه کی به درته رایاد شی نو د مونځ ماتول نشته۔

بعض مقلدین ددے حدیث نه ځان خلاصوی وائی چه دا ددے صحابی اجتهاد دے او نبی علیه السلام ددهٔ نه نهٔ دے خبر شوے۔ جواب دا دے چه آیا نبی علیه السلام بانده دا گمان کیدے چه هغه به دومره غافل وو چه خپل ملگری څوکیدارئ ته ودروی او هغوی ته دومره صدمه رسیږی او هغه دے ترے نهٔ خبریږی دا سو چه دروغ دی،

بلـه دا چه نبی علیه السلام ددے دواړو نه خبر شو او دواړو ته ئے دعا هم وکړه لکه دا خبره عینی په عمدة القاری کی ذکر کړیده، تفصیل دپاره زمونږ کتاب ((الحق الصریح

شرح مشكاة المصابيح» وګوره۔

الغرض: نبی علیه السلام مدینې ته راواپس شو او کافران الله تعالیٰ په رعب کی وتښتول۔

ددې غزا نه روستو ډیر لوی اثر خور شو هغه دا چه غطفان قبیلې بیا دا بهادری نشوه کولې چه خپل سر راپورته کړی بلکه وخت په وخت به ذلیله کیدل تردې چه غاړه ئې کیخوده او بیا په اسلام کی داخل شول او ددې قبیلو نه ډیرې قبیلې په فتح د مکه کی مسلمانانو سره ملګری شول او بیا په حُنین غزا کی دمسلمانانو په ملګرتیا کی جنګیدل۔

ددې نه روستو نبی علیه السلام مختلف سرایا او واړه واړه جماعتونه تر شوال میاشت پورې لیږل چه د سیرت په کتابونو کی لس دولس سرایا ذکر دی۔

کله په میاشت کی یو ځل او کله په میاشت کی دوه ځله۔

بعض سرایا دا دی چه په هغې کی ایمانی فائده ده۔

(۱) سریه د غالب بن عبد الله اللیثی رضی الله عنه ګدِیُد ته۔

صفر یا ربیع الاول (۷ هجری) بعض وائی دا په صفر (۸ هـ) کی شویده۔

نبی علیه السلام قُدید/یا ګدِید علاقې ته غالب بن عبد الله اللیثی رضی الله عنه ولیږلو چه دا د مکې او د مدینې ترمینځ علاقه ده د مکې نه تقریباً (۴۲) میله فاصله باندې واقع ده او پدې کی بنو المُلَوّح چه په بنو لیث کی یوه قبیله ده وسیدل چه دوی د بشیر بن سعد رضی الله عنه ملګری قتل کړی وو نو رسول الله ﷺ دهٔ ته څه کسان (پنځلس شپاړس) ورکړل چه د هغوی نه بدله واخلی او دوی ته ئې دا حکم وکړو چه د شپې پرې حمله وکړئ۔ دوی لاړل ګدِیُد علاقې ته ورسیدل نو پدې کی د دغه قوم مشر حارث بن مالك بن البَرصَاء پدې لاره تیریدو نو صحابه کرامو کلك ونیولو نو هغه دعوه وکړه چه زهٔ خو د اسلام په اراده راوتې یم زهٔ مسلمان یم او تاسو ما نیسئ، نو پدې کی مشر ورته وویل چه مونږ به دې وتړو که تهٔ چرته په رشتیا د اسلام اراده لرې نو یوه ورځ او یوه شپه تړل تا له دومره ضرر نهٔ درکوی، په تهمت کی مونږ نیولې ئې۔

(د نبي عليه السلام طريقه دا وه چه په تهمت کي به ئې خلك نيول، جيل ته به ئې اچولو لږه سزا به ئې ورکوله که صفا به وو پرې به ئې خودو او که پاك به نۀ وو نو بيا به ئې ورله سزا ورکوله او دا طريقه اوس هم مجاهدين کوي ددې وجه نه که تۀ په تهمت کي ونيولې شوې او سزا درته ملاؤ شوه نو خفگان به نۀ کوې دا په تا باندې تقدير راغلو صبر کوه، بله دا چه د تهمت والو سره او د تهمت په ځاي کي مۀ کينه چه تا باندې تهمت نۀ راځي (اِنَّ النَّبِيَّ ﷺ حَبَسَ رَجُلًا فِيْ تُهَمَةٍ ثُمَّ خَلّٰى عَنْهُ- ابوداود: ۳۶۳۲) ترمذي، ۱۴۱۷، نسائي :۴۸۷۵ حسنه الالباني)

رسول الله ﷺ يو سړې په تهمت کي نيولې وو بيا ئې پريښودو).

او که تۀ چرته دروغجن ئې نو تا ته به سزا ملاؤ شي نو پدې کي ئې هغه ته يو ملگرې (سُوَيد بن صَخُر) کينولو که تبنتيدو نو څټ ورله ووهه (دا به کافر وي)

دا ملگري مخکي تير شو ترڅو چه کديد ته ورسيدل د مازيگر ناوخته تيم وو نو دوي هلته په يوه کنده کي پټ شو نو يو ملگرې (جُندب بن مَکيث الجُهَنِي رضي الله عنه) ئې وليږلو چه تۀ لاړ شه کلي والا وګوره چه کله يو ځاي ته راجمعه کيږي (ځکه چه دا د ګډو بزو والا خلك وو يو ځاي بل ځاي به وو) دا لاړو د هغوي د کلي په خوا کي يوه ډيره کيږ وه چه د هغې نه د دوي دا کلي ښکاره کيدو د بل ځاي نه نۀ ښکاره کيدو

دا وائي : زۀ غلې لاړم هغې ته وختم نو هلته يو کمر وو په هغې څملاستم (ځکه که کينم اخوا ديخوا خلك مې ويني او که ديخوا کينم نو بيا راته کلې نۀ ښکاري د ماښام وخت دې زۀ چه پدې کمر څملاستم نو ددې کلي په خوا کي يو کور وو خيمې والا وو نزدې وسيدل چه د هغوي خبرې ما ته راتللې، نو د خيمې نه د ښځې خاوند راووتو او ښځې ته ئې وويل چه ددې ډيره کيږ په سر ما ته څه شې ښکاره کيږي داسې نۀ چه د دشمن څوك راغلى نۀ وي (زمونږ د احوالو د معلومات دپاره)

خو اول ئې ښځې ته وويل چه تۀ خپل سامان وګوره هسې نۀ چه سپو څه شې وړې وي او پدې کمر ئې اچولې وي، ښځې خپل سامان وکتلو ورته ئې وويل چه هرڅه پوره دي نو ښځې ته ئې وويل چه لينده او غشي راکړه نو راووتو، زما خوا ته هم نۀ راتللو ځکه يريدو او په ما باندې ئې هم شك وو چه چرته انسان نۀ وي، تياره شان وخت دې نو په ما پسې ئې غشې راويشتو او رسائې په تشو ويشتلم دومره تکړه وو (ما لا حول ولا قوة الا

بالله وویله) خو ونهٔ خوزیدم چه سرے راباندے پو هه نشی ځکه چه په قوم باندے حمله ده هغه خرابیږی، ما غلے غوندے غشے د تشی نه ویستو او خوا کی مے کیخودو پدے کنی بل غشے ئے راخوشے کړو نو په اوګه باندے ئے ویشتم او په اوګه کی ننوتو بیا مے غشے راویستو پدے کی سری بنځے ته وویل چه دا انسان نهٔ دے ځکه که دا انسان وے جاسوس وے ما په دوه غشو رسا ویشتلے دے ضرور به خوزیدلے وے یا به مړ شوے وے دا بل شے دے مُشك یا خرمنه پرته ده، او بنځے ته ئے وویل چه سهر لاړه شه دغه غشی راوړه چه سپی ئے راله ونهٔ جوی۔ بیا خپلے خیمے ته ننوتو۔

دا وائی کله چه تیاره شوه او ما بنه احوال معلوم کړل او دغه خلك خپلو ځایونو ته راواپس شو نو ملګرو پسے ورغلم او هغوی ته مے ووېل چه ما حالات معلوم کړل نو کله چه هغوی ګډے بزے او اُوښان ولشل او په اطمینان کی شو او اُوده شو نو مونږ پرے صبا ته نزدے حمله وکړه نو مونږ شروع شو څه کسان مو پکی قتل کړل او ډیر غنیمتونه مو ترے ونیول ګډے بزے او اُوښان مو ترے راروان کړل،

کله چه مونږ ترے راروان کړل نو دا ډیر غټ کلے وو نو هغوی په دے کلی کی اعلان وکړو چه دے کسانو پسے روانیږو نو په لږ ساعت کی یو غټ فوج راووتو مونږ پسے شو دومره لوی فوج وو (لَاقِبَلَ لَنَا بِهٖ) چه زمونږ د هغوی د مقابلے طاقت نهٔ وو، دا بله پریشانی شوه، تردے چه مونږ یوے کندے ته راورسیدو چه مونږ ددے نه واوړیدو او هغوی اخوا وو نو نهٔ مونږ وریخ لیده او نهٔ باران نو سمدست سیلاب راغے دومره غټ سیلاب وو چه دا کنده ئے ډکه کړه نو هغوی پرے نشو راپوریے وتلے او اخوا ولاړ وو مونږ ته ئے کتل نو مونږ په جلتئ باندے ګډے بزے راروانے کړے او مُشلَل علاقے ته راورسیدو بیا د هغے نه مدینے ته صحیح سلامت راغلو۔

الله رب العزت د سیلاب په وجه زمونږ مدد وکړو که دا نهٔ وے هغوی به مونږ نه مال هم اخستے وے او وژلی به ئے وے ځکه چه ډیر خلك وو نو پدے طریقه الله تعالیٰ زمونږ حفاظت وکړو او دغه غنیمتونه مو رسول الله ﷺ ته راورسول۔

(الروض الانف ٤/٣٩٥) سیرت ابن هشام (٦/٢١)۔

فوائد: ۱- د کافرانو نه بدله اخستل دا هم د جهاد یوه برخه او مقصد دے، ځکه دا کسان د خپلو ملګرو د بدلے دپاره ورغلی وو۔ ۲- جهاد د زور شے نهٔ دے بلکه د چل ول

شے دے، کہ دا نۀ کوے نو نقصان بہ در رسیږی۔ ۳- د الله دپاره سختہ تیرول، په غشی لګیږی لیکن نۀ خوزیږی صبر کوی که نۀ وی دے کی دا خطر هم وو چه دا په سر لګیدلے وے نو مړ به وے خو الله ورله حفاظت وکړو۔

٤- د تهمت د وجه نه یو سړے جیل ته اچول او هغه ته د لږ وخت دپاره سزا ورکول چه ظلم پکی نۀ وی جائز دی۔

٥- صحابه کرام او نبی علیه السلام سره د غیبو علم نۀ وو چه د یو سړی حقیقت معلوم کړی چه دا دشمن دے او که نۀ۔ ٦- د کافرانو نه غنیمتونه راوړل۔

٧- د مجاهدینو کرامتونه ښکاره کیدل ځکه چه د الله اولیاء دی او کرامت د اولیاؤ حق دے ددے وجه نه جهاد د ایمان د زیاتیدو لویه ذریعه ده، داسے ناشنا ځای کی به درسره مدد وشی چه هغه به د مدد ځای نۀ وی ظاهری اسباب به نۀ وی۔

٢- سرية عبد الله بن حذافة السهمی رضی الله عنه

په حدیث د بخاری وغیره کی راځی چه رسول الله ﷺ یوه سریه ولیږله چه د هغوی امیر ئے عبد الله بن حُذَافه السهمی رضی الله عنه مقرر کړو

(دا هغه صحابی دے چه حبشو ته ئے دویم ځل هجرت کړیدے او د رسول الله ﷺ خط ئے کسری بادشاه ته وړے وو)

او ددۀ ملګرو ته ئے حکم وکړو چه ددۀ تابعداری به کوئ (په کوم قوم کی چه د امیرانو او مشرانو خبره نۀ منلے کیږی دغه قوم به ګډوډ وی تباه کیږی به، د دوی احوال به ګډوډ او خراب وی، تابعداری ډیر ضروری شے دے ددے وجه نه د شیطانانو او کافرانو دا دسیسه ده چه د عامو مسلمانانو په خپلو مشرانو باندے بد ګمانی پیدا کړی نو تابعداری به نۀ کوی هر څه به ئے ګډوډ وی)

دوی چه په سفر ووتل نو جنګ یا وشو یا نۀ خو بله واقعه پکی دا راغله چه د دوی امیر ددوی نه په څه خبره خفه شو هغه ورته امر وکړو هغوی ونۀ منلو نو دۀ ته غصه ورغله چه زۀ ستاسو امیر یم او تاسو زما مخالفت کوئ او دومره غصه ورغله چه حکم ئے وکړو چه ورشئ لرګی راټول کړئ ملګرو لرګی راوړل دے ته اُور واچوئ هغوی ورته

اُور بل کړو، بیا ورته امیر وویل چه تاسو ته د الله رسول نهٔ دی وئیلی چه زما خبره به منئ نو زما حکم دے چه اُور ته ودانګئ نو بعض ملګرو بغیر د سوچ نه ووېل چه د امیر حکم دے ځئ چه ودانګو ځکه چه د امیر په امر منلو باندے الله او رسول حکم کړیدے نو خیر دے وبه سوزو لیکن جنت ته به لاړ شو، نو په دوی کی چه کوم د سوچ او فکر والا خلك وو هغوی ووېل چه مونږ چه د رسول الله ﷺ تابعداری شروع کړیده ددے دپاره چه مونږ د اُور نه بچ شو او کله چه پدے کی اُور وی نو بیا خو مقصد ونهٔ شو (د رسول الله ﷺ د تابعدارئ په وجه خو انسان د اُور نه بچ کیږی)

نو دوی پدے کشمکش کی وو چا وېل داخلیږو او چا وېل نهٔ داخلیږو نو پدے کی اُور مړ شو او د امیر صاحب غصه هم سړه شوه واپس مدینے ته راغلل او دا واقعه ئے رسول الله ﷺ ته بیان کړه نو رسول الله ﷺ منع وکړه وے فرمایل:

(لَوْ دَخَلُوْهَا مَا خَرَجُوْا مِنْهَا أَبَدًا)

که دوی دے اُور ته ننوتی وے نو هیڅکله به ترے نهٔ وے راوتلی۔ (یعنی د دنیا دے اُور به د جهنم اُور ته رابنکلی وے)۔ (إِنَّمَا الطَّاعَةُ فِي الْمَعْرُوْفِ)

یقیناً د امیرانو تابعداری خو په نیکئ کی وی۔ نهٔ د ګناه په کارونو کی۔

فوائد : ۱- ددے حدیث نه مونږ ته یوه فائده دا راوځی چه د امیرانو او مشرانو طاعت ضروری دے۔ ۲ : امیر او مور او پلار او علماء غوره خلك دی لیکن د الله او د رسول نه غوره نهٔ دی ددے وجه نه کله چه د دوی خبره د الله او د رسول خلاف راشی نو هغے له به اعتبار نهٔ وی۔ دے ځای کی د انسان پوهه او ناپوهی معلومیږی، ځوك چه تقلیدونه کوی هغوی په ظاهره کی الله او رسول ښه ګڼړی خو بیا چه د امام خبره راشی نو د هغه خبره پرے مخکی کوی او د الله او د رسول نه ورته هغه ښه ښکاره کیږی اګر که په خوله به نهٔ وائی لیکن د هغه د عمل نه دا ښکاره کیږی ځکه د رسول الله ﷺ حدیث غورزوی، ورانوی، منسوخ کوی، تاویل پکی کوی لکه د دوی کتابونه پدے خبره ګواه دی۔

۳- علماؤ ددے حدیث نه دا فائده لیکلے ده چه ددے حدیث نه دا معلومه شوه چه که چا ځان له د ولی الامر او مشر په تابعدارئ کی تکلیف ورکړو (کله چه هغه د شریعت خلاف وی) نو هغه به اُور کی همیشه پروت وی نو د هغه سړی به څه حال وی چه

مشر ورته امر وکړي چه بل ته تکلیف ورکړه او دا تو پلټ راواخلي او وي ولي او بیا وائي چه د مشر او د امیر امر وو، د بره نه آوړ ردي نو الله تعالیٰ به ئې د جهنم مینځ ته گوزار کړي پدي خبرو کي د مشرانو خبره منل نشته چه د حق خلاف وي، د الله د حساب نه یره پکار ده۔ د مشرانو، حاکمانو، علماؤ، استاذانو او مور او پلار قدر او عزت او د هغوی خبره منل هله دي چه الله او رسول مونږ ته امر وکړي چه کله هغوی صحیح خبره کوی او که خبره ئې خطاء وه نو دوی به د الله او د رسول نه نشي مخکي کولے۔

٤- **سوال**: ددې خلکو خو غرض د الله او د رسول طاعت وو او دوی تاویل کونکی وو نو څنگه به د دوی دپاره اُور وي؟

جواب: هرکله چه دوی بغیر د سوچ نه په جلتئ سره قصد وکړو چه اُورته ځان گوزار کړي او کوشش ئې ونکړو سره ددې نه چه دوی ته دا علم وو چه الله تعالیٰ دوی د قتل د نفس نه منع کړیدي نو دوی معذوره نهٔ وو۔ (ابن القیم، زاد المعاد)

معلومه شوه چه د هر چا په خبره کی به سوچ کولے شی بیا به منلے شي۔

٣- **سریه د جسمیٰ** چه هغه جمادی الثانیه (٧ هـ) کی واقع شوې وه او د خطونو په بیان کی هغه ذکر شوه۔

٤- سریه د عمر بن خطاب رضی الله عنه تُرَبه ته (شعبان ٧ هجری)

رسول الله ﷺ سیدنا عمر بن خطاب رضی الله عنه ته دیرش (٣٠) کسان ورکړل چه تهٔ لاړ شه تُرَبَه علاقې ته چه هلته هوازن قبیله وسیږی هغوی باندې حمله وکړه چه دوی د مکې نه د څلورو شپو په اندازه وړاندې پراته دی، د صنعاء او د نجران په لاره دی تُرَبَه علاقه د طائف نه مشرق طرفته تقریباً (١٢٥) کیلو میټره وړاندې ده۔

(عیون الاثر ٢/١٥٣) و اطلس سیرت ٣٥٣)۔

د دوی سره د بنو هلال قبیلې نه یو لاربنود هم ووتو نو دوی به د ورځې پټیدل او د شپې به ئې مزل کولو تردې چه هوازن ته نزدې شول، هوازن قبیله د مخکې نه خبره شوه نو الله تعالیٰ پرې رعب راوستو وتښتیدل او ددې صحابه کرامو نه پټ شو نو سیدنا عمر فاروق رضی الله عنه د دوی ځایونو ته ورسیده لیکن هیڅ یو تن ئې مونده

نۀ کړو نو واپس مدینې ته راروان شو، په لاره کې ذِي الجَدْر علاقې ته راورسېدل چه دا د مدینې د قباء په طرف باندې شپږ میله وړاندې علاقه ده نو دلته یو بل قوم چه د هغوی خَثْعَم قبیله نوم وو چا عمر بن خطاب رضی الله عنه ته ووېل چه دلته یوه قبیله ده (خثعم) هغوی د خپلو علاقونه راوتی دی

(قَدْ أَجْدَبَتْ بِهِمُ الْبِلَادُ) د دوی په علاقو کې بارانونه نۀ کیږي سو کړه ده هغې تنګ کړیدی نو راوتی دی بارانی علاقو پسې ګرځي او تیار زمونږ په لاره کې دی او مشرکین دی نو په دوی باندې به حمله وکړو ؟

نو عمر رضی الله عنه ورته ووېل چه ما ته رسول الله ﷺ صرف هوازن خودلی دی چه په تُرَبَه کې به پرې حمله کوې، که دوی مشرکان هم دی لیکن ما ته امر نشته۔ نو بیرته مدینې ته راواپس شو۔ سبل الهدی والرشاد (٦/١٣٠)

ددې نه دا فائده معلومیږي چه صحابه کرامو کې د اتباع ماده ډیره زیاته وه، د رسول الله ﷺ په مقابله کې به ئې خپله رایه او خپل عقل نۀ چلولو پدې وجه خو دوی کامیاب شوی هم نۀ دی۔ د رسول الله ﷺ په طریقه او امر کې پوره کامیابی ده۔

اُوس هم که یو تن د نیکانو امیرانو خبره منی او خپله رایه نۀ چلوی نو الله رب العزت داسې خلکو ته غلبه ورکوی۔ په یوه خبره کې به تا ته فائده ښکاره کیږي لیکن نبی ﷺ چه پرې امر نۀ وی کړې نو د هغې نه به ځان ساتې۔

٥- سریة بشیر بن سعد انصاری رضی الله عنه فَدَک طرف ته
(شعبان ۷ هجری)

رسول الله ﷺ په شعبان کې په اوم هجری باندې بشیر بن سعد رضی الله عنه ته (٣٠) دیرش کسان ورکړل او فَدَكَ طرفته ئې بنو مُرّه ته ولیږلو دا خلك د مسلمانانو په خلاف راجمع شوی وو نو د بشیر رضی الله عنه ملګری د ګډو بزو شپونکو سره ملاؤ شو نو هغوی نه ئې د خلکو په باره کې تپوس وکړو چه چرته دی؟

هغوی ورته ووېل چه هغوی په خپلو علاقو کې دی نو دوی ددې شپونکو نه دا ګډې بزې او اوښان راروان کړل او مدینې ته ئې مخه کړه۔

پدے کی هغه قوم ته چا خبر ورکړو چه ستاسو ښاروی ئے وتښتول نو هغوی راروان شو نو دا صحابه کرام ئے د شپے رالاندے کړل نو دوی د یو بل سره په غشو ویشتل وکړل تردے چه د بشیر رضی الله عنه د ملګرو سره غشی ختم شول،

کله چه دوی صبا کړو نو په بشیر او د هغه په ملګرو باندے ئے حمله وکړه نو ډیر ملګری ئے ورله شهیدان کړل او څه کسان پکی وتښتیدل، پدے کی بشیر رضی الله عنه هم سخته مقابله وکړه آخر دا چه دا هم زخمی شو او په زمکه راپریوتو کافران راغلل دا ئے په لته ووهلو چه وګوری چه ژوندے دے که مړ نودے وئ خوزیدو نو هغوی مړ وګنړلو نو هغوی خپل حیوانات ځان سره روان کړل،

دا خبر عُلْبَه بن زید الحارثی رضی الله عنه رسول الله ﷺ ته راورسولو بیا چه کله شپه شوه بشیر بن سعد رضی الله عنه د دغه ځای نه په تکلیف تکلیف سره فَدَك علاقے ته راورسیدو دلته د یهودیانو سره څو ورځو پورے وو کله چه د مزل قابل شو او زخمونه ئے ښه شونو مدینے ته راغے۔

(السیرة الحلبیة ۱۹۲/۳) المقتفی من سیرة المصطفی ص (۶۱) للمؤرخ الکبیرالحسن بن عمر بن حبیب) والرحیق المختوم) ۔

۶- سریه د غالب بن عبد الله اللیثی حُرَقه یا حُرَقات علاقے ته

رمضان (۷ ھ)

دے پسے نزدے رسول الله ﷺ یوه بله سریه ولیږله چه غالب بن عبد الله اللیثی ئے ورله مشر کړو او یو سل دیرش (۱۳۰) ملګری ئے ورکړل چه تاسو به حُرَقه علاقے ته لاړ شئ، د جُهَینه په نوم یوه قبیله ده په هغوی به حمله وکړئ ځکه چه دوی دلته جمع دی، او دوی له ادب ورکول پکار دی ځکه چه دے مشرکانو په احزاب غزا کی ورانے کړیدے او نور فسادونه هم کوی،

دا سریه لاړه د هغه قوم نه دیخوا ځای کی ئے دمه وکړه او لس (۱۰) جاسوسان ئے ولیږل چه د دوی معلومات وکړی، جاسوسان واپس راغلل چه خلك په ځای باندے دی او د شپے پرے حمله کول پکار دی ځکه چه دوی ګډے بزے رالشی نو د غفلت حالت

کی به پرې ورشو نو دوی د شپې هغوی ته نژدې شول نو امیر صاحب اول کی دوی ته بیان وکړو چه د الله نه ویرېږئ تقویٰ اختیار کړئ او زما تابعداری وکړئ او زما نافرمانی مهٔ کوئ او زما د امر مخالفت مهٔ کوئ (فَاِنَّهٗ لَا رَأْیَ لِمَنْ لَا یُطَاعُ)

د هغه چا خو هیڅ رایه نهٔ وی چه د هغه تابعداری نهٔ کیږی،

بیا ئے خپل ملګری په ترتیب کړل او دائے وویل چه اے فلانیه تهٔ به د فلانی سره یوځای شے دوه دوه کسان ئے یو ځای کړل او دائے ورته وویل چه هیڅ ملګرے دے د خپل ملګری نه نهٔ جدا کیږی او داسے ونهٔ شی چه یو تن د ملګری نه جدا شوے وی نو زهٔ ورته وویل چه ملګرے دے څه شو؟ هغه وائی چه ما ته پته نشته۔

(هسے نهٔ چه دا ملګری ضائع نشی نو زهٔ به د هر سړی نه د هغه د ملګری تپوس کوم) او چه کله ما الله اکبر وکړو تاسو به هم الله اکبر کوئ او په یو ځل به پرې حمله کوو نو توری راوباسئ او د شپے نوم ئے دا کیخودو (اَمِتْ اَمِتْ) (یعنی وژنه وژنه دا کافر) کله چه مونږ په دوی باندے حمله وکړه نو څه کسان مونږ ووژل او څه مو ونیول او د هغوی نه مو ګڼړے بزے او اُوښان راونیول۔

د اسامه بن زید رضی الله عنه مرداس بن نهیک لره وژل

نو پدے کی یو مشرك چه د هغه مِرداس بن نَهِیك نوم دے هغه ډیرے ردے بدے وئیلے او نبی علیه السلام ته ئے کنځل کول نو اسامه بن زید رضی الله عنه فرمائی:

زهٔ او یو بل انصاری صحابی ورپسے شو چه دا سړے نهٔ پریدو، مونږ هغه پسے منډے کړے هغه زمونږ نه منډه کړه تردے چه د یوے ونے شاته زمونږ نه پټ شو نو الله مونږ له دا طاقت راکړو چه مونږه ئے قتل کړو د توری لاندے راغے نو په دغه وخت کی دغه سړی کلمه د توحید ووېله (لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه) د الله نه سوئ بل څوك حقدار د بندګئ نهٔ ګنړم۔ نو هغه انصاری صحابی احتیاط وکړو هغه ترے خپله توره راواپس کړه چه سړی کلمه ووېله خنګه ئے قتل کړم،

نو اسامه رضی الله عنه وویل چه زما زړه کی راغلهٔ چه دا هسے زمونږ نه ځان خلاصوی نو توره مے ورته راخطا کړه او پرے قتل مے کړو۔

بیا چه مونږ واپس مدینے ته راغلو نو رسول الله ﷺ ته دا قصه بیان شوه (ځکه نبی علیه السلام ته به بیرته کارګزاری بیانیدله) چه اسامه داسے یو سړے ووهلو چه هغه

کلمه وئیلے وه۔ نبی علیه السلام باندے دا خبره ډیره گرانه شوه او اسامه ته ئے وویل :
(أَقَتَلْتَهُ بَعْدَ أَنْ قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰه ؟)

آیا تا دا وژلے دے پس د هغے نه چه دهٔ لا اله الا الله وئیلے وه؟)

دا څومره قیمتی کلمه ده چه ددے کلمے په وئیلو سره د الله د دشمن نه دشمنی لرې کیږی۔

اسامه جواب وکړو : (إِنَّمَا قَالَهَا مُتَعَوِّذًا) یارسول الله ! هغه دا کلمه پدے وجه وئیلے وه چه ما نه ئے ځان خلاصولو او اوسه پورے ئے کنځلے کولے خو چه زما د توری نه لاندے راغلو نو دغه کلمه ئے وئیله۔ نو رسول الله ﷺ هغه ته وویل : (هَلَّا شَقَقْتَ عَنْ قَلْبِهٖ) تا ولے د هغه زړه نهٔ څیرلو چه تا معلومه کړے وے چه دا په رشتیا دا کلمه وائی او که په دروغه۔ نو پدے کی رسول الله ﷺ هغه ته زورنه ورکړه چه تا ته څه معلومه وه چه دا په دروغه کلمه وائی، مونږ به د سړی ظاهر ته گورو د زړه نه ئے الله خبر دے۔

بیا ئے اسامه ته وویل : (كَيْفَ تَصْنَعُ بِلَا إِلٰـهَ إِلَّا اللّٰه إِذَا جَاءَ تْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ)

تهٔ به په دے کلمه باندے څه وکړے چه کله د قیامت په ورځ راشی۔ تهٔ به څه عذر کوے؟ نو اسامه رضی الله عنه فرمائی: زهٔ ئے پدے کار دومره پښیمانه کړم (حَتّٰى تَمَنَّيْتُ أَنِّي لَمْ أَكُنْ أَسْلَمْتُ إِلَّا يَوْمَئِذٍ) تردے چه ما دا ارمان وکړو چه ما مخکی اسلام نهٔ وے راوړے او دا عمل مے په کفر کی کړے وے او اُوس مے اسلام راوړے وے۔ یعنی په اسلام کی چه دا عمل زما نه نهٔ وے شوے نو ښه به وه۔

نو ما رسول الله ﷺ ته وفرمایل: (يَارَسُوْلَ اللّٰهِ ! أُعَاهِدُكَ أَنْ لَّا أَقْتُلَ رَجُلًا يَقُوْلُ لَا إِلٰـهَ إِلَّا اللّٰه) زما تاسره لوظ شو چه کوم سړی لا اله الا الله وئیله هغه به زهٔ نهٔ وژنم۔ رسول الله ﷺ وفرمایل : (بَعْدِيْ يَا أُسَامَةُ)

زما د مرگ نه روستو به هم مسلمان نهٔ وژنے۔

اسامه وفرمایل : آؤ یارسول الله ﷺ ستا د مرگ نه روستو به هم کلمه ویونکے نهٔ وژنم۔

مونږ چه مدینے ته غنیمتونه راوړل نو د هر یو تن لس اوښان یا سل گډے ورسیدے۔

صحیح البخاری : ۶۸۷۲ طبع دار الشعب القاهرة ومسلم : ۲۸۸ طبع دار الجیل بیروت، (مختصر سیرة الرسول ص ۱۸۹) ومغازی الواقدی ۲/۷۲۴) البدایة والنهایة لابن کثیر (۴/۲۵۳)

بیا چه د مسلمانانو خپل مینځ کی کوم جنګونه وو لکه د علی بن ابی طالب او د معاویه رضی الله عنهما ترمینځ په جنګونو کی اسامه رضی الله عنه نهٔ وو شریك شوے دا به ئے وئیل چه ما د خپل نبی سره وعده کړیده چه زهٔ به د مسلمان په وینه باندے خپل لاس نهٔ رنګوم۔

په داسے حالاتو کی به غلے کینے۔ جنګ د کافرانو سره خوند کوی نهٔ د مسلمانانو سره۔

د مومن په قتل باندے ابلیس ډیر زیات خوشحالیږی، د مسلمان قتل ډیر لوی جرم دے که د ټولے دنیا خلك د یو مؤمن په قتل راجمع شی نو ټول به الله تعالیٰ اُور ته ګوزار کړی او پدے باندے به هیڅ باك نهٔ کوی (الحدیث)۔

قصه :

د ابلیس او د هغه ملګری چه یو ځای کی راجمع شی او ګپ شپ ولی نو په درے خبرو ډیر خوشحالیږی : (رَجُلٌ مَاتَ عَلَى الْكُفْرِ)۔ یو په هغه سړی چه په کفر حالت کی مړ شی۔ وائی چه ددهٔ د غم نه خلاص شو دا خو د جهنم کندے ته ورسیدو۔

دویم (رَجُلٌ قَتَلَ مُؤْمِنًا) ۔ په هغه سړی چه یو مومن قتل کړی ځکه چه مومن د الله بندګی کوله نو شیطان ترے خلاص شو او بل طرفته ددے سړی ایمان هم په ځای نهٔ پاتی کیږی بلکه ددهٔ دین به وخت په وخت کمزورے کیږی۔

(وَرَجُلٌ فِيْ قَلْبِهٖ خَوْفُ فَقْرٍ) یو مسلمان وی چه د غریبئ او فقر نه یریږی۔ وائی چه ددے سړی زړه د الله نه آوړیدلے دے او په الله تعالیٰ ئے توکل نشته۔ نو ځوك چه د فقر نه یریږی نو هغه کی ډیر شرونه راجمع کیږی، هغه بیا دروغ هم وائی، خیانت هم کوی، ګناهونه هم کوی، په الله اعتراضونه هم کوی، ځان هم ذلیله کوی۔

فائده بدیعه : ددے حدیث نه دا معلومه شوه چه ځوك کلمه د توحید وائی د هغوی سره به قتال نهٔ کیږی او نهٔ به وژلے کیږی لیکن پدے خبره کی تفصیل شته او هغه دا چه کافران دوه قسمه دی (۱) یو هغه کافر دے چه د پخوا نه کافر دے نو دهٔ چه په هر ځای کی ایمان راوړو هغه به قبول وی اګرکه د توری لاندے راغلے وی مسلمان به ئے نهٔ وژنی۔ ځکه الله تعالیٰ په خپل بنده باندے ډیر مهربان دے۔

(۲) دویم هغه کافر چه مرتد شوے وی یعنی اول پرے د مسلمان نوم پروت وی بیا دین پریږدی او کافر شی، د انګریزانو او کفارو ملګرے شو نو ددے مرتد حکم دا دے چه

کـه پـه خپله خوښه راغے بغیر د زور نه او بیرته اسلام کی داخلیدو او خپل مخکنی بد عـمـل تـه بد کوری نو ددهٔ دا توبه به الله تعالیٰ ته هم قبوله وی او بندګان به هم ورته څه نـهٔ وائـی، صـرف پـه آینده کی به نظر اچوی چه عمل ئے څنګه دے؟۔ او که دهٔ چرته په داسے وخت کـی ایـمـان راوړو چـه نیـولے کیدو یا د توری لاندے راغے نو که دا کلمه هم وائی نو معافی ئے نشته او که په مانځه ودریدو هم معاف نهٔ دے۔ اُوس که دا په زړه کی صحیح مسلمان وی نو الله تعالیٰ ته ئے توبه قبوله ده لیکن مسلمانان به ئے نهٔ قبلوی بلکه ددهٔ حکم قتل دے۔ لکه دا خبره قرآن کریم کی راغلے ده :

﴿إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِنْ قَبْلِ أَنْ تَقْدِرُوا عَلَيْهِمْ فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ﴾ (المائدة: ٣٤)

دا آیت د قـطـاع الـطـریـق او د هـغـه کسـانـو په باره کی دے چه د مسلمانانو نه مرتد شوی وی۔

۷- سریه د ابن ابی حَدرد الاسلمی رضی الله عنه غابه ته۔ (۷ هجری)

یـو کـافـر چـه د هغه رِفاعه بن قَیس نوم دے او د جُشَم بن مُعَاویه د قبیلے نه دے چه دا سړے ډیر مشهـور وو او خلکو به ئے ډیره تابعداری کوله نو دهٔ وویل چه دلته یوه قوی قبیله ده چه قیس ئے نوم دے دا به راجمع کړم او په رسول الله ﷺ به حمله وکړم،

(عام کافران د مدینے په دار الخلافة باندے سخت غصه وو)

نـو دے کـافـر ځـان سـره د خپـل قوم نه کسان راروان کړل او د قیس قبیله ئے ځان سره ملګرے کـولـه چـه پـه رسـول الله ﷺ باندے حمله وکړی نو غابه (علاقے) ته راغے او هلتـه ئے پړاؤ واچـولو۔ نو رسول الله ﷺ درے کسان ولیږل چه ددے سړی خبر راوړی چه دا څوك دی او څه شے کوی؟ نو ابن ابی حدرد ئے ورله مشر کړو دوی ځان سره توری او غشـی واخستـل د جهاد پـه نیـت ووتـل، نبـی عـلیه السلام دوی له یو اُوښه ورکړه، صحـابـی وائـی چـه هغـه هم دومره کمزورے وه چه زمونږ نه یو تن پرے سور شو چه کیناسته بیا پاڅیدے نشوه۔ نو په زوره مو اُوچته کړه۔

(کـلـه بـه اسباب او ذرائع کم وی نو هم بنده به کار کوی خو شرط دا چه روستو به د مسلمانانو طاقت موجود وی او ځای د پناهئ به وی)

دا صحابي وائي ما خپلو ملګرو ته وويل چه تاسو دواړه ددے قوم په يو طرف کی پټ شئ او زۀ به ئے په بل طرف کی، خو چه ما کله الله اکبر وکړو او حمله مے وکړه نو تاسو به هم الله اکبر وکړئ او حمله به کوئ (الله ورله په زړه کی يو ترتيب اچولے وو)

پدے کی مونږ په انتظار ناست وو چه پدے خلکو څنګه حمله وکړو نو پدے کی ماسخوتن ناوخته شو (شپه شوه) نو د دوی دا مشر (رفاعه بن قيس الْجُشَمِي) راووتو د خپلو ګډو بزو او د شپونکی د معلومات دپاره چه دا رانغلل هسے نۀ چه چا نيولے نۀ وی، (او مونږه د هغوی خبرے آوريدلے)

نو پدے کی نورو کسانو ورته وويل چه مونږ به لاړ شو تۀ مشر ئے تۀ کينه، نو دۀ وويل چه زه يو بهادر ځوان يم زۀ به پسے ځم نو هغه خپله رارون شو خلکو ته ئے وويل چه ما سره مۀ ځئ زۀ يواځے ځم۔ نو دا چه کله د لښکر نه راجدا شو او زما په لاره راتير شو او زما خوا ته ډير رانزدے شو (فَلَمَّا أَمْكَنَنِيْ مِنْهُ) زۀ ئے په ځان قادر کړم نو ما په غشی باندے په زړه باندے ويشتو نو سمدست راپريوتو او د خولے نه ئے هيڅ آواز هم ونۀ وتلو، نوزۀ ورپسے ورغلم او سر مے ترے پريکړو او ځان سره مے کيخودو چه دا به نبي عليه السلام ته ورم چه هغه ته زيرے ورکړم نو ددے نه پس ما د الله اکبر آواز وکړو او زما دواړو ملګرو د هغه طرفنه الله اکبر آواز وکړو او په دغه فوج مو حمله وکړه نو په دے آواز کی الله تعالیٰ ډير رعب اچولے وو نو هغوی باندے الله تعالیٰ دومره رعب راوستو چه ټولو منډه کړه او يو بل ته ئے وويل چه عِنْدَكَ عِنْدَكَ۔

ستا خوا کی دشمن دے منډه کړه او ستا خوا کی دشمن دے منډه کړه۔

نو د دوی ښځے او سړی ټول وتښتيدل او حيوانات ئے ټول په ځای باندے پريښودل نو مونږ ورغلو او د دوی اوښان او ګډے بزے او سامانونه مو په اوښانو بار کړل او د هغه کافر سر مو ځان سره راواخستو او مدينے ته رارون شو او نبي عليه السلام ته مو ټوله واقعه بيان کړه۔ درے کسانو لوی فوج ووهلو۔

ددے نه مخکی ما د نبي عليه السلام نه مطالبه کړے وه چه ما دے کلی کی يوه ښځه کړيده او په ما باندے ئے مهر دوه سوه درهم ايخودی دی او ما سره نشته که ته راسره مدد وکړے؟ نو نبي عليه السلام وفرمايل:

ما سره هيڅ نشته څه درکړم، نو پدے کی ئے زۀ دے جهاد ته وليږم نو پدے کی مونږ

ډیر غنیمتونه ونیول چه ما ته ئے پکی دیارلس اُوښان راکړل چه تا ډیره غټه کارنامه کړیده نو په هغې باندے ما واده وکړو۔ (الروض الانف ٤/٤١٠)

فائده : په جهاد کی دوه فائدے دی (١) یو دا چه انسان د الله تعالیٰ د اجرونو په میدان ورشی او د باران د څاڅکو په شان اجرونه ګټلے کیږی۔ (٢) دویم په جهاد سره انسان مالداره کیږی ځکه چه تا د الله د رضا دپاره دنیا پریښے ده او دا قانون دے چه څوك دنیا پریدی دنیا به هغه پسے راځی امام بخاری باب قائم کړیدے بَابُ بَرَكَةِ الْغَازِىْ (د مجاهد په مال کی برکت) چه د زبیر رضی الله عنه نه کروړونو روپۍ په میراث کی پاتے شوے۔

٨- سریه د بشیر بن سعد یَمن او جَبار طرف ته (شوال ٧ هجری)

رسول الله ﷺ په شوال میاشت کی بشیر بن سعد رضی الله عنه ته درے سوه کسان ورکړل او یَمن او جَبَار علاقے ته ئے ولیږل وجه دا وه چه نبی علیه السلام ته دا خبر راسیدلے وو (حُسَیل بن نُوَیرَة اشجعی راوړے وو) چه غطفان قبیله په جَناب علاقه کی راجمع شویدی غواړی چه په مدینه باندے حمله وکړی او هغوی د عیینه بن حصن فزاری سره وعده کړیده چه په شریکه به د مدینے په اطرافو حمله کوو، دا خبره ابوبکر او عمر فاروق ته ذکر شوه نو هغه رسول الله ﷺ ته مشوره ورکړه چه بشیر بن سعد ورولیږی نو رسول الله ﷺ هغه دپاره جنډه وتړله او د هغه سره ئے درے سوه (٣٠٠) مجاهدین روان کړل۔ او حُسَیل بن نویره ئے ورسره روان کړو چه دا به ورته لاره ښائی دوی به د ورځے پټیدل او د شپے به ئے مزل کولو تردے چه دوی د جناب په طرف یَمن او جَبَار ته راغلل،

(او جناب د سلاح او خیبر او وادی القریٰ علاقو ته په پلنو باندے (بالمقابل) پروت دے)

نو دوی سلاح علاقه کی پړاؤ واچولو، بیا دغه قوم ته نزدے شو نو دلته د هغوی شپونکی وو او حیوانات ورسره وو نو دوی هغه ونیول او شپونکی وتښتیدل او خپل مالکان ئے ویرول چه فوج دربانده حمله کوی نو هغوی یو او بل طرفته وتښتیدل، نو

سعد د یو سره هم ملاؤ نشو او دلته ئے حکم وکړو چه دا غنیمتونه راټول کړئ نو دوی دومره ګډیے بزیے او اُوښان ونیول چه لاسونه ئے تریے ډك كړل،

دلته دوی په لاره کې د عیینه بن حصن یو جاسوس ونیولو او هغه ئے قتل کړو بیا ئے دوه کسان نور ونیول نو هغوی اسلام قبول کړو او مدینے ته راوستے شو او آزاد کړے شو۔ (طبقات ابن سعد ۲/۱۲۰) امتاع الاسماع (۱/۳۳۰)

یَمْن : دا د غطفان قبیلے کوهے دے چه د تیماء نه فَیْد ته تلونکے لارے باندے د بطن قَو او رُؤاف په مینځ کې واقع دے او بعض خلك دے ته اَمْن وائی۔ (معجم البلدان ج۵)

جَبَار : دا د قضاعه قبیلے شاخ بنو حمیس بن عامر کوهے دے چه د مدینے او د فید په مینځ کې دے۔ او فید په سعودی کې د حائل په جنوب کې واقع دے۔

غطفان څوک دی؟

دا په مُضر کې د قیس عیلان یو شاخ دے، سلسله د نسب ئے دا سے ده : غطفان بن سعد بن قیس بن عیلان بن مضر۔ په عربو قبائلو کې به اثافی (یعنی د انغری درے کانړی) چه به ئے کومو قبیلو ته وئیلو نو په هغوی کې سُلیم سره د هَوَازن نه یو کانړے، غطفان دویم کانړے او اعصر سره د مُحَارب بن خَصَفه نه دریم کانړے گڼلے کیدو۔ غطفان او سُلیم په نبوی دور کې د سرکشئ په وجه همیشه د مسلمانانو د ضرر پسے لګیدلی وو، د قرقرة الکدر غزا ددے وجه نه راپیښ شوے وه چه غطفان او سلیم په مدینه باندے د حملے کولو تیاری کړے وه، دے نه روستو ذی امر او ذات الرقاع معرکے هم د غطفان په خلاف شوے وے، په غزوۀ خندق کې غطفان هم د مکے د مشرکانو سره شریك وو۔

د غطفان قبیلے چراګاهونه د خیبر او حجاز نه واخله د بنو طی د غرونو پورے خوارۀ شوی وو۔ د غطفان دوه لوی شاخونه اشجع بن رَیْث بن غطفان (د مدینے په قرب او جوار کې) او بغیض بن ریث (د شَربه او ربذه په اطرافو کې) آباد وو۔ بَغِیض بیا مخکې په عبس او ذُبیان کې تقسیم وو، د عبس او ذبیان په مابین کې په جاهلیت دور کې د اسونو د زغلولو په سبب د دَاحِس او غبراء جنګ راغلے وو۔

د غزوۀ خندق نه په راتلونکې کال کې غطفانی قبیلے بنو فزاره ؤ په مدینه کې د نبی علیه السلام په اُوښانو حمله وکړه نو نبی علیه السلام دغه ډاکوان د ذی قَرَد پورے

وزغلول او هغه ئے ترے بیرته راواپس کړل. آخر دا چه په (۸ هـ) کی د بنو سلیم نه روستو بنو غطفان هم اسلام قبول کړو. دواړه قبیلے د مکے د فتح نه مخکی په اسلام کی داخلے شوے. د نبی علیه السلام د وفات نه روستو غطفان مرتد شو او د بنو فزاره سردار عُیَینه بن حصن د عبس او ذُبیان سره یو ځای شو او په مدینه باندے ئے حمله وکړه، صرف بنو اشجع په خپل دین باندے قائم پاتی شو. ابوبکر صدیق رضی الله عنه په ښار باندے د غطفانیانو حمله دوباره وتمبوله او آخر دا چه هغوی ئے د ربذه علاقے نه وبستل، نو دوی د بنو اسد دروغجن نبی طلیحه سره ملاؤ شو. د خالد بن ولید رضی الله عنه په لاس د طلیحه د شکست نه روستو غطفان قبیله یو ځل بیا اسلام قبول کړو. په (۱٤ هـ) کی بنو غطفان جوق درجوق په جنگِ قادسیه کی شرکت وکړو.

(اردو دائره معارف اسلامیه بحواله اطلس سیرت (۳٦۵).

داسے سراپا نبی علیه السلام نورے هم لیږلی دی چه دا به تر ذو القعدے میاشت اوم کال پورے لیږل کیدل.



عمرة القضاء ذی قعده (۷ هـ)

کله چه د اوم کال د ذو القعدے میاشت راغله نو رسول الله ﷺ د هغه عُمرے د ادا کولو دپاره روان شو کوم باندے چه په صلح حدیبیه کی اتفاق شوے وو چه تاسو به سږکال عُمره نهٔ کوئ او کال له به راځئ او رسول الله ﷺ چه کوم خوب لیدلے وو چه زهٔ او زما ملګری عُمره کوی نو هغه الله تعالیٰ اُوس رشتینی کوی،

﴿ لَقَدْ صَدَقَ اللّٰهُ رَسُوْلَهُ الرُّؤْيَا بِالْحَقِّ لَتَدْخُلُنَّ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ آمِنِيْنَ ﴾

(یقیناً الله تعالیٰ رشتینی کړو رسول خپل لره خوب د هغه په رشتیا سره چه خامخا تاسو به مسجد حرام ته داخلیږئ که الله وغواړی په امن سره۔

ان شاء الله ځکه وائی چه دا د توحید تقاضا ده چه هر کار به د الله تعالیٰ ارادے او خوښے ته سپاری۔

دا خوب رسول الله ﷺ پروسه کال لیدلے وو لیکن تعبیر ئے سږ کال راوځی۔ او آیت کی دا مطلب پروت دے چه که پروسه کال تاسو عمره کړے وے نو د هغے فائدے کمے وے ځکه چه په مینځ کی الله تعالیٰ د خیبر فتحے راوستے۔

(ددے عُمرے قضاء راوړل څه واجب نهٔ وو لیکن یو نیك عمل وو ځکه نبی علیه السلام پوره کولو یو سړے یو نیك شروع کړی بیا ترے د څه عذر د وجه نه پاتی شی نو پکار ده چه د هغے قضاء راوړی لکه تهجد د خوب د وجه نه پاتی شو نو د ورځے ئے قضائی راوړه لکه دا د نبی علیه السلام طریقه وه چه د سنتو قضائی به ئے هم راوړله)۔

نو رسول الله ﷺ حُدَیبیه والو ته وویل چه عمرے له به ځو او د دوی سره نور صحابه کرام هم ملګری شول چه ټول تقریباً دوه زره کسان برابریدل۔

نبی ﷺ په مدینه باندے ابورهم غفاری رضی الله عنه مقرر کړو، د قربانئ اوښان ئے شپیته (۶۰) ځان سره روان کړل (ځکه چه نبی علیه السلام د قربانئ عبادت هم ډیر کولو، لکه په حجة الوداع کې ئے سل اوښان بوتلی وو چه درے شپیته ئے په خپل لاس ذبح کړل) او په هغوی باندے ئے نَاجِیَه بن جندب اسلمی رضی الله عنه مقرر کړو چه تهٔ

بـه دا مـکـے تـه رسـوبے او سـل اسـونـه هـم ورسره وو چه په هغوی باندے ئے محمد بن مَسْلَمه رضی الله عنه مقرر کړو۔

او رسول الله ﷺ چه کله په ذی القعده میاشت کی وتلو نو امرئے وکړو چه څان سره ډیره وسله راواخلئ، ډهالونه، تورے نیزے وغیره حال دا چه مشرکانو شرط لګولے وو چه یـوه تـوره بـه راوړئ او هـغـه بـه هم په تیکی کی بنده وی نو سیدنا ابوبکر صدیق رضـی الله عـنـه چه کـلـه صحابه کرام ولیدل چه په اُوښانو باندے ډیرے وسلے باروی نو هغـه وویـل چه یارسـول الله ! تـا د مشـرکـانو سره وعده نۀ وه کړے چه مونږ به صرف توری راوړو او تۀ خو د خپلے وعدے خلاف نۀ کوے؟ نو نبی ﷺ وفرمایل :

(يَا أَبَا بَكْرٍ إِنِّيْ أَخْشَى الْغَدْرَ)

اے ابـوبـکـره ! زۀ د دوکے نه یریږم۔ یعنی دا خو کفار قوم دے کیدے شی چه مونږ کمے وسلے والا وګنړی او راباندے شروع وکړی یواځے په توره خو کار نۀ کیږی، پدے کار سره نبی علیه السلام په قرآن کریم باندے عمل کولو چه الله فرمائی:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا خُذُوْا حِذْرَكُمْ﴾ (نساء:۷۱)

اے ایـمـان والـو! خپـل سـامـان د بـچاؤ څان سره واخلئ۔ دشمن ته بیدار شئ، څان نه غـافـلـه مـۀ جـوړوئ چه دشمن درله پروګرامونه جوړوی ستا د وهلو دپاره او تاسو دغه شان په دروند خوب اُودۀ یئ۔

نبی علیه السلام ته الله تعالیٰ ډیره هوښیارتیا ورکړے وه۔

مشرکینو چه کله دا کار ولیدو چه نبی علیه السلام څان سره ډیره وسله راوړے ده نو هـغـوی هـم دا اعتـراض وکړو نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: چه مونږ دا مکے ته نۀ داخلـوو، نـو دا وسـلـه ئے بـطـن یـاجُـج عـلاقـے ته ویوړه چه د مکے مکرمے نه اته میله وړانـدے عـلاقـه ده هـلـتـه ئے کیخوسته چه د وعدے خلاف رانشی او د هغے د حفاظت دپاره ئے دوه سـوه کسـان مـجـاهـدیـن پـریـښـودل چه د هغوی مشر ئے اَوس بن خَوْلِی انـصـاری رضـی الله عـنـه مقرر کړو دۀ ته ئے وویل چه مونږ کله عُمره وکړه تاسو پسے به جواب راولیږو بیا به تاسو نوبت په نوبت عُمره وکړئ۔

رسـول الله ﷺ چـه کله د مدینے نه ووتو او ذو الحلیفے علاقے ته ورسیدو نو احرام ئے وتـړلـو او لبیک ئے وویـلو او صحابه کرامو هم د هغه سره لبیک وویلو بیا ئے سفر جاری

وساتلو ترڅو چه بطن یاجج ته ورسیدل، هلته ئے د وسلو دپاره دوه سوه ملګری ایسار کړل او خپله او عام صحابه کرام ورسره روان شو چه صرف توری ورسره وې او هغه ئے هم په تیکی کی بندې کړې وې، د ګدَاء په لاره باندې کوم چه حَجُون ته وتلې ده مکې ته ننوتو، نبی علیه السلام په خپله اوښه (قصُواء) باندې سور وو او صحابه کرامو د رسول الله ﷺ نه ګیره اچولې وه او توری ورسره وې نبی علیه السلام هم تلبیه وئیله او صحابه کرامو به تلبیه وئیله پدې طریقه رسول الله ﷺ مسجد حرام ته داخل شو.

نبی علیه السلام او صحابه کرام پدې سفر باندې ډیر زیات خوشحاله وو ځکه چه ډیره موده شویده چه د الله د حرم ملاقات ئے نهٔ دے کړے. چا پنځه کاله، چا شپږ او چا اوه کاله پس ملاقات وکړو نبی علیه السلام خپله اوه کاله وشو چه مکې ته نهٔ دے راغلې د الله د حرم نه محروم وو، کعبې سره ئے ډیره زیاته بی حده مینه وه د الله د محبت د وجه نه، مکې پسې د هجرت په موقعه ډیر خفه وو، روستو به راشی ان شاء الله چه د نبی علیه السلام د کعبې سره دومره مینه وه چه د مِنیٰ نه به صرف د کعبې د لیدلو دپاره هره ورځ راتللو او بیرته به تللو د الله تعالیٰ د محبت د وجه نه ځکه چه د چا د چا سره مینه وی نو د هغه کور او د هغه هر حالت پرې ښه لګیږی.

نبی علیه السلام او صحابه کرام وویل چه دا الله تعالیٰ څومره عجیبه فتح راوسته چه مونږ مکې ته راننوزو، په لاره به د لبیك په نعرو باندې علاقې خوزیدلې او د تکبیر آوازونه به په کندو او هوارو کی اُوچتیدل ډیره ښائسته قافله وه چه په مخ د زمکه داسې قافله به کله راشی؟!

رسول الله ﷺ او صحابه کرام چه کله مکې ته ننوتل نو ددې اطمینان او سکون نه ډکې قافلې د سیل دپاره لارو ته زنانه او ماشومان او سړی راوتی وو، رسول الله ﷺ او صحابه کرام ورته ناشنا ښکاره کیدل حال دا چه دا د دوی د کلی سړے دے.

(او دا قانون دے چه کله تا په اسلام صحیح عمل کولو نو په خپل کور کی به هم خلکو ته ناشنا ښکاره کیږې)

پدې کی چه کوم غلیظ مشرکان بوډاګان وو چه په هغوی کی ضد ډیر زیات وو (ځوانانو کی دومره ضد نهٔ وی) نو هغوی د ډیرې غصې او دشمنۍ نه بهرغرونو ته لاړل چه په محمد رسول الله ﷺ او د هغه په ملګرو مو نظرونه ونهٔ لګی او دا ئے نشوه

برداشت کولے چه رسول الله ﷺ او د هغه ملګری وګوری چه د بیت الله نه طوافونه کوی۔

او خپلو کشرانو ته ئے خو دا نشو وئیلے چه تاسو هم ووځئ نو هغوی ته ئے په زړه کی د نبی علیه السلام او د صحابه کرامو د سپك ښکاره کولو دپاره دا خبره واچوله چه د مدینے نه کمزورے شان خلك راروان دی (قَدْ وَهَنَتْهُمْ حُمَّى يَثْرِبَ) چه هغه د مدینے تبو وهلی دی او کمزوری کړی ئے دی، که د دوی سره زمونږ جنګ راغلو دا مونږ وهلے شو۔ نو د نورو خلکو په زړونو کی ئے د دغه قافلے سپکوالے واچولو،

دا د کافرانو طریقه ده چه د خلکو په زړونو کی د مسلمانانو، علماؤ، مجاهدینو او داعیانو سپکوالے اچوی۔

نو الله تعالیٰ خپل نبی ته ددے خبرے خبر ورکړو چه مشرکانو داسے خبره کړیده نو هغه صحابه کرامو ته حکم وکړو چه یو به تاسو بنیٔ اُوګه ښکاره کړئ بل به د طواف په اولنو درے ګردشونو کی پهلوانی وکړئ یعنی په توپونو حالت کی درے ګردشونه وکړئ، اوه واړو کی ئے مهٔ کوئ ځکه چه بیا په تکلیف کی کیږئ۔

(د الله حرم د عاجزئ ځای دے لیکن نبی علیه السلام صحابه کرامو ته پهلوانی وخودله ځکه چه دا هم عبادت دے چه انسان مشرکانو ته خپل طاقت وښائی او د هغوی په مقابله کی ځان غټ ښکاره کړی، بلکه غتے خبرے به کوی)۔

او نبی علیه السلام ددے ترغیب هم ورکړو: (رَحِمَ اللّٰهُ امْرَءًا أَرَاهُمُ الْيَوْمَ مِنْ نَفْسِهِ قُوَّةً) السيرة النبوية لابن كثير (٣/٤٣٠) الروض الانف (١١٣/٤)

الله دے په هغه انسان رحم وکړی چه نن ورځ ئے مشرکانو ته خپل قوت وخودلو۔

بیا صحابه کرامو دا کار وکړو نو الله رب العزت ته دا عمل دومره خوښ شو چه روستو امت ته ئے حکم وکړو چه تاسو به په اولنو درے ګردشونو کی پهلوانی کوئ۔

نوځوك چه اوس حرم ته ننوزی او حج یا عمره کوی نو په اولنو درے ګردشونو کی به د نبی علیه السلام او د دغه صحابه کرامو مشابهت کوی اګرکه اوس چا ته ځان خودل هم نشته لیکن دا عبادت وګرځیدو همدا حالت د الله تعالیٰ خوښ دے۔

نبی ﷺ چه کله حرم ته ننوتو نو حجر اسود ئے په امسا سره ښکل کړو او بیا ئے په سورلئ باندے طواف وکړو مسلمانانو هم طواف وکړو او په اولنو درے ګردشونو کی

ئے پهلوانی وکړه. مشرکان د کعبے شمال طرفته په قُعَيقِعَان غر باندے ناست وو هغوی چه کله ولیدل چه مسلمانان پهلوانی کوی نو وے وئیل چه تاسو دا کسان یادول چه دوی د مدینے تبو کمزوری کړیدی دا خو ډیر زیات قوی او مضبوط دی. د اُوښانو په شان پهلوانان دی نو رسول الله ﷺ بیرته په هغوی باندے رعب راوستو.

په لاره کی دا خبره راغله چه رسول الله ﷺ ته چا خبر وکړو چه څه دشمن دے تا ته په لاره کی راوځی او جنګ درسره کوی، په غَيقَه علاقه کی راوځی او ددے خبرے خطر وو نو نبی علیه السلام داسے وکړو چه خپله د عام صحابه کرامو سره په عامه لاره باندے روان شو او څه مجاهدینو ته ئے وویل چه تاسو لا احرام مهٔ تړئ او د غَيقَه په لاره روان شئ او معلومات واخلئ چه دشمن شته او که نهٔ؟ که دشمن وی چه مونږ هم ورله د جنګ تیارے وکړو او که دشمن نهٔ وی نو تاسو به روستو احرام وتړئ،

(قانون دا دے چه سړے د میقات نه بغیر د احرام نه نشی تیریدے لکه ذو الحلیفه د مدینے والا میقات دے چه څوك د حج یا د عمرے په نیت د هغے نه ځی نو ددے نه مخکی به احرام تړی هسے اخوا نشی تیریدے که ودے نهٔ تړلو نو بیا به ګناهګار ئے لکه دا خبره د احادیثونه معلومیږی او بعض علماء وائی چه دم پرے لازمیږی.

دوی چه کله غیقے علاقے ته ورسیدل نو خبره غلطه وه دشمن نهٔ وو راوتے. نو دغه مسلمانانو د همدغه ځای نه احرام وتړلو او بیرته میقات ته راواپس نشو ځکه چه د دوی د میقات نه د عمرے اراده نهٔ وه نو همدغه ځای د دوی دپاره میقات جوړیږی ددے مثال داسے دے چه یو سړے جدے ته هسے کاروبار یا د ملګرو ملاقات له ځی بیا هلته ئے اراده د عمرے وکړه نو د همدغه ځای نه به احرام تړی او میقات ته راواپس کیدل ضروری نهٔ دی. او که د میقات نه بهر ځای نه ستا اراده وی چه حج یا عُمره به کوم نو بیا به د میقات نه احرام تړے اخوا ترے نشے تیریدلے.

یو ابو قتاده رضی الله عنه پکی پاتے شو چه دهٔ احرام ونهٔ تړلو،

فتح الباری لابن حجر ٤/ ٢٣) .

نو په حدیث کی واقعه راځی چه دوی روان وو نو په لاره کی دے احرام والو د صحرائی خرو رَمَه ولیده (او دا ډیر ښه ښکار دے او دے ته ئے زړه هم کیدو)

لیکن په حالت د احرام کی ښکار کول او هغے ته اشاره کول یا هغه چا ته خودل حرام

دی بیا به د هغې بدله ورکوې، ابوقتاده رضی الله عنه په یوځای کې غفلت کې ناست وو نو دې محرمینو خپل مینځ کې وخاندل چه څو مره ښکاري دې او غفلت کې ناست دې لیکن حال ئې ورته نۀ وئیلو چه ورشه ورپسې ځکه بیا هغوی باندې حرامیږی نو پدې کې د دوی په خندا باندې ابوقتاده پو هه شو چه سرئې راوچت کړو ښکار ئې ولیدو چه روان دې نو دا زر په جلتئ باندې اس ته وختلو او ښکار پسې ئې منډه وهله نو ددۀ نه چابك پريوتو نو دۀ دې کسانو ته ووېل چه دا چابك راوچت کړئ هغوی ووېل مونږ محرمین یو مونږ له جائز نۀ دی چه څا سره د ښکار په وژلو کې مدد وکړو، ابوقتاده رضی الله عنه وائی زۀ غصه شوم او د اس نه راکوز شوم او چابك مې راواخستو او ښکار پسې مې ورمنډه کړه نو ما يوه صحرائی خرۀ زخمي کړه او ذبح مې کړه او بیواځې مې اس ته راوچته کړه او دې ملګرو خوا ته مې راوړه نو پخه مو کړه او ما او ملګرو وخوړه۔

پدې کې روستو ددې محرمینو په زړه کې راغله چه دا خو مونږ د ښکار غوښه وخوړه دا خو به مونږ له جائز نۀ وی، ابوقتاده رضی الله ع نه فرمائي:

ما ورته ووېل چه زۀ به مخکې لاړ شم او د نبی علیه السلام نه به دې باره کې تپوس وکړم نو زۀ په جلتئ باندې لاړم په مینځ د شپه کې راله په لاره کې يو سړې د غفار قبیلې مخې ته راغې، ما ترې تپوس وکړو (أَيْنَ تَرَكْتَ النَّبِيَّ ﷺ ؟)

تا نبی علیه السلام چرته پريښوډو؟ هغه ووېل: په تِعْهِن علاقه کې (وَهُوَ قَائِلٌ السُّقْيَا) او هغه به په سقيا علاقه کې د غرمې خوب دپاره کوزيږی،

نو زۀ راغلم او ما رسول الله ﷺ ته ووېل چه یارسول الله ستا ملګری په تا باندې سلام وائی او هغوی يريږی چه ستا نه ايسار نشي ډير روستو پاتې شويدی نو هغوی ته انتظار وکړئ، بيا ترې ما تپوس وکړو چه ما صحرائی خر ویشتلې دې او دې ملګرو په حالت د احرام کې خوړلې دې؟، وې فرمايل: دې مُحرمینو کې چا اشاره کړې وه يا ئې امر کړې وو؟ هغه ووېل نۀ، وې فرمايل: ددې خوراك جائز دې او که تاسو سره د هغې نه څه برخه وی ما ته ئې هم راکړئ نو هغه سره زیاتې غوښه وه هغه ئې نبی علیه السلام ته ورکړه او وې خوړله، اشاره ئې دې ته کوله چه دا داسې حلاله غوښه ده چه زۀ ئې هم خورم هيڅ کراهت او شبهه پکې نشته۔

(صحيح البخاری مع فتح الباری کتاب جزاء الصيد : ۱۸۲۱)

نو په مخکنئ طریقه رسول الله ﷺ مکے ته ننوتو چه دۀ او ددۀ ملګرو تلبیه وئیله چه دا د توحید کلمه ده (لا شریك لك) دا په مشرکانو ډیره بده لګیده نو طواف ئے وکړو په طواف کی د رسول الله ﷺ نه صحابه کرام راتاؤ شوی وو هسے نۀ چه د مشرکانو نه څوك ورته تکلیف ورنکړی.

نو پدے کی عبد الله بن رواحه رضی الله عنه د رسول الله ﷺ اُوښه د واګو نه نیولے وه او په طواف کی ئے شعرونه شروع کړل،

(حال دا چه طواف د ذکر شے دے چه خلك پکی سبحان الله والحمد لله والله اکبر ووائی نبی علیه السلام فرمائی: چا چه طواف وکړو او د خیر نه بغیر ئے نورے خبرے ونکړے (او ذکر ئے کولو) نو الله به دومره اجر ورکړی لکه یو غلام چه آزاد کړی او په هر قدم به ئے یوه نیکی لیکلے شی خو شرط دا دے چه (فَاَحْصَاهُ) په ښائسته طریقه سره ئے کوی توجه ئے پکی وکړه».(سنن الترمذی ۹۵۹ بسند صحيح - البانی)

حدیث کی دی : (اَلطَّوَافُ بِالْبَيْتِ صَلَاةٌ اِلَّا اَنَّكُمْ تَتَكَلَّمُوْنَ فِيْهِ) د بیت الله نه طواف کول د مانځه په شان دی مګر دومره ده چه تاسو له پدے کی خبرے جائز دی

(فَمَنْ تَكَلَّمَ فِيْهِ فَلَا يَتَكَلَّمُ اِلَّا بِخَيْرٍ) (المستدرك ۱۶۸۶) صحيح الجامع (۳۹۵۵)

نو څوك چه پدے کی خبرے کول غواړی نو صرف د خیر خبرے دے کوی.

(بے ځایه خبرے به نۀ کوئ)

سلفو به په طواف کی ډیر احتیاط کولو، ډیره توجه به ئے پکی کوله.

نو عبد الله بن رواحه رضی الله عنه داسے شعرونه ویل : ـ

خَلُّوا بَنِی الْكُفَّارِ عَنْ سَبِيْلِهٖ	❁	خَلُّوا فَكُلُّ الْخَيْرِ فِیْ رَسُوْلِهٖ
قَدْ أَنْزَلَ الرَّحْمٰنُ فِیْ تَنْزِيْلِهٖ	❁	فِیْ صُحُفٍ تُتْلٰی عَلٰی رَسُوْلِهٖ
يَا رَبِّ اِنِّیْ مُؤْمِنٌ بِقِيْلِهٖ	❁	اِنِّیْ رَأَيْتُ الْحَقَّ فِیْ قَبُوْلِهٖ
بِأَنَّ خَيْرَ الْقَتْلِ فِیْ سَبِيْلِهٖ	❁	اَلْيَوْمَ نَضْرِبُكُمْ عَلٰی تَنْزِيْلِهٖ
ضَرْبًا يُزِيْلُ الْهَامَ عَنْ مَقِيْلِهٖ	❁	وَيُذْهِلُ الْخَلِيْلَ عَنْ خَلِيْلِهٖ

(۱) اے د کفارو بچو دے نبی ته لاره پریدئ، ځکه چه ټول خیرونه الله تعالیٰ په رسول الله ﷺ کی اچولی دی.

(۲) رحمن ذات په خپل کتاب کې رالیږلي چه هغه په صحیفو کې لیکلے شویدی او په رسول الله ﷺ باندے لوستلے کیږی۔
(۳) اے ربه زهٔ د هغه په خبره ایمان راوړم یقیناً ما د هغے په قبلولو کې حق لیدلے دے۔
(٤) (هغه دا خبره ئے په کتاب کې نازله کړیده) چه بیشکه غوره قتل خو هغه دے چه د الله په لاره کې وی۔ نن ورځ به مونږ تاسو د الله په کتاب باندے وهو۔ (۵) داسے وهل چه کوپړئ به د سر نه گوزار کړی او یو دوست به د بل دوست نه غافله کړئ۔
داسے خبرے ئے ورته وکړے گویا که اعلان جنگ ورسره کوی۔
نو عمرفاروق چه د الله په امر کې ډیر سخت وو هغه وویل: اے ابن رواحه ! تا خو دوه نقصانه وکړل (بَيْنَ يَدَىْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ وَفِىْ حَرَمِ اللّٰهِ تَقُوْلُ الشِّعْرَ؟)
د رسول الله ﷺ مخے ته او بل د الله په حرم کې تهٔ شعرونه وائے؟ (مطلب ئے دا وو چه دا د ذکر ځای دے او تهٔ شعرونه وائے) او دریم نقصان دا دے چه دا خو مشرکانو ته د جنگ اعلان کول دی او دوی سره خو زمونږ صلح ده۔
نو رسول الله ﷺ دا خبره واوریده نو عمر ته ئے وویل: خَلِّ عَنْهُ يَا عُمَرُ، فَلَهُوَ أَسْرَعُ فِيْهِمْ مِنْ نَضْحِ النَّبْلِ) دا پریږدهٔ اے عُمره چه وائی، ځکه چه خامخا دا شعرونه ډیر تیز دی په دوی کې د ویشتلو د غشو نه) ځکه چه دے خلکو ته دومره دلائل ښکاره شو او اُوس هم شرك کوی او ایمان نهٔ راوړی نو دوی ته زورنه ورکول پکار دی۔
ددے نه معلومه شوه چه رسول الله ﷺ په طواف کې دداسے جهادی شعرونو اجازه ورکړه چه خلکو کې غیرت راپورته کوی او د دین دپاره وی او د رسول الله ﷺ د حقانیت دعوت دے۔ او هغه شعرونه صحیح نهٔ دی چه هسے تپے وی او خلك ئے د الله د کتاب نه مشغوله کړی وی۔
خو د سیرت د کتابونو نه دا هم معلومیږی چه رسول الله ﷺ هغه ته بیا وویل چه ذکر هم کوه۔ او دا ذکر ئے هم وخودلو (لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَاشَرِيْكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ، لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ صَدَقَ وَعْدَهُ وَنَصَرَ عَبْدَهُ وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ) نو هغه هم دا دعا وویله او نورو خلکو به هم ورسره وئیله۔

(السيرة الحلبية ٢/٧٨٤)

په صفا مروه کې به ئے دا دعا درے درے کرته وئیله او په مینځ کې به ئے پټه دعا کوله۔

پدے کی رسول الله ﷺ صفا او مروه ته لاړو او هلته ئے دعاګانے وکړے بیا شروع شو هغے کی ئے سعی وکړه یعنی اوه کرته پکی لاړو راغلو۔

بیا د هغے نه روستو نبی علیه السلام او صحابه کرامو سر وخرئیلو او بعض ملګرو سر لنډ کړو، بیا نبی علیه السلام امر وکړو چه چا سره هدایا (قربانیانی) وی دا ذبح کړئ، عمره کی ذبح نهٔ وی خو دا نبی علیه السلام ځکه بوتلے وے که چرته مشرکان ئے ایسار کړی نو د عمرے د احرام نه به ددے په ذبح سره وځی۔ بیا ئے هغه د مروه په خوا کی ذبح کړے او وے فرمایل: (هٰذَا الْمَنْحَرُ وَكُلُّ فِجَاجِ مَكَّةَ مَنْحَرٌ)

چه دا منحر دے او د مکے هره کوڅه د ذبح او قربانئ ځای دے۔

کله چه رسول الله ﷺ د عُمرے نه فارغ شو نو څه کسان ئے یاجُج علاقے ته ولیږل دے دپاره چه دوی د وسلو حفاظت ته کینی او هغه نور ملګری راشی او عمره وکړی نو هغوی راغلل او عمره ئے ادا کړه۔

رسول الله ﷺ درے ورځے په مکه کی وسیدو ځکه چه مشرکانو درے ورځو پورے اجازه ورکړے وه صرف د عُمرے اجازه نهٔ وه، بلکه د درے ورځو معاهده شوے وه، پدے موده کی به رسول الله ﷺ طوافونه هم کول او په بیت الله کی ئے به ئے جَمعے سره مونځونه ورکول او بلال رضی الله عنه به اذانونه هم کول او په مشرکانو باندے دا اذان ډیر بد لګیدو (د الله توحید ئے نشو برداشت کولے) لیکن د وعدے د وجه نه ئے څه ورته نشو وئیلے ددے وجه نه دا غلیظ مشرکان د مکے نه وتلی وو چه په نبی علیه السلام مو نظر ونهٔ لګی او د دوی اذانونه او تلبیه وانهٔ ورو۔

حافظ ابن کثیر او واقدی رحمهما الله وغیره اهل سیرت پدے موقعه د بعض مشرکانو خبرے رانقل کړی: کله چه رسول الله ﷺ په کعبه کی وو نو رسول الله ﷺ بلال ته حکم وکړو چه د کعبے دپاسه وخیژی او اذان وکړی او دا د ماسپښین وخت وو نو هغه اذان شروع کړو نو پدے وخت کی عکرمه بن ابی جهل (د ابوجهل ځوی) وویل : (لَقَدْ أَكْرَمَ اللّٰهُ أَبَا الْحَكَمِ حِيْنَ لَمْ يَسْمَعْ هٰذَا الْعَبْدَ يَقُوْلُ مَا يَقُوْلُ)

یقیناً الله تعالیٰ ابوالحکم (یعنی ابوجهل) ته ډیر عزت ورکړو چه ددے غلام دا خبرے ئے وانهٔ وریدے (او ددے نه مخکی مړ شو) صفوان بن امیه وویل :

(اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ أَذْهَبَ أَبِیْ قَبْلَ أَنْ یَّرٰی هٰذَا) الله لره حمد دے چه زما پلار ئے وفات

وکړو مخکې ددې نه چه دا حالت وینې. خالد بن اَسید وویل :
(اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَمَاتَ اَبِیْ وَلَمْ یَشْهَدْ هٰذَا الْیَوْمَ حَتّٰی یَقُوْمَ بِلَالٌ یَنْهَقُ فَوْقَ الْبَیْتِ)
الله لره حمد دے چه زما پلار ئے وژلے دے او دے ورځے ته ئے حاضر نۀ کړو چه بلال راپاځیږي او د بیت الله دپاسه رمباړی وهي).
او سهیل بن عمرو او د هغه سره نورو کسانو چه کله د بلال اذان واوریدو (نو د ډیر خفګان او ستومانۍ نه ئے) مخونه پټ کړل.
(البدایة والنهایة ٤/٢٦٤) مغازی الواقدی (٢/٧٣٨)
(مشرکان په باطل باندے خوشحاله وی او په هغے باندے د الله شکر ادا کوی)
مګر دے کسانو ته الله تعالیٰ روستو هدایت وکړو او د ټولو نه صحابه کرام او اُوچت خلك او د الله اولیاء جوړ شو. رضی الله عنهم وارضاهم.
دلته په مکه کی اُوس فی الحال بتان هم پراتۀ دی خو بیا به هم نبی علیه السلام عبادت نۀ پریخودو.
(ددے نه دا فائده د احادیثو په کتابونو کی معلومیږی چه د مسجد حرام او مسجد نبوی او د بیت المقدس خصوصیت دا دے چه که هلته بتان هم پراته وی نو تۀ به د خپل رب عبادت کوے، هغه مسجد به نۀ پریدے او نورو مسجدونو کی دا قانون دے چه که هلته بتان وی یا تصویرونه لګیدلی وی یا قبرونه وی هغه مسجد کی به مونځ نۀ کوے، ددے مسجد نه علاوه بل مسجد ته ورشه، او د دغه درے مساجدو په مقابله کی نور مساجد نشته چه مونږ هغے ته لاړ شو او دغه فضیلت حاصل کړو نو پدے وجه به رسول الله ﷺ سره د شرك د مشرکانو نه په دغه ځای کی عبادتونه کول.
درے ورځے چه په تیریدو شوے نو د وخت نه مخکی مشرکانو یو سړے د حُوَیطب بن عبد العُزی په نوم راولیږلو (چه دا روستو مسلمان شویدے).
چه د قریشو نور کسان هم ورسره وو دا قریشو ددے دپاره مقرر کړے وو چه محمد (ﷺ) به د مکے نه وباسی.
او علی رضی الله عنه له ورغلل ځکه چه د نبی علیه السلام سره ملاویدل ورته طبعاً ګران وو، هغه ته ئے وویل : (قُلْ لِصَاحِبِكَ اُخْرُجْ عَنَّا فَقَدْ مَضَی الْاَجَلُ)
(تۀ خپل ملګری ته ووایه چه زمونږ نه لاړ شی ځکه چه نیټه پوره ده)

نو پدے کی د الله رسول د هغوی سره ملاؤ شو او هغوی ته ئے ترغیب ورکړو او دا ئے ورته وویل چه تاسو ته څه ضرر دے چه زهٔ دلته لږ وخت زیات تیر کړم او ورسره یو دعوت ئے هم ورکړو څکه چه رسول الله ﷺ دا خلك د ځان سره مانوس کول غوښتل، ځان سره ئے ورله مینه پیدا کوله (د نبی علیه السلام غرض خو دا وو چه دے خلکو ته هدایت وشی صرف دشمنی کول ئے غرض نهٔ وو)

نو دلته د الله رسول ورته دا خبره وکړه چه ما ستاسو نه یوه ښځه په نکاح کړیده نو زهٔ به وادهٔ وکړم او ولیمه به تیاره کړم او تاسو به هم راوغواړم او شریك به دا طعام وخورو دا مو خوښه نهٔ ده ؟ هغوی وویل : (لَاحَاجَةَ لَنَا فِيْ طَعَامِكَ فَاخْرُجْ عَنَّا)

زمونږ ستا طعام ته هیڅ ضرورت نشته خو ته زمونږ نه ووځه۔

ډیره سختی ئے وکړه د نبی علیه السلام غرض دا وو چه دے خلکو کی به نرمی پیدا شی څکه چه څوك د چا طعام وخوری نو هغه بیا دومره سختی نهٔ کوی۔

(ددے وجه نه علماؤ لیکلی دی چه داعی دپاره دا پکار ده چه د غلطو خلکو ډوډئ به نهٔ خوری څکه چه بیا ورته د دین دعوت نشی کولے، د حق خبره ورته نشی کولے)۔

نبی علیه السلام پدے مقام کی نکاح کړے وه مخکی د احرام نه او پس د احرام نه، میمونه رضی الله عنها ئے په نکاح کړے وه۔

دا د احادیثو او د سیرت په کتابونو کی راغی او د سړی په زړه کی اشکال راځی چه ددے څه مطلب دے ؟ آیا په حالت د احرام کی دا نکاح شوے وه او که نهٔ مخکی یا روستو د احرام نه ؟ لیکن ددے ډیر ناشنا راز دے۔

هغه دا چه رسول الله ﷺ چه کله د مدینے نه راتلو نو مخکی نه ئے خپل تره ځوی جعفر بن ابی طالب رضی الله عنه مکے ته ولیږلو او ورته ئے وویل چه په مکه کی یوه زنانه ده چه د عباس رضی الله عنه ښینے ده چه میمونه د هغے نوم دے او هغے ایمان راوړیدے نو زما دپاره د هغے خِطبه (جرګه) وکړه، سیدنا جعفر مخکی نه لاړو او میمونے سره ئے خبره وکړه چه د الله رسول ستا مطالبه کوی، هغے وویل چه زما واك د عباس سره دے دا زما ولی شو څکه چه پلار او وروڼه وغیره ئے نهٔ وو نو واك ئے اَوښی ته وسپارلو، (د سیدنا عباس بی بی ام الفضل لبابه بنت الحارث او میمونه بنت الحارث دواړه خویندے وے)

پدے کی چه کله د الله رسول د مدینے نه راروان شو او د عمرے په اراده راووتو نو په حالت د احرام کی وو او په حالت د احرام کی خو نکاح نهٔ کیږی ځکه چه حدیث کی دی : (لَايَنْكِحُ الْمُحْرِمُ وَلَا يُنْكِحُ) يعنی محرم سړے به خپله هم نکاح نهٔ کوی او بل له به هم په نکاح نهٔ ورکوی) نوکله چه رسول الله ﷺ د احرام نه بهر شو نو سمدست د میمونے رضی الله عنها سره د عباس رضی الله عنه په واسطه نکاح وکړے شوه او مخکی نه ورسره خبره شوے وه۔

نو په هغه نکاحونو کی به طریقه دا وه چه د نکاح په اوله ورځ به ئے واده هم کولو دا به ئے څه د عار او شرم خبره نهٔ ګنړله لکه زمونږ پښتانه چه دا شرم ګنړی۔

نو ځکه رسول الله ﷺ قریشو ته ووئیل چه ما ستاسو نه د یوے ښځے سره نکاح کړیده چه هغه میمونه بنت الحارث ده۔

رسول الله ﷺ دا نکاح ولے کوله؟ (د رسول الله ﷺ نکاح ته ضرورت نهٔ وو ځکه چه رسول الله ﷺ پدے وخت کی تقریباً د نهه پنځوس کالو وو) او نورے بیبیانی ئے هم شته لیکن دلته پدے کی فائده وه هغه دا چه د عربو دا عادت وو چه چا ته به ئے خپله خور لور ورکړه نو هغه به ئے داسے ګنړلو لکه د خپل ځوی په شان او د خپل زوم سره به کلك ودریدو او خپلولی به ئے ورسره په کلکه پالله ددے وجه نه رسول الله ﷺ د عربو د مختلفو قبیلو نه ودونه کړی وو۔

بله نکته پدے کی دا وه چه رسول الله ﷺ بادشاه او د مسلمانانو خلیفه دے او بیا د الله نبی دے او د اوچت نسب والا دے د قریشو سردار دے داسے شخص چه د چا نه مطالبه وکړی چه ما له دا خور لور دے راکړه نو دا د هغه قوم عزت وی نو رسول الله ﷺ دلته د قریشو یو نوع عزت وکړو د هغوی د مانوس کولو او مائله کولو دپاره۔

او پدے ټولو کی مقصد دا وو چه خلك ایمان راوړی او د الله صحیح بندګان جوړ شی، د دعوت فکر ورسره وو۔ ددے دپاره رسول الله ﷺ مختلفے لارے کتلے او هغه به ئے استعمالولے نو یو د هغے نه نکاحونه دی۔

(**فائده** : ددے نه معلومه شوه چه په ولیمه کی سړے کافر ته هم دعوت ورکولے شی چه راشه زما ډوډئ وخوره، ولیمه کی صرف دا ناروا ده چه سړے مالداره راغواړی او غریبانان پریدی۔ او د فخر او خیلاء په نیت باندے وی۔

۲- د کافرانو په ملك (دار حرب) کی هم سرے نکاح کولے شی پدے شرط چه په هغے کی فائده وی لکه مکه پدے وخت کی دار حرب دے او نبی علیه السلام په کی واده کولو)۔

نو رسول الله ﷺ د وعدے مطابق خپل غلام ابورافع رضی الله عنه ته حکم وکړو چه تهٔ اعلان وکړه چه د ماښام نه مخکی مخکی به هیڅ مسلمان په مکه کی نهٔ په پاتے کیږی او ځئ چه وځو او سَرِف علاقے ته به ځان رسوو، هلته ئے ځان له خیمے ووهلے او هلته دیره شو۔ او خپله ئے ابورافع په مکه کی پریښودو او ورته ئے وویل چه کله بیګاه شی نو تهٔ به ځان سره میمونه سَرِف مقام ته راولے چه دا د مکے نه بهر ځای دے، د مکے نه دولس کیلو میتره وړاندے علاقه ده۔

(ابورافع اول کی د عباس رضی الله عنه غلام وو بیا هغه نبی علیه السلام ته ورکړو نو نبی علیه السلام آزاد کړو)

نبی علیه السلام وفرمایل: که دا کسان دلته وادهٔ نهٔ پریدی نو په سَرف مقام کی به دا واده وکړو۔ نو ابورافع رضی الله عنه سره څه نور ملګری هم پاتی شو او هغوی میمونه تیاره کړه او په اُوښ باندے ئے کینوله او سَرِف علاقے ته راروان شو۔

نو په لاره کی د مکے سُفهاء (بیوقوف) او کم عقلو بیرته دا جنګ راتازه کول غوښتو ځکه چه شریان وو په نفسونو کی ئے شر پروت وو، د هغوی ګمان دا وو چه دے خلکو سره زمونږ د عمرے وعده وه او هغه پوره شوه نو اُوس ورسره جنګ کول پکار دی نو پدے کی هغوی د ابورافع رضی الله عنه بی عزتی وکړه او کنځلے ئے ورته وکړے او د وهلو اراده ئے هم وکړه لیکن مشرانو پوهه کړل چه زمونږ دے خلکو سره د لسو کالو پورے وعده ده چه یو بل سره به جنګ نهٔ کوو۔

نو ابورافع او د هغه ملګری د میمونه رضی الله عنها سره په تکلیف باندے سرف علاقے ته راورسیدل او دلته رسول الله ﷺ د هغے سره واده وکړو۔

د ام المؤمنین میمونے رضی الله عنها په باره کی لطیفه دا ده چه میمونه رضی الله عنها سره په سَرِف علاقه کی نکاح شویده بیا روستو په همدے ځای کی واده شوے هم ده او بیا په روستو زمانه کی په سَرِف علاقه کی وفات شوے هم ده، دا حج له راغلے وه او بیماره شوه نو وفات شوه او بیا په همدے ځای کی دفن هم شوه، مدینے ته ئے نقل

نکره ځکه چه د مړو لرے نقل کول حرام دی۔

کله چه د میمونے رضی الله عنها د وفات خبر سیدنا عبد الله بن عباس رضی الله عنه ته ورسیدو هغه سمدست په سجده پریوتو، چا ورته وویل چه سجده دے ځنګه وکړه؟ هغه وفرمایل: ما د رسول الله ﷺ نه ارشاد اوریدلے دے چه تاسو ته کله یو ناشنا نښه راشي نو الله ته سجده کوئ (وَأَيُّ آيَةٍ أَعْظَمُ مِنْ ذَهَابِ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ ﷺ)

او د نبی ﷺ د بیبیانو د وفات کیدو نه به بله لویه نښه کومه وی)۔

د میمونے رضی الله عنها سر ډیر وړوکے شوے وو هغے په حج کی ډیر وړوکے کړے وو دے دپاره چه بیٰ ډوله شی ځکه چه د رسول الله ﷺ د وفات نه روستو به هغوی ځان بد رنګ ښکاره کولو او بل د حج او د عمرے د وجه نه به ئے هم دا کار کولو۔

سَرف علاقه چه ځولځ: مکے نه راوځی او دولس کیلو میټره مزل وکړی نو د سړك په غاړه د هغے قبر دے اُوس دا علاقه ډیره آباده ده۔

کله چه واده وشو نو رسول الله ﷺ ځان سره روانه کړه او مدینے ته راواپس شول۔

د سیدنا حمزه ﷺ لور آوازونه کوی

پدے ځای کی دا واقعه هم راغله چه کِله رسول الله ﷺ د مکے نه راوتو نو د حمزه رضی الله عنه بچی لا په مکه کی وو نو د حمزه وړه لور وه هغے د نبی علیه السلام پسے ژړل او دا آوازونه ئے کول (يَا عَمِّ يَا عَمِّ) اے زما تره اے زما تره ما ځان سره واخلئ۔

نو پدے کی سیدنا علی رضی الله عنه وویل چه دا زمونږ د تره لور ده ولے ئے په مکه کی د مشرکانو په مینځ کی پریدو نو هغه ئے د لاس نه راونیوله او ځان سره ئے په اُوښ کینوله او مدینے ته ئے راوسته په لاره باندے ددرے صحابه کرامو اختلاف شو، علی، جعفر، او زید بن حارثه رضی الله عنهم۔ علی رضی الله عنه وویل چه دا زما د تره لور ده او ما راخستے ده زۀ به ئے تربیت کوم (ځکه چه د یتیم په تربیت کی ډیر زیات اجرونه دی چه صحابه کرامو به پرے د یو بل نه سیالی کوله)

او زید بن حارثه رضی الله عنه وویل چه دا زما د ورور لور ده (ځکه چه رسول الله ﷺ د زید او حمزه دواړو ورور ولی قائمه کړے وه هغے ته مواخات وائی)

او جعفر رضی الله عنه وویل چه دا زما یو خو د ترهٔ لور ده او بله ددے خاله (ترور) زما په نکاح کی ده، نو دوی دا جگړه رسول الله ﷺ ته ویوړه، (هغوی به اختلافات په حدیث باندے حل کولو زمونږ په زمانه کی اختلافات ولے نهٔ ختمیږی ځکه چه کتاب او سنت ته رجوع نشته) نو نبی علیه السلام تولو ته تسلی ورکړه، علی رضی الله عنه ته ئے وویل : (أَنتَ مِنِّی بِمَنزِلَةِ هَارُونَ مِنْ مُوسٰی) تهٔ زما نه داسے مرتبه لرے لکه هارون علیه السلام چه د موسیٰ علیه السلام سره لرله۔ یعنی دومره نزدے ئے۔

او زیدِ بن حارثه ته ئے وویل : (أَنتَ أَخُونَا وَمَوْلَانَا)

تهٔ خو زمونږ وروړ ئے او زمونږ آزاد شوے غلام ئے۔ (یعنی د اهل بیتو سره پیوسته ئے) او جعفر ته ئے وویل : (أَشْبَهتَ خَلْقِی وَخُلُقِی) تهٔ زما د شکل او زما د اخلاقو سره مشابه ئے۔ ځکه چه جعفر په شکل کی د رسول الله ﷺ په شان وو او اخلاق ئے هم د هغه په شان وو۔

بیا ئے فیصله د جعفر دپاره وکړه او دا مسئله ئے وکړه : (اَلْخَالَةُ بِمَنزِلَةِ الْأُمِّ)

خاله (ترور) د مور په شان ده او بچے به مور ته واپس کولے شی۔

ددے نه دا مسئله معلومه شوه چه په حضانة (پرورش، تربیت) کی به خاله (ماسی) مخکی کولے شی په عَمّه (ترور) باندے ځکه چه دلته صفیه رضی الله عنها موجوده وه او نبی علیه السلام خالے ته دا یتیمه ورکړه۔

د خالد بن الولید (رضی الله عنه) د اسلام واقعه

بیا بعض سیرتونو کی راځی چه رسول الله ﷺ کله سرف علاقه کی وو نو د دعوت یوه خبره ئے وکړه، کسان ناست وو نو وے فرمایل: خالد بن ولید به چرته وی؟ (لا اوسه پورے مسلمان شوے نهٔ دے) د هغه وروړ (ولید بن الولید) وویل : اے د الله رسوله ! هغه به الله تعالیٰ راولی۔ نبی علیه السلام وفرمایل: (مَا مِثْلُ خَالِدٍ یَجْهَلُ الْإِسْلَامَ)

دا ډیر هوښیار او ذکاوت والا انسان دے د هغه په شان سړے دے وی او اسلام نه دے ناخبره وی۔ نو دے ولے اسلام نهٔ راوړی؟ (ځکه اسلام خو واضح او صفا او فطری دین دے که څوك لږ شان سوچ وکړی سمدست به دے ته راځی ځکه چه کتاب او سنت کی

دا کمال دے چه چا لړ شان سوچ وکړو او ضد ئے د ځان نه لرے کړو نو خامخا به دے ته راځی د یو سړی اهل حدیث کیدل فطری کار دے، خوك چه نۀ اهل حدیث کیږی نود هغه فطرت به خراب وی (اهلحدیث کیدل معنیٰ د قرآن او حدیث تابع کیدل) عام مُلیان چه دے ته نۀ راوړی ځکه چه د هغوی په زړونو کی ضد وی او ابلیس په کی ناستِ وی، سینه ئے ورله تنګه کړی وی لکه آسمان ته خیژی)

او دا ترغیب ئے هم ورکړو: (لَوْ جَاءَ نَا خَالِدٌ بِشَوْكَتِهٖ لَنُكْرِمَنَّهٗ وَلَقَدَّمْنَاهُ عَلٰی غَيْرِهٖ)

که چرته مونږ ته خالد راشی او خپل طاقت راوړی نو مونږ به ددهٔ اکرام وکړو او په ډیرو خلکو به ئے مخکی کړو)

نو پدے کی ددهٔ ورور ولید بن الولید خالد بن الولید ته خط ولیکلو او دا خبرے ئے رته پکی ولیکلے: (بسم الله الرحمن الرحیم أَمَّا بَعْد: فَإِنِّی لَمْ أَرْ أَعْجَبَ مِنْ ذَهَابِ رَأْيِكَ عَنِ الْإِسْلَامِ وَقِلَّةِ عَقْلِكَ وَمِثْلُ الْإِسْلَامِ يَجْهَلُهٗ أَحَدٌ)

اما بعد: ما ته ډیر تعجب دے چه ستا رایه د اسلام نه کوم خوا تلے ده او ستا عقل ډیر کمزورے دے ځکه چه د اسلام په شان واضح دین په چا باندے څنګه پټ پاتی کیږی.

او ما نه ستا په باره کی رسول الله ﷺ تپوس کړے چه خالد چرته دے؟ ما ورته وویل چه الله تعالیٰ به ئے راولی نو هغه وفرمایل: چه د خالد په شان سړے د اسلام نه څنګه ناخبره شی او که دا خپل قوت د مسلمانانو سره د مشرکانو په خلاف ملګرے کړی نو دا به ددهٔ لره غوره وی او مونږ به ددهٔ اکرام وکړو او په ډیرو خلکو به ئے مخکی کړو نو جلتی کوه نو تا نه چه کومے نیے موقعے زائله شویدی هغه راوګرځوه.

کله چه دا خط دهٔ ته راورسیدو نو ددهٔ په زړه کی د اسلام سره مینه پیدا شوه او اراده ئے وکړه چه مدینے ته هجرت وکړی،

خالد وائی: زهٔ په مکه کی د صفوان بن امیه پسے ورغلم ما ورته وویل: اے ابو وهب ! آیا تهٔ نهٔ ګورے چه محمد (ﷺ) په عرب او عجمو باندے غالبه شو که مونږ د هغه خوا ته ورشو او د هغه تابعداری وکړو دا به ښه وی ځکه چه د هغه شرافت زمونږ شرافت دے. نو هغه راته وویل چه که زما نه علاوه ټول خلك ایمان راوړی خو زهٔ به ئے هیڅکله رانهٔ وړم. خالد وائی: ما ځان سره وویل چه دا خو هغه سړے دے چه ددهٔ پلار او ورور په بدر کی قتل شویدی ځکه داسے سخت دے.

بیا زهٔ د عکرمه بن ابی جهل سره ملاؤ شوم او هغه ته مے د صفوان په شان خبره وکړه نو هغه هم راته د صفوان په شان جواب راکړو، بیا ورته ما ووئیل : ما چه درته کومه خبره وکړه دا پټه وساته۔ هغه ووئیل : چا ته به څه نهٔ وایم۔

بیا زهٔ د عثمان بن طلحه الحَجَبِیُ سره ملاؤ شوم ما ووئیل چه دا زما دوست دے نو ما اراده وکړه چه دهٔ ته خبره ذکر کړم لیکن بیا مے دده مشران رایاد کړل چه دده پلار طلحه او دده تره عثمان بن ابی طلحه او دده څلور واړه ورونه، مسافع، جلاس، حارث او کلاب دا ټول په اُحد کی وژلے شویدی نو دا به چرته ایمان راوړی لیکن بیا مے ووئیل چه ما ته څه ضرر دے چه زهٔ ورته دا خبره ذکر کړم ځکه چه زهٔ دا دے اُوس روان یم نو ما ورته ووئیل: اے عثمانه ! زمونږ مثال داسے دے لکه ګیدړ چه په یوه سوړه کی وی چه یوه بوکه اُوبه پرے ورواړول شی بهر به راوځی، بیا مے ورته هغه خبره ذکر کړه کومه چه مے صفوان او عکرمه ته کړے وه نو دهٔ سمدست زما خبره ومنله او ما سره ئے وعده وکړه چه د رسول الله ﷺ خوا ته به ورځو او دائے ووئیل چه فلانی علاقه (یعنی هده) کی به یو بل سره صبا له ملاویږو که تهٔ مخکښ لاړے هلته به انتظار کوے او که زهٔ لاړم زهٔ به انتظار کوم نو د وعدے مطابق مونږ دواړه دغه ځای کی یو بل سره ملاؤ شو۔

د سیدنا عمرو بن العاص رضی اللہ عنہ د اسلام واقعه

نو دلته یوه بله واقعه راغله چه په هغے سره د خالد بن الولید په زړه کی دا اراده نوره هم مضبوطه شوه او هغه دا چه عمرو بن العاص چه دے وخت کی ئے ایمان نهٔ دے راوړے او بیا دا دواړه په اسلام کی یو ځای شو۔

کله چه د خندق غزا وشوه نو دهٔ خپلو ملګروته ووئیل چه زما رایه دا ده چه د محمد دا دین او کار په ټولو دینونو باندے په ډیر ناشنا طریقه غالبه کیدونکے دے او زما یوه مشوره ده او هغه دا چه مونږ به لاړ شو د نجاشی خوا ته د هغه سره به وسیږو ولے که دا محمد رسول الله ﷺ چرته غالب شی (نو مونږ به ډیر خراب کړی) نو مونږ چه د نجاشی د لاس د لاندے یو دا مونږ ته ډیره خوښه ده ددے نه چه د محمد د لاس د لاندے راشو یعنی هلته د نجاشی سره به یو او که دا محمد (ﷺ) مغلوبه شو نو خلاص به

ترے شو او بیا به خپلے دے علاقے ته راځو،

نو عمرو بن العاص سره د ملګرو نه نجاشي بادشاه ته روان شو او څان سره ئے څه هدیه (څرمنے) هم واخستے دا دویم ځلي تګ دے یو ځل مخکي د جعفر بن ابی طالب رضی الله عنه د ملګرو د راواپس کولو دپاره تلے وو۔ او دے وخت کي خپله پناه وړی۔ نو نجاشي ته ئے هدیه ورکړه او هلته دیره شو نو پدے کي نبي علیه السلام عمرو بن امیه الضمری رضی الله عنه لیږلے وو چه نجاشي بادشاه ته ووایه چه ما ته جعفر او د هغه ملګری راولیږه لکه مخکي دا واقعه ذکر شوه نو کله چه عمرو بن امیه الضمری نجاشي ته راغے نو عمرو بن العاص په زړه کي وویل چه که چرته دا سړے ما مړ کړو نو قریش به ما نه ډیر خوشحاله شي چه دا دومره بهادر سړے دے چه زمونږ دشمن ئے په حبشو کي هم مړ کړو

(او عمرو بن العاص ډیر پهلوان او ډیر هوښیار او د جاهلیت په زمانه کي د جفا کشو او سرکرده جنګیانو نه وو)

نو دهٔ نجاشي ته وویل چه دا عمرو بن امیهٔ الضمری د مدینے نه راغلے دے او زمونږ دشمنانو رالیږلے دے دا ما له راکړه زهٔ به ئے قتل کړم نو نجاشي بادشاه ورته سخت غصه شو او په پوزه ئے ورله سوك ورکړو او پوزه ئے پرے ویني کړه۔

عمرو بن العاص وائي په ما باندے ئے دومره یره راوسته چه ما ارمان وکړو چه زمکه چاودلے وے او زهٔ پکښي ننوتے وے۔ نو ما وویل اے بادشاه : که زما دا ګمان وے چه تهٔ به پدے خبره دومره غصه کیږے نو ما به تا نه سوال نهٔ وے کړے۔

بیا ورته نجاشي وویل چه آیا دا زهٔ تا له درکړم دا خو د هغه چا استازے دے (اَلَّذِیْ یَأْتِیْهِ النَّامُوْسُ الْأَکْبَرُ الَّذِیْ کَانَ یَأْتِیْ مُوْسٰی) چه دهٔ ته جبریل علیه السلام راځي او وحي ورته راوړی لکه څنګه چه په موسی علیه السلام باندے به ئے وحي راوړه)۔

او لکه څنګه چه الله تعالیٰ موسیٰ علیه السلام په فرعون او د هغه په لښکرو غالبه کړے وو نو دغسے به محمد رسول الله ﷺ هم په دے ټولو خلکو غالبه کیږی۔

نو پدے کي دے خبرے په عمرو بن العاص باندے اثر وکړو (ځکه چه بادشاهان او اُوچت خلك داسے خبره وکړی نو خلك ترے متاثره کیږی)

نو عمرو بن العاص وویل : آیا دا ګنے د الله رسول دے ؟، نجاشي وویل : خوار شے، زما

خبره ومنه او ددهٔ تابعداری شروع کړه قسم په الله چه دا خامخا په حق باندے دے۔

نو عمرو بن العاص وویل چه زهٔ تا سره په اسلام بیعت کوم او په رسول الله ﷺ باندے ایمان راوړم نو نجاشی بادشاه ورله لاس ورکړو چه ایمان راوړه۔ نو عمرو بن العاص غائبانه ایمان راوړو

د نجاشی نه چه بهر راووتو نو ملګروته ئے ونهٔ وئیل چه زما زړه کی اسلام واقع شویدے ځکه چه که ملګری خبر کړی نو څه چل به راته جوړ کړی نو د هغه ځای نه سیده مدینے ته راروان شو نو په لاره کی د خالد بن الولید سره ملاؤ شو چه هغه د مکے نه راروان وو اودا د فتح د مکے نه لږ شان مخکی زمانه ده۔نو عمرو بن العاص ترے تپوس وکړو؟ (أَيْنَ يَا أَبَا سُلَيْمَانَ؟) اے خالده! کوم خوا روان ئے؟ هغه وویل چه مونږ ته معلومه شوه چه محمد رسول الله ﷺ په حق باندے دے او دا د الله حق نبی دے نو زهٔ ورځم اسلام راوړم ترڅو پورے به مونږ داسے حالت کی یو،

نو عمرو بن العاص هم ورته خپله قصه وکړه چه زهٔ هم اسلام راوړم نو خالد بن الولید نور هم مضبوط شو۔ او دړے واړو هجرت وکړو او مدینے ته راغلل او په رسول الله ﷺ باندے ئے ایمان راوړو۔

عمرو بن العاص رضي الله عنه فرمائی: مونږ مدینے ته راغلو او اُوښان مو په حره (خوړ) کی کینول او ښائسته جامے مو واچولے بیا د مازیګر اذان وشو نو مونږ لاړو تردے چه په رسول الله ﷺ ورښکاره شو او د هغه مخ د ډیرے خوشحالئ نه زلیدو او مسلمانان د هغه نه ګیرچاپیره ناست وو زمونږ په اسلام باندے ډیر خوشحاله وو۔

اول خالد بن الولید رامخکی شو د رسول الله ﷺ سره ئے بیعت وکړو، بیا عثمان بن طلحه او بیا زهٔ رانزدے شوم ما نبی علیه السلام ته وویل: زهٔ تاسره په اسلام باندے بیعت کوم۔ نو رسول الله ﷺ لاس را اوږد کړو ما هم لاس اوږد کړو لیکن ما بیرته لاس راخکلو او دا مے ورته وویل چه زهٔ اسلام راوړم خو په یو شرط باندے:

(قَالَ تَشْتَرِطُ مَا ذَا؟) نبی علیه السلام وفرمایل: څه شرط دے؟ ما وویل: شرط دا دے چه ما ته به الله تعالیٰ مخکنی ګناهونه معاف کوی۔ رسول الله ﷺ وفرمایل:

(أَمَا تَعْلَمُ يَا عَمْرو! اِنَّ الإِسْلَامَ يَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهُ)

آیا تا ته پته نشته اے عَمْرَه! چه اسلام ټول مخکنی ګناهونه ختموی) نو عمرو بن

العاص رضی الله عنه هم بیعت وکړو او دا ګلان په دین کې داخل شو۔

عمرو بن العاص وائي: ما ته رسول الله ﷺ د ټولو خلکو نه ډیر بد ښکاره کیدو لیکن کله چه ما بیعت وکړو او د اسلام په دولت باندے مشرف شوم نو ما ته د رسول الله ﷺ نه په دنیا کې هیڅوك ډیر خوښ نهٔ وو۔

نبي علیه السلام پدے کار ډیر خوشحاله شو چه د قریشو ځوانان، پهلوانان او جنګیان په اسلام کې داخلیږي دا ډیره لویه فتح ده۔ نو رسول الله ﷺ خپلو ملګرو ته وفرمایل: (قَدْ اَلْقَتْ اِلَیْکُمْ مَکَّةُ أَفْلَاذَ کَبِدِهَا)۔ مکے تاسو ته د خپل جګر ټوټے راګوزار کړے) (د یو شخص په مسلمانیدو او حق ته راتلو باندے به خوشحالي کوے داسے به نهٔ وائے چه که اسلام او حق ته راځي رادے شي او که نهٔ راځي نهٔ دے راځي بلکه د هغوی دلجوئي پکار ده پدے کې مونږ ته د دعوت طریقه راښائي)۔

(الرحیق والروض الانف) السیرة الحلبیة (۲/۷۷۸)

د سیدنا عثمان بن طلحه رضی الله عنه اسلام

عثمان بن ابي طلحه خپله قصه بیانوی چه زما سره رسول الله ﷺ په مکه کې د هجرت نه مخکې ملاؤ شو نو زهٔ ئے اسلام ته راوبللم نو ما ورته وویل: اے محمده په تا تعجب دے چه تهٔ طمع کوے چه زهٔ به ستا تابعداري وکړم او حال دا چه تا د خپل قوم د دین خلاف کړیدے او یو نوے دین دے راوړیدے نو رسول الله ﷺ رانه روان شو، دے وائي: مونږ به په جاهلیت دور کې کعبه په یوم الاثنین (پیر) او یوم الخمیس (جمعرات) باندے کولاوه وله (ځکه چه دوی ته د کعبے د بندولو او کولاوولو (څوکیدارئ) واك سپارلے شوے وو دیته به ئے حجابة وئیلو، پدے وجه دهٔ ته حَجَبِي وائي) نو یوه ورځ رسول الله ﷺ راروان وو چه اراده ئے وه چه کعبے ته د نورو خلکو سره ننوزي نو ما ورسره سختي وکړه نو هغه ما سره د ډیر حِلم (او صبر نه) کار واخستو۔

بیا ئے ما ته وویل :(یَا عُثْمَانُ، لَعَلَّكَ سَتَرٰی هٰذَا الْمِفْتَاحَ بِیَدِیْ، أَضَعُهٗ حَیْثُ شِئْتُ)

اے عثمانه! شاید چه تهٔ به دا چابي زما په لاس کې وینے چه زهٔ به ئے هغه ځای کې اږدم چرته تهٔ ئے چه زهٔ غواړم)

دا د نبی علیه السلام پیشنگوئی وه چه دهٔ ته ئے ورکړه او همدغه شان وشوه چه په فتح د مکه کی رسول الله ﷺ دهٔ لره راوغوښتو او دهٔ ته ئے د کعبے چابی وسپارله او دا ئے ورته وویل چه تاسو الله تعالیٰ په جاهلیت کی د کعبے د خدمت دپاره غوره کړی یئ او په اسلام کی هم۔

دا وائی چه ما وویل: (لَقَدْ هَلَکَتْ قُرَیْشٌ وَذَلَّتْ) قریش خو به په دغه وخت کی هلاك وی او ذلیلان به وی۔ نو هغه وویل: (بَلْ عَمُرَتْ یَوْمَئِذٍ وَعَزَّتْ)

بلکه په دغه ورځ به آباد وی او عزتمند به وی۔ (ځکه چه ډیر خلك به په اسلام کی داخل شی نو عزتمند به شی او دارنګه د هغوی یو قومی (رسول الله ﷺ) چه مکه فتح کړی نو دا به د هغه د ټول قوم عزت وی)

نو رسول الله ﷺ کعبے ته ننوتو نو زما په زړه کی د هغه دے خبرے ځای ونیولو او ما ګمان وکړو چه دده خبره به دغه شان کیږی څنګه ئے چه وویله نو ما د اسلام اراده وکړه خو زما قوم زهٔ ډیر سخت ورټلم، زهٔ بیا غلے شوم،

پدے طریقه وخت تیریدو کله چه د مکے د فتح ورځ شوه نو ما ته ئے دغه چابی راکړه نو ما ته د رسول الله ﷺ دغه مخکنۍ خبره رایاده شوه او ما وویل چه زهٔ ګواهی کوم چه تهٔ د الله حق رسول ئے۔

بیا کله چه رسول الله ﷺ مدینے ته هجرت وکړو نو قریش یریدل چه رسول الله ﷺ په دوی باندے حملے ونکړی دوی پدے حالت کی وو تردے چه د بدر واقعه پکی راغله نو زهٔ هم د نورو مشرکانو په ملګرتیا کی د رسول الله ﷺ په خلاف ووتلم او د رسول الله ﷺ په خلاف باندے ټولو معرکو ته حاضر شوم۔ (په اُحد کی دهٔ ته او دده ورونو ته جنډه حواله شوے وه لکه مخکی ئے تفصیل تیر شویدے)

عثمان وائی: هرکله چه رسول الله ﷺ مکے ته په عمرة القضاء کی راغے نو زما زړه الله تعالیٰ د مخکنی حالت نه بدل کړو او زما زړه کی اسلام ننوتو نو ما به فکر کولو په هغه حالت چه زهٔ په هغے باندے وم چه دا مونږ د څه عبادت کوو چه کاڼړی دی چه نهٔ آوریدل کوی او نهٔ لیدل او نهٔ نفع رسوی او نهٔ ضرر او ما به رسول الله ﷺ او د هغه ملګروته کتل او د هغوی د دنیا نه بیزاری ته به مے سوچ کولو نو دے به زما په زړه باندے ډیر اثر کولو نو ما به ویل (مَا عَمِلَ الْقَوْمُ اِلَّا عَلَی الثَّوَابِ لِمَا یَکُوْنُ بَعْدَ الْمَوْتِ)

دا خلك چه دا عملونه کوی دا صرف ددے دپاره چه د مرگ نه روستو دوی ته ثواب او بدله ورکړے شی۔ یعنی د آخرت په یره او امید باندے دا عملونه کوی۔

او ما به دا خوښوله چه زۀ رسول الله ﷺ ته وگورم تردے چه ما رسول الله ﷺ د باب بنی شیبه په خوا کی ولیدو چه د مسجد حرام نه وتو او ابطح خوړ ته روان وو کوم ځای ئے چه خیمے وهلے وے۔ نو ما اراده وکړه چه زۀ ورله خوا ته ورشم او د هغه لاس ونیسم او سلام پرے واچوم لیکن ما به پدے کار باندے عزم او بهادری نشوه کولے۔

تردے چه رسول الله ﷺ مدینے ته واپس شو بیا ما عزم وکړو چه زۀ به رسول الله ﷺ ته ورځم نو بیا ورسره خالد بن ولید ملاؤ شو او بطن یاجج ئے ورسره نیته کیخوده چه هلته به دواړه ملاویږی۔ او پدے طریقه بیا مدینے ته راغلل او ایمان ئے راوړو۔

علامه واقدی وائی : د عثمان بن طلحه مدینے ته راتلل په صفر (۸) کال کی وو بیا په مدینه کی مقیم وو تردے چه رسول الله ﷺ وفات شو بیا مکے ته واپس لاړو۔

دا هغه صحابی دے چه ام سلمه رضی الله عنها سره د کفر په زمانه کی ډیر احسان کړے وو چه هغے هجرت کولو نو دا ورسره په تنعیم علاقه کی ملاؤ شو او هغه ئے مدینے ته راورسوله او بیرته ته ترے مکے ته واپس شو دغه شان نیك عملی پکی وه پدے وجه ورته الله تعالیٰ د اسلام هدایت وکړو۔

ځوك چه د مخلوق سره احسان کوی الله تعالیٰ ورته د هدایت لارے کولاوه وی۔

(الاکتفاء بما تضمنه من مغازی رسول الله للکلاعی الاندلسی ۲/۱۲۸) وتلقیح فهوم اهل الاثر فی عیون التاریخ والاثر لابن الجوزی ۱/۱۰٤) مختصر تاریخ دمشق (۵/۱٦۸) لابن منظور الافریقی المصری)

OOOOOO

پدے کی نزدے یوه بله فتح دا وشوه چه د خزاعه قبیلے یو وفد راغے چه نبی ﷺ ته ئے خبر ورکړے چه مونږ کی هم ډیرو کسانو ایمان راوړے (خزاعه ټولے قبیلے ایمان نهٔ وو راوړے بلکه څه کسانو پکی ایمان راوړے وو) دا یوه بله فتح وه نبی علیه السلام د دوی په اسلام هم ډیر خوشحاله شو۔

ددے نه روستو رسول الله ﷺ په مدینه کی وسیدو او دلته نه به ئے د صحابه کرامو جماعتونه د جهاد دپاره لیږل چه هغے ته سرایا وائی۔ او د هغے نه روستو ئے یوه غټه غزا کړیده چه هغے ته غزا د موته وائی او د هغے نه بعد بیا فتح د مکے وشوه په اتم کال

باندې.

خو پدې اوم کال باندې رسول الله ﷺ خپله لور زینب ابو العاص بن ربیع ته واپس کړله په خپله زاړه نکاح باندې.

او پدې کال کې حاطب بن ابی بلتعه د مقوقس بادشاه نه راواپس شو چه د هغه سره ماریه او سیرین دوه وینځې وې او هغې دواړو په لاره کې ایمان راوړے وو چه ددې قصه مخکې د خطوطو په بیان کې تیره شوه.

چه کله رسول الله ﷺ د ددې عمرې نه واپس شو نو په همدې میاشت د ذو الحجه اوم کال د هجرت کې او بیا ددې نه روستو اتم کال کې رسول الله ﷺ څه سرایا ولیږلے :

د عمرة القضاء نه روستو د سرایاو بیان

۱- سریه د ابن ابی العوجاء سُلمی رضی الله عنه بنو سُلَیم ته

(ذی الحجه ۷ هجری)

رسول الله ﷺ ابن ابی العوجاء رضی الله عنه لره په ذو الحجه اوم هجری کې بنو سُلیمو طرفته ولیږلو دُ ته ئې پنځوس کسان ورکړل، ابن ابی العوجاء چه هلته ورسیدو نو د دوی نه مخکې د هغوی یو جاسوس هغوی ته خبر ورکړو چه خلك درپسې راروان دی نو هغوی ورته ځانونه تیار کړیَ وی کله چه دا صحابه کرام هغوی ته ورسیدل او د هغوی ډله ئې ولیدله نو هغوی ته ئې د اسلام دعوت ورکړو نو هغوی وویل چه زمونږ اسلام ته هیڅ ضرورت نشته او په دې صحابه کرامو باندې ئې د غشي او نیزو گوزارونه شروع کړل او پدې کې به هغوی ته د مدد دپاره د نورو علاقو خلك هم وخت په وخت راتلل تردې چه ددې صحابه کرامو نه ئې هر طرفته گیره واچوله نو دواړو ډلو سخت جنگ وکړو چه په هغې کې دا عام صحابه کرام شهیدان شول سوئ د امیر نه چه هغه ابن ابی العوجاء وو چه دا سخت زخمی شو او په زمکه راپریوتو بیا په ډیر مشکل سره څه وخت روستو راپاڅیدو او مدینې ته راروان شو او په اول د صفر باندې په اتم کال مدینې ته راورسیدو.

(طبقات ابن سعد ۲ ۱۲۳) السیرة النبویة لابن کثیر ۳ ٤٤٤).

کله کله به په ایمان والو داسے امتحانات هم راځي چه ټول ملګري به شهیدان کیږي ځکه چه دا دین الله تعالیٰ ته ډیر خوښ دے ددے نه ئے ددے امت اولني هم قربان کړیدي.

فائده : بنو سُلیم څوك دي؟ دا د مُضَر قبیلو (عدنان) د یو شاخ قیس بن عیلان بن مُضَر څلورم نسل کي یو سرے تیر شویدے چه د هغه نوم سلیم بن منصور بن عِکرمه بن خصفه بن قیس دے هغه ته منسوب دي. او هوازن بن منصور او غطفان بن سعد بن قیس د دوی هم نسل وو.

مدینے ته د نزدے وسیدو باوجود بنو سلیم او بنو غطفان همیشه مسلمانانو ته ضررونه ورکړي دي، نبی علیه السلام د نیکه د پلار هاشم مور عاتکه بنت مره بن هلال د بنو سلیمو نه وه. بنو سلیم د نجد او د حجاز په څو سوونو میله فراخه رقبه کي خوارهٔ شوي وو. د دوي علاقے په شمال کي د مدینے او په جنوب کي د مکے او په مشرق کي نجد پورے فراخه وے. ددے قبیلے څه شاخونه په ربذه او صفینه کي وسیدلے. په عهد نبوی کي بعض نوي سُلمي مسلمانانو به د خپل سرو زرو کان زکاة مدینے ته لیږلو. د عربو لویه شاعره اَلْخَنْساء او د هغے ځوي عَبّاس بن مِرداس هم د بنو سلیمو نه وو. د بدر نه د واپس کیدو نه روستو رسول الله ﷺ د بنو سلیمو یو شاخ ته د سزا ورکولو دپاره قرقرة الکدر ته سفر کړے وو ځکه چه بنو سلیم او غطفان په مدینے باندے د حملے کولو تیاری کوله. په (۳ هـ) کي رسول الله ﷺ دوباره بُحران ته لاړو.

د بئر معونه دردناکه واقعه هم د بنو سلیمو په علاقه کي راغلے وه. په جنګ خندق کي د شمال او د مشرق نه غطفان او بنو سلیم هم په مدینے باندے حملے دپاره راغلي وو. په (۷ هـ) کي په غزوهٔ خیبر کي اول ځل یو مسلمان سُلمي حجاج بن عَلاط شریك شو چه قصه ئے مخکي ذکر شوه. بیا په همدے کال یو څو میاشتے روستو یو بل سلمي ابن ابی العوجاء رضی الله عنه ئے د بنو سلیمو د یوے ډلے د مقابلے دپاره ولیږلو. په فتح د مکه او غزا د حنین کي د بنو سلیمو د شاهسوارانو یوه دسته موجود وه چه د هغے قائد نبی ﷺ خالد بن الولید مقرر کړے وو.

سیدنا علی رضی الله عنه چه کله رسول الله ﷺ د بنو سلیمو تنبیه ورکولو دپاره روان کړو نو هغه د بنو سلیمو په علاقه کي د مقدس (کجورے ونے) چه په هغے باندے

د شاتو مچو د گبینونو چتونه جوړ کړي وو هغه ئے پریکړه۔ ددے نه روستو د بنو سُلَیمو یو وفد مدینے ته راغے او اسلام ئے قبول کړو نو نبی کریم ﷺ خالد بن ولید رضی الله عنه طائف ته نزدے په نخله مقام کی یوه مقدسه ونه چه په هغے کی به (عُزّٰی) پیرئ ننوتله او هغه بت وو د هغے د نړولو دپاره ولیږلو چه د هغے نگرانی د بنو سلیمو یو شاخ بنو شیبان ته سپارلے شوے وه۔ د نبی کریم ﷺ د وفات نه روستو د هوازن په شان بنو سلیمو هم ارتداد اختیار کړو لیکن د ابوبکر صدیق رضی الله عنه بی مثاله استقلال تول په نیغه لار راوستل۔ اطلس سیرت (۳۷۲)

۲- سریه : د شجاع بن وهب اسدی رضی الله عنه سِیُ طرفته (ربیع الاول ۸ هجری)

رسول الله ﷺ د ربیع الاول په میاشت کی په اتم کال د هجرت باندے شجاع بن وهب اسدی رضی الله عنه ته (۲٤) کسان ورکړل او سِیُ نومے یو ځای ته ئے ولیږل چه دا د مَعْدِن نه شا ته رکُبه طرف ته دے دا د مدینے د پنځو ورځو په فاصله باندے دے، دا لښکر به د ورځے پټیدل او د شپے به ئے سفر کولو تردے چه دوی هوازن ته ورسیدل او په هغوی باندے ئے د غفلت په حالت کی حمله وکړه هغوی وتښتیدل او د هغوی نه ئے په غنیمت کی ډیر اوښان او گډے بزے ونیولے، چه هر یو مجاهد ته (۱۵) اوښان ورسیدل یو اوښ به ئے د سلو گډو بزو سره برابرولو۔

دوی پدے سفر کی پنځلس ورځے بهر وو او دوی ځان سره وینځے هم راوستے وے۔ نو د دوی وفد راغے او اسلام ئے راوړو نو نبی علیه السلام د شجاع او د هغه د ملگرو سره ددے د واپس کولو په باره کی خبره وکړه نو صحابه کرامو دوی ته دغه وینځے واپس کړے پدے کی یوه ښائسته وینځه وه چه هغه شجاع بن وهب اسدی په پیسو اخستے وه نو هغے ته ئے هم اختیاروکړو چه خپل اهل ته واپس کیږی او که ددهٔ سره پاتی کیږی نو هغے شجاع غوره کړو او ددهٔ سره پاتے شوه او دا ورسره وه تردے پورے چه شجاع بن وهب اسدی رضی الله عنه د هغے نه په جنگ یمامه کی شهید شو۔

(السیرة النبویة لابن کثیر ۳/٤۵۳).

سِیُ : دا د بصرے نه مکے ته راتلونکی غټه لاره باندے واقع یو ځنگل دے چه هلته

به غلو پناه نیوله۔ (معجم البلدان)

هوازن قبیلے به د نورو مشرکانو سره بار بار مددونه کړل نو دوی ته د ادب ورکولو دپاره نبی علیه السلام دا سریه ولیږله۔

۴- سریه د کعب بن عُمیر غِفاری رضی الله عنه ذاتِ اطلاح طرف ته (ربیع الاول ۸ هجری)

رسول الله ﷺ په ربیع الاول (۸ هـ) کی کعب بن عمیر غفاری رضی الله عنه ته پنځلس (۱۵) کسان ورکړل او ذات اطلاح علاقے طرفته ئے ولیږلو چه دا د وادی القریٰ نه شا ته علاقه ده او د شام د زمکو نه ده۔ دلته بنو قُضاعه وسیدل، دوی چه لاړل هلته د دشمنانو ډیر تعداد سره مخامخ شول، نو دوی هغوی ته د اسلام دعوت ورکړو نو هغوی قبول نهٔ کړو او په دوی بانديے ئے سمدست د غشو ګوزارونه شروع کړل نو مسلمانانو د هغوی سره سخت جنګ وکړو تردے چه ټول شهیدان شو صرف یو تن (کعب بن عمیر) زخمی شو دشمنانو ګمان وکړو چه دا هم قتل شو، کله چه شپه شوه نو دهٔ په زخمونو باندے برداشت وکړو او په تکلیف تکلیف راروان شو او مدینے ته راورسیدو، کله چه دهٔ رسول الله ﷺ ته خبر ورکړو نو رسول الله ﷺ باندے دا خبره ډیره ګرانه پریوته او سخت غمجن شو او د بل لښکر لیږلو فیصله ئے وکړه لیکن خبر راغلو چه دشمن د هغه ځای نه بلے علاقے ته تلے دے نو بیا رسول الله ﷺ اراده ملتوی کړه۔ (السیرة النبویة لابن کثیر ۴۵۴/۳) السیرة الحلبیة ۱۹۸/۳)

قُضاعه قبیله: دا حمیری قحطانی قبیله ده چه د قضاعه بن مالک بن عمرو بن مُرّه بن زید بن مالک بن حِمیر سره نسبت لری۔ بعض علماء دا عدنانی قبیله ګڼړی چه د قضاعه بن معد بن عدنان اولا دے۔ د دوی کلی په شَحَر (یمن) نجران، حجاز او شام کی وو، دوی به د اُلاُقَیصِر په نوم یو بت عبادت کولو چه د هغے نه به ئے حج کولو او هلته به ئے سر خرئیلو۔ ددے خلکو نه بعض کسانو عیسائیت اختیار کړے وو۔

(معجم قبائل العرب ۹۵۷/۳)۔



سریة ذات السلاسل جمادي الآخره (۸) هجری)

څه زمانه تیره شوه سیدنا عمرو بن العاص رضی الله عنه په مدینه کی وو دا تیار تکړه او پهلوان او هوښیار مجاهد وو نو ذات السلاسل جهاد ته ئې ولیږلو دا علاقه شام ته نزدې علاقه ده، د وادی القریٰ نه شا ته ده او د مدینې منورې نه ورته لس ورځې فاصله ده، ذات السلاسل ئې ورته ځکه وئیلو چه هلته یو چینه ده د هغې نوم سَلْسَل دے نو د هغې په وجه دغه علاقې ته ذات السلاسِل ووئیل شوه.

(بعض وائی چه مشرکانو دیرے نه چه د دوی کسان د جنګ نه ونهٔ تښتي یو بل ئې په زنځیرونو سره تړلی وو، ځکه سلاسل زنځیرونو ته وائی).

او ددې جنګ سبب دا وو چه نبی علیه السلام ته خبر راورسیدو چه قُضَاعه قبیله په مدینه منوره باندې د حملې دپاره فوج راجمع کوی نو نبی علیه السلام عمرو بن عاص راوغوښتو او دهٔ ته ئې د درې سوه (۳۰۰) سرکرده مهاجرینو او انصارو لښکر ورکړو چه په هغوی کی ابوبکر او عمر هم وو چه تاسو به ځئ او د قضاعه قبیلې مقابله به کوئ او دوی ته ئې یو سپینه او بله توره جنډه ورکړه.

سیدنا عمرو بن العاص وائی : کله چه زهٔ روانیدم نو زهٔ رسول الله ﷺ ته راغلم زما دا ګمان وو چه زهٔ به رسول الله ﷺ ته ډیر ګران یم ځکه چه زهٔ ئې په مشرانو مهاجرینو او انصارو باندې امیر کړم ما ورته ووئیل چه یارسول الله ! (مَنْ أَحَبُّ النَّاسِ اِلَيْكَ؟)

تا ته د ټولو خلکو نه زیات محبوب څوک دے؟ هغه وفرمایل: عائشه، (خپلې بی بی سره مینه ساتل د ایمان یو برخه ده) ما ورته ووئیل: بیا؟، هغه وفرمایل: د هغې پلار ابوبکر. ما ووئیل : بیا ؟ وې فرمایل : عمر، ما ووئیل : بیا ؟ وې فرمایل : عثمان، بیا ؟ علی. نور ئې ډیر کسان وشمارل نو زهٔ ویریدم چه ما چرته په آخره کی رانهٔ ولی نو ایسته غلې شوم. (ځکه چه رسول الله ﷺ به حقیقت وئیلو). (بخاری ومسلم بتغیر)

دوی روان شو د دوی سره دیرش اسونه وو نبی علیه السلام دوی ته حکم وکړو چه تاسو به په لاره کې د بَلِیّ، عُذْرَه او بَلْقَین قبیلو نه هم مدد واخلئ. (ځکه چه د عمرو بن العاص رضی الله عنه مور د بَلی قبیلې نه وه نو رسول الله ﷺ اراده وکړه چه د

هغوی محبت د عمرو بن العاص په واسطه پیدا کړی ځکه چه عرب د خپلولئ ډیر لحاظ ساتی).

ډوی به د ورځے پټیدل او د شپے به ئے مزل کولو تردے چه د قُضاعه علاقے ته نزدے شو نو د جُذام قبیلے یوه چینه وه چه هغے ته ئے السلاسل وئیله هلته ئے پړاؤ واچولو او دا د ژمی موسم وو نو د ملګرو ډیره یخنی وشوه، اراده ئے وکړه چه اُور بل کړی لیکن عمرو بن العاص رضی الله عنه منع کړل چه دا کار به نۀ کوئ (هسے نه چه دشمن مو وینی) نو عمرو بن العاص وکتل چه د دشمنانو شمار ډیر زیات دے نو رافع بن مَکِیث جُهنِی رضی الله عنه ئے نبی علیه السلام ته راولیږلو چه مونږ ته مدد راولیږی نو رسول الله ﷺ ددے ځای نه دوه سوه (۲۰۰) کسان نور د مدد دپاره ولیږل چه د هغوی مشر ئے ابوعبیده بن الجراح رضی الله عنه مقرر کړو او په هغوی کی ابوبکر او عمر رضی الله عنهما هم وو او دا حکم ئے ورته وکړو چه دواړه خپل مینځ کی اتفاق ساتئ او اختلاف به نۀ کوئ

(ځکه چه کله ګروپونه زیات وی نو اختلاف به زیات وی پدے وجه د جهاد د ناکامئ یو سبب دا دے چه ګروپونه زیات شی ځکه چه بیا د یو بل خبره نۀ منی او په معمولی خبره ئے اختلاف پیدا کیږی بلکه د یو نظم د لاندے کار پکار دے)

کله چه ابوعبیده رضی الله عنه وررسیدو نو هغه مسلمانان خوشحاله شو چه کسان ډیر شو نو پدے کی د مانځه وخت راغے نو ابوعبیده بن الجراح رضی الله عنه جَمعے ته مخکی کیدو نو عمرو بن العاص رضی الله عنه ورته وفرمایل چه زۀ امیر یم زۀ به جَمعے ته مخکی کیږم او تۀ خو د مدد دپاره راغلے ئے۔

ابوعبیده رضی الله عنه ورته وفرمایل که تۀ زما خبره نۀ منے نو زۀ ستا نافرمانی نۀ کوم ځکه چه ما ته د الله رسول وئیلی دی چه اختلاف به نۀ کوئ (بالکل تۀ جمعے ته مخکی کیږه) عمرو بن العاص رضی الله عنه د عِلم او د فضیلت په لحاظ د ابوعبیده بن الجراح رضی الله عنه خکته دے او ابوعبیده ته نشی رسیدلے ځکه چه ابوعبیده د عشره مبشره نه دے پخوانے مسلمان دے لیکن دلته مشر رالګیږی او ددے کشر خبره منی او اختلاف ورسره نۀ کوی جهاد تول د منلو نوم دے ځکه چه مقصد مشری او کرسئ او عزت حاصلول نۀ دی بلکه د الله رضا ده۔ نو بیا به جَمعه عمرو بن العاص

رضی الله عنه ورکوله او سنت طریقه هم دا ده چه جُمعه به امیر ورکوی.

نو پدے کی سختـه یخنی وه د شپې یوی اُوده شو نو د عمرو بن العاص رضی الله عنه احتلام وشو سهر چه پاڅیدو نو اُوبه انتهائی یخے وے ژمے وو نو دهٔ پرے غسل نشو کولے نو دے راولګیدو صرف استنجاء ئے وکړه او اودس ئے وکړو او د جنابت دپاره ئے تیمم ووهلو او راغلو صحابه کرامو ته ئے وویل چه اقامت کوئ ملګرو یو بل ته وکتل چه امیر صاحب جنابت حالت کی مونځ کوی لیکن امیر وو څه ئے ورته نشو وئیلے نو دلته اختلاف پیدا کیدو پدے وجه هغوی د اختلاف نه ځان ساتلو نو د هغه پسے ئے مجبوراً مونځ وکړو، (ځکه چه د هر چا مونځ بیل بیل دے د امام مونځ جدا دے او د مقتدیانو جدا که د امام مونځ نهٔ کیږی هم د مقتدی ورپسے کیږی په بعض صورتونو کی)

کله چه دا ملګری واپس مدینے ته راغلل نو رسول الله ﷺ ته شکایت وشو چه دهٔ مونږ ته په جنابت حالت کی مونځ کړیدے نو رسول الله ﷺ دے راوغوښتو او دا ئے ورته وویل چه دا ولے ؟ هغه وویل : یارسول الله ! ما د الله نه آوریدلی دی چه هغه فرمایلی: ﴿وَلَا تَقْتُلُوٓا أَنفُسَكُمْ﴾ (نساء:۲٤)

خپل ځانونه مهٔ وژنئ) او زما یقین وو که ما په دغه یخو اوبو لامبلی وے نو زهٔ ئے وژلم نو رسول الله ﷺ غلے شو او د هغه غلی کیدل به دلیل د رضا وو.

(ددے نه دا فائده معلومه شوه چه کله سخته یخنی وی نو تیمم وهل د جنابت د لرے کولو دپاره کافی دی خو که په اودس باندے ئے وس کیدو نو اول به اودس وکړی او د جنابت دپاره به تیمم وهی او که په هغے ئے هم وس نهٔ کیدو نو بیا به د اودس او د جنابت دواړو دپاره یو تیمم ووهی دا کافی ده، کله چه په اُوبو باندے قادر شو بیا به غسل وکړی او مخکنی مونځونه به صحیح وی).

فوائد : ۱- د خپل مشر سره په مستحبو خبرو کی اختلاف نهٔ دے پکار.

۲- د دشمن نه د یرے په وخت د خپلو ملګرو او لوی امیر نه مدد غوښتل د توکل خلاف نهٔ دی. ۳- د اُوبو د نشتوالی یا د ډیر یخوالی په وجه چه په هغے غسل نشی کولے تیمم وهل جائز دی. ٤- د صحابه کرامو خپل مینځ کی اتفاق او محبت.

ددے وجه نه عمرو بن العاص رضی الله عنه بیا دومره قوی مومن شو چه رسول الله

ﷺ به د هغه د ایمان گواهی ورکوله فرمایل به ئے : (أَسْلَمَ النَّاسُ وَآمَنَ عَمْرٌو)۔
نورو خلکو اسلام راوړیدے او عمرو بن العاص رضی الله عنه ایمان راوړے یعنی ایمان ئے دننه زړه ته ننوتے دے۔

عمرو بن العاص رضی الله عنه: په اتم کال د هجرت باندے مسلمان شو ددے غزوے د امارت په وخت کی به دا د پوخ عمر خاوند وو د پنځه پنځوس کالونه به زیات وو ځکه چه دا د خپل وفات په وخت چه هغه تقریباً په (۴۲ هجری) کی شویدے ددوی عمر (۹۰) کالو نه اوړیدلے وو۔ دا رسول الله ﷺ د عمان حکمران جیفر او عبد ته لیږلے وو چه هغوی ددۀ په لاس باندے ایمان راوړے وو، عمرو بن عاص رضی الله عنه نه د شام په فتوحاتو کی ډیره لویه برخه اخستے ده، د دوی لویه کارنامه دا ده چه دۀ ته د مصر فاتح وائی۔
دا ډیر خوږو خبرو او خوږ بیان والا خطیب وو، په خبرو ډیر قدرت لرونکے، مدبر، سیاستدان او سپه سالار وو، رسول الله ﷺ به په عسکری امورو کی په دۀ باندے اعتماد کولو، بیا د ابوبکر صدیق او بیا د عمر فاروق په دور خلافت کی هم هغوی د مختلفو علاقو گورنر مقرر کړے وو۔ ددۀ ځوی عبد الله ډیر لوی عابد شمارلے شی، عمرو بن العاص رضی الله عنه امت ته د رسول الله ﷺ (۳۹) احادیث رانقل کړیدی۔
(سیر اعلام النبلاء، البدایة و النهایة، اسد الغابة)

ددے سرایاؤ نه روستو یوه غټه غزا چه هغے ته غزوۀ مُوْتَه وائی چه د هغے بیان به په دریم جلد کی راځی ان شاء الله تعالیٰ او د هغے نه روستو بیا د سرایاؤ بیان بیا فتح د مکے او بیا غزا د حنین او د طائف او بیا د رسول الله ﷺ د وفات بیان دے۔



د سیرتِ رسول ﷺ **دویم جلد ختم شو**

وصلی الله وسلم علی نبینا محمد وآله وصحبه اجمعین آمین یارب العالمین۔
آخر کی دا وایو که چا ته په کتاب کی کومه غلطی په مخه ورشی نو د اصلاح په نیت دے ئے مونږ ته نشاندهی وکړی الله تعالیٰ به اجر ورکړی او مونږ به ئے شکر گزار یو۔
وختاماً الله اسأل العلی العظیم ان ینفع به الناس اجمعین۔
وکتبه : ابوزهیر سیف الله شیخ آباد بشاوړ۔ المرقوم : رمضان ۲۲/۱۴۳۴ھ)

فهرست مضامین کتاب سیرت رسول











سیرت الرسول صلی اللہ علیہ وسلم